د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

ابو حذیفه
مولوی سلطان عزیز عزیز عفی الله عنه

ناشر
دار الکنوز العلمیة

Downloaded by dawarketabtoon.com

د مومیں اباسین لخوا سکین شو

﴿ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾ ﴾ [حم السجدة]

او بېشکه دا ذکر (قرآن) هرومرو کلک (قوي) کتاب دی

# عزيز التفاسير

د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير

"الفاتحة"، او "البقرة" تر [۲۲۸] ايت پورې

لومړی ټوک

مولوي سلطان عزيز (عزيز) أبو حذيفه عفي الله عنه

حسن خيل مومند، د نجم المدارس پخواني استاذ

ناشر: دار الكنوز العلمية

1/1

Downlaoded: bawarketabtoon.com

بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱٤۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳٦۹/٦/۲ هـ ش نیټه د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱٤۲٦/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نیټه پای ته ورسیده.

- په ۱٤۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸٦/۱۰/۲۰ هـ ش نیټه یې بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.

- له شروع نه تر پایه ورباندې اوولس کاله، څلور میاشتې او اوولس ورځې تېرې شوې، البته په دې حساب کې هره میاشت د دېرشو ورځو په لحاظ نیول شوې ده.

- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني. تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ. ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.

## څلورم چاپ

## ۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش

**د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي**

د اړیکو پتې

۱) بریښنالیک azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون (۰۰۹۲۳۰۰۵۸۴۴۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱۶۵۲۷۹۳۰۳)

د لاسته راوړلو پتې

۱) رشیدیه کتب خانه، کابل، افغانستان

ګرځنده تلفون (۰۷۷۱۹۹۶۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹۴۴۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خوانې شانه، پېښور، پاکستان

تلفون (۰۹۱۲۵۶۵۵۳۸)

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

بسم الله الرحمن الرحيم

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رحمة للعالمين

وعلى آله وأصحابه نجوم الدين أجمعين، أما بعد:

مونږ غواړو چې د الله ﷻ په توفیق د قرآن کریم په ترجمه او تفسیر باندې د شروع کولو څخه وړاندې محترمو لوستونکو ته دوه سریزې د مقدمې په توګه وړاندې کړو:

# اولنۍ سریزه

په دې سریزه کښې د هغو مطالبو توضیح په نظر کښې نیولې شوې ده کوم چې دا کتاب محترمو لوستونکو ته په اجمالي توګه وروپېژني ترڅو ورسره د لوستلو څخه مخکښې څه ناڅه اشنا شي، لکه د لیکلو ضرورت او د لیکلو طریقه او داسې نور.

## د دې کتاب د لیکلو باعث

۱_ قرآن کریم د قیامت تر ورځې پورې د ټولو خلکو دپاره نازل شوی دی، د هرې زمانې مشکلات پکښې حل شوي دي، او پوره واضحه ده چې د زمانو په اختلاف سره مشکلات هم تفاوت پیدا کوي، حال دا چې د هرې زمانې خلک په خپلو مشکلاتو باندې د نورو زمانو د خلکو څخه ښه پوهېږي، لکه چې عربي متل دی: "صَاحِبُ الْبَيْتِ أَدْرَى بِمَا فِيهِ" یعنې: د کور خاوند په هغو شیانو باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې په کور کښې موجودیت لري. د مثال په توګه:

الف: کابلي تفسیر اصلاً په هندوستان کښې په اردو ژبه ډېر کلونه پخوا لیکلی شوی دی، چې په هغه وخت کښې نه روسانو په افغانستان باندې نظامي تېری کړی وه او نه ورسره د افغانانو مجاهدینو د پلوه وسلوال جهاد پیل شوی وه، حال دا چې نن ورځ مونږ په هغې مرحله کښې قرار لرو په کوم کښې چې د روسانو د ګوډاګیانو (افغاني کمونستانو) سره جهاد جاري دی.

یا په بل عبارت: که څه هم په افغانستان باندې د روسانو نظامي تجاوز په ۱۳۵۸/۱۰/۶ هـ ش کال پیل او په ۱۳۶۷/۱۱/۶ هـ ش کال ختم شو مګر د هغوی ګوډاګیان (افغاني کمونستان) اوس هم زمونږ په وړاندې لګیا دي او زمونږ جهاد ورسره جریان لري.

ب: د ذکر شوي تفسیر لیکونکو د لیکنې په وخت کښې د خپل ټاټوبي (هندوستان) څخه چرته هجرت نه وه کړی او د هجرت په مشکلاتو باندې اخته نه وه، حال دا چې مونږ د هجرت د مشکلاتو سره مخامخ یاستو چې په پاکستان او ایران او نورو ممالکو کښې خواره واره او تیت پرک پراته یاستو او د ډول-ډول سختیو سره لاس او ګرېوان یاستو.

ج: د هغوی د لیکنې په وخت کښې د شهیدانو د وینو رودونه جاري نه وه او د مجاهدینو اندامونه

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه پرېښودل، حال دا چې دغه غمېزه زمونږ د سترګو لاندې سات په سات او ګړی په ګړی په مونږ باندې تکرارېږي.

لنډه دا چې مونږ ته ښېنې ایتونه همدغه جاري جهاد تفسیر کړه، ته به وایې چې همدا نن او همدا زمونږ په هکله نازل شوي دي. یوه عربي شاعر خومره ښه ویلي دي چې:

سَتُبْدِيْ لَكَ الْأَيَّامُ مَا كُنْتَ جَاهِلًا :: وَيَأْتِيْكَ بِالْأَخْبَارِ مَنْ لَمْ تُزَوِّدِ

یعنې: ژر ده چې راتلونکې ورځې به تاته هغه حوادث درڅرګند کړي د کومو څخه چې ته غافل یې (او وروباندې خبر نه یې). او هغه څوک به دې وروباندې خبر کړي کوم ته به چې تا څه توښه نه وي ورکړې (چې دا واخله او ماته حوادث بیان کړه).

د: پخوانیو مفسرینو کرامو ته دې الله ﷻ ډېر اجرونه ورکړي چې د قرآن کریم د توضیحاتو دپاره یې زښت ډېر زحمتونه ګاللي دي خو هغوی په دې ملامته نه دي چې زمونږ د زمانې د مشکلاتو څخه ساکت پاتې شوي دي، هغوی څه خبر وه چې دغسې او هغسې مشکلات به په راتلونکي کښې څرګندېږي، غیبي علم خو الله ﷻ پورې اختصاص لري.

هـ: په دې باندې علاوه د وخت مجاهدین هم په پرلپسې توګه مونږ ته د یوه تفسیر د لیکلو غوښتنه راوړاندې کوي، لکه قومندان صاحب حافظ الحق او قوموندان صاحب سازنور چې دواړه د ګلاڼي د کلي اوسېدونکي دي، او زمونږ د ډېرو نژدې دوستانو څخه دي.

د دغو مجاهدینو غوښتنې ته "نه" ویل هم ګران کار دی.

نو د همدې کبله مونږ څو کرته استخاره وکړه او د خپل رب ﷻ څخه مو په ماثوره دعاء سره خیر وغوښت او بیا مو اراده وکړه چې د الله ﷻ په توفیق په پښتو ژبه د قرآن کریم دتفسیر په ارتباط د وخت د غوښتنو په مطابق یو کتاب ولیکو، چې د حالاتو د مساعدت په صورت کښې به په دري ژبه هم وژباړل شي ترڅو ترې ټول افغانان وروڼه او خویندې ګټې اوچتې کړي. الله ﷻ دې ورته په دنیا او آخرت کښې دا کتاب ګټور وګرځوي. آمین یا رب العالمین، برحمتک یا أرحم الراحمین.

## د دې کتاب د لیکنې طریقه

۲_ که څه هم ممکنه ده چې د بیان طرز او طریقه د لیکنې په جریان کښې څه تفاوت مونده کړي مګر کومه طریقه چې سمدستي په همدې هکله زمونږ په ذهن کښې قرار لري هغه دا ده:

الف: مونږ غواړو چې د الله ﷻ په توفیق د قرآن کریم ایتونو په نورو ایتونه سره تفسیر کړو او بیا یې په احادیثو او د سلفو صالحینو په اقوالو کښې پلټنه وکړو چې څنګه-څنګه یې تفسیر کړي دي.

ب: په متشابهاتو کښې مونږ ته د سلفو صالحینو تګلاره غوره برېښي، چې بې خطره ده.

ج: مونږ به د عربیت د علومو او قواعدو څخه په هغو ځایونو کښې استفاده وکړو په کومو کښې چې راته شریعت اجازه راکوي.

د: مونږ به کوښښ وکړو چې علمي او فني اصطلاحات په ساده او اسانو الفاظو کښې بیان کړو

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ترڅو لوستونکي په حرج کښې واقع نه شي.

هـ مونږ به کمزوري اقوال او واهيات او همدارنګه اسرائيليات ذکر نه کړو مګر د رد دپاره، البته هغه اسرائيليات کوم چې زمونږ په شريعت کښې رد شوي وي.

هو! کوم اسرائيليات چې زمونږ په شريعت کښې نه وي رد شوي او تضاد هم ورسره ونه لري او بالآخره مونږ يې په ذکر کښې څه ګټه وګورو، نو د هغو د ذکر څخه د امتناع لوظ نه کوو.

و. مونږ به د الله ﷻ په فضل هغه شبهات او سوالونه جواب کړو کوم چې لوستونکو ته د تلاوت په وخت کښې ذهنونو ته ورځي او پکښې ګرځي راګرځي.

ز. مونږ به د معاندينو اعتراضاتو ته غاښ ماتوونکي جوابونه ووايو او موقع به ورنه کړو چې خلک په غفلت کښې واچوي.

ح. داسې شيان به ذکر نه کړو چې عوام په تشويش کښې اچوي، او هغه تشويشونه به تصحيح کړو او يا به ورياندې د ابطال کربه کش کړو کوم چې د عوامو په منځکښې غلط مشهور دي.

ط. په کومو ځايونو کښې چې شرعي ممانعت موجود نه وي هلته به مونږ خپله توجيه او يا د مفسرينو په اقوالو کښې ترجيح د محترمو لوستونکو څخه ونه سپموو.

ي. کوښښ به وکړو چې معنوي شيانو ته د توضيح په غرض محسوس مثالونه مونده کړو، او هم د ايتونو دپاره تازه مصداقات په ګوته کړو.

يا. د سورتونو او ايتونو ارتباطات او شان نزولونه به هم په بشري چوکاټ کښې هېر نه کړو.

يب. که څه هم مونږ ته د لغاتو معناوې او د فقهي احکامو بيان هم ضروري برېښي مګر په دومره اندازه چې د ايتونو تفسير ورته ضرورت ولري او يا ورپورې متوقف وي.

يج. په کومو ځايونو کښې چې ډېر اوږده بيان ته اړتيا وي چې دا کتاب (عزيز التفاسير) يې تحمل نه شي کولی هلته به مونږ لوستونکو ته د اوږده بيان ځايونه ورپه ګوته کړو، ترڅو محترم لوستونکي ورته مراجعه وکړي او پخپله يې مطالعه کړي.

يد: مونږ به تفسيري تحليلونه او هم صرفي او نحوي تحليلونه ځای په ځای ذکر کړو.

يه: مونږ به تر خپلې وسې پورې په عبثياتو او بې ګټو خبرو باندې دا کتاب اوږد نه کړو.

يو: بالآخره مونږ غواړو چې د الله ﷻ په توفيق د ايتونو د توضيح دپاره څه اشعار (پښتو، دري، عربي) او څه قيصې او متلونه هم ذکر کړو او داسې نور.

## د دې کتاب د ژباړې ډول

۳ـ د يوې ژبې څخه بلې ته د يوه مضمون اړول او ژباړل په دوه وو ډولونو سره صورت نيسي[1]، چې يوه ډول ته حرفي ترجمه وايي او بل ډول ته د تفسيري ترجمې لقب ورکولی کېږي.

الف. حرفي ترجمه او ژباړه د دې څخه عبارت ده چې په يوه ژبه کښې يو کلام تکي په تکي بلې

(۱) مناهل العرفان في علوم القرآن ج۲ ص۳۲۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ژبې ته واړولی شي حتی چې د کلماتو ترتیب هم پکښې تغیر ونه خوري.

ب: تفسیري ترجمه دې ته ویل کېږي چې د یوه کلام مضمون بل کلام ته واړولی شي چې نه یې د کلماتو افرادي معناوې په نظر کښې ونیولی شي او نه یې د ترتیب مراعات وکړی شي.

په دې کتاب کښې مونږ حرفي ترجمه غوره کوو خو فقط په یوه تفاوت سره، هغه دا چې د کلماتو ترتیب مو پکښې د نظره غورزولی دی ترڅو کلام بې مزې ونه ګرځي او خوند او لذت یې په خپل ځای پاتې شي.

نو د دې دپاره چې تاسو ته زمونږ د غوره کړی شوې ترجمې غوروالی او بهتري څرګنده شي په دغه ایت شریف ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً ﴾ [البقرة:۲۰۸] کښې ذکرې شوې درېواړه ترجمې تطبیقې کړئ:

حرفي ترجمه: ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو داخل شئ په اسلام کښې ټول.

تفسیري ترجمه: ای مؤمنانو! تاسو په اسلام کښې په هر اړخیز ډول سره داخل شئ او په انتخابي توګه پکښې مه داخلېږئ چې ځینې احکام یې قبول کړئ او ځینې یې رد کړئ.

غوره ترجمه: ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو په ټول اسلام کښې داخل شئ.

هو! مونږ به تفسیري ترجمه هم د نظره ونه غورزوو بلکې د "مطلب خلاصه" د عنوان لاندې به یې محترمو لوستونکو ته د اغلبیت په توګه وړاندې کړو، لکه چې لاندې واضحه کېږي.

## د دې کتاب ترتیب

۴_ د دې کتاب ترتیب مونږ په لاندې ډول په نظر کښې نیولی دی:

الف: باید د ایتونو لاندې غوره ترجمه ولیکله شي.

ب: بیا ارتباطات او شان نزولونه ذکر کړی شي.

ج: بیا د "مطلب خلاصه" عنوان یا تفسیري ترجمه کېښودله شي.

د: بیا باید د "توضیحات" د عنوان لاندې هغه موضوعات تشریح کړی شي کوم چې زیاتې تشریح ته اړتیا لري، د کومو تشریح ته چې په حرفي او تفسیري ترجمو کښې اشاره شوې وې.

۵_ مونږ غواړو چې دغه کتاب په ذکر شوي ترتیب سره څکه مرتب کړو چې په دې ترتیب کښې د ټولو لوستونکو د حالاتو غوښتنې په نظر کښې نیولې کېږي. دا څکه چې:

الف: که څوک ډېر لږ فرصت لري نو هغه به صرف د ژباړې او ترجمې څخه استفاده وکړي البته چې د څه تدبر او تفکر څخه به کار واخلي.

ب: که د چا فرصت لږ زیات وي نو هغه به د "مطلب خلاصه" د عنوان په محتویاتو خپله تنده ماته کړي او د تفسیري ترجمې په لوستلو سره به اکتفاء وکړي چې ډېر دقت او تفکر ته هم پکښې چندان ضرورت نشته.

ج: او که څوک پرېمانه فرصت لري او زړه یې غواړي چې په استدلالي توګه مطالب تعقیب کړي

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ـ ان شاء الله ﷻ د هغه ستړکې به د "توضیحات" د عنوان په محتویاتو باندې یخې او قناعت به یې حاصل شي.

## د کتاب عناوین

۶ـ د الله ﷻ په کومک به دغه کتاب د اغلبیت په لحاظ لاندې عناوین ولري:

۱ـ شان نزول یا شان نزولونه. ۲ـ ارتباط یا ارتباطونه. ۳ـ د مطلب خلاصه. ۴ـ توضیحات او د مطلب خلاصه. ۵ـ شان نزول او توضیحات. ۶ـ ارتباط او توضیحات. ۷ـ د لغاتو معناوې. ۸ـ څو نکات. ۹ـ سوال جواب. ۱۰ـ سوالونه او جوابونه. ۱۱ـ قرآن کریم او زمونږ زمانه. ۱۲ـ د ایتونو تازه مصداق. ۱۳ـ د نامه په بدلون حقیقت نه بدلیږي. ۱۴ـ دنیاوي کسبونه ټول کفائي فرض دي. ۱۵ـ یوه مسئله یا څو مسائل. ۱۶ـ افغان مجاهدین او د جهاد دوران. ۱۷ـ د دې عصر کفري دولتونه. ۱۸ـ عجیب منظر. ۱۹ـ عجیبه عبارت. ۲۰ـ عجیبه اشاره. ۲۱ـ عجیب امتحان او عجیبه کامیابي. ۲۲ـ عجیب توافق. ۲۳ـ عجیبه بې انصافي. ۲۴ـ په امتحان کښې بل امتحان. ۲۵ـ هم اقرار او هم انکار. ۲۶ـ خارق العاده مرګ. ۲۷ـ متعدد تفسیرونه. ۲۸ـ متعدد تحلیلونه. ۲۹ـ د دې زمانې فرعون څوک دی. ۳۰ـ اعتراف او اعتذار. ۳۱ـ لیونی او ځنګل. ۳۲ـ چرګه مشره ده که هګۍ مشره ده؟ او داسې نور.

## زمونږ التزامات

۷ـ مونږ به د الله ﷻ په توفیق د مطالبو په وړاندې کولو کښې لاندې التزامات عملي کړو:

الف: احادیثو به تخریج کړو.

ب: که په تخریج باندې یې بریالي نه شوو نو د هغو مفسرینو کرامو په تخریج باندې به اکتفاء وکړو کوم چې محدثین هم دي، لکه ابن کثیر، البغوي، الطبري او نور.

البته دا د دې کبله چې تخریج ډېر اوږد وخت غواړي نو د لوستونکو څخه هیله ده چې د دغسې احادیثو تخریج همدوی په غاړه واخلي.

ج: مونږ به په هره موضوع کښې د ضرورت په اندازه بحث وکړو او د اوږده بحث دپاره به ځینې ځایونه په ګوته کړو چې لوستونکي هملته مراجعه وکړي.

د: مونږ به ایتونه په متبادرې معنی سره تفسیر کړو.

ه: د تاکید څخه به تاسیس بهتر وګڼو.

و: په متعددو احتمالاتو کښې به یوه احتمال ته ترجیح ورکړو او تر خپلې وسې پورې به لوستونکي په حرج کښې واقع نه کړو.

ز: په متعددو احتمالاتو کښې به کله-کله د بدلیت په لحاظ یا د عموم مجاز په لحاظ ټول احتمالات مراد وګڼو.

ح: مونږ به دا کتاب د هغو مطالبو څخه لرې وساتو چې د ایتونو سره نزدې اړوند ونه لري.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ط: مونږ به د هغو موضوعاتو د ذکر څخه خودداري خپله کړو کوم چې د هرو علومو ته ضرورت لري ترڅو عوام په حرج کښې وانه چوو.

ي: کومې قيصې چې د ايتونو په تفسير کښې لاس کوي د هغو ذکر به هم د محترمو لوستونکو څخه ونه سپموو او داسې نور.

## د دې کتاب مراجع

۸_ که څه هم مونږ مونږ به _ان شاء الله ﷻ_ حتى المقدور کوښښ وکړو ترڅو د مطالبو مراجع د کتاب په حواشيوو کښې وليکو.

مګر د دې دپاره چې د محترمو لوستونکو علم په اجمالي توګه په ټولو مراجعو باندې حاصل شي نو د کتاب په پای (ورستنی برخه) کښې به د ټولو مراجعو نوملیک ذکر کړو، او د هر توک په اخر کښې دا کار ځکه نه شو کولی چې د اوږدوالي څخه پرته بله نتيجه نه لري، حال دا چې مونږ د کتاب د بې فائدې اوږدولو اراده نه لرو.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه محترم لوستونکي پوهېږي چې هغو ټولو کتابونو ته مراجع ويل کيږي کومو ته چې د کتاب ليکونکی د ليکنې په وخت کښې مراجعه کوي برابره خبره ده چې په مراجعه باندې يې استفاده مرتبه شوي وي او يا بل شی.

يا په بل عبارت: کتاب ليکونکی د لاندې مطالبو د ترلاسه کولو په غرض مراجعو ته مراجعه کوي:

الف: چې د هغو څخه استفاده وکړي.

ب: چې په هغو باندې نقد وکړي.

ج: چې د هغو سره محض توافق څرګند کړي.

نو محترم لوستونکي به د دې کتاب (عزيز التفاسير) د کتلو په وخت کښې په خپله وګورې چې مونږ د کوم مطلب په منظور مراجعو ته مراجعه کړې ده (په مراجعه باندې مو کوم يو مطلب ترتب موندلی دی).

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# دوهمه سریزه

په دې سریزه کښې د الله ﷻ په توفیق ځینې هغه مطالب لیکلی کېږي کوم چې په قرآن کریم پورې نژدې اړوند لري او اجمالي علم ورباندې بې ګټې نه دی، چې په لاندې ډول دي:

## د قرآن کریم نزول او راغونډول

۱ـ د قرآن کریم د نزول او راغونډولو په ارتباط ځینو علماوو کرامو ښه مفصل معلومات لیکلي دي[۱]، که د چا زیات تفصیل زړه غواړي نو هملته دې مراجعه وکړي خو مونږ په همدې موضوع کښې د لاندې معلوماتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: قرآن کریم په نبي کریم ﷺ باندې په درویشتو کلونو کښې د تقریر په شکل د ضروراتو په مطابق نازل شوی دی. په دغه وخت کښې د یو پلوه په هغو لغاتو باندې هم مشتمل وه کوم چې د قریشي لغاتو څخه په غیر د نورو عربي قبائلو د سهولت دپاره نازل شوي وه، او د بله پلوه متفرق وه چې هر چا د خپل خان دپاره هومره ایتونه لیکلي وه کوم چې لاس ته ورغلي وه، او هر چا د خپله خانه سره ساتلي وه.

ب: أبو بکر الصدیق ﷺ د خپل خلافت په دوران کښې د قرآن کریم متفرقې او متشتتې پاڼې راغونډې کړې او د خپله خانه سره یې وساتلې ترڅو د قاریانو په شهادت یا وفات سره د منځه لاړې نه شي.

ج: عثمان ﷺ د خپل خلافت په دوران کښې د یوې ځلور کسیزې جرګې په ذریعه د قرآن کریم څخه هغه غیر قریشي لغات وویستل کوم چې د سهولت دپاره نازل شوي وه او د یوه کتاب په شکل یې څو نسخې ولیکلې چې یوه نسخه یې په مدینه منوره کښې پرېښودله او نورې څو نسخې یې د مملکت (اسلامستان) اطرافو ته واستولې ترڅو د خلکو د اختلافاتو مخه ونیوله شي.

د: همدغه عثماني لیکلی شوی قرآن کریم به د قیامت د ورځې پورې د مؤمنانو ترمنځ موجودیت لري. الله ﷻ دې ورته لا زیاته ترقي ورکړي.

## "آیَة" څه معنی؟

۲ـ د "آیَة" په هکله لاندې معلومات لوستل په کار دي:

الف: د "آیَة" کلمه په اصل کښې "أَوَیَة" ـ لکه "خَزَنَة" ـ وه. "و" یې په "الف" سره بدل شو نو "آیَة" ـ لکه "آفَة" ـ ترې جوړ شو.

ب: دا کلمه په لغت کښې د نښې او علامې معنی ورکوي خو په اصطلاح کښې[۲] د قرآني سورت

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱ ص۴۹؛ تفسیر الخازن ج۱ ص۸؛ البرهان في علوم القرآن ج۱ ص۲۳۳؛ مناهل العرفان في علوم القرآن ج۱ ص ۲۳۲، ۲۵۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۶۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه برخه ده کومه چې په دا ئره (○) باندې منتهي شوې وي

ج. دغه دائره (○) په حقیقت کښې د "آیة" د کلمې تخفیف کړې شوې شکل دی چې په لیک کښې لیرې "آ.ي" تخفیف کړې شوې دی او بیا ئې مدوره "ة" بدلون د ټکو د ماتیدو (○) په شکل اوړلی شوې یې پېښودله شوې ده

د. د ایتونو ترتیب او تحدید دواړه بالاتفاق توقیفي دي چې اجتهاد پکښې مداخله نه ده کړې[1] لاندې وضاحت ولولئ:

نبي کريم ﷺ يو ځل په يوه حديث کښې د [النحل ۹۰] ايت ته اشاره وکړه او وئې فرمايل چې داتاني جبريل عليه السلام فامرني ان اضع هذه الآية بهذا الموضع من هذه السورة[2] يعنې ماته جبرائيل الله راغئ او امر يې راته وکړ چې دغه ايت د دغه سورت څخه په دغه ځاى کښې کيږدم

هـ. د قرآن کريم ډير وړوکي ايت د "الفجر" د سورت اولنى ايت دى چې د حرفونو شمير يې فقط پنځه (۵) دی.

و. د قرآن کريم ډير اوږد ايت د [البقرة ۲۸۲] ايت دى چې د حرفونو شمير يې پنځه سوه او څلوېښتو (۵۴۰) ته رسيږي.

## د "سُورة" معنى

۳ـ د قرآن کريم د سورتونو په ارتباط لاندې څه معلومات ولولئ:

الف. د "سُورة" کلمه په لغت کښې د ارتفاع او منزل معنى ورکوي[3]، ته به وايې چې د قرآن کريم سورتونه د يوې دنګې ماڼۍ چتونه دي او يا د سيړۍ منازل دي چې قاري پکښې ګرځي راګرځي

ب. د "سُورة" کلمه په اصطلاح کښې د قرآن کريم د اياتونو د هغې مجموعې نوم دی کومه چې د درېوو اياتونو څخه کمه نه وي او خاص نوم يا نومونه هم ولري

ج. د قرآن کريم د سورتونو تحديد او نومونه دواړه توقيفي دي اجتهاد ته پکښې دخل نشته[4]

د. اما د سورتونو په ترتيب کښې اختلاف دى خو جمهور علماء کرام په دې نظر دي چې دا اجتهادي دي او توقيفي نه دي[5]

## د قرآن کريم اعداد

۴ـ د قرآن کريم اعداد او شمارې په لاندې ډول دي:

الف. د قرآن کريم ايتونه د اختلاف سره سره شپږ زره دوه سوه او شپږ دېرش (۶۲۳۶) دي[6]

---

(۱) مناهل العرفان في علوم القرآن ج۱ ص۲۳۹، تفسير ابن كثير ج۱ ص۴۹

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۷۲

(۳) لسان العرب ج۴ ص۳۸۶، مفردات الراغب ص۲۵۴

(۴) تفسير ابن كثير ج۱ ص۳۷، ج۱ ص۳۹، تفسير المراغي ج۱ ص۲۳

(۵) البرهان في علوم القرآن ج۱ ص۲۵۷، تفسير القرطبي ج۱ ص۵۹

(۶) تفسير القرطبي ج۱ ص۶۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دغو کښې څلور زره څلور سوه او پنځه اویا (۴۴۷۵) مکي دي او متباقي یو زر اوه سوه او یو شپېته (۱۷۶۱) مدني دي.

ج: د قرآن کریم ټول سورتونه یو سلو څوارلس (۱۱۴) دي چې دوه اتیا (۸۲) مکي دي، شل (۲۰) مدني دي او متباقي دولس (۱۲) اختلافي دي[۱] چې ځینې علماء کرام یې مکي ګڼي او ځینې نور ورته د مدني لقب ورکوي.

د: د قرآن کریم د ټولو کلمو شمېر اوه اویا زره څلور سوه او نهه دېرش (۷۷۴۳۹) ده[۲].

هـ: د حرفونو شمېر یې درې لکه څلوېښت زره اوه سوه او څلوېښتو (۳۴۰۷۴۰) ته رسېږي[۳].

پاتې شوه دا چې د حرفونو د تعداد په لحاظ په کوم خای باندې قرآن کریم نیمایي جوړېږي، نو دا موضوع به ـ إن شاء الله ﷻ ـ د [الکهف:۷۴] ایت لاندې واضحه شي.

## مکي او مدني

۵ـ د مکي سورتونو یا ایتونو او هم د مدني سورتونو یا ایتونو په تعریف کښې علماء کرام په لاندې درېو ګروپونو وېشلی شوي دي[۴]:

الف: مشهور قول دا دی چې مکي هغه سورت ته ویل کېږي کوم چې د هجرت څخه وړاندې نازل شوی وي او مدني هغه دی چې د هجرت څخه وروسته نازل شوی وي که څه هم په مکه کښې وي.

ب: مکي هغه دی چې په مکه کښې نازل شوی وي او مدني هغه دی چې په مدینه کښې یې نزول موندلی وي.

ج: مکي هغه دي چې اهل مکهورباندې مخاطب ګرځولي شوي وي او مدني هغه دي په کومو سره چې اهل مدینه مخاطب وي.

## د قرآن کریم نومونه

۶ـ الله ﷻ په خپل کلام کښې قرآن کریم په پنځه پنځوسو (۵۵) نومونو سره یاد کړی دی لکه "فُرقَان" او "نُور" او داسې نور. خو د "مُصحَف" نوم ورته د ابو بکر الصدیق ﷺ د خلافت په دوره کښې ایښودل شوی دی[۵].

## د "تفسیر" او د "تاویل" معناوې

۷ـ که څه هم د "تفسیر" او "تاویل" په معناوو کښې ځینو مفسرینو کرامو زښت ډېر اوږد بحث کړی دی مګر مونږ یې په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو[۶]:

---

(۱) مناهل العرفان في علوم القرآن ج۱ ص۱۹۱
(۲) تفسیر القرطبي ج۱ ص۶۵
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۷
(۴) الاتقان في علوم القرآن ج۲ ص۹
(۵) البرهان في علوم القرآن ج۱ ص۲۷۳
(۶) اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۲۴؛ الاتقان في علوم القرآن ج۲ ص۱۷۳؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: تفسير په لغت کښې کشف او اظهار ته ويل کېږي او په اصطلاح کښې د يوه لفظ څخه متبادره او څرګنده معنی اراده کول د تفسير په نامه يادېږي.

ب: تاويل: د لغت په لحاظ سره د تاوولو او يو طرف ته د ورګرځولو معنی ورکوي او په اصطلاح کښې د دې دپاره وضعه شوی دی چې د يوه لفظ څخه غير متبادره او ناڅرګنده معنی اراده کړی شي.

د ښه وضاحت دپاره ذکرې شوې دواړه معناوې په يوه ايت شريف کښې ولولئ، هغه دا چې الله ﷻ فرمايلي دي چې ﴿ وَتُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ ﴾ [آل عمران ۲۷].

تفسير: يعني: او ته ژوندی د مړي څخه راوباسې او مړی (بې روحه شی) د ژوندي څخه راوباسې (چې چرګوړی د هګۍ څخه او هګۍ د چرګې څخه رابهر کوې).

تاويل: يعني: او ته ژوندی د مړي څخه راوباسې او مړی د ژوندي څخه راوباسې (چې مسلمان د کافر څخه زېږوې او کافر د مسلمان څخه زېږوې، لکه ابراهيم ﷺ د آزر څخه او کنعان د نوح ﷺ څخه).

## د قرآن کريم فضائل

۸_ که څه هم د قرآن کريم د فضائلو په هکله زښت ډېر احاديث روايت شوي دي مګر موږ د لاندې څو احاديثو په ذکر باندې د مثال په توګه اکتفاء کوو:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «اَلْقُرآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ»[1] يعني: قرآن کريم ستا دپاره حجت دی (چې خپل خان ته به ورباندې د عمل په صورت کښې نجات ورکړي)، او يا په تا باندې حجت دی (چې د بې عملۍ په صورت کښې به ورباندې ملامت کړی شي).

ب: په يوه اوږده حديث کښې يو صحابي ﷺ وايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ» يعني: اګاه اوسئ! يقيناً قيصه دا ده چې ډېر ژر ده چې ډېره غټه فتنه به موجوده شي. نو ما پوښتنه وکړه چې: «مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللهِ!» يعني: يارسول الله! د دغې فتنې څخه د وتلو لاره کومه ده؟ نو جواب يې راکړ چې: «كِتَابُ اللهِ»[2] يعني: د وتلو لاره ترې فقط کتاب الله دی (چې عمل ورباندې وکړی شي).

ج: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ»[3] يعني: ستاسو بهتر هغه څوک دی کوم چې قرآن کريم زده کړي او خلکو ته يې ورزده کړي (تعليم کړي).

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۱۱۸

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱۸

(۳) سنن ابو داؤد ج۱ ص۲۰۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ اقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا»[۱] يعني: د قيامت په ورځ به د قرآن كريم ملګري ته وويل شي چې قرائت كوه او پورته خېژه او په ارامۍ سره يې لوله لكه چې په دنيا كښې به دې په ارامۍ سره لوسته، نو يقيناً ستا منزل او كور د وروستني ايت په نزد دی چې ته يې قرائت كوې.

هـ: نبي كريم ﷺ په يوه قدسي حديث كښې فرمايلي دي چې: «مَنْ شَغَلَهُ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ عَنْ مَسْأَلَتِي وَذِكْرِي أَعْطَيْتُهُ أَفْضَلَ ثَوَابِ السَّائِلِينَ»[۲] يعني: الله ﷻ فرمايي هغه څوک چې زما د سوال او زما د ذكر څخه يې د قرآن كريم قرائت مشغول كړي نو هغه ته به زه د سوال كوونكو (او ذكر كوونكو) د ثواب څخه ډېر افضل ثواب وركړم.

---

(۱) سنن أبي داوُد ج۲ ص۲۰۶
(۲) سنن الدارمي ج۲ ص۳۱۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

# الفاتحة (۱)



Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ دا سورت تقریباً څه دپاسه دوه ویشت (۲۲) نومونه لري[١] چې ټول د دې سورت په فضائلو باندې دلالت کوي، خو مشهور نوم یې "الفاتحة" دی
که څه هم دا سورت په خپل دغه نامه باندې په صراحت سره مشتمل نه دی مګر د معنی په اعتبار سره ورباندې مشتمل دی ځکه چې دا کلمه (الفاتحة) د هر شي هغې اولنی برخې ته ویل کېږي په کومې سره چې همدغه شی پیل کېږي[٢].
دا سورت هم هغه اولنی برخه ده په کومې سره چې قرآن کریم د نزول په ملحوظ نه، بلکې په لوح محفوظ کښې د موجودیت په ملحوظ پیل او شروع شوی دی.
د دغه ډول نوم یو نظیر د "الإخلاص" د سورت نوم دی چې د ﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴾ سورت ورباندې په صراحت سره مشتمل نه دی بلکې د معنی په لحاظ ورباندې مشتمل دی، چې سوچه د توحید بیان پکښې نازل شوی دی.

## دا سورت مکي دی

۲ـ که څه هم د یوه حدیث په استناد دا سورت (الفاتحة) د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[٣]، چې د بعثت په اولنیو وختونو کښې د قرآن کریم د ټولو سورتونو څخه وړاندې اولنی کامل سورت همدا سورت دی چې نزول یې موندلی دی.
یا په بل عبارت: د دې سورت څخه وړاندې ایتونو نزول موندلی وه خو کامل سورت تر دې وړاندې نزول نه وه موندلی؛ مګر خینې علماء کرام وایي[٤] چې دغه سورت په لاندې ډول تکراراً نازل شوی دی:
الف: دا سورت اول ځل هغه وخت نازل شوی دی چې کله نبي کریم ﷺ د معراج د دورې څخه راستون شو او پنځه لمونځونه فرض وګرځېدل.
یا په بل عبارت: د لمانځه د فرضیت سره سم دغه سورت هم نازل شوی دی، ترڅو په لمونځونو کښې قرائت کړی شي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ»[٥] یعني: هغه چا دپاره لمونځ نشته کوم چې (پکښې) فاتحة الکتاب قرائت نه کړي.
ب: دوهم ځل دا سورت په مدینه منوره کښې هغه وخت نازل شوی دی چې کله د بیت المقدس څخه بیت الله ته د قبلې تحویل صورت ونیوه.

---

(١) تفسیر القرطبي ج١ ص١١١؛ تفسیر ابن کثیر ج١ ص٩؛ روح المعاني ج١ ص٣٤
(٢) لسان العرب ج٢ ص٥٣٩
(٣) صحیح البخاري ج٢ ص٦٤٢، ٦٨٣
(٤) تفسیر ابي السعود ج١ ص٨
(٥) صحیح مسلم ج١ ص١٦٩

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دې سورت اعداد

۳ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: ټول ایتونه یې فقط اووه (۷) ایتونه دي[۱]، خو په لاندې وضاحت سره:

اول: ځوک چې ﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ مستقل ایت بولي او هم یې د دې سورت جزء ګڼي نو هغوی وایي چې اوم (۷) ایت یې د ﴿ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ ﴾ څخه پیل شوی او په ﴿ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ پاندې تمام شوی دی.

دوهم: ځوک چې ﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ د دې سورت جزء نه ګڼي هغوی د ﴿ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ ﴾ څخه اوم (۷) ایت شروع کوي.

ب: د دې سورت د کلماتو شمېره پنځه ویشت (۲۵) ده[۲].

ج: د دې سورت د حرفونو شمېره یو سل او څلوېښتو (۱۴۰) ته رسېږي[۳].

## د دې سورت محتویات او مطالب

۴ـ دا سورت په حقیقت کښې د اشارې په توګه د قرآن کریم په ټولو مطالبو او محتویاتو باندې مشتمل دی، ته به وایې چې په دې سورت کښې په اجمالي ډول ټول قرآن کریم اینبودل شوی دی، چې خپنو علماوو کرامو بنه تفصیل ورکړی دی[۴].

د همدې کبله دغه سورت نبي کریم ﷺ په خپل یوه حدیث کښې د "أُمُّ الْقُرآن" په نامه یاد کړی دی[۵]، لکه چې الله ﷻ خپل ازلي کتاب (لَوح مَحْفُوظ) ته په [الرعد: ۳۹] ایت کښې د "أُمُّ الْكِتَاب" لقب ورکړی دی چې د قیامت د ورځې پورې د ټولو کائناتو په ذکر باندې مشتمل دی.

شاید چې د همدې کبله به د قرآن کریم اولنۍ برخه (سپاره) په "الم" سره نومولې شوې وي، نه په "الْحَمْدُ" سره، والله ﷻ أعلم.

﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣﴾ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿٥﴾ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾ ﴾

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱ ص۵۰؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۳۷
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۸
(۳) تفسیر الخازن ج۱ ص۱۶
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۱۶۰؛ تفسیر القرطبي ج۱ ص۱۱۲؛ التفسیر الکبیر ج۱ ص۲؛ تفسیر القاسمي ج۲ ص۲۵
(۵) صحیح مسلم ج۱ ص۱۶۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱] د ډېر مهربان (او) ډېر رحم درلودونکي الله ﷻ په نامه
[۲] هر جنس ستاینه الله ﷻ پورې مختصه ده چې د عالمونو پالونکی (او کارسازی) دی.
[۳] چې ډېر مهربان (او) ډېر رحم درلودونکی دی.
[۴] چې د جزا د ورځې (قیامت) مالک (واکدار) دی.
[۵] مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا څخه کومک (او معونت) غواړو (د ټولو شرکیانو څخه بېزار یاستو).
[۶] مونږ ته سمه لاره وښیه.
[۷] د هغو کسانو لاره چې تا وربانديې انعام کړی دی، چې د غضب وربانديې کړی شوو کسانو او د لار ورکو کسانو (ګمراهانو) څخه غیر (او جدا) دي.

## د مطلب خلاصه

د دې سورت په دوه ویشتو (۲۲) نومونو کښې یو نوم "تَعْلِيمُ الْمَسْئَلَة" دی[۱]، چې په همدې لحاظ د سورت مضمون داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د ﴿بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ﴾ په ویلو سره خپل اُمت ته د سوال کولو طریقه وروزده کړه هغه دا چې:

۱ـ ستا امت ته په کار دي چې د هر څه څخه وراندې د خپل رب ﷻ ستاینه وکړي چې:

الف: ټولې ستاینې او محامد په الله ﷻ پورې اختصاص لري. او دا ځکه چې همدی ﷻ د ټولو عالمونو او ټولو مخلوقاتو پالونکی او کارسازی دی.

نو په حقیقت کښې د هر عالم او هر مخلوق ستاینه همده ﷻ ته راجع ده، چې یوازې همدی ﷻ د حمیده صفاتو ورکوونکی او پیداکوونکی دی او بس. بل هیڅوک پکښې څه مداخله نه شي کولی.

ب: الله ﷻ ډېر مهربان دی چې د دنیا او آخرت د نعمتونو ورکړه یوازې د همده ﷻ پورې مختصه ده. حتی چې په دنیا کښې کفار هم د همده ﷻ د مهربانی څخه استفاده کوي خو یوازې په آخرت کښې ترې بې برخې دي.

ج: الله ﷻ د جزا د ورځې مالک او واکدار دی چې په دغې ورځ کښې یوازې همدی ﷻ جزا یا سزا ورکوونکی دی او بس. د ده څخه پرته نه څوک د جزا واکداري کولی شي او نه د سزا د ورکړې توان لري.

۲ـ ستا امت ته په کار دي چې د خپل اطاعت (عبادت) او د خپل معونت غوښتنې اختصاص فقط په الله ﷻ پورې ورکړي چې:

الف: ای ربه! مونږ یوازې تاته عبادت کوو او یوازې ستا اطاعت کوونکي یاستو، بلکې د ټولو

---

(۱) روح المعاني ج۱ ص۳۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کفریانو او شرکیاتو څخه بېزار یاستو.

ب. ای ربه! زمونږ معونت غوښتنه یوازې په تا پورې مختصه ده چې ستا څخه په غیر مونږ نه د چا څخه مرسته غواړو او نه څوک د مرستې کولو توان لري.

۳ـ ای پیغمبره! د ذکرو شوو مقدماتي مطالبو څخه وروسته باید چې ستا أمت د سوال لاسونه اوچت کړي او سوال وړاندې کړي چې:

الف: ای زمونږ ربه! مونږ د جهالت د تورو تیارو څخه وباسه او په سمه او روښانه لاره باندې مو روان کړه.

ب: ای زمونږ ربه! مونږ د هغو کسانو د لارې سوال کوو په کومو باندې چې تا انعام او احسان کړی دی او په تېرو زمانو کښې دې پیغمبران او صالحان ګرځولي دي.

ج: ای زمونږ ربه! مونږ د هغو کسانو د لارې څخه مغایره لاره غواړو په کومو باندې چې ستا د پلوه غضب او لعنت ورنازل کړی شوی دی کومو چې سمه لاره تحریفه کړې ده او په ناسمه لاره باندې روان دي.

د: همدارنګه مونږ د هغو کسانو د لارې څخه مغایره لاره غواړو کومو چې سمه لاره قصدا پرېښې ده او یا د سمې لارې په تشخیص کښې خطا شوي دي او په باطله لاره لګیا دي چلېږي.

## توضیحات

۱ـ که څه هم خینو علماوو کرامو[۱] د ﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ په هکله ډېر اوږد بحث کړی دی چې تقریبًا اتلس (۱۸) مخونه وریاندې ډک شوي دي، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي؛ مګر مونږ غواړو چې فقط د یوه مطلب په ذکر باندې اکتفاء وکړو. هغه دا چې: د جاهلیت په زمانه کښې به مشرکانو او کفارو د خپلو بوتانو په نومونو سره (د تبرک په غرض) شروع کوله[۲]، نو څرنګه چې الله ﷻ خپل کلام په ﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ سره شروع کړ مونږ یې په غوږ ووهلو چې تاسو د مشرکانو څخه کلک مخالفت غوره کړئ او خپل کارونه د الله ﷻ په نامه سره شروع کړئ او برکت ترلاسه کړئ.

شاید چې په دغه ډول شروع کښې به یو حکمت دا وي چې د الله ﷻ د نامه په یاد سره به بنیادم وشرمېږي او په معاصیوو کښې به شروع ونه کړي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه باید د دې سورت (الْفَاتِحَة) مضامینو ته د لاندې دوه وو شکلونو څخه په یوه شکل سره د بندګانو پورې ارتباط ورکړی شي:

الف: کله چې د قرآن کریم د نزول په ابتدائي حالاتو کښې توله دنیا مفاسدو احاطه کړې وه او

---

(۱) روح المعاني ج۱ ص۳۹

(۲) تفسیر الکشاف ج۱ ص۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوې قوي ربنا ته اړتیا وه او بندګانو د حال په ژبه د مفاسدو مخنیوی غوښت چې: ای ربه! یوه قوي ربنا نازله کړه چې د دنیا مفاسد محوه کړي او بندګان ارام ژوند وکړي او آخرت ته تیاری ونیسي، نو الله ﷻ همدغه د حال غوښتنه راحکایته کړه چې: ای بندګانو! تاسو زما څخه د حال په ژبه داسې غوښتنه لرئ چې: "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ . . . وَلَا الضَّالِّينَ".

ب: چې د دې سورت په اول کښې د "قُولُوا" کلمه مقدره شي لکه چې وړاندې د "مطلب خلاصه" د عنوان لاندې ورته اشاره شوې ده، ته به وایې چې داسې نازل شوی دی چې: "قُولُوا بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ . . . وَلَا الضَّالِّينَ".

## څو نکات

۲_ په دې مقام کښې لاندې نکات په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: په ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ﴾ کښې د "ال" توری د استغراق دپاره دی[۱] او د "حَمد" کلمه په جنس ستاینه باندې دلالت کوي. یعنې: هر جنس نېکه ستاینه په الله ﷻ پورې مختصه ده او یوازې همدی ﷻ یې لیاقت لري. حتی د مخلوقاتو ستاینه هم په حقیقت کښې د الله ﷻ ستاینه ده چې یوازې همدی ﷻ د ښو صفاتو ورکوونکی دی او بس.

ب: په ﴿ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ ﴾ کښې د "رَبّ" کلمه یا صفت مشبه ده چې په اصل کښې "رَبِبٌ" _لکه "قَمِنٌ"_ وه، او یا مصدر ده چې په اصل کښې "رَبْب" _لکه "ضَرْب"_ وه[۲].

په هر تقدیر دغه کلمه په دې مقام کښې د مبالغې په توګه د مالک او مصلح (کار ساز) او هم تربیه کوونکي او پالونکي معنی ورکوي[۳].

ج: په همدې عبارت کښې د "عَالَمِين" کلمه د "عَالَمْ" لکه "خَاتَمْ" جمعه ده او د "عَلَامَة" څخه اشتقاقه شوې ده.

په دې کلمې کښې د معنی په لحاظ علماوو کرامو اوږد بیان کړی دی[۴]، خو مونږ فقط د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

اول: دغه کلمه د "الله ﷻ" څخه په غیر ټولو موجوداتو ته شامله ده چې ټول د الله ﷻ په وجود او هم وحدانیت باندې دلالت کوي او هم وړباندې علامات او نښې دي.

دوهم: لکه چې ټولو مخلوقاتو ته "عَالَمْ" ویل کېږي همدارنګه په هر جنس باندې هم د "عَالَمْ" اطلاق کېږي، لکه "عَالَمُ الْأَرْوَاح" او "عَالَمُ الْأَجْسَاد" او داسې نور.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۲ ص۶، روح المعاني ج۱ ص۷۷

(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱ ص۱۷۹

(۳) لسان العرب ج۲ ص۴۰، مفردات الراغب ص۱۸۹

(۴) تفسير القرطبي ج۱ ص۱۳۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درېيم: په دې مقام کښې د يو پلوه دوهم اطلاق ته کتل شوي دي او د بل پلوه د علم خاوندانو اجناسو ته (لکه پېرى او انسان) په نورو اجناسو باندې تغلیب ورکړى شوى دى. نو ذکره شوې کلمه "عَالَم" په سالمه جمعه ﴿ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ سره نازله شوې ده.

د: په ﴿ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ کښې د "رَحْمن" او "رَحِيم" دواړه کلمې د مبالغې صيغې دي او د "رَحْمَة" څخه اشتقاقې شوې دي چې د مبالغې د بيان دپاره يې علماوو کرامو متعدد صورتونه ښودلي دي[1].

خو مونږ ته بهتره برېښي چې د "رَحْمن" کلمه د زبنت دېر رحم کوونکي معنى ورکوي او د "رَحِيم" کلمه د زبنت دېر رحم درلودونکي معنى اداء کوي[2].

نو د الله ﷻ نه رحم کول انتهاء لري او نه يې رحم درلودل څه محدوديت درلودونکى دى، لکه چې فرمايي: ﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ [الأعراف: ۱۵۶] يعنې: زما رحمت هر شى ځاى کړى دى (او هر شي ته رسېدلى دى).

هـ: په ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴾ کښې د "إِيَّاكَ، إِيَّاكَ" دواړه کلمې هره يوه په خپل عامل باندې مقدمه نازله شوې ده ترڅو تخصيص افاده کړي، او د شرک رد ته په ټولو ډولونو سره اشاره وشي.

و: د شرک په ارتباط پوره توضيحات ـ ان شاء الله ﷻ ـ د [النساء: ۴۸] او [يوسف: ۱۰۶] ايتونو لاندې راروان دي چرته چې د ﴿ أَن يُشْرَكَ بِهِ ﴾ او ﴿ وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴾ کلمې بالترتيب نازلې شوې دي. همدارنګه به ـ ان شاء الله ﷻ ـ د الله ﷻ په نومونو کښې د "الحاد" په هکله د [الاعراف: ۱۸۰] ايت لاندې ښه پوره توضيحات وليکو چرته چې د ﴿ يُلْحِدُونَ فِيٓ أَسْمَٰٓئِهِۦ ﴾ کلماتو نزول موندلى دى.

## "عِبَادَة" څه معنى؟

ز: د ﴿ نَعْبُدُ ﴾ کلمه د "عِبَادَة" څخه اشتقاقه شوې ده چې د لغت په لحاظ د طاعت او فرمانبردارۍ معنى ورکوي[3]. او په شريعت کښې د "عِبَادَة" کلمه د دې دپاره وضعه شوې ده چې د کامل اطاعت او کامل خوف او هم د کامل اميد او محبت په مجموعې باندې دلالت وکړي[4].

يعنې: اى ربه! مونږ د شرک د ټولو ډولونو څخه بېزار ياستو او خاص تاته کامل اطاعت کوو او په کامله توګه درڅخه ډارېږو او هم تاته کامل اميد کوو او خاص ستا سره کامل محبت لرو.

ح: د ﴿ نَسْتَعِينُ ﴾ کلمې تفسير ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې اشاره کړې ده په داسې حال کښې چې يو صحابي ﷺ يې مخاطب ګرځولى وه چې: «أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَةً هِيَ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ لا حَوْلَ

(۱) أضواء البيان ج۱ ص۳۳
(۲) مفردات الراغب ص۱۹۷
(۳) القاموس المحيط ج۳ ص۱۳۴؛ لسان العرب ج۳ ص۲۷۲
(۴) تفسير ابن كثير ج۱ ص۲۵؛ تفسير القاسمي ج۲ ص۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ولا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ»[۱] یعني: ایا زه تاته یوه جمله درزده نه کړم چې هغه د جنت د خزانو څخه ده (د جنت نعمتونه ورباندې حاصلېږي هغه دا چې) د شرک او کفر څخه هیڅ تاوېدل نشته او په خیریه کارونو باندې هیڅ قوت او توان نشته مګر د الله ﷻ په کومک او توفیق.

ط: که څوک وایي چې په ﴿ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ﴾ کښې د ﴿ ٱلَّذِينَ ﴾ کلمه د کومو کسانو څخه کنایې ده؟

مونږ وایو چې: دغه کلمه په بل ایت کښې داسې تفسیره شوې ده چې: ﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ [النساء:۶۹] یعني: او هرڅوک چې د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړي نو دغه ډله به د هغو کسانو سره وي په کومو باندې چې الله ﷻ انعام کړی دی کوم چې د پیغمبرانو او صدیقینو او هم د شهیدانو او صالحینو څخه عبارت دي.

ي: که څوک وایي چې: په ﴿ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ کلمه په ﴿ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ ﴾ باندې عطفه ده او د "غَیر" د کلمې لاندې ده.

نو پوښتنه دا ده چې د "لا" توري په نزول کښې څه حکمت دی حال دا چې مطلوبه معنی بدون د دغه توري څخه تحقق موندلی شي؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینې علماء کرام وایي چې دلته د "لا" توری د "غَیر" معنی ورکوي[۲]، ته به وایې چې "غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَغَيْرِ الضَّالِّين" نازل شوی وي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه توری (لا) به په خپله معنی (نفي) سره وي او هغه نفي به ورباندې تاکیده شوې وي په کومه باندې چې د "غَیر" کلمه دلالت کوي[۳].

که بالفرض ذکر شوی توری نه وی نازل شوی نو چا به ګومان کړی وی چې د ﴿ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ کلمه به په ﴿ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ﴾ باندې عطفه وي، حال دا چې دا ډول عطف فاسده معنی ورکوي (چې مونږ ته د ګمراهانو د لارې ښودانه وکړه).

## ماثور تفسیر

یا: د ذکر شوي اوم ایت په ارتباط نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «الْيَهُودُ مَغْضُوبٌ عَلَيْهِمْ وَالنَّصَارَى ضُلَّالٌ»[۴] یعني: یهودان (د الله ﷻ د پلوه) غضب نازل کړی شوي دي او نصارا ګمراهان دي.

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۷۸
(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۴۶۶
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۲۲۲
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یب: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ماثور تفسیر کښې یوازې د یهودو او نصاراوو نومونه یاد کړی شوه‌حال دا چې ټول کفار غضب کړی شوي او ټول ګمراهان دي؟
مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: دا د دې دپاره چې محمدي ﷺ أمت ته توصیه وکړی شي ترڅو محض د اسماني کتاب په درلودلو باندې غره نه شي چې په عمل کښې یې پیاده نه کړي.
که بالفرض محض د اسماني کتاب درلودل د سمې لارې موندل وی نو یهود به غضب کړی شوي نه وی او نصارا به ګمراهان نه وی.

## "آمین" څه معنی؟

یج: که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَإِذَا قَالَ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ فَقُولُوا آمِينَ يُجِبْكُمُ اللهُ»[1] یعني: او کله چې امام ﴿ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ ووایي نو تاسو "آمِینَ" ووایاست ترڅو الله ﷻ ستاسو اجابت وکړي او سوال مو قبول کړي.
نو پوښتنه دا ده چې "آمِینَ" څه معنی؟
مونږ وایو چې: د "آمِینَ" کلمه اسم فعل ده[2] چې مفرد او مثنی او جمعه دریواړه پکښې یو برابر دي. نو په حدیث کښې ترې مونږ په "اسْتَجِبْ دُعَاءَنَا" سره تعبیر کولی شو. یعني: ای زمونږ ربه! زمونږ دعاګانې قبولې کړه.

په همدې ځای د "الْفَاتِحَة" د سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.
اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مَا فِيْ هَذِهِ السُّوْرَةِ.

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۲۷۴
(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۲۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# البقرة (٢)



Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم "البقرة" د همدې سورت د [۶۷] ایت څخه اخستل شوی دی او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا کړی شوی دی، هسې نه چې دا نوم د دې سورت دپاره عنوان دی او د بقرې د بحث څخه په غیر پکښې د بل شي بحث نشته.

۲_ دا سورت د ټولو مفسرینو کرامو په نزد بدون د خلافه مدني دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[۱].

۳_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: ټول ایتونه یې دوه سوه او شپږ اتیا (۲۸۶) دي[۲].

ب: ټولې کلمې یې شپږ زره دوه سوه او یو ویشت (۶۲۲۱) دي[۳].

ج: ټول حرفونه یې پنځه ویشت نیم زره (۲۵۵۰۰) دي[۴].

۴_ په دې سورت کښې په اکثریت سره د احکامو ایتونه نازل شوي دي. لکه د یهودانو او منافقانو سره گوزاره او د ناستې ولاړې طرز او طریقه، د قبلې تحویل، د جهاد او حج فرضیت او داسې نور.

### د دواړو سورتونو تناسب

۵_ د دې سورت (البقرة) د وړاندېنې سورت (الفاتحة) سره تناسب ډېر واضحه او څرګند دی چې په حقیقت کښې د دې سورت په نزول سره د هغه سوال اجابت (قبول) نزول موندلی دی کوم ته چې هلته په ﴿ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴾ سره اشاره شوې وه.

### هېر مو نه شي!

۶_ د دې سورت (البقرة) په فضائلو کښې ځینو مفسرینو کرامو[۵] زښت ډېر احادیث (مرویات) راغونډ کړي دي چې یو ځل لوستل یې بې ګټې نه دي خو مونږ د اوږدوالي دکبله دلته رانقل نه کړه.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ﴿١﴾ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ
وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱ ص۹۳؛ روح المعاني ج۱ ص۹۸
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۵
(۳) تفسیر الخازن ج۱ ص۳۴
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۲۵۰
(۵) الدر المنثور ج۱ ص۴۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِن قَبْلِكَ وَبِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ۝ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ۝ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر رحم والا الله ﷻ په نامه.

[١]

[٢] دغه (سمه لاره) دا کتاب (قرآن کريم) دی، هيڅ شک پکښې نشته، د متقيانو دپاره سوچه لارښودل دي (چې مطلب ته ورباندې رسېږي).

[٣] (متقيان) هغه کسان دي کوم چې په غائبو شيانو باندې ايمان راوړي (البته چې شريعت ورباندې ارشاد کوي)، او لمونځ ودروي (د ټولو حقوقو سره يې اداء کوي)، او (هم) د هغو مالونو څخه (د الله ﷻ په لار کښې) خرڅه کوي کوم چې ورته مونږ روزي کړي دي.

[۴] او هغه کسان دي کوم چې په هغه شي سره عقيده (باور) خپلوي کوم چې تاته نازل کړی شوی دی او په هغه شي باندې (هم ايمان راوړي) کوم چې ستا څخه مخکښې (نورو پيغمبرانو ته) نازل کړی شوی دی.

او (هم) په وروستنۍ (ورځې) باندې دوی په دوامداره توګه يقين کوي (چې د مرګ د ورځې پورې په همدې عقيده باندې کلک ولاړ دي).

[۵] دغه (ذکر شوي کسان) د خپل رب ﷻ د پلوه په عالي شان هدايت باندې دي او دغه (ډله) همدوی خلاصی (او نجات) موندونکي دي (همدوی بريالي دي).

## د مطلب خلاصه

يعنې: ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل امت باندې د الله ﷻ د پلوه څه مطالب قرائت کړه هغه دا چې:

١ـ ای بنيادمانو! تاسو چې د حال په ژبه د خپل رب ﷻ څخه د مشکلاتو د حل دپاره د سمې لارې د ښودانې سوال کړی وه، هغه سوال ستاسو رب ﷻ مقبول وګرځاوه او داسې کتاب يې درنازل کړ چې د لاندې خاصيتونو درلودونکی دی:

الف: دا کتاب د خپل ځان حقانيت پخپله په اثبات رسوي. او دا ځکه چې دغه کتاب د هغو تورو څخه ترکيب موندلی دی په کومو باندې چې ټول خلک حتی ماشومان خبرې کوي او خپل کلامونو ته ترې ترکيب ورکوي، لکه "ا، ل، م" او داسې نور.

خو ددې سره ـ سره که ټول مخلوقات راغونډ شي او وغواړي چې ددې کتاب سره ديوه ايت يا يوه سورت په جوړولو کښې سيالي وکړي نو مطلب ته به ونه ورسېږي او په سيالۍ کښې به ناکام شي.

که بالفرض المحال دا کتاب د الله ﷻ د پلوه نه وی نازل شوی او بشري تاليف وی نو ضرور به يوې سيالۍ نه بلکې زښتو ډېرو سياليو ورسره صورت نيولی وی.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نو په همدې بنیاد دا کتاب د شک او شبهې ځای نه دی او هیڅوک پکښې په حقه توګه اشتباه نه شي کولی، ترڅو چې عناد خپل نه کړي.

ج: هو! دا کتاب صرف د متقیانو دپاره سراسري هدایت دی او همدوی وربانديې د دوارو دارینو مشکلات حل کوي.

۲ـ پاتې شوه دا خبره چې متقیان څوک دي؟. نو د دې جواب دا دی چې متقیان د لاندې صفاتو درلودونکي دي:

الف: دوی هغه کسان دي کوم چې په داسې شیانو باندې ایمان راوړي او عقیده وربانديې خپلوي چې په سترګو یې نه وي لیدلي او په حواسو سره یې نه وي محسوس کړي خو دغه کتاب وربانديې توصیه کړې وي چې ایمان پرې راوړئ او عقیده پرې خپله کړئ، لکه بعث بعد الموت او داسې نور.

ب: هغه کسان دي کوم چې خپل لمونځونه د ټولو حقوقو سره اداء کوي او وختونه یې هم د نظره نه غورځوي.

ج: هغه کسان دي چې د خپلو هغو مالونو څخه څه برخه د الله ﷻ په لاره کښې نفقه کوي او مستحقینو ته یې ورکوي کوم چې مونږ ورته روزي کړې دي او پخپله یې نه دي موجود کړي.

د: هغه کسان دي کوم چې په ټولو هغو ارشاداتو باندې ایمان راوړي کوم چې تاته درنازل شوي دي او یا درنازلیږي او یا ستا څخه وړاندې نورو پیغمبرانو ته ورنازل کړی شوي وي، لکه تورات او انجیل او نور.

ه: هغه کسان دي کوم چې په وروستنۍ ورځ (قیامت او بعث بعد الموت) باندې یقین او باور کوي او بیا همدغه باور او یقین ته د مرګ د وخته پورې ادامه ورکوي.

۳ـ ای پیغمبره! دغه کسان کوم چې ذکر شوي خاصیتونه یې خپل کړي دي او تقواداران جوړ شوي دي همدوی د خپل رب ﷻ دپلوه په کامل هدایت باندې دي او د همدوی مشکلات په دغه کتاب سره حل کیږي. او همدوی د خپل رب ﷻ د پلوه غضب کړی شوي نه دي او نه د سمې لارې غلطونکي دي بلکې همدوی کامیابان او نجات موندونکي دي.

## توضیحات

۱ـ د قرآن کریم شپږ سورتونه په "الم" سره پیل شوي دي، چې نومونه یې دا دي:

الف: همدا سورت (البقرة).

ب: آل عمران "سورة".

ج: العنکبوت "سورة".

د: الروم "سورة".

ه: لقمان "سورة".

و: السجدة "سورة".

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## مقطعات یا متشابهات

۲_ د قرآن کریم نهه ویشت (۲۹) سورتونه په حرفونو باندې پیل شوي دي لکه چې همدا سورت (البقرة) ورباندې پیل شوی دی. دا حرفونه په لاندې دوه وو نومونو سره يادېږي:

الف: دغو حرفونو ته مقطعات ویل کېږي ځکه چې هر یو جدا جدا لوستل کېږي که څه هم گډ لیکلي شوي وي. یا په بل عبارت: دغه حرفونه په لیک کښې حرفونه دي خو په لوست کښې د حرفونو نومونه دي. د مثال په توگه ﴿ الٓمٓ ﴾ داسې لوستل کېږي: "الف، لام، میم".

ب: بل نوم يې متشابهات دي چې مراده معنی يې په خلکو باندې خفي ده او څرگنده نه ده، البته هغه معنی په کومه باندې چې په عبارة النص سره دلالت کوي چې بحث يې ـ ان شاء الله ﷻ ـ د [آل عمران: ۷] ایت لاندې راروان دی.

## د مقطعاتو بالاشاره معناوې

۳_ د مقطعاتو هغه معناوې محدودې نه دي په کومو باندې چې په إشارة النص سره دلالت کوي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: په دغو حرفونو سره کلام ښایسته کېږي او د قرآن کریم د نزول په وخت کښې په محاوراتو کښې د دغه ډول تحسین څخه کار اخستل کېده. د همدې کبله د وخت مشرکانو د دغو حرفونو په نزول سره څه اعتراض وارد نه کړ، که نه نو هغوی خو د اعتراض ځای موندلو ته ډېر خوشالېده.

ب: په دغو حرفونو سره د قرآن کریم اعجاز ته اشاره ده او د حقانیت اثبات يې په نظر کښې نیولي شوی دی، چې دا قرآن کریم د هغو حرفونو څخه ترکیب موندلی دی د کومو څخه چې روزمره د خلکو کلامونه په اسانۍ سره ترکیب مومي نو که بالفرض دا حقاني کتاب نه وی نو ضرور به ورسره خلکو د سیالۍ توان درلودلی وی.

ج: د دغو حرفونو په نزول کښې د نبوت د اثبات دپاره یو دلیل غلی کړی شوی دی، چې نبي کریم ﷺ أمي وه (لیک او لوست يې نه شو کولی) او نه يې چرته شاگردي کړې وه خو د دې سره-سره يې د حرفونو په نومونو باندې تلفظ کاوه، لکه "الف، لام، میم" او داسې نور.

حال دا چې أمي سړی په حرفونو باندې تلفظ کوي او کلامونه ترې جوړوي خو د حرفونو نومونه نه پېژني او نه ورباندې تلفظ کولی شي. نو پوره څرگنده شوه چې د الله ﷻ د پلوه ورته دا کتاب وحي کړی شوی دی او په نبوت کښې يې هیڅ شک شبه نشته.

د: خینو علماوو کرامو د دغو ذکرو شوو مقطعاتو تورو په هکله زښت ډېر عجیبه اشارات ذکر کړي دي[۱]، که څوک هلته مراجعه وکړي نو په خپلو سترگو به يې وگوري.

(۱) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دلته څه شي ته اشاره ده؟

۴_ علماوو کرامو په ﴿ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ ﴾ کښې د "ذٰلِكَ" د مشار الیه په تعین کښې متعدد اقوال کړي دي[۱]، خو مونږ ته بهتره برېښي چې په دغې کلمې سره به وړاندې په "الْفَاتِحَة" کښې ﴿ ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴾ ته اشاره وي.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کلمه مبتدا ده او ﴿ ٱلْكِتَٰبُ ﴾ یې خبر دی. نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! کومه مستقیمه لاره چې بندګان غواړي (ترڅو وریاندې دنیاوي او اُخروي مشکلات حل کړي) هغه همدا کتاب دی کوم چې تاته درنازل کړی شو.

که څه هم دا کتاب سمدستي د تقریر مجموعه ده او په تقریر سره نزول مومي خو په راتلونکي کښې به (کله چې تمام شي) لیکلې شوې مجموعه وګرځي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: په ﴿ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ کښې د "لا" توری د جنس د نفي دپاره دی، یعنې په دې کتاب کښې جنس شک نشته حال دا چې کفار د همدې کتاب په حقانیت کښې شک څپلوي لکه چې په راتلونکي [البقرة: ۲۲] ایت کښې ورته اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې: دغه سوال علماوو کرامو په ډېرو جوابونو سره جواب کړی دی[۲]. د مثال په توګه:

الف: څرنګه چې د دې کتاب اعجاز ته په ﴿ الٓمٓ ﴾ سره اشاره شوې ده، نو نظر اعجاز ته د کفارو شک هیڅ شتون نه لري چې فقط په عناد باندې ولاړ دی او بس.

ب: دغه خبریه جمله ﴿ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ د انشائیه جملې "لا تَرْتَابُوا فِيْهِ" معنی ورکوي. یعنې ای خلکو! تاسو د دغه کتاب په حقانیت کښې شک او شبه مه څپلوئ. د همدغسې جملې په مثل یوه خبریه جمله د [البقرة:۱۹۷] ایت کښې راروانه ده، چې د انشائیه جملې معنی ورکوي.

## یو صرفي تحلیل

۶_ په ﴿ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ کښې د "مُتَّقِين" کلمې په ارتباط لاندې تحلیل او تشریح ولولئ:

الف: دغه کلمه د افتعال د باب څخه د اسم فاعل د روغې جمعې صیغه ده چې په اصل کښې د "وِقَايَة" څخه اشتقاقه شوې ده چې د ضررناکو او شریرو شیانو څخه د خپل ځان د ساتلو او حفاظت معنی ورکوي خو کله کله د ډار او خوف په معنی سره هم استعمالېږي[۳]، نو کېدی شي چې د "اتَّقُوا الله" معنی داسې وکړو چې تاسو د الله ﷻ څخه ودار شئ.

ب: دا کلمه د تخفیف څخه وړاندې "مُوتَقِيِيْن" _لکه "مُكْتَسِبِين"_ وه. د "و" توری په "ت" بدل او په

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱ ص۱۵۷: روح المعاني ج۱ ص۱۰۵

(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۱۶۹

(۳) مفردات الراغب ص۵۶۸: لسان العرب ج۱۵ ص۴۰۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بابې "ت" کښې مدغم شو او هم پکښې د دوه وو "ي" ګانو څخه اولنۍ "ي" حذفه شوه، نو "مُتَّقِين" کلمه ترې جوړه شوه.

ج: د دغې کلمې د خپل باب مصدر "اتِّقاء" دی چې د محارمو څخه د خپل ځان د ساتنې او حفاظت معنی ورکوي[۱]، خو په دغې ساتنې باندې چې کوم حالت مرتبېږي او وروباندې حاصلېږي هغه ته "تقوی" وايي.

د: "تقوی" په اصل کښې "وقيی" ـلکه "عطشی"ـ وه، نو د "و" توری يې په "ت" او د "ي" توری يې په "و" بدل شو، نو "تقوی" ترې جوړه شوه.

هـ: "تَقوی" ډېر مراتب لري چې اولنۍ مرتبه يې د شرک او کفر څخه ځان ساتل دي[۲]، او بيا د کبيره وو او صغيره وو ګناهونو څخه اجتناب کول او هم د شبهاتو او کم اخلاصۍ څخه پرهېز کول او داسې نور صورتونه ټول په تقوی کښې شامل دي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې: په ﴿ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ کښې الله ﷻ قرآن کريم ته خاص په متقيانو پورې اختصاص ورکړی دی حال دا چې په بل ايت کښې فرمايي چې: ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ ﴾ [البقرة: ۱۸۵] يعنې: د روژې مياشت هغه مياشت ده چې قرآن کريم پکښې نازل شوی دی حال دا چې د ټولو خلکو دپاره هدايت دی؟!

مونږ وايو چې: هُدی او هدايت په لاندې دوه ډولونو سره ويشل کېږي[۳]:

الف: يو هغه هدايت او لاربښودانه ده چې د قبول توفيق ورسره ملګرې وي او سړی وروباندې مطلب ته رسېږي. په دې مقام کښې همدغه ډول هدايت مراد دی او پوره واضحه ده چې دا ډول په متقيانو پورې اختصاص لري.

ب: بل هغه هدايت دی چې محض د سمې لارې ښودانه پکښې صورت ونيسي، برابره خبره ده چې مطلب ته رسېدل او د قبول توفيق ورسره ملګری وي او که نه.

نو د [البقرة: ۱۸۵] ايت کښې همدغه دوهمه معنی مطلب ده چې کفارو ته هم شموليت لري.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۸ـ که څوک وايي چې: متقيان خو هغه کسان دي چې سمه لاره يې موندلې وي او د هدايت او توفيق خاوندان وي، نو پوښتنه داده چې دغسې کسانو ته قرآن کريم هدايت ګرځېدل څه معنی لري؟

مونږ وايو چې: د دغه هدايت معنی دا ده چې دوی په همدغه قرآني هدايت سره متقيان ګرځېدلي دي او همدا يې د "تقوی" سبب جوړ شوی دی.

---

(۱) تفسير الخازن ج۱ ص ۴۰

(۲) الدر المنثور ج۱ ص۶۲، تفسير ابي السعود ج۱ ص۲۸

(۳) تفسير القاسمي ج۲ ص۳۳، تفسير القرطبي ج۱ ص ۱۶۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالمقابل څوک چې د دغه قرآن کريم په هدايت سره متقي جوړ نه شي او توفيق يې په برخه نه شي نو د هغوی ضلالت او کفر ورباندې اضافه کېږي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴾ [الإسراء: ۸۲] يعنې: او موږ د قرآن کريم څخه هغه شی نازلوو کوم چې د مؤمنانو دپاره شفا او رحمت دی او کوم چې ظالمانو (مشرکانو او کفارو) ته نه زياتوي مگر زيان او تاوان (چې کفر او شرک يې ورباندې لا قوي کېږي).

## هېر مو نه شي!

۹ـ هېر مو نه شي چې د قرآن کريم هدايت لاندې دوه ډوله اثرات لري:

الف: يو ډول اثرات يې "تخليه" ده چې بنيادم د غيرو مشروعاتو څخه خالي او صاف جوړوي چې د ﴿ لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ په کلمې سره ورته اشاره شوې ده.

ب: بل ډول اثرات يې د "تحليه" په نامه يادېږي چې بنيادم په مشروعاتو باندې ښايسته کوي چې په متصلو دوه وو ايتونو کښې ورته اشارې شوې دي.

## "غيب" څه معنی؟

۱۰ـ په ﴿ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْغَيْبِ ﴾ کښې د "غَيْب" کلمه مصدر ده خو د "غائب" معنی ورکوي او د هغو موجوداتو څخه عبارت ده کوم چې د انسان د حواسو لاندې نه واقع کېږي او شريعت ورباندې لارښودانه کوي، لکه د الله ﷻ وحدانيت او نور أخروي أمور.

په دې هکله ـ إن شاء الله ﷻ ـ د [الأنعام: ۵۰، ۵۹] ايتونو لاندې ښه مفصل بحث راروان دی.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝٦ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ۖ وَعَلَىٰٓ أَبْصَٰرِهِمْ غِشَٰوَةٌ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝٧ ﴾

[۶] يقيناً هغه کسان کومو چې په داسې حال کفر غوره کړی دی چې ستا انذار (ډارول) او عدم انذار ورباندې يو برابر دی (په راتلونکي کښې) ايمان نه راوړي.

[۷] الله ﷻ يې په زړونو باندې او په غوږونو باندې مهر لګولی دی او د دوی په سترګو باندې پردې (پرتې دي). او دوی ته (د الله ﷻ په نزد) ډېر لوی عذاب دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د کاملو مؤمنانو او متقيانو ذکر نازل شوی وه او په دې ايتونو کښې د پخو او څرګندو کفارو ذکر ته اشاره کېږي چې حاصل يې داسې راځي:

۱ـ ای پيغمبره! په تاباندې الله ﷻ کامل هدايت کوونکی کتاب (قرآن کريم) درنازل کړی دی چې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


د دنیا او آخرت مشکلات پکښې حل شوي دي.

۲_ خو کومو کسانو چې کفر غوره کړی دی او په خپل دغه دریځ باندې کلک ولاړ او عناد نیولي دي هغوی ورباندې ایمان نه راوړي.

د همدې کبله ستا انذار اوعدم انذار او هم ستادعوت اوعدم دعوت په هغوی باندې یو برابر دي هو! په هغوی باندې یو برابر دي چې هیڅ اثر ورباندې نه اچوي، خو تاته یو برابر نه دي بلکې تاته په انذار او دعوت کښې اجرونه دي او ستا مکلفیت دی، ته ورته ادامه ورکړه.

۳_ الله ﷻ د دغو عنادي کفارو د ایمان راوړلو استعداد بالکل محوه کړی دی او په زړونو او غوږونو باندې یې ورته مهر وهلی دی چې نه د عقلونو څخه کار اخلي او نه ستا دعوت ته غوږ ږدي، بلکې د دغو کسانو په سترګو باندې پردې خورې دي چې د حقائقو څخه ړانده دي، نو نه افاقي دلایلو ته ګوري او نه د انفسي دلایلو څخه کار اخلي.

## توضیحات

۱_ د ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ الآیة د نحویت په لحاظ علماووکرامو په متعددو ډولونو سره تحلیل کړی دی(۱)، خو کوم تحلیل چې مونږ ته په زړه پورې برېښي هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: د ﴿سَوَآءٌ﴾ کلمه مصدر ده چې مفرد، مثنی او هم جمعه پکښې دریواړه یو برابر دي او د استواء معنی ورکوي(۲).

ب: دغه کلمه ﴿سَوَآءٌ﴾ مقدم خبر ده(۳).

ج: په ﴿ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ﴾ دواړو جملو کښې د "ء، أمْ" دواړه توري د استفهام څخه مجرد ګرځولي شوي دي(۴).

د: دغو دواړو جملو مضمون د "إِنْذَارُكَ وَعَدَمُ إِنْذَارِكَ" په تاویل سره موخره مبتداء ده، چې اسمیه جمله ترې جوړېږي.

هـ: دغه اسمیه جمله د ﴿كَفَرُواْ﴾ د ضمیر څخه حال واقع شوې ده. او د ختم (مهر) څخه کنایه ده چې خپل ذو الحال ته یې د عموم څخه تخصیص ورکړی دی.

و: نو موصول ﴿ٱلَّذِينَ﴾ د خپلې صلې ﴿كَفَرُواْ﴾ او مربوطاتو سره د "إنَّ" دپاره اسم دی، او د ﴿لَا يُؤْمِنُونَ﴾ جمله یې خبر دی.

یعني ای پیغمبره! یقیناً هغه کسان ایمان نه راوړي کومو چې په داسې حال کفر غوره کړی دی چې ستا انذار او عدم انذار ورباندې یو برابر دی، کومو چې عناد خپل کړی دی او د ایمان راوړلو

(۱) تفسیر الکشاف ج۱ ص۴۷
(۲) روح المعاني ج۱ ص۱۸۲
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۵
(۴) تفسیر ابي السعود: ج۱ ص۳۶ المحرر الوجیز ج۱ ص۱۰۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



استعداد یې د منځه بېولی شوی دی نو د مرګ پورې به په خپله کفري عقیده کلک ولاړ وي.

یا په بل عبارت، ای پیغمبره! هغه کفار یقیناً ایمان نه راوړي د کومو په زړونو باندې چې مهر وهل شوی دی نو د ایمان راوړلو تمه ورته مه کوه.

اما د کومو کفارو په زړونو باندې چې مهر نه دی وهل شوی نو د دوی د جملې څخه هغه کسان ایمان راوړي کومو ته چې د الله ﷻ اراده وشي.

نو د ایمان د راوړلو تمه ترې مه پرې کوه څه لرې نه ده چې ستا د د عوت او انذار د اثر لاندې واقع شي او په ایمان باندې مشرف وګرځي.

د همدغه مضمون یوه مثال ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ قَالُوا۟ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُن مِّنَ ٱلْوَٰعِظِينَ ﴾ [الشعراء: ۱۳۶] یعنې: هُود ﷺ ته خپل قوم وویلې چې: په مونږ باندې (په عدم تاثیر کښې) برابره ده چې ته (مونږ ته) وعظ وکړې (توحید ته مو دعوت کړې) او یا ته د وعظ کوونکو (دعوت کوونکو) څخه ونه ګرځې (بالکل چپ او ساکت پاتې شې).

## "ختم" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ﴾ کښې د ﴿ خَتَمَ ﴾ کلمه د "ختم" ـلکه "ضرب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د مهر لګولو معنی ورکوي[1].

نو د دې دپاره چې په دې مقام کښې د مهر لګولو معنی ښه پوره څرګنده شي باید لاندې وضاحتونه په ذهن کښې وساتل شي:

الف: کله چې بنیادم د یوه شي سره عادت شي نو همغه شی ورته ډېر غوره برېښي او د همغه شي پرېښودل ورته زښت ډېر سخت په نظر ورځي.

ب: په همدې بنیاد هرڅوک چې د معاصیوو او کفریاتو سره عادت شي نو فقط خپل خان ورته په حقه لاره روان څرګندېږي او نورو ټولو خلکو ته د ګمراهانو په نظر ګوري.

ج: الله ﷻ په دنیا کښې ټول کارونه په اسبابو باندې مرتب ګرځوي ترڅو د امتحان دپاره زمینه برابره شي.

که بالفرض الله ﷻ دنیاوي کارونه په اسبابو باندې نه وی مرتب کړي نو د یو پلوه به د امتحان لمن ټوله شوې وی او د کسب ساحه به د منځه تللې وی، او د بله پلوه به د پیغمبرانو دپاره خارق العاده کارونه معجزات نه وی ګرځېدلي بلکې په دې تقدیر به ټولو کارونو بلا سببه په خارق العاده توګه تحقق موندلی.

د: لکه چې په محسوساتو کښې الله ﷻ ځینو شیانو ته په ځینو نورو شیانو باندې ترتب ورکوی همدارنګه یې په معنویاتو کښې هم دغه سلسله جاري ساتلې ده.

---

(۱) القاموس المحیط ج۲ ص۱۵؛ مفردات الراغب ص۱۴۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د همدې کبله الله ﷻ د ګناهونو په سبب په زړونو کښې څه کلکوالی او توروالی پیدا کوي چې د ګناهونو په ادامې سره همدغه کلکوالی او توروالی زیادت او شدت مومي.

همدارنګه د کفریاتو په ادامې سره کفري عقیده تقویه کېږي او کلکېږي او بالآخره خپل خاوند ورسره عادت کېږي.

هـ: همدغه قلبي کلک حالت په قرآن کریم کښې په لسو (۱۰) لقبونو سره یاد شوی دی[1]، چې د دغو لسو لقبونو څخه یو لقب ختم (مهر) دی.

و: شاید چې دا لقب (مهر وهل) په ورته په دې مناسبت ورکړی شوی دي چې په محسوساتو کښې چې کله د یوه کاغذ په مضمون باندې مهر ووهلی شي نو په همغه لیکلي شوي کاغذ کښې نه بل شی اضافه کېدلی شي او نه یې د مضمون څخه څه شی کمبود موندلی شي، همدارنګه کله چې د یوه کافر دپاره خپله کفري عقیده عادت وګرځي او ورسره اموخته شي نو د لیکلي شوي او مهر لګولی شوي مضمون غوندې یې په عقیده کښې په هیڅ وجه تغیر صورت نه نیسي.

## د موضوع ښه وضاحت

۳_ د ذکر شوې موضوع د ښه وضاحت دپاره لاندې تشریح ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ﴾ [الزخرف ۳۷] یعني: او یقینًا شیطانان چې دي هرومرو دوی (کفار) د سمې لارې څخه اړوي حال دا چې دوی ګومان کوي چې یقینًا دوی سمه لاره موندونکي دي.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ فَإِنْ تَابَ وَنَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ قَلْبُهُ وَإِنْ زَادَ زَادَتْ حَتَّى يَعْلُوَ قَلْبَهُ ذَاكَ الرَّيْنُ الَّذِي ذَكَرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي الْقُرْآنِ ﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ [المطففين ۱۴]»[2] یعني: یقینًا مؤمن سړی چې کله ګناه وکړي نو په زړه کښې یې تور داغ وګرځي نو که توبه تائب شو او د ګناه څخه یې خپل ځان وویست او (هم) یې مغفرت وغوښت نو زړه یې سوان کړی شي (او داغ ترې لرې شي) او که په ګناه کښې یې زیادت خپل کړ نو داغ یې هم زیات (اضافه) شي آن تردې چې په زړه باندې یې وراوچت شي (او ټول تور کړي).

همدغه (داغ) هغه زنګ دی چې الله ﷻ په قرآن کریم کښې ذکر کړی دی چې:

دغسې نه ده بلکې د دوی په زړونو باندې هغو جناباتو زنګ اچولی دی کوم چې دوی لګیا دي چې کسب یې کوي.

ج: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا سَمِعْتُمْ بِجَبَلٍ زَالَ عَنْ مَكَانِهِ فَصَدِّقُوا وَإِذَا سَمِعْتُمْ بِرَجُلٍ تَغَيَّرَ عَنْ خُلُقِهِ فَلَا تُصَدِّقُوا بِهِ وَإِنَّهُ يَصِيرُ إِلَى مَا جُبِلَ عَلَيْهِ»[3] یعني: کله چې تاسو واورېدل چې کوم غر د خپله

(۱) تفسیر القرطبي ج۱ ص۱۸۶

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۱۵۴

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۴۲۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خایه زوال موندلی دی (او بې خایه شوی دی) نو تاسو یې تصدیق وکړئ (کېدی شي چې ربښتیا وي)، او کله چې تاسو واورېدل چې کوم سړي د خپل خوی (عادت) څخه تغیر خوړلی دی نو تصدیق یې مه کوئ، او یقیناً دغه سړی به خپل هغه خوی ته وروګرځي په کوم باندې چې نوموړی عادت کړی شوی دی (ته به وایې چې په همدغه باندې پیدا کړی شوی دی).

د: همدغه مضمون یوه پښتون شاعر څومره ښه تمثیل کړی دی[۱]، چې:

د ابلیس وریاضت تـه دې نظـر کا :: چې غرور کا په طاعـت پـه ریاضت څوک
علت لاړ شي عادت نه ځي د سړي نه :: خدای دې نه کاندې په بد چاره عادت څوک

هـ: حجاج بن یوسف الثقفي یو ظالم حاکم وه چې په مسلمان وژنه باندې عادت شوی وه حتی چې د جنګونو څخه په غیر یې یو لک او شل زره (۱۲۰۰۰۰) کسان وژلي وه[۲]، او په وژلو شوو کسانو کښې یې سعید بن جبیر رحمه الله عالي القدر تابعي هم شامل وه؛ نوموړي به ویل چې زه د بل هیڅ شي څخه دومره خوند نه اخلم څومره خوند چې زه د وینو د تویولو څخه اخلم[۳].

## سوالونه او جوابونه

۴_ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې سوالونه خطور کوي:

الف: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې دلته د "قُلُوب" او "أَبْصَار" کلمې جمعې نازلې شوې دي او د "سَمْع" کلمې په افراد سره نزول موندلی دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو په جواب کښې ویلي دي چې په زړه (قَلْب) باندې مختلف الأجناس شیان درک کولی شي او په سترګو (بَصَر) سره مختلف الأجناس شیان لیدلی شي نو د دواړو سره جمعیت مناسب دی[۴]. او په غوږونو (اورېدلو سره) یو جنس (أصوات) درک کولی او اورېدلی شي نو إفراد ورسره مناسب دی.

مګر بهتر جواب دادی چې د "قَلْب" او "بَصَر" جمعې کثیرالاستعمال دي او د "سَمْع" جمعه "اسْمَاع" قلیل الاستعمال ده، او په قرآن کریم کښې د عربي محاورو مناسبات د نظره نه دي غورزولي شوي.

د همدې کېله د "أَرْض" د کلمې جمعې "أَرَاضُ، أُرُوْضُ، أَرْضُونَ، أَرَاضِيْ" یوه هم په قرآن کریم کښې نه ده نازله شوې چې تولې قلیل الاستعمال دي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ﴾ کلمات په ﴿ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾ باندې عطف دي، یعنې الله ﷻ د ذکرو شوو کفارو په زړونو باندې او هم په غوږونو باندې مهر لګولی دی.

په همدې مضمون باندې په بل ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ ﴾

---

(۱) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۸۴
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۴۶
(۳) وفیات الاعیان ج۲ ص۳۰
(۴) روح المعاني ج۱ ص۱۳۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[الجاثية: ۲۳] يعني: ايا هغه څوک (سمه لاره موندلى شي) د كوم په غوږونو او زړه باندې چې الله ﷻ مهر لګولى دى.

ب: كه څوک وايي چې: په همدغه ايت كښې د ﴿ غِشَٰوَةٌ ﴾ كلمه هغه شي ته وضعه شوې ده كوم چې بل شى پټوي او په پرده كښې يې ګرځوي[۱]. نو پوښتنه دا ده چې د همدغې كلمې په نزول كښې څه حكمت دى حال دا چې مطلوبه معنى بې د دې كلمې څخه هم ترلاسه كېږي، چې الله ﷻ د هغوى په زړونو او غوږونو او هم په سترګو مهر لګولى دى؟

مونږ وايو چې: دلته هم د عربي محاوراتو مراعات شوى دى چې په سترګو كښې د ختم كلمه نه استعمالېږي بلكې د ﴿ غِشَٰوَةٌ ﴾ كلمه پكښې استعمال مومي.

ج: كه څوک وايي چې: په زړه باندې مهر لګول خو په هغه وخت كښې تكميلېږي چې پنځه واړه حاسې (سامعه، باصره، ذائقه، لامسه، شامه) د كاره وغورځولى شي، حال دا چې په ايت شريف كښې فقط د دوه وو حاسو ذكر نازل شوى دى؟

مونږ وايو چې: دلته د دوه وو حاسو په ذكر باندې د حصر دپاره صراحت نه دى شوى ترڅو اعتراض وارد شي بلكې د تمثيل په توګه ذكرې شوې دي چې د عقل په جواسيسو او حواسو كښې دغه دواړه ډېرې مهمې حاسې دي. او دا ځكه چې په غوږونو باندې د پيغمبرانو او نصيحت كوونكو ارشادات او نصائح اورېدلى كېږي او په سترګو باندې د توحيد انفسي او افاقي دلايل ليده كېږي.

د: كه څوک وايي چې: كله الله ﷻ د عنادي كفارو په زړونو مهر ولګاوه او د ادراک وسائل يې ورختم كړه نو په څه وجه هغوى دملامتې لاندې راغله حال داچې د ادراک وسائل يې ختم شوي دي؟

مونږ وايو چې: دا اعتراض به په هغه وخت كښې په ځاى وى چې د كفرياتو ارتكاب د وسائلو د ختم نتيجه وى، حال دا چې د وسائلو ختم د كفرياتو د ارتكاب نتيجه ده. يا په بل عبارت: الله ﷻ د هغوى په زړونو باندې ځكه مهر وهلى دى چې هغوى په دوامداره توګه د كفرياتو مرتكب ګرځېدلي دي، نه دا چې هغوى ځكه كفريات غوره كړي دي چې په زړونو باندې يې مهر لګولى شوى دى.

په همدې مضمون باندې په بل ايت كښې صراحت نازل شوى دى چې: ﴿ بَلۡ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيۡهَا بِكُفۡرِهِمۡ ﴾ [النساء: ۱۵۵] يعني: بلكې الله ﷻ (ورته) د خپل كفر په سبب په زړونو باندې چاپ (مهر) لګولى دى.

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٨﴾ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ﴿٩﴾ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ ﴿١٠﴾ ﴾

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۷۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸] او د خلکو څخه ځينې هغه څوک دي چې وايي مونږ په الله ﷻ سره او په وروستني ورځې سره ايمان راوړى دى حال دا چې دوى (ورباندې) ايمان راوړونكي نه دي.

[۹] دوى (په دغه قول سره په خپل خيال) الله ﷻ او هغه كسان غولوي كومو چې ايمان راوړى دى، حال دا چې دوى (په حقيقت كښې) نه غولوي مگر خپل ځانونه خو دوىورباندې شعور (ادنى پوهه) نه لري.

[۱۰] د دغو (خلكو) په زړونو كښې مرض (كفر او نفاق) دى، نو الله ﷻ د دوى قلبي مرض زيات كړ (چې د دوى علامات يې نازل كړه نو زړونه يې ورته مهر كړه).

او دغو (خلكو) ته د دې كبله دردناک (يا دردوونكى) عذاب دى چې دوى په دوامداره توگه دې چې دروغ وايي (چې مونږ ايمان راوړى دى).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو كښې الله ﷻ د هغې ډلې خلكو ذكر ته اشاره كړې ده كومه چې ذكرو شوو دواړو ډلو (مؤمنانو او مجاهرو كفارو) ترمنځ قرار لري، كومه چې د منافقانو د ډلې څخه عبارت ده.

څرنگه چې د دغې ډلې پېژاندلو لږ څه اشكال درلود نو الله ﷻ د دوى د معرفي كولو دپاره د ذكرو شوو ايتونو په شمول آن د [البقرة: ۲۰] ايت پورې ديارلس (۱۳) ايتونه نازل كړه، نو د دغو ايتونو حاصل داسې راځېږي:

اى پيغمبره! اوس په خپل اُمت باندې د خلكو څخه د يوې خاصې ډلې حالات قرائت كړه كومه چې نه سوچه مؤمنه او نه سوچه كافره ده بلكې ددغو دواړو ډلو ترمنځ مذبذبه ده. هغه دا چې:

۱_ د خلكو څخه يوه ډله خلک دي چې په ژبه وايي چې مونږ په الله ﷻ باندې ايمان راوړى دى چې هيڅ شريک نه لري او محمد ﷺ يې په حقه دنيا ته د پيغمبر په حيث رالېږلى دى.

او هم وايي چې مونږ په وروستني ورځ (قيامت) باندې د عقيدې او ايمان درلودونكي ياستو چې د مرگ څخه وروسته بيا ژوندون حق دى.

۲_ دغه ډله د ذكرو شوو اعترافاتو او اقرارونو سره-سره ايمان درلودونكې نه ده، ذكر شوي اقرارونه يې فقط په ژبه جاري دي او په زړونو كښې يې ځاى نه لري.

۳_ دغه ډله غواړي چې په دروغژنو اقوالو سره الله ﷻ او پيغمبر ﷺ او هم مؤمنان وغولوي ترڅو د يو پلوه د جهاد لاندې واقع نه شي او د بله پلوه د هغو امتيازاتو څخه استفاده وكړي د كومو چې مؤمنان درلودونكي دي، حال دا چې دوى شعور نه لري كه نه نو د دغې غولونې تصور به يې نه وى كړى او نه به ورته په تمه شوي وى.

۴_ دغه ډله خلک په حقيقت كښې فقط ځانونه غولوي چې د همدغې كړنلارې په خپلولو سره يې الله ﷻ د غضب مستحق گرځوي.

۵_ د دغې كړنلارې خپلولو وجه دا ده چې د دغې ډلې په زړونو كښې منافقت او د اسلام سره

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دښمنۍ او عداوت ځای نیولی دی او په همدې باندې عادت شوي دي، ته به وایې چې په مشاعرو باندې یې مهر لګولی شوی دی.

۶ـ نو الله ﷻ د دغې ډلې قلبي کیفیات (منافقتونه اوعداوتونه) نور هم اضافه کوي، چې روزمره اسلام مخ په ترقۍ روان دی او د پیغمبر ﷺ معجزات رانازلېږي او هم د هغوی علامات نزول مومي.

۷ـ په دې باندې علاوه دغې ډلې ته د قیامت په ورځ د دې کبله دردناک عذاب ټاکلی شوی دی چې دغه ډله لګیا ده د استمرار په توګه دروغ وایي او خپل ځانونه مؤمنان معرفي کوي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ﴾ کښې د ﴿ ٱلنَّاس﴾ کلمه د "إِنْس" ـلکه "عِلْم"ـ جمعه ده چې په اصل کښې "الأُنَاس" وه، همزه د تخفیف دپاره حذفه شوه او تعریفي "ل" په "ن" کښې مدغم شو نو "النَّاس" ترې جوړ شو(۱)، چې مونږ یې په "خلکو" سره ترجمه کوو.

۲ـ د ﴿ بِٱلْيَوْمِ ٱلْآخِرِ﴾ څخه د قیامت ورځ مطلب ده کومه چې په [المعارج:۴] ایت کښې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله ښودلې شوې ده.

دا نوم ورته د دې کبله ایښودل شوی دی چې د دغې ورځې په تعقیب شپه صورت نه نیسي(۲)، لکه څنګه چې د هرې ورځې په تعقیب شپه صورت نیسي.

۳ـ د خلکو کومې ډلې ته چې په دې ایت کښې اشاره شوې ده هغه عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د منافقانو ډله ښودلې ده(۳).

نو په همدې بنیاد "نفاق" د دې څخه عبارت دی چې څوک خپل ظاهر خیر څرګند کړي حال دا چې په باطن کښې شر وي(۴).

## د نفاق ډولونه

۴ـ نفاق په لاندې دوه وو ډولونو سره وېشل کېږي:

الف: یو عقیدوي نفاق دی چې څوک خپل ځان مسلمان معرفي کړي خو په باطن کښې د کفري عقیدې درلودونکی وي، په دې مقام کښې همدغه ډول ته اشاره ده.

ب: بل عملي نفاق دی چې څوک خپل ځان نېکعمله معرفي کوي حال دا چې نېکعمله نه وي بلکې بدعمله وي، خو د دې سره-سره په عقیده کښې د شک او شبهې درلودونکی نه وي. همدغه ډول ته په ډېرو احادیثو کښې اشاره شوې ده. د مثال په توګه:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ

---

(۱) القاموس المحیط ج۴ ص۴۵۹؛ لسان العرب ج۶ ص۱۱
(۲) المحرر الوجیز ج۱ ص۱۱۱
(۳) الدر المنثور ج۱ ص۷۳
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خان»[۱] یعني: د منافق نښې درې دي چې کله خبرې کوي دروغ وايي او چې وعده وکړي بې لوظي کوي او چې امانت ورته کېښودل شي نو خیانت پکښې خپلوي.

## د نفاق خپلولو اسباب

۵_ نفاق د ډېرو اسبابو د کبله صورت نیسي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: چې څوک د ډار د کبله زورور ته خپل خان دوست یا همعقیده معرفي کړي حال دا چې په باطن کښې دغسې نه وي، ترڅو د هغه د اذیتونو څخه بچ پاتې شي.

ب: چې څوک مالدار ته د مادي تمې د کبله منافقت اختیار کړي ترڅو د هغه د مالیاتو څخه استفاده وکړي.

ج: چې څوک داقتدار د خاوند په وړاندې د څه حکومتي رتبې د موندلو دپاره د نفاق مرتکب وګرځي.

د: چې څوک د جاسوسۍ کولو په غرض دغه کار ته لاس واچوي.

هـ: چې څوک غواړي چې دوه کسان یا دوه ډلې په جنګ او جګړه اخته کړي.

و: چې څوک دغسې بله ګټه په نظر کښې ونیسي او منافق جوړ شي.

## منافقت چرته وده وکړه؟

۶_ په مکه معظمه کښې د منافقت سببونو شتون نه درلود او مؤمنان کمزوري وه بلکې هلته کفار (مشرکان) زورور او مالداره وه.

د همدې کبله به هلته ځینو مؤمنانو د رخصت څخه استفاده کوله او د خپلو خانونو د نجات په خاطر به یې کله-کله د کفر کلمه هم وېلې، حال دا چې زړونه به یې په ایمان باندې مطمئن وه.

هو! که کوم کس به په همدغه کمزوري حالت کښې هم د مؤمنانو په وړاندې د منافقت لاره اختیاره کړې وي او په احتمالي ترقۍ باندې به یې اتکاء خپله کړې وي، نو هغه به ډېر لږ وي چې د ذکر وړ به نه وي.

نو په همدې بنیاد په مدینه منوره کښې او په خاصه توګه د بدر د غزا څخه وروسته منافقت په وده شروع وکړه چې مؤمنان د ترقۍ په لور روان وه او هیڅا یې د قوت څخه سترګې نه شوې پټولې.

منافقانو په دغه ځای کښې یو مشر هم درلود چې عبد الله بن أُبي بن سلول نومېده.

## سوالونه او جوابونه

۷_ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وايي چې په دې کښې څه حکمت دی چې دلته الله ﷻ منافقان په عام مفهوم سره معرفي کړه او اشخاص یې ونه ښودل؟

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: دا د دې دپاره چې د قیامت د ورځې پورې په هره زمانه کښې مؤمنانو ته منافقان وروښودل شي ترڅو ترې اجتناب وکړي.

ب. که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ ته خو منافقان بالاشخاص نه وه وروښودل شوي، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ﴾ [التوبة: ۱۰۱] یعنې: ای پیغمبره! دلته منافقان شته چې ته ورباندې علم نه لرې خو مونږورباندې علم لرو (او مونږ یې پېژنو).

حال دا چې د نبي کریم ﷺ د پلوه حذیفه ﷺ ته د منافقانو اشخاص وروښودل شوي وه، د همدې کبله دغه صحابي ﷺ د «صَاحِبُ سِرِّ النَّبِيِّ ﷺ»[1] لقب ګټلی وه.

مونږ وایو چې: په ایت شریف کښې مطلب دا دی چې ته ټول نه پېژنې، او ذکر شوی صحابي ﷺ ته خو فقط د څوارلسو (۱۴) کسانو نومونه وروښودل شوي وه او بس[2].

ج: که څوک وایي چې: فقط په یوه مجلس کښې نبي کریم ﷺ په شپږ دېرشو (۳۶) کسانو باندې غږ وکړ او ویې ویلې چې: «إِنَّ فِيكُمْ مُنَافِقِينَ فَمَنْ سَمَّيْتُ فَلْيَقُمْ» یعنې: یقینًا په تاسو کښې منافقان شته نو ما چې د هر چا نوم واخست نو هغه دې اوچت شي، بیا یې ووېلې چې: «قُمْ يَا فُلَانُ قُمْ يَا فُلَانُ قُمْ يَا فُلَانُ»[3] یعنې: ای فلانیه! اوچت شه، ای فلانیه! اوچت شه، ای فلانیه! اوچت شه.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا دغه حدیث د ذکر شوي ایت سره منافات او تضاد نه لري؟

مونږ وایو چې: دغه حدیث د ایت د نزول څخه ډېر وروسته هغه وخت صورت نیولی وه چې د مجاهرو (څرګندو او علني) کفارو سره جهاد ختم شوی وه او د منافقانو سره جهاد پیل شوی وه.

د: که څوک وایي چې: ایا د مجاهرو کفارو سره او د منافقانو سره جهاد څه فرق درلود؟

مونږ وایو چې: د منافقانو سره هیڅکله وسلوال جهاد نه دی شوی بلکې د دوی د جهاد ډول ته به ـ إن شاء الله ﷻ ـ د [التوبة: ۷۳] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق تشریح ورکړو.

هـ: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې د منافقانو سره وسلوال جهاد ونه شو؟

مونږ وایو چې: دغه حکمت ته نبي کریم ﷺ په خپل یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «دَعْهُ لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ أَصْحَابَهُ»[4] یعنې: ای عمره! دغه منافق پرېږده (سر یې مه الوزوه) ترڅو خلک خبرې ونه کړي (اوازه خوره نه کړي) چې محمد ﷺ خپل ملګري وژني (نو د ایمان په راوړلو به اثر واچوي).

و: که څوک وایي چې: په ﴿ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ ﴾ کښې د ﴿ يُخَٰدِعُونَ ﴾ مستتر ضمیر څه شي ته راجع دی؟

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۲۹؛ جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۱
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۲۶۹؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۹
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۱۷
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۸؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۲۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: دغه ضمير په ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ﴾ كښې د معنى په لحاظ د "مَنْ" كلمې ته راجع دى لكه څنګه چې ورته د لفظ په لحاظ د ﴿ يَقُولُ ﴾ مستتر مفرد ضمير راجع دى.

ز: كه څوک وايي چې: په ﴿ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ ﴾ كښې د ﴿ يُخَٰدِعُونَ ﴾ كلمه د "مُخَادَعَة" څخه اشتقاقه شوې ده چې د "خِدْعَة" په اشتراک باندې دلالت كوي، حال دا چې په ټګۍ (خِدْعَة) كښې د اشتراک نسبتول الله ﷻ ته صحت نه لري؟

مونږ وايو چې: په دې مقام كښې ذكره شوې كلمه په اشتراک باندې دلالت نه كوي ترڅو اعتراض وارد شي، لكه څنګه چې په "سَافَرَ زَيْدٌ" كښې په اشتراک باندې دلالت نه كوي يعنې زيد سفر كړى وه.

هو! د ټګۍ په مبالغه باندې دلالت كوونكې ده. يعنې منافقين د الله ﷻ سره ډېره سخته ټګي كوي چې خپل ځانونه مؤمنان معرفي كوي.

ح: كه څوک وايي چې: منافقانو خو خپل ځانونه نبي كريم ﷺ ته مؤمنان معرفي كول، نه الله ﷻ ته؛ نو پوښتنه دا ده چې د څه حكمت په بنياد "يُخَادِعُونَ الرَّسُولَ" نازل نه شو؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلمـ چې: دا د دې دپاره چې منافقان په غوږ ووهلى شي چې د پيغمبر ﷺ سره ټګي كول په حقيقت كښې د الله ﷻ سره ټګي ده، لكه څنګه چې د پيغمبر اطاعت د الله ﷻ اطاعت دى. الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ﴾ [النساء: ۸] يعنې: هرڅوک چې د پيغمبر ﷺ اطاعت وكړي نو هغه په حقيقت كښې د الله ﷻ اطاعت وكړ.

ط: كه څوک وايي چې: په ﴿ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴾ كښې د "يَشْعُرُونَ" كلمه د "شُعُور" ـلكه "قُتُول"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، نو "شُعُور" څه معنى؟

مونږ وايو چې: "شُعُور" د هغې پوهې څخه عبارت دى كومه چې په مشاعرو او حواسو باندې حاصلېږي[1]، كومه چې انسانانو پورې اختصاص نه لري او ځاروي هم پكښې اشتراک لري.

يا په بل عبارت: د منافقت په اضرارو باندې ځاروي او ځناور هم پوهېږي، خو منافقانو وريباندې خپل ځانونه رانده او كاڼه اچولي دي.

ي: كه څوک وايي چې: په ﴿ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ﴾ كښې د "مَرَض" كلمه د څه شي څخه عبارت ده؟

مونږ وايو چې: قلبي مرض د كفر او شک څخه عبارت دى[2]. د همدې كبله د مؤمن زړه ته د "سَلِيم" لقب وركړى شوى دى چې: ﴿ إِلَّا مَنْ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴾ [الشعراء: ۸۹] يعنې: د قيامت په ورځ مالونه او زامن چا ته ګټه نه شي رسولى مګر هغه چا ته كوم چې الله ﷻ ته په روغ زړه سره ورشي (چې د ايمان په حال مړ شي).

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۱ ص۴۱؛ روح المعاني ج۱ ص۱۴۸

(۲) تفسير الطبري ج۱ ص۹۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا. که څوک وایي چې: په ﴿ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضًا ﴾ کښې څه شي ته اشاره ده چې الله ﷻ ورباندې د منافقانو قلبي مرض اضافه کوي؟

مونږ وایو چې: دغه شی د ایتونو د نزول څخه عبارت دی چې نښې او علامات یې پکښې روزمره ښودل کېږي او کفر یېورباندې قوي کېږي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړي ده چې: ﴿ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ كَـٰفِرُونَ ﴾ [التوبة: ۱۲۵] یعنې: او هر چې هغه کسان دي د کومو په زړونو کښې چې مرض (کفر او نفاق) دی، نو دوی ته ایتونه (او سورت) برسېره د هغوی په پلیتی باندې نوره پلیتي هم وراضافه کوي (کفر او نفاق یې قوي کوي) دوی به په داسې حال مړه شي چې کافران به وي.

یب: که څوک وایي چې: په ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌۢ ﴾ کښې د ﴿ أَلِيمٌۢ ﴾ کلمه د "أَلَمْ" ـ لکه "غَضَبْ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. نو پوښتنه دا ده چې "أَلَمْ" څه معنی؟

مونږ وایو چې: که څه هم "أَلَمْ" د درد معنی ورکوي[۱]، مګر په دې مقام کښې ترې ډېر شدید درد مطلب دی، او دا څکه چې دلته "أَلِيم" د "مُؤلِم" معنی ورکوي[۲]، لکه څنګه چې "سَمِيع" د "مُسْمِع" او "نَذِير" د "مُنْذِر" معناوې ورکوي[۳].

خو مونږ ترې په دردناک عذاب او یا دردوونکي عذاب سره تعبیر کولی شو.

یج: که څوک وایي چې: په ﴿ بِمَا كَانُوا۟ يَكْذِبُونَ ﴾ کښې د ﴿ كَانُوا۟ ﴾ کلمه په (تېرې شوې زمانې) باندې دلالت کوي او ﴿ يَكْذِبُونَ ﴾ کلمه د حال یا استقبال دپاره وضعه شوې ده، نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه دواړه کلمې په دې مقام کښې سره منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: دلته د ﴿ كَانُوا۟ ﴾ کلمه په لزوم باندې دلالت کوي او بس، چې د زمان د معنی لحاظ پکښې د نظره غورزولی شوی دی[۴]، نو منافات هم موجودیت نه لري.

یعنې د منافقانو دپاره د دې کبله دردناک عذاب ټاکلی شوی دی چې دوی په دوامداره توګه دروغ وایي او دغه حالت ورسره بالکل لازم ګرځېدلی دی چې د انفکاک (بېلېدلو) قابل نه دی.

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ قَالُوٓا۟ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ۝١١ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ وَلَـٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ۝١٢ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُوا۟ كَمَآ ءَامَنَ ٱلنَّاسُ قَالُوٓا۟ أَنُؤْمِنُ كَمَآ ءَامَنَ ٱلسُّفَهَآءُ ۗ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ وَلَـٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ۝١٣ وَإِذَا لَقُوا۟ ٱلَّذِينَ

(۱) تفسیر القرطبي ج۱ ص۱۹۸
(۲) القاموس المحیط ج۱ ص۱۷۲
(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۲۲، ج۵ ص۲۰۱
(۴) مفردات الراغب ص۴۶۱؛ روح المعاني ج۱ ص۱۵۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ءَامَنُوا۟ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوْا۟ إِلَىٰ شَيَـٰطِينِهِمْ قَالُوٓا۟ إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُونَ ﴿١٤﴾
ٱللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِى طُغْيَـٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٥﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلضَّلَـٰلَةَ
بِٱلْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَـٰرَتُهُمْ وَمَا كَانُوا۟ مُهْتَدِينَ ﴿١٦﴾ ﴾

[۱۱] او کله چې دوی (منافقانو) ته وویل شي چې تاسو په ځمکه کښې فساد مه کوئ (د کفریاتو او معاصیوو څخه لاس واخلئ) دوی (په جواب کښې) وایي چې: یقیناً مونږ مصلحان یاستو (مونږ فساد کوونکي نه یاستو).

[۱۲] اګاه اوسئ چې یقیناً دوی همدوی فساد کوونکي دي مګر دوی (په خپلو فسادونو باندې) شعور نه لري (او یا یې وربانديې خپل ځانونه رانده کانه اچولي دي).

[۱۳] او کله چې ورته وویلی شي چې: تاسو داسې ایمان راوړئ لکه څنګه چې خلکو ایمان راوړی دی (او د پخوانیو ادیانو سره یې ارتباطونه پرې کړي دي)، نو دوی (په جواب کښې په تعجب سره) وایي چې: ایا مونږ د ساده ګانو خلکو غوندې ایمان راوړو (چې د راتلونکي غم ورسره نشته)؟.
اګاه اوسئ چې یقیناً منافقان چې دي همدوی ساده ګان دي مګر (په خپل ساده توب باندې) نه پوهیږي (چې خپل آخرت یې خراب کړ).

[۱۴] او کله چې (منافقان) د هغو کسانو سره ملاقي شي کومو چې (په رښتیاني توګه) ایمان راوړی دی (نو ورته) وایي چې مونږ (ستاسو غوندې) ایمان راوړی دی، او کله چې خپلو مشرانو (د نفاق لاربښودونکو) ته ورخالي شي (ورسره پیوسته او ملاقي شي، نو ورته) وایي چې یقیناً مونږ ستاسو سره یاستو (ستاسو په تګلارې روان یاستو) یقیناً مونږ (په مؤمنانو باندې) ملنډې وهو (چې ځانونه ورسره ملګري معرفي کوو).

[۱۵] الله ﷻ په دوی (منافقانو) سره استهزاء کوي او هغوی ته په خپل طغیان کښې په داسې حال مهلت ورکوي چې هغوی (پکښې) تاوېږي راتاوېږي (او د وتلو لاره ترې نه شي موندلی).

[۱۶] دغه (منافقان) هغه کسان دي چې په هدایت سره یې ضلالت اخستی دی نو په خپل تجارت کښې یې ګټه نه ده کړې او دوی لاره موندونکي نه دي (چې خپله ګټه او تاوان وسنجولی شي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د منافقانو د معرفي کولو موضوع تعقیبېږي چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! په خپل امت باندې د منافقانو څه نور خاصیتونه هم قرائت کړه هغه دا چې:
۱ـ کله چې منافقانو ته وویلی شي چې تاسو په ځمکه کښې فساد مه کوئ او د مسلمانانو جاسوسي کفارو ته مه کوئ او هم مسلمانانو ته شک شبه مه وراچوئ، دغه خبره که د هر چا د پلوه ورته وویلی شي د هغوی جواب به فقط همدا یو وي چې:
مونږ خو فساد نه کوو بلکې یقیناً مونږ مصلحان یاستو مونږ غواړو چې د فساد مخه ونیسو.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢ـ ای پیغمبره! تاسو اګاه اوسئ چې یقیناً همدوی مفسدان دي چې په فساد باندې یې خپل کړه وړه دلالت کوي. یا په بل عبارت: د منافقانو فساد دومره څرګند دی چې چندان تفکر ته اړتیا نه لري چې په غوږونو اورېدل کېږي او په سترګو لیدل کېږي، مګر دوی ورباندې خپل خانونه رانده او کاڼه ګرځولي دي ته به وایې چې دوی هیڅ حواس نه لري.

٣ـ کله چې منافقانو ته وویلی شي چې تاسو د خلکو په شان ایمان راوړئ او په اسلام کښې په هر اړخیز ډول داخل شئ، هسې نه چې د "آمَنَّا" ویلو څخه وروسته هم د خپل پخواني دین او پخوانیو دیني ملګرو سره په پټه علاقې ساتئ او جاسوسي ورته کوئ، نو هغو به په تعجب سره ووایي چې ایا مونږ د ساده ګانو غوندې ایمان راوړو چې د پرېښودلي شوي دین سره بالکل علاقه قطعه کړو؟، مونږ دغسې کار ته هیڅ اقدام نه کوو، مونږ خپل راتلونکی ژوند په نظر کښې نیسو، هغه دا چې:

څه لرې نه ده چې زمونږ پخوانی دین ترقي مونده کړي او دغه دین ـچې مونږ یې په "آمَنَّا" ویلو سره اعلانوو ـ مغلوب وګرځي.

نو که داسې وشي مونږ به خپلو خانونو ته د بېرته ورستنېدلو ځای پرېښی وي او په اسانۍ سره به بېرته ورستانه شو.

۴ـ ای پیغمبره! تاسو اګاه اوسئ چې همدغه منافقان ساده ګان دي چې خپل باطل دین ته د ترقۍ اُمید لري او د اسلام مغلوبیت ته سترګې په لار دي، حال دا چې دا حق دین دی او همدغه دین (اسلام) به الله ﷻ په ټولو ادیانو باندې غالب وګرځوي، مګر منافقان دومره سادګان دي چې په همدغه خبره باندې نه پوهېږي او د حق دین مغلوبیت ته په تمه دي.

۵ـ کله چې منافقان د مؤمنانو سره ملاقي شي نو وایي چې مونږ ستاسو غوندې ایمان راوړی دی او مونږ ستاسو غوندې مؤمنان یاستو، خو کله چې دوی د مؤمنانو څخه جدا شي او د خپلو هغو کفري مشرانو سره یو ځای شي کومو چې همدغه نفاق ته هڅولي دي نو په دغه وخت کښې وایي چې: ای زمونږ مشرانو! یقیناً مونږ ستاسو سره یاستو او همدا ستاسو په مسلک باندې روان یاستو او هیڅکله به د دغه مسلک څخه بله خوا لاړ نه شو.

یقیناً مونږ په مؤمنانو باندې استهزاء کوو او وریورې خندنۍ کوونکي یاستو چې "آمَنَّا" ورته وراوروو او په همدې باندې یې غولوو.

۶ـ ای پیغمبره! منافقان نه پوهېږي چې دا کار ورته په ضرر تمامېږي. یا په بل عبارت: الله ﷻ په دوی باندې د خپل شان سره مناسبه استهزاء کوي چې په داسې لاره باندې یې روان کړي دي کومه چې ورته په دنیا او آخرت کښې مضره ده حال دا چې دوی ته ګټوره برېښي. هغه دا چې:

الله ﷻ منافقانو ته د طغیان او سرکشۍ سره-سره مهلت ورکوي او سمدستي یې په عذاب سره نه نیسي. نو د همدې کبله دوی په خپل نفاق کښې اوړي او رااوړي او د وتلو لاره ترې نه شي موندلی.

٧ـ ای پیغمبره! د همدې کبله چې منافقان توفیق نه شي موندلی او په زړونو او مشاعرو باندې یې الله ﷻ مهر وهلی دی دغه دله هغه خلک دي کوم چې د هدایت استعداد ورکړی دی او

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



گمراهي يې ورباندې اخستې ده او دغه ډول تجارت ته يې لاس اچولى دى.

نو په دغه تجارت كښې يې هيڅ گټه ونه كړه چې سراسري ورته په تاوان او خسران باندې تمام شو. او دوى نه دي چې لاره موندونكي جوړ شي او په حقيقي ايمان باندې برياليي شي چې د نفاق څخه لاس واخلي.

## توضيحات

۱ـ شايد چې په ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ ﴾ كښې به د "قِيلَ" مجهوله صيغه د دې دپاره نازله شوې وي ترڅو په عموميت باندې دلالت وكړي چې د قيامت د ورځې پورې هرڅوک چې د خپل وخت منافقانو ته د ﴿ لَا تُفْسِدُوا ﴾ خطاب وكړي نو د هغوى جواب به همدغه وي كوم چې په ايت شريف كښې نازل شوى دى. همدې مضمون ته په[النساء: ۶۲] ايت كښې هم اشاره شوې ده.

كه څه هم دغه جواب ﴿ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴾ په ايت شريف كښې د منافقانو څخه راحكايت شوى دى مگر د ټولو كفارو مشترک جواب دى، برابره خبره ده چې منافقان وي او كه مجاهر كفار.

## د ايتونو تازه مصداق

۲ـ په دې زمانه كښې د روسانو تېرى او نظامي تجاوز د ايتونو تازه مصداق دى چې څه لنډه شرحه يې دا ده:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفيق د دې كتاب په اولنۍ سريزه كښې ليكلي دي چې روسانو په افغانستان باندې په ۱۳۵۸/۱۰/۶ ه ش نېټه نظامي يرغل وكړ او په ۱۳۶۷/۱۱/۶ ه ش نېټه د هغوى تېرى ختم شو.

ب: نو د روسانو د پلوه څه د پاسه نهه كاله افغانستان اشغال كړى شوى وه چې دغه (د اشغال موده) د ۳۳۳۷۰ ورځو او يا ۸۰۰۰۹۸۰ ساتونو سره برابره وه.

ج: روسانو د خپل اشغال په موده كښې تقريباً يو نيم مليون مسلمانان شهيدان كړه چې يوې ورځې ته يې ۴۵۰۰ شهيدان رسېږي او په يوه سات كښې يې تقريباً نولس (۱۹) كسان شهيدان كړي دي.

د: روسانو په دغې موده كښې زرونه كسان معيوبان كړه او په زرونو كونډې يې په ځاى پرېښودې او د يتيمانو تعداد خو د اندازې څخه وتلى دى.

بالآخره هغوى په ظلم سره افغانان د وطنه وشړل او ټوله دنيا يې ورباندې ډكه كړه، گومان نه كوو چې داسې دولت به شتون ولري چې افغانانو به ورته هجرت نه وي كړى.

ه: روسانو په بمباريو باندې ښارونه چپه كړه او د باغونو بنياد يې وويست بلكې د هغوى د فسادونو څخه هيڅ ځاى بچ پاتې نه شو.

و: روسانو ته به د اشغال په موده كښې هر كال د دنيا د كفري او اسلامي دولتونو دپلوه غږ راجع كېده چې خپلو فسادونو او ورانكاريو ته خاتمه وركړي او د افغانستان څخه ووځي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز مګر د هر ځل غوښتنې دپاره به د روسانو جواب همدغه وه کوم ته چې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده چې مونږ خو هیڅ فساد نه دی کړی، مونږ خو د اصلاح دپاره راغلي یاستو، ترڅو ناقراري د منځه یوسو، کله مو چې نظم برقرار کړ او سرکشان مو د منځه یوړل نو مونږ به سمدستي د افغانستان څخه ووځو

ح روسانو د هیڅجا غوښتنه قبوله نه کړه او د ډېرو مالي او ډېرو ځاني تلفاتو متحمل شوه.

ط بالاخره الله ﷻ د مجاهدینو سره نصرت وکړ او توفیق یې ورکړ چې روسان یې د افغانستان څخه وتلو ته مجبور کړه

ي د روسانو وروستنی کس عمومي قومندان "بورسي ګروف" وه چې د آمو سیند په پله باندې په داسې حال پیاده پورې ووت چې د مالي او ځاني تلفاتو د کبله یې ژړل او سترګو ته یې دسمال نیولی وه، والحمد لله ﷻ علی ذلک.

## "سَفَه" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُواْ ﴾ الآية کښې د "سُفَهَاء، سُفَهَاءُ" دواړه کلمې د "سَفَه" ـلکه "شَرَف"ـ څخه اشتقاقي شوې دي چې د خفت او سپکوالي معنی ورکوي[۱]، چې مونږ یې دلته په "ساده ګی" سره ترجمه کړو. یعنې منافقان خپل ځانونه هوښیاران بولي او مخلصو مؤمنانو ته د ساده ګانو لقب ورکوي. چې دوی د راتلونکي غم نه خوري او زمونږ سره د راتلونکي غم هم شته.

همدا مضمون په بل ایت شریف کښې هم نازل شوی دی چې ﴿ يَقُولُونَ نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ﴾ [المائدة ۵۲] یعنې منافقان وايي چې مونږ د یهودو او نصاراوو موالات ځکه نه پرېږدو چې مونږ دارېږو چې د زمانې حوادث به راورسېږي (او دوی به مو په درد دوا شي).

## یو صرفي تحلیل

۴ـ په ﴿ وَإِذَا خَلَوْاْ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمْ ﴾ کښې د "شَيَاطِين" کلمه د "شَيطَان" جمعه ده.

ځینې علماء کرام وايي چې دغه کلمه د "شَيط" ـلکه "بَيع"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د غُصې او غضب د حیثه سوزېدلو ته ویل کېږي[۲]، مګر غوره دا ده چې د "شَيطَان" کلمې د "شَطن" ـلکه "ضَرب"ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې د لرېوالي معنی ورکوي[۳] شاید چې ابلیس ته به دغه لقب د دې کبله ورکړی شوی وي چې نوموړی ملعون دی او د الله ﷻ د رحمت څخه لرې دی.

اما په محاوراتو کښې هر ضررناک او سرکشه شی د شیطان په نامه یادېږي که څه هم انسان وي یا بل ساکښ او بل غیر ساکښ وي[۴].

---

(۱) مفردات الراغب ص ۲۴
(۲) القاموس المحیط ج۲ ص۷۸۵
(۳) لسان العرب ج۱۳ ص۲۳۸
(۴) تفسیر البغوي ج۱ ص۵۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څو په دې مقام کښې د "شيطان" د کلمې څخه د منافقانو استاذان او لارښودان مطلب دی. لکه يهودان او نور.(١)

## "استهزاء" څه معنی؟

۵ـ په ﴿ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُونَ ﴾ کښې د "مستهزءون" کلمه او په ﴿ اللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ ﴾ کښې د "يستهزئ" کلمه دواړه د "استهزاء" څخه اشتقاقي شوي دي. "استهزاء" د هغه فعل يا قول څخه عبارت ده په کوم سره چې حقيقت اراده نه کړی شي او محض د لوبو او ملنډو حيثيت ولري(٢). يعنې کله چې منافقان د خپلو کفري مشرانو سره ملاقي شي نو بدون د هغوی د پوښتلو څخه ورته وايي چې ای مشرانو! مونږ په "آمنا" ويلو سره د ملنډو او مسخرو په توګه مسلمانان مخاطب ګرځوو، پام کوئ چې زمونږ په هکله په خپلو زړونو کښې شک او شبهې ته ځای ورنه کړئ.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: ايا د استهزاء د ذکرې شوې معنی نسبت الله ﷻ ته په ﴿ اللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ ﴾ جمله کښې صحت لري، حال دا چې الله ﷻ د ټولو عبثياتو او لوبو څخه پاک او منزه دی؟

مونږ وايو چې: په دغې جمله کښې د "اسْتِهْزَاء" کلمه د متشابهاتو څخه ګرځي چې علماء کرام پکښې د تفسير په لحاظ په لاندې دوه وو ګروپونو ويشلي شوي دي:

الف: خينې علماوو کرامو دلته د "اسْتِهْزَاء" کلمې ته په متعددو طريقو سره تاويل ورکړی دی(٣). د مثال په توګه دوی وايي چې دلته د "اسْتِهْزَاء" سره لازمه معنی مراده ده چې د توهين او سزا څخه عبارت ده. يعنې الله ﷻ به منافقانو ته د منافقت توهين آميزه سزا ورکړي.

ب: دلته د "اسْتِهْزَاء" څخه هغه استهزاء مراده نه ده کومه چې د بندګانو په منځکښې مروجه ده ترڅو اعتراض وارد شي. بلکې دلته هغه "اسْتِهْزَاء" مطلب ده کومه چې د الله ﷻ د عالي شان سره مناسبه ده(٤) که څه هم مونږ ورباندې علم نه لرو.

## تبصره

۷ـ زمونږ په نزد فقط په دې مقام کښې پورتني دواړه جوابونه په زړه پورې نه دي او دا ځکه چې دلته ذکره شوې جمله په متصلې جملې ﴿ وَيَمُدُّهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴾ سره تفسيره شوې او د متشابهاتو څخه وتلې ده.

او د ﴿ يَعْمَهُونَ ﴾ کلمه د "عَمَهٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د زړه د ړوندوالي او

---

(١) تفسير الطبري ج١ ص١٣٠

(٢) لسان العرب ج١ ص١٨٣ ؛ مفردات الراغب ص٥٤٠

(٣) زاد المسير ج١ ص٢٧ ؛ تفسير ابن كثير ج١ ص٥١

(۴) روح المعاني ج١ ص١٥٨ ؛ تفسير ابي السعود ج١ ص٤٧

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تحیر معنی ورکوي[۱]، خو په دې مقام کښې د ختم او مهر لګولو څخه کنایي ده.

یعنې د ذکرو شوو خاصیتونو خاوندانو منافقانو ته الله ﷻ په سرکشۍ او عصیان کښې په داسې حال مهلت ورکوي چې منافقت یې ورځ په ورځ زیاتېږي او قوي کېږي چې مهر وربانديې لګولی کېږي او د بېرته راستنېدلو امکان یې د منځه وړي.

خو د دې سره-سره په همدغه مهلت او استدراج باندې منافقان ګومان کوي چې په منافقت باندې به ونه نیولی شي او ورته به عفوه کړی شي.

په همدغه مضمون باندې په [المؤمنون:۵۵، ۵۶] ایتونو کښې صراحت نازل شوی دی، چې یو څل قرائت یې ګټور دی، او د [آل عمران:۱۷۸] ایت کښې هم ورته اشاره شوې ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۸_ که څوک وایي چې: د ﴿ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلضَّلَـٰلَةَ بِٱلْهُدَىٰ ﴾ څخه مضمون داسې راځېږي چې منافقانو د هدایت په بدل کښې ضلالت واخیست، حال دا چې هغوی خو اصلاً د هدایت درلودونکي نه وه؟

مونږ وایو چې: که څه هم هغوی د هدایت درلودونکي نه وه مګر د هدایت استعداد یې درلود خو د عقیدوي نفاق په قوت سره هغه هم محوه شو او په زړونو باندې یې مهر ولګولی شو[۲].

دا هم څه لرې نه ده چې دلته به هغو منافقانو ته اشاره وي کومو چې د ایمان راوړلو څخه وروسته عقیدوي نفاق غوره کړی دی، په کومو باندې چې په [النساء:۱۳۷] ایت کښې صراحت نازل شوی دی[۳].

﴿ مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ ٱلَّذِى ٱسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّآ أَضَآءَتْ مَا حَوْلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ
فِى ظُلُمَـٰتٍ لَّا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ
فِيهِ ظُلُمَـٰتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ أَصَـٰبِعَهُمْ فِىٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ ٱلصَّوَٰعِقِ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ ۚ وَٱللَّهُ
مُحِيطٌۢ بِٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ ٱلْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَـٰرَهُمْ ۖ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوْا۟ فِيهِ وَإِذَآ أَظْلَمَ
عَلَيْهِمْ قَامُوا۟ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَـٰرِهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾ ﴾

[۱۷] د منافقانو (عجیب) حالت د هغه چا د (عجیب) حالت غوندې دی کومو چې (په یوه بیدیا کښې) اور بل کړی وي، نو هر کله یې چې اور شاوخوا رڼا کړي، نو الله ﷻ یې رڼا محوه کړي او په تیارو کښې یې په داسې حال پرېږدي چې (هیڅ شی) نه ګوري.

(۱) تفسیر القاسمي ج۱ ص۵۱؛ القاموس المحیط ج۳ ص۳۱۶
(۲) روح المعاني ج۱ ص۱۶۱
(۳) المحرر الوجیز ج۱ ص۱۲۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۸] (او هم یې) په داسې حال (بریږدي) چې (دوی) کاڼه (او) ګونګان (او هم) ړانده وي.

(ای پیغمبره! کله چې د منافقانو حالت د دغو کسانو غوندې دی) نو دوی (د نفاق څخه) نه راګرځي (چې لاس ترې واخلي).

[۱۹] یا (د منافقانو حالت) د اسمان د طرفه د داسې باران (د ملګرو) غوندې دی چې تیارې او اسماني غرهار او بریښنا پکښې (دریواړه) موجودیت ولري.

نو دوی د تندرونو د کبله د مرګ د ډاره په خپلو غوږونو کښې خپلې ګوتې ګرځوي (ننباسي).

او الله ﷻ په کفارو (او منافقانو) باندې (په علم او قدرت سره) احاطه کړې ده (نو مرګ د همده ﷻ په اختیار کښې دی او بس).

[۲۰] بریښنا (د ډېر تېزوالي د کبله) نږدې وي چې د باران د ملګرو سترګې وتښتوي (او ړنا یې محوه کړي).

هر کله چې ورته بریښنا (لږ ځای) رڼا کړي نو قدم پکښې ږدي (او روانېږي)، او کله چې ورباندې بریښنا تیاره کړي نو (سمدستي) ودرېږي.

او که د الله ﷻ اراده وشي نو غوږونه او سترګې به یې (دواړه) د منځه یوسي (او دا ځکه چې:) یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت درلودونکی دی.

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د منافقانو عجیبه صفت په دوه وو محسوسو مثالو کښې واضحه کړې دی چې یو یې ناري مثال دی او بل یې مائي (د اوبو) مثال.

## ناري (د اور) مثال

۲ـ ناري یا د اور مثال ته په ﴿ مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ ٱلَّذِى ﴾ کښې اشاره شوې ده چې په لاندې ټکو کښې توضیح کېږي:

الف: د "مَثَلُ، مَثَلِ" دواړه کلمې دلته هره یوه د "صفت" معنی ورکوي[۱].

ب: د ﴿ ٱلَّذِى ﴾ کلمې ته د لفظ په لحاظ په ﴿ ٱسۡتَوۡقَدَ ﴾ او ﴿ حَوۡلَهُۥ ﴾ کښې د مفرد ضمائر راجع کړی شوي دي، او په ﴿ بِنُورِهِمۡ ﴾ او ﴿ وَتَرَكَهُمۡ ﴾ کښې ورته د معنی په لحاظ د جمعې ضمائرو رجوع مونډلې ده.

ج: د ﴿ ٱلَّذِى ﴾ د کلمې په دوه وو لحاظونو سره یو نظیر وړاندې په [البقرة:۸] ایت کښې د "من" کلمه ده او بل مثال یې په [الزمر:۳۳] ایت کښې د "الَّذِي" کلمه ده، چې په دوه وو لحاظونو ورته کتلی شوي دي.

---

[۱] مفردات الراغب ص۴۸۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: د ﴿صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ﴾ درېواړه کلمې د مقدرې مبتداء خبرونه دي[۱]، چې مونږ ترې په "هُمْ" سره تعبير کولی شو چې مرجع به يې ـ ان شاء الله ﷻ ـ په دريمه توضيح کښې واضحه شي.

هـ: د ﴿صُمٌّ﴾ کلمه د "أصم" جمعه ده چې د صفت مشبه صيغه ده او د "صَمَم" ـ لکه "شَرَف" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، د "صَمَم" کلمه د اورېدلو د حاسې د نشتوالي څخه عبارت ده او حق ته د غوږ نه اېښودلو معنی هم ورکوي[۲].

و: د ﴿بُكْمٌ﴾ کلمه د "أبْكَمْ" جمعه ده چې د صفت مشبه صيغه ده او د "بَكَم" ـ لکه "شَرَف" ـ څخه يې اشتقاق موندلی دی. "أبْكَمْ" هغه چا ته ويل کېږي څوک چې ګونګ تولد شوی وي او "أخْرَس" د هغه چا معنی ورکوي کوم چې ګونګ وی، برابره خبره ده چې مورزادي ګونګ وي او که وروسته ګونګ شوی وي[۳].

ز: د ﴿عُمْيٌ﴾ کلمه د "أعْمَی" جمعه ده او د صفت مشبه صيغه ده چې "عَمَی" ـ لکه "عَصَی" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "أعْمَی" هغه چا ته ويل کېږي کوم چېړوند وي، برابره خبره ده چې د ليدلو حاسه ونه لري او يا يې د زړه سترګې ړندې وي "بصيرت" ونه لري[۴].

## دوه ډوله تفسير

۳ـ ذکر شوی مثال علماوو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسير کړی دی:

الف: يو تفسير په لاندې ټکو ولاړ دی:

اول: ذکر شوی مثال په ﴿لَّا يُبْصِرُونَ﴾ باندې تمام شوی دی[۵].

دوهم: د ﴿صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ﴾ کلمات د هغه مقدر ضمير (هُمْ) دپاره خبر دی کوم چې منافقانو ته راجع دی، چې بحث پکښې روان دی.

دريم: په همدغې جمله کښې دمثال تطبيق ته اشاره ده.

نو حاصل يې داسې راځېږي چې: د منافقانو عجيب حالت د هغو کسانو عجيب حالت ته ورته دی کومو چې په بيابان کښې د ضروري شيانو څخه د بچ کېدلو په غرض اور بل کړی وي، خو کله چې همدغه اور د هغوی شاوخوا رڼا کړې سمدستي الله ﷻ د هغوی رڼا مړه کړي او ذکر شوي کسان په تورو تيارو کښې په داسې حال پرېږدي چې هيڅ شی نه ګوري او د خطراتو سره مخامخ شي.

منافقان هم د "آمَنَّا" په ويلو سره د خپلو خانونو دپاره لږ رڼا مونده کوي چې د وسلوال جهاد څخه وړباندې بچ کېږي او په غنيمتونو کښې برخه اخستلی شي.

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۱ ص۵۱
(۲) القاموس المحيط ج۲ ص۸۵۴
(۳) مفردات الراغب ص۵۶
(۴) لسان العرب ج۱۵ ص۹۵
(۵) نظم الدرر ج۱ ص۴۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو دغه رڼا به الله ﷻ ډېر ژر مړه کړي او نفاق به يې پوره څرګند کړي او ټولو خلکو ته به يې شرمنده کړي، او هم به د "آمَنَّا" د منافعو څخه محروم وګرځي.

ای پیغمبره! منافقانو ته ذکر شوی مثال هم په ګټه نه تمامېږي چې د نفاق څخه توبه تائب وګرځي. او دا ځکه چې منافقان د حق څخه کاڼه او ګونګان دي او هم يې د زړونو بصيرت د لاسه ورکړی دی، نو دوی خپلې کړنلارې ته ادامه ورکوي او د ضلالت څخه هدايت ته نه ستنېږي ځکه چې په عقلونو او حواسو باندې يې مهر لګولی شوی دی.

ب: دوهم تفسير د لاندې ټکو په بنياد راخلاصه کېږي[1]:

اول: ذکر شوی مثال په ﴿ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ ﴾ باندې تمام شوی دی.

دوهم: د ﴿ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ ﴾ سره مقدر ضمير "هُمْ" د معنی په اعتبار په ﴿ ٱلَّذِى ٱسْتَوْقَدَ نَارًا ﴾ کښې د "ٱلَّذِي" کلمې ته راجع دی.

درېم: همدغه اسميه جمله په ﴿ وَتَرَكَهُمْ ﴾ کښې د "هُمْ" څخه حال واقع شوې ده.

څلورم: په ﴿ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴾ کښې د مثال تطبيق ته اشاره شوې ده.

نو دغو ټکو ته په پام سره يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: د منافقانو عجيبه حالت د ذکرو شوو اوربلوونکو د عجيبه حالت غوندې دی چې الله ﷻ يې رڼا مړه کړي او په تورو تيارو کښې يې پرېږدي چې هيڅ شی نه ګوري حال دا چې هغوی په عين وخت کښې کاڼه او ګونګان او ړانده هم وي.

همدارنګه منافقان د "آمَنَّا" په ويلو سره د ډېر کوچني وخت دپاره خپلو خانونو ته څه رڼا ترلاسه کوي خو دغه کوچنۍ رڼا يې الله ﷻ په رسوا کولو سره د منځه وړي او په داسې حالت باندې يې پرېږدي چې څه نه ګوري او هغه ټول منافع يې د لاسه اوباسي کوم يې چې د "آمَنَّا" په ويلو سره خپل کړي وه. يا په بل عبارت: په داسې حال باندې يې پرېږدي ته به وايې چې همدوی کاڼه، ګونګان او هم ړانده دي، چې سمه لاره ترې ورکه ده او رڼا يې محوه شوې ده او هم يې د سمې لارې د موندلو ټول عقلي او حسي وسائل د لاسه وتلي دي. نو د همدې کبله په نفاق کلک دي او د ضلالت څخه هدايت ته نه ورتاوېږي او د سمې لارې توفيق نه شي موندلی.

## مائي (د اوبو) مثال

۴_ مائي يا د اوبو مثال ته په ﴿ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ کښې اشاره شوې ده چې په لاندې ډول سره د الله ﷻ په توفيق توضيح کېږي:

الف: دلته د "أوْ" توری علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسير کړی دی[2]، خو بهتره دا ده چې په دغه توري سره هغه اجمال پوره شوی دی کوم چې په ﴿ مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ ٱلَّذِى ٱسْتَوْقَدَ نَارًا ﴾

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۱ ص۵۳؛ تفسير القاسمي ج۲ ص۵۷

(۲) زاد المسير ج۱ ص۳۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[البقرة: ۱۷] ایت کښې د "هُمْ" په ضمیر کښې موجود وه، کوم چې منافقانو ته راجع وه.

یا په بل عبارت منافقان په دوه وو ډلو سره تفصیل کړی شوه چې یوې ډلې ته هلته اشاره شوې وه او بلې ډلې ته په همدغه ایت کښې اشاره کېږي په کوم کښې چې بحث روان دی[۱].

د دغه ډول اجمال او تفصیل یو نظیر د [البقرة:۱۱۱] ایت کښې راروان دی، چې هملته به إن شاء الله ﷻ ورباندې څه رڼا واچولی شي.

ب: که څوک وایي چې: د ذکرو شوو دواړو ډلو منافقانو ترمنځ څه فرق دی؟

مونږ وایو چې: هلته د هغو منافقانو مثال نازل شوی وه کوم چې په نفاق باندې کلک وه د کومو په زړونو او حواسو باندې چې مهر لګولی شوی وه، د همدې کبله ذکر شوی مثال په ﴿ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴾ سره تعقیب شو. او دلته د هغو منافقانو مثال ته اشاره شوې ده د کومو نفاق چې د مهر او ختم اندازې ته نه وي رسېدلی، کوم چې په شک او تردد کښې قرار لري[۲]. د همدې کبله دغه مثال د ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَٰرِهِمْ ﴾ په جملې سره تعقیب شوی دی.

ج: په ﴿ أَوْ كَصَيِّبٍ ﴾ کښې د "أَصْحَاب" کلمه مقدره ده چې د ﴿ يَجْعَلُونَ ﴾ مستتر ضمیر او نور ضمائر ورته راجع دي[۳].

د: د "صَيِّب" کلمه د "صَوب" ـ لکه "قول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د تېز باران معنی ورکوي[۴]، او په اصل کښې "صيوب" ده چې په ابدال او ادغام سره ترې "صَيِّب" جوړ شوی دی.

ه: په ﴿ فِيهِ ظُلُمَٰتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ ﴾ کښې د ﴿ ظُلُمَٰتٌ ﴾ کلمه د دغو درېوو تیارو څخه عبارت ده: د شپې تیاره، د ورېځې تیاره او د څاڅکو تیاره.

و: په یوه حدیث کښې د "رَعْد" کلمه د هغې پرښتې دپاره نوم ښودلې شوې ده کومه چې د باران په ورېښت باندې مقرره ده[۵]، مګر د اسمان غرهار او ګړزهار ته هم وضعه شوې ده[۶]، چې په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

ز: په ﴿ يَجْعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمْ فِىٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ ٱلصَّوَٰعِقِ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ ﴾ کښې د سختیو شدت اوقوت ته اشاره ده چې ذکر شوي کسان سختیو دومره بې حوصلې ګرځولي دي چې د تندرونو د کبله په خپلو غوږونو کښې ګوتې ننباسي ترڅو د مرګ څخه بچ شي حال دا چې دغه کار ورته څه په درد نه خوري.

ح: په ﴿ وَٱللَّهُ مُحِيطٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ جمله کښې د هغوی بې حوصله ګۍ تاکیده شوې ده، چې الله ﷻ په کافرانو (په دغو کسانو) باندې په علم او قدرت سره احاطه کړې ده او مرګ د همده ﷻ په واک

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۴
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۵۴
(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۵۳
(۴) لسان العرب ج۱ ص۵۳۴
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۴؛ مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۸۹
(۶) مفردات الراغب ص۲۰۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې قرار لري، که بالفرض هغوی بې حوصلې شوي نه وی او وارخطائي يې د اندازې څخه نه وی وتلې نو الله ﷻ ته به يې د سوال لاسونه اوچت کړي وی او په غوږونو کښې به يې ګوتې نه ننويستلی.

ط: په ﴿ يَكَادُ ٱلْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَٰرَهُمْ ﴾ کښې د برېښنا شدت ته اشاره ده چې يوازې همدغه برېښنا هم نژدې وې چې دسترګو رڼا يې والوزوي که څه هم تيارې او تندرونه ورسره لاس يو نه کړي.

ي: په ﴿ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوْاْ فِيهِ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې که څه هم ذکر شوي کسان د زښت ډېر سخت حالت سره مخامخ دي مګر په عين وخت کښې هر کله چې ورته د قدم ايښودلو ځای څرګند شي نو سمدستي پکښې پښه ږدي او روانېږي.

يا: د ﴿ وَإِذَآ أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُواْ ﴾ په جملې سره ذکر شوی مثال اختتام مومي.

۵ـ نو د دغه مثال خلاصه د ذکرو شوو توضيحاتو په ملحوظ داسې راڅېږي چې: د منافقانو د يوې ډلې عجيب حالت د هغو کسانو عجيب حالت ته ورته دی کوم چې سختو تيارو او هم د اسمان غرهار او برېښناګانو وارخطا کړي او په داسې اضطراب کښې يې اچولي وي چې د مرګ د ډاره په غوږونو کښې ګوتې ننباسي او الله ﷻ هېروي، چې په علم او قدرت سره يې ورباندې احاطه کړې ده.

که څه هم نژدې وي چې تېزه برېښنا يې د سترګو رڼا والوزوي او ړانده يې وګرځوي، مګر د دې سره-سره دوی د دغه لږ فرصت څخه هم استفاده کوي او قدم اخلي (روانېږي) خو کله چې دغه لنډمهالې رڼا محوه شي نو سمدستي ودرېږي او توقف اختياروي.

## د مثال تطبيق

۶ـ په ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَٰرِهِمْ ﴾ الآية کښې د ذکر شوي مثال تفسير او تطبيق ته اشاره ده چې حاصل يې داسې راڅېږي:

ځينې منافقان د وړاندېنيو منافقانو غوندې په نفاق کښې ډېر کلک ولاړ نه دي چې د بېرته ګرځېدلو دروازه ورباندې بنده کړی شوې وي او مهر ورباندې وهلی شوي وي.

بلکې دوی اسلام منلی شي او د "آمَنَّا" کلمه ويلی شي مګر په دغې لاره کښې جهاد ته او د جهاد مشکلاتو ګاللو ته تيار نه دي چې سختی پکښې وزغمي.

د همدې کبله کله چې دوی ته په اسلام کښې پرته د مشکلاتو څخه د ګټې کوم شی په نظر ورشي نو سمدستي وړاندې قدم اخلي او که نه نو توقف او بې ايماني خپلوي.

ای پيغمبره! که څه هم تر اوسه پورې الله ﷻ د دغې ډلې منافقانو په زړونو او حواسو باندې مهر نه دی لګولی خو که دوی خپل همدغه شکي حالت ته ادامه ورکړي او د شک او تردد څخه لاس وانخلي، نو څه لرې نه ده چې الله ﷻ ورباندې مهر ولګوي او د ايمان راوړلو استعداد ترې واخلي.

او دا ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت درلودونکی دی.

په ذکر شوي مضمون باندې په ډېرو نصوصو کښې صراحت شوی دی لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعْبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ فَإِنْ أَصَابَهُۥ خَيْرٌ ٱطْمَأَنَّ بِهِۦ

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ ﴾ [الحج: ۱۱] يعني: او د خلکو څخه ځيني هغه څوک دي کوم چې په څنډه باندې د الله ﷻ عبادت کوي چې که نوموړي ته څه خير (خوشالي) ورسيږي نو په عبادت باندې ارام نيسي (چې دا ښه دين دی) او که کومه فتنه (امتحان) ورته ورسيږي نو په خپل مخ باندې بېرته ګرځي (مرتد کېږي چې دا ښه دين نه دی).

ب. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ» [۱] يعني: جنت په سختيو سره احاطه کړی شوی دی او دوزخ په شهواتو سره احاطه کړی شوی دی (دوزخ ته داخلېدل اسان دي او جنت ته داخلېدل سخت دي).

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ فِرَٰشًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٢﴾ ﴾

[۲۱] ای خلکو! تاسو (يوازې) د خپل هغه رب ﷻ عبادت وکړئ چې تاسو يې پيدا کړي یاست او هغه کسان (يې هم پيدا کړي دي) کوم چې ستاسو څخه وړاندې تېر شوي دي. شايد چې تاسو (خپل خانونه د خپل رب ﷻ د عذابه) په وقايه کښې کړئ (د همدغه مطلب اُميد او تمه وکړئ).

[۲۲] ستاسو هغه رب ﷻ چې ځمکه يې درته د فرش غوندې هواره کړې (او د سکونت قابله يې ګرځولې ده)، او چې اسمان يې درته چت جوړ کړی دی، او چې د اسمان د پلوه يې (درته) اوبه (اوربښت) نازلې کړې دي، نو په اوربښت سره (درته د ځمکې څخه) ميوجات راوباسي ترڅو ستاسو دپاره روزي وګرځي.

نو د الله ﷻ دپاره (په عبادت او واکدارۍ کښې) شريکان (او سيالان) مه ګرځوئ حال دا چې تاسو پوهېږئ (چې هيڅ شريک نه لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

نظر هغې سمې او مستقيمې لارې ته کومه چې د حال په ژبه غوښتل شوې وه او په [الفاتحة: ۶] ايت کښې ورته اشاره شوې ده ټول خلک په دريوو ډلو سره وېشل کېږي چې متقيان، مجاهر کفار او منافق کفار دي کله چې الله ﷻ په وړاندېنيو ايتونو کښې دريواړه ډلې معرفي کړې نو په دې ايتونو کښې يې دريواړه په خپل عبادت باندې مخاطبې او مکلفې وګرځولې چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای خلکو! تاسو په اتفاق سره په هغې لاره باندې روان شئ او يا پرې خپل تګ ته ادامه ورکړئ کومه چې تاسو د حال په ژبه غوښتې وه، نو په همدې بنياد تاسو ټول په اخلاص سره يوازې د خپل رب ﷻ عبادت وکړئ. او دا ځکه چې:

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۷۸؛ جامع الترمذي ج۲ ص۸۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ ستاسو رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو يې د نشت څخه پيدا کړي ياست او هم يې ستاسو څخه وړاندېني خلک هم د نشت څخه پيدا کړي دي.

يا په بل عبارت: تاسو د خپلو ځانونو نه پخپله پيدا کوونکي ياست او نه ستاسو پخواني (پلرونه او نيکونه) ستاسو پيدا کوونکي دي، بلکې د هغوی په شمول ستاسو ټولو احتياجات يوازې ستاسو رب ﷻ پوره کوي او ژوند ته مو تمديد ورکوي.

نو د عبادت خپلولو په صورت کښې به تاسو ټول په يقيني توګه متقيان جوړ شئ او د خپل رب ﷻ د عذاب څخه به په وقايه کښې وګرځئ.

۲_ ستاسو رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې برسېره په پيدا کولو او موجودولو باندې يې تاسو ته نور بې شماره نعمتونه هم دربېرزو کړي دي، لکه:

الف: تاسو ته يې ځمکه فرش او زانګو ګرځولې ده چې د اضطراري حرکت مخه يې ورته نيولې او د استوګنې دپاره يې قابله جوړه کړې.

ب: ستاسو رب ﷻ ستاسو دپاره اسمان بې ستنو د چت په حيث درولی او ستاسو د ګټو دپاره يې پکښې لمر او سپوږمی او هم بې شماره ستورو ته قرار ورکړی دی.

ج: ستاسو رب ﷻ د همدغه اسمان د پلوه د څاڅکو په شکل اوبه نازلې کړې دي، که بالفرض باران د ناوې په شکل رابنکته کېدلی نو تاسو ته به هرومرو په ضرر تمام شوی وی.

د: ستاسو رب ﷻ په همدغو اوبو سره د ځمکې څخه نباتات رازرغونوي چې ستاسو او ستاسو د ځارويو روزي پکښې نغښتې ده.

۳_ نو ای خلکو! تاسو د خپل رب (الله ﷻ) سره په عبادت کښې سيالان مه ګرځوئ او شرکي عقيده مه خپلوئ حال دا چې تاسو په دې باندې ښه پوهېږئ چې ستاسو پيداکوونکی او ستاسو د اړتياوو او احتياجاتو پوره کوونکی فقط الله ﷻ دی. نو يوازې همدی ﷻ د عبادت لياقت او استحقاق لري او بس.

## توضيحات

۱_ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ ﴾ کښې د "اعبدوا" کلمه د "عِبَادَة" څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الفاتحة:۴] ايت لاندې ليکلي دي چې د کمال په توګه د طاعت او محبت او هم د خوف او رجا مجموعې ته عبادت ويل کېږي، په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې:

الف: تقريباً طاعت په خوف او محبت په رجا کښې شموليت لري نو څه بده نه ده چې ووايو چې: هغه قول يا فعل ته شرعاً عبادت ويل کېږي چې د کامل خوف (ډار) او د کاملې رجا (تمې او اميد) په بنياد صورت ونيسي. نو په دې مقام کښې به يې حاصل داسې راوخېژي چې: ای خلکو! تاسو يوازې د خپل رب ﷻ څخه وډار شئ او يوازې د همده ﷻ څخه تمه وکړئ چې د دغو دواړو کارونو د مجموعي لياقت او استحقاق يوازې په همده ﷻ پورې خاص دی او بس، بوتان يې لياقت نه لري.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په حقیقت کښې د «عبادة» کلمه د توحید سره مساوي ده، د همدې کبله په دې مقام کښې د ﴿ ٱعْبُدُوا۟ ﴾ جمله د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د پلوه په «وَحِّدُوا» سره تفسیره شوې ده[1]، یعنې: ای خلکو! تاسو د خپل رب ﷻ په وحدانیت عقیده خپله کړئ.

ب عبادت په لاندې دوه ډولونو سره وېشلی کېږي:

اول: تکویني عبادت دي چې اختیار او ارادې پورې توقف نه لري او ټولو مخلوقاتو ته شمولیت لري، الله ﷻ همدغه ډول ته اشاره کړې ده چې: ﴿ إِن كُلُّ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ إِلَّآ ءَاتِى ٱلرَّحْمَٰنِ عَبْدًا ﴾ [مریم ۹۳] یعنې: هیڅ کس (او هیڅ شی) نه په اسمانونو کښې شته او نه په ځمکو کښې مګر ډېر مهربان الله ﷻ ته د یوه بنده په حیث ورتلونکی دی (چې اطاعت یې کوي).

دوهم: بل تشریعي عبادت دی چې د اختیار او ارادې په بنیاد صورت نیسي، چې په ذکر شوي ایت کښې په همدغه ډول عبادت سره ټول خلک مکلف ګرځولي شوي دي.

## د «لَعَلَّ» معنی

۲ـ په ﴿ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ کښې د «لَعَلَّ» کلمه د هغه اُمید او تمې دپاره وضعه شوې ده چې شک ورسره ملګری وي[2]، مګر په دې مقام کښې د امید او تمې په ورکولو باندې دلالت کوي.

یعنې: ای خلکو! تاسو د خپل رب ﷻ عبادت وکړئ نو بیا اُمید او تمه ولرئ چې تاسو به متقیان جوړ شئ او د عذابه به خپل ځانونه په وقایه کښې وګرځوئ.

## «فِرَاش» څه معنی؟

۳ـ په ﴿ جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ فِرَٰشًا ﴾ کښې د «فِرَاش» کلمه د «فَرْش» ـ لکه «ضَرْب» ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د خورولو او غوړولو معنی ورکوي او «فِرَاش» د هغه شي نوم دی کوم چې د کېناستلو دپاره هوار کړی شوی وي[3]. یعنې: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې ځمکه هواره ګرځولې ده چې د سکونت قابله ده او اضطراري حرکت یې د منځه وړل شوی دی.

## د کائناتو د بیان طرز او ډول

۴ـ د کائناتو په بیان کښې د قرآن کریم د بیان ډول دا دی چې فقط د فوائدو په ذکر باندې یې اکتفاء کوي او بس ترڅو د توحید د دلایلو په حیث ترې کار واخستلی شي. د مثال په توګه:

الف: په دې مقام کښې الله ﷻ د ځمکې په هکله د «فِرَاش» کلمه نازله کړې ده چې په استفادې باندې دلالت کوي، خو ګرویت او عدم ګرویت ته یې هیڅ اشاره نه ده شوې.

---

(۱) الدر المنثور ج۱ ص۸۵

(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۶۰۷

(۳) القاموس المحیط ج۳ ص۴۷۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. د [الحدید: ۲۵] ایت کښې الله ﷻ فقط د اوسپنې د فوائدو په بیان باندې صراحت نازل کړی دی او د استفادې د طریقو بیان ته یې په اشاراتو باندې اکتفاء کړې ده، او داسې نور.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي: د څه حکمت په بنیاد د ﴿ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ جمله په ضمیر سره (وَأَنْزَلَ مِنْهُ مَاءً) نازله نه کړې شوه حال دا چې مرجع (السَّمَاء) یې په وړاندېنۍ متصله جمله کښې ذکره ده؟

مونږ وایو ـوالله ﷻ أعلمـ چې: په دغه ډول نزول کښې دې ته اشاره ده چې په دې جمله کښې هغه اسمان مراد نه دی کوم چې په وړاندېنۍ جمله کښې مراد دی او د ځمکې مقابل دی بلکې دلته د "السَّمَاء" څخه د سر څخه پورته خای مطلب دی چې وریځې او هوا ته هم شمولیت لري[۱].

دغه مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ﴾ [الواقعة:۶۹] یعنې: ایا تاسو د وریځې څخه اوبه نازلې کړې دي او که مونږ یې نازلوونکي یاستو؟

که بالفرض په دغې جمله کښې په ﴿ ٱلسَّمَآءِ ﴾ باندې صراحت نه وی نازل شوی او په ضمیر سره یې نزول موندلی وی نو ذکره شوې اشاره به پټه پاتې وی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وایي چې: په ﴿ فَلَا تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ أَندَادًا ﴾ کښې د "أنداد" کلمه د "نِدّ" ـلکه "ضِدّ"ـ جمعه ده[۲]، "نِدّ" د هر شي هغه مثل ته ویل کېږي چې عین په مثلیت کښې د همدغه شي سره مخالف هم وي[۳]، نو پوښتنه دا ده چې په څه ملحوظ د مشرکانو باطل معبودان د "أنداد" په کلمې سره تعبیر کړی شو؟

مونږ وایو: چې کله مشرکانو خپلو معبودانو ته په عبادت او واکدارۍ کښې د اشتراک عقیده درلوده چې د الله ﷻ سره برخوال دي حال دا چې الله ﷻ عبادت او واکداري دواړو ته په خپل اقدس ذات پورې اختصاص ورکړی دی. نو د هغوی د ذکرې شوې عقیدې غوښتنه دا وه چې بوتان د الله ﷻ سره په عبادت او واکدارۍ کښې شریکان شي او د دغو دواړو په اختصاص کښې ورسره مخالفت لري چې سیالي یې د منځه لاړه نه شي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ داسې اشاره کړې ده چې: «مَنْ جَعَلَ لِلَّهِ نِدًّا جَعَلَهُ اللهُ فِي النَّارِ»[۴] یعنې: هر څوک چې د الله ﷻ دپاره (په عبادت او واکدارۍ کښې) سیال (مثل) وګرځوي نو هغه کس به الله ﷻ په اور کښې وګرځوي (واچوي).

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۴۹
(۲) تفسیر القاسمي ج۲ ص۶۹
(۳) لسان العرب ج۳ ص ۴۲۰
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم
مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا
النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾ وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ
لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوا هَٰذَا الَّذِي
رُزِقْنَا مِن قَبْلُ ۖ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا ۖ وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٥﴾﴾

[۲۳] او که تاسو د هغه کتاب (قرآن کریم) څخه په شک کښې یاست کوم چې مونږ په خپل بنده (محمد ﷺ) باندې نازل کړی دی نو تاسو د همدې کتاب د مثل څخه یو سورت سره رانګ وکړئ او (په همدې کار کښې د خپل کومک دپاره) د الله ﷻ څخه په غیر خپل ټول کومک کوونکي (او ناصران) در وبلئ. که تاسو (په خپل شک کښې) صادقان یاست (نو دغه کار وکړئ).

[۲۴] نو که چرته تاسو دا کار ونه کړ او هیڅکله به یې ونه کړئ نو تاسو د هغه اور (دوزخ) څخه (خپل ځانونه) وساتئ د کوم د سونګ مواد چې خلک او ډبرې دي

(دا دوزخ) د کفارو (شک کوونکو) دپاره (عند الله) تیار کړی شوی دی

[۲۵] او (ای پیغمبره!) هغو کسانو ته زېرې ورکړه کومو چې ایمان راوړی دی (شک کوونکي نه دي) او نیک عملونه یې کړي دي چې یقیناً دوی ته (عند الله) داسې جنتونه (تیار کړی شوي) دي د کومو لاندې چې (خلور دوله) ویالې (نهرونه) بهیږي

هر کله چې دوی ته د جنتونو څخه د میوجاتو څخه څه روزي (خوراک) روزي کړی شي نو دوی به وایې چې دا روزي خو عین هغه روزي (میوه) ده کومه چې مونږ ته پخوا (په دنیا کښې) روزي کړی شوې وه

(او دا ځکه چې) جنتیانو ته به (ذکر شوي میوجات) په داسې حال ورکولی شي چې (د دنیاوي میوجاتو سره به په رنګونو او نومونو کښې) متشابه وي (او مزې به یې سره جدا جدا وي).

او (په دې باندې هم زېرې ورکړه چې) جنتیانو ته به جنت کښې پاکیزه میرمنې شتون لري، حال دا چې دوی به هلته همېشه وي

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د طیبه کلمې د اولنۍ برخې (لَا إِلٰهَ إِلَّا الله) اثبات ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې د همدغې کلمې دوهمې برخې (مُحَمَّدٌ رَسُولُ الله) ته اشاره کېږي نو حاصل یې داسې راځېږي

ای پیغمبره! زمونږ د پلوه ټول خلک مخاطب کړه او ورته ووایه چې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ ای خلکو! کوم حقاني کتاب چې تاسو د حال په ژبه غوښتی وه هغه همدا قرآن کریم دی چې مونږ په خپل بنده (محمد ﷺ) باندې درنازل کړی دی. نو تاسو داسې ګومان او شک مه خپلوئ چې دا به د همدغه زما بنده تصنیف وي.

۲ـ که بالفرض تاسو پکښې شک او تردد کوئ نو په لاندې طریقې سره خپل شک او تردد د منځه یوسئ:

الف: د کومو حرفونو څخه چې دا کتاب ترکیب شوی دی هغه ستاسو د توان لاندې دی چې روزمره ترې خپلو کلامونو ته ترکیب ورکوئ.

ب: په لفظي قواعدو کښې تاسو ښه مهارت لرئ او په فصاحت او بلاغت کښې هم د پوره لاس درلودونکي یاست.

ج: په دې باندې نور فصحاء او بلغاء هم استخدام کړئ او د کومکیانو په حیث یې د خپلو خانونو سره مله کړئ.

د: بیا په اتفاق سره د دې قرآن کریم د یو لنډې سورت غوندې کوم سورت جوړ کړئ چې په ټولو کیفیاتو کښې ورسره شباهت ولري.

هـ: ای خلکو! که چرته تاسو ټولو ذکر شوی کار ترسره کړ او د یوه لنډې سورت په جوړولو باندې بریالي شوئ، نو په دې صورت کښې به ستاسو شک او تردد په ځای وي او دا کتاب به حقاني کتاب نه وي.

و: او که تاسو ټولو ذکر شوی کار عملي نه کړی شو نو پوه شئ چې دا کتاب (قرآن کریم) زما د بنده تصنیف نه دی او په حقه سره ورباندې فقط مونږ ورنازل کړی دی ترڅو تاسو زما بندګۍ ته دعوت کړي.

ز: که بالفرض المحال دا کتاب زما د بنده (محمد ﷺ) تصنیف وی نو هرومرو او ضرور به تاسو ورسره اقلا د یوه سورت په جوړولو کښې خپلې سیالۍ ته صورت ورکړی وی. او دا څکه چې:

ح: د بندګانو ترمنځ تفاوت شته مګر دومره تفاوت خو نشته چې یو کس دې روزمره کلامونه جوړوي او نور ټول خلک دې د هغه د یوه کلام سره هم سیالي ونه کړی شي.

حال دا چې همدغه یو کس دې تر څلوېښت کلني عمره پورې د دغسې کلام په جوړولو باندې قدرت ونه لري او ناڅاپه دې په څلوېښت کلني عمر کښې دغسې امتیازي قدرت مونده کړي.

۲ـ ای خلکو! تاسو به هیڅکله په ذکره شوې سیالۍ باندې بریالي نه شئ که څه هم یو تربله سره کومک وکړئ او د دغې سیالۍ د حصول دپاره سره اتفاق خپل کړئ.

۳ـ ای خلکو! نو د همدغه ذکر شوي برهان په بنیاد د دې کتاب په حقانیت کښې د شک او تردد څخه لاس واخلئ او په اتفاق سره ورباندې ایمان راوړئ.

۴ـ هو! که تاسو د دغه برهان سره‌سره ایمان رانه وړئ او ورباندې کافران جوړ شئ نو د ډېر سخت عذاب سره به زمونږ دپلوه مخامخ کړی شئ، هغه دا چې:

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دا داسې عذاب او داسې دوزخ دی د کوم خاشاک او د سوند مواد چې خلک او ډبرې دي او په همدغو باندې بلېږي
ب: دغه دوزخي عذاب د کفارو دپاره تیار کړی شوی دی او همدوی ته منتظر دی چې د قیامت په ورځ به یې خپلې ګېډې ته ورکش کړي.
۵ـ ای پیغمبره! بالمقابل هغه کسان د ذکر شوي سخت عذاب څخه بچ دي کوم چې همدا کتاب په حقانیت سره قبول او ستا په نبوت باندې عقیده خپله کړي، او هم د دغې عقیدې او ایمان سره نېک اعمال ملګري کړي؛ نو دوی ته لاندې بشارتونه ورکړه:
الف: دوی لره د الله ﷻ په نزد د مرګ څخه وروسته داسې جنتونه ټاکلي شوي دي چې د ونو لاندې یې څلور ډوله لښتي او ویالې بهېږي، هغه دا چې:
اول: د سوچه او سپېڅلو اوبو لښتي.
دوهم: د شرابو ویاله (لښتي)، چې د دنیاوي شرابو غوندې جانبي عوارض به نه لري.
دریم: د شاتو ویاله، چې د مچیو د جالکي اثار او نښې به پکښې موجودیت نه لري.
څلورم: دشودو لښتي، چې دخارویو څخه به نه وي لوشلي شوي او د خیرومیرو څخه به پاک وي.
ب: دوی لره د ذکرو شوو باغونو څخه داسې میوجات ورکولی کېږي چې لاندې کیفیات به ولري.
اول: دغه میوجات به جنتیانو ته د خدمتګارانو دپلوه ورکولی کېږي او دوی به یې د راشکولو ستوماني په غاړه نه لري او هم به ورته د عزت او وقار په صورت کښې وړاندې کېږي.
دوهم: هر کله چې هغوی ته د جنتي میوجاتو څخه څه خوراک ورکړی شي نو هغوی به وایي چې دغه خوراک خو عین هغه خوراک او میوجات دي کوم به چې مونږ ته په دنیا کښې راکول کېده، د دغو میوجاتو نومونه او شکلونه خو د دنیاوي میوجاتو د نومونو او شکلونو غوندې دي. مګر کله یې چې وخوري نو د مزو او خوندونو د تفاوت په لحاظ به یې په فرق باندې پوه شي.
ج: جنتیانو ته به هلته همزولې ښځې وي چې د حورو په نامه به یادېږي او د مادي او معنوي عیبونو څخه به پاکې سوتره کړی شوې وي. د مثال په توګه هغوی به حیض او نفاس نه لري او د بولو او غانطو او د ګرېنګونو او خیرو میرو څخه به پاکې وي، ناندرۍ او غُصه به نه لري او بې اطاعتي به نه خپلوي.
د: په دې ټولو نعمتونو باندې علاوه جنتیان به هلته همېشه وي او په هیڅ وجه به د جنت څخه اخراج نه کړی شي او نه به جنت فنا ولري.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّن مِّثۡلِهِۦ ﴾ کښې د "سُورَة" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د دې کتاب په دوهمه سریزه کښې لغةً او شرعًا تشریح کړې ده نو بیا تشریح کولو ته یې اړتیا نه ګورو، هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه ډوله تفسير

۲ـ په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ مِّن مِّثْلِهِۦ ﴾ ضمير لاندې دوه لحاظونه درلودلی شي:

الف: چې دغه ضمير په ﴿ عَلَىٰ عَبْدِنَا ﴾ کښې د "عَبْد" کلمې ته راجع شي[۱].

يعني تاسو د داسې کس د پلوه يو سورت (يوه ټوټه کلام) راوړئ کوم چې زموږ د بنده (محمد ﷺ) غوندې نالوستی (أمي) وي.

ب: چې ذکر شوی ضمير په ﴿ مِّمَّا نَزَّلْنَا ﴾ کښې د "مَا" کلمې ته راجع شي[۲].

يعنې: تاسو د هغه کتاب په مثل يو سورت (يوه ټوټه کلام) راوړئ کوم چې موږ په خپل بنده (محمد ﷺ) باندې نازل کړی دی.

## تبصره

۳ـ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري د بدليت په لحاظ دواړه اراده کېدلی شي، مګر دوهم تفسير په بل ايت کښې تائيد شوی دی چې: ﴿ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّثْلِهِۦ وَٱدْعُوا۟ مَنِ ٱسْتَطَعْتُم ﴾ [يونس: ۳۸] يعني: کفار وايي چې دا کتاب يې په دروغو جوړ کړی دی، نو ته ورته (په رد کښې) ووايه چې تاسو د دې کتاب په مثل يو سورت (يوه ټوټه کلام) راوړئ او هغه څوک (د کومک دپاره) دروبلئ د کوم د بللو چې ستاسو توان وي (برابره خبره ده چې لوستونکي وي او که نه لوستونکي).

## "شَهِيد" څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَٱدْعُوا۟ شُهَدَآءَكُم ﴾ کښې د "شُهَدَاء" کلمه د "شَهِيد" جمعه ده[۳]، چې په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په کومک کوونکو او نصرت کوونکو سره تفسيره کړې ده[۴]. شايد چې شهادت ورکوونکو کسانو ته به هم دغه لقب د دې کبله ورکړی شوی وي چې دوی د مدعي سره د مدعی په اثبات کښې کومک او نصرت کوي.

## د مطالبو استحکام او تثبيت

۵ـ خلک خپلو تحريري مطالبو ته په مهر لګولو او لاسليک کولو سره استحکام ورکوي خو څرنګه چې قرآن کريم د تقرير په توګه نزول موندلی دی نو په ذکرو شوو دواړو طريقو سره ورته استحکام ورکول هيڅ متصور نه دي.

د همدې کبله قرآن کريم خپل حقانيت او استحکام ته په لاندې طريقو سره صورت ورکړی دی:

---

(۱) زاد المسير ج۱ ص۳۹
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱ ص۴۳۵
(۳) تفسير القاسمي ج۲ ص۷۲
(۴) تفسير ابن كثير ج۱ ص۵۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په شهادت سره، لکه چې الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿ لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشْهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيْكَ ۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلْمِهِۦ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَشْهَدُونَ ﴾ [النساء: ۱۶۶] يعني: کفار د قرآن کريم د حقانيت څخه انکاري دي مګر الله ﷻ د هغه شي (قرآن کريم) په حقانيت باندې شهادت ورکوي کوم يې چې تاته درنازل کړی دی، په خپل کامل علم سره يې درنازل کړی دی او پرښتې هم (ورباندې) شهادت ورکوي.

ب: په سوګند سره، لکه چې الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ ﴾ [يونس: ۵۳] يعني: ای پيغمبره! ته مشرکانو ته ووايه چې: هو! زما دې په خپل رب ﷻ سوګند وي چې يقيناً دا قرآن کريم هرومرو حق دی (او زما د رب ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی).

ج: په اعجاز سره، البته دا د هغه چا دپاره چې نه ورته شهادت د قبول وړ وي او نه په سوګند باندې قناعت خپلولو ته تيار وي.

دغه ډول استحکام ته په همدغو ايتونو کښې اشاره شوې ده په کومو کښې چې بحث روان دی.

## سوالونه جوابونه

۶_ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وايي چې: د قرآن کريم سره د اعجاز وجوه کوم کوم دي؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو د قرآن کريم د اعجاز ډېرې وجې ليکلي دي[۱]، هيله ده علاقمندان هملته مراجعه وکړي مګر مونږ په همدې اړه لاندې مطالبو ته اشاره کوو اوبس:

اول: الله ﷻ د خپل عادت په مطابق په هره زمانه کښې خپل پيغمبر ته هغه ډول معجزه ورکړې ده د کومې د مقابلې او سيالۍ څخه به چې د همغې زمانې ماهره ډله عاجزه وه. د مثال په توګه[۲]:

موسی ﷺ په خپلې معجزې (ښامار) سره جادوګران عاجز وګرځول، عيسی ﷺ د مړو په ژوندي کولو سره طبيبان عاجزان جوړ کړه او بالآخره داوُد ﷺ د خپلې خوش اوازۍ په سبب موسيقي دانان دپښو وغورزول. او دا ځکه چې د دغو پيغمبرانو عليهم السلام په زمانو کښې په ترتيب سره جادوګران، طبيبان او موسيقي دانان ماهرې ډلې وې.

دوهم: په همدې بنياد الله ﷻ آخر الزمان پيغمبر (محمد ﷺ) ته داسې معجزه ورکړه چې د قيامت تر ورځې پورې ورسره يوه ماهره ډله هم د سيالۍ توان نه لري. د مثال په توګه:

د قرآن کريم د نزول په وخت کښې فصيحان او بليغان ماهره ډله وه خو د دې سره-سره دغې ډلې د قرآن کريم سره د يوه لنډکي سورت په جوړولو کښې سيالي ونه کړی شوه.

او په دې حاضره زمانه کښې ساينس او تخنيک ډېره ترقي کړې ده او په همدغو علومو باندې پوهېدونکي خلک ماهره ډله ده خو همدغه ډله د خپل مهارت سره سره د قرآن کريم سره سيالي نه شي کولی او د مقابلې توان يې نه لري.

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۴۳۰؛ تفسير القرطبي ج۱ ص۷۲

(۲) شرح المقاصد ج۲ ص۱۷۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت. د "النمل" سورت ناطق دی چې سلیمان ﷺ د مرغانو سره خبرې کولې او په پیریانو باندې یې حکومت چلاوه. خو د دې زمانې ساینسي ماهران د دغو دواړو کارونو څخه عاجزان دي او لا عاجزان به وي.

ب: که څوک وایي چې: ایا د سلیمان ﷺ په زمانه کښې په کسبي ډول سره ذکر شوي دواړه کارونه ممکن وه؟

مونږ وایو چې: په هغې زمانه کښې دغه دواړه کارونه په کسبي ډول سره فقط په ذاتي امکان سره ممکن وه او بس. اما په وقوعي امکان سره نه په هغې زمانه کښې ممکن وه او نه نن ورځ امکان لري. که بالفرض په هغې زمانه کښې یې په کسبي توګه ذاتي امکان نه درلودی او محال کارونه وی نو د معجزې په توګه به یې هم تحقق نه وی موندلی ځکه چې د معجزاتو تحقق په محالاتو کښې موجودیت نه شي درلودلی بلکې په ممکناتو کښې تحقق مومي او بس.

هو! د سلیمان ﷺ د تخت الوتنه په هغې زمانه کښې فقط د معجزې په توګه ممکنه وه او نن ورځ په کسبي توګه هم وقوعي امکان لري.

ج: که څوک وایي چې: ایا په ذاتي امکان سره ممکنه ده چې د قرآن کریم سره په کسبي توګه د یو سورت په جوړولو کښې سیالي وکړی شي؟

مونږ وایو چې: هو! دغه کار ذاتي امکان لري خو وقوعي امکان په یوه زمانه کښې هم نه شي درلودلی، او د قیامت تر ورځې پورې ټول مخلوقات د عجز درلودونکي دي.

د: که څوک وایي چې: په یوه ایت سره خو هرڅوک کولی شي چې د قرآن کریم سره سیالي وکړي، د مثال په توګه هر څوک موسی نامی سړی مخاطب کولی شي چې: ﴿ وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَـٰمُوسَىٰ ﴾ [طه: ١٧] یعنې: ای موسی! دغه په ښي لاس کښې دې څه شی دی؟

مونږ وایو چې: د قرآن کریم سره د کیفیاتو په ملحوظ په یوه ایت کښې هم هیڅوک سیالي نه شي کولی. لاندې وضاحتونه ولولئ:

اول: ذکر شوی ایت د موسی ﷺ د مناجات یوه کړې ده، او که بالفرض الله ﷻ مونږ ته نه وی راحکایته کړې نو هیڅوک به نه وی توانېدلی چې په همدغه ملحوظ سره ورباندې تلفظ وکړي.

دوهم: په دغه ایت کښې -چې بحث پکښې روان دی- هیڅوک توان نه لري چې د ﴿ لَن تَفْعَلُواْ ﴾ په جمله باندې په قطعي توګه تلفظ وکړی شي ځکه چې غیبي علوم یوازې په الله ﷻ پورې اختصاص لري او هیڅوک په باوري علم سره نه پوهېږي چې سبا به څه کېږي.

هـ: که څوک وایي چې د نبي کریم ﷺ ډېره لویه معجزه څه شی ده؟

مونږ وایو چې: د نبي کریم ﷺ ډېره لویه معجزه همدا قرآن کریم دی چې د قیامت د ورځې پورې خپل حقانیت پخپله په اثبات رسوي او هیڅوک به یې د سیالی توان ونه شي درلودلی.

همدې مضمون ته الله ﷻ داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ يُتْلَىٰ

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَيْهِمْ ﴾ [العنکبوت ۵۱] یعني: ایا خلکو ته دا کفایت نه کوي چې یقیناً موږ په تا باندې (معجز) کتاب د رنازل کړی دی چې (د قیامت تر ورځې پورې به د استمرار په توګه) ور باندې لوستلی کېږي؟!

## هېر مو نه شي!

۷_ هېر مو نه شي چې د قرآن کریم سره د سیالۍ دپاره په څېرو مکي سورتونو کښې دعوت نازل شوی دی. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: د [یونس ۳۸] ایت کښې.

ب: د [هود ۱۳] ایت کښې.

ج: د [الإسراء ۸۸] ایت کښې.

د: د [القصص ۴۹] ایت کښې.

خو په دې مقام کښې په مدني سورت کښې ذکر شوی دعوت بو ځل بیا تازه کړی شوی دی.

## د "وَقُود" او "حِجَارَة" معناوې

۸_ په ﴿ وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ ﴾ کښې لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: د "وَقُود" کلمه _لکه "شَکُور"_ د سوند هغو موادو ته وضعه شوې ده په کومو باندې چې اور بلېږي[1] اما د "وُقُود" _لکه: "غُرُوب"_ کلمه د اور د بلولو معنی ورکوي.

ب: د "حِجَارَة" معنی واضحه ده چې د ډبرو څخه عبارت ده خو دغه ډبرې علماوو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسیرې کړې دي او څه لرې نه ده چې د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کړی شي.

اول: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ترې په دې مقام کښې د ګوګړو ډبرې مرادې کړې دي[2]، چې د یو پلوه وریورې په ډېر تلوار سره اور تماس نیسي او د بل پلوه د تورو لوخړو سبب جوړېږي.

دوهم: ځینې علماء کرام وایي چې دلته ترې د مشرکانو باطل معبودان او بوتان مطلب دي[3]، کومو ته چې الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ﴾ [الأنبیاء ۹۸] یعني اې مشرکانو! یقیناً تاسو او ستاسو هغه معبودان د دوزخ د سوند مواد (خاشاک) دي د کومو چې تاسو د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوئ.

## څو نکات

۹_ که څه هم دغه عبارت ﴿ كُلَّمَا رُزِقُوا۟ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوا۟ هَٰذَا ٱلَّذِى رُزِقْنَا مِن قَبْلُ ۖ وَأُتُوا۟ بِهِۦ مُتَشَٰبِهًا ﴾ علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیر کړی دی[4]، مګر کوم ډول تفسیر

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۴۶۵

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۶۱

(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۵۶، تفسیر القاسمي ج۲ ص۷۴

(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۴۵۲، روح المعاني ج۱ ص۲۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې مونږ ته غوره برېښي هغه په لاندې نکاتو ولاړ دي:

الف: ﴿ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ ﴾ شرطيه جمله ده، او ﴿ رِّزْقًا ﴾ د "مَرزوق" په تاويل سره د ﴿ رُزِقُواْ ﴾ دپاره مفعول دی.

ب: د ﴿ قَالُوا ﴾ جمله د خپلو مربوطاتو سره جزائيه جمله ده او د ﴿ هَٰذَا ﴾ په کلمې سره همدغه ﴿ رِّزْقًا ﴾ ته اشاره ده.

ج: د ﴿ مِن قَبْلُ ﴾ څخه دنياوي ژوند مراد دی.

د: په ﴿ وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَٰبِهًا ﴾ کښې د ذکر شوي قول سبب ته اشاره کېږي او د "بِهِ" ضمير همدغه ﴿ رِزْقًا ﴾ ته راجع دی.

نو پورتنيو نکاتو ته په پام سره به يې حاصل داسې راوخېژي چې:

هرکله چې جنتيانو ته د جنت څخه بلکې د ميوجاتو څخه څه ميوجات روزي کړی شي او ورته ورکړی شي، نو دوی به وايي چې دغه ميوجات خو عين هغه ميوجات دي کوم به چې مونږ ته وراندې په دنيا کښې راروزي کول کېده، لکه: انار، انګور او داسې نور.

د جنتيانو د ذکرې شوې وينا وجه به دا وي چې دوی ته به هلته د دنياوي ميوجاتو غوندې ميوجات ورکولی کېږي چې په رنګونو او نومونو کښې به يې هيڅ فرق نه وي خو په مزو او خوندونو کښې به يو تربله زښت ډېر توپير لري.

همدغه مضمون ته عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او نورو علماوو کرامو داسې اشاره کړې ده چې: «مُتَشابِهًا فِي الأَلْوَانِ مُخْتَلِفًا فِي الطُّعُوم»[۱] يعني: جنتي ميوجات به د دنياوي ميوجاتو سره صرف په رنګونو کښې متشابه وي او خوندونو او مزو کښې به سره يو تربله اختلاف لري.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسْتَحْيِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِى بِهِۦ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾ ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾ ﴾

[۲۶] يقينًا الله ﷻ د دې کار څخه شرم نه کوي چې په ماشي سره، نو د ماشي څخه په وړوکي شي سره مثال بيان کړي (او نه دا د شرم کار دی).

---

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۵۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو هر هغه کسان کومو چې ایمان راوړی وي نو دوی پوهېږي چې دا مثال د دوی د رب ﷻ د پلوه حق دی (د حکمت سره مطابق دی).

او هر چې هغه کسان دي کومو چې کفر غوره کړی دی نو دوی (د اعتراض په توګه) وایي چې هغه کوم شی دی چې الله ﷻ یې په دغي شي سره د مثال په حیث اراده کوي؟

الله ﷻ په دې (ډول مثال) سره ډېر خلک ګمراه کوي (چې کفر یې وربانديې تقویه کېږي) او ډېرو خلکو ته وربانديې هدایت کوي (چې ایمان یې وربانديې قوت مومي).

او الله ﷻ په دې ډول مثال سره نه ګمراه کوي مګر فاسقان.

[٢٧] فاسقان هغه کسان دي چې د الله ﷻ عهد د هغه د محکموالي څخه وروسته نقض کوي (او ماتوي)، او دوی هغه شی پرې کوي د کوم په وصل (پیوستون) سره چې الله ﷻ امر کړی وي او (هم) دوی په ځمکه کښې فساد خوروي.

دغه (فاسقان) هما رې، (په دائمي توګه) زیانکاران (او تاوانیان) دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هغه اعتراض رد نازل شوی دی کوم ته چې د ذکرو شوو ایتونو په تعقیب کفارو او په تېره بیا یهودانو صورت ورکاوه هغه دا چې: که دا کتاب (قرآن کریم) په رښتیا سره د الله ﷻ د پلوه نازل شوی وی نو په دې کښې به د کوچنیو او حقیرو شیانو د نومونو ذکر موجودیت نه درلودی، لکه: مچ، غنه او داسې نور. یا په بل عبارت: په دې تقدیر به الله ﷻ د حقیرو شیانو په نومونو باندې شرم کړی وی. ایا الله ﷻ ته شرم نه دی چې د حقیرو شیانو نومونه په خپل عالي شان کتاب کښې یادوي؟. نو د رد حاصل یې داسې راځېژي چې:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د کفارو د ذکر شوي اعتراض په رد کښې لاندې مطالب قرائت کړه:

١ـ الله ﷻ ټول مخلوقات (لوی دي او که کوچني) د حکمتونو په بنیاد باندې پیدا کړي دي او د حکمتونو په بنیاد یې په خپل کتاب کښې د نومونو ذکر هم نازلوي.

لنډه دا چې لکه څنګه چې د کوچنیو مخلوقاتو پیدا کول د شرم کار نه دی همدارنګه د مطالبو د توضیح په اساس د هغو د نومونو ذکر هم د شرم کار نه دی. نو د همدې کبله الله ﷻ د دې څخه شرم نه خپلوي چې د ماشي او یا د ماشي څخه د اوچتو مخلوقاتو نومونه واخلي.

٢ـ هو! د ذکرو شوو شیانو د نومونو د اخستلو په نسبت بنیادمان په دوه وو ډولو سره وېشلي کېږي، چې د یوې ډلې وربانديې ایمان قوي کېږي او د بلې ډلې وربانديې کفر او ګمراهي تقویه مونده کوي. نو

الف: هغه کسان کومو چې په حقیقي معناوو کښې ایمان راوړی دی پوهېږي چې د کوچنیو مخلوقاتو نومونه اخستل د دوی د رب ﷻ د پلوه په حقه نازل کړی شوي او مطالب وربانديې ډېر ښه توضیح کړی شوي دي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بالمقابل هغه کسان کومو چې کفر او ګمراهي غوره کړې ده په ډېر تعجب سره وايي چې الله ﷻ د خپل عالي شان سره-سره څه غواړي او څه اراده کوي چې د دغو کوچنيو مخلوقاتو نومونه د مثال په توګه په خپل کتاب کښې نازلوي؟ بلکې اصلا دا د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی.

۳_ ای پیغمبره! الله ﷻ د کوچنیو مخلوقاتو د نومونو په ذکر سره ډېر خلک ګمراه کوي البته کوم چې ورباندې اعتراض کوي او د خپلو کفریاتو دپاره ترې د بهانې کار اخلي.

او بالمقابل ورباندې ډېرو خلکو ته هدایت کوي البته کوم خلک چې ورباندې د حقانیت عقیده خپلوي او ایمان ورباندې تازه کوي.

۴_ ای پیغمبره! الله ﷻ د دغو نومونو په ذکر سره نه ګمراه کوي او د ګمراهۍ د زیادت سبب یې نه ګرځوي مګر هغو کسانو ته کوم چې د لاندې خاصیتونو درلودونکي دي:

الف: کوم کسان چې د عالم الذر عهد ماتوي او منافقت خپلوي البته د هغه څخه وروسته چې "آمَنَّا" وايي او د پیغمبر په منلو او قبول باندې اعتراف کوي.

ب: هغه کسان کوم چې هغه شیان پرې کوي د کومو په وصل او پیوستون باندې چې الله ﷻ امر کړی دی، او هغه شیان وصل کوي او پیوستون ورکوي د کومو په پرېکړه چې الله ﷻ ارشاد نازل کړی دی.

ج: هغه کسان کوم چې په ځمکه کښې فساد خوروي او د کفر او ګمراهۍ اور ته لمن وهي.

۵_ ای پیغمبره! د دغو ذکرو شوو خاصیتونو خاوندان همدوی په دوامداره توګه زیانکاران دي، چې همېشه به د خپلو کړو وړو په کړاوونو کښې اخته وي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسْتَحْيِۦٓ ﴾ کښې د "يَسْتَحْيِي" کلمه اصلا د "حَيَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د شرم معنی ورکوي. خو کله چې دغه کلمه الله ﷻ ته منسوبه وګرځي لکه چې دلته ورته منسوبهٔ ګرځېدلې ده نو د متشابهاتو څخه شمېرله کېږي او هغه شرم مرادېږي کوم چې د الله ﷻ د عالي شان سره مناسب وي که څه هم مونږ ورباندې علم نه لرو.

د متشابهاتو په هکله څه وضاحت د [البقرة:۱۵] ایت لاندې تېر شوی دی، مګر پوره وضاحت یې د [آل عمران:۷] ایت لاندې راروان دی، إن شاء الله ﷻ.

## فوقیت څه معنی؟

۲_ په ﴿ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ﴾ کښې د ﴿ فَمَا فَوْقَهَا ﴾ کلمات مفسرینو کرامو په لاندې دوه ډولو سره تفسیر کړی دی[1]:

الف: دلته فوقیت او اوچتوالی په جسم کښې مطلب دی لکه چې مچ او غنه هر یو د ماشي څخه

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۵۸؛ تفسير القرطبي ج۱ ص۲۴۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په جسم کښې لږ څه غټ-غټ دي، او الله ﷻ دواړه په ترتیب سره په [الحج:۷۳] او [العنکبوت:۴۱] ایتونو کښې د باطلو معبودانو د کمزورۍ د وضاحت دپاره نازل کړي دي.

ب: دلته فوقیت او اوچتوالی په حقارت او کوچنیوالي کښې مطلب دی چې د ډېر کوچني شي معنی ورکوي لکه چې "ذَرَّة" د ماشي څخه کوچنۍ ده او الله ﷻ د باطلو معبودانو د عدم ملکیت دپاره د مثال په توګه د [سبا:۲۲] ایت کښې نازله کړې ده. یعنې: الله ﷻ د دې څخه خودداري نه کوي چې په کتاب کښې د ماشي یا د ماشي څخه د غټ مخلوق او یا د ماشي څخه د ډېر کوچني شي نوم ذکر کړي او څه مطلب ورباندې واضحه کړي، او نه دا کار د دې وړ دی چې خودداري ترې وکړي.

هو! که د مطلب وضاحت ورباندې تحقق نه موندلی نو بیا به د هغو د نومونو د ذکر څخه خودداري مناسبه وی او د کفارو اعتراض به وجه درلودلې وی.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په یوه حدیث کښې د مؤمنانو نسبت کفارو ته یو په زره ښودلی شوی دی[۱]، حال دا چې په ﴿ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهۡدِي بِهِۦ كَثِيرًا ﴾ کښې د دواړو ډلو په هکله د "کَثِیراً، کَثِیراً" کلمات نازل شوي دي چې د مساوات ورمه ترې اوچتېږي؟

مونږ وایو چې: د ایت شریف مطلب دا دی چې دغه دواړه ډلې هره یوه په خپل ذات کښې زښته ډېره ده، که څه هم د تناسب په لحاظ یوه د بلې څخه زیاته ده. اما په حدیث شریف کښې د دواړو ډلو تناسب بیان او واضحه شوی دی، نو څه منافات صورت نه شي نیولی.

## "فسق" څه معنی؟

۴ـ په ﴿ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴾ کښې د "فاسقین" کلمه د "فسق" ـلکه "علم"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د وتلو معنی ورکوي. لکه چې عرب وایي: "فَسَقَتِ الرُّطَبَةُ قِشْرَهَا"[۲] یعنې: لمده کجوره د خپل شخولي څخه ووتله. خو په شریعت کښې د الله ﷻ د اطاعت څخه وتلو ته "فِسق" وایي.

نو کفار د الله ﷻ د اطاعت څخه عقیدةً وتلي دي، او مؤمنان عاصیان د همده ﷻ د اطاعت څخه یوازې په عمل کښې وتلي دي او بس.

## د "عهد الله" څخه دلته کوم عهد مطلب دی؟

۵ـ په ﴿ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ ﴾ کښې د ﴿ عَهۡدَ ٱللَّهِ ﴾ کلمه مفسرینو کرامو په متعددو ډلونو سره تفسیره کړې ده او څه لږ نه ده چې د بدلیت په لحاظ ټول تفسیرونه اراده کړی شي. هغه دا چې:

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۰
(۲) مفردات الراغب ص۳۹۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دلته هغه فطري عهد مطلب دی کوم ته چې په [الروم ٣٠] ایت کښې اشاره شوې ده، کوم چې په عقل او روغو حواسو سره تائید شوی دی په کوم باندې چې تکویني دلایل لاربنودانه کوي[١].

ب: دلته هغه عهد مراد دی کوم چې په عالم الذر کښې د ټولو بنیادمانو څخه اخستل شوی وه، په کوم باندې چې په [الأعراف ١٧٢] ایت کښې صراحت نازل شوی دی د کوم توثیق چې په اسماني کتابونو او پیغمبرانو سره صورت نیولی دی[٢].

ج: دلته د آهل الکتابو هغه عهد اراده کړی شوی دی[٣]، کوم ته چې په [آل عمران ٨١] ایت کښې اشاره شوې ده کوم چې په قرآن کریم سره توثیق شوی دی.

## هېر مو نه شي!

٦ـ هېر مو نه شي چې د ﴿ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ ﴾ کلمات ټولو الهي اوامرو ته شمولیت لري. د مثال په توګه:

الف: د پیغمبر ﷺ او د مؤمنانو سره مینه او محبت کول.

ب: د خپلوانو سره صله رحمي خپلول.

ج: په شرعي احکامو باندې د عقیدې سره صالح عمل ضمیمه کول.

د: په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام او ټولو اسماني کتابونو باندې ایمان راوړل.

هـ: د قرآن کریم د ټولو ایتونو منل او قبلول.

و: الله ﷻ ته په عبادت سره خانونه ورنژدې کول او داسې نور.

بالمقابل په ﴿ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې ټولو نواهیوو ته اشاره ده. یعنې: فاسقان هغه کسان دي چې نه په اوامرو عمل کوي او نه د مناهیو څخه اجتناب خپلوي.

﴿ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا فَأَحْيَٰكُمْ ۖ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾ ﴾

[٢٨] تاسو په الله ﷻ سره څنګه کفر غوره کوئ حال دا چې (تاسو پوهېږئ چې) تاسو بې روحه وئ نو الله ﷻ (په روح سره) ژوندي کړئ.

بیا الله ﷻ تاسو بې روحه ګرځوي (مړه کوي مو)، بیا الله ﷻ تاسو لره (د قیامت په ورځ) ژوندي کوي، بیا همده ﷻ ته (د حساب تصفیه کولو دپاره) ورتاوول کېږئ.

---

(١) تفسير القاسمي ج٢ ص٨٨

(٢) تفسير ابن كثير ج١ ص٦٦

(٣) تفسير الطبري ج١ ص١٨٣

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۹] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره يې هغه ټول شیان پیدا کړي دي کوم چې په ځمکه کښې موجودیت لري.
بیا الله ﷻ د اسمانونو (پیدا کولو) ته کلکه اراده وکړه، نو اسمانونه يې اوه برابر (او پیدا) کړه.
او الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی (چې ستاسو احتیاجات او ارتیاوې لا ورته په ازل کښې معلومې وې).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د فاسقانو څه خاصیتونو ته اشاره شوې وه. په دې ایتونو کښې د څه انفسي او د څه افاقي نعمتونو ذکر ته اشاره کېږي، ترڅو وړباندې هغوی د فسق څخه اجتناب خپل کړي او د ګمراهۍ د کندې څخه وړباندې د هدایت ربا ته خپل ځانونه راوباسي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د الله ﷻ د څه نعمتونو ذکر قرائت کړه ترڅو وړباندې هغوی خپله عقیده او خپل عمل تصحیح کړي. نو ورته ووایه چې:

۱ــ ای خلکو! تاسو په خپل حقیقي انعام کوونکي (الله ﷻ) باندې څنګه کفر غوره کوئ او ناشکري يې څپلوئ حال دا چې:

الف: تاسو د پیدایښت څخه وړاندې بې روحه (مړه) وئ چې د ګیاګانو او نطفو په اشکالو مو سره موجودیت درلود، خو الله ﷻ تاسو ته د ډېرو مراحلو په تېرولو سره انساني اشکال درکړه او په ارواګانو سره يې ژوندي کړئ.

ب: بیا چې کله الله ﷻ ستاسو د مرګ اراده وکړي نو ستاسو څخه به ارواګانې بېرته واخلي او د پخواپه څېربه مو بې روحه وګرځوي اوهم به موانساني اشکال ټول په ځمکه کښې تیت پرک جوړشي.

ج: بیا چې کله الله ﷻ ستاسو د بیا راژوندي کولو اراده وکړي نو د دوهم ځل دپاره به تاسو په ارواګانو سره ژوندي کړي.

د نو کله چې د دوهم ځل دپاره ژوندي وګرځېدئ نو بیا به د حساب کتاب دپاره خاص الله ﷻ ته ورتاو کړی شئ: ترڅو د خپلو کړو وړو د جزا یا سزا سره مخامخ شئ.

یا په بل عبارت: په دغه وخت کښې به ستاسو څخه د دنیاوي ظاهري تصرف توان اخستی شوی وي او د هیڅ تصرف توان به نه لرئ، لکه څنګه مو چې د مورګانو څخه د زېږېدلو په وخت کښې د هیڅ ظاهري تصرف توان نه درلود.

۲ــ ای خلکو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره يې ډېر مخلوقات پیدا کړي دي. د مثال په توګه:

الف: ټول شیان چې په ځمکه شتون لري هغه الله ﷻ ستاسو د استفادې دپاره پیدا کړي دي چې تاسو ترې په پوره ډول سره ګټه اوچته کړئ او د خپل رب ﷻ شکریه خپله کړئ.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. بیا دا خبره هم د ذکر وړ ده چې الله ﷻ د اسمانونو پیدا کولو ته قصد وکړ، نو ستاسو دپاره یې اوه اسمانونو برابر پیدا کړه، ترڅو تاسو ورته په دقت سره وګورئ او د عقیدې د تصحیح دپاره ترې د استدلال کار واخلئ.

بلکې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ټول اسماني کائنات یې ستاسو د ګټو دپاره پیدا کړي دي که څه هم تاسو یې خپلو ځانونو ته په ګټورتوب باندې نه پوهېږئ.

په دې باندې علاوه ترڅو دغه اسمانونه ستاسو په معیشت کښې تاسو ته ګټور تمام شي که څه هم تاسو یې پوره درک نه شئ کولی او ورباندې نه پوهېږئ.

مګر الله ﷻ په هر شي باندې په کامله وجه پوه دی او هغه فوائد ورته ټول معلوم دي او ورته معلوم وه کومو ته چې ستاسو ضرورت دی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَكُنتُمْ أَمْوَاتًا ﴾ کښې د "أَمْوَات" کلمه د "مَيت" جمعه ده او د هغو کالبوتونو څخه عبارت ده د کومو څخه چې روحونه وتلي او جدا شوي وي.

خو په دې مقام کښې ترې هغه شیان مطلب دي په کومو کښې چې روځونه (ارواګانې) نه وي پو کړی شوې او د انسان اطلاق ورباندې صحت نه لري، برابره خبره ده چې د انساني اسکلیټ درلودونکی وي او که نه.

نو په همدې بنیاد ذکره شوې کلمه لاندېنیو ټولو صورتونو ته شمولیت لري:

الف: چې بنیادمان د ګیاګانو او غذاګانو په مجموعو کښې خواره واره وي.

ب: چې د غذاګانو په خوراک سره یې د پلرونو په اصلابو کښې د نطفو په شکلونو سره موجودیت خپل کړی وي.

ج: چې نطفې د میندو رحمونو ته ورانتقال او هلته د مختلفو مراحلو سره مخامخ شي خو ارواګانې لا پکښې نه وي پو کړی شوې او د انسانانو اطلاق ورباندې صحت نه لري.

همدغه مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ هَلْ أَتَىٰ عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْـًٔا مَّذْكُورًا ﴾ [الدهر: ۱] یعني: یقیناً په بنیادمانو باندې د اوږدې زمانې څخه داسې وخت ورغلی دی چې هغوی هیڅ موجود شیان نه وه. او داسې وخت هم ورباندې ورغلی دی چې موجود شیان وه (مستقل شتون یې درلوده) خو د نطفو یا بل شي په نومونو یادېده، نه د انسانانو په نامه.

## "اسْتِواء" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ ﴾ کښې ، ﴿ ٱسْتَوَىٰ ﴾ د "استواء" څخه اشتقاقه شوې ده چې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره معنی کړی ده[۱].

---

(۱) البحر المحیط ج۱ ص۲۱۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو څرنګه چې په دې مقام کښې وروسته د "إلی" توري تعلق نيولی دی نو د کلکې ارادې معنی يې په زړه پورې برېښي[۱].

دا د يو پلوه، او د بل پلوه په ذکر شوې عبارت کښې د ﴿ٱلسَّمَآءِ﴾ کلمه اسم جنس ده چې په مفرد او جمعه دواړو باندې يې اطلاق کېږي، او دلته ترې د جمعې معنی مراده ده[۲]، د همدې کبله ورته د جمعې مونث ضمير "هُنّ" راجع شوی دی. يعنې بيا الله ﷻ اسمانونو ته کلکه اراده وکړه نو اسمانونه يې اوه برابر او خلق کړه.

## هېر مو نه شي!

۳ـ په دې مقام کښې بايد لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: ځينو مفسرينو کرامو دلته اوږد بحث کړی دی چې اسمانونه په پيدا کولو کښې مخکښې دي او که ځمکه مخکښې پيدا کړی شوې ده؟[۳].

خو مونږ به ـ ان شاء الله ﷻ ـ همدا موضوع د [حم السجدة: ۱۱] ايت لاندې مطرحه کړو.

ب: دلته ځينو مفسرينو کرامو د ټول عالم د پراخوالي په ارتباط څه رڼا اچولې ده[۴]، خو مونږ به ـ ان شاء الله ﷻ ـ په همدې هکله د [الکهف: ۱۰۹] ايت لاندې هغه څه وليکو کوم چې راته د خپل رب ﷻ د پلوه راوښودل شي.

﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى جَاعِلٌ فِى ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوٓا۟ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ
فِيهَا وَيَسْفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّىٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾
وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِى بِأَسْمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن
كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ
﴿٣٢﴾ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ أَنۢبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ ۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسْمَآئِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّىٓ أَعْلَمُ
غَيْبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٣٣﴾﴾

[۳۰] او هغه وخت (خپل امت ته ور په ياد کړه) چې کله ستا رب ﷻ پرښتو ته وويلې چې يقيناً زه په ځمکه کښې د يوه خليفه پيدا کوونکی يم (چې د ښو او بدو دواړو استعداد به ولري).

پرښتو وويلې چې: (ای ربه!) ايا ته په ځمکه کښې هغه څوک (د خليفه په حيث) ګرځوې (پيدا

---

(۱) تفسير الکشاف ج۱ ص۱۲۳

(۲) تفسير ابي السعود ج۱ ص۷۸

(۳) تفسير القرطبي ج۱ ص۲۵۵

(۴) الجواهر للطنطاوي ج۱ ص۴۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوي) کوم به چې پکښې فساد کوي او وينې به (پکښې) تويوي؟ (دا خو عجيبه کار دی).

حال دا چې مونږ تاته ستا د حمد سره (په صفاتو کښې) د پاکۍ نسبت کوو او (هم) درته (په افعالو کښې) تنزيه نسبتوو (نو په تاباندې څه اعتراض نه لرو).

الله ﷻ ووېلې چې: يقيناً زه په هغه شي باندې ښه پوهېږم په کوم باندې چې تاسو نه پوهېږئ (لږ وروسته به تاسو پوه شئ).

[۳۱] او (بيا) الله ﷻ آدم ﷺ ته ټول نومونه وښودل بيا يې د نومونو والا شيان په پرښتو باندې (په بلاکيفه توګه) وړاندې کړه.

نو (الله ﷻ ورته) ووېلې چې: د دغو شيانو په نومونو باندې ماته خبر راکړئ.

که چرته تاسو (په خپل تعجب کولو کښې) رښتيني ياست (نو دا کار وکړئ).

[۳۲] پرښتو ووېلې چې: (ای ربه!) تاته د اعتراض کولو څخه پاکي ده (مونږ ته د دغو شيانو په نومونو باندې علم نشته بلکې) مونږ ته هيڅ علم نشته مګر هغه علم کوم چې مونږ ته تا راښودلی دی (او زمونږ ورته ضرورت دی).

(ای ربه!) يقيناً ته يوازې همدا ته د کاملې پوهې (او) کامل حکمت خاوند يې (او بس).

[۳۳] (بيا) الله ﷻ ووېلې چې: ای آدمه! د دغو شيانو په نومونو باندې پرښتو ته خبر ورکړه (ترڅو هغوی پوه شي چې ستا زده دي).

نو کله چې آدم ﷺ د هغو شيانو په نومونو باندې پرښتو ته خبر ورکړ نو الله ﷻ ووېلې چې (ای پرښتو!) ايا ما تاسو ته نه وه ويلې چې يقيناً زه د اسمانونو او ځمکو په غيبو باندې ډېر ښه پوهېږم؟ (ای پرښتو!) او (په دې باندې علاوه) زه په هغو شيانو باندې هم ډېر ښه پوهېږم کوم چې تاسو يې ښکاره کوئ او په هغو شيانو باندې هم کوم چې تاسو ياست چې (په خپلو زړونو کښې) يې پټوئ.

## ارتباطونه او د مطلب خلاصه

۱_ د وړاندېنيو ايتونو مضمون دا وه چې ځمکې او اسمانونه او هغه شيان چې په دغو دواړو کښې شتون لري الله ﷻ د بنيادمانو دپاره پيدا کړي دي. په دې ايتونو کښې همدغه مضمون تائيد شوی دی چې د آدم ﷺ د خلافت قيصې ته پکښې اشاره شوې ده.

۲_ د هغو ايتونو اختتام په دې باندې صورت نيولی وه چې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی او ټول علم همده ﷻ پورې اختصاص لري.

په دې ايتونو کښې د علم د ورکړې ډول ته اشاره کېږي چې هر چا ته د ضرورت او مناسبت په اندازه ورکول کېږي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپل امت باندې د آدم ﷺ په ارتباط څه مطالب قرائت کړه او يو عظيم الشان نعمت ورپه ياد کړه هغه دا چې:

۱_ ستا رب ﷻ د آدم ﷺ پيدا کولو څخه وړاندې او د ځمکې د پيدا کولو څخه وروسته پرښتې مخاطبې کړې او ورته يې ووېلې چې ای پرښتو! زه په ځمکه کښې د يوه داسې شخص پيدا کوونکی

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یم کوم به چې په شرعي کارونو کښې زما خلافت کوي، کوم به چې ستاسو غوندې نه وي چې د بدیو استعداد به نه لري بلکې هغه به د دواړو ډولونو استعداد درلودونکی وي.

۲ـ پرښتو د اطمنان د حاصلولو دپاره او د خپلو خانونو د پوه کولو په غرض الله ﷻ ته پوښتنه راجع کړه چې ای زمونږ ربه! ایا ته په ځمکه کښې داسې شخص ګرځوې او پیدا کوې کوم به چې پکښې فسادونه کوي او وینې به پکښې تویه وي؟ دغه کار خو مونږ په تعجب کښې اچولي یاستو، حال دا چې مونږ ستا د ټولو عالي صفاتو څرګندوونکي یاستو.

ای زمونږ ربه! مونږ د حمد سره ستا تسبیح وایو چې ته په عالي صفاتو کښې هیڅ عیب نه لرې، او همدارنګه تاته په افعالو کښې هم د پاکۍ نسبت کوو چې ستا په کارونو کښې نه د ګوتې د ایښودلو ځای شته او نه وربانديې څه اعتراض واردېدلی شي.

لنډه دا چې زمونږ پوښتنه د اعتراض په بنیاد نه ده مطرحه شوې بلکې صرف د اطمنان حاصلولو او په حکمتونو باندې د پوهېدلو په غرض مو ورته صورت ورکړ.

۳ـ الله ﷻ پرښتو ته جواب ورکړ چې یقیناً زه په هغو شیانو باندې پوهېږم په کومو باندې چې تاسو نه پوهېږئ. نو ستاسو پوښتنه په ځای ده ډېر ژر به زه تاسو ته په عملي جامه کښې جواب درکړم.

۴ـ په همدې بنیاد الله ﷻ آدم ؑ ته د ټولو هغو شیانو نومونه وروښودل کومو چې هغه ؑ پورې ارتباط درلود او په پرښتو پورې یې تړاو نه درلود او د کومو نومونه چې د هغوی زده نه وه.

۵ـ بیا الله ﷻ ذکر شوي ټول شیان پرښتو ته وړاندې کړه او پوښتنه یې ورته متوجه کړه چې ای پرښتو! تاسو ماته د دغو شیانو په نومونو باندې خبر راکړئ چې کوم-کوم او څه-څه نومونه لري؟

ای پرښتو! دغه کار وکړئ که تاسو په تعجب کولو کښې رښتیني یاست او رښتیا د آدم ؑ خلیفه ګرځول تعجبي وي او بالآخره که تاسو د الله ﷻ د ټولو عالي صفاتو څرګندوونکي یاست.

۶ـ پرښتو په جواب کښې وویلې چې ای زمونږ ربه! تاته د هر نقص او هر عیب څخه پاکي ده او مونږ تاته پاکي نسبتوو، مونږ ته د دغو شیانو په نومونو باندې علم نشته، مونږ نه پوهېږو مګر په هغو شیانو باندې کوم چې مونږ ته ستا د پلوه راښودل شوي وي، حال دا چې د دغو شیانو نومونه مونږ ته ستا دپلوه نه دي راښودل شوي.

ای زمونږ ربه! یقیناً همدا ته په هر شي باندې پوه یې او د هر چا ضروریات درته معلوم دي او همدا ته د حکمت څښتن یې هر کار دې په حکمت ولاړ دی، او پوره واضحه ده چې د دغو شیانو د نومونو زده کړې ته مونږ څه اړتیا نه درلوده.

۷ـ نو د پرښتو د جواب په تعقیب الله ﷻ آدم ؑ مخاطب کړ او توصیه یې ورته وکړه چې ای آدمه! ته د دغو شیانو په نومونو باندې پرښتې خبرې کړه ترڅو دوی پوه شي چې ستا هغه شیان زده دي کوم چې د دوی نه دي زده.

۸ـ نو کله چې آدم ؑ پرښتو ته د هغو شیانو په نومونو باندې خبر ورکړ او د هر شي نوم یې بېل-بېل ورته واخست چې دا یې نوم دی او دایې خاصیتونه دي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سمدستي پرښتې پوه شوې چې ددغو شيانو د استعمال او په کار اچولو دپاره زمونږ ځخه په غير يوه بل مخلوق ته ضرورت شته چې د ښو او بدو دواړو استعداد ولري.

په همدې بنياد مونږ اعتراف کوو چې د آدم ﷺ پيدا کول او په ځمکه کښې د خليفه په حيث يې درول څه د تعجب خبره نه ده، او مونږ د الله ﷻ د ټولو عالي صفاتو مظاهر نه شو جوړېدلی.

۹_ په دغه وخت کښې الله ﷻ پرښتې مخاطبې کړې چې اى پرښتو! ايا ما تاسو ته نه وه ويلي چې يقينًا يوازې همدا زه د ځمکو او اسمانونو او د ټولو کائناتو په پټو اسرارو باندې پوهېږم او بس.

۱۰_ الله ﷻ پرښتې په دې خبره باندې هم مخاطبې وګرځولې چې اى پرښتو! زه په هغه شي باندې هم ډېر ښه پوهېږم کوم چې تاسو يې ځرګندوئ او تعجب ترې کوئ.

او په هغو شيانو باندې هم ډېر ښه پوهېږم کوم چې تاسو يې په زړونو کښې پټوئ او کوم چې ستاسو په زړونو کښې خطور کوي او ګرځي راګرځي.

## توضيحات

۱_ په ﴿ فِى ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ﴾ کښې ځينو مفسرينو کرامو د "خَلِيفَة" کلمه د "خلائِف" د کلمې دپاره مفرده ګڼلې ده[۱]، يعنې زه په ځمکه کښې د داسې يوه مخلوق پيدا کوونکی يم چې اولادونه به يې د پلرونو نائبان جوړېږي او د قيامت د ورځې پورې به دا سلسله روانه وي.

مګر مونږ ته دغه معنى په زړه پورې نه برېښي ځکه چې دا د اکرام مقام دی او ذکره شوې سلسله په اکرام دلالت نه کوي چې په ټولو حيواناتو کښې دغه سلسله جاري ده. مونږ ته غوره برېښي چې ذکره شوې کلمه (خَلِيفَة) دلته د "خُلَفَاء" دپاره مفرده وګڼله شي ترڅو د نائب معنى ورکړي.

خو نائب جوړېدل کله د مَنوب عنه د غياب يا عُجز د کبله او کله د تشريف او اکرام د کبله صورت نيسي[۲]، چې دلته الله ﷻ همدغه مخلوق (آدم ﷺ) د تشريف او اکرام دپاره د تکليفي احکامو په تنفيذ کښې نائب ګرځولی دی.

په همدغه مضمون باندې په بل ايت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِىٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ﴾ [الإسراء: ۷۰] يعنې: او يقينًا مونږ بنيادمان مکرم ګرځولي دي او په وچه او درياب کښې مو سواره کړي دي او د پاکيزه خوراکونو ځخه مو ورته روزي کړي دي.

## سوالونه او جوابونه

۲_ څه لرې نه ده چې په دې مقام کښې د چا په ذهن کښې لاندې سوالونه خطور وکړي:

الف: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې الله ﷻ د خليفه د پيدا کولو ځخه وړاندې

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۱ ص۶۹

(۲) مفردات الراغب ص۱۵۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پرښتې په خپله اراده خبرې کړې چې زه د دغه کار کوونکی یم؟.

مونږ وایو چې: د الله ﷻ اراده وه چې د راتلونکې خلیفه سره به پرښتې د جنین په جوړولو او د ارزاقو په توزیع او هم د اعمالو په لیکلو او نورو کارونو کښې همکاري خپلوي.

نو هغوی یې لا د وړاندې څخه په خپله اراده خبرې کړې ترڅو هغوی د خپل اطمنان د تحصیل دپاره پوښتنه وکړي او د الله ﷻ د پلوه اطمنان ښوونکی جواب واوري، لکه چې همداسې وشوه.

ب: که څوک وايي چې پرښتې په څه پوه شوې چې د راتلونکې خلیفه اولادونه به په ځمکه کښې فساد کوي او وینې به پکښې تویوي؟

مونږ وایو چې: که څه هم د دغه سوال د جوابولو دپاره علماوو کرامو متعدد احتمالي جوابونه کړي دي[١]، مګر کوم جواب چې مونږ ته په زړه پوری بریښي هغه دا دی چې: په دغې خبره باندې الله ﷻ پرښتې خبرې کړې وې البته په کوم وخت کښې بې چې ورته راتلونکی خلیفه معرفي کاوه.

که بالفرض د الله ﷻ د پلوه ورته ذکره شوې اطلاع نه وی ورکړی شوې نو دوی به په جرئت سره د ﴿ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ ﴾ په کلماتو باندې تلفظ نه وی کړی او نه به ورته د پوښتنې کولو باعث صورت نیولی وی.

ج: که څوک وايي چې: په ﴿ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ﴾ کښې د ﴿ نُسَبِّحُ ﴾ کلمه د "تسبیح" څخه اشتقاقه شوې ده او د "نُقَدِّسُ" کلمې د "تقدیس" څخه اشتقاق موندلی دی. نو پوښتنه دا ده چې ایا د تسبیح او تقدیس ترمنځ څه فرق شته؟

مونږ وایو چې: که څه هم دغه دواړه مصدرونه الله ﷻ ته د پاکۍ د نسبت کولو څخه عبارت دي[٢]. مګر څرنګه چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی، نو دلته لاندې فرق درلودلی شي:

تسبیح په عالي صفاتو کښې الله ﷻ ته د پاکۍ نسبت کول دي او تقدیس الله ﷻ ته په افعالو کښې د پاکۍ نسبت کول دي. یعنې حال دا چې مونږ تاته په صفاتو کښې او هم په افعالو کښې د پاکۍ نسبت کوو چې ته د هر حیثه د نقص او عیب څخه پاک او منزه یې.

د: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې پرښتو د خپلې پوښتنې سره ذکر شوي د تحمید او تسبیح او هم د تقدیس کلمات ضمیمه کړه، حال دا چې د هغوی پوښتنه د دغو کلماتو د ذکر څخه په غیر تمامه وه؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: دا د دې دپاره چې د خپلې پوښتنې دول څرګند کړي چې دا پوښتنه د اعتراض په بنیاد منځ ته نه ده راغلې، چې د عیب لګولو معنی ورکړي، بلکې دې پوښتنې صرف د اطمنان د تحصیل په غرض صورت نیولی دی.

هـ: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د پرښتو په جواب کښې صرف د

---

[١] تفسیر فتح القدیر ج١ ص٦٣، تفسیر القرطبي ج١ ص٢٧٤، تفسیر القاسمي ج٢ ص٩٦

[٢] مفردات الراغب ص٢٢٦؛ لسان العرب ج٦ ص١٦٨

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴾ جملې په ویلو باندې اکتفاء ونه کړه بلکې آدم ﷺ ته یې د ټولو شیانو د نومونو په ښودانې سره ذکر شوی اجمالي جواب تفسیر کړ؟

مونږ وایو: لکه څنګه چې ورته وړاندې اشاره وشوه د پرښتو پوښتنې د اطمنان د تحصیل په غرض صورت نیولی وه او اطمنان په هغه ډول سره په ډېره ښه توګه تحقق ومومند په کوم باندې چې په اینونو کښې صراحت نازل شوی دی، او عملي صورت حال یې ښودلی شوی دی.

د دغسې اطمنان ښونکي جواب نور نظایر هم په قرآن کریم کښې شته چې عملي شکل یې درلودلی وي. د مثال په توګه:

اول: الله ﷻ هغه چا ته په عملي شکل سره اطمنان ورکړ د کوم په زړه کښې چې دې خبرې خطور کړی وه چې الله ﷻ به دغه ورانه ویجاړه قریه څنګه ژوندۍ کړي: [البقرة:۲۵۹].

دوهم: همدارنګه د ابراهیم ﷺ سوال ته هم، چې ای ربه! ته مړي څنګه ژوندي کوې، په عملي شکل سره جواب ورکړی شو: [البقرة: ۲۶۰].

دریم: کله چې موسی ﷺ په دنیا کښې د مناجات په وخت کښې د دیدار غوښتنه وکړه نو الله ﷻ ورته په عملي شکل قناعت او اطمنان ورکړ: [الأعراف:۱۴۳].

څلورم: همدارنګه الله ﷻ د موسی ﷺ دا خبره په عملي شکل سره جوابه کړه چې په مخلوقاتو کښې به د ځمکې په مخ زما څخه بل څوک ښه عالم نه وي[1]، نو د خضر ﷺ سره یې ملاقي کړ: [الکهف: ۶۰_ ۸۲].

و: که څوک وایي چې: په څه وجه د پرښتو اطمنان حاصل شو چې د هغو شیانو نومونه یې زده نه وه کوم چې الله ﷻ آدم ﷺ ته ښودلي وه او دوی ته یې نه وه ښودلي؟

مونږ وایو چې: پرښتې پوهېدلې چې الله ﷻ هر مخلوق ته د خپل کامل او شامل علم څخه هومره پوهه ورکوي څومره ته چې ضرورت لري او څومره چې ورسره مناسبه وي.

نو کله چې آدم ﷺ د خوراکي او مادي شیانو او هم د هغو شیانو نومونه واخستل کومو چې جناياتو پورې ارتباط درلود، نو پرښتې پوه شوې چې د یوه داسې مخلوق پیدا کولو ته ضرورت شته کوم چې د ښو او بدو دواړو استعداد ولري د کومو چې مونږ درلودونکي نه یاستو، ترڅو د الله ﷻ د ټولو عالي صفاتو څرګندونه وکړی شي. لکه غفار، قهار او داسې نور.

ز: که څوک وایي چې: الله ﷻ آدم ﷺ ته د لغاتو (ژبو) څخه په کوم لغت د ضرورت وړ شیانو نومونه وروښودل؟

مونږ وایو چې: دغه تعلیم او ښودانه تکویني ښودانه وه چې خاصو لغاتو او کلماتو ته یې ضرورت نه درلود، بلکې الله ﷻ په آدم ﷺ کښې داسې استعداد کېښود چې د قیامت تر ورځې پورې ورباندې بنیادمان خبرې کولی شي او په مختلفو لغاتو او کلماتو کښې یې څرګندولی شي.

---

[1] جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ عَلَّمَهُ ٱلْبَيَانَ ﴾ [الرحمن: ۴] یعني: د بر مهربان الله ﷻ انسان ته (په لیک او لوست سره) بیان ښودلی دی (چې د ما في الضمیر څرګندونه وکړي).

دغه ډول تکویني ښودانه الله ﷻ هر ژوندي شي ته عنایت کړې ده لکه چې فرمایي: ﴿ رَبُّنَا ٱلَّذِیٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴾ [طه: ۵۰] یعني: (موسی ﷺ د فرعون په جواب کښې وویلې چې) زمونږ رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هر شي ته یې مناسب شکل ورکړی دی او بیا یې ورته ښودانه هم کړې ده (چې د خپل شکل څخه مناسبه استفاده وکړي).

ح: که څوک وایي چې: په آدم ﷺ کښې په ټولو ژبو باندې د تکلم استعداد اېښودلی شوی وه نو پوښتنه دا ده چې پرښتو ته یې په کومې ژبې سره د ضرورت وړ شیانو نومونه واورول؟

مونږ وایو چې: دغه خاصه ژبه یوازې الله ﷻ ته معلومه ده او بس، په دې باندې علاوه د دغې ژبې په تعین کښې څه خاصه ګټه هم نشته، که نه نو الله ﷻ به ورباندې صراحت نازل کړی وی.

دغه سوال جواب په هغه عهد کښې هم صورت نیولی شي کوم چې الله ﷻ په عالم الذر کښې د ارواګانو څخه اخستی وه کوم ته چې په [الأعراف: ۱۷۲] ایت کښې اشاره شوې ده.

ط: که څوک وایي چې: په ﴿ ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ ﴾ کښې د "هُمْ" ضمیر مسمیاتو ته راجع دی، یعنې بیا الله ﷻ مسمیات په پرښتو باندې وروړاندې کړه چې د دغو شیانو نومونه او خاصیتونه ووایاست. حال دا چې ذکر شوی ضمیر په عاقلانو پورې اختصاص لري او په مسمیاتو کښې خو غیر عاقلان هم شامل دي. لکه آس، خر او نور؟

مونږ وایو چې: دلته د تغلیب په توګه ذکر شوی ضمیر غیر عاقلانو ته هم شمولیت لري. په همدې ارتباط د [یوسف: ۴] ایت لاندې څه نور وضاحت هم ـإن شاء الله ﷻـ راروان دی.

تغلیب دې ته وایي چې د مختلفو شیانو د مجموعې څخه د یوه شي په نوم تعبیر وکړی شي مثلاً د "شمس" او "قمر" څخه د "شمسین" په لفظ سره تعبیر صورت ونیسي.

ي: که څوک وایي چې: په مسمیاتو کښې خو ځینې شیان معنوي شیان دي چې د وړاندې کولو قابل نه دي. لکه: علم، حلم او نور؟

مونږ وایو چې: د الله ﷻ وړاندې کول د بندګانو د وړاندې کولو غوندې نه دي ترڅو اعتراض وارد شي بلکې دغه وړاندې کول د متشابهاتو څخه دي نو په کار دي چې څرنګوالی یې الله ﷻ ته وسپارو او بس.

دغه ډول متشابهات په قرآن کریم او حدیثو کښې زښت ډېر دي. لاندې مثالونه یې د ښه وضاحت دپاره ولولئ:

اول الله ﷻ لیکونکې پرښتې د بنیادم په عقیدوي نېکیو او عقیدوي بدیو باندې په بلا کیف توګه پوه کوي ترڅو یې د کتابت لاندې واقع کړي. همدې مضمون ته د [الانفطار: ۱۲] ایت کښې اشاره شوې ده.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم په یوه اوږده حدیث کښې دا مضمون هم شامل دی چې[1] یو خل نبي کریم ﷺ د استسقاء په لمانځه باندې ولاړ وه چې په عین حال کښې ورته الله ﷻ په دوزخ کښې ډېرې ښځې ورولېدې کړې او هم یې په همدغه حال کښې ورته جنت په سترګو وروليد کړ او نږدې وه چې د میوجاتو کوم وږی ترې راوشکوي.

یا که څوک وایي چې: په ﴿ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴾ کښې د "مَا، مَا" دواړه کلمې د کومو شیانو څخه کنائي دي؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو دغه دواړه کلمې په دې مقام کښې په متعددو معناوو سره تفسیرې کړې دي. د مثال په توګه[2]: اولنی "ما" د ﴿ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ ٱلدِّمَآءَ ﴾ د جملې څخه کنائي ده، او دوهمه "ما" د هغې جملې څخه عبارت ده کومه چې پرښتو په خپلو زړونو کښې ساتلې وه چې هیڅکله به الله ﷻ داسې مخلوق پیدا نه کړي چې هغه د همده ﷻ په نزد زمونږ څخه د زیات کرامت والا وي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ذکرې شوې دواړه کلمې په عموم سره پرېښودلی شي ترڅو د پرښتو ټولو اظهاراتو او مخفیاتو ته شاملې شي، که څه هم د الله ﷻ څخه په غیر ورباندې نور څوک علم نه لري.

﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَـٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِـَٔادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾ ﴾

[۳۴] او هغه وخت یاد کړه چې کله مونږ پرښتو ته وویلې چې: آدم ﷺ ته سجده وکړئ نو پرښتو (ورته) سجده وکړه مګر ابلیس (سجده ونه کړه).

(د سجدې کولو څخه) یې خوځداري وکړه او تکبر یې (ترې) خپل کړ او د کفر غوره کوونکو د ډلې څخه وګرځېد.

## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱_ کله چې په وړاندېنیو ایتونو کښې ذکره شوې صحنه تېره شوه او د پرښتو اطمنان حاصل شو نو بیا الله ﷻ هغه صورت حال ته تحقق ورکړ کوم ته چې په دغه ایت کښې اشاره شوې ده.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د ځینو علماوو کرامو په نزد ذکر شوی صورت حال د آدم ﷺ د پیدا ښت څخه وروسته متصل متحقق شوی دی او بیا په تعقیب باندې یې د ژبو تعلیم منځ ته

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۴۴؛ صحیح مسلم ج۱ ص۲۹۸
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۵۲۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راغلی دی[۱] او دا ځکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې ﴿ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴾ [ص ۷۲] یعني: ای پرښتو! نو کله چې ما د ځمکې خلیفه برابر کړ او د خپلو خزانو څخه مې پکښې روح پو کړ نو تاسو ورته په سجده پرېوزئ[۲].

مونږ وایو چې: په ﴿ فَقَعُوا ﴾ کښې د "ف" توری په تعقیب دلالت کوي خو په اتصال باندې دلالت نه کوي ترڅو اعتراض وارد شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې ایت شریف ولولئ:

الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ ثُمَّ خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً ﴾ [المؤمنون ۱۴]

یعني: بیا مونږ (په رحم کښې) نطفه پرنډ وینه وګرځوله نو پرنډ وینه مو بې هډوکو غوښه جوړه کړه.

پوره واضحه ده چې د پرنډ وینې څخه بې هډوکې غوښه په رحم کښې سمدستي نه جوړېږي ترڅو وربانديې اقلاً څلوېښت ورځې تېرې نه شي.

په همدې بنیاد که د آدم ﷺ د پیدایښت او د ده د مسجود جوړېدلو ترمنځ د لغاتو تعلیم صورت نیولی وي، نو څه اعتراض وربانديې نه شي واردېدلی.

## سجده کوونکي پرښتې

۳ـ په دې کښې علماء کرام په دوه وو ډلو وېشلي شوي دي چې د ﴿ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ﴾ په کلمې سره ټولې پرښتې مرادې دي او که څنګه؟ هغه دا چې:

الف: ځینې علماء کرام وايي چې دلته یوازې هغه پرښتې مخاطبې ګرځولې شوي دي د کومو چې د ځمکې سره تعلق وه. لکه باد، باران او داسې نور[۲].

دوی وايي چې دلته خبره د ځمکې په خلافت کښې ده او بس.

ب: اکثریت علماء کرام وايي چې دلته ټولې پرښتې مطلب دي چې د تخصیص دپاره منصوصې دلیل موجودیت نه لري[۳].

مونږ ته هم دغه د اکثریت نظر بهتر برېښي چې په ایت کښې ذکره شوې کلمه په تاکیداتو سره نازله شوې ده چې: ﴿ فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴾ [الحجر: ۳] یعني: نو ټولو پرښتو (آدم ﷺ ته) سجده وکړه، ټولو (یوه هم بې سجدې پاتې نشوه).

## د سجدې ډولونه

۴ـ په دې کښې ټول علماء کرام متفق دي چې په ﴿ ٱسْجُدُوا ﴾ کښې د عبادت سجده مطلب نه ده او دا ځکه چې عبادت الله ﷻ پورې اختصاص لري، نه بل چا ته جوازې لري او نه وربانديې بل چا، ته الله ﷻ امر کوي.

• خو د ذکر شوي اتفاق څخه په غیر پکښې په لاندې ډول اختلاف شته.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۷۲
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۵۲
(۳) تفسیر القاسمي ج۲ ص۱۰۲؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۸۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ځینې وایي چې دلته د سجدې څخه محض انحناء (کوږوالی) مطلب دی[۱]، چې په اوسنی زمانه کښې ورته "وړاند ګورد" وایي.

ب: ځینې وایي چې دلته په ځمکه باندې د اوچولي ایښودل مطلب دي خو په دې ډول سره چې آدم ﷺ محض د قبلې حیثیت درلود او بس[۲].

ج: ځینې نور وایي چې دلته د سجدې څخه په ځمکه باندې د اوچولي ایښودل مراد دي خو په دې لحاظ نه چې آدم ﷺ محض قبله وګرځي بلکې په دې لحاظ چې د آدم ﷺ تعظیم پکښې په نظر کښې نیولی شوی وي[۳].

## تبصره

۵_ مونږ ته همدغه درېم نظر په زړه پوری برېښي. او دا ځکه چې:

الف: د سجدې څخه محض انحناء اراده کول غیر متبادره معنی ده، نو په کار دي چې د مجبوریت څخه په غیر اراده نه کړی شي.

ب: په دغې سجده کښې خو اکرام او تعظیم مرموز وه د همدې کبله وریاندې ابلیس خپه شو او الله ﷻ ته یې د اعتراض په توګه وویلې چې: ﴿ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ ﴾ [الإسراء: ۶۲] یعني: ای ربه! ماته خبر راکړه چې ایا دغه هغه کس دی چې تا په ما باندې مکرم (معظم) وګرځاوه حال دا چې دا دې د خاورو څخه پیدا کړی دی او زه دې د اور څخه پیدا کړی یم).

او پوره واضحه ده چې د آدم ﷺ په قبله جوړېدلو کښې چندان تعظیم مرموز نه دی د همدې کبله نبي کریم ﷺ په دواړو قبلو باندې مکلف وه چې سجده ورته وکړي حال دا چې په دواړو قبلو (کعبه او بیت المقدس) باندې بهتر او غوره وه.

که بالفرض ذکرې شوې سجدې محض د آدم ﷺ د قبله ګرځولو په توګه صورت نیولی وی نو احتمال وه چې ابلیس دېر نه وی خپه شوی او د سجدې کولو څخه یې منعه نه وی اختیار کړې.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وایي چې: د تعظیم د سجدې او د عبادت د سجدې څه فرق دی؟

مونږ وایو چې: عبادتي سجده هغه ده چې د خوف او رجاء په بنیاد یې صورت نیولی وي. او پوره واضحه ده چې د خوف او رجاء مجموعه د الله ﷻ څخه په غیر بل چا ته جواز نه لري.

د همدې سجدې په ارتباط یا د عبادت په هکله د الله ﷻ په توفیق د [الفاتحة: ۴] او [البقرة: ۲۱] ایتونو لاندې څه وضاحت تېر شوی دی، نو هیله ده هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

بالمقابل د تعظیم سجده هغه ده چې ذکر شوی بنیاد ونه لري بلکې د "مَسْجُودٌ لَهُ" تعظیم پکښې

---

(۱) زاد المسیر ج۱ ص۵۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۱ ص۲۹۳
(۳) تفسیر القاسمي ج۲ ص۱۰۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په نظر کښې نیولی شوی وي او بس.

باتې شوه دا خبره چې آیا زموږ په شریعت کښې به سجده کولو سره د یوه شخص (غیر الله) تعظیم جواز لري او که نه؟. نو دا به ان شاء الله د [یوسف ۱۰۰] ایت لاندې په هغې اندازه وڅېړو څومره چې الله ﷻ توفیق راکړ.

## ایا ابلیس د پرښتو څخه وه؟

۷ـ موږ وايو چې ځيني علماء کرام وايي چې ابليس عليه اللعنة د پرښتو د جملې څخه وه[۱] که نه نو په ﴿ إِلَّا إِبْلِيسَ ﴾ کښې به استثناء منقطعه وګرځي او ابليس به په سجده کولو باندې مامور هم نه شي نو په دې تقدير به بې عصيان څه معنى ولري؟ حال دا چې ماموريت يې ورباندې منصوصي دی چې ﴿ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ﴾ [الأعراف ۱۲] يعنې الله ﷻ وفرمايل چې اې ابليسه په تا باندې څه باعث وه چې تا (آدم عليه السلام ته د تعظيم) سجده په هغه وخت کښې ونه کړه کله چې ما درته پرې امر وکړ.

مګر موږ ته بهتره برېښي چې ابليس عليه اللعنة بالکل د پرښتو د جملې څخه نه وه[۲] دا ځکه چې

الف: الله ﷻ د پرښتو په هکله فرمايي چې ﴿ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ ﴾ [التحريم ۶] يعنې پرښتې د الله ﷻ څخه په هغه حکم کښې عصيان نه کوي په کوم سره چې ورته امر وکړي (حال دا چې ابليس د عصيان ډېره اېښې ده).

ب: الله ﷻ د پرښتو څخه حکايت کوي چې ﴿ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ ﴾ [سبأ ۴۱] يعنې د قيامت په ورځ به د الله ﷻ په حضور کښې پرښتې عرض وکړي چې اې ربه! مشرکانو زموږ عبادت نه دی کړی بلکې د پېريانو (ابليسانو) عبادت يې کړی دی (او هغوی خو زموږ د جنسه نه دي).

ج: الله ﷻ په [الکهف ۵۰] ايت کښې موږ ته خبر راکړی چې ابليس اولاده لري، او پوره څرګنده ده چې اولاده د أنوثيت څخه په غير بالکل صورت نه شي نيولی حال دا چې په [الزخرف ۱۹] ايت کښې الله ﷻ د مشرکانو دا کفري عقيده رد کړې ده چې پرښتو ته په أنوثيت (ښځه توب) معتقد دي.

د: الله ﷻ په [ص ۷۶] ايت کښې د ابليس عليه اللعنة د خولې څخه حکايت نازل کړی دی چې زه دې د اور څخه پيدا کړی يم او همدارنګه الله ﷻ په [الحجر ۲۷] ايت کښې د پېريانو اصليت هم د تېز اور څخه ښودلی دی.

نو کله چې د ابليس اصليت د پېريانو سره متحد شو نو معلومه شوه چې جنسيت به يې هم ورسره متحد وي.

هـ: په دې ټولو باندې علاوه الله ﷻ په صراحت سره فرمايلي دي چې ﴿ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ

---

۱. تفسير المنير ج۱ ص۶۳، روح المعاني ج۱ ص۲۲۹
۲. تفسير ابن کثير ج۱ ص۷۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَمْرِ رَبِّهِۦٓ ﴾ [الکهف: ۵۰] یعني ابلیس علیه اللعنة د پېریانو د جملې څخه وه نو د حقیقي رب ﷻ د امر څخه یې عصیان وکړ او فسق یې غوره کړ.

## ابلیس په کوم امر سره په سجده کولو مامور شو؟

۸ـ پاتې شوه دا خبره چې کله ابلیس علیه اللعنة د پرښتو د جملې څخه نه شو، نو په کوم امر سره په سجده کولو مامور وګرځېد؟

مونږ وایو چې داسې امر په قرآن کریم کښې نه دی نازل شوی چې یوازې ابلیس علیه اللعنة ته پکښې د سجده کولو توصیه شوې وي، مګر په همدغه ایت کښې چې پکښې بحث روان دی نوموړی هم په سجده کولو باندې په دوه وو وجو سره مامور ګرځېدلی شي هغه دا چې

الف کوم حاضرین چې په ﴿ ٱسْجُدُوا ﴾ سره د الله ﷻ د پلوه مخاطب ګرځولي شوي وه په هغوی کښې ابلیس هم شامل او حاضر وه

خو د همدغې صحنې په حکایت کښې الله ﷻ د ابلیس په ذکر باندې د اقلیت د کبله او یا د تغلیب د کبله صراحت ونه کړ چې داسې یې نازل کړې وی چې "وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ وَإِبْلِيسَ اسْجُدُوا لِآدَمَ" یعني او هغه وخت یاد کړه چې کله مونږ د پرښتو او ابلیس مجموعې ته وویلې چې تاسو ټول آدم ﷺ ته د تعظیم سجده وکړئ.

په دې تقدیر استثناء متصله ګرځي خو په کلام کښې د "إِبْلِيسَ" کلمه مقدره او ملحوظ ګڼله کېږي.

همدغه جواب ته په [الأعراف ۱۳، ۱۸] او هم په [الحجر ۳۴] ایتونو کښې اشارې موندلې کېږي.

ب که د ﴿ إِلَّآ إِبْلِيسَ ﴾ استثناء منفصله وګڼله شي نو د کلام تقدیر به داسې راوخېژي چې "إِلَّا إِبْلِيسَ لَمْ يَسْجُدْ إِذْ قُلْنَا لَهُ اسْجُدْ لِآدَمَ" یعني مګر ابلیس سجده ونه کړه کله چې مونږ ورته وویلې چې آدم ﷺ ته د تعظیم سجده وکړه.

په ذکرو شوو دواړو جوابونو کښې په مقدرو کلماتو باندې لاندې دوه دلیلونه دلالت کوي:

اول د ﴿ أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ د جملو تعقیب یعني ابلیس د خپل ماموریت د اجراء څخه منعه وکړه او د تکبر مرتکب شو (چې زه د آدم ﷺ څخه غوره یم) او خپل ځان یې ورباندې د کفارو د ډلې څخه شمېر کړ.

که بالفرض نوموړی د ایت په اولنۍ برخه کښې په سجده کولو باندې مامور شوی نه وی نو د ایت په وروستنۍ برخه کښې به ورته ذکر شوی توبیخ نه وی متوجه شوی.

دوهم د پرښتو د ټولګي څخه اخراج او دائمي لعنت د ابلیس په همدغې استکبارې خط السیر باندې مرتب شو چې په بل ځای کښې ورباندې صراحت نازل شوی دی چې ﴿ قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ۝ وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴾ [ص ۷۷، ۷۸] یعني د سجدې نه کولو په نتیجه کښې الله ﷻ ابلیس مخاطب وګرځاوه او ورته یې وویلې چې نو د پرښتو د ډلې څخه ووځه چې یقیناً

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته رټلی شوی يې او په تاباندې د جزا د ورځې پورې زما لعنت دی (چې روزمره به درباندې اخستل کېږي او د رحمت څخه به لرې کېږې).

## په ياد ولرئ!

۹ـ په دې مقام کښې لاندې ټکي ياد ساتل په کار دي:

الف: ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې د ابليس عليه اللعنة اصلي نوم عزازيل يا حارث وه[۱]، مګر مونږ ته غوره برېښي چې دغه نوم (ابليس) به يې اصلي نوم وي چې صراحت ورباندې نازل شوی دی.

ب: دلته ځينو علماء کرامو[۲] ډېر اوږد بحث ليکلی دی چې عندالله د پيغمبرانو عليهم السلام مجموعه غوره ده او که د پرښتو عليهم السلام مجموعه؟. نو که څوک د اوږده بحث لوستل غواړي هغه دې مراجعه وکړي مونږ فقط په همدومره خبره باندې اکتفاء کوو په کومه مجموعه کښې چې رحمة للعالمين شامل وي نو په هغې مجموعه باندې به بله مجموعه بهتري ونه شي درلودلی.

﴿ وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾ فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيْطَٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ ۖ وَقُلْنَا ٱهْبِطُوا۟ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٣٦﴾ فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾ قُلْنَا ٱهْبِطُوا۟ مِنْهَا جَمِيعًا ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَاىَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٩﴾ ﴾

[۳۵] او (هغه وخت ياد کړه چې) مونږ وويلې چې: ای آدمه ته همدا ته په جنت کښې اوسېږه او ستا مېرمن دې هم (په جنت کښې اوسېږي)، او تاسو دواړه د جنت (د ميوجاتو) څخه پراخه (پريمانه) خورئ هر چرته مو چې خوښه وي.

او (فقط) دغې ونې ته دواړه مه ورنژدې کېږئ (چې څه ترې وخورئ) نو تاسو دواړه به (په خپلو ځانونو باندې) د ظلم کوونکو څخه وګرځئ.

[۳۶] نو دوی دواړو لره (د وسوسې په اچولو سره) د جنت څخه شيطان وښويول (چې دواړه ذکر شوې ونې ته ورنژدې شوه او خوراک يې ترې وکړ)، نو شيطان دوی دواړه د هغو نعمتونو څخه وويستل په کومو کښې چې دواړه مېشت وه.

---

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۶۳، تفسير الطبري ج۱ ص۲۲۴

(۲) التفسير الکبير ج۲ ص۲۱۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او مونږ وویلې چې تاسو دواړه (د اولادونو په شمول) ځمکې ته په داسې حال ورښکته شئ چې (د اولادونو په لحاظ به) ستاسو ځینې کسان د ځینو نورو کسانو دښمنان وي.
او تاسو ټولو ته په ځمکه کښې د څه وخته پورې استقرار (استوګنه) او څه استفاده کول (تاکلې شوي) دي (او بس).
[۳۷] نو آدم ﷺ د خپل رب ﷻ د پلوه (د اعتذار) د څو کلماتو ته سره ملاقي شو (نو په همدغو کلماتو سره یې خپل رب ﷻ ته اعتذار وړاندې کړ) نو خپل رب ﷻ ورباندې (په رحمت سره) رجوع وکړه (او توبه یې ورته قبوله کړه).
یقینًا د آدم ﷺ رب ﷻ همدی ډېر توبه قبلوونکی (او) ډېر مهربان دی.
[۳۸] مونږ (ورته) وویلې چې: (ځمکې ته) تاسو ټول د جنت څخه ورکوز شئ (البته د سزا په حیث نه بلکې د امتحان په حیث).
نو که چرته زما د پلوه تاسو ته هدایت درغی نو هر چا چې زما د هدایت پیروي وکړه نو په هغوی باندې (په آخرت کښې) نه ډار شته او نه به دوی غمژن شي (بلکې همېشه به خوشاله وي).
[۳۹] او هغه کسان چې (زما د هدایت) ناشکري خپله کړي او زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت وکړي (نو) دغه کسان د اور (دائمي) ملګري دي چې دوی به په اور (دوزخ) کښې همېشه وي.

## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱ـ د ﴿ وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ ﴾ جمله په وړاندېني ایت کښې د "قُلْنَا" په جمله باندې عطفه ده او د "إِذْ" کلمه ورسره مقدره ده.
دا د یو پلوه، اود بله پلوه ځینې مفسرین کرام[1] وایي چې په ﴿ وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ﴾ کښې د ﴿ ٱسْكُنْ ﴾ کلمه په موقته استوګنه باندې دلالت کوي. او په همدغه عبارت کښې د "زَوْجُ" کلمه په اتفاق سره د "حواء" رضي الله عنها څخه عبارت ده.
یعنې هغه وخت یاد کړه چې کله مونږ آدم ﷺ ته وویلې چې ای آدمه! ته او ستا مېرمن (حواء) دواړه په جنت کښې د څه وخته پورې استوګنه وکړئ، او د جنت د میوجاتو څخه په پراخه پیمانه خورئ او هر چرته مو چې خوښه وي هلته ګرځئ راګرځئ. خو فقط د دغې یوې ونې څخه څه شی مه خورئ بلکې دغې ونې ته بالکل ورنږدې کېږئ مه، هسې نه چې د خوراک یې مرتکب وګرځئ او خپلو ځانونو باندې د تیري کوونکو د ډلې څخه جوړ شئ.

## پوښتنې او د هغو جوابونه

۲ـ څه لرې نه ده چې په دې مقام کښې د چا په ذهن کښې لاندې پوښتنې وګرځي راوګرځي:
الف که څوک وایي چې بي بي حواء رضي الله عنها د څه شي څخه پیدا کړی شوه؟

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱ ص۲۹۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې په همدې ارتباط الله ﷻ فرمايلي دي چې ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا ﴾ [النساء ۱] يعني اى خلكو! تاسو د خپل هغه رب ﷻ څخه ووېرېږئ چې تاسو يې د يو نفس څخه پيدا کړي ياست، او د همدغه يو نفس څخه يې د هغه جوړه (مېرمن) هم پيدا کړې ده.

په دې باندې علاوه نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې «إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ وَإِنَّكَ إِنْ تُرِدْ إِقَامَةَ الضِّلَعِ تَكْسِرْهَا فَدَارِهَا تَعِشْ بِهَا»[۱] يعني يقيناً ښځه د پوښتۍ څخه پيدا کړی شوې ده او که نه اراده وکړې چې پوښتۍ سمه کړې نو مات به يې کړې (سمولی به يې نه شې)، نو نرمي ورسره کوه ترڅو ورسره ژوند او ګذاره وکړې.

د همدې حديث په تفسير کښې الشافعي رحمه الله ويلي دي چې "إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَمَّا خَلَقَ آدَمَ خُلِقَتْ حَوَّاءُ مِنْ ضِلَعِهِ الْقُصَيْرِ"[۲] يعني يقيناً هر کله چې الله ﷻ آدم پيدا کړ نو (د الله ﷻ په امر سره) حواء رضي الله عنها د آدم عليه السلام د لنډکی پوښتۍ څخه پيدا کړی شوه.

ب- که څوک وايي چې ايا بي بي حواء رضي الله عنها په جنت کښې پيدا کړی شوه او که په ځمکه کښې پيدا کړی شوه او بيا د آدم عليه السلام سره جنت ته ورداخله کړی شوه؟

مونږ وايو چې ځينو مفسرينو کرامو په همدې ارتباط سره اوږد بيان ليکلی دی[۳]، خو د ايتونو د سياق څخه څرګندېږي چې حواء رضي الله عنها په ځمکه کښې پيدا کړی شوې ده او بيا دواړه جنت ته بيولی شوي دي[۴].

ج- که څوک وايي چې کوم جنت ته آدم عليه السلام او حواء رضي الله عنها دواړه بيولي شوي وه؟

مونږ وايو چې که څه هم ځينو علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْجَنَّةَ ﴾ کلمه په يوه باغ باندې تفسيره کړې ده کوم چې په يو لوړ ځای کښې موقعيت درلود او په همدې ارتباط يې اوږد بحث ليکلی دی[۵]، مګر بهتره او متبادره معنی يې دا ده چې دلته ذکره شوې کلمه د هغه جنت څخه عبارت ده کوم چې د جهنم په مقابل کښې قرار لري[۶]، د کوم وعده چې د الله ﷻ د پلوه د قيامت په ورځ ټولو مومنانو ته ورکړه شوې ده (الله ﷻ دې پکښې زمونږ نصيب هم وکړي).

د- که څوک وايي چې په ﴿ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ ﴾ کښې کومې ونې ته اشاره ده؟

مونږ وايو چې د دغې ونې په تشخيص کښې ځينو علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۷]،

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۲۹، صحيح البخاري ج۱ ص۴٦۹
(۲) سنن ابن ماجه ص۲۰
(۳) تفسير البغوي ج۱ ص٦۳، تفسير الطبري ج۱ ص۲۲۹، تفسير ابي السعود ج۱ ص۹۰
(۴) تفسير ابن کثير ج۱ ص۷۹
(۵) التفسير الکبير ج۳ ص۲، اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۵۵
(٦) روح المعاني ج۱ ص۲۳۳
(۷) زاد المسير ج۱ ص۵۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر بهتره دا ده چې په تشخيص کښې يې توقف غوره کړی شي چې څه ګټه پکښې شتون نه لري که بالفرض څه ګټې پکښې شتون درلودی نو په کوم ایت یا حدیث کښې به ضرور ورباندې صراحت کړی شوی وی.

هـ که څوک وايي چې: آدم ﷺ خو د ځمکې د خلافت دپاره پیدا کړی شوی وه نو په دې کښې څه حکمت وه چې الله ﷻ ورته د جنت دوره ورکړه؟

مونږ وايو ـوالله ﷻ أعلمـ چې دغه دوره د نبي کریم ﷺ د معراج د دورې سره شباهت لري، شاید چې دغې دورې به د دې دپاره صورت نیولی وی چې

اول ترڅو د ابلیس علیه اللعنة د غولونې صحنه تحقق ومومي او همدغه صورت حال په بنیادمانو باندې قرائت کړی شي چې د قیامت د ورځې پورې ترې عبرت واخلي.

دوهم ترڅو بنیادمانو ته خپل پوخ دښمن څرګند شي چې د دوی مور او پلار دواړه يې د جنت څخه رابهر کړه نو د دوی په غولونه باندې به هیڅکله صرفه ونه کړي چې جنت ته د داخلېدلو مخه يې خوشې کړي.

دريم ترڅو د غولېدنې په حالت کښې بنیادمان د خپلې مور او پلار په لاره لاړ شي (توبه خپله کړي) او د ابلیس په لاره لاړ نه شي چې په عصیان او جنایت باندې کلک ودرېږي چې د تعذیب مستحق جوړ شي

و که څوک وايي چې: په ﴿ فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيْطَٰنُ عَنْهَا ﴾ کښې د "أَزَلَّهُمَا" کلمه د "إزلال" ـلکه "إكْرَام"ـ څخه اشتقاقه شوې ده او د "عَنْهَا" ضمیر جنت ته راجع دی چې په وړاندېنی ایت کښې ذکر دی. یعنې نو شیطان آدم ﷺ او حواء رضي الله عنها دواړه د جنت څخه وښویول او په غولونې سره يې ترې دواړه بهر کړه.

نو پوښتنه دا ده چې: شیطان (ابلیس) څنګه په دغه کار باندې وتوانېد حال دا چې نوموړی خو لا وړاندې د پرښتو د ټولګې څخه ویستل شوی وه او جنت ته د داخلېدلو چانس يې د لاسه ورکړی وه لکه چې الله ﷻ د نوموړي په هکله فرمايي چې ﴿ قَالَ ٱخْرُجْ مِنْهَا ﴾ [الأعراف: ١٨] یعنې: الله ﷻ وفرمايل چې (ای ابلیسه!) د پرښتو د ټولګې (یا د جنت) څخه ووځه (چې ته رټلی شوی يې).

مونږ وايو چې: ځینو علماوو کرامو د دغه سوال د جوابولو دپاره متعدد جوابونه لیکلي دي چې ابلیس د مار په ګېډه کښې جنت ته ورداخل شوی وه، او یا د جنت دروازې ته ورنژدې شوی وه او خپله خبره يې بدله کړې وه او جنت ته په داخلېدلو بریالی شوی وه[1].

مګر دغه جوابونه یو هم د قبلېدلو قابلیت نه لري. او مقبول جواب دا دی چې د وسوسې د اچولو دپاره ضرورت نشته چې جنت ته د داخلېدلو التزام وکړی شي ایا جنتیان او دوزخیان سره بالمشافهه خبرې نه کوي لکه چې د [الأعراف ٤٣ـ ٥١] ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده؟

---

(١) اللباب في علوم الكتاب ج١ ص٥٤٢

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا په نني عصر کښې د شرق او غرب خلک سره په تلویزون کښې نه ګوري او یو تربله سره خبرې نه کوي؟ بلکې نن ورځ خو کفري دولتونو همدغه وسائل په کار اچولي دي او د کورونو په داخل کښې مسلمانان بې لارې کوي او ښځې او خوانان اغواء کوي.

ز. که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ذکره شوې جمله کښې د "ابلیس" څخه په ﴿ٱلشَّيۡطَٰنُ﴾ سره تعبیر نازل شو او "فَأَزَلَّهُمَا إِبۡلِيسُ" نزول ونه موند؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: دا مقام د غولونې د بیان مقام دی شاید چې په دې مقام کښې به د نوموړي څخه په ﴿ٱلشَّيۡطَٰنُ﴾ سره د دې دپاره تعبیر نازل شوی وی ترڅو بنیادمان پوه شي چې غولونه یوازې په ابلیس پورې انحصار نه لري بلکې په انسانانو کښې هم د هغه اندیوالان شته چې په غولونه او تېرویستنه کښې ورسره همکاري کوي. او په زړونو کښې په وسوسو اچولو باندې رسره اخته دي. او دا خکه چې د "شَيۡطَان" کلمه هر سرکشه تجاوز کوونکي ته شامله ده، برابره خبره ده چې انسان وي که پېری او یا کوم بل ساکښ وي[۱].

همدې مطلب ته الله ﷻ په [الأنعام:۱۱۲] او په [الناس:۶] ایتونو کښې اشاره کړې ده.

نو که بالفرض د ﴿ٱلشَّيۡطَٰنُ﴾ په عوض "إِبۡلِيسُ" نازل شوی وی نو ذکر شوی مطلب به بې اشارې پاتې شوی وی.

ح: که څوک وایي چې: آدم ﷺ او حواء رضي الله عنها په جنت کښې څومره وخت استوګن وه او بیا ترې اخراج شو کوم ته چې په ﴿فَأَخۡرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ﴾ سره اشاره شوې ده. یعنې: د وسوسې د اچولو په وجه د آدم ﷺ او حواء رضي الله عنها دپاره شیطان د اخراج (ویستلو) سبب وګرځېد؟

مونږ وایو چې: څرنګه چې د دغه وخت د تعین په هکله ایت او حدیث موجودیت نه لري، نو توقف پکښې غوره دی.

ط: که څوک وایي چې: د ﴿وَقُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ﴾ په مستتر ضمیر سره څوک مخاطب کړی شوی دی چې تاسو ټول په داسې حال کښې د جنت څخه ځمکې ته ورښکته شئ چې ځیني به مود ځینو نورو دښمنان وي او همدا حالت به د قیامت د ورځې پورې ادامه ولري؟

مونږ وایو چې: که څه هم په دغه ضمیر سره په مخاطبینو کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي چې تقریبًا شپږو احتمالاتو ته رسېږي[۲].

مګر بهتر احتمال دا دی چې په دغه ضمیر سره آدم ﷺ او حواء رضي الله عنها مخاطب ګرځولي شوي دي، او جمعیت یې د اولادې په ملحوظ صورت نیولی دی، او په همدې ملحوظ ځینې د ځینو نورو دښمنان هم ښودلي شوي دي[۳]. دغه احتمال د لاندې دوه وو وجو د کبله غوره دی:

---

(۱) لسان العرب ج۱۳ ص۲۳۸

(۲) زاد المسیر ج۱ ص۵۶؛ تفسیر الطبري ج۱ ص۲۲۶؛ تفسیر الخازن ج۱ ص۱۰۸

(۳) تفسیر الکشاف ج۱ ص۱۲۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: په دغه احتمال باندې په بل ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ قَالَ ٱهۡبِطَا مِنۡهَا جَمِيعًا بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ ﴾ [طه: ۱۲۳] یعني: ای آدم او حواء! تاسو دواړه د ټولو اولادونو په ملحوظ د جنت څخه ځمکې ته په داسې حال ورښکته شئ چې ځینې به مو د ځینو نورو دپاره دښمنان وي.

دوهم: همدا احتمال د ذکرې شوې مجموعې په ﴿ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى ﴾ کښې د "كُمْ" په ضمیر سره هم راجع ګڼلی کېږي. او دا ځکه چې د ځینو علماوو په نزد په دغه ضمیر سره آدم ﷺ او حواء رضی الله عنها او د دوی دواړو اولادونه مخاطب ګرځولي شوي دي[۱]، چې نه پکښې ابلیس شمولیت لري او نه بل شی بلکې د شریعت نازلول د همدوی دپاره صورت نیولی دی.

اما ځینې نور علماء کرام وایي چې د شریعت په تعمیل باندې ابلیس علیه اللعنة هم مکلفیت لري[۲].

نو په دې تقدیر ذکره شوې جمله د ترجیح سبب نه شي ګرځېدلی.

ي: که څوک وایي چې په ﴿ فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٍ فَتَابَ عَلَيۡهِ ﴾ کښې د ﴿ كَلِمَٰتٍ ﴾ کلمه د کومو کلمو څخه عبارت ده؟ یعني: نو آدم ﷺ د خپل رب ﷻ د پلوه د څو کلمو سره ملاقي شو چې په همدغو کلمو سره توبه تائب شو نو خپل رب ﷻ ورباندې په مهربانۍ سره رجوع وکړه؟

مونږ وایو چې: همدغه کلمې په بل ایت کښې په صراحت سره نازلې شوې دي چې: ﴿ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾ [الأعراف:۲۳] یعني: دوی دواړو وویلې چې: ای زمونږ ربه! مونږ په خپلو ځانونو باندې تېری کړی دی او که ته مونږ ته مغفرت ونه کړې او رحم راباندې ونه کړې (توبه مو قبوله نه کړې) نو هرومرو به مونږ د زیانکارانو څخه وګرځو.

یا: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ﴿ فَتَابَ عَلَيۡهِ ﴾ کښې یوازې د آدم ﷺ په توبه باندې صراحت نازل شو او د حواء رضی الله عنها د توبې په هکله څه صراحت نزول ونه مونډ، حال دا چې په دعائیه جمله کښې دواړو اشتراک درلود؟

مونږ وایو چې: د حواء رضی الله عنها د توبې په قبول باندې ایت شریف په دلالة النّص سره دلالت کوي چې کله د متبوع (آدم ﷺ) توبه قبوله شوه نو د تابع (حواء رضی الله عنها) توبه خو به ضرور قبوله شوې وي. د همدې ایت یو نظیر په بل ایت کښې راروان دی چې: ﴿ هَٰذَا فِرَاقُ بَيۡنِي وَبَيۡنِكَ ﴾ [الكهف:۷۸] چې د خضر ﷺ د خولې څخه یوازې د موسی ﷺ په فراق باندې صراحت راحکایت شوی دی چې متبوع وه او د موسی ﷺ د ملګري (یوشع بن نون ﷺ) د فراق په ذکر باندې دلالة النّص دلالت کوي چې تابع وه.

یب: که څوک وایي چې: ایا آدم ﷺ او حواء رضی الله عنها ته د جنت څخه په راښکته کولو سره سزا ورکول د توبې د قبول سره منافي کار نه دی؟

مونږ وایو چې: د همدغه اعتراض د مخنیوي دپاره الله ﷻ د ﴿ ٱهۡبِطُوا ﴾ کلمه تکرارا نازله کړه چې: ﴿ قُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ مِنۡهَا جَمِيعًا فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ ﴾ الآية یعني: مونږ هغوی

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۲ ص۱۱۰؛ التفسیر الکبیر ج۳ ص۲۷

(۲) تفسیر الطبري ج۱ ص۱۴۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته وویلې چې ستاسو توبه قبوله ده تاسو ته څه عتاب متوجه نه دی، خو د خپلې دندې د انجامولو دپاره ځمکې ته ورښکته شئ چې ستاسو د اولادې دپاره د امتحان میدان دی.

یج که څوک وایي چې ایا د توبې د قبول څخه د عصیان ورمه نه اوچتېږي حال دا چې د آدم ؑ په شمول ټول پیغمبران د عصیان او ګناه څخه په عصمت کښې دي؟

مونږ وایو چې د دغه اعتراض د مخنیوي دپاره علماوو کرامو متعدد جوابونه کړي دي(١) مثلا آدم ؑ په اجتهاد کښې خطا شو چې د ﴿وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ﴾ تحریمي نهي یې په تنزیهي نهي باندې حمل کړه چې مخالفت یې عصیان نه بلکې د خلاف الاولی (نه بهتر) کار کول دي او داسې نور

مګر مونږ ته غوره برېښي چې آدم ؑ ذکره شوې نهي هېره کړې وه لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې ﴿وَلَقَدْ عَهِدْنَا إِلَىٰ آدَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا﴾ [طه ١١٥] یعني: یقیناً مونږ آدم ؑ ته کلکه توصیه کړې وه (چې دغې ونې ته مه ورنژدې کېږه) خو آدم ؑ دغه توصیه هېره کړه او مونږ ورته کلک عزم موندلی نه کړ

ید که څوک وایي چې: په نسیان باندې خو عند الله مواخذه (نیونه) نشته ترڅو توبې ته اړتیا پېښه شي او نه ورته د عصیان نوم اېښودل کېږي حال دا چې الله ﷻ همدغه کار د عصیان په نامه یاد کړی دی چې ﴿وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ﴾ [طه ١٢١] یعني او آدم ؑ د خپل رب ﷻ څخه عصیان وکړ نو سمه لاره یې ورکه کړه؟

مونږ وایو چې د نسیان څخه په عصیان سره تعبیر د آدم ؑ د شان په لوړوالي دلالت کوي چې دغه کار که څه هم عصیان نه دی مګر د ده ؑ د عالي شان په لحاظ عصیان وګڼلی شو او توبې ته پکښې اړتیا پېښه شوه

خلک وایي چې "حَسَنَاتُ الْأَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِينَ" یعني: د نېکانو نېک کارونه د مقربینو کسانو په نسبت ګناهونه دي. په همدې ارتباط د [الأعراف ٢٠-٢٢] ایتونو لاندې ـ إن شاء الله ﷻ ـ څه نور وضاحت هم راروان دی.

یه که څوک وایي چې: ځمکې ته د آدم ؑ د ښکته کېدلو سره خو د شریعت نزول یقیني وه، نو د څه حکمت په بنیاد همدغه نزول ته په ﴿فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى﴾ کښې د شرط په توګه اشاره وشوه؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې په دغه شرط کښې دې ته اشاره ده چې د شریعت نزول د الله ﷻ فضل دی او په ده ﷻ باندې ضرور نه دی.

هو! دا بېله خبره ده چې پخپله یې په خپل اقدس ذات باندې ضروري وګرځوي. همدغه ایت نه ورته [طه ١٢٣] ایت هم نزول موندلی دی.

یو که څوک وایي چې آدم ؑ او حواء ؓ د جنت څخه په کومو-کومو خابونو باندې راکوز کړی شوه؟

---

(١) اللباب في علوم الکتاب ج١ ص٥٦٣

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د قول په بنیاد[۱]، آدم عليه السلام په هند (سرندیب) کښې راښکته کړی شو او حواء رضي الله عنها د عربستان په "جده" نومې خای کښې راکوزه کړی شوه.

يز: که څوک وايي چې: د ﴿ فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ مفهوم دا دی چې د هدايت په تابعانو (مؤمنانو) باندې نه ډار شته او نه به دوی غمژن شي، حال دا چې مؤمنان هم ډار شوي دي او هم ورباندې غمونه ورروان دي؟

مونږ وايو چې په ايت شریف کښې د آخرت خوف او حزن نفي شوی دی لکه چې د ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ ﴾ الآية تعقيب ورباندې دلالت کوي. يعني: په دغو کسانو باندې نه په آخرت کښې خوف شته چې څه خطر ورته متوجه وي او نه به دوی غمژن شي چې ای کاش! چې په دنيا کښې مو د هدايت اتباع خپله کړې وی.

همدا مضمون الله ﷻ د جنتيانو د خولو څخه راحکايت کړی دی چې: ﴿ وَقَالُواْ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَ ﴾ [فاطر: ۳۴] يعني: او جنتيان به وايي چې هغه الله ﷻ ته ستاينه ده چې زمونږ څخه يې غمونه لرې کړه (او د خوشالۍ دائمي کور ته يې داخل کړو).

يح: که څوک وايي چې د أخروي خوف او حزن څخه خو هم مؤمنان نه شي بچ کېدلی بلکې پيغمبرانو ته هم رسېږي، لکه چې په يوه اوږده حديث کښې ورته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده[۲]؟

مونږ وايو چې د ايت شريف مطلب دا دی چې دغو کسانو ته به د الله ﷻ د پلوه عتاب متوجه نه وي چې وېدار شي او يا غمژن شي.

هو! کوم ډار او غم چې په هغوی باندې د خپلې کمزورۍ د کبله ورغلی وي نو هغه په ايت شريف کښې نه دی نفي شوی.

﴿ يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُواْ نِعْمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُواْ بِعَهْدِيٓ أُوفِ بِعَهْدِكُمْ
وَإِيَّٰيَ فَٱرْهَبُونِ ﴿٤٠﴾ وَءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوٓاْ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ
وَلَا تَشْتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّٰيَ فَٱتَّقُونِ ﴿٤١﴾ وَلَا تَلْبِسُواْ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ
وَتَكْتُمُواْ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرْكَعُواْ مَعَ
ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ أَفَلَا
تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾ وَٱسْتَعِينُواْ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلْخَٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾ ٱلَّذِينَ

(۱) الدر المنثور ج۱ ص۱۳۵- تفسير القرطبي ج۱ ص۳۱۹- تفسير البغوي ج۱ ص۶۴
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۶۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴿٤٦﴾﴾

[۴۰] ای د یعقوب علیه السلام اولادې! تاسو زما هغه نعمت په یاد کړئ کوم چې ما په تاسو (او ستاسو په پلرونو) باندې پېرزو کړی وه او (هم) تاسو (په طاعت سره) زما په عهد وفا وکړئ نو زه به (په اجر سره) ستاسو په عهد باندې وفا وکړم او (همدارنګه) تاسو (د بل چا څخه نه بلکې) خاص زما څخه ودار شئ (البته داسې دار چې ستاسو په اندامونو اثر وغورځوي).

[۴۱] او تاسو په هغه کتاب (قرآن کریم) باندې ایمان راوړئ کوم چې ما په داسې حال کښې درنازل کړی دی چې د هغه کتاب (تورات) تصدیق کوونکی دی کوم چې ستاسو سره شتون لري.

او تاسو په دغه کتاب (قرآن کریم) باندې د کافر تولګي مخکښان (ائمة الكفر) مه جوړېږئ (چې د نورو د کفر سبب وګرځئ).

او تاسو زما په ایتونو سره ناچیزه پیسې مه اخلئ (چې په مقابل کښې یې تحریف ته صورت ورکړئ) او تاسو زما د عذابه خپل ځانونه په وقایه کښې کړئ (او ترې بچ یې کړئ).

[۴۲] او تاسو د باطل سره حق مه ګډوئ او حق مه پټوئ حال دا چې تاسو پوهېږئ (چې دا څومره بد کارونه دي).

[۴۳] او تاسو (د تازه نازل شوي شریعت په چوکاټ کښې) لمونځونه ودروئ او زکاتونه ورکړئ او (هم) د رکوع کوونکو (محمدي ﷺ امت) سره رکوعګانې وکړئ.

[۴۴] ایا تاسو خلکو ته په نېک کار (ایمان راوړلو) سره امر کوئ حال دا چې تاسو خپل ځانونه هېر کړي دي او حال دا چې تاسو کتاب (تورات) لولئ؟.

ایا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ (چې د خپلو ځانونو غم هم وخورئ)؟.

[۴۵] او تاسو (د ایمان راوړلو په هکله) په صبر او لمانځه سره (د الله ﷻ څخه) کومک وغواړئ (چې توفیق درکړي).

او یقیناً چې دا (لمونځ د صبر په ملګرتیا سره) ډېر درونډ دی مګر په هغه کسانو باندې (درونډ نه دی) کوم چې عاجزي کوونکي دي (نو تاسو عاجزي خپله کړئ).

[۴۶] عاجزي کوونکي هغه کسان دي کوم چې باور خپلوي چې یقیناً دوی د خپل رب ﷻ سره ملاقي کېدونکي دي او یقیناً دوی خاص خپل رب ﷻ ته (د حساب کتاب دپاره) رجوع کوونکي دي.

## ارتباطونه او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې ایتونو کښې د مشرکانو د هغه اعتراض په تعقیب کوم ته چې وړاندې په [البقرة: ۲۶] ایت کښې اشاره شوې ده د هغوی یو بل اعتراض جواب او رد شوی دی. هغه دا چې:

که دا کتاب (قرآن کریم) د الله ﷻ د پلوه په حقه نازل شوی وی او محمد ﷺ په حقه پیغمبر وی نو د هر چا څخه وړاندې به وړباندې اهل الکتابو ایمان راوړی وی چې اهل العلم دي او د راتلونکي پیغمبر په هکله ښه پاخه او پوره معلومات لري.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې هکله د [البقرة:١٥٢] ایت پورې په یو سلو دیارلسو (١١٣) ایتونو کښې مربوط مطالب او د رد استدلالات نازل شوي دي.

٢ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغه عهد صورت حال ته اشاره شوې ده کوم چې د الله ﷻ د پلوه ادم ﷺ ته توصیه شوې وه. او په دې ایتونو کښې د هغه عهد صورت حال بیانېږي کوم چې د الله ﷻ د پلوه د اهل الکتابو څخه په خپلو کتابونو کښې اخستلی شوی وه.

٣ـ هلته د هغو نعمتونو د بیان ذکر شوی وه کومو چې په ټولو بنیادمانو پورې تعلق درلود او په دې ایتونو کښې د هغو نعمتونو ذکر ته اشاره شوې ده کوم چې د یوې خاصې قبیلې (بني اسرائیلو) پورې ارتباط لري. نو حاصل بې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د هغې قبیلې څه حالات قرائت کړه کومه چې د یوه غوره پیغمبر (یعقوب ﷺ) اولاده ده، کومه چې آخر الزمان پیغمبر ﷺ ډېر ښه پېژني چې همدا ستا څخه عبارت دی. نو زما د پلوه بې مخاطب کړه او ورته ووایه چې ای د یعقوب ﷺ اولادې!

١ـ تاسو زما هغه نعمتونه په شکرگزارۍ سره درپه یاد کړئ کوم چې ما په تاسو باندې عموماً او ستاسو په پلرونو باندې خصوصاً انعام کړي دي چې د فرعونیانو د غلامۍ څخه مو ورته نجات ورکړ او د "تیه" په میدان کښې مو ورته ډېره ښه استوگنه وربېرزو کړه.

٢ـ تاسو زما په عهد باندې وفا وکړئ او د نورو پیغمبرانو په شمول په آخر الزمان پیغمبر باندې ایمان راوړئ. نو زه به هم ستاسو په عهد باندې وفا وکړم او داسې جنتونو ته به مو داخل کړم چې د ونو لاندې بې څلور ډوله ویالې (لښتې) بهېږي.

٣ـ تاسو خاص زما څخه وډار شئ البته په داسې ډار سره چې په تاسو باندې اثر وغورزوي او د اضطراب سره مو مخامخ کړي او د بل چا ډار درڅخه هېر کړي.

۴ـ تاسو په هغه کتاب (قرآن کریم) باندې په اخلاص سره ایمان راوړئ کوم چې په دغې زمانې کښې ما نازل کړی دی حال دا چې همدا کتاب د هغو مطالبو تصدیق کوونکی دی کوم چې ستاسو سره شتون لري او لا پخوا تاسو ته درنازل شوی وه، کوم چې د همدغه کتاب په حقانیت باندې ښه پوره دلالت کوونکی دی.

۵ـ ای د یعقوب ﷺ اولادې! څرنگه چې ډېرو خلکو په دغه کتاب باندې خپل ایمان راوړل ستاسو د ایمان په راوړلو پورې تال کړی دی نو تاسو په ایمان راوړلو کښې مخکښان جوړ شئ او په کفر کښې مخکښان مه جوړېږئ چې د هر چا څخه وړاندې ورباندې تاسو کفر اختیار کړئ، په دې صورت کښې به ستاسو د جنایت پېټی ډېر درووند وگرځي.

۶ـ تاسو زما د هغو ایتونو په تبدیل باندې د فاني دنیا قلیله متاع مه اخلئ چې تحریف ورکړئ کوم چې ما د آخر الزمان پیغمبر په هکله په تاسو باندې لا پخوا درنازل کړي وه او د همدغه پیغمبر څه علامات مو درته پکښې بیان کړي وه.

۷ـ تاسو د تبدیلۍ په موضوع کښې زما د عذابه خپل ځانونه په وقایه کښې وگرځوئ او

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل خانونه ترې بچ کړئ (حقیقت څرګند کړئ).

۸_ یا به بل عبارت: تاسو په څرګندو الفاظو کښې حقیقت بیان کړئ او حق د باطل سره مه ګډوئ چې سوچه حقیقت ونه وایاست او د دروغو سره یې مخلوط کړئ.

لنډه دا چې تاسو حق مه پټوئ او تحریف مه ورکوئ حال دا چې تاسو پوهېږئ چې د حق پټول څومره لوی جنایت دی او هم پوهېږئ چې حق څه شی دی او تاسو ورته د پوهې سره سره تحریف او تغیر ورکوئ.

۹_ ای د یعقوب ﷺ اولادې! ستاسو پخوانی شریعت اوس منسوخ شوی دی نو تاسو د محمدي شریعت په چوکاټ کښې لمونځونه ودروئ او زکاتونه ورکړئ او هم د رکوع کوونکو مؤمنانو سره رکوع وکړئ چې نن ورځ ستاسو هغه لمونځ د قبول قابل نه دی چې رکوع پکښې شتون ونه لري.

۱۰_ تاسو د هر چا څخه وړاندې خپل خانونه په محمدي (ﷺ) شریعت باندې برابر کړئ او په همدغه تازه نازل شوي کتاب (قرآن کریم) باندې ایمان راوړئ ترڅو په تاسو پسې نور خلک اقتداء وکړي او په ایمان باندې مشرف وګرځي.

ایا دا عجیبه نه ده چې تاسو نورو خلکو ته په نېکۍ سره امر کوئ چې په دې کتاب (قرآن کریم) باندې ایمان راوړئ حال دا چې تاسو خپل خانونه هېر کړي دي چې په دغه نېک کار کښې برخه نه اخلئ او هم حال دا چې تاسو اسماني کتاب (تورات) لولئ چې د همدغه کتاب (قرآن کریم) په حقانیت باندې شهادت ورکوي.

نو ایا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ ایا دا د هوښیار سړي کار دی چې خپل ځان یې هېر کړی وي او نور خلک ورته په یاد وي؟

۱۱_ ای د یعقوب ﷺ اولادې! تاسو د ذکر شوي نېک عمل (ایمان) په خپلولو کښې په لاندې دوه وو کارونو سره استعانت او کومک وغواړئ:

الف: تاسو استقامت خپل کړئ، خپل خواهشات په قابو کښې وساتئ او هم د دنیاوي مالونو او دنیاوي عزتونو د تحصیل دپاره غیر مشروعي هڅې او تاندونه مه وهئ.

ب: تاسو د محمدي (ﷺ) شریعت په چوکاټ کښې لمونځونه اداء کړئ او د منسوخ دین چوکاټ پرېږدئ، چې دغه ډول لمونځونه تاسو د بدو کارونو او هم د بې شرمه کارونو څخه منعه کوي او د نېکیو توفیق مو ورباندې قوي کېږي او زیاتېږي.

۱۲_ که څه هم دغه لمونځ چې په صبر باندې مشتمل دی او د منسوخ دین په طریقه نه اداء کېږي په تاسو باندې ډېر دروند او سخت دی. مګر ستاسو د جملې څخه په عاجزي کوونکو کسانو باندې درونه او سخت نه دی، نو تاسو عاجزي خپله کړئ او د تکبر څخه لاس واخلئ چې د دغه ډول لمانځه توفیق مونده کړئ.

۱۳_ عاجزي کوونکي هغه کسان دي چې د خپل رب ﷻ سره د ملاقات په ورځ (قیامت) باندې باور لري او ایمان یې ورباندې راوړی وي، او چې خاص خپل رب ﷻ ته د محاسبې دپاره په بېرته

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورسنبهدلو باندې هم د اعتقاد درلودونکې وي. چې ضرور به د مرګ څخه وروسته صورت ونيسي

## توضیحات

۱ـ په ﴿ يَـٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ کښې د "إسرا" کلمه د "عَبْد" يا "صَفِي" د پاره وضعه شوې ده، او د "إِيْل" کلمه خو د "الله" د کلمې سره مرادفه ده، چې د "عَبْدُ الله" يا "صَفِيُّ الله" معنی ورکوي [۱]، دغه "إسرائيل" د يعقوب عليه السلام لقب دی لکه څنګه چې "خَلِيْلُ الله" د ابراهيم عليه السلام لقب دی

يعقوب عليه السلام دولس (۱۲) زامن درلود؛ چې يو يې کښې يوسف عليه السلام وه، د دغو دولسو زامنو څخه بيا د زمانې په اوږدو کښې دولس (۱۲) قبيلې جوړې شوي

په دوی کښې زيات شمېر پيغمبران تېر شوي دي او درې اسماني کتابونه (تورات، انجيل، زبور) په همدوی کښې نازل شوي دي چې تورات په موسی عليه السلام باندې نازل شوی وه، انجيل په عيسی عليه السلام باندې نزول موندلی وه، او زبور په داود عليه السلام باندې نازل شوی وه.

د دوی څخه هغه کسان د يهودو په نامه يادېږي کوم چې خپل ځانونه د موسی عليه السلام پيروان ګڼي او هر څوک چې خپل ځانونه عيسی عليه السلام او انجيل ته منسوبوي هغوی نن ورځ د نصاراوو په نامه يادېږي که څه هم د يعقوب عليه السلام د اولادې څخه نه وي

که څه هم د دوی اصلي ټاټوبی د شام او فلسطين منطقه وه؛ خو د يوسف عليه السلام په سلسله کښې دوی مصر ته انتقال شوي وه او هلته متوطن شوي وه، چې پوره قيصې ته به يې د "يوسف" په سورت کښې اشاره وشي، ان شاء الله ﷻ.

د يعقوب عليه السلام اولادې په علم او معرفت سره شهرت درلود او د آخر الزمان پيغمبر (محمد ﷺ) په هکله د ښه پوره معلوماتو درلودونکې وه

د جزيرة العرب خلک د همدوی ايمان راوړلو ته منتظر وه چې که محمد ﷺ په حقه آخرنی پيغمبر وي نو د هر چا څخه وړاندې به ورباندې همدوی ايمان راوړي.

نو ځکه په ايت شريف کښې دوی ته په ﴿ يَـٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ سره خطاب نازل شو چې تاسو د خپل پلار په قدم لاړ شئ؛ او خپل ځانونه په غوره بندګانو کښې شامل کړئ او ايمان راوړئ.

## دلته کومو نعمتونو ته اشاره ده؟

۲ـ که څه هم مفسرينو کرامو د ﴿ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ ﴾ جمله په هغو نعمتونو سره تفسيره کړې ده کوم چې د تاريخ په اوږدو کښې بني اسرائيلو ته ورکړی شوي وه، د کومو ذکر چې د [البقرة ۴۹] ايت څخه پيل شوی دی، لکه "مَن او سَلوی" او داسې نور، چې د پلرونو نعمت اولادونو ته هم راجع کېږي [۲]؛ مګر بهتره دا ده چې نعمتونو ته تخصيص ورنه کړی شي ترڅو هغو

---

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۶۶ تفسير الطبري ج۱ ص۲۴۸

(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۸۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غیر منفي معنو نه هم شمولیت ولري. کوم چې مخاطبینو بني اسرائیلو ته ورکړی شوي وه. لکه د آخر الزمان پیغمبر ﷺ په ملګرو کېښې د خپل ځان د شاملولو توان او داسې نور.

## د عهدونو تشخیص

۳ـ په ﴿ وَأَوْفُوا بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ ﴾ کښې د "عهد، عهد" دواړه کلمې په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیر کړي دي چې تقریبًا څلېرشتو (۲۴) ته رسیږي[1]، خو کوم تفسیر چې موږ نه غوره بریښي هغه په لاندې ډګو کښې راخلاصه کوو

الف د "عهدي" څخه هغه عهد مطلب دی کوم چې الله ﷻ د بني اسرائیلو څخه اخستی وه چې تاسو شریعت عملي کړئ او د آخر الزمان پیغمبر ﷺ په شمول په ټولو پیغمبرانو باندې ایمان راوړئ او عقیده ورباندې ټینګه کړئ.

ب د ﴿ أُوفِ بِعَهْدِكُمْ ﴾ څخه هغه عهد مراد دی کوم چې الله ﷻ هغوی ته په تورات کښې ورکړی وه چې زما د عهد د پوره کولو په صورت کښې به زه ستاسو ګناهونه محوه کړم او ابدي جنت ته به مو داخل کړم. په همدغه ذکر شوي تفسیر باندې په [المائدة ۱۲] ایت کښې په ښه وضاحت سره صراحت نازل شوی دی.

## "رَهَب" څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴾ کښې د "ارهبون" کلمه چې په اصل کښې "ارهبوني" وه، د "رَهَب" لکه "ضَرَب" څخه اشتقاقه شوې ده او د هغه ډار او خوف څخه عبارت ده د کوم سره چې اضطراب او احتیاط ملګری وي[2]، (چې اثرات یې څرګند شي) یعنې ای بني اسرائیلو! تاسو د بل چا څخه مه وارېږئ بلکې خاص زما څخه په داسې ډار سره وډار شئ چې اثرات یې ستاسو په عقیده او عمل کښې څرګند شي او د کفري لارې څخه مو راوګرځوي

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ ﴾ په جملې سره خو اهل الکتاب په مدینه منوره کښې مخاطب کړی شوي وه، نو د دغه خطاب څخه د اشارې په توګه فهمېږي چې د کفر د غوره کولو په صورت کښې به دوی اولني کفار جوړ شي حال دا چې د دوی څخه وړاندې په مکه معظمه کښې مشرکانو ورباندې کفر غوره کړی وه؟

موږ وایو چې: د ذکر شوې جملې معنی دا ده چې

الف: تاسو په کفر کښې امامان مه جوړېږئ چې خلک په تاسو پسې اقتداء کوي چې اهل العلم یاست. نو په دې صورت کښې به تاسو په خپلو جنایاتو باندې علاوه په راتلونکي وخت کښې

---

(۱) البحر المحیط ج۱ ص۲۸۲

(۲) مفردات الراغب ص۲۰۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

نورو کفارو د جنایاتو هم مرتکب وګرځئ او د عذاب ونده به مو زښته ډېره درنه شي.
ب: که تاسو کفر غوره کړئ نو ستاسو کفر به ډېر سخت وي او تاسو به د اولنۍ درجې کفر خاوندان وګرځئ او عذاب به مو ډېر شدید وي.

## د ایتونو خرڅول څه معنی؟

۶_ په ﴿ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗا ﴾ کښې د اهل الکتابو هغه خط السیر ته اشاره شوې ده کوم چې هغوی د خپل کتاب (تورات) د ایتونو سره په کار اچولی وه. هغه دا چې:
الف: د هغوی ملایانو به د حکومتي واکدارانو څخه رشوتونه اخستل او هغه ایتونه به یې ورته تحریفول کومو به چې د نبي کریم ﷺ په صداقت او د قرآن کریم په حقانیت دلالت کاوه، ترڅو یې واکداري د خطر سره مخامخه نه شي.
ب: د هغوی ملایانو به په عوامو باندې قلنګونه ټاکلي وه او د حقانیت ایتونه به یې ترې پټول چې قلنګونه یې د خلکو څخه بچ پاتې شي.
دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ذکر شوي ایت کښې دې ته هم اشاره ده چې ټوله دنیا په نظر سره آخرت ته حقیر او ناچیزه (لږ) شی دی. نو که بالفرض المحال بني اسرائیلو د ایتونو په تحریف باندې ټوله دنیا اخستې وی بیا به هم د ناچیزه (لږ) شي اخستونکي جوړ شوي وی.
په همدې ارتباط په [النساء:۷۷] او [الرعد:۲۶] ایتونو کښې صراحت نازل شوی دی چې مونږ به وروباندې _إن شاء الله ﷻ_ د احادیثو په رڼا کښې څه نور وضاحتونه هم وراضافه کړو.

## د بني اسرائیلو کړنلاره

۷_ بني اسرائیلو د نبي کریم ﷺ په ارتباط یوه خاصه کړنلاره درلوده هغه دا چې:
الف: دوی به هغو کسانو ته شک شبه وراچوله کومو به چې لږ څه پوهه درلوده چې دا پیغمبر دی خو زمونږ دپاره نه، بلکې د عربو دپاره دی. همدې مطلب ته په ﴿ وَلَا تَلۡبِسُواْ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ ﴾ سره اشاره شوې ده. یعنې تاسو حق د باطل سره مه ګډوډوئ.
ب: دوی به د هغو کسانو څخه بالکل حق پټاوه کوم به چې د حق څخه بالکل ناخبره وه چې دا د نبوت په دعوه کښې دروغژن دی او دا ځکه چې زمونږ د معلوماتو په بنیاد آخر الزمان پیغمبر ډېر لوړ سړی دی او تکې شنې سترګې لري حال دا چې محمد ﷺ د منځنې قد درلودونکی دی او د تکو تورو سترګو خاوند دی. په همدې مطلب باندې د ﴿ وَتَكۡتُمُواْ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴾ عبارت دلالت کوي چې تاسو په داسې حال کښې حق مه پټوئ چې تاسو پوهېږئ (حق او باطل پېژنئ).
ج: دوی به هغو کسانو ته په بربنډه توګه د حق اظهار کاوه او توصیه به یې ورته کوله چې عقیده او ایمان وروباندې خپل کړي د کومو ایمان راوړل به یې چې د خپلو خانونو دپاره خطر نه ګڼه. خو پخپله به یې د ایمان راوړلو څخه جداً اجتناب کاوه.
همدې مطلب ته د ﴿ أَتَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبِرِّ وَتَنسَوۡنَ أَنفُسَكُمۡ ﴾ په جمله کښې اشاره شوې ده. یعنې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا تاسو خلکو ته په نېکۍ سره امر کوئ حال دا چې خپل ځانونه مو هېر کړي دي.

د همدې مضمون ښه وضاحت _ان شاء الله ﷻ_ د [القصص:۴۸] ایت لاندې راروان دی چې اهل الکتابو د مشرکانو د پوښتنې په جواب کښې حق څرګند کړ او توصیه یې ورته وکړه چې ایمان وربانديې راوړئ خو د هجرت څخه وروسته په دغه حقیقت باندې ټپ منکران وګرځېده.

## یهود صفته کسان

۸_ که څه هم د دې مقام ایتونه د اهل الکتابو (یهودو) په هکله نازل شوي دي خو د مفهوم په لحاظ دا ایتونه د قیامت د ورځې پورې ټولو یهود صفته کسانو ته شمولیت لري، کوم چې مونږ یې په خپله زمانه کښې په خپلو سترګو ګورو. د مثال په توګه:

الف: ځینې کسان خپل دین او ایمان په حقیره او قلیله دنیاوي متاع باندې خرڅوي، لو د پیسو په عوض کښې د خپل ایمان څخه لا څه چې د خپل ناموس څخه هم تېرېږي.

ب: ځینې خلک حق د باطل سره ګډوي او حتی اسلام ته د دیموکراسۍ لقب ورکوي.

ج: ځینې کسان حق بالکل پټوي آن تردې چې تعرض کوونکي کفار د مبلمنو په نامه یادوي او جهاد ورسره حرام بولي.

د: ځینې کسان نورو خلکو ته حق بیانوي او په نېکۍ سره ورته امر کوي خو پخپله د هیڅ جنایت څخه غاړه نه غړوي او داسې نور.

## څو پوښتنې او د هغو جوابونه

۹_ په دې مقام کښې کېدلی شي چې د قاري په ذهن کښې لاندې پوښتنې وګرځي راوګرځي:

الف: که څوک وایي چې: په ﴿ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ ایت کښې د ﴿ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ په نزول کښې څه حکمت وه حال دا چې په عین ایت کښې د ﴿ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ د جملې مضمون وربانديې مشتمل دی؟

مونږ وایو چې: د یهودانو په لمانځه کښې رکوع موجودیت نه درلود او هم به هغوی په انفرادي توګه لمونځونه اداء کول[1]. نو د دغو کلماتو په نزول کښې دې ته اشاره ده چې تاسو خپل لمونځونه د محمدي (ﷺ) شریعت په مطابق اداء کړئ چې هم رکوع ولري او هم په جمعې سره صورت ونیسي.

ب: که څوک وایي چې: د ﴿ أَتَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبِرِّ ﴾ الآیة څخه ظاهراً داسې څرګندېږي چې باید فقط هغه کسان د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دنده ترسره کړي کوم چې پخپله په شریعت باندې ښه برابر وي، ایا دغه مفهوم صحت لري؟

مونږ وایو چې: د دغې دندې په هکله نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «مَنْ رَأَى مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ (الحديث)»[2]

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۶۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۴۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني څوک چې ستاسو د جملې څخه غیر شرعي (ناآشنا) کار وګوري نو تغیر دې ورکړي.

څرنګه چې د "مَن" کلمه عامه ده متقي او فاجر دواړو ته شامله ده نو معلومه شوه چې په شرعي دعوت کښې عصمت او متقیتوب شرط نه دی، که څه هم اثرات یې په تقوی باندې اضافه کېږي.

نو د ایت مطلب دا دی چې دا د سادګانو کار دی چې د دوزخ څخه د عامو خلکو په بچ کولو کښې زیار وباسي او خپل خانونه هېروي حال دا چې د هر شي څخه وړاندې وړباندې خپل خانونه حق لري چې د دوزخ د اوره یې بچ کړي.

په همدغه مفهوم باندې د ﴿ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴾ تعقیب دلالت کوي. یعنې: ایا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ او ایا نو تاسو سادګان او بې عقلان نه یاست؟.

ج. که څوک وایي چې: په ﴿ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ ﴾ کښې د "هَا" ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وایو چې: د دغه ضمیر په مرجع کښې ځینو مفسرینو کرامو ګڼ احتمالات لیکلي دي[۱]، خو بهتره دا ده چې دغه ضمیر د ﴿ ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ کلمې ته راجع وګڼلی شي[۲]، چې د یو پلوه ورسره نژدې ذکره ده او د بله پلوه لمونځ په صبر باندې هم مشتمل دی حتی چې عادي مباحات هم پکښې ممنوع ګرځولي شوي دي چې باید صبر ترې وکړی شي.

یا په بل عبارت د "صَبۡر" کلمه لاندې درې معناوې[۳] درلودلی شي چې په درېواړو کښې لمونځ بې اثره نه دی:

اول: په طاعت او عبادت باندې صبر کول او کلک ودرېدل.

دوهم: د مناهیوو څخه اجتناب خپلول او بچ کېدل.

درېم: په مصائبو باندې صابر جوړېدل او د جزعې فزعې څخه خان ساتل.

د: که څوک وایي چې: په ﴿ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ ﴾ کښې د ﴿ يَظُنُّونَ ﴾ کلمه د "ظَنّ" څخه اشتقاقه شوې ده چې د ګومان معنی ورکوي حال دا چې د ایمان دپاره په قیامت باندې یقین کول ضرور دي؟

مونږ وایو چې: کله-کله دغه کلمه (ظَنّ) د یقین په معنی استعمالېږي[۴] لکه چې په [الْكَهْف:۵۳] ایت کښې په همدغې معنی سره استعماله شوې ده.

په دې مقام کښې څکه ذکره شوې معنی غوره ده چې په عبارت کښې د یو پلوه د "أنّ" توری نازل شوی دی چې د تحقیق دپاره وضعه شوی دی، او د بله پلوه په ﴿ مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ ﴾ کښې د "مُلَاقُوا" کلمه د "ملاقاة" څخه اشتقاقه شوې ده چې د قیامت او بعث بعد الموت معنی ورکوي[۵]، یعني:

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۱ ص۱۳۴؛ تفسیر القرطبي ج۱ ص۳۷۳
(۲) تفسیر القاسمي ج۲ ص۱۱۹
(۳) المحرر الوجیز ج۱ ص۲۰۴
(۴) مفردات الراغب ص۳۲۷
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۸۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عاجزي کوونکي هغه کسان دي کوم چې باور او يقين لري چې يقيناً دوی د خپل رب ﷻ د محاسبې سره د قيامت په ورځ پيوسته کېدونکي دي.

﴿ يَـٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّى فَضَّلْتُكُمْ عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا لَّا تَجْزِى نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَـٰعَةٌ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾ ﴾

[۴۷] ای د يعقوب ﷺ اولادې! تاسو زما هغه نعمت درېيه ياد کړئ کوم چې ما په تاسو (او ستاسو په پلرونو) باندې پېرزو کړی وه.

او (بل) دا نعمت (هم درېيه ياد کړئ) چې يقيناً ما تاسو ته (د خپلې زمانې) په ټولو عالمونو باندې فضيلت (بهتري) درېړې وه.

[۴۸] او (تاسو) د داسې ورځې (د عذاب) څخه (په ايمان سره د خپلو ځانونو) ساتنه وکړئ چې (په دې کښې) هيڅ نفس د بل نفس څخه څه شی په غاړه نه شي اخستی، او نه ترې (د کوم شفاعت کوونکي) شفاعت منل کېږي او نه ترې فديه اخستله کېږي او (بالآخره) نه به دوی وي چې (د چا دپلوه) ورسره نصرت وکړی شي.

## توضيحات او د مطلب خلاصه

۱ـ که څه هم په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو مضمون تعقيب شوی دی او د ډېر غفلت د کبله بني اسرائيل په دوهم ځل مخاطب ګرځولي شوي دي او د نعمتونو شکرګزارۍ ته متوجه کړی شوي دي چې: ﴿ يَـٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ ﴾ الآية؛ مګر دا ځل د نعمتونو د تذکير څخه وروسته هغوی ته فقط وعيد اوروّلی شوی دی حال دا چې په اولني ځل کښې ورته د وعد او ثواب څخه علاوه (پر) نصائح او ارشادات هم ورنازل کړی شوي دي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَأَنِّى فَضَّلْتُكُمْ عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ د جملې څخه معلومېږي چې بني اسرائيلو ته په ټولو عـالمونو باندې فضيلت ورکړی شوی وه حال دا چې الله ﷻ محمدي (ﷺ) امت په [آل عمران: ۱۱۰] ايت کښې په ﴿ خَيْرَ أُمَّةٍ ﴾ سره ملقب کړی دی؟

مونږ وايو چې: د ﴿ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ د کلمې څخه د هغوی د خپلې زمانې عالمونه مطلب دي[۱] او پوره واضحه ده چې هغوی ته الله ﷻ په خپله زمانه کښې عامه بهتري ورکړې وه چې د نبوت سلسله په همدوی کښې چلېده او همدوی اهل العلم بلل کېده او داسې نور.

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۶۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## جزاء څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَاتَّقُواْ يَوْمًا لَّا تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ ﴾ کښې د ﴿ لَّا تَجْزِي ﴾ کلمه د "جَزَاء" څخه اشتقاقه شوې ده، نو څرنگه چې په دې مقام کښې وروسته د "عَنْ" توري تعلق نیولی دی نو د خلاصون او اداء، کولو معنی ورکوي[۱]، یعنې: تاسو د داسې ورځې د عذاب څخه خپل خانونه په ایمان راوړلو سره بچ کړئ چې هیڅ نفس پکښې د بې ایمانه نفس د عذابونو څخه د هیڅ شي مخنیوی نه شي کولی چې جنایت یې په خپلو اوږو پورته کړي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ [فاطر: ۱۸] یعنې: او په دې ورځ کښې هیڅ پېټی اوچتوونکی نفس د بل نفس پېټی نه اوچتوي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَٰعَةٌ ﴾ کښې د "مِنْهَا" ضمیر نژدې مذکور نفس ته راجع دی یعنې په دغې ورځ به د هیڅ جنایتکار نفس څخه د شفاعت کوونکو شفاعت قبول نه کړی شي، حال دا چې د قیامت په ورځ د أهل السنّة والجماعة په اجماع سره د شفاعت تحقق ثابت دی؟[۲].

مونږ وایو چې: دلته د نفس څخه بې ایمانه نفس (کافر) مطلب دی او مطلق نفس مطلب نه دی چې مؤمن ته هم شامل شي او اعتراض وارد وگرځي. او دا څکه چې:

الف: دلته په یهودو (کفارو) کښې بحث روان دی چې د خپلو پلرونو شفاعت ته په تمه وه بلکې دا یې د خپلو ځانو دپاره حتمي گڼله.

ب: الله ﷻ د کفارو د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴾ [الشعراء: ۱۰۰] یعنې: نونن ورځ زمونږ دپاره هیڅ شفاعت کوونکی نشته (چې زمونږ معبودان شفاعت نه شي کولی).

## د "عَدْل" معنی

۵ـ په ﴿ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ ﴾ کښې د "عَدْل" کلمه د "ع" توري په زور سره[۳] د هغو دوه وو شیانو شیانو په مساوات باندې دلالت کوي کوم چې دواړه فقط د زړه په سترگو لیدل کېږي او بس (د سر په سترگو نه لیدل کېږي). لکه جنایت او د هغه فدیه او داسې نور. یعنې: په دغې ورځ کښې به د هیڅ جنایتکار نفس څخه د جنایاتو فدیه هم نه شي اخستلی، او نه به د دوی سره نصرت وکړی شي چې په زور سره د عذابه نجات ورکړی شي.

اما دغه کلمه (عِدْل) د "ع" توري په زبر سره د هغو دوه وو شیانو مساوات ته ویل کېږي کوم چې یوازې د سر په سترگو لیدل کېږي او بس لکه دوه وزني شیان، یا دوه کیلي شیان او داسې نور.

---

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۴۹۰

(۲) المحرر الوجیز ج۱ ص۲۰۹

(۳) مفردا الراغب ص۳۳۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ
نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ ٱلْبَحْرَ فَأَنجَيْنَٰكُمْ
وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾ وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ
ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ
تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ
لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ فَتُوبُوٓاْ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓاْ
أَنفُسَكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾ ﴾

[۴۹] او هغه وخت (یاد کړئ) چې تاسو ته مو (د فرعون او) د فرعون د ټبر (پیروانو) څخه نجات درکړ، چې تاسو ته به یې په دوامداره توګه بد عذاب درساوه، چې ستاسو زامن به یې وژل او ستاسو زنانه (لورګانې) به یې ژوندۍ پرېښودلې، او په دغه نجات کښې (تاسو ته) د خپل رب ﷻ د پلوه د ېر لوی نعمت وه.

[۵۰] او هغه وخت هم درپه زړه کړئ چې مونږ ستاسو (د نجات) په سبب درياب وشکاوه، نو تاسو ته مو (د غرق څخه) خلاصون درکړ او د فرعون ټبر (پیروان) مو په داسې حال کښې غرق کړل چې تاسو ورته کتل.

[۵۱] او هغه وخت (هم یاد کړئ) چې مونږ موسی ؑ ته په څلوېښتو شپو کښې (کلکه) وعده ورکړه (چې کتاب به درکړم). بیا د موسی ؑ د تللو څخه وروسته تاسو خوسی (د معبود په حیث) ونیوه، حال دا چې تاسو (په دغه کار سره په خپلو ځانونو باندې) ظلم کوونکي وئ.

[۵۲] بیا مونږ د همدغه کار څخه وروسته ستاسو څخه (د توبې په قبول سره) عفوه وکړه، شاید چې تاسو شکرګزاري وکړئ (او په ایمان باندې کلک ودرېږئ).

[۵۳] او هغه وخت (یاد کړئ) چې مونږ موسی ؑ ته کتاب (تورات) او د حق او باطل ترمنځ جدا کوونکی شی ورکړ.

شاید چې تاسو (په راتلونکي کښې) هدایت ومومئ (او په سمه لاره باندې روان شئ).

[۵۴] او هغه وخت (یاد کړئ) چې موسی ؑ خپل قوم ته وویلې چې: ای زما قومه! یقیناً تاسو د معبود په حیث د خوسي په خپلو نیولو سره په خانونو باندې ظلم کړی دی.

نو تاسو خپل پیدا کوونکي (الله ﷻ) ته توبه تائب شئ نو خپل ځانونه ووژنئ. دغه کار ستاسو دپاره د خپل رب ﷻ په نزد غوره (او بهتر) دی.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو الله ﷻ به په تاسو باندې (په رحمت سره) رجوع وکړې (او توبه به مو قبوله کړي). يقيناً ستاسو پيدا کوونکی (الله ﷻ) ډېر توبه قبلوونکی (او) ډېر مهربان دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې په بني اسرائیلو باندې د هغو نعمتونو د څو مثالونو ذکر ته اشارې پیل شوې دي کوم چې په وړاند ینیو ایتونو کښې د اجمال په توګه ذکر شوي وه. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په بني اسرائیلو باندې زمونږ دپلوه د څو نعمتونو یادونه قرائت کړه هغه دا چې:

۱_ ای بني اسرائيلو! تاسو هغه وخت درپه ياد کړئ چې ستاسو پلرونو ته مونږ د فرعون او د ده د ډېر (فرعونیانو) څخه نجات ورکړ حال دا چې هغوی ستاسو سره لاندې چال چلند کاوه:

الف: هغوی تاسو ته ډېر سخت عذابونه رسول چې شاقه او درانه او پليت کارونه به يې په تاسو باندې اجراء کول.

ب: هغوی به ستاسو نارينه اولادونه (زامن) د پسونو په شکل ذبحه کول او ستاسو ښځينه اولادونه (لورګانې) به يې ژوندۍ پرېښودلې ترڅو تري عند الموقع استفاده وکړي.

په دغه نجات کښې ستاسو د رب ﷻ دپلوه ستاسو دپاره ډېر لوی نعمت وه چې نجات يې درکړ، که نه نو ستاسو نسل به ختم شوی وی او نن ورځ به تاسو په ځمکه باندې موجوديت نه درلودی.

۲_ ای بني اسرائيلو! تاسو هغه وخت هم درپه ياد کړئ چې مونږ ستاسو د نجات په سبب درياب (د قلزم بحر) څیرې کړ او تاسو ته مو پکښې د تېرېدلو دپاره امکان ته صورت ورکړ.

نو تاسو ته مو د غرق څخه خلاصی درکړ او فرعون او فرعونيان مو پکښې په داسې حال غرق کړه چې تاسو ورته کتل او ښه پوره ورباندې خوشاله شوئ.

۳_ تاسو هغه وخت هم په شکر ګزارۍ سره ياد کړئ چې مونږ موسی ﷺ ته د تورات د ورکړې دپاره څلوېښت شپې وعده ورکړه چې دغه موده په اعتکاف سره تېره کړه نو بيا به درته خپل شريعت د يوه کتاب په شکل درکړم.

کله چې موسی ﷺ د همدغه غرض دپاره په اعتکاف پيل وکړ او ستاسو څخه غائب شو نو تاسو د هغه د غياب څخه وروسته خوسکی د معبود په صفت ونيوه حال دا چې د دغه کار په کولو سره تاسو په خپلو ځانونو باندې ظلم وکړ او د غير الله په عبادت اخته شوئ.

۴_ ای بني اسرائيلو! بيا ستاسو د همدغه کار څخه وروسته هم مونږ تاسو ته عفوه وکړه او توبه مو درته قبوله کړه.

البته دا د دې دپاره چې تاسو د دغه لوی نعمت شکريه وکړئ او په هغو احکامو باندې کلک ودرېږئ کوم چې مونږ درته په ذکر شوي کتاب (تورات) کښې درنازل کړي وه.

۵_ تاسو هغه وخت هم ياد کړئ چې مونږ ستاسو پيغمبر ﷺ (موسی) ته يو عظيم الشان کتاب (تورات) ورکړ او هم مو ورته داسې خوارق او معجزات وروبښل چې حق او باطل يې سره جدا کول او د شک کوونکو شکونه او شبهات يې په بشپړه توګه څرګنده محوه کول. دا د دې دپاره چې شايد

Downloaded: bawarketabton.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو سمه لاره مونده کړئ او بیا وروباندې د استمرار په توګه تلل خپل کړئ.

۶ـ تاسو هغه وخت هم درپه یاد کړئ چې موسی ﷺ په ډېره نرمه لهجه مخاطب وګرځولئ او درته یې وویلې چې:

الف: ای زما قومه! تاسو په خپلو ځانونو باندې ډېر ظلم کړی دی چې د سامري په لاس جوړ شوی خوسکی مو په الوهیت سره نیولی دی او په عبادت ورته معتقد شوي یاست.

ب: نو د دغه لوی ظلم څخه توبه تائب شئ او د خپل خالق ﷻ په وړاندې خپله پښېماني څرګنده کړئ هغه دا چې:

ج: تاسو خپل ځانونه ووژنئ او په مرګ سره د اُخروي ابدي عذاب څخه خپل ځانونه بچ کړئ.

د: ای زما قومه! دغه وژل ستاسو دپاره د خپل رب ﷻ په نزد بهتر او غوره دي.

هـ: که تاسو دغه غوره کار وکړئ نو په تاسو باندې به خپل رب ﷻ په رحمت سره رجوع وکړي او توبه به مو د قبول مقام ته ورسوي. او دا ځکه چې:

یقینًا ستاسو رب ﷻ همدی ډېر توبه قبلوونکی دی او ډېر مهربان دی، نو اُمید دی چې تاسو ته لا زیات توفیق درکړي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ﴾ کښې د "آل" کلمه د پیروانو او د هغو خلکو معنی ورکوي کوم چې د چا سره په دین او مسلک کښې متحد وي[۱]. او د "فِرْعَوْن" کلمه د هغه پاچا لقب دی کوم چې په مصر باندې حکومت چلوي. لکه چې هغه چا ته د "نجاشي" لقب ورکولی کېږي کوم چې د حبشې د حکومت واګې په لاس کښې ولري او داسې نور[۲].

ځینې علماء کرام وایي چې د نوموړي اصلي نوم "الْوَلِيد" یا "مُصْعَب" او یا بل شی وه[۳]، او ځینې لا وایي چې نوموړی فرعون په اصل کښې فارسي النسب وه[۴]، والله ﷻ أعلم.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې ممکنه ده چې د چا په ذهن کښې لاندې پوښتنې وګرځي راوګرځي:

الف: که څوک وایي چې: کوم دول بد عذاب د فرعونیانو د پلوه بني اسرائیلو ته رسول کېده کوم ته چې د ﴿يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ﴾ په جمله کښې اشاره شوې ده؟.

مونږ وایو چې: د دغو بدو عذابونو یوه مثال ته په متصله جمله کښې د تفسیر په توګه اشاره شوې ده چې: ﴿يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ﴾ یعني: فرعونیانو به ستاسو نارینه اولادونه

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۶۹
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۲ ص۵۵
(۳) زاد المسیر ج۱ ص۶۵
(۴) تفسیر القرطبي ج۱ ص۳۸۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۱۸ ص۹۰؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۹۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذبحه کول او ستاسو ښځینه اولادونه (لورګانې) به یې ژوندۍ پرېښودلې.

خو په دې باندې علاوه هغوی به بني اسرائیل په شاقه کارونو او پلیتو کارونو کښې هم استعمالول لکه د ختنو پخول او د تشنابونو وینځل او داسې نور[1].

ب: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د لورګانو څخه په دې مقام کښې په ﴿نِسَآءَكُمْ﴾ سره تعبیر نازل شو حال دا چې د ﴿أَبْنَآءَكُمْ﴾ سره د "بناتكم" کلمه ښه مناسبه برېښي؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: په دغسې نزول کښې دې ته اشاره ده چې فرعونیانو به د بني اسرائیلو لورګانې د دې دپاره ژوندۍ پرېښودلې ترڅو ترې هغه استفاده وکړي کومه چې د بالغو ښځو څخه کېږي نه هغه کومه چې د کوچنیو ماشومانو څخه کېږي.

ج: که څوک وايي چې: په فرعونیانو باندې څه باعث وه چې دغه بدکار ته یې لاس اچولی وه؟

مونږ وایو چې: د دغه باعث په تعین کښې ځینو مفسرینو کرامو[2] لیکلي دي چې فرعون خوب لیدلی وه چې تعبیر یې د بني اسرائیلو د یوه هلک په لاس د حکومت د منځه وړل وه او یا ورته همدغه خبره نجومیانو کړې وه. مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه باعث به د ابراهیم ﷺ څخه پاتې شوی حدیث وه چې په ذکر شوي مضمون باندې یې دلالت کاوه[3].

د: که څوک وايي چې: فرعون خو کافر وه نو د ابراهیم ﷺ څخه په پاتې شوي حدیث باندې یې څنګه باورکاوه چې دخپل حکومت دحفاظت دپاره یې په ذکره شوې وژنه باندې لاس پورې کړی وه؟

مونږ وایو چې: لکه څنګه چې د [النمل:۱۴] ایت څخه څرګندېږي فرعون عنادي کافر وه او په زړه کښې پوهېده چې پیغمبر دروغ نه وايي.

ه: که څوک وايي چې: هارون ﷺ خو د موسی ﷺ څخه یو کال مشر وه چې د ماشومانو د وژلو په وخت کښې تولد شوی وه. نو پوښتنه دا ده چې دغه پیغمبر ﷺ څنګه نه وه وژلی شوی؟

مونږ وایو چې: فرعونیانو د ماشوم وژنې ناکاره عمل د یو کال په وقفه ئیزه توګه اجراء کاوه چې په دوه وو کلونو کښې به یې یو کال وقفه ورکوله، او هارون ﷺ په همدغه کال کښې تولد شوی وه چې ماشوم وژنه پکښې متوقفه وه.

فرعونیانو ځکه دغه کار ته وقفه ورکوله ترڅو د بني اسرائیلو نسل بالکل د منځه لاړ نه شي چې په دې صورت کښې به د شاقه خدماتو دپاره څوک مونده نه شي[4].

## "بَلاء" څه معنی؟

۳ـ په ﴿وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ﴾ کښې د ﴿بَلَآءٌ﴾ کلمه لاندې دوه معناوې درلودلی شي[5]:

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۶۹
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱ ص۶۰؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۹۰؛ تفسیر القرطبي ج۱ ص۳۵۷
(۳) تفسیر الطبري ج۱ ص۲۷۲
(۴) تفسیر الخازن ج۱ ص۱۲۱
(۵) مفردات الراغب ص۵۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: چې د نعمت معنی ورکړي. نو په دې تقدير به د ﴿ ذَٰلِكُم ﴾ په کلمې سره نجات ته اشاره وي. يعني: په دغه نجات کښې (چې تاسو ته د فرعون د عذابونو څخه درکړی شو) ډېر لوی نعمت دی، په کار ده چې په ايمان سره يې شکريه وکړئ.

ب: چې د محنت او مشقت معنی ورکوي. نو په دې تقدير به د ﴿ ذَٰلِكُم ﴾ په کلمې سره هغه بد عذاب ته اشاره وي کوم چې ورسره نژدې ذکر دی. يعني: په دغو بدو عذابونو کښې په تاسو باندې د خپل رب ﷻ د پلوه ډېر لوی او دروند امتحان او مشقت نازل کړی شوی وه.

## فرعونيان په کومه ورځ غرق شوه؟

۴ـ په ﴿ وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ ٱلْبَحْرَ ﴾ الآية کښې د فرعونيانو غرق او د بني اسرائيلو نجات ته اشاره شوې ده چې همدغه مضمون په نورو سورتونو کښې په ډېر زيات تفصيل سره نازل شوی دی. لکه د [الشعراء: ۵۱_۶۸] ايتونه.

په همدې هکله په يوه حديث کښې راغلي دي چې کله نبي کريم ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړ نو هلته يهودو د "عَاشُورَاء" په ورځ روژه نيوله، هغوی به ويل چې دا ډېره لويه ورځ ده چې الله ﷻ پکښې فرعونيان غرق کړي دي او بني اسرائيلو ته يې پکښې نجات ورکړی دی نو موسی عليه السلام په دغې ورځ د شکر روژه ونيوه. نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «أنا أوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ»[۱] يعني: د يهودو څخه خو مونږ موسی عليه السلام ته نژدې ياستو نو په خپله يې روژه ونيوله او د روژې په نيولو باندې يې صحابه وو کرامو رضي الله عنهم ته هم امر وکړ.

## يو لفظي تحليل

۵ـ په ﴿ وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ﴾ کښې د "مُوسى" کلمه په قبطي ژبه کښې د "مُو" او "سَا" څخه مرکبه ده چې په ترتيب سره د اوبو او ونو (ځنګل) معناوې ورکوي[۲].

شايد چې موسی عليه السلام ته به دغه نوم ځکه اېښودلی شوی وي چې په هغه ځای کښې ونې ولاړې وې په کوم کښې چې هغه عليه السلام د خپلې مور د پلوه په اوبو کښې لاهو کړی شو، او هغه ځای هم د ونو ځنګل وه په کوم کښې چې هغه عليه السلام د فرعون د خدمتګارانو د پلوه د اوبو څخه راونيول شو، چې زيات بيان ته يې په [القصص: ۵_۱۳] ايتونو کښې اشاره شوې ده.

## خلوېښت شپې اعتکاف

۶ـ دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ذکر شوي عبارت کښې د موسی عليه السلام هغه اعتکاف ته اشاره ده د کوم بيان چې په [الأعراف: ۱۴۲] ايت کښې په ډېر تفصيل سره نازل شوی دی.

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸۱
(۲) تفسير الطبري ج۱ ص۲۸۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دغه اعتکاف باندې د الله ﷻ د پلوه د دې دپاره موسی ﷺ مکلف ګرځولی شوی وه، ترڅو ورته په پای کښې کتاب (تورات) ورکړي.

دغه اعتکاف د ذو القعدې د اول څخه پیل شوی وه او د ذو الحجې په لسمه باندې ختم شو، او څلوېښت شپې یې ادامه وکړه[1].

د دغه اعتکاف په ټوله موده کښې موسی ﷺ هیڅ خوراک او څښاک ونه کړ او په بلا کیفه توګه ورته غیبي غذا ورکوله کېده. دغه غیبي غذا هغې غذا ته ورته وه کومه به چې نبي کریم ﷺ ته د الله ﷻ د پلوه ورکوله کېده، البته کله به یې چې دوه ورځې روژې سره وصلې کړې[2].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد د موسی ﷺ د اعتکاف په هکله د ﴿ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ﴾ په عوض "أَرْبَعِينَ يَوْمًا" نازل نه شو؟

مونږ وایو ـوالله ﷻ أعلمـ چې: په دغه ډول نزول کښې دې ته اشاره ده چې دغه څه عادي اعتکاف نه وه چې یوازې څلوېښت ورځې پکښې موسی ﷺ روژه نیولې وي، بلکې دا غیر عادي اعتکاف وه حتی چې څلوېښت شپې هم پکښې موسی ﷺ روژه دار وه[3].

که بالفرض د "لَيْلَةً" په عوض "يَوْمًا" نازل شوی وی، نو دغه اشاره به پټه پاتې وی.

## خوسی معبود وګرځولی شو

۸ـ کله چې موسی ﷺ د خپل قوم څخه څلوېښت ورځې غائب شو او د طُور په غره کښې په اعتکاف باندې مشغول شو ترڅو دوی ته د الله ﷻ د پلوه یو کتاب راوړي، نو هغوی هغه خوسی معبود وګرځاوه کوم چې ورته د سامري په نوم یوه سړي د ګاڼو څخه جوړ کړی وه، همدې مطلب ته په دې مقام کښې د ﴿ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ ﴾ په جملې سره اشاره شوې ده، چې زیات بیان یې په [الأعراف:۱۴۸ـ۱۵۲] او [طه:۸۵ـ۹۸] ایتونو کښې نازل شوی دی.

## "فُرْقَان" څه معنی؟

۹ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ ﴾ کښې د "فُرْقَان" کلمه په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده، لکه معجزات یا شریعت یا دا چې دغه کلمه د (تورات) دوهم نوم ده[4]؛ مګر د بدلیت په لحاظ د دغو ټولو معناوو اراده کول هم څه ممانعت نه لري چې موسی ﷺ ته په دغو ټولو معناوو سره "فُرْقَان" ورکړی شوی وه.

---

(۱) الدر المنثور ج۱ ص۱۶۸
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۹۷
(۳) المحرر الوجيز ج۱ ص۲۱۵
(۴) تفسير القاسمي ج۲ ص۱۲۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "برُوء" معنی

۱۰ ـ په ﴿ فَتُوبُوٓاْ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ ﴾ کښې د "بَارِئ" کلمه د "بُرُوء" ـ لکه "غُرُوب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د پیدا کولو معنی ورکوي او د حیواناتو د پیدا کولو پورې اختصاص لري[۱]. یعنې: ای بني اسرائیلو! تاسو د خوسي په عبادت سره په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی چې مرتد شوي یاست او د خپلو ځانونو غونډې مخلوق مو د معبود په صفت سره نیولی دی، نو تاسو هغه اقدس ذات ته توبه تائب جوړ شئ چې تاسو یې پیدا کړي یاست او د معبودیت لیاقت ورپورې اختصاص لري.

## ځان وژل څه معنی؟

۱۱ ـ ټول علماء کرام متفق دي چې په دې مقام کښې د ﴿ فَٱقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ د جملې څخه خپل ځان په خپله وژل مطلب نه دي[۲]، بلکې معنی یې داده چې ستاسوځینې کسان دې ځینې نور ووژني. نو ذکر شوې جمله په لاندې صورتونو سره تفسیره شوې ده[۳]:

الف: د خوسي په عبادت کوونکو باندې امر صادر شو چې د دوی ځینې کسان دې ځینې نور ووژني ترڅو د قاتلینو دپاره توبه شي او د مقتولینو دپاره شهادت.

ب: هغه کسان د عابدینو په قتل باندې مکلف وګرځول شوه کومو چې د خوسي عبادت نه وه کړی خو هغوی یې ترې منعه کړي هم نه وه.

ج: هغو کسانو ته د عابدینو وژل په غاړه اچولي شوي وه کوم چې د موسی ﷺ سره د کتاب راوړلو دپاره د طور غره ته تللي وه، والله ﷻ اعلم.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۲ ـ که څوک وابي چې: په وړاندېنې ایت کښې الله ﷻ د خوسي عبادت کوونکي په ﴿ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم ﴾ سره مخاطب ګرځولي وه، نو ایا هغوی د عفوې څخه وروسته په ذکر شوي امر ﴿ فَٱقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ سره مکلف وګرځولی شوه حال دا چې د [الشوری: ۳۰] ایت څخه معلومیږي چې د عفوې څخه وروسته مواخذه (نیونه) نشته؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د موسی ﷺ د شریعت بیان راروان دی چې په هغه شریعت کښې دغه حکم عمومي وه او یا یې په هغو کسانو پورې اختصاص درلود کومو چې د خوسي عبادت کړی وه او مرتد شوي وه[۴].

په دې باندې علاوه، عفوه ډېر شکلونه لري نو د توبې قبول (په هر ډول سره چې صورت ونیسي) هم د عفوې د اشکالو څخه یو شکل دی. نو د دواړو ایتونو سره یو تربله څه منافات نشته.

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۳۱
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۸۳
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۹۲، تفسیر القرطبي ج۱ ص۴۰۱
(۴) روح المعاني ج۱ ص۱۶۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې ایت کښې د وخت یهودان په غور وهلې شوي دي چې ستاسو توبه په دې شریعت کښې ډېره اسانه ده. هلې! په تلوار سره توبه تائب شئ او په محمد ﷺ باندې ایمان راوړئ، نن ورځ ستاسو د توبې دپاره خان وژنه شرط نه ده.

﴿ وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ بَعَثْنَٰكُم مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٦﴾ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ۖ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾ ﴾

[۵۵] او تاسو هغه وخت هم درپه یاد کړئ چې تاسو وویلې چې ای موسی! مونږ به هیڅکله ستا (د وینا) د کبله عقیده (باور) خپله نه کړو ترڅو چې مونږ الله ﷻ په څرګنده توګه وګورو.

نو (د دغه قول د امله) تاسو لره تندر ونیوه (او په داسې حال کښې درباندې درنازل شو) چې تاسو ورته کتل (او د خلاصون توان مو نه درلود).

[۵۶] بیا مو تاسو د خپل مرګ څخه وروسته بېرته راپورته (راژوندي) کړئ، شاید چې تاسو شکرګزاري وکړئ (او په ایمان باندې کلک شئ).

[۵۷] او مونږ په تاسو باندې (د تجیر غوندې) وریځ سوری وګرځوله، او هم مو په تاسو باندې "من" او "سلوی" درنازل کړه.

(او تاسو ته مو وویلې چې) د هغو پاکیزه (او لذیذو) شیانو څخه خورئ کوم چې مونږ درته (په معجزانه توګه) روزي کړي دي (خو تاسو ظلم وکړ).

او بني اسرائیلو په مونږ باندې ظلم نه وه کړی (چې د جنایاتو ضرر یې مونږ ته راجع شوی وی) مګر په خپلو ځانونو باندې یې په دوامداره توګه ظلم کاوه (چې د اجرونو او ثوابونو څخه یې محرومول).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د بني اسرائیلو د نعمتونو ذکر نازل شوی دی. نو حاصل یې داسې راخېژي چې:

ای پیغمبره! په بني اسرائیلو باندې د خپل رب ﷻ د پلوه د ځو نورو نعمتونو نومونه هم قرائت کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ تاسو هغه وخت یاد کړئ چې کله تاسو خپل پیغمبر (موسی ؑ) ته وویلې چې: ای موسی! مونږ به هیڅکله په تاباندې عقیده خپله نه کړو چې تا د الله ﷻ سره خبرې کړې دي او تاته یې کتاب درکړی دی، ترڅو چې مونږ الله ﷻ په خپلو سترګو په څرګنده توګه وګورو، که نه نو مونږ په تاباندې ایمان نه لرو.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ نو ای بني اسرائيلو! ستاسو د دغې سپين سترگۍ د کبله په تاسو باندې تندر درنازل شو چې تاسو ټول يې د ځرمې په داسې حال کښې ونيولئ چې تاسو ورته کاته، او په نتيجه کښې د ټولو ارواګانې والوتې (او ټول مړه شوئ).

۳ـ بيا مونږ تاسو ټول د مرگ څخه وروسته بېرته راژوندي کړئ او ارواګانې مو درکښې واچلولې شايد چې تاسو په راتلونکي کښې شکرگزاري وکړئ او تعنتي غوښتنې وړاندې نه کړئ.

۴ـ کله چې تاسو د درياب څخه د سينا ټاپو ته پوربوتئ حال دا چې اولني ضروريات مو نه درلوده، نو مونږ ستاسو ضروريات درپوره کړه. د مثال په توگه:

الف هلته مو په تاسو باندې وريځ د لوی تجير غوندې سوری وگرځوله چې د لمر د حرارت او تودوښې مخه يې درڅخه ونيوه.

ب: هلته مو په تاسو باندې د خوراک او غذا دپاره د "مَنْ" په نامه ډېره خوږه او لذيذه غذا درنازله کړه، چې وخت په وخت به درباندې وريدله.

ج: همدارنگه مونږ هلته ستاسو دپاره خوږ غوښې مرغۍ د "سَلْوىٰ" په نامه مسخرې کړې چې په ټاکلو وختونو کښې به تاسو ته درتلې او تاسو به ترې خپل ضروريات پوره کول او د خپلې خوښې په اندازه به مو ذبحه کولې.

۵ـ ای بني اسرائيلو! مونږ تاسو ته په همدغه وخت کښې د خپل پيغمبر (موسى ﷺ) په ذريعه ويلي وه چې تاسو د دغو پاکيزه لذيذو هغو غذاگانو څخه خورئ کوم چې مونږ در روزي کړي دي او هيڅ مشقت او زيار ته ضرورت نه لري.

تاسو په خپلو خانونو باندې ظلم مه کوئ او ذخيرې ترې مه جوړوئ، بلکې تاسو د خپل رب ﷻ ټول ارشادات په عمل کښې پياده کړئ.

۶ـ ای پيغمبره!بني اسرائيلو زمونږهدايت دپښولاندې کړ اوډول-ډول جناياتو ته يې لاس واچاوه. نو دوی په مونږ ظلم او تيری ونه کړ او نه يې کولی شو مگر په خپلو خانونو باندې يې ظلم او تيری وکړ چې زمونږ د عذاب او غضب لايق يې وگرځول.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ وَإِذْ قُلْتُمْ يَـٰمُوسَىٰ ﴾ الآية کښې هغې جرگې ته اشاره شوې ده کومه چې موسى ﷺ د خپله خانه سره د طور غره ته په هغه وخت کښې بيولې وه چې د کتاب (تورات) د راوړلو په نيت تللي وه[۱]. دوی ټول اويا (۷۰) کسان وه چې په [النساء:۱۴۳] ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

په دې باندې علاوه که د الله ﷻ اراده وي نو مونږ به د [الأعراف:۱۵۵] ايت لاندې تحقيق وکړو چې موسى ﷺ د طور غره ته څو کرته او د څه مطالبو دپاره د خانه سره جرگې بيولې وې.

(۱). روح المعاني ج۱ ص۲۶۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ذکر شوي عبارت په ﴿ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً ﴾ کښې د ﴿ لَن نُّؤْمِنَ ﴾ دپاره مفعول څه شی دی؟ یا په بل عبارت: هغوی د څه شي څخه په تاکید سره خپل ایمان او عقیده منفي وګرځوله؟

مونږ وایو چې علماوو کرامو د ذکر شوي مفعول په تعین کښې متعدد اقوال کړي دي[۱]، مګر مونږ ته د مقام په لحاظ غوره بریښي چې دلته به د تورات حقانیت او صداقت مفعول وي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه دلته د ﴿ جَهْرَةً ﴾ کلمه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په "علانیة" سره تفسیره کړې ده[۲]، یعني: مونږ به هیڅکله ستا د قول د کبله باور ونه کړو چې دغه کتاب (تورات) په ربښتیا سره تاته د الله ﷻ د پلوه درکړی شوی دی، ترڅو چې مونږ الله ﷻ په خپلو سترګو په ډاګه او څرګنده توګه وګورو.

۳_ لنډه دا چې د بني اسرائیلو ذکره شوې جرګه د ﴿ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ ﴾ په کلام سره مرتده شوه نو ځکه ورباندې اسماني تندر ورنازل شو. که بالفرض هغوی د ارتداد څخه په غیر د الله ﷻ دیدار غوښتی وی نو زمونږ په خیال قناعت به ورکړی شوی وی خو تندر به ورباندې نزول نه وی موندلی.

هېر مو نه شي!

۴_ هېر مو نه شي چې د ﴿ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ د جملې په نزول سره دې ته اشاره ده چې د ذکرې شوې جرګې مکلفیت په بېرته راژوندي کولو سره د منځه نه وه تللی لکه څنګه چې د قیامت په ورځ په بیا راژوندي کولو سره د مکلفیت لمن تولیږي یعني: ای بیا راژوندي کړی شوې جرګې! تاسو مونږ د دې دپاره بېرته راژوندي وګرځولئ ترڅو تاسو په راتلونکي کښې په ایمان او نېک عمل سره د دغه بیا راژوندي کولو شکرګزاري وکړئ.

په همدې اړه به ان شاء الله ﷻ مونږ د [البقرة ۲۴۳] ایت لاندې څه نوره څېړنه او تحقیق وکړو.

## د څو لغاتو معناوې

۵_ په ﴿ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْغَمَامَ ﴾ الآیة کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف د "غمام" کلمه د "غم" _لکه "شد"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د "پټولو" معنی ورکوي[۳]، مګر په دې مقام کښې د هغې وریځې څخه عبارت ده کومه به چې د بني اسرائیلو په سر باندې د طلوع څخه تر غروبه پورې ولاړه وه ترڅو ترې د لمر د حرارت مخه ونیسي[۴].

(۱) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۰۳
(۲) الدر المنثور ج۱ ص۱۷
(۳) مفردات الراغب ص۳۷۲
(۴) المحرر الوجیز ج۱ ص۲۲۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغې وريځې هغوی ته د يوه لوی تجير حيثيت درلود.

ب- د "مَنّ" کلمه په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په متعددو معناوو سره تفسيره کړې ده چې تقريبًا آتو (۸) تفسيرونو ته رسيږي[۱]. خو داسې برېښي -والله ﷻ أعلم- چې ذکره شوې کلمه به د يوې خاصې غذا څخه عبارت وي چې په تصرف سره به هم څښل کېده او هم به خوړل کېده، او هم به ترې داسې نرمه ډوډۍ جوړېدلی شوه چې د کيک يا کلچې مثال به يې درلوده.

دغه غذا به د هغوی دپاره په ونو او بوټو باندې د سهار راختلو د وخته تر لمر ختلو پورې د اسمانه د واورې او پرښې په شکل راښکته کېدله، او د لمر په طلوع سره به متباقي محوه کېده.

ج- قول علماء کرام متفق دي چې د "سَلْوَىٰ" کلمه د مرغيو څخه عبارت ده خو د دغو مرغيو په نوعه او حجم کښې ډېر اختلاف لري[۲]، چې ځينې وايي چې دغه مرغۍ د کوترې په اندازه وې او يا د مرز په مقدار وې او يا پخپله مرزان وه، او يا د مرز څخه ورې او د چرچن څخه غټې وې (لکه باټيره) او داسې نور.

په هر تقدير، ذکرې شوې مرغۍ به په بني اسرائيلو باندې د سهار د پلوه په سيلونو-سيلونو سره ورتلې او د هغوی په وړاندې به کيناستې، ترڅو چې هغوی ترې هومره مرغۍ ونيسي څومره يې چې زړه غواړې. او متباقي به بېرته والوتې. هغوی به رانيولې شوې مرغۍ ذبحه کړې او په وريت کولو يا پخولو سره به يې خوراک ته برابرې کړې، او د "مَنّ" سره به يې خوړې.

## ذخيره مه کوئ!

۶- بني اسرائيلو ته ويلي شوي وه چې تاسو د "مَنّ" او "سَلْوَىٰ" څخه ذخيرې مه کوئ بلکې هره ورځ ترې تاسو د يوې ورځې او شپې د ضرورت په اندازه را اخلئ او رانيسئ، خو يوازې د جمعې په ورځ د خالي د ورځې زېرمه هم کوئ چې په دغې ورځ کښې تاسو ته نه "مَنّ" شته او نه "سَلْوَىٰ"[۳].

خو هغوی ذکر شوی ارشاد د پښو لاندې کړ چې هره ورځ به يې د ضرورت څخه اضافه ذخيره کوله چې په نتيجه کښې ذکرو شوو دواړو غذاگانو بوی وکړ او وروستې شوې.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې اشاره کړې ده چې: «لَوْلَا بَنُو إِسْرَائِيلَ لَمْ يَخْنَزْ اللَّحْمُ»[۴] يعني: که چرته بني اسرائيل نه وی (ذخيره يې نه وی کړې) نو (د قيامت د ورځې پورې به) غوښه نه وی فاسده شوې (او بوی به يې نه وی کړی).

## مهاجرين او راشن

۷- الله ﷻ په خپله لاره کښې هجرت کوونکو ته وعده ورکړې ده چې: ﴿وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ

---

(۱) الدر المنثور ج۱ ص۱۷۱، زاد المسير ص۷۱، تفسير القرطبي ج۱ ص۴۰۶

(۲) تفسير ابن كثير ج۱ ص۹۷، تفسير الطبري ج۱ ص۲۹۶

(۳) تفسير البغوي ج۱ ص۷۵، تفسير الخازن ج۱ ص۱۲۹

(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸۱، صحيح مسلم ج۱ ص۴۷۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ﴾ [النساء: ۱۰۰] يعني او هر څوک چې د الله ﷻ په لاره کښې هجرت وکړي نو دې به ځمکه کښې، به د ډېر پناه ځايونه او پراخي موندلې کړي

د دغه وعده الله ﷻ په هره زمانه کښې پوره کړې ده او په هره زمانه کښې به يې پوره کوي. د مثال په توګه

الف. د بني اسرائيلو سره يې د دغه وعده د "منّ" او "سلوى" په نزول سره پوره کړه چې په معجزانه توګه به ورته ورکول کېده، لکه چې څه تفصيل يې وړاندې تېر شو

ب. موږ (افغان مهاجرينو) ته هم الله ﷻ د ذکر شوې وعدې په بنياد د دنيا د ډېرو لرو ځنډو څخه په وسائلو سره مياشتنۍ راشن راوسوي، او ضروريات مو پوره کوي

ج. د افغانستان څخه تقريباً پنځه نيم مليونه خلک مهاجر شوي دي او الله ﷻ ورته د دنيا په هره ځنډه کښې د پناه اخستلو ځايونه برابر کړي دي او پراخي يې ورباندې وروستلې ده. حتى موږ ګومان کوو چې ځينې خلک به د افغانستان د ازادۍ څخه وروسته هم بېرته راستانه نه شي.

## دا مستانفه جمله ده

۸ـ د ﴿ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ جمله مستانفه جمله ده[۱]. چې د هغه سوال دپاره جواب واقع شوې ده کوم چې د وړاندېنيو ايتونو د قرائت څخه د چا په ذهن کښې راپيدا کېده هغه دا چې د دغو متعددو نعمتونو او ځينې غذاګانو په مقابل کښې بني اسرائيلو څه وکړه؟ ايا شکرګزاري يې خپله کړه؟

د جواب حاصل يې داسې راځېږي چې هغوی ناشکري نه لاس واچاوه او بغاوت يې لا اضافه شو چې په خپلو ځانونو باندې يې تېری وکړ او د ثوابونو او اجرونو څخه يې محروم وګرځول او بس.

## د بني اسرائيلو د ناشکريو مثالونه

۹ـ که څه هم د بني اسرائيلو ناشکري او جنايات زښت ډېر دي مګر موږ يې د اجمال په توګه د څو مثالونو په ذکر باندې اکتفاء کوو. هغه دا چې

الف. هغوی خوسی د معبود په صفت ونيوه. (د [البقرة: ۵۱] ايت)

ب. هغوی خپل ايمان د الله ﷻ په ديدار پورې موقوف وګرځاوه. (د [البقرة ۵۵] ايت).

ج. هغوی د موسی ﷺ څخه وغوښتل چې د الله ﷻ څخه پرته يو معبود ورته ودروي (د [الأعراف: ۱۳۸] ايت).

د. هغوی په موسی پورې تهمت تاړه چې بدن يې پېس دی (د [الأحزاب: ۶۹] ايت)

ه. هغوی د زمانې په اوږدو کښې خپل کتاب (تورات) تحريف کړ (د [النساء: ۴۶] ايت).

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۹۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


و: هغوی د افغانستان د مهاجرینو غوندې في سبيل الله جهاد ته ملاوې ونه تړلې چې د مجاهدینو لقب یې هم ګټلی وی، بلکې په ډېرو کلکو او سختو الفاظو سره یې د موسی ﷺ دعوت رد کړ (د [المائدة: ۲۰_۲۶] ایتونه).

همدې مضمون ته په راتلونکي متصلو ایتونو کښې هم اشاره شوې ده.

ز: هغوی د "مَنّ" او "سَلوی" پاکیزه خوراکونو ناشکري وکړه چې: ای موسیٰ! مونږ په دغو خوراکونو باندې صبر نه شو کولی مونږ ته دې ترکاري هم راکړې شي (د [البقرة: ۶۱] ایت).

## هجرت او جهاد

۱۰_ د هجرت فرضیت د فرار (تښتېدلو) په معنی نه دی بلکې په هجرت کښې اصلي مطلب جهاد دی لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ د هجرت سره سم په وسلوال جهاد باندې لاس پورې کړ او مقابله یې پیل کړه.

أفسوس چې نن ورځ د افغانستان په مهاجرینو کښې داسې خلک شته چې د یهودانو خاصیت یې خپل کړی دی بلکې هجرت یې د سیاحت او تجارت او همدارنګه د راشن او نورو ګټو وټو وسیله ګرځولی دی.

دغسې خلک لکه چې نن د افغانستان او اسلام پرواګیر نه دي، ګومان نه کوو چې سبا به یې پرواګیر جوړ شي او د جهاد ولوله به یې په زړونو کښې تېره شي.

هغوی په خپل عیش او نوش کښې غرق دي او هیڅ پروا نه لري چې افغانستان د کوم کفري دولت د یرغل لاندې واقع شي او کفري بیرغونه پکښې ورپېږي.

په دغسې افغانانو باندې ذکر شوی ایت تطبیق دی چې یوازې خپلو ځانونو باندې تېری کوي چې د اجرونو او ثوابونو او حتی د ایمان د فضائلو څخه یې محروم ګرځوي، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

﴿ وَإِذْ قُلْنَا ٱدْخُلُوا۟ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ فَكُلُوا۟ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا۟ حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَٰيَٰكُمْ ۚ وَسَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ قَوْلًا غَيْرَ ٱلَّذِى قِيلَ لَهُمْ فَأَنزَلْنَا عَلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿٥٩﴾ ﴾

[۵۸] او (هغه وخت یاد کړه) چې مونږ (بني اسرائیلو ته) وویلې چې: تاسو دغه ښار ته (په جهاد سره) ورداخل شئ (کوم چې تاسو یې ښه پېژنئ).

نو د دې ښار (د میوجاتو او غذاګانو) څخه د پراخۍ په حال کښې خورئ (او څښئ) او د ښار دروازې ته سجده کوونکي (عاجزي کوونکي) ورداخل شئ.

او (همدارنګه په هغه وخت کښې) ووایاست چې (زمونږ غوښتنه) د ګناهونو محوه کول دي (که

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الهِ(۱) ذکر شوي دواړه کارونه وکړه) نو مونږ به تاسو ته ستاسو ګناهونه وبښو، او ژر ده چې مونږ به تاسو ذکر شوي دواړه کارونه وکړه) نو مونږ به تاسو ته ستاسو ګناهونه وبښو، او ژر ده چې مونږ به نیکوکارانو ته (خپل رحمت) لا زیات ورکړو (چې توفیق به ورپېرزو کړو).

[۵۹] نو هغو کسانو کومو چې ظلم کړی وه (ورته توصیه شوی قول یې) په داسې قول سره تبدیل کړچې د ورته ویل شوي (توصیه شوي) قول څخه مغایر وه.

نو مونږ په هغو کسانو باندې کومو چې ظلم کړی وه د اسمان د پلوه په دې سبب عذاب (وبا) نازله کړه چې دوی وه چې په دوامداره توګه یې فسق کاوه (او شرعي لاره یې پرېښودله).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو وروستنۍ جمله ﴿ وَمَا ظَلَمُونَا ﴾ الآیة د یوه مثال په ضمن کښې تفسیره شوې ده چې حاصل یې داسې راځي:

یعنې: ای پیغمبره! په بني اسرائیلو باندې (د عبرت اخستلو دپاره) د هغوی د ظلمونو یو مثال تلاوت کړه او زمونږ د پلوه یې مخاطب کړه چې:

۱ـ ای بني اسرائیلو! تاسو هغه وخت درپه یاد کړئ چې مونږ تاسو ته وویلې چې:

الف: تاسو دغه ښار ته (چې تاسو یې ښه پېژنئ) په جهاد سره ورداخل شئ او فتحه یې کړئ چې د دغه ښار فتحه ستاسو دپاره د جهاد په شرط عند الله لیکلې شوې ده.

ب: نو کله چې تاسو ذکر شوي ښار ته ورننوتلئ نو په هر ځای کښې مو چې خوښه وي هلته ګرځئ او هره یوه میوه مو چې خوښېږي هغه خورئ، په دې ښار کښې هر شی پراخه دی او د یوه شي هم کمبود پکښې نشته.

۲ـ خو تاسو ښار ته د ننوتلو په وخت کښې د دوه وو شیانو رعایت وکړئ چې یو شی قولي دی او بل شی فعلي دی. هغه دا:

الف: تاسو عاجزي خپله کړئ او د تکبر څخه خپل خانونه بچ وساتئ بلکې تاسو په دغه وخت کښې اعتراف وکړئ چې ښار تاسو ته الله ﷻ فتحه کړی دی او په لمونځونو سره د الله ﷻ حمد او ثنا ووایاست.

ب: تاسو په دغه وخت کښې د خپلو ګناهونو مغفرت او محوه کول وغواړئ چې: ای الله! مونږ ته د ګناهونو څخه راتېر شې.

۳ـ که تاسو ذکر شوي دواړه خاصیتونه خپل کړه نو مونږ به تاسو ته ستاسو ګناهونه دروبښو، بلکې په دغه وخت کښې به تاسو د نېکانو څخه وګرځئ. او ډېر ژر ده چې مونږ نېکانو ته په خپل فضل او رحمت کښې زیادت وکړو او لا ډېر توفیق ورکړو او د آفتونو څخه یې بچ وساتو.

۴ـ ای پیغمبره! نو بني اسرائیلو په خپلو خانونو باندې ظلم وکړ، تر ډېره وخته پورې یې د جهاد د امر منلو څخه غاړه وغړوله، چې په هغه ښار کښې قوي او غټ غټ کافران دي او مونږ ورسره د جنګ توان نه لرو

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د هر وخت وروسته چې هغوی جهاد ته غاړه کېښودله نو بيا يې هم په خپلو خانونو باندې ظلم وکړ او د هغو دوه شيانو رعايت يې خپل نه کړ کوم چې ورته ښودلي شوي وه.

نو په همدې بنياد دغو ظالمانو هغه خبره او قول په بله خبره او قول باندې تبديل کړه کوم چې ورته توصيه شوي وه.

همدارنګه دغو ظالمانو د هغه فعل رعايت هم ونه کړ کوم چې ورته ارشاد شوی وه، نو د تواضع په عوض يې تکبر وکړ او د ښار فتحه يې خپلو خانونو ته منسوبه کړه چې مونږ په خپل زور سره دغه مرام ته ورسېدو نو د همدې کبله يې نه لمونځونه وکړه او نه يې تواضع وکړه.

۵ـ نو مونږ په هغو کسانو باندې د اسمانه د طاعون مرض ورنازل کړ کومو چې په خپلو خانونو باندې ظلم کړی وه او قولاً او عملاً يې زمونږ ارشادات د پښو لاندې کړي وه. او دا څکه چې په دغه وخت کښې هغوی فاسقان وګرځېده او خپل فسق ته يې په دوامداره توګه ادامه ورکوله نو په همدې سبب مو په مصيبت باندې اخته کړه.

## توضيحات

۱ـ لکه څنګه چې ورته وړاندې اشاره شوې ده ددغوايتونو زيات تفصيل په [المائدة: ۲۰ـ۲۶] ايتونو کښې راروان دي. خو د مقام په لحاظ مونږ دلته د لاندې نکاتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: علماء کرام اختلاف لري چې په ﴿ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ ﴾ کښې کوم ښار ته اشاره ده[۱]؟، خو د جمهورو علماوو کرامو په نزد دلته هغه ښار ته اشاره ده کوم چې هغوی ښه پېژانده، کوم چې د هغوی د پلار (يعقوب ﷺ) اصلي ټاټوبی وه، کوم چې د بيت المقدس څخه عبارت دی[۲].

ب: که څوک وايي چې: په ﴿ وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا ﴾ کښې د ﴿ سُجَّدًا ﴾ کلمه د ﴿ وَٱدْخُلُوا۟ ﴾ د ضمير څخه په حاليت باندې منصوبه ده، يعنې تاسو د ښار دروازې ته په داسې حال ورننوزئ چې سجده کوونکي ياست؛ نو ايا د سجدې د حالت سره ښار ته ورداخلېدل منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې علماوو کرامو د ﴿ سُجَّدًا ﴾ کلمه په "مُتَوَاضِعِينَ" سره تفسيره کړې ده[۳]، يعنې: تاسو ښا رته تکبر کوونکي مه ورداخلېږئ بلکې عاجزي کوونکي ورداخل شئ.

ج: دا هم څه لرې نه ده چې د ﴿ سُجَّدًا ﴾ کلمه د "مُصَلِّينَ" معنی ورکړي او حاصل يې داسې واخستل شي چې: کله تاسو ښار ته د دروازې د لارې په ارامۍ سره ورداخل شوئ او هلته مو قرار ونيوه نو تاسو په لمونځونو سره د الله ﷻ شکرګزاري وکړئ. ترڅو د نورو نېکيو توفيق هم مونده کړئ.

همدا مضمون په يوه فعلي حديث سره تائيد مونده کوي چې کله نبي کريم ﷺ مکه معظمه فتحه

---

(۱) البحر المحيط ج۱ ص۳۵٦

(۲) المحرر الوجيز ج۱ ص۲۳۰

(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۲ ص۹٦؛ روح المعاني ج۱ ص۲٦۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

...انه رکعته لمونځ یې اداء کړ(۱).

او همدارنګه کله چې سعد بن أبي وقاص ﷺ د کسری ماڼۍ ته فاتحانه داخل شو نو هلته یې اته رکعته د شکرانې لمونځ اداء کړ(۲)، او د نبي کریم ﷺ په مسنونه طریقه یې عمل وکړ.

د. هغوی د ذکر شوې ارشاد په خلاف بیار ته په کوناټیو ورو ښیېدل او داخل شوه(۳)، او ارشاد یې د ښېو لاندې کړ.

ه. په ﴿وَقُولُوا حِطَّةٌ﴾ کښې د ﴿حِطَّةٌ﴾ کلمه د مقدرې مبتداء خبر ده چې مونږ ترې په "مسئلتنا" سره تعبیر کولی شو(۴)، یعنې: ای زمونږ ربه! زمونږ غوښتنه د ګناهونو محوه کول دي چې ته راته مغفرت وکړې.

و. خو هغوی د دغه قول (مسئلتنا حِطَّةٌ) په بدل کښې داسې قول اداء کړ چې د توصیه شوې څخه مغایر وه او د هغه د مطلب په خلاف مطلب باندې یې دلالت کاوه او یا بالکل مهمل وه چې په هیڅ مطلب باندې یې دلالت نه کاوه.

ز. د دغه مغایر قول په تعین کښې علماوو کرامو متعدد اقوال لیکلي دي(۵)، او څه لرې نه ده چې متعددو اشخاصو په تولو باندې قول کړی وي. لاندې دوه مثالونه یې ولولئ:

اول: هغوی وویلې چې: "حِنْطَةٌ حَمْرَاء"(۶). یعنې: ای ربه! زمونږ غوښتنه "سره" غنم دي.

دوهم: هغوی وویلې چې: «حَبَّةٌ فِي شَعْرَةٍ»(۷). دا مهمل الفاظ دي چې په ترکیبي لحاظ په څه مفهوم او مطلوب باندې دلالت نه کوي فقط استهزاء ترې فهمېږي.

ح. لنډه دا چې بني اسرائیلو قولا او عملا د شرعي احکامو او اوامرو څخه خلاف غوره کړه او خپل ځانونه یې د ظالمانو په ډله کښې شامل وګرځول.

## "رِجْز" څه معنی؟

۲- په ﴿فَأَنزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ﴾ کښې د "رِجْز" کلمه اصلاً د اضطراب د پاره وضعه شوې ده(۸)، چې د عذاب په معنی سره ډېره استعمالېږي خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په طاعون (وبا) سره معنی کړې ده(۹). یعنې: مونږ په هغو کسانو باندې د اسمانه عمومي مرض (وبا)

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۱
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۹۹
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۳؛ صحیح مسلم ج۲ ص۴۱۹
(۴) تفسیر الکشاف ج۱ ص۱۴۲
(۵) البحر المحیط ج۱ ص۲۶۲؛ زاد المسیر ج۱ ص۷۳
(۶) عمدة القاري شرح صحیح البخاري ج۱۱ ص۱۳۴؛ احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۳۳
(۷) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۵
(۸) مفردات الراغب ص۱۶۴
(۹) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۹۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورنازله کړه کومو چې په خپلو خانونو باندې د ارشاداتو په قولي او فعلي مخالفت سره ظلم کړی وه چې په زرګونو کسان يې په همدغه مرض سره هلاک شوه او دا ځکه چې دوی په همدغه کړنلارې سره فاسقان ګرځېدلي وه.

همدغه مضمون ته په یوه حدیث کښې اشاره شوې ده چې: «الطَّاعُونُ رِجْزٌ أُرْسِلَ عَلَى طَائِفَةٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ»[۱]، یعني: طاعون (وبا) یو عذاب دی چې د بني اسرائیلو څخه په یوه طائفه باندې د الله ﷻ په امر ورنازل شوی وه.

﴿ وَإِذِ ٱسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ فَقُلْنَا ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ فَٱنفَجَرَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۖ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ مِن رِّزْقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٦٠﴾ وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ فَٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ مِنۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ ۚ ٱهْبِطُوا۟ مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾ ﴾

[۶۰] او هغه وخت (وریاد کړه)، چې موسی ﷺ د خپل قوم دپاره څړوبول وغوښتل نو مونږ (موسی ﷺ ته) وویلې چې په خپله همسا سره ډبره ووهه.

(موسی ﷺ دغه کار وکړ) نو د ډبرې څخه دولس (۱۲) چینې په قوت سره جاري شوې، حال دا چې هرې ډلې خلکو خپل څړوبخای پېژانده.

(مونږ ورته وویلې چې) د الله ﷻ (د غیبي) رزق څخه خورئ او څښئ او په ځمکه کښې په داسې حال حرکت مه کوئ چې تاسو فساد اچوونکي یاست.

[۶۱] او هغه وخت (هم یاد کړئ چې) تاسو وویلې چې: ای موسی! مونږ به هیڅکله په یو ډول خوراک (مَن او سلوی) باندې صبر ونه کړو، نو زمونږ دپاره د خپل رب ﷻ څخه وغواړه چې مونږ ته د هغو نباتاتو څخه راوباسې (راکړې) کوم چې ځمکه يې راشنه کوي، چې هغه د ځمکې د ترکاریو او ترو او هم د اوړې او دالو (نسکو) او (هم) د پیازو څخه (عبارت دي).

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۲۲۸؛ موطا الامام مالک ص۵۵۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو(۱) موسی ﷺ (بني اسرائیلو ته وویلې) چې: ایا تاسو د هغه شي بدلول (اخستل) غواړئ کوم چې خېر (بې ارزښته) دی. (البته) په هغه شي سره کوم چې غوره (او بهتر) دی؟ (که تاسو په همدې خوښه کلک یاست نو:)

تاسو مصر ته ورښکته شئ (بېرته ورتاو شئ) نو یقیناً ستاسو دپاره (هلته) هغه شیان شتون لري کوم چې تاسو یې غواړئ (خو غلامي او چوپړتیا ورسره ملګرې او تړلې ده).

او (د الله ﷻ د پلوه) په بني اسرائیلو باندې د ذلت او محتاجۍ خیمه وهلې شوې ده (چې د هره خوانه یې وریاندې احاطه کړې ده).

او همدارنګه دوی د الله ﷻ د پلوه په غضب سره رجوع وکړه (همدغه یې خپلو خانونو ته په آخرت کښې وګاټه).

دغې (سزا) په دې سبب (صورت ونیوه) چې یقیناً دوی د استمرار په توګه د الله ﷻ د ایتونو څخه انکار کاوه او هم یې د استمرار په توګه په ناحقه سره پیغمبران وژل.

دغه (انکار او وژل هر یو) په دې سبب تحقق وموند چې دوی (د شریعت څخه) عصیان کاوه او دوی وه چې په دوامداره توګه یې (د شرعي حدودو څخه) تجاوز خپلاوه.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم هغو مضامینو ته اشاره شوې ده کوم چې د بني اسرائیلو پورې مربوط دي نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! زمونږ د پلوه بني اسرائیلو ته څه نور نعمتونه هم وریه یاد کړه چې هغوی یې په مقابل کښې د ځومره ناشکریو مرتکب شوي دي. هغه دا چې:

۱ـ هغه وخت ورته په یاد کړه چې هغوی د سینا په تاپو کښې د څښلو اوبه وغوښتې چې په همدې بنیاد موسی ﷺ زمونږ څخه د هغوی خړوبول مطالبه کړه چې ای ربه! زمونږ دپاره د څښلو د اوبو چاره وکړه.

۲ـ نو مونږ موسی ﷺ مخاطب کړ او ارشاد مو ورته وکړ چې ته پخپله همسا باندې کلکه ډبره ووهه ترڅو ستا د قوم دپاره د څښلو اوبه راوبهېږي.

موسی ﷺ همدغه ارشاد عملي کړ چې ډبره یې په همسا باندې ووهله او د وهلو سره سم د هغې څخه دولس چینې جاري شوې او د بني اسرائیلو د دولسو قبیلو خلکو هر چا خپله چینه او خپل اوبه خور پېژاند نو هر چا د خپلو خپلو چینو څخه استفاده پیل کړه او د اوبو احتیاج هم پوره کړی شو.

۳ـ بیا د الله ﷻ د پلوه د موسی ﷺ په خوله بني اسرائیلو ته وویلی شوه چې تاسو:

الف: د الله ﷻ د پاکیزه روزیو څخه خورئ او څښئ. یا په بل عبارت تاسو "مَن" او "سلوی" په دوامداره توګه خورئ او د دغو دولسو چینو څخه په دوامداره توګه اوبه څښئ او د خپل رب ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب تاسو په داسې حالت کښې په ځمکه کښې حرکت مه کوئ چې تاسو فساد اچوونکي او جناياتو ته تحريکوونکي ياست.

۴_ ای پيغمبره! بني اسرائيلو ته هغه وخت هم ورپه زړه کړه چې هغوی د الله ﷻ د پاکيزه روزيو شکريه خپله نه کړه بلکې ناشکريو ته يې ملاوې وتړلې. هغه دا چې:

الف: هغوی موسی ؑ مخاطب کړ او په صراحت سره يې ورته وويلې چې ای موسی! مونږ به هيڅکله په دغه يو ډول خوراک "مَن" او "سَلوی" باندې صبر ونه کړو چې په دوامداره توګه فقط د همدغه خوراک څخه استفاده وکړو او بس.

ب: نو په همدې بنياد زمونږ دپاره د خپل رب ﷻ څخه وغواړه چې مونږ ته هغه خوراکي شيان د ځمکې څخه راوباسي کوم چې ځمکه يې رازرغونوي او راشنه کوي چې هغه د لاندې شيانو څخه عبارت دي:

اول: ترکاري (کوم شيان چې تازه کتغونه ترې جوړيږي).

دوهم: بادرنګ او ترې.

دريم: اوړه يا ګندنه.

څلورم: دالونه (لکه نخود، نسک، مې او داسې نور).

پنځم: پياز (ټماټر، ګشنيز او داسې نور).

۵_ موسی ؑ بني اسرائيلو ته وويلې چې: تاسو ته .. الله ﷻ پاکيزه او بې تکلفه روزي ټاکلې ده ترڅو تاسو د همدغې روزۍ څخه د ښه وخته پورې استفاده وکړئ او جهاد ته ځانونه چمتو کړئ.

ای بني اسرائيلو! ايا دا عجيبه نه ده چې تاسو د هغه رزق بدلول غواړئ کوم چې بهتر او بې تکلفه دي البته په هغه شي باندې کوم چې ادنی او حقير دي؟ دا کار ستاسو دپاره مناسب نه دی، دا د بې وخته بدلون غوښتنه ده، د دې څخه ډډه وکړئ.

۶_ که بالفرض تاسو په خپله غوښتنه کلک ياست او ټينګارورباندې کوئ، نو مهرباني وکړئ د کفارو د ښارونو څخه يوه ښار ته د مجاهدينو په صفت ورښکته شئ او فتحه يې کړئ نو هلته ستاسو دپاره هغه شيان شته د کوم چې تاسو يې غوښتونکي ياست.

نو که تاسو دغه کار عملي کړئ نو د دنيا او آخرت دواړو فائدې به خپلې کړئ، هم به غازيان شئ او هم به په خپلو لاسونو ډول-ډول کرل او ريبل کوئ.

او يا بېرته هغه مصر (ښار) ته ورو ګرځئ د کوم څخه چې راوتلي ياست، نو هلته غلامي قبوله کړئ او په غوښتلو شوو شيانو باندې خپلې ګېډې مړې کړئ.

۷_ ای پيغمبره! بني اسرائيلو د نعمتونو شکرګزاري ونه کړه بلکې فساد خوروني ته يې لاس واچاوه نو د خپلو کړو وړو د سزا سره مخامخ شوه هغه دا چې:

الف: په هغوی باندې د ذلت او تحقير تجير ودرولی شو چې په دائمي توګه به ترې لاندې ژوند کوي، بلکې د قيامت تر ورځې پورې به هغوی د استقلال خاوندان ونه ګرځي بلکې د همېشه دپاره

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دبل ځای د لاس لاندې ژوند تېروي.

ب: په هغوی باندې د مسکنت او ناداری، تجیر هم وهلی شوی دی چې هیڅکله به دوی د قناعت خاوندان جوړ نه شي او نه به د دې څخه بچ پاتې شي چې بل ته د احتیاج لاس اوږد نه کړي.

ج: په دې باندې علاوه هغوی د الله ﷻ د جانبه په غضب او د رحمت څخه په لرې کېدلو سره رجوع وکړه، چې همدغه یې خپلو خانونو ته ګټلي دي نو د قیامت په ورځ به یې مزه وڅکي.

٨_ ای پیغمبره! د بني اسرائیلو د ذکرو شوو سزاګانو سبب دا دی چې دوی په دوامداره توګه د تاریخ په اوږدو کښې د الله ﷻ په ایتونو باندې کفر او ناشکري کړې ده.

او په دې باندې برسېره هغوی د همدغه کفر د کبله خپل پیغمبران وژل او په شهادت یې رسول، حال دا چې هغوی ښه پوهېده چې دا کار ناحقه او ناجائزه کار دی خو د دې سره سره دغه کار ته یې ادامه ورکوله.

د بني اسرائیلو د پیغمبر وژنې وجه دا وه چې هغوی په هر شرعي کار کښې عصیان خپلاوه او په هر شرعي کار کښې یې تجاوز خپلاوه، نو همدغه دائمي عصیان او دائمي تجاوز دواړه سبب شوه چې په پیغمبر وژنه یې هم پیل وکړ، او د جنایاتو سره روږدي شوه.

## توضیحات

١_ کومې همسا ته چې په ﴿ بِّعَصَاكَ ﴾ کښې اشاره ده د هغې ذکر په [طه:١٧، ١٨] ایتونو کښې لږ تفصیلوار نازل شوی دی.

## د "ډبرې" څرنګوالی

٢_ که څه هم کومې ډبرې ته چې دلته په "الْحَجَرَ" سره اشاره شوې ده د هغې په څرنګوالي کښې علماوو کړامو متعدد اقوال کړي دي. د مثال په توګه[١]:

الف: د هغې شکل په څه ډول وه، ایا مربع وه او که کروي وه چې د کوپړۍ شکل یې درلود؟

ب: هغه به د یوه ځای څخه بل ځای ته انتقالېدله او که په یوه ځای باندې یې قرار درلود؟

ج: که به انتقالېدله نو انتقال یې په څه ډول وه، په غیبي توګه او که په وسائلو سره؟

د: ایا دا هغه ډبره وه کومې چې دموسی ؑ څخه جامې تښتولې وې؟ کومې ته چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کړې ده[٢].

مګر بهتره دا ده چې ذکره شوې ډبره متعینه نه وه او نه یې انتقالولو ته څه اړتیا وه[٣]، بلکې هره یوه ډبره به چې موسی ؑ د اوبو په نیت په همسا ووهله نو دولس چینې به ترې سمدستي جاري

(١) تفسیر القرطبي ج١ ص٤٢٠: تفسیر البغوي ج١ ص٧٧
(٢) صحیح مسلم ج٢ ص٢٦٦
(٣) روح المعاني ج١ ص١٠٠

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي او بيا به يې چې د وچېدلو په نيت ووهله نو سمدستي به ترې اوبه بندې او وچې شوې[۱]، او يا به د حاجت د پوره کېدلو په وخت کښې وچېدلې[۲] او داسې نور.

## د دغې ډبرې يو نظير

۳_ که څه هم د آخر الزمان پيغمبر (محمد ﷺ) په زمانه کښې د ذکرې شوې ډبرې زيات نظاير تېر شوي دي مګر مونږ يې دلته فقط د يوه نظير مضمون راخلاصه کوو، هغه دا چې:

الف: يوه سړي په يوه غزا کښې د نبي کريم ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

سړی: ای د الله رسوله! مجاهدين اوبو ته زښت ډېر اړ دي او اوبه نشته.

نبي کريم ﷺ: ستا سره لږ اوبه شته؟

سړی: هو.

نبي کريم ﷺ: ته ماته همغه لږ اوبه راوړه.

ب: سړي يو لوښی راووړ چې ډېرې لږ اوبه پکښې وې.

ج: نبي کريم ﷺ د همدغه لوښي په خوله کښې ګوتې کېښودې او بيا يې پکښې خپلې ګوتې خورې کړې.

د: نو سمدستي د نبي کريم ﷺ د ګوتو د منځو څخه په شدت سره اوبه جاري شوې.

ه: نو نبي کريم ﷺ بلال رضي الله عنه ته امر وکړ چې په خلکو کښې په لوړ اواز سره غږ وکړه چې: «الْوَضُوءَ الْمُبَارَكَ»[۳] يعنې: تاسو مبارک اوداسه ته راشئ (په مبارکو اوبو باندې اودس وکړئ).

## "عِثِيًّا" څه معنی؟

۴_ په ﴿وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ﴾ کښې د "لَا تَعْثَوْا" کلمه _لکه "لا تَرْضَوْا"_ د "عِثِيًّا" _لکه "عِثِيًّا"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې په اصل کښې "عُثُوًّا" _لکه "قُعُودًا"_ وه چې د تخفيفونو د کبله ترې "عِثِيًّا" جوړ شوی دی. که څه هم د "عِثِيًّا" لفظ د سخت فساد دپاره وضعه شوی دی[۴]، مګر په دې مقام کښې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ذکره شوه کلمه په "وَلَا تَسْعَوْا" سره تفسيره کړې ده[۵].

يعنې: او تاسو په ځمکه کښې په داسې حال کښې زيار مه وباسئ (حرکت مه کوئ) چې تاسو پکښې د فساد خوروونکي ياست (او په فساد کښې افراط کوونکي ياست).

## سوالونه او جوابونه

۵_ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

---

(۱) البحر المحيط ج۱ ص۳۶۷
(۲) المحرر الوجيز ج۱ ص۲۳۴
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۴۱
(۴) لسان العرب ج۱۵ ص۲۹
(۵) الدر المنثور ج۱ ص۱۷۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که څوک وايي چې: بني اسرائيل د څه فساد خوروونکي وه چې په ايت شريف کښې ورته نوصيه حکايته شوې ده چې دا کار مه کوئ؟

مونږ وايو چې: هغوی د تاريخ په اوږدو کښې د هيڅ ډول فساد خورونې څخه ډډه نه کوله، بلکې په قولي او فعلي دواړو ډولو سره يې په فساد کښې افراط کړی وه، لکه چې وضاحت يې په همدغه متصل ايت کښې راروان دی.

ب: که څوک وايي چې: پوره څرګنده ده چې په ﴿ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ ﴾ کښې د ﴿ طَعَامٍ وَاحِدٍ ﴾ څخه د بني اسرائيلو "مَنّ" او "سَلوَىٰ" مطلب ده، حال دا چې دغه دواړه واحد طعام نه دی بلکې دوه طعامه دي؟

مونږ وايو چې: هغوی ذکرو شوو دواړو طعامونو ته د دې کبله د ﴿وَاحِدٍ ﴾ نسبت کاوه چې بدلون پکښې صورت نه نيوه او په دوامداره توګه په يوه ډول سره نازلېده او ډول يې نه تغير کېده.

ج: که څوک وايي چې: په څه منظور بني اسرائيلو په خپل وړانديز کښې د ﴿ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنبِتُ ٱلْأَرْضُ ﴾ جمله هم اضافه کړه حال دا چې وړانديز کړی شوي شيان ټول د ځمکې حاصلات دي او د اسمانه نه رالوېږي؟

مونږ وايو چې: د هغوی وړانديزونو تعنتي او عنادي شکل درلود او غوښتل يې چې موسی ﷺ په خپل عجز او ناتوانی باندې معترف وګرځوي چې دغه وړانديز مو نه شم پوره کولی، ترڅو ورباندې پړه واچوي چې ای موسی! کله چې ته زمونږ احتياجات نه شې پوره کولی او وړانديزونه مو نه شې قبلولی نو د مصر څخه دې ولې اخراج کړو؟ او په دغې وچه بيديا کښې دې ولې ډېره کړو؟ هلته خو زمونږ وړانديز کړی شوي شيان ښه پرېمانه وه.

لنډه دا چې هغوی ډارېدل چې که په وړانديز کښې ذکره شوې جمله اضافه نه کړي، نو څه لرې نه ده چې وړانديز کړی شوي شيان هم ورباندې د اسمانه نازل کړی شي او موسی ﷺ د ملامتې او پړې څخه بچ کړی شي.

## د ايت تازه مصداق

۶ـ څرنګه چې بني اسرائيلو وخت په وخت د خپل هجرت پړه په موسی ﷺ باندې اچوله چې مونږ ستا د لاسه هجرت ته مجبور کړی شو او د مصر څخه راوويستلی شوو، که نه نو مونږ استقلال څه کاوه، د چرګ د مالګې د څټلو سره څه کار.

افسوس چې په افغاني مهاجرينو کښې هم يو-يو يهود صفته خلک موندلی کېږي. د مثال په توګه ما پخپله د يوه سړي د خولې څخه واورېدل چې مونږ هجرت کولو ته ملايانو مجبور کړو، همدوی فتوی ورکړه چې د کمونستانو سره جهاد فرض دی، که بالفرض ملايانو د جهاد د فرضيت فتوی نه وی ورکړي او پخپله يې په جهاد کښې عملاً برخه نه وی اخستې نو مونږ به بې غمه په خپل وطن کښې ناست وی او د هجرت د مشکلاتو څخه به خلاص وی، نو د کابل په تخت باندې چې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کافر ناست وی مونږ څه کاوه او که مسلمان ورباندې ناست وی مونږ څه کاوه؟!

## د څو لغاتو معناوې

۷ـ په ﴿ وَإِذْ قُلْتُمْ يَـٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ ﴾ الآية کښې څو لغات وضاحت ته ضرورت لري هغه داچې:

الف: د "بَقل" کلمه د هغه نبات نوم دی کوم چې په پسرلي کښې زرغونېږي او په ژمي کښې يې پاڼې او بنياد دواړه محوه کېږي لکه ګشنيز او داسې نور[۱].

ب: د "قِثَّاء" کلمه د ترې يا بادرنګ دپاره وضعه شوې ده[۲].

ج: د "فُوم" کلمه ډېرې معناوې ورکوي خو په دې مقام کښې يې د هوږې معنی بهتره برېښي چې د ترکاريو سره تناسب لري[۳].

د: مفسرينو کرامو د "مِصْر" کلمه دلته په متعددو احتمالونو سره تفسيره کړې ده. لکه[۴]:

اول: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په شمول ځينې علماء کرام وايي چې دلته دغه کلمه د يوه خاص ښار نوم نه دی بلکې د ښارونو د جملې څخه يو ښار مطلب دی هر يو ښار چې وي[۵].

په دې تقدير به د ﴿ ٱهْبِطُواْ ﴾ امر د تعجيز دپاره وي لکه چې په [البقرة:۲۳] ايت کښې د ﴿ فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ ﴾ امر هم د تعجيز دپاره دی.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېژي چې ای بني اسرائيلو! تاسو هغه دون همته خلک یاست چې د موسى عليه السلام د جهاد دعوت مو قبول نه کړ او د جبارينو کفارو سره مو مقابله خپله نه کړه نو الله ﷻ په تاسو باندې ترڅلوېښتو کالو پورې د سينا د بيديا څخه وتل حرام کړي دي، که تاسو په دې خبره باور نه خپلوئ نو يو ښار ته ورښکته شئ، ايا تاسو ورښکته کېدلی شئ؟

دوهم: ځينې نور علماء کرام وايي چې: دلته هغه د "مِصْر" ښار مطلب دی د کوم څخه چې دوی راوتلي وه او کوم چې د فرعون پلازمېنه وه[۶].

په دې تقدير به د ﴿ ٱهْبِطُواْ ﴾ امر د توبيخ او تخجيل دپاره وي لکه چې د [الأنبياء:۶۳] ايت کښې د ﴿ فَسْـَٔلُوهُمْ ﴾ امر په همدغه مطلب باندې دلالت کوي، چې ای مشرکانو! تاسو د دغو بوتانو څخه پوښتنه وکړئ چې چا ميده ميده کړي دي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېژي چې: ای بني اسرائيلو! تاسو ته د ذلت او غلامی تحمل ډېر اسان کار دی او د ګېډې په مقابل کښې د هيڅ حقارت څخه غاړه نه غړوئ، نو تاسو لاړ شئ

(۱) مفردات الراغب ص۵۴
(۲) لسان العرب ج۱ ص۱۲۸
(۳) القاموس المحيط ج۳ ص۵۳۷
(۴) البحر المحيط ج۱ ص۳۸۰
(۵) تفسير ابن کثير ج۱ ص۱۰۱
(۶) في ظلال القرآن ج۱ ص۷۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښه مصر ته ورستانه شئ هلته د قبطیانو غلامي قبوله کړئ او په ترکاریو او کاسه پاکۍ باندي خپلې ګېډې مړې کړئ.

مګر د وروستني متصلي جملې ﴿ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ ﴾ سره ذکر شوی دوهم تفسیر ډېر ښه پیوند نیسي.

ه: د "ذِلّة" کلمه د جزیه قبلولو او جوړتیا څخه عبارت ده[۱]، کومه چې ورباندي د تجیر په حیث ولاړه وه او د هره جانبه یې احاطه کړې وه، د کومې څه زیات بیان چې ـ ان شاء الله ﷻ ـ د [آل عمران: ۱۱۲] لاندې راروان دی.

و: د "مَسْكَنَة" کلمه د حرص څخه کنایي ده چې په بني اسرائیلو باندي د عدم قناعت خیمه وهلې شوې ده او سترګي یې ورې دي چې هیڅ مړېښت نه لري[۲].

یو پښتون شاعر ویلي دي چې:

تر حرص پورته بله بلا نشته :: دا بلا د ستا په خونه شوه نزوله[۳]

## څو مطالب

۸ـ په دې مقام کښې د ﴿ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ﴾ د جملې په اړه لاندې مطالب ولولئ:

الف: په بني اسرائیلو کښې پیغمبرانو داسې مثال درلود لکه چې د آخر الزمان پیغمبر په امت کښې یې چې حقیقي علماء او حقیقي واعظان لري چې ټول په اتفاق سره په ډېر اخلاص د شریعت د اشاعت دپاره کار کوي.

هغوی ټولو د هغه شریعت د خورولو دپاره هلې ځلې کولې کوم چې په تورات کښې په موسی ﷺ باندې نازل شوی وه.

همدغه مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «كَادَتْ هَذِهِ الأُمَّةُ أَنْ تَكُونَ أَنْبِيَاءَ كُلُّهَا»[۴] یعني: کله چې د قیامت په ورځ نور امتونه د آخر الزمان امت درجات او امتیازات وګوري. نو وبه وایي چې نژدې ده چې دغه (آخر الزمان) امت ټول پیغمبران وګرځي (ټولو ته د نبوت درجات ورکړې شي).

ب: الله ﷻ ته معلومه ده چې بني اسرائیلو به خپل څومره پیغمبران وژلي او شهیدان کړي وي، خو د شهیدان کړې شوو پیغمبرانو په ډله کښې د زکریا ﷺ غوندې جلیل القدر پیغمبر هم شامل وه[۵].

---

[۱] تفسیر الطبري ج۱ ص۳۱۵

[۲] تفسیر البغوي ج۱ ص۷۸

[۳] د عبد الرحمن مومند دیوان ص۱۶۹

[۴] مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۶۰۴

[۵] تفسیر الخازن ج۱ ص۱۳۲؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۹۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: که څوک وايي چې: پوره واضحه ده چې پیغمبر وژل او شهید ګرځول ضرور ناحقه کار دی. نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد په همدغه مطلب باندې د "بغیر الحق" د کلماتو په نزول سره صراحت وکړی شو؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: دا د دې دپاره چې پخپله قاتلینو هم ذکر شوی قتل جائز نه ګاڼه خو د دې سره سره د همدغه قتل مرتکبین وګرځېدل او د حرص او خواهشاتو د اثر لاندې واقع شوه.

د: بني اسرائیلو ته خپلو خواهشاتو د پیغمبرانو علیهم السلام وژل زښت ډېر اسان کړي وه او هیڅ اهمیت یې ورته نه درلود. او دا څکه چې عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې: «كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ فِي الْيَوْمِ تَقْتُلُ ثَلاثَمِائَةَ نَبِيٍّ ثُمَّ يُقِيمُونَ سُوقَ بَقْلِهِمْ فِيْ آخِرِ النَّهَارِ»[۱] یعني: بني اسرائیل وه چې په یوه ورځ کښې به یې درې سوه (۳۰۰) تنه پیغمبران شهیدان کړه او بیا به یې د ورځې په آخر کښې د خپلو ترکاریو بازار په پښو ودراوه (او ګنه ګوڼه به یې پکښې جوړوله، تا به ویل چې هیڅ شی یې نه دی وژلی).

ه: که څوک وايي چې: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَـٰلِبُونَ ﴾ [الصافات:۱۷۳] یعني: او یقینًا زمونږ لښکر چې دی همدوی هرومرو غلبه موندونکي دي. نو پوښتنه دا ده چې: ایا د پیغمبرانو شهادت مغلوبیت نه دی؟

مونږ وایو چې: دغه سوال جواب به ـ ان شاء الله ﷻ ـ د [غافر: ۵۱] ایت لاندې په ښه تفصیل سره راشي، خو په دې مقام کښې مونږ د لاندې لنډو وضاحتونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

اول: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ویلي دي چې: «لَمْ يُقْتَلْ نَبِيٌّ قَطُّ مِنَ الأَنْبِيَاءِ إِلا مَنْ لَمْ يُؤْمَرْ بِالْقِتَالِ وَكُلُّ مَنْ أُمِرَ بِقِتَالٍ نُصِرَ»[۲] یعني: د پیغمبرانو د جملې څخه هیڅکله کوم پیغمبر وژل شوی نه دی مګر هغه چې په وسلوال جهاد باندې به مامور شوی نه وه.

او هر هغه پیغمبر چې په وسلوال جهاد باندې به مامور کړی شوی وه د هغه سره د الله ﷻ د پلوه نصرت کړی شوی دی (او د جنګ په میدان کښې نه دی شهید کړی شوی).

دوهم: مرګ خو حتمي دی نو د شهادت مرګ هم یو ډول نصرت دی چې د قیامت په ورځ به ورباندې هرڅوک قناعت وکړي چې نتائج یې وګوري.

دریم: په خپل ایمان باندې د مرګ او شهادت تر وخته پورې قائم او ثابت پاتې کېدل هم د الله ﷻ نصرت دی.

څلورم: د الله ﷻ نصرت لکه څنګه چې په غالبیت سره صورت نیسي همدارنګه په انتقام اخستلو سره هم صورت نیسي، نو د کوم شهید د قاتلینو څخه چې الله ﷻ انتقام واخلي نو په حقیقت کښې یې د شهید سره نصرت وکړ.

---

(۱) الدر المنثور ج۱ ص۱۷۸
(۲) المحرر الوجيز ج۱ ص۲۴۲؛ البحر المحيط ج۱ ص۳۸۳؛ تفسير القرطبي ج۱ ص۴۳۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾ ﴾

**[۶۲] یقینًا هغه کسان کومو چې (فقط په خوله) ایمان راوړی دی او هغه کسان کومو چې یهودیت غوره کړی دی.**

او (همدارنګه) د عیسی ﷵ د دین د پیروۍ مدعیان او د مختلفو ادیانو پیروان چې دي.

هرڅوک چې (د همدغو څخه په حقیقي معناوو کښې) په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځې (قیامت) باندې ایمان راوړي او صالح عمل وکړي.

نو د دوی دپاره د خپل رب ﷻ په نزد (د قیامت په ورځ) اجر دی او په دوی باندې به (هلته) نه ډاروي او نه به دوی غمژن وګرځي.

## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې ایت کښې هغه پوښتنه جوابه شوې ده کومه چې د وړاندېنیو ایتونو څخه چاته ذهن ته ورتله هغه دا چې: ایا څه چاره شته چې بني اسرائیل ورباندې د ذلت او مسکنت او هم د الله ﷻ د غضبه خلاص شي او نجات مونده کړي.

نو حاصل یې داسې کېږي چې: په دې زمانه کښې د خلاصي او نجات چاره فقط د محمد ﷺ د دین په قبول کښې منحصره ده، د همدغه دین څخه په غیر په بل یوه دین کښې هم خلاصی او نجات نه شي موندل کېدی.

## د کفارو څلور ګروپونه

۲ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د کفارو د څلورو ګروپونو بیان ته اشاره کړې ده چې لنډ تفصیل یې دا دی:

الف: د ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ په هکله علماوو کرامو[1] متعدد اقوال کړي دي خو بهتره دا ده چې دلته ترې منافقان مراد کړی شي کوم چې فقط په خولو "آمَنَّا" وایي او په زړه کښې ورباندې باور نه لري، د کومو بیان چې د [البقرة:۸] ایت کښې د کفارو د بیان ترڅنګ نازل شوی دی، کوم چې په همدغه ظاهري ایمان باندې د ابدي دوزخ څخه د نجات ورکوونکي ګومان کوي.

ب: په ﴿ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ ﴾ کښې د "هَادُوا" کلمه د "تَهَوَّدُوا" معنی ورکوي[2]. یعني: هغه کسان کومو چې یهودیت غوره کړی دی او خپل ځانونه د موسی ﷵ امتیان او پیروان معرفي کوي.

ج: دغه کسانو ته د یهودانو لقب څکه ورکړی شوی دی چې:

---

(۱) البحر المحیط ج۱ ص۳۸۹

(۲) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۰۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول. د "یهود" کلمه عربي ده او په اصل کښې د "هَوَادَة" ـ لکه "قضاوة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د توبې معنی ورکوي[۱].

څرنګه چې د دغه قوم توبې په یوه امتیازي ډول سره صورت نیولی وه چې د خپلو خانونو په وژولو سره یې د خوسي د عبادت څخه خپله پښېماني څرګنده کړه نو ذکر شوی لقب ورته د یوه یادګار په توګه اینښودلی شوی دی.

دوهم. دغه کلمه (یهود) غیر عربي ده چې په اصل کښې "یَهُوذَا" وه کوم چې د یعقوب ﷺ د مشر زوی نوم وه[۲]، نو د تخفیف څخه وروسته د یعقوب ﷺ ټول زوزات په همدغه نامه یاد شوه.

د. په ﴿ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلنَّصَٰرَىٰ ﴾ کښې د "نَصَارَا" کلمه د هغو خلکو دپاره نوم ګرځېدلې ده کوم چې د عیسی ﷺ د دین مدعیان دي چې مونږ د همده امتیان یاستو.

ه: دغو خلکو ته ذکر شوی نوم د دې کبله اینښودلی شوی دی چې:

اول. "نَصَارَا" د "نصران" جمعه ده چې د نصرت کوونکو معنی ورکوي[۳]، دغه خلک د عیسی ﷺ سره د دعوت په چلولو کښې د نصرت وعده ورکوونکي وه لکه چې د [الصف:۱۴] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

دوهم. په شام کښې یوه قریه شته چې "نَاصِرَه" نومېږي همدغې قریې ته کله کله د عیسی ﷺ نسبت هم کېږي او "عِیْسَى النَّاصِرِي" ورته ویل کېږي[۴].

نو ذکرې شوې قریې ته د عیسی ﷺ د پیروانو نسبت هم صورت نیولی دی نو په دې تقدیر د "نَصَارَا" کلمه اصلاً "نَاصِرِیِین" وه خو د غیر قیاسي تغیراتو د امله ترې "نَصَارَا" کلمه جوړه شوې ده، او په نسبت کښې خو غیر قیاسي تغیرات او تخفیفات په عربي کلماتو کښې عادي خبره ده.

و: په ﴿ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ ﴾ کښې د "صَابِئِیْن" کلمه د "صُبُوء" ـ لکه "قُتُول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د یوه دین څخه بل دین ته د وتلو معنی ورکوي[۵].

ز: د دغې ډلې کفارو په تعین کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي چې تقریبًا اتو (۸) قولونو ته رسېږي[۶].

که څه هم ځینو مفسرینو کرامو دغه ډله کفار د هغو کفارو څخه عبارت اخستي دي کوم چې ثابت دین ونه لري[۷]، کله یوه دین ته اوړي او کله بل دین ته اوړي؛ مګر مونږ ته بهتره بریښي چې

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۴۳۹
(۲) تفسیر القرطبي ج۱ ص۴۳۲؛ تفسیر القاسمي ج۲ ص۱۴۳
(۳) القاموس المحیط ج۴ ص۳۸۱
(۴) تفسیر البغوي ج۱ ص۷۹؛ الدر المنثور ج۱ ص۱۸۲؛ لسان العرب ج۵ ص۲۱۱
(۵) لسان العرب ج۱ ص۱۰۸
(۶) زاد المسیر ج۱ ص۷۸؛ التفسیر الکبیر ج۳ ص۱۰۵؛ اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۱۳۶
(۷) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۰۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه ډله کفار د هغې کفري ډلې څخه عبارت شي کومه چې د ذکرو شوو درېواړو ډلو څخه مغایره وي لکه دهریان او مشرکان او نورې مختلفې کفري ډلې.

خو چې کله وغواړي چې د خپل اُخروي نجات دپاره په یوه بل‌ډیني ډله کښې شامل شي او خپلو ځانونو ته نجات ورکړي. نو د نجات لاره د آخر الزمان پیغمبر ﷺ اتباع ده او بس.

## یو اعرابي تحلیل

۳_ څه لرې نه ده چې په ذکر شوې ایت کښې د اعراب په لحاظ بل ډول تحلیل هم صورت ونیسي خو مونږ فقط د یوه احتمال په خلاصه باندې اکتفاء کوو هغه دا چې[1]:

الف: په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ کښې د ﴿ ٱلَّذِينَ ﴾ کلمه دخپلو معطوفاتو سره د "إِنّ" دپاره اسم ده.

ب: د ﴿ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ﴾ کلمات د همدغه اسم څخه بدل واقع شوي دي.

ج: په همدغه بدل کښې د "مِنْهُمْ" کلمات مقدر دي چې ضمیر یې (هُمْ) د ذکر شوي "إنّ" اسم ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ او نورو (معطوفاتو) ته راجع دی.

د: ﴿ فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ ﴾ الآية د همدغه "إنّ" دپاره خبر دی.

نو حاصل یې داسې راځېژي چې: یقینًا هغه کسان چې په منافقت سره "آمَنَّا" وایي او هغه کسان چې یهودیت یې غوره کړی دی او همدارنګه هغه کسان چې ځانونو ته د عیسی ﷺ امتیان وایي او هغه کسان چې د صابئینو لقب لري (هره کفري ډله چې وي).

یا په بل عبارت د دغو کسانو څخه چې هرڅوک په حقیقي معناوو کښې په الله ﷻ او د قیامت په ورځ ایمان راوړي نو دوی ته د خپل رب ﷻ په نزد لوی اجر دی او په دوی باندې به د قیامت په ورځ نه ډاروي چې دوزخ ته به واچولی شي او نه به غمژن شي چې ای کاش چې ایمان مو راوړی وی.

لنډه دا چې نن ورځ نجات فقط په همدغه محمدي (ﷺ) دین کښې منحصر دی او په بل یوه دین کښې هم نجات او خلاصون نشته.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: د نجات دپاره خو نن ورځ د محمد ﷺ په صداقت او د قرآن کریم په حقانیت باندې عقیده خپلول هم ضرور دي. نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد په ایت شریف کښې فقط د ﴿ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ ﴾ په نزول سره اکتفاء وکړی شوه؟

مونږ وایو چې: په حقیقي معناوو کښې په الله ﷻ او د قیامت په ورځ د ایمان د راوړلو سره په محمد ﷺ او هم په قرآن کریم باندې ایمان راوړل ضرور او لازم دي، نو په صراحت سره ذکر ته یې څه ارتیا نه وه، والله ﷻ أعلم وعلمه أتم وأکمل.

[1] البحر المحیط ج۱ ص۳۹۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُوا۟ مَا فِيهِ
لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۖ فَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ
لَكُنتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْا۟ مِنكُمْ فِى ٱلسَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟
قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿٦٥﴾ فَجَعَلْنَٰهَا نَكَٰلًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٦٦﴾ ﴾

[۶۳] او هغه وخت (درېه یاد کړئ) چې مونږ ستاسو څخه کلک عهد واخست او هم مو ستاسو د (سرونو) د پاسه غر دراوچت کړ چې تاسو په قوت سره هغه کتاب واخلئ (قبول کړئ) کوم چې مونږ تاسو ته درکړی دی، او تاسو هغه احکام (په عمل سره) یاد کړئ کوم چې پکښې ثبت دي، شاید چې تاسو (خپل ځانونه د دوزخ څخه) په وقایه کښې وساتئ.

[۶۴] بیا تاسو (خپل عهد ته) د دغه تجدید څخه وروسته شا واړوله (او په عمل کښې مو پیاده نه کړ).

نو که د الله ﷻ فضل او د همده ﷻ رحمت په تاسو باندې نه وی (نازل) شوی نو هرومرو به تاسو د زیانکارانو څخه ګرځېدلي وی.

[۶۵] او بې شکه تاسو په هغو کسانو باندې علم لرئ (ښه یې پېژنئ) کومو چې همدا ستاسو د جملې څخه د خالي په ورځ کښې (د الله ﷻ د حکم څخه) تجاوز وکړ (چې د ماهیانو ښکار کولو ته یې چل جوړ کړ)، نو مونږ ورته (تکویني امر وکړ) چې تاسو ذلیله بېزوګان جوړ شئ (نو سمدستي هغوی د خرمې بېزوګان جوړ شوه).

[۶۶] نو مونږ دغه ښار (او ښاریان) د هغو ښارونو دپاره عبرت وګرځول کوم چې د همدې ښار په وړاندې (شاوخوا کښې پراته) وه او د هغو ښارونو دپاره هم کوم چې د همدې ښار څخه وروسته (د قیامت تر ورځې پورې) اباديږي، او (همدارنګه مو دغه ښار) د متقیانو دپاره لوی پند (نصیحت) وګرځاوه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

که څه هم د [البقرة:۴۹] ایت څخه راپه دېخوا بني اسرائیلو ته د هغو نعمتونو د یادښت لړه راروانه ده کومو چې په هغوی باندې د تاریخ په اوږدو کښې صورت نیولی وه، او موقع په موقع د هغوی ناشکریو ته هم اشارې شوې دي؛ خو په عارضي توګه په وړاندېني ایت کښې هغوی ته د هغې لارې بیان نازل شو په کومې کښې چې هغوی ته د ذلت او مسکنت او د الله ﷻ د غضب څخه د نجات او خلاصون چاره ښودلې شوې وه.

څرنګه چې د دغې لارې بیان اختتام ومونده نو په دې ایتونو کښې بیا د نعمتونو او د ناشکریو د یادښت لړۍ پیل شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! بني اسرائیل مخاطب کړه او زمونږ د پلوه ورته ووایه چې:

۱_ ای بني اسرائیلو! تاسو هغه وخت یاد کړئ چې مونږ تاسو ته همدا ستاسو د هدایت دپاره کتاب (تورات) درواستاوه چې لنډ تفصیل یې دا دی:

الف: تاسو مونږ ته د کتاب د نزول څخه وړاندې وعده راکړې وه چې د دغه کتاب احکام به په عمل سره پیاده کوئ.

ب: خو کله چې تورات نزول وموند نو تاسو په خپله وعده باندې وفا ونه کړه او موسی ﷺ ته مو په صراحت سره وویلې چې د دې کتاب احکام مونږ نه شو عملي کولی.

ج: بیا مونږ په تاسو باندې د پاسه د فسلطین د غرونو څخه یو غر دراوچت کړ، چې تاسو په خپله وعده باندې ودرېږئ، او هغه احکام په ښه قوت سره واخلئ کوم چې په دغه کتاب کښې نازل شوي دي، کوم چې تاسو غوښتي وه. یا په بل عبارت: تاسو د دغه کتاب احکام مه هېروئ، شاید په دغه صورت کښې به تاسو خپل ځانونه د خپل رب ﷻ د عذابه په وقایه کښې وګرځوئ. او ښه پوره تقوی داران به جوړ شئ.

د: که تاسو ذکره شوې توصیه قبوله نه کړئ نو څه لرې نه ده چې همدغه غر دربانديې دروغورځولی شي او تاسو ټول چیت پیت کړي.

هـ: چې په نتیجه کښې تاسو خپل عهد تجدید کړ او وعده مو راکړه چې مونږ به د دغه کتاب احکام عملي کوو او هېروو به یې نه.

و: خو د همدغه تجدید څخه وروسته هم تاسو په خپل عهد باندې ونه درېدئ او جنایاتو ته مو لاس واچاوه حتی چې د همدغه کتاب په تحریف باندې مو هم صرفه ونه کړه.

ز: که بالفرض په تاسو باندې د الله ﷻ فضل او د همده ﷻ رحمت نزول نه وی موندلی نو تاسو به هرومرو په دنیا او آخرت کښې د زیانکارانو د ډلې څخه ګرځېدلي ژئ، لکه څنګه چې ستاسو د جملې څخه أصحاب السبت د زیانکارانو څخه وګرځېده.

۲_ نو ای د دې زمانې بني اسرائیلو! تاسو په خپلو پلرونو باندې د ذکر شوي فضل او رحمت شکریه وکړئ او په آخر الزمان پیغمبر ﷺ او په آخر الزمان کتاب (قرآن کریم) باندې د حقانیت عقیده ولرئ.

۳_ ای بني اسرائیلو! تاسو خو په هغو کسانو باندې ښه پوره علم لرئ او ښه پوره درته معلوم دي کومو چې د خالي په ورځ د الله ﷻ حکم د پښو لاندې کړی وه او حیلې او پلمې یې ورته تراشلې وې چې څه بیان یې دا دی:

الف: مونږ هغوی ته امر کړی وه چې د خالي په ورځ به په دریاب کښې د ماهیانو ښکار نه کوئ چې په دغه کار کښې ستاسو عصیان نغښتی دی.

ب: هغوی به د خالي په ورځ د سیند په څنډه کښې ماهیانو ته بندې واچوله (هلته به یې راایسار کړه) او د یکشنبې په ورځ به یې راونیوه چې مونږ خو د خالي د ورځې احترام کړی دی او د ښکار

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کولو څخه مو اجتناب خپل کړی دی.

ج: څرنګه چې په حیلو او پلمو سره حقیقت بدلون نه شي موندلی نو مونږ په خپل تکویني امر سره هغوی ټول مخاطب وګرځول چې، تاسو ټول بېزوګان جوړ شئ چې سمدستي ټول بېزوګان وګرځېده، او ټول د خرمې د ذلت او حقارت سره مخامخ شوه.

۴ـ نو ای پیغمبره! مونږ ذکره شوې قریه (چې اوسېدونکي یې بېزوګان ګرځولي شوي وه) د لاندې صفاتو درلودونکې وګرځوله:

الف: دغه قریه مو د هغو ټولو قریو (کلو) دپاره عبرت وګرځوله کومې چې د ذکرې شوې قریې په وړاندې او شاوخوا پرتې وې، چې تاسو د دغسې جنایت د ارتکاب څخه ځانونه وساتئ ترڅو ستاسو څخه بېزوګان جوړ نه کړی شي.

ب: بلکې ذکره شوې قریه مو د قیامت د ورځې پورې د هغو ټولو قریو او ښارونو دپاره د عبرت درس ورکوونکې وګرځوله کوم چې د همدغې قریې څخه وروسته ابادېږي او موجودېږي.

ج: بالآخره دغه قریه مو د متقیانو دپاره وعظ او نصیحت جوړه کړه چې خپله پرهیزګاري او تقوی وربانديې قوي کړي او د خپل رب ﷻ په کامل علم او کامل قدرت باندې ښه پوره مطمئن وګرځي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ ﴾ الآیة کښې چې کومې واقعې ته اشاره شوې ده د هغې ذکر په [البقرة:۹۳] ایت کښې هم راروان دی او په [الأعراف:۱۷۱] ایت کښې هم لږ څه تفصیلوار نازل شوی دی.

ذکره شوې واقعه په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو ښه پوره واضحه کړې ده[۱]، او مونږ یې د الله ﷻ په توفیق وړاندې د مطلب په خلاصه کښې څو لنډو ټکو ته اشاره وکړه.

## "طُور" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ ﴾ کښې د "طُور" کلمه دوه معناوې لري، چې یوه مطلق غر ده. او بله هغه خاص غر ده په کوم کښې چې موسی ؑ مناجات کړی وه[۲].

خو ظاهره دا ده چې په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې څخه د فلسطین د غرونو څخه یو غر اراده کړی شي[۳]. او دا ځکه چې:

الف: دا واقعه د هغې واقعې څخه جدا ده کومه چې د موسی ؑ د مناجات په وخت کښې د طور د غره په څنګ کښې واقع شوې وه کومې ته چې د [البقرة:۵۵] ایت کښې اشاره شوې ده[۴].

(۱) تفسیر القرطبي ج۱ ص۴۳۶؛ تفسیر الطبري ج۱ ص۳۲۴
(۲) مفردات الراغب ص۳۱۸
(۳) البحر المحیط ج۱ ص۳۹۲
(۴) المحرر الوجیز ج۱ ص۲۴۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(۱) الم

ب. د همدغې واقعې په بیان کښې په [الأعراف:۱۷۱] ایت کښې د ﴿ ٱلْجَبَل ﴾ په کلمه باندې صراحت نازل شوی دی چې د مطلق غره معنی ورکوي، نو معلومه شوه چې دلته د "الطُّور" څخه مطلق غر مطلب دی، والله ﷻ أعلم.

## "تَوَلِّي" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ﴾ کښې د ﴿ تَوَلَّيْتُم ﴾ کلمه د "تَوَلِّي" ـ لکه "تَخَوُّف" ـ څخه اشتقاقه شوې ده او د "عَنْ" توری ورسره مقدر دی چې د اعراض او عدم نژدېکت معنی ورکوي[۱].
یعني: تاسو د ذکر شوي عهد او د هغه د تجدید څخه وروسته د تاریخ په اوږدو کښې د خپل کتاب (تورات) د احکامو څخه اعراض وکړ او مخ مو ترې واړاوه (او د ډېرو جنایاتو مرتکب وګرځېدلئ).

## د بني اسرائیلو جنایات

۴ـ که څه هم مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۵۷] ایت لاندې د بني اسرائیلو د جنایاتو څو مثالونه لیکلي دي مګر د هغوی د جنایاتو یو اوږد نوملیک په [النساء:۱۵۳ـ۱۶۱] ایتونو کښې راروان دی. هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## أصحاب السبت څوک وه؟

۵ـ په ﴿ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْا۟ مِنكُمْ فِى ٱلسَّبْتِ ﴾ کښې د ﴿ ٱلَّذِينَ ﴾ کلمه د هغو کسانو څخه کنایي ده د کومو څخه چې د [النساء:۴۷] ایت کښې په ﴿ أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ ﴾ سره تعبیر نازل شوی دی د کومو حالات چې په [الأعراف:۱۶۳ـ۱۶۶] ایتونو کښې په زیات تفصیل سره راروان دي.
دغه ډله کسان د بني اسرائیلو څخه وو او د داوُد ﷺ په زمانه کښې تېر شوي دي[۲]، په دغې ډلې باندې د خالي په ورځ د ماهیانو ښکار کول حرام ګرځولی شوی وه، خو هغوی په چل ول سره د دغه حکم څخه اعراض وکړ چې په همدغې ورځ کښې به یې ماهیان په اوبو کښې محاصره کړه او د وتلو مخه به یې ورته بنده کړه او د یکشنبې په ورځ به یې رانیول او کورونو ته به یې راوړل، چې په نتیجه کښې ترې الله ﷻ بېزوګان جوړ کړه او مسخه یې کړه.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: په ﴿ فَجَعَلْنَٰهَا نَكَٰلًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا ﴾ کښې د "هَا، هَا، هَا" درېواړه ضمائر څه شي ته راجع دي؟
مونږ وایو چې: د دغو ضمائرو په مرجع کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[۳]،

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۷۱
(۲) تفسیر القرطبي ج۱ ص۴۴۲
(۳) تفسیر الخازن ج۱ ص۱۳۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې په اصل مطلب باندې کوم اثر نه غورځوي. مګر مونږ ته بهتره برېښي چې: دغه ضمائر به د "القرْيَة" کلمې ته راجع وي په کومې باندې چې دلته مقام دلالت کوي او په [الأعراف:۱۶۳] اېت کښې ورباندې صراحت نازل شوی دی.

دا د يو پلوه او د بله پلوه د ﴿ لِمَا بَيْنَ يَدَيْهَا ﴾ څخه هغه ښارونه مطلب دي کوم چې د ذکر شوي ممسوخ ښار په شاوخوا کښې پراته وه. او د ﴿ وَمَا خَلْفَهَا ﴾ څخه هغه ښارونه مراد دي کوم چې د هغوی څخه وروسته د قيامت تر ورځې پورې په ځمکه باندې نوي ابادېږي او جوړېږي[۱].

## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: په ذکر شوي عبارت کښې د "نَكَال" کلمه څه معنی؟

مونږ وايو چې: دغه کلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده په کوم سره چې يو شی د بل شي څخه منعه کول کېږي[۲]، لکه چې آس په قيضې سره د سرکشۍ څخه اداره کېږي، چې په دې مقام کښې ترې مونږ په عبرت سره تعبير کولی شو. نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې:

مونږ دغه مسخه کړې شوی ښار د هغو ښارونو دپاره د عبرت درس وګرځاوه کوم چې د دغه ممسوخ ښار په شاوخوا کښې پراته وه، او د هغو ښارونو دپاره مو هم عبرتي درس جوړ کړ کوم چې د قيامت تر ورځې پورې په ځمکه باندې ابادېږي.

نو بايد هيڅ ښاريان د الله ﷻ احکام په چل ول سره د پښو لاندې نه کړي که نه نو الله ﷻ ته د جنايتکارانو مسخه کول په هره زمانه کښې اسان کار دی، او څه مشکلات ورته نه لري.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۸_ که څوک وايي چې: ايا د ذکرو شوو مسخه کړی شوو کسانو نسل پاتې شو؟

مونږ وايو چې: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ويلي دي چې هيڅکله مسخه کړی شوی بنيادم يا شی د درېوو ورځو څخه اضافه ژوندی نه دی پاتې شوی، او نه يې څه خوړلي دي او نه يې څه شی څښلي دي او بالآخره نه يې نسل او زوزات پاتې شوي دي[۳].

﴿ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةً ۖ قَالُوٓا۟ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ قَالَ أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ ۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذَٰلِكَ ۖ فَٱفْعَلُوا۟ مَا تُؤْمَرُونَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا۟

(۱) روح المعاني ج۱ ص۲۸۴
(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۶۷۸؛ مفردات الراغب ص۵۲۷
(۳) الدر المنثور ج۲ ص۱۸۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الم(۱) ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ
ٱلنَّٰظِرِينَ ﴿٦٩﴾ قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ إِنَّ ٱلْبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّآ إِن شَآءَ
ٱللَّهُ لَمُهْتَدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ ٱلْأَرْضَ وَلَا تَسْقِى ٱلْحَرْثَ
مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا ۚ قَالُوا۟ ٱلْـَٰٔنَ جِئْتَ بِٱلْحَقِّ ۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾

[۶۷] او هغه وخت (یاد کړه) چې موسی ﷺ خپل قوم ته وویلې چې یقیناً الله ﷻ تاسو ته امر کوي چې د (غواګانو څخه) یوه غوا ذبحه کړئ.
هغوی (بني اسرائیلو) وویلې چې: ایا ته مونږ په ملنډو سره نیسې (ایا ته توقې ټقالې کوې)؟.
(موسی ﷺ) وویلې چې: زه په الله ﷻ سره پنا غواړم چې زه د جاهلانو څخه وګرځم (د الله ﷻ په امر کښې توقې کول خو د جاهلانو کار دی).
[۶۸] هغوی وویلې چې: ته زمونږ دپاره د خپل رب ﷻ څخه وغواړه چې مونږ ته واضحه کړي، چې هغه څنګه غوا ده؟ (چې مونږ یې په ذبحه باندې مامور کړی شوي یاستو).
(موسی ﷺ) وویلې چې: یقیناً زما رب ﷻ وایي چې بې شکه دا یوه غوا ده چې نه زړه ده او نه خوسی (خوانه) ده، (بلکې) د دغه عمر ترمنځ ده.
نو تاسو هغه فعل (ذبحه) وکړئ په کوم باندې چې تاسو مامور کړی شوي یاست.
[۶۹] هغوی وویلې چې: (ای موسی!) ته زمونږ دپاره د خپل رب ﷻ څخه وغواړه چې د هغې رنګ څنګه دی؟
(موسی ﷺ) وویلې چې: یقیناً زما رب ﷻ وایي چې بې شکه دا یوه غوا ده چې زیړه ده رنګ یې تک زیړ دی، چې کتونکي خوشالوي (د خلکو ډېره خوښېږي).
[۷۰] (بني اسرائیلو) وویلې چې: (ای موسی!) ته زمونږ دپاره د خپل رب ﷻ څخه وغواړه چې دا څنګه غوا ده (نور امتیازات یې څه شی دي)؟.
یقیناً په مونږ باندې غواګانې اشتباه اچوي (نه یې پېژنو چې کومه یوه به وي). او یقیناً مونږ "ان شاء الله" هرومرو لاره موندونکي (د هغې لاس ته راوړونکي) یاستو.
[۷۱] موسی ﷺ وویلې چې: یقیناً زما رب ﷻ وایي چې یقیناً دا یوه غوا ده چې محنت کوونکې نه ده، (نه) یې ځمکه قولبه کړې ده او نه یې (په ارهټ چلولو سره) کښت خړوب کړی دی.
(دا غوا) روغه ده (ګوډه یا ړنده نه ده او د زیړ رنګ څخه په غیر د بل رنګ) تکی پکښې نشته (ښکرونه او ښنګرې یې هم زیړ دي).
(بني اسرائیلو) وویلې چې: اوس دې حق (بیان) راووړ (غوا دې واضحه کړه). نو هغوی (ذکره شوې غوا راونیوه او) ذبحه یې کړه، حال دا چې هغوی نژدې نه وه چې (دا کار) وکړي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې یوې قیصې ته اشاره شوې ده په کومه کښې چې د بني اسرائیلو د سپین سترګیو یو مثال نغښتی دی د کومې بیان چې ــ ان شاء الله ﷻ ــ په توضیحاتو کښې راروان دی. نو حاصل به یې داسې راوځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د بني اسرائیلو یوه قیصه قرائت کړه کومه چې د هغوی په زیات لجاجت او سپین سترګی باندې دلالت کوي. هغه دا چې:

۱ــ موسی ﷺ خپل قوم ته وویلې چې: د جګړې د فیصله کولو دپاره الله ﷻ تاسو ته امر کوي چې تاسو یوه غوا ذبحه کړئ نو بیا به ماته د فیصلې طریقه رازده کړي او جګړه به خلاصه شي.

۲ــ بني اسرائیلو موسی ﷺ ته په جواب کښې وویلې چې: ایا ته په مونږ باندې ملنډې وهې؟ ایا ته مونږ ته پیغور راکوې چې مونږ د خوسي عبادت کړی وه؟

۳ــ موسی ﷺ په ډېرې کرکجنې لهجې سره وویلې چې ملنډې وهل خو د جاهلانو کار دی او زه په الله ﷻ سره د دې څخه پنا غواړم چې زه د جاهلانو د جملې څخه وګرځم او الله ﷻ ته د توقو او مسخرو نسبت وکړم.

۴ــ هغوی بیا خبره ورمسترده کړه چې زمونږ دپاره د خپل رب ﷻ څخه پوښتنه وکړه چې مونږ د څه ډول غوا په ذبحه باندې مامور شوي یاستو، د زړې غوا په ذبحه که د ځوانې غوا په ذبحه؟

۵ــ موسی ﷺ بیا هغوی مخاطب کړه چې:

الف: ما د خپل رب ﷻ څخه د همدغې خبرې وضاحت وغوښت نو په جواب کښې یې راته وویلې چې دغه غوا نه زړه ده او نه ځوانه (سخوندر) ده، بلکې د همدغو دواړو عمرونو ترمنځ ده.

ب: ای قومه! نورې پوښتنې پرېږدئ نو تاسو هغه کار وکړئ په کوم باندې چې تاسو مامور کړی شوي یاست.

۶ــ هغوی په ذکر شوي جواب باندې قناعت خپل نه کړ او بیا یې موسی ﷺ مخاطب کړ چې زمونږ دپاره د خپل رب ﷻ څخه وغواړه چې د همدغې غوا رنګ څنګه دی، هغه سپینه ده او که زېړه ده او یا بل رنګ ده؟.

۷ــ موسی ﷺ دغه پوښتنه هم ورجوابه کړه چې زما رب ﷻ وایي چې دغه زېړه غوا ده چې رنګ یې تک زیړ دی، او ډېره ښائسته بربښي چې د کتونکو ډېره خوښېږي.

۸ــ هغوی په دغه وضاحت باندې هم قناعت ونه کړ او بیا یې موسی ﷺ مخاطب وګرځاوه چې ای موسی! ته خاص زمونږ دپاره د خپل رب ﷻ څخه څه نور وضاحت هم وغواړه چې متوسطې زیړې غواګانې هم زښتې ډېرې دي او په مونږ باندې اشتباه راځي چې مونږ به د کومې زیړې متوسطې غوا په ذبحه باندې مامور کړی شوي یاستو.

خو دومره وایو چې که د الله ﷻ اراده وي نو مونږ لاره موندونکي یاستو او د ذکرې شوې غوا په موندلو کښې به بریالي شو.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۹ـ موسی ﷺ هغوی ته نور وضاحت هم ورکړ چې: یقیناً زما رب ﷻ وایي چې:

الف: دغه زیړه متوسطه غوا محنتي غوا نه ده چې زمکه یې قولبه کړې وي او نه دغې غوا د ارهټ په چلولو سره زحمت ګاللی دی، چې د زحمت ګاللو نښې وریاندې لیدلی کېږي. بلکې دغه کارېدلې نه ده او استعمال شوې نه ده.

ب: په دغې غوا کښې څه عیب نشته او د عیبونو څخه سالمه او روغه ده چې نه ړنده ده او نه ګوډه ده او نه بل څه عیب درلودونکې ده.

ج: دغه غوا تکه زیړه ده او د بل رنګ ټکي او داغ وریاندې نشته چې سپین یا تور خال ولري.

۱۰ـ کله چې موسی ﷺ د غوا ذکر شوی وضاحت هغوی ته واوراوه نو هغوی ټولو په یوه خوله وویلې چې ای موسی! ایله چې اوس دې په حق بیان او پوره څرګند بیان سره راتګ وکړ او هغه غوادې راته پوره وښودله د کومې په ذبحه کولو باندې چې مونږ مامور ګرځولي شوي یاستو.

۱۱ـ ای پیغمبره! د ذکر شوي سوال جواب څخه وروسته بني اسرائیلو د نوموړې غوا د موندلو هڅې پیل کړې، چې د ډېرزیار او کوښښ څخه وروسته یې وموندله او ذبحه یې کړه.

حال دا چې هغوی نژدې نه وه چې دغه کار وکړي او دغه امر ته عملي جامه ورواغوندي.

## توضیحات

۱ـ په ذکرو شوو ایتونو کښې چې کومې قیصې ته اشاره شوې ده هغه علماوو کرامو په ګڼو ډولونو سره روایته کړې ده [۱]، خو مونږ فقط د لاندې یوه روایت په لنډیز باندې اکتفاء کوو[۲]:

الف: په بني اسرائیلو کښې یو سړی وه چې مال او ثروت یې درلود خو د دې سره سره یې اولاد نه درلود بلکې فقط د تره زوی یې وارث وه او بس.

ب: په نوموړي باندې د خپل تره زوی ورجګ شو او قتل یې کړ ترڅو د هغه مال او ثروت د خپلې قبضې لاندې راولي.

ج: د قتل څخه وروسته یې د نوموړي لاش د یوه بل کلي په شاوخوا کښې وغورځاوه ترڅو په هغوی باندې دعوه وکړي چې دا تاسو وژلی دی. هلئ ژرشئ ماته د همدغه مقتول دیت راکړئ.

د: د بل کلي خلکو انکار وکړ او د مقابلې دپاره یې توري ته لاس کړ، نژدې وه چې ښه غټه فتنه جوړه شي.

ﻫ: خو د نېکه مرغه دواړه قبیلې (کلي) په دې صلاح شوه چې په همدې موضوع کښې چې موسی ﷺ کومه فیصله وکړي همغه فیصله به دواړه جانبه منو.

و: موسی ﷺ د دواړو جانبو مجموعې ته امر وکړ چې تاسو یوه غوا ذبحه کړئ ترڅو د همدغې مذبوحې غوا په ذریعه الله ﷻ مقتول راژوندی کړي او په خپل قاتل باندې ګوته کېږدي.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱ ص۳۳۷
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۸۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څو نکات

۲_ په دې مقام کښې باید لاندې نکات په نظر کښې وساتل شي:

الف: په ﴿ أَن تَذۡبَحُواْ بَقَرَةٗ ﴾ کښې د ﴿ بَقَرَةٗ ﴾ کلمه د يوې غوا دپاره وضعه شوې ده چې "ة" پکښې په وحدت باندې دلالت کوي، او بدون د "ة" څخه د ډېرو غواګانو معنی ورکوي[۱]، لکه چې په ﴿ إِنَّ ٱلۡبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيۡنَا ﴾ کښې ترې جمعيت مراد دی.

ب: ذکره شوې کلمه ﴿ بَقَرَةٗ ﴾ د خپل لفظ څخه مذکر نه لري بلکې د مذکر دپاره يې د "ثَوْر" _لکه "قَوْل"_ کلمه وضعه شوې ده.

لکه څنګه چې د "نَاقَة" کلمه (ښځه اوښه) د خپل لفظ څخه مذکر نه لري بلکې د مذکر (نر اوښ) دپاره د "جَمَل" _لکه "شَرَف"_ کلمې وضعه موندلې ده.

ج: په ﴿ لَّا فَارِضٞ وَلَا بِكۡرٌ عَوَانُۢ بَيۡنَ ذَٰلِكَ ﴾ کښې د ﴿ فَارِضٞ ﴾ کلمه د هغې غوا نوم دی کومه چې د ډېر زوړوالي د کبله د بچيو زېږولو څخه لوېدلې وي او د ﴿ بِكۡرٌ ﴾ کلمه هغې غوا ته ويل کېږي کومه چې کم عمره وي او د پچيو د زېږولو وخت ته نه وي رسېدلې[۲].

بالآخره په همدغه عبارت کښې د ﴿ عَوَانُۢ ﴾ کلمه د "متوسط" د کلمې سره مترادفه ده[۳]، يعني د کومې غوا ذبحه کول چې په تاسو باندې لازم ګرځول شوي دي هغه نه زړه ده او نه وړه ده بلکې د همدغه مذکور عمر ترمنځ ده.

د: په ﴿ صَفۡرَآءُ فَاقِعٞ لَّوۡنُهَا ﴾ کښې د ﴿ فَاقِعٞ ﴾ کلمه د زېړ رنګ په تاکيد او سوچه والي باندې دلالت کوي[۴]، نو په دې مقام کښې يې مونږ په سوچه زېړې غوا سره معنی کوو او وايو چې "تکه زېړه غوا".

هـ: په ﴿ بَقَرَةٞ لَّا ذَلُولٞ تُثِيرُ ٱلۡأَرۡضَ وَلَا تَسۡقِي ٱلۡحَرۡثَ ﴾ کښې د "لا" اولنی توری د نفي دپاره دی، او د "لا" دوهم توری د همدغې نفي تاکيد افاده کوي[۵].

و: د ﴿ ذَلُولٞ ﴾ کلمه پکښې د "ذِلَّة" _لکه "قِلَّة"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې په مقابل کښې يې "عِزَّة" استعمالېږي.

ز: همدغه "ذِلَّة" په متصلو دوه وو جملو ﴿ تُثِيرُ ٱلۡأَرۡضَ وَلَا تَسۡقِي ٱلۡحَرۡثَ ﴾ سره تفسير شوی دی. نو حاصل يې داسې راځيږي چې دغه غوا داسې غوا نه ده چې ځمکه يې اړولې او قولبه کړې وي

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۴
(۲) مفردات الراغب ص۵۵، ۳۹۰
(۳) لسان العرب ج۱۳ ص۲۹۹
(۴) القاموس المحیط ج۳ ص۵۱۱
(۵) تفسیر الکشاف ج۱ ص۱۵۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زراعت ته په ارهټ ګرځولو سره محنت ويستلی وي چې د محنت اثار پکښې د ورایه برېښي اويا يې د جغ د کبله مورې مورې ګرځېدلی وي او کناتې يې په چوکې سره داغ داغ وي.
ح: په ﴿ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا ﴾ کښې د ﴿ مُسَلَّمَةٌ ﴾ کلمه دلته د روغې غوا معنی ورکوي[۱]، چې ګوډه او ړنده نه ده، او نه بل څه عيب لري.
ط: په همدغه عبارت کښې د "شِيَةَ" کلمه په اصل کښې "وَشيٌ" _لکه "وَعْدٌ"_ وه چې کله ترې د "و" توری حذف شو نو په آخر کښې يې "ة" د عوض په توګه اضافه کړی شوه نو "شِيَة" _لکه "عِدَة"_ ترې جوړه شوه. "شِيَة" د بدل رنګ ټکي يا خال ته ويل کېږي[۲].
يعني ذکره شوې غوا تکه زيړه ده چې د بل رنګ يو ټکی هم پکښې شتون نه لري، بلکې ښکرونه او ښنګرې يې هم سوچه زيړ دي.

## غوا مونده شوه او لانجه ختمه شوه

۳_ د ﴿ قَالُواْ ٱلۡـَٔـٰنَ جِئۡتَ بِٱلۡحَقِّ ﴾ د جملې څخه د اشارې په توګه معلومېږي چې هغوی مطلوبه غوا وپېژانده چې په نژدې ځای کښې يې شتـون درلود. نو د همدې کبله يې په جرئت سره ذکره شوې جمله موسی ﷺ ته ورواوروله، که نه نو خبره به يې نوره هم اوږده کړې وی.
او شايد چې هغوی به سمدستي په عمل باندې پيل کړی وي او ذکره شوې نقشه به يې انجام کړې وی او د مقتول تجهيز او تدفين به يې شروع کړی وی. او داسې به نه وي شوي چې مقتول د تجهيز او تدفين څخه د عادي وخت څخه اضافه ټال شوی وي، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د ﴿ وَمَا كَادُواْ يَفۡعَلُونَ ﴾ د جملې مضمون دا دی چې هغوی د دغه کار کولو ته نژدې نه وه، نو پوښتنه دا ده چې همدغه کار ته د هغوی د عدم نژدېکت وجه څه وه؟
مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو د همدغه کار د عدم نژدېکت وجه د غوا د قيمت اوچتوالی ښودلی دی، چې دومره ډېر سره زر وه چې د غوا پوستکی ورباندې ډکېدلی شو[۳].
مګر دغه وجه کمزورې برېښي څکه چې ايا هغه چا به دومره اوچت قيمت اداء کړي وی کوم چې د زيات حرص د کبله د خپل تره زوی وژلی وي، کوم چې همدغه مقتول يې د دې دپاره د بل کلي په شاوخوا کښې اچولی وي چې ديت پرې واخلي، په کوم باندې چې د مسکنت او عدم قناعت خيمه وهلې شوې وي.
زمونږ په فکر عدم نژدېکت په دې معنی نه وه چې هغوی تر ډېرو کلونو پورې تاکلې شوې غوا

(۱) الدر المنثور ج۱ ص۱۹۱
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۲ ص۱۷۱
(۳) المحرر الوجيز ج۱ ص۲۶۰؛ الدر المنثور ج۱ ص۱۹۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ویلتیله او ډېر کلونه وروسته یې مونده کړه چې د غوا موندلو پورې وژل شوی سړی د دفن څخه پاتې وه بلکې عدم نژدېکت په دې معنی چې:

الف: څومره چې د یوه شي قیدونه زیاتېږي په هماغې اندازه د هغه د موجودیت چانس (احتمال) کمېږي. نو احتمال وه چې ذکره شوې غوا یې نه وی موندلې.

څه لرې نه وه چې هغوی خپلې پوښتنې نورې هم اوږدې کړې وی او قیدونه نور هم اضافه شوي وی، او د موندلو چانس یې نور هم لږ شوی وی.

ب: هغوی د ﴿إِن شَآءَ ٱللَّهُ﴾ کلمات ډېر وروسته وویلې، نژدې وه چې هغوی په دغو کلماتو باندې هیڅ تلفظ نه وی کړی نو د قیامت تر ورځې پورې به ورته غوا لاس ته نه وی ورغلې.

## په همدې اړوند

۵ـ په همدې اړوند په دې مقام کښې لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ په یو حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَا تُشَدِّدُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَيُشَدِّدَ عَلَيْكُمْ فَإِنَّ قَوْمًا شَدَّدُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ فَشَدَّدَ اللهُ عَلَيْهِمْ»[۱] یعني: تاسو په خپلو ځانونو باندې (بې ضرورته) سختي مه اچوئ نو په تاسو باندې به سختي واچوله شي او دا ځکه چې یوه قوم په خپلو ځانونو باندې سختي اچولې وه نو الله ﷻ ورباندې سختي ورواچوله (ورباندې یې فرض وګرځوله).

ب: عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما وویلې چې: «لَوْ أَخَذُوا أَدْنَى بَقَرَةٍ فَذَبَحُوهَا لَأَجْزَأَتْ عَنْهُمْ وَلَكِنَّهُمْ شَدَّدُوا وَتَعَنَّتُوا مُوسَى فَشَدَّدَ اللهُ عَلَيْهِمْ»[۲] یعني: که چرته بني اسرائیلو ادنی (کوچنی) غوا رانیولې وی نو ذبحه کړې یې وی نو دا به ترې جائزه ګڼلې شوې وی مګر هغوی سختي غوره کړه او موسی علیه‌السلام یې په مشقت (حرج) کښې واچاوه نو الله ﷻ ورباندې سختي ورواچوله او ورباندې فرض یې کړه.

﴿وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَٱدَّٰرَٰٔتُمْ فِيهَا ۖ وَٱللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾ فَقُلْنَا ٱضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ كَذَٰلِكَ يُحْىِ ٱللَّهُ ٱلْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِىَ كَٱلْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ ٱلْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ ٱلْمَآءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾﴾

[۷۲] او هغه وخت (په یاد کړئ) چې تاسو یو کس ووژه نو (بیا) پکښې په جګړه شوئ.

---

(۱) سنن ابي داود ج۲ ص۳۱۶

(۲) الدر المنثور ج۱ ص۱۹۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او الله ﷻ د هغه شي راوبستونکی (راڅرګندوونکی) دی کوم چې تاسو وئ چې پټاوه مو.

[۷۳] نو مونږ وویلې چې، تاسو دا (مقتول) د دې (مذبوحې غوا) په څېنې برخې سره ووهئ؛ (ترڅو راژوندی شي نو تاسو دغه کار وکړ او مقتول راژوندی شو)

(او مونږ وویلې چې) الله ﷻ په دغه ډول سره (د قیامت په ورځ) مړي راژوندي کوي

او (ای بني اسرائیلو!) الله ﷻ تاسو ته (د خپل کامل قدرت) دلایل درلیده کوي (درښیي)، شاید چې تاسو د عقل څخه کار واخلئ؛ (او الله ﷻ په کامل صورت سره وپېژنئ؛)

[۷۴] بیا د دغو دلائلو (او حوادثو) څخه وروسته ستاسو زړونه کلک شوه (او تر نن ورځې پورې کلک دي)

نو ستاسو زړونه (په کلکوالي کښې) د ډبرو غوندې دي، یا د ډبرو څخه د کلکوالي د حیثه سخت دي (د اوسپنې غوندې دي).

او یقیناً د ډبرو څخه ضرور ځینې هغه (ډبرې) دي چې ویالې (لښتې) ترې په شدت سره بهېږي

او یقیناً ځینې ترې هرومرو هغه دي کومې چې چوي نو اوبه ترې را اوځي (که څه هم لښتې ترې نه جاري کېږي).

او یقیناً ځینې ترې ضرور هغه (ډبرې) دي چې د الله ﷻ د ډاره ښکته رغړي.

او الله ﷻ د هغو کارونو څخه ناخبره نه دی کوم چې تاسو یې (روزمره) عملي کوئ (نو موافقه سزا به درکړي).

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای بني اسرائیلو! تاسو هغه ورځ په زړه کړئ چې:

۱ـ تاسو یو سړی پخپله وواژه او بیا مو د وژل شوي مړي (لاش) د بل چا د کلي په شاوخوا کښې د دې دپاره وغورځاوه ترڅو د هغوی څخه دیت واخلئ؛

تاسو غوښتل چې په همدې چل سره به د دیت د اخستلو څخه علاوه د وژلي شوي سړي قاتل هم پټ کړئ او هیڅوک به یې ونه پېژني.

۲ـ خو الله ﷻ هغه قاتل راڅرګند کړ کوم چې تاسو د هغه پټوونکي وئ. او دا ځکه چې الله ﷻ د هغو ټولو شیانو بربنډوونکی دی کوم چې تاسو یاست چې خلک ترې ناخبره وساتئ؛

په همدې بنیاد به الله ﷻ د محمد ﷺ د نبوت حقانیت هم ټولې دنیا ته ورڅرګند کړي د کوم چې تاسو پټوونکي او تحریف کوونکي یاست.

۳ـ نو مونږ د قاتل د رسوا کولو دپاره تاسو ته د موسی ؑ په ذریعه امر وکړ چې دغه وژل شوی سړی د ذبحه کړی شوې غوا په څه برخې سره ووهئ؛ او په هغه پورې ورته اتصال ورکړئ ترڅو ژوندی شي او خپل قاتل پخپله په ګوته کړي چې دغه دی، نو ستاسو لانجه به حل شي او جګړه به مو ختمه شي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو کله چې تاسو ذکره شوې عملیه اجراء کړه نو سمدستي وژل شوی راژوندی شو او خپل قاتل ته یې گوته ونیوه چې دغه دی.

۴ـ مونږ په عین وخت کښې دا هم وویلې چې ای د دغې صحنې کتونکیه او لیدونکیه! لکه څنګه چې الله ﷻ ستا د سترګو لاندې دغه مقتول راژوندی کړ، همدارنګه به الله ﷻ د قیامت په ورځ ټول مړي د خپلو قبرونو څخه ژوندي را اوچت کړي او د محاسبې دپاره به یې ودروي.

۵ـ ای بني اسرائیلو! تاسو ته الله ﷻ د خپل کامل قدرت دلایل په دغه ډول سره دربښیي او درپېژني شاید چې تاسو دعقل څخه کار واخلئ او په بعث بعدالموت باندې کلکه عقیده وساتئ. خو:

۶ـ ای بني اسرائیلو! د الله ﷻ د دغو ډېرو قدرتي دلایلو د لیدلو څخه وروسته هم بیا ستاسو زړونه کلک شوه نو ستاسو زړونه د ډېرو غوندې کلک دي چې هیڅ دلیل او معجزهورباندې اثر نه غورځوي، بلکې ستاسو زړونه د کلکوالي د حیثه د ډېرو څخه هم کلک دي. او دا ځکه چې:

الف: په ډېرو کښې دومره نرمې ډبرې شته چې د ځینو څخه اوبه بهېږي او لښتي ترې روان وي چې د الله ﷻ مخلوقات ترې خړوبېږي.

ب: ځینې ډبرې چوي او اوبه ترې را اوځي چې ځینې ځینې مخلوقات ترې استفاده کولی شي.

ج: بالآخره ځینې ډبرې که څه هم ډېرې یا لږ اوبه ترې نه بهېږي مگر د الله ﷻ د ډاره رغړي او خلکو ته په پټه خوله د ډار درس ورکوي.

حال دا چې الله ﷻ د هغو کارونو څخه ناخبره نه دی کوم چې تاسو په دوامداره توګه لګیا یاست صورت ورکوئ. او هیڅا او هیڅ شي ته مو ګتبه نه رسېږي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا ﴾ کښې په ﴿قَتَلْتُمْ﴾ سره هغه بني اسرائیل مخاطب ګرځولي شوي دي کوم چې د ایت شریف د نزول په وخت کښې ژوندي وه. حال دا چې د قتل واقعه د موسی ﷺ په زمانه کښې تېره شوې ده؟!

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د ځینو کسانو فعل (قتل) ټول قوم ته نسبت کړی شوی دی که څه هم ژوندي بني اسرائیل د قتل په وخت کښې بالکل پیدا شوي هم نه وه[۱]. او دا ځکه چې د پښتو محاورې په شمول په ټولو محاورو کښې عادت دی چې کله-کله د یو کس د فعل نسبت ټول قوم ته صورت نیسي. د مثال په توګه هغه افغانان هم په بهادرۍ او مېړانې سره مخاطب ګرځولی کېږي کوم چې په اروپا یا نورو ممالکو کښې لرې پراته دي او د روسیانو پلو ته یې یوه مرمۍ هم نه ده فیر کړې بلکې لا د روسیانو سره ملګري دي لکه خلقیان او پرچمیان. دوی ته ویل کېږي چې تاسو د روسیانو په سخت جنګ کښې لګیا یاست او نژدې ده چې هغوی په ګونډو کړئ الله ﷻ دې ستاسو نصرت وکړي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۲ ص۱۵۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې چې د غوا کومې قیصې ته اشاره شوې ده د هغې بیان په ذکر شوي ایت سره پیل کېږي حال دا چې ځینې مربوط کیفیات یې د [البقرة:۶۷] څخه شروع شوي دي. نو پوښتنه دا ده چې ایا دا به مناسبه نه وه چې دغه ایت چې بحث پکښې روان دی وړاندې نازل شوی وی، ترڅو د قیصې بیان د وقوعي ترتیب سره مطابقت موندلی وی؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال د جوابولو په اړه علماء کرام په لاندې دوه وو ډلو ویشلي شوي دي:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې دا قیصه او هغه قیصه یوه نه ده ترڅو اعتراض وارد شي چې په بیان کښې د ترتیب رعایت ولې ونه کړی شو. بلکې هلته الله ﷻ بني اسرائیل د امتحان په توګه مکلف ګرځولي وه چې یوه غوا ذبحه کړي که څه هم دوی نه پوهېږي چې په دغې ذبحه کښې مطلب څه شی دی او د څه دپاره دغه مکلفیت صورت نیسي او دلته سطلب واضحه شو چې په دغې مذبوحې غوا سره مړی راژوندی شو (خپل قاتل یې په ګوته کړ) او جګړه یې ختمه کړه[۱].

ب: اکثره علماء وایي چې قیصه یوه ده او د ترتیب رعایت د دې دپاره نه دی کړی شوی چې څوک په دوه وو مطلبونو باندې د یوه مطلب ګومان ونه کړي چې د هغوی دوه جنایتونه یو جنایت وګڼي. هغه دا چې[۲]:

اول: په هغو ایتونو کښې د هغوی جنایت دا وه چې موسی ﷺ ته یې د استهزاء نسبت وکړ او د امر د اجراء په هکله یې سستي غوره کړه بلکې د بهانو په توګه یې پوښتنو ته ادامه ورکړه.

دوهم: په دې ایتونو کښې د هغوی بل جنایت ته اشاره ده چې په ناحقه یې سړی وواژه او بیا یې دهغه په وژلو باندې بې ګناه خلک تورن کړه چې دا تاسو وژلی دی هلځ ژر شئ مونږ ته دیت راکړئ.

مونږ ته د همدغو اکثرو علماوو کرامو قول غوره برېښي چې په تبادر سره ذهن ته راځېږي.

## "دَرء" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ فَادَّارَءْتُمْ فِيهَا ﴾ کښې د "ادَّارَأتُمْ" کلمه اصلاً د "دَرْء" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د تېل وهلو معنی ورکوي[۳]، کله چې په چا باندې دعوه صورت ونیسي نو په حقیقت کښې هغه د ملامتیا کندې ته تېل وهل کېږي. یعنې: تاسو هغه وخت یاد کړئ چې سړی مو وواژه او بیا مو یو تربله تهمت ولګاوه چې دا تاسو وژلی دی او د ملامتیا کندې ته مو تېل وهل خپل کړه.

## څو نکات

۴ـ په ﴿ فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ﴾ الآیة کښې لاندې نکات په نظر کښې ساتل په کار دي:

---

(۱) البحر المحیط ج۱ ص۲۱۷
(۲) تفسیر الکشاف ج۱ ص۱۵۴
(۳) لسان العرب ج۱ ص۷۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د "نفس" په کلمه کښې تذکیر او تانیث دواړه جائز دي[۱]. د همدې کبله ورته په ﴿ فِيهَا ﴾ کښې د مونث ضمیر (ها) راجع شوی دی او په ﴿ اَضْرِبُوهُ ﴾ کښې ورته مذکر ضمیر (ه) رجوع مونډلې ده.

ب: په ﴿ بِبَعْضِهَا ﴾ کښې د "بعض" په کلمې سره د غوا هغې برخې ته اشاره شوې ده، د کومې په وهلو سره چې مقتول ژوندی شو.

که څه هم د دغې برخې په تعین کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۲]، مګر بهتره دا ده چې په ابهام کښې پرېښودله شي لکه څنګه چې الله ﷻ په ابهام کښې پرېښې ده.

ج: د همدغې کلمې ضمیر (ها) مذبوحې غوا ته راجع دی په کومې باندې چې په وړاندېنیو ایتونو کښې صراحت نازل شوی دی.

د: د همدغې کلمې په تعقیب کښې یو جمله مقدره ده چې مونږ ترې په "فَحَيِيَ" سره تعبیر کولی شو[۳]. په کومې باندې چې د ﴿ كَذَٰلِكَ يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَىٰ ﴾ جمله دلالت کوي.

یعنې نو مونږ د موسی ﷺ په ذریعه بني اسرائیلو ته وویلې چې تاسو د دغه مقتول لاش د مذبوحې غوا په څه برخه ووهئ، نو هغوی دا کار وکړ نو سمدستي مقتول ژوندی راکیناست او خپل قاتل یې وښود، چې زه دغه سړي یا دغو سړیو وژلی یم.

ه: دلته د "قُلْنَا" جمله هم مقدره ده چې د ﴿ كَذَٰلِكَ يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَىٰ ﴾ جمله یې مقوله واقع شوې ده[۴].

و: همدغې مقولې جملې د "كَ" په توري سره هر هغه څوک مخاطب ګرځولی شوی دی کوم چې د خطاب لیاقت درلود[۵].

یعنې مونږ وویلې چې ای کتونکیه! کله چې تا دغه منظره په خپلو سترګو ولیده نو ته پوه شه چې د قیامت په ورځ به الله ﷻ ټول مړي د قبرونو څخه همدغسې راپورته او راژوندي کړي چې د ده ﷻ کامل قدرت ته د یو مړي ژوندي کول او د ټولو مړو ژوندي کول یو برابر دي.

ز: په ﴿ ءَايَٰتِهِۦ ﴾ کښې د "آيات" د کلمې څخه هغه ټول معجزات او خوارق مطلب دي کوم چې بني اسرائیلو په خپلو سترګو باندې لیدلي وه د کومو څو مثالونو ته چې د [البقرة:۴۹] ایت څخه را په دې خوا اشارې شوې دي لکه په معجزانه توګه د فرعون هلاک او د دوی نجات او هم د مرګ څخه بېرته راژوندي کېدل او د "مَنّ" او "سَلْوَىٰ" نزول او داسې نور. یعنې: ای بني اسرائیلو! مونږ د دغه مقتول د راژوندي کولو غوندې زښتې ډېرې معجزې تاسو ته ښودلې دي او لا نورې هم درته

---

(۱) البحر المحیط ج۱ ص۴۱۹
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۸۲
(۳) تفسیر المراغي ج۱ ص۱۴۵
(۴) روح المعاني ج۱ ص۲۹۴
(۵) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۱۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بنیو خو شاید چې تاسو د عقل څخه کار واخلئ، په حقائقو سترګې پټې نه کړئ، که نه نو تاسو به فقط خپل خانونه خجالت کړئ او د حقائقو د ظهور مخه به ونه شئ نیولی.

## مړی دروغ وایي؟!

۵ـ کله چې مقتول راژوندی شو او خپل قاتل یې په ګوته کړ چې زه دغه قتل کړی یم نو سمدستي پخپله قاتل او د هغه پلویانو وویلې: مړی دروغ وایي[۱].

خو ژوندی شوی مقتول د ذکر شوي اخبار څخه وروسته في الحال بېرته مړ شو[۲].

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ قدرت درلود چې مقتول یې بدون د غوا د سلسلې څخه راژوندی کړی وی او لانجه یې ختمه کړې وی، نو د څه حکمت په بنیاد دغه کار ته په ذکرې شوې طریقې سره صورت ورکړی شو؟

مونږ وایو ـوالله ﷻ أعلم ـ چې: شاید ذکره شوې طریقه به د لاندې حکمتونو په بنیاد غوره کړی شوې وي:

الف: ترڅو واضحه کړي چې بني اسرائیل د جنایاتو په ارتکاب کښې ډېر ګړندي او تېز وه خو په اطاعتونو کښې ډېر سست او تنبل وه.

د همدې کبله هغوی د سامري دعوت بدون د پوښتنو قبول کړ او خوسی یې خپل معبود وګرځاوه او د موسی ؈ په دعوت کښې یې په اصطلاح دوه سوه پوښتنې مطرحې کړې چې د غوا عمر څومره دی او څنګه رنګ لري او داسې نور.

که بالفرض هغوی د سامري په دعوت کښې دغسې پوښتنې مطرحې کړې وی نو امکان یې درلود چې د خوسي د عبادت څخه بچ پاتې شوي وی او موسی ؈ د طور د غره څخه ورته بېرته رارسېدلی وی.

ب: ترڅو هغوی پوه کړی شي چې غوا که هرڅومره ډولې او ښائسته وي هم په ذبحه کولو باندې یې نه اسمان را لوېږي او نه وریاندې ځمکه څیرېږي، نو په کار دي چې د زړه مینه او محبت ورسره ونه ساتل شي.

ج: ترڅو هغوی ته معلومه شي چې د هر شي کوونکی یوازې الله ﷻ دی، او یوازې همدی ﷻ د عبادت لیاقت لری او بس. نه غوا معبوده جوړېدلی شي او نه خوسی معبود ګرځېدلی شي.

که بالفرض د عبادت لیاقت غوا درلودی نو اقلا خپل ځان خو به یې د ذبحې څخه بچ کړی وی، او د خپل ځان څخه به یې د مرګ مخه نیولې وی.

د: ترڅو هغوی پوه شي چې ژوندي کول او مړه کول په رښتیا سره د الله ﷻ کار دی او جادو او

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱ ص۳۶۲

(۲) الدر المنثور ج۱ ص۱۹۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۱۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



-کوډې پکښې څه مداخله نه شي کولی.

که بالفرض د مقتول په ژوندي کولو کښې ذکرې شوې سلسلې صورت نه وی نیولی (چې توله د همغوی په لاس انجام شوه) نو څه لرې نه وه چې د جادو نوم یې ورباندې ایښی وی. او داسې نور.

## د "أوْ" د توري معنی

۷ـ په ﴿ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ﴾ کښې د "أوْ" توری د شک دپاره نه دی ترڅو اعتراض وارد شي چې شک د الله ﷻ د شان سره مناسب نه دی، بلکې د دغه توري د معنی په هکله په دې مقام کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي چې تقریباً شپږو قولونو ته رسېږي او په اصلي مطلب کښې سره متفق دي[۱].

خو مونږ ته بهتره برېښي چې دغه توری په دې مقام کښې د تخییر د معنی دپاره شي[۲]، یعنې: څوک چې د هغوی د زړونو په حالت باندې خبر شي هغه اختیار لري چې د هغوی زړونوته د ډبرو سره تشبیه ورکړي او یا د ډبرو څخه سخت د بل شي سره یې متشابه وګرځوي. لکه اوسپنه او نور.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۸ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ﴾ کښې ډبرو ته د هغو هبوط (ښکته رغړېدلو) نسبت کړی شوی دی کوم چې د الله ﷻ د ډاره صورت نیسي، نو ایا دغه نسبت صحت درلودلی شي حال دا چې ډار په پوهه باندې مرتبېږي او ډبرې جمادات دي پوهه نه لري؟

مونږ وایو چې: جمادات هم څه تمیز او خاصه پوهه لري چې د الله ﷻ تسبیحات وایي خو مونږ ورباندې نه پوهېږو.

په همدې هکله په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو ډېر خوندور بحث لیکلی دی[۳]، هیله ده چې لوستونکي هلته مراجعه وکړي، خو چې د عربیت سره اشنا وي، مونږ به په همدې اړوند ـ ان شاء الله ﷻ ـ د [الإسراء:۴۴] ایت لاندې د احادیثو په رڼا کښې څه وضاحتونه وراضافه کړو.

## د ایت شریف ارشاد

۹ـ په دغه ایت کښې مونږ ته داشارې په توګه ارشاد نازل شوی دی چې خپل زړونه د الله ﷻ په توفیق د خارنې او حفاظت لاندې ونیسو ترڅو د بني اسرائیلو د زړونو په څېر د ډبرو غوندې کلک او سخت جوړ نه شي چې نه ورباندې دلیل اثر غورځوي او نه ورباندې د ناصح نصیحت اثر کوي.

همدې موضوع ته په [الحدید:۱۶] ایت کښې اشاره شوې ده او مونږ یې د هغوی سره د شباهت څخه ډار کړي یاستو.

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۲ ص۱۸۴
(۲) تفسير القاسمي ج۲ ص۱۵۹؛ تفسير ابي السعود ج۱ ص۱۱۵
(۳) تفسير البغوي ج۱ ص۸۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هېر مو نه شي!

۱ـ هېر مو نه شي چې الله ﷻ په دنيا كښې هم ځينې مړه كسان يا ځينې مړه ساكښان راژوندي كړي دي ترڅو په هغو خلكو باندې حجت وګرځي كوم چې د قيامت په ورځ د بعث بعد الموت څخه انكاري دي.

د همدغو دنياوي بيا ژوندي كړى شووې مثالونو ته يوازې د همدې سورت (البقرة) په لاندې مقامونو كښې اشارې شوې دي:

الف: د [البقرة:۵۶] ايت، چې اويا (۷۰) كسان په تندر مړه شوه او بيا راژوندي شوه.

ب: د [البقرة:۷۳] ايت، چې بحث پكښې روان دى.

ج: د [البقرة:۲۳۳] ايت، چې زرګونه خلك بېرته راژوندي كړى شوه.

د: د [البقرة:۲۵۹] ايت، چې په عُزير باندې مشهور كس بېرته ژوندى شو.

هـ: د [البقرة: ۲۶۰] ايت، چې د ابراهيم ﷺ څلور مرغان بېرته راژوندي كړى شوه.

﴿أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾ أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾﴾

[۷۵] ايا نو تاسو (بني اسرائيلو ته) تمه لرئ چې ستاسو (د دعوت)، د كبله به ايمان راوړي حال دا چې د دوى څخه يو ټولګى وه چې كلام الله (تورات) به يې اورېده بيا به يې د هغه څخه وروسته تحريفاوه چې عقلونه به يې ورته رسېده (چې دا د بل چا كلام نه دى بلكې د الله ﷻ كلام دى).

(دغه كار ته يې) په داسې حالت كښې صورت وركاوه چې دوى (د هغه په بد انجام) باندې پوهېده (دا كار يې اګاهانه كاوه).

[۷۶] او كله چې بني اسرائيل د هغو كسانو سره ملاقي شي كومو چې ايمان راوړى دى نو وايي چې: مونږ (هم) ايمان راوړى دى (مونږ ستاسو دين قبول كړى دى).

او كله چې د دوى ځينې كسان ځينو نورو ته (ستاسو څخه) ورخالي (ورجدا) شي نو (يو تربله سره) وايي چې ايا تاسو مؤمنانو ته هغه (حقايق) وربيانوئ (ورڅرګندوئ) كوم چې الله ﷻ په تاسو باندې پرانستي دي (او نازل كړي دي)؟ ترڅو هغوى په تاسو باندې په همدغو (حقايقو) سره ستاسو د رب ﷻ په نزد حجت قائم كړي (او درباندې غلبه مونده كړي).

ايا نو تاسو د عقل څخه كار نه اخلئ (دا كار د كولو دى چې تاسو يې كوئ)؟.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۷] ایا بني اسرائیل نه پوهېږي (بلکې پوهېږي) چې یقینًا الله ﷻ په هغو کارونو باندې پوهېږي کوم چې دوی یې پټوي او په هغو کارونو باندې هم چې دوی یې ښکاره کوي

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو په مضمون باندې یوه تفریع نازله شوې ده چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د بني اسرائیلو د زړونو قساوت (کلکوالی) د هغوی د اسلافو پورې منحصر نه دی پاتې شوی بلکې د هغوی اولادونو ته یې هم سرایت کړی دی او لا د قیامت د ورځې پورې به دغه سرایت روان وي. نو:

۱ ـ ته د هغوی ایمان راوړلو ته مه په تمه کېږه او ستا پیروان (مؤمنان) دې هم دغه تمه نه خپلوي. ایا تاسو تمه لرئ چې هغوی به ستاسو د دعوت د کبله په ایمان باندې مشرف وګرځي حال دا چې د همدغو بني اسرائیلو څخه یوه ډله وه چې د الله ﷻ کلام یې په خپلو غوږونو باندې اورېده او ښه پوهېده چې دا د الله ﷻ کلام دی. بیا د دغې پوهې څخه وروسته یې کلام الله ته تحریف ورکړ او خپل ځانونه یې ورباندې سادګان او بې عقلان جوړ کړه، حال دا چې هغوی د دغه جنایت په ارتکاب کښې ښه پوهېده چې الله ﷻ ورباندې راضي نه دی.

۲ ـ ای پیغمبره! ایا تاسو د هغوی په ایمان باندې باور کولی شئ حال دا چې:

الف: کله هغوی د مؤمنانو سره ملاقي شي نو وایي چې: مونږ ستاسو غوندې ایمان راوړی دی او عقیده لرو چې محمد ﷺ په حقه پیغمبر دی، او د مؤمنانو د غولونې دپاره د آخر الزمان پیغمبر څه هغه نښانې هم بیانوي کومې چې په تورات کښې نازلې شوې دي او هغوی ورباندې ښه پوه دي.

ب: خو کله چې د مؤمنانو څخه جدا شي او په خپلو خصوصي مجالسو کښې سره کېني نو ځینې په ځینو نورو باندې پړه اچوي او د انکار په توګه ورته وایي چې ایا تاسو مؤمنانو ته هغه امتیازات بیانوئ (واضحه کوئ) کوم چې الله ﷻ یوازې په تاسو باندې پېروزو کړي دي او یوازې تاسو ته یې دربښودلي دي؟.

ج: که تاسو خپلې دغې کړنلارې ته ادامه ورکړئ نو نتیجه به یې دا شي چې همدغه مؤمنان به ستاسو په معلوماتو باندې په همدا تاسو باندې ستاسو د رب ﷻ په نزد کښې ملامته او پړه واچوي او وبه وایي چې:

د: تاسو پخپله د محمد ﷺ په حقانیت اقرار کوئ خو د دې سره-سره ایمان ورباندې نه راوړئ؟

هـ: ای ملګرو! ایا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ ایا دغه کړنلاره چې تاسو خپله کړې ده د هوښیارانو کړنلاره ده؟.

۳ ـ ای پیغمبره! ایا بني اسرائیل نه پوهېږي چې یقینًا الله ﷻ په هغو ټولو کیفیاتو باندې ښه پوره علم لري کوم چې هغوی یې په خپلو زړونو کښې پټوي او یا یې مؤمنانو ته ښکاره کوي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که هغوی د خپل کتاب (حقایق) پټ کړي هم د ملامتې او پرې څخه نه بچ کېږي او د کومې ملامتې څخه چې تښتي دهغې څخه نه شي تښتېدلی اوکه څرګندېې کړي هم ترې نه شي تښتېدلی.

## توضیحات

۱_ کله چې مدینې منورې ته هجرت صورت ونیوه نو نبي کریم ﷺ او صحابه کرام ﷺ په تمه وه چې بني اسرائیل به ایمان راوړي، او د شاوخوا کفار هم د هغوی ایمان راوړلو ته سترګې په لار وه چې که ربښتیا د محمد ﷺ دین حق دین وي هغوی به ورباندې ایمان راوړي نو څه لرې نه ده چې بیا مونږ هم ورباندې ایمان راوړو.

په دې ایتونو کښې د نبي کریم ﷺ او د صحابه وو کرامو ﷺ تمه شکولې شوې ده چې د هغوی زړونه د کاڼو څخه سخت دي د ایمان د راوړلو تمه ورته مه کوئ دوی د خپلو اسلافو په قدم باندې روان دي. او په دې ایتونو کښې د شاوخوا کفار هم په غوږ باندې وهلي شوي دي چې د هغوی ایمان نه راوړل د دې خبرې دلیل نه شي ګرځېدلی چې د محمد ﷺ دین حق دین نه دی بلکې د هغوی ایمان نه راوړل په هغه قلبي قساوت (کلکوالي) باندې ولاړ دي کوم چې ورته د خپلو پخوانیو پلرونو څخه په میراث سره پاتې دی.

## یوه باریکه اشاره

۲_ شاید چې د ﴿أَفَتَطْمَعُونَ﴾ کلمې په ضمیر سره به د دې دپاره مؤمنان هم مخاطب ګرځولي شوي وي ترڅو یهودان وپېژني چې د هغوی په غوړمالو خبرو باندې د قیامت د ورځې پورې ونه غولېږي. هسې نه چې د پټې دوستۍ تار ورسره وغزوي او په نتیجه کښې په لاشعوري توګه په خپل دین کښې شکمن جوړ شي او یا لا بالکل _العیاذ بالله_ ارتداد غوره کړي.

## د "کلام الله" سماع

۳_ علماوو کرامو دا جمله ﴿يَسْمَعُونَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ﴾ په دوه ډوله تفسیره کړې ده هغه دا چې:

الف: ځینې وایي چې: دلته د هغې ډلې اورېدل مطلب دي کومې چې د طور په غره کښې په بلا کیف ډول سره په خپلو غوږونو باندې د تورات احکام واورېدل چې دا کوئ او دا مه کوئ[۱]، دغې ډلې ته په [البقرة:۵۵] ایت کښې اشاره شوې ده.

په همدغې ډله کښې داسې خلکو هم موجودیت درلود چې خپل قوم ته یې اورېدل شوي احکام تحریف کړی شوي ابلاغ کړه چې د وجوب څخه یې اباحت ته واړول او ویې ویلې چې مونږ دا جمله هم اورېدلې ده چې: "وَاِنْ شِئْتُمْ فَلا تَفْعَلُوا"[۲] یعنې: دغه احکام عملي کړئ او که مو خوښه وي نو مه یې عملي کوئ.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱ ص۳۶۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۲) روح المعاني ج۱ ص۲۹۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ځینې وايي چې دلته د بني اسرائیلو احبار او علماء مراد دي[۱]، چې د تورات احکام به یې د موسی علیه السلام څخه په خپلو غوږونو اورېدل او بیا به یې تحریف ورکاوه د دوی د تحریف دلونه ان شاء الله تعالی د [البقرة:۷۹] ایت لاندې را روان دي.

دغه اورېدل هغه اورېدلو ته ورته دي کوم چې په قرآن کریم کښې نازل شوي دي چې: ﴿ وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٱسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَـٰمَ ٱللَّهِ ﴾ [التوبة:۶] یعنې: او که د مشرکانو څخه کوم یو کس ستا څخه امان وغواړي نو هغه ته امان ورکړه ترڅو کلام الله (قرآن کریم) په خپلو غوږونو باندې واوري.

## تبصره

۴ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ذکرو شوو دواړو تفسیرونو څخه دوهم تفسیر قوي ګڼلی دی او اولني تفسیر ته یې د کمزوري لقب ورکړی دی[۲]، مګر که دواړه تفسیرونه د بدلیت په لحاظ اراده کړی شي هم څه باک یې نشته او منافات سره نه لري.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په ﴿ أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ ﴾ کښې د "مَا" کلمه د څه شي څخه کنایي ده چې د اهل الکتابو مشرانو به خپل کشران نه پرېښودل چې مؤمنانو ته یې څرګند کړي ترڅو ورباندې هغوی عند الله حجت ونه نیسي؟

مونږ وایو چې: ذکره شوې کلمه "مَا" د هغو حقائقو څخه کنایي ده کوم به چې د "آمَنَّا" ویونکو کسانو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته څرګندول ترڅو په خپل منافقت باندې پرده واچوي او "آمَنَّا" ویل یې اعتبار مونده کړي. هغه دا چې مونږ خکه په محمد ﷺ باندې ایمان راوړ چې دا په حقه پیغمبر دی او هغه علامات ورباندې تطبیق دي کوم چې د آخر الزمان پیغمبر په هکله زمونږ په کتاب (تورات) کښې نازل شوي دي[۳].

## دوه ډوله تفسیر

۶ـ په ﴿ لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمْ ﴾ کښې د ﴿ عِندَ رَبِّكُمْ ﴾ کلمات مفسرینو کرامو په دوه ډوله تفسیر کړي دي چې د بدلیت په لحاظ د دواړو اراده کول هم څه بد کار نه دی چې دواړه سره څه منافات نه لري. هغه دا چې:

الف: ځینې وايي چې: د ﴿ عِندَ رَبِّكُمْ ﴾ څخه د قیامت ورځ مطلب ده[۴]، یعنې: تاسو صحابه وو

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۸۷
(۲) المحرر الوجیز ج۱ ص۲۶۷
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۱۹۷؛ الدر المنثور ج۱ ص۱۹۸؛ زاد المسیر ج۱ ص۸۹
(۴) زاد المسیر ج۱ ص۹۰؛ المحرر الوجیز ج۱ ص۲۶۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کرامو ﷺ ته حقائق مه ځرګندوئ چې د قیامت په ورځ به هغوی په تاسو باندې حجت قائم کړي او د حشر په میدان کښې به د ډېر خجالت سره مخامخ شئ.

ب: ځینې نور وايي چې د ﴿ عِندَ رَبِّكُمْ ﴾ څخه "عند الشريعة" مطلب دی[۱] لکه چې په دغه ايت ﴿ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا۟ بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْكَـٰذِبُونَ ﴾ [النور:۱۳] کښې د ﴿ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ څخه همدغه معنی اراده کېږي. يعني: نو که دروغ تړونکي پخپله خبره باندې شهادت ورکوونکي کسان رانه ولي (ونه دروي) نو همدغه ډله عند الله (عند الشريعة) همدوی دروغژنان دي.

نو مطلب به يې داسې راوخېژي چې د حقائقو د ځرګندونې په صورت کښې تاسو شرعًا د ملامتې لاندې واقع کېږئ.

﴿ وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ ٱلْكِتَـٰبَ إِلَّآ أَمَانِىَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٧٨﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ ٱلْكِتَـٰبَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَـٰذَا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ لِيَشْتَرُوا۟ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا يَكْسِبُونَ ﴿٧٩﴾ وَقَالُوا۟ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَةً ۚ قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ ٱللَّهِ عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ ٱللَّهُ عَهْدَهُۥٓ ۖ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٠﴾ بَلَىٰ مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَـٰطَتْ بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٨١﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٨٢﴾ ﴾

[۷۸] د بني اسرائيلو څخه ځينې کسان (سوچه) اُميان دي چې په کتاب (تورات) باندې نه پوهېږي (ليک او لوست نه شي کولی)، مګر يوازې (په تلقين شوو) اټکلونو (باندې پوهېږي).

او دا ډله نه دي مګر ګومان کوي (د هغوی په تلقين باندې غير مطابق باور لري).

[۷۹] نو هغو کسانو ته معنوي هلاکت دی کوم چې په خپلو لاسونو باندې کتاب ليکي (او) بيا وايي چې دغه (کتاب) د الله ﷻ د پلوه (رالېږلی شوی) دی.

(البته دا کار) د دې دپاره کوي چې ناچيزه پيسې ورباندې ترلاسه کړي نو دوی ته د هغه شي د کبله معنوي هلاکت دی کوم چې ذ دوی لاسونو ليکلی (او بيا يې الله ﷻ ته نسبتوي)، او دوی ته د هغه شي د کبله هم معنوي هلاکت دی کوم چې دوی يې (ورباندې) کسب کوي (پيسې پرې اخلي).

[۸۰] او بني اسرائيل وايي چې هيڅکله به مونږ لره اور مسه نه کړي مګر شمارلې شوې ورځې (ډېر لږ وخت).

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۱) تفسير ابي السعود ج۱ ص۱۱۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه ورته وواېه چې ایا تاسو د الله ﷻ په نزد (په همدې خبره باندې) څه عهد اخستی دی؟ نو هیڅکله به الله ﷻ د خپل عهد څخه خلاف (بې لوظي) ونه کړي، یا تاسو په الله ﷻ باندې هغه څه وایاست کوم چې تاسو ورباندې باوري علم نه لرئ؟

[۸۱] (داسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ) بلکې هرهغه چا چې بدی کسبې کړې وي او خپلو خطاوو ورباندې احاطه کړې وي نو همدغه ډله د اور ملګري دي چې دوی به پکښې همېشه وي.

[۸۲] او هغه کسان کومو چې ایمان راوړی وي او صالح اعمال يې ورسره ضمیمه کړي وي همدغه ډله د جنت ملګري دي چې دوی به هلته همېشه وي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو په مضامینو باندې څه زیاته رڼا اچولي شوې ده، هغه دا چې په وړاندېنیو ایتونو کښې د بني اسرائیلو درېوو ډلو (تحریف کوونکو او منافقت کوونکو او هم نصیحت کوونکو) ته اشاره شوې ده چې د ایمان د راوړلو تمه ورته مه کوئ.

په دې ایتونو کښې د هغوی د څلورمې ډلې ذکر نازل شوی دی چې د ایمان د راوړلو تمه ورته په کار نه ده نو حاصل یې داسې راځېږي.

۱ـ ای پیغمبره! او ای مؤمنانو! تاسو د بني اسرائیلو څلورمې ډلې ته هم دایمان د راوړلو تمه مه کوئ چې دغه ډله لاندې خاصیتونه لري.

الف: دغه څلورمه ډله سوچه نالوستي او اُمیان دي، په خپل کتاب باندې نه پوهېږي چې د آخر الزمان پیغمبر په هکله پکښې څه نازل شوي دي.

ب: دغه ډله یوازې په هغه شي باندې پوهېږي او بس چې تحریف کوونکي ډله یې وراوروي او اټکل ورکوي چې تاسو ته د خپل دین څخه په غیر د نورو ادیانو د خاوندانو مالونه حلال دي، هغوی ستاسو غلامان دي او د هغوی زنانه ستاسو وینځې دي.

۲ـ د ذکرې شوې ډلې اصلي بې لارې کوونکي، تحریف کوونکي أحبار (علماء) دي چې په خپلو لاسونو سره مطالب لیکي او بیا وایي چې همدغه مطالب د الله ﷻ د پلوه نازل شوي دي. ترڅو په همدغو لیکلو شوو مطالبو باندې د څلورمې ډلې (اُمیانو) څخه دنیاوي قلیله متاع ترلاسه کړي.

۳ـ نو د دغې تحریف کوونکې او ګمراه کوونکې ډلې دپاره د لاندې وجو د کبله وَیل او معنوي هلاکت دی:

الف: یو د دې وجې څخه چې په خپل لاس لیکلي شوي حکم باندې د الله ﷻ د حکم نوم ږدي چې دا الله ﷻ نازل کړی دی.

ب: بل د دې وجې څخه چې د الله ﷻ حکم یا بالکل د منځه وړي او یا تغیر ورکوي.

ج: دریم د دې کبله چې په همدغه تحریف باندې دنیاوي مال کسب کوي او دا کار یې د فاني مال د موندلو ذریعه ګرځولې ده.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ تحریف کوونکي ډله وایي او څلورمه ډله په غوږ وهي چې هیڅکله به مونږ په دوزخ کښې رانه چلولی شو که هرڅومره ګناه وکړو مګر څو شمېرل شوې ورځې بیا به زمونږ عاصیان ترې راوویستلی شي او نور خلک به پکښې ورتېل وهلی شي چې همېشه به پکښې کړېږي.

۵_ ای پیغمبره! ته همدغه محرفه ډله مخاطبه کړه او ورته ووایه چې:

الف: ایا تاسو د الله ﷻ په نزد کوم عهد اخستی دی چې ذکر شوی مطلب به هرومرو ترسره کېږي. که داسې وي نو ستاسو دعوه به صحت لري چې الله ﷻ هیڅکله خپل عهد نه ماتوي او مخالفت ترې نه کوي.

ب: ایا تاسو په الله ﷻ باندې د هغه شي دروغ تړئ او دروغ ورباندې وایاست د کوم چې تاسو ته معلومات نشته او په ثبوت درته نه دی رسیدلی؟.

که په همدې باره کښې تاسو څه ثبوت لرئ نو هغه راوړاندې کړئ او د خپلو ځانونو سره یې پټ مه ساتئ، که نه نو تاسو دروغژنان یاست.

۶_ ای پیغمبره! هغوی ته د خپل رب ﷻ د پلوه ابلاغ کړه او ورته ووایه چې حقیقت دغسې نه دی لکه چې تاسو خیال کوئ بلکې حقیقت دا دی چې:

الف: ستاسو په شمول هرڅوک چې بدي او جنایات کسب کړي او د دومره زیاتو جنایاتو مرتکب جوړ شي چې احاطه ورباندې وکړي چې د هره طرفه ترې راچاپېر شي نو دغه کسان د اورانډیوالان دي چې دوی به هلته همېشه وي او هیڅکله به ترې رابهر نه شي.

ب: بالمقابل هر هغه څوک چې ایمان راوړي او د دغې زمانې د آخر الزمان پیغمبر د شریعت په مطابقت نېک اعمال هم ورسره ضمیمه کړي نو همدغه ډله د جنت ملګري دي چې دوی به هلته همېشه وي او هیڅکله به ترې بهر راونه اوځي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَمِنۡهُمۡ أُمِّيُّونَ ﴾ الآیة کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ أُمِّيُّون ﴾ کلمه د "أُمِّي" جمعه ده چې د "أُمّ" په کلمې پورې نسبتي "ي" پیوسته شوې ده. نو "أُمِّي" هغه چا ته ویل کېږي کوم چې لیک او لوست نه شي کولی[1]، لکه چې یو ماشوم د مور په غېږ کښې په لیک او لوست باندې نه پوهېږي.

ب: دلته د "إلّا" توری د منقطعي استثناء دپاره دی چې مابعد یې په ماقبل کښې شامل نه دی[2].

ج: د ﴿ أَمَانِيَّ ﴾ کلمه د "أُمْنِيَّة" جمعه ده، چې د [الحج: ۵۲] ایت لاندې په _ان شاء الله ﷻ_ بنه تحلیله شي او د [البقرة: ۱۱۱] ایت لاندې به یې په معنی باندې څه رڼا واچولی شي.

(۱) مفردات الراغب ص۱۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱ ص۲۰۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په أکاذیب (دروغو او اټکلونو) سره تفسیره کړې ده(۱).

د ﴿ یَظُنُّونَ ﴾ کلمه د "ظنّ" څخه اشتقاقه شوې ده چې د غالب گومان معنی ورکوي خو په دې مقام کښې د هغې پوهې څخه عبارت ده کومه چې د واقع سره مطابقت نه لري، برابره خبره ده چې د گومان کوونکي په نزد د یقین مرتبې ته رسېدلې وي ـ لکه د ذکرو شوو أمیانو پوهه ـ او که نه وي رسېدلې(۲).

یعنې د بني اسرائیلو ځینې کسان هغه څوک دي چې لیک نه شي کولی او خپل کتاب (تورات) نه شي لوستلی، ته به وایې چې سمدستي هم د مور په غېږ کښې د ماشومانو په ډول پراته دي. مگر همدوی په هغو دروغینو أمیدونو او اټکلونو باندې پوهه لري کوم چې ورته د تحریف کوونکو کسانو د پلوه تلقین کېږي او د همدغو غیر مطابقو معلوماتو او گومانونو روند تقلید خپلوي.

## "وَیْل" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ فَوَیْلٌ لِّلَّذِینَ یَکْتُبُونَ ﴾ الآیة کښې د "وَیْلٌ، وَیْلُ، وَیْلُ" دریواړه کلمې هره یوه د لغت په لحاظ د عذاب او هلاک دپاره وضعه شوې ده(۳)، خو نبي کریم ﷺ د همدغې کلمې په ارتباط فرمایلي دي چې: «اَلْوَیْلُ وَادٍ فِي جَهَنَّمَ یَهْوِي فِیهِ الْکَافِرُ أَرْبَعِینَ خَرِیفًا قَبْلَ أَنْ یَبْلُغَ قَعْرَهُ»(۴) یعنې: "وَیْل" په دوزخ کښې د یوې داسې ژورې کندې نوم دی چې کافر به پکښې د هغه څخه وړاندې چې ښېخ ته یې ورسېږي څلوېښت کاله ښکته لوېږي (پرېوزي).

## شمېرلې شوې ورځې څو دي؟

۳ـ د ﴿ إِلَّآ أَیَّامًا مَّعْدُودَةً ﴾ کلمات علماوو کرامو په لاندو معناوو سره تفسیر کړي دي:

الف: مجاهد علیه الرحمة وایي چې د یهودانو په عقیده د دنیا ټول عمر اوه زره (۷۰۰۰) کاله دی، که بالفرض مونږ معذب کړی شو نو د هرو زرو (۱۰۰۰) کالو په عوض به فقط یوه ورځ معذب کړی شو، چې ټولې اوه ورځې کېږي(۵).

ب: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي چې د یهودانو په عقیده د دوزخ د ښېخه پورې فقط څلوېښت (۴۰) ورځې ښکته مسافه ده، نو که مونږ معذب کړی شو نو فقط په څلوېښتو ورځو کښې به یې ښېخ ته ورسېږو چې سمدستي به دوزخ سوړ شي او لمبې به یې ختمې شي(۶).

ج: د نورو صحابي ﷺ بل روایت دا دی چې یهودان وایي چې زمونږ پلرونو فقط څلوېښت

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۶
(۲) روح المعاني ج۱ ص۳۰۲
(۳) لسان العرب ج۱۱ ص۷۳۸
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۹
(۵) تفسیر القاسمي ج۲ ص۱۷۶
(۶) تفسیر الطبري ج۱ ص۳۰۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورځې د خوسي عبادت کړی دی، نو په دوزخ کښې زمونږ تعذیب هم د څلوېښتو ورځو څخه نه اضافه کېږي[۱].

## د تحریف مثالونه

۴ـ که څه هم مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة: ۴۱، ۴۲] ایتونو لاندې د تحریف څو مثالونو ته اشاره کړې ده خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې:

الف: د بني اسرائیلو احبارو او علماوو د زانیانو حد چې "رجم" وه په فضیحت او فقط په شرمولو باندې تحریف کړی وه[۲].

ب: هغوی په تورات کښې د آخر الزمان پیغمبر څېره بدله کړې او تحریفه کړې وه چې دهر لوړ قامت لرې او د تکو شنو سترګو درلودونکی دی. حال دا چې هلته یې تورې سترګې او متوسط قامت بنودلی شوی وه چې په محمد ﷺ باندې هو بهو تطبیق وه[۳].

ج: د هغوی ځینو احبارو په خپل لاس دوه کتابونه لیکلي وه چې په دواړو کښې متضاد احکام ثبت وه[۴]. نو چا به چې ورته رشوت ورکړ نو هغه ته به یې د یوه کتاب حکم د فیصلې په توګه ورکاوه چې په ګټه به ورته تمامېده. او چا به چې ورته رشوت ورنه کړ نو بل کتاب به یې د حکم مدار ګرځاوه چې دا د الله ﷻ کتاب دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د هغوی اټکل وه چې د څو دوزخي ورځو د تېرولو څخه وروسته به په دوزخ کښې زمونږ خلیفه ګان او ځای ناستي محمدي (ﷺ) امت وګرځي.

همدا مضمون نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې رد کړی دی چې: «اخْسَئُوا فِيهَا وَاللهِ لَا نَخْلُفُكُمْ فِيهَا أَبَدًا»[۵] یعنې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یهودانو (بني اسرائیلو) وویلې چې مونږ به په دوزخ کښې لږ وخت یاستو بیا به تاسو پکښې زمونږ خلافت او نیابت وکړئ.

نو نبي کریم ﷺ ورته په جواب کښې وویلې چې: تاسو په دوزخ کښې چغې شئ. په الله ﷻ باندې سوګند دی چې مونږ به هیڅکله په دوزخ کښې ستاسو خلافت او نیابت ونه کړو.

## ګناهونو په چا احاطه کړې ده؟

۵ـ په ﴿ بَلَىٰ مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ ﴾ کښې د "مَن" د کلمې څخه کفار مطلب دي چې ګناهونو ورباندې عقیدةً او عملاً احاطه کړې ده. نو ځکه ورته د دائمي دوزخ سزا ټاکلې شوې ده.

---

(۱) روح المعاني ج۱ ص۳۰۴
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۵۱۲
(۳) الدر المنثور ج۱ ص۲۰۲
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۱۵
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۸۶۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم مؤمنان عاصیان جوړېدلی شي مګر ګناهونه ورباندې احاطه نه شي کولی چې د توحیدي عقیدې او د ایمان درلودونکي دي، نو دوی به دوزخ ته د داخلېدلو په صورت کښې هلته همېشه نه وي، او د څه وخت څخه وروسته به ترې د الله ﷻ په فضل او رحمت سره رابهر شي.

﴿ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَقُولُوا۟ لِلنَّاسِ حُسْنًا وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ ﴿٨٣﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ أَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَٰرِهِمْ تَظَٰهَرُونَ عَلَيْهِم بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَٰرَىٰ تُفَٰدُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْىٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلْعَذَابِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٨٦﴾ ﴾

[۸۳] اوهغه وخت (یاد کړه) چې مونږ د بني اسرائیلو څخه کلک عهد واخست چې تاسو به عبادت نه کوئ مګر د الله ﷻ (او بس).

او تاسو به مور او پلار سره (نیکي کوئ) نیکي کول. او د قرابت د لرونکو سره هم او د یتیمانو او د مسکینانو سره هم، او تاسو به خلکو ته ښائسته وینا کوئ (خیر به یې غواړئ).

او تاسو به لمونځونه دروئ او زکاتونه به ورکوئ. بیا تاسو (د ذکرو شوو احکامو څخه) مخونه واړول مګر ستاسو د جملې څخه لږ کسانو (مخونه وانه ړول) حال دا چې تاسو د إستمرار په توګه اعراض کوونکي یاست.

[۸۴] او (ای بني اسرائیلو!) تاسو هغه وخت یاد کړئ چې مونږ ستاسو څخه کلک عهد واخست چې تاسو به خپلې وینې نه تویوئ او تاسو به خپل ورونه د خپلو کورونو څخه نه وباسئ: بیا تاسو (په همدغه عهد باندې) اقرار وکړ حال دا چې تاسو (ورباندې سمدستي هم) شهادت ورکوئ.

[۸۵] بیا تاسو ای همدغو (اقرار کوونکو او شهادت ورکوونکو کسانو)! خپل خانونه (خپل ورونه) وژنئ او ستاسو د جملې څخه یوه ډله د خپلو کورونو څخه وباسئ: (البته) په داسې حال کښې چې تاسو په ګناه او تجاوز سره د خپلو ورونو په ضرر (د نورو سره) کومک کوئ.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او که تاسو ته خپل ورونه په داسې حال کښې درشي چې بندیان وي نو تاسو د هغوی فدیه ورکوئ (چې د بند څخه خلاص شي).

او شان دا دی چې د هغوی د کورونو څخه ویستل په تاسو باندې حرام کړی شوي دي (خو تاسو یې هیڅ پروا نه ساتئ).

ایا نو تاسو په ځینې کتاب (تورات) باندې ایمان راوړئ او په ځینې باندې (یې) کفر غوره کوئ؟ نو ستاسو د جملې څخه به د هغه چا څه جزا وي کوم چې دغه کار کوي (هیڅ جزا به یې نه وي) مګر په نړۍ (او حقیر) ژوند کښې به یې شرمندګي (جزا وي) او د قیامت په ورځ به دوی سخت عذاب ته ورتاو کړی شي.

او الله ﷻ د هغو جنایاتو څخه ناخبره نه دی کوم چې تاسو یې (روزمره) عملي کوئ.

[۸۶] دغه (ذکره شوې ډله) هغه کسان دي کومو چې حقیرژوند دآخرت (په عوض) اخستی دی.

نو د دوی څخه به (په آخرت کښې) عذاب تخفیف نه کړی شي (بلکې دائم به پکښې کړېږي) او نه به دوی ته چې نصرت ورسره وکړی شي (او په زور سره د نجات خاوندان وګرځولی شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو په مضامینو کښې دا مضمون هم شامل وه چې هغه کسان دائمي دوزخیان دي په کومو باندې چې ګناهونو احاطه کړې وي. او په دې ایتونو کښې دې ته اشاره ده چې همدغه مضمون په بني اسرائیلو باندې ښه تطبیق دی چې نه یې د اوامرو اطاعت کړی دی او نه یې د نواهیو څخه اجتناب کړی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې ایتونو کښې دې ته اشاره کېږي چې هغو کسانو ته د ایمان د راوړلو تمه بې ځایه ده په کومو باندې چې ګناهونو احاطه کړې وي او په خپل یوه عهد باندې هم ولاړ نه پاتې کېږي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په بني اسرائیلو باندې ګناهونو احاطه کړې ده او دائمي کور یې دوزخ دی نو د جنت د اختصاص دعوه یې غلطه ده. او دا ځکه چې:

۱ـ ته خو هغه وخت دریاد کړه چې مونږ د همدوی څخه کلک تعهد اخستی وه چې تاسو به لاندې ارشادات په عمل کښې پیاده کوئ:

الف: تاسو به یوازې د الله ﷻ عبادت کوئ او د شیطان د پیروۍ او عبادت څخه به اجتناب خپلوئ.

ب: تاسو به د مور او پلار او نورو خپلوانو سره احسان کوئ او د صله رحمۍ څخه به کار اخلئ.

ج: تاسو به په یتیمانو او مسکینانو باندې ترحم خپلوئ او په خپلو مالونو کښې به د دوی حق نه هېروئ.

د: تاسو خلکو ته نېکې خبرې وکړئ د امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه کار واخلئ او هغه حقایق ورته هو بهو څرګند کړئ کوم چې تاسو ته په خپل کتاب (تورات) کښې د آخر الزمان پیغمبر

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هکله معلوم دي، تاسو د تحریف څخه اجتناب وکړئ او خلک مه غلطوئ.

هـ: تاسو لمونځونه ودروئ او زکاتونه اداء کړئ. یا په بل عبارت تاسو بدني عبادتونه او مالي عبادتونه ټول عملي کړئ.

۲ـ ای بني اسرائیلو! په ذکرو شوو ارشاداتو باندې تعهد دائمي وه چې تاسو ته هم شامل وه نو په کار وه چې تاسو هم په عمل کښې پیاده کړې وې، خو دغسې ونه شوه. دا ځکه چې د تعهد څخه وروسته بیا تاسو او ستاسو اسلافو د ارشاداتو تعمیل ته شا کړه مګر لږو کسانوورباندې وفا وکړه.

دغه ورکې ډله ستاسو په اسلافو کښې تیره شوې ده او په تاسو کښې هم موجودیت لري او څه لرې نه ده چې په راتلونکي کښې پکښې نور کسان هم شامل شي. خو دا احتمال کمزوری دی چې تاسو مخ اړوونکي خلک یاست او مخ اړول مو عادت دی.

۳ـ ددې کبله چې په خپلو تعهداتو باندې نه دربدل ستاسو عادت دی، نو تاسو هغه وخت یاد کړئ چې:

الف: ستاسو څخه مونږ کلک تعهد اخستی وه چې خپلې وینې به نه تویوئ او د ورور وژنې څخه به په کلکه اجتناب خپلوئ.

ب: تاسو به خپل ځانونه د خپلو کورونو څخه نه وباسئ. یا په بل عبارت تاسو به په خپلو ورونړو باندې یرغل نه وروړئ او چاپه به ورباندې نه اچوئ چې د خپلو کورونو څخه یې وتلو ته مجبور کړئ او سامانونه یې چور او تالا کړئ.

ج: تاسو به د خپلو ورونو په ضرر د نورو خلکو سره کومک نه کوئ چې توري ته لاس کړئ او د خپلو ورونو د غلیمانو په څنګ کښې ودرېږئ.

د: که ستاسو په ورونړو باندې بل چا یرغل ورووړ او هغوی یې اسیران کړه نو تاسو به یې فدیه ورکوئ ترڅو هغوی د بنده راخلاص شي.

۴ـ ای بني اسرائیلو! بیا تاسو په دغو تعهداتو باندې اقرار هم وکړ چې پوره کول یې لازم او ضرور دي حال دا چې تاسو په خپل اقرار باندې شهادت ورکوونکي یاست او ترې انکاري نه یاست.

۵ـ بیا تاسو (ای دغو اقرار کوونکو او شهادت ورکوونکو کسانو!) لاندې کړنلاره خپله کړه:

الف: تاسو د نن ورځې پورې خپل ځانونه بلکې خپل ورونه وژنئ چې هیڅ ترحم ورباندې نه خپلوئ او نه خپل عهد درپه زړه کوئ.

ب: تاسو لګیا یاست د خپلو ورونړو یوه ډله د خپلو کورونو څخه وباسئ او یرغل ورباندې وروړئ. یا په بل عبارت تاسو د هغو کسانو سره کومکیان او مله یاست کوم چې ستاسو په ورونړو باندې په عصیان او تجاوز سره تېری کوي. تاسو د هغوی ملاتړ یاست او په عصیان او تجاوز کښې ورسره شریکان یاست.

۶ـ ای دغو کسانو! تاسو د ذکرو شوو څلورو تعهداتو څخه فقط په یوه تعهد باندې وفا خپلوئ او ورباندې کلک ولاړ یاست، هغه دا چې که تاسو ته خپل ورونه په داسې حال کښې درشي چې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغوی بندیان وي او اسیران نیولي شوي وي، نو تاسو هغوی ته فدیه ورکوئ ترڅو ورباندې د بند څخه خلاص شي او ازاد شي.

حال دا چې د همدغو بندیانو بندیانول او د خپلو کورونو څخه اخراجول او د همدغو په ضرر د نورو سره کومک کول په تاسو باندې حرام ګرځولي شوي وه، خو تاسو دغه تحریم د پښو لاندې کړ، او په عمل کښې مو پیاده نه کړ.

۷_ ای دغو کسانو! ایا نو تاسو د خپل کتاب (تورات) په ځینو احکامو باندې ایمان راوړی دی او عملي صورت ورکوئ او په ځینو نورو باندې کفر غوره کوئ، عمل ورباندې نه کوئ؟.

یا په بل عبارت: تاسو په ټول تورات ایمان راوړی دی او که په ځیني تورات؟ که په ټول تورات مو ایمان راوړی وي نو په عمل کښې یې ولې په دوه وو برخو باندې وېشئ او په انتخابي توګه ورباندې عمل کوئ؟.

۸_ ای بني اسرائیلو! نو د هغه چا به څه سزا او جزا وي کوم چې په خپل کتاب باندې په انتخابي توګه عمل کوي؟ د دغسې کس هیڅ سزا نه ده مګر دا چې په دغه نړدې ژوند کښې یې رسوائي او شرمندګي ده، او د قیامت په ورځ به همدغه ډول کسان ډېر سخت عذاب ته ورټېل وهلی شي او پکښې به ورواچولی شي. او دا ځکه چې الله ﷻ د هغې کړنلارې څخه ناخبره نه دی کومه چې تاسو د خپلو ځانونو دپاره انتخابه کړې ده.

۹_ ای پیغمبره! دغه ذکره شوې ډله هغه کسان دي کومو چې په آخرت سره نړدې ژوند اخستی او غوره کړې ده، نو د دغې ډلې څخه به د قیامت په ورځ عذاب تخفیف نه کړی شي او نه به ورسره نصرت او کومک صورت ونیسي چې نجات او خلاصون ترې مونده کړي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ الآیة کښې چې کومو احکامو ته اشاره شوې ده د هغو حفاظت په ټولو ادیانو کښې فرض ګرځولی شوی وه، چې په مونږ باندې هم فرض کړی شوی دی لکه چې پوره وضاحت یې د [النساء: ۲۶، ۲۷] ایتونو کښې نازل شوی دی.

خو په دې زمانه کښې دیتیمانو حقوقو ته ډېره پاملرنه په کار ده چې په روان جهاد کښې تقریباً یونیم ملیون مجاهدین شهیدان شوه چې مېرمنې یې کونډې شوې او ماشومان یې یتیمان شوه.

که د یتیمانو پاملرنه د نظره وغورځوله شي او ښوونې او روزنې ته یې توجه ونه کړی شي نو دوی به بې ادبه غټ شي او شریعت به همدوی د پښو لاندې کړي حال دا چې پلرونه یې د اسلام د ترقۍ دپاره شهیدان شوي دي. که پاملرنه ورته ونه کړی شي نو هغوی به یا په هوټلونو کښې شاګردان جوړ شي او یا به د ډمانو شاګردي خپله کړي.

مونږ ته دې الله ﷻ توفیق راکړي چې په خپلو مواثیقو باندې کلک ودرېږو او د بني اسرائیلو خط السیر خپل نه کړو.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## په یاد ولرئ!

۲- په ﴿ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ ﴾ کښې د "ثم" په ضمیر سره د تغلیب په توګه د بني اسرائیلو ټول وړاندېني او وروستني مخاطب ګرځولي شوي دي. او دا څکه چې د ﴿وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ ﴾ جمله د ذکر شوي ضمیر څخه حال واقع شوې ده او په استمرار باندې دلالت کوي، که بالفرض وروستني پکښې د تغلیب په توګه شامل نه وی نو ذکره شوې جمله به نه وې نازله شوې چې د وړاندېنیو اعراض خو په مرګ سره ختم شوی دی او استمرار پکښې صورت نه شي نیولی.

دا دیو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمْ ﴾ څخه څرګندېږي چې ټول پخواني بني اسرائیل عهد ماتوونکي او بې لوظه نه وه لکه چې په وروستنیو کښې عبد الله بن سلام او د ده ملګري په خپل عهد کلک ولاړ او دینداره وه او د همدې کبله په ایمان باندې مشرف وګرځېده.

### یوه مقدمه

۳- په دې مقام کښې د ښه وضاحت دپاره د مقدمې په توګه لاندې معلومات په ذهن کښې ساتل په کار دي[۱].

الف: د هجرت څخه وړاندې په مدینه منوره کښې دوه ډوله خلک اوسېدل چې یو ډول یې مشرکان وه او په دوه پښو ویشلي شوي وه، چې یوې پښې ته یې "أوس" ویل او بله پښه د "خزرج" په نامه یادېده. د دغو دواړو قبیلو (أوس، خزرج) ترمنځ ډېره اوږده دښمني موجوده وه چې یو سلو شل (۱۲۰) کاله سابقه یې درلوده.

ب: دغو دواړو قبیلو به سره یو تربله وخت په وخت جنګونه کول او کورونه به یې سره تالا کول بلکې نه به یې په وژلو صرفه کوله او نه په اسیرولو او نه په بل ضرر رسولو.

ج: د مدینې منورې دوهم ډول اوسېدونکي یهودان (بني اسرائیل) وه چې په لاندې درېوو قبیلو باندې ویشلي شوي وه:

اول: یوه قبیله د بني قینقاع په نامه یادېده.

دوهم: دوهمې قبیلې د بني قریظه نوم درلود.

درېم: درېمه قبیله د بني نضیر په نامه مشهوره وه.

د: اولنۍ دواړه قبیلې (بني قینقاع، بني قریظه) د مشرکانو د "أوس" د قبیلې حلیفانې وې چې په ښه او بده کښې ورسره شریکانې وې او په جنګونو کښې به یې د همدوی په ګټه ګډون کاوه.

اما د یهودانو درېمه قبیله (بني نضیر) د مشرکانو د "خزرج" د قبیلې حلیفه او ملګرې وه.

هـ: کله به چې جنګ پیل شو نو د یهودانو ذکرې شوې درېواړه قبیلې به د مشرکانو د دوه وو قبیلو ترڅنګ ودرېدلې او په مقابل طرف باندې به یې هغه نادودې ترسره کولې کومې به چې د

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۲۰؛ تفسیر القاسمي ج۲ ص۱۸۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغوی حليفانو ترسره کولې. نو دوی به خپل هغه ورونه وژل او بنديانول او هم به يې د کورونو څخه ویستل کوم به چې په مقابل طرف کښې ولاړ وه.

و: کله به چې جنگ سوړ شو نو د يهودانو درېواړه قبيلې به د اسيرانو په ازادولو او د دوی په فديه ورکولو کښې سره متفقې شوې.

ز: کله به چې ورته چا پوښتنه راجع کړه چې دغه اسيران خو همدا ستاسو په لاس اسيران شوي دي، که تاسو ورسره څه خواخوږي درلودی نو اسيران به مو نه گرځولی، نو د خپل لاس اسيران څنگه په فديه ورکولو سره ازادوئ؟

د يهودانو جواب به دا وه چې دغه (فديه ورکول) زمونږ د تورات حکم دی او مونږ غواړو چې د خپل کتاب احکام عملي کړو.

ح: چې بيا به ورته پوښتنه راجع کړی شوه چې په تورات کښې خو په تاسو باندې د خپلو ورونو وژل او د کوره ويستل او هم د دوی په ضرر د چا سره کومک کول هم حرام دي نو تاسو دغه درېواړه کارونه ولي عملي کوئ او د خپل کتاب (تورات) لحاظ نه ساتئ.

نو د يهودانو جواب به دا وه چې مونږ د خپلو حليفانو کمزوري نه شو زغملی که څه هم زمونږ د کتاب احکام د پښو لاندې کېږي.

## د ايتونو تازه مصداق

۴ـ سبحان الله تقريباً څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله وروسته نن ورځ [1] د بني اسرائيلو عادت د آخر الزمان پيغمبر په دعوتي امت کښې ظهور وکړ او د ايتونو مصداق تحقق وموند هغه دا چې:

الف: د امريکايانو سختې بمبارۍ په عراقيانو رواني دي چې اوه زره تنې بمونه وربانديې وروي، او هيڅ زړه سوی او ترحم ورباندې نه لري.

ب: خو د دې سره‌سره امريکايان وايي چې مونږ په عراقي بنديانو باندې ډېر ترحم او زړه سوی کوو، حال دا چې همدغه بنديان د همدوی د بې رحميو د کبله بنديان شوي دي.

ج: لنډه دا چې امريکايان په عامو عراقيانو باندې وحشيانه بمبار کوي او د عراقي بنديانو سره په انساني وضعه باندې وياړي او خپله فريضه يې بولي، حال دا چې د انساني وضعې غوښتنه دا ده چې بمباري يې ورباندې بنده کړې وی.

## هېر مو نه شي!

۵ـ هېر مو نه شي! چې په ﴿وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَـٰرِكُمْ﴾ کښې د "أَنْفُس" د کلمې څخه په دې مقام کښې خپل مسلکي ورونه مطلب دي.

شايد چې د ورونو څخه د ﴿أَنفُسَكُمْ﴾ په تعبير سره به دې ته اشاره وي چې هر مسلمان ته په

---

[1] ۱۳۶۹/۱۱/۶ هـ ش

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کار دي چې بل مسلمان ورور د خپله ځانه کم ونه ګڼي او د هغه ضرر او وژلو ته د خپل ځان د ضرر او د خپل ځان د وژلو په نظر وګوري.

دغه ډول تعبیر په بل ایت کښې داسې نزول موندلی دی چې: ﴿ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ [النور: ۶۱] یعني: نو کله چې تاسو کورونو ته داخلیږئ نو په خپلو ځانو (په خپلو ورونو) سلام واچوئ.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى»[1] یعني: ای کتونکیه! ته مؤمنان ګورې چې یو تربله سره په مهربانۍ او دوستۍ کښې او هم په میلان (او نرمۍ) کښې د یوه جسد غوندې دي، چې کله جسد د یوه اندام څخه شکایت وکړي (یو اندام مریض شي) نو د جسد متباقي اندامونه سره یو تربله په بې خوبۍ او تبې سره ناراړي کړي (ټول بې خوبه او ټول تبه ونیسي).

## اعرابي تحلیلونه

۶ـ په دې مقام کښې لاندې دوه اعرابي تحلیلونه ولولئ:

الف: په ﴿ ثُمَّ أَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ ﴾ کښې د ﴿ أَنتُمْ ﴾ کلمه مبتداء ده اود ﴿ تَقْتُلُونَ ﴾ کلمه یې خبر واقع شوې ده او د ﴿ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ کلمه منادی ده چې د "یَا هٰؤُلاء" په تاویل سره معترضه جمله ده[2]، یعني: ای دغو اقرارکوونکو او شهادت ورکوونکو کسانو! بیا همدا تاسو خپل ځانونه (خپل ورونه) وژل (او احکام مو د پښو لاندې کړه).

ب: په ﴿ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ﴾ کښې د "هُوَ" کلمه د شان ضمیر ده (چې مرجع نه غواړي) او مبتداء ده.

د ﴿ إِخْرَاجُهُمْ ﴾ کلمه بله مؤخره مبتداء ده او ﴿ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ ﴾ یې مقدم خبر دی، نو دغه جمله د "هُوَ" دپاره هم تفسیره ده او هم یې خبر ده[3]، یعني: او شان دا دی چې د خپلو ورونو د کوره ویستل په تاسو باندې په تورات کښې حرام ګرځولي شوي وه خو تاسو یې هیڅ پروا خپله نه کړه.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: دذکرو شوو بیاناتو څخه څرګنده شوه چې په ﴿ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ کښې د "بَعْض" کلمه د فدیه ورکولو څخه کنایي ده، او په ﴿ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ﴾ کښې د "بَعْض" کلمه د لاندې درېو حکمونو څخه عبارت ده:

(۱) د ورور وژل. (۲) د ورور د کوره ویستل. (۳) د ورور په ضرر د غلیمانو سره کومک کول.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۸۸۹

(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۹۱

(۳) تفسیر القرطبي ج۲ ص۲۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پوښتنه دا ده چې ایا په عصیان او عملي جنایت سره څوک کافر ګرځي؟

مونږ وایو چې: د آخر الزمان پیغمبر ﷺ د شریعت حکم دا دی چې په بد عملی باندې مؤمن کس نه کافر کېږي ترڅو یې چې حلال نه وي ګڼلی، همدغه موضوع به ان شاء الله ﷻ د [آل عمران: ۲۴] ایت لاندې د نصوصو په رڼا کښې واضحه شي.

خو په ایت شریفه کښې د موسی علیه السلام د شریعت حکم راحکایت شوی دی، نو څه لرې نه ده چې هلته به په بدعملی باندې سړی کافر ګرځېده[1]، او یا به هغوی ورسره انکار هم ملګری کړی وي الله ﷻ ته د زړونو په شمول هر شی معلوم او څرګند دی.

## د ایت شریف ارشاد

۸ـ په ﴿ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ﴾ کښې مونږ ته ارشاد دی چې په ورور وژنه او بې اتفاقی کښې د آخرت د عذاب څخه په غیر دنیاوي شرمندګي او رسوائي هم نغښتې ده.

همدې مطلب ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡ ﴾ [الأنفال: ۴٦] یعني: او تاسوخپلمنځي جګړې مه کوئ چې (په دې صورت کښې به) کمزوري شئ (هم به بې زړه شئ) او قوت به مو لاړ شي.

د ذکرو شوو ایتونو مضمون یوه پښتون شاعر[2] په خپلو اشعارو کښې څومره ښه ځای په ځای کړي دي چې ویلي یې دي چې:

فرق چې نه وي په سپین په تور کښې :: عزت به نه وي په هغه کور کښې
دولت به لاړ شي د هغو خلکو :: چې سره همېش وي په شرو شور کښې

۹ـ په ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِ ﴾ کښې الله ﷻ د بني اسرائیلو د جنایاتو بنیاد ته اشاره کړې ده. او دا ځکه چې هرڅوک چې په دنیا حارص او محبت کوونکی جوړ شي نو هغه بیا د یوه جنایت څخه هم مخ نه اړوي او د هر ډول عصیان مرتکب ګرځي.

همدې مطلب ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ»[3] یعني: دوه وږي لیوان چې د ګډو په رمه کښې خوشې کړی شي (چې ګډې شپون ونه لري) ګډو ته دومره فاسدوونکی نه دی څومره چې په مال او عزت باندې حرص کول د سړي دین فاسدوونکی دی.

﴿ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَقَفَّيۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ بِٱلرُّسُلِۖ وَءَاتَيۡنَا عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدۡنَٰهُ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِۗ أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمۡ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهۡوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ

---

(۱) روح المعاني ج۱ ص۳۱۴
(۲) خوشحال خان خټک.
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص٦۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾ وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ ۚ بَل لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ ﴾

[۸۷] او یقینًا مونږ موسی ﷺ ته کتاب (تورات) ورکړی وه او د هغه ﷺ څخه وروسته مو پرله پسې پیغمبران وراستولي وه.

او عیسی بن مریم ﷺ ته مو (چې د همدغو پیغمبرانو د جملې څخه وه) څرګند معجزات ورکړي وه او په روح القدس (جبرائیل ﷺ) سره مو تائید کړي وه.

ایا نو هرکله چې تاسو ته یوه پیغمبر هغه شی دروړی دی کوم چې ستاسو خوښ نه وه نو تاسو (وربانديې) تکبر کړی دی چې یوه ډله مو (فقط) تکذیبه کړې ده او یوه ډله (برسېره په تکذیب) تاسو وژنې:

[۸۸] او بني اسرائیل (یهودان) وایي چې: زمونږ زړونه (د دعوت د قبول څخه) په تیکي کښې دي (څوک نه شي کولی چې څه خبره پکښې ورننباسي).

(دغسې نه ده چې دوی خیال کوي) بلکې الله ﷻ د دوی د کفر په سبب په دوی باندې لعنت ورنازل کړی دی (او د خپل رحمت څخه یې لرې کړي دي).

نو دوی ډېر لږ ایمان راوړي (ایمان راوړونکي کسان یې ډېر لږ دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایاتونو کښې هم د وړاندېنیو ایاتونو مضامین تعقیب شوي دي چې په بني اسرائیلو باندې د هره طرفه ګناهونو احاطه کړې ده نو د ایمان د راوړلو تمه ورته په کار نه ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د بني اسرائیلو په ارتباط په خپل امت باندې څه نور وضاحت هم قرائت کړه چې ګناهونو وربانديې احاطه کړې ده او د ایمان تمه ورته په کار نه ده هغه دا چې:

۱_ مونږ هغوی ته جلیل القدر پیغمبر موسی ﷺ وراستولی وه او د هدایت دپاره مو کتاب (تورات) هم ورکړی وه ترڅو هغوی دهمدغه کتاب په رڼاکښې خپل د دنیا اوآخرت کارونه برابرکړي.

۲_ بیا مو د موسی ﷺ څخه وروسته هغوی ته وخت په وخت (یو په بل پسې) ډېر پیغمبران وراستول، چې ټولو د همدغه کتاب (تورات) تعمیل ته دعوت چلاوه.

۳_ بیا مونږ د دغو ټولو پیغمبرانو په پای کښې عیسی بن مریم ﷺ د پیغمبر په حیث وراستاوه او د بني اسرائیلو د پیغمبرانو سلسله مو وربانديې ختمه کړه.

مونږ عیسی ﷺ ته د نبوت د اثبات دپاره بنې پرېمانه معجزې ورکړې وې چې د ایمان د راوړلو دپاره یې کفایت کاوه.

او همدغه پیغمبر مو په جبرائیل ﷺ سره په امتیازي توګه تائید کړی وه، چې هغوی هم د دغه

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



امتیازي تائید څخه انکار نه شي خپلولی.

۴ـ ای بني اسرائیلو! څرنګه چې تاسو هم اعتراف لرئ چې تر ډېر وخته پورې د نبوت سلسله په تاسو کښې روانه وه، نو پوښتنه دا ده چې تاسو د دغو پیغمبرانو سره څه چال چلند غوره کړ نو جواب یې دا دی چې هر کله چې تاسو ته خپلو پیغمبرانو هغه حکم دروړی دی کوم به چې تاسو نه خوښاوه، کوم به چې ستاسو د خواهشاتو سره مخالف وه، نو تاسو به وربانديې تکبر وکړ او لاندې چال چلند ته به مو لاس واچاوه:

الف: یوه ډله مو تکذیب کړه چې تاسو د نبوت په دعوه کښې دروغژنان یاست.

ب: بله ډله مو په تکذیب باندې علاوه شهیدان کړه او د دښمنانو په نظر مو ورته وکاته، بلکې تاسو اوس هم لګیا یاست د آخر الزمان پیغمبر د قتل او شهیدولو دسائس جوړوئ.

۵ـ ای پیغمبره! بني اسرائیل په ذکرو شوو جنایاتو باندې علاوه تاته نورې کفري خبرې هم دراوروي. هغه دا چې:

الف: زمونږ زړونه د علومو جوالونه دي مونږ ستا علم او دین ته څه ضرورت نه لرو چې ایمان درباندې راوړو.

ب: زمونږ زړونه په غلافونو کښې دي او ستا په شمول هیڅوک نه شي کولی چې د دعوت اثر ورننباسي، زمونږ د ایمان راوړلو دپاره ستا هلې ځلې ټولې عبثې او بې ګټې دي.

۶ـ دغسې نه ده لکه چې هغوی خیال کوي بلکې الله ﷻ وربانديې د کفري عقیدې د خپلولو د کبله خپل لعنت ورولی دی او د رحمت څخه یې لرې کړي دي، نو د ایمان په راوړلو کښې یې برخه پاتې نه ده.

۷ـ ای پیغمبره! څرنګه چې بني اسرائیل د پیغمبرانو د قتل په شمول د زښتو ډېرو جنایاتو مرتکب ګرځېدلي دي او الله ﷻ د خپل رحمت څخه لرې کړي دي، نو د دوی ډېر لږ کسان به ایمان راوړي او اکثریت به یې کفار پاتې شي.

نو ته ورته تمه مه کوه او نه دې ورته مؤمنان تمه کوي چې هغوی به په ایمان مشرف وګرځي.

## توضیحات

۱ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو[1] د بني اسرائیلو د پیغمبرانو په هکله لیکلي دي چې ټول تعداد یې څلور زره (۴۰۰۰) یا اویا زره (۷۰۰۰۰) وه، مګر مونږ وایو چې یوازې الله ﷻ ته معلومه ده چې اصلي تعداد به یې څو تنو ته رسېده. خو سلسله یې په موسی ﷺ سره پیل شوې وه او په عیسی ﷺ باندې یې اختتام موندلی وه چې ټولو پیغمبرانو د تورات د تعمیل دپاره دعوت چلاوه، یوازې عیسی ﷺ (چې انجیل وربانديې نازل شوی وه) د تورات ځینې احکام یې منسوخ ګرځولي وه چې ځینې حرام شیان یې ورته حلال کړه چې د [آل عمران: ۵۰] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

[1] روح المعاني ج۱ ص۳۱۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه عیسی علیه السلام ته څه معجزات هم ورکړی شوي وه چې د ځینو نومونه د [المائدة: ۱۱۰] ایت کښې نازل شوي دي.

## د "رُوح القدس" معنی

۲ـ په ﴿وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ﴾ کښې د "رُوح الْقُدُس" کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۱]. خو بهتر تفسیر یې دا دی چې دا د جبریل علیه السلام لقب دی[۲]. شاید چې دا لقب به د دې کبله ورکړی شوی وي چې دغه پرښته د وحې راوړونکې ده او پوره څرګنده ده چې وحې د خلکو دپاره د دنیا او آخرت د ژوند دپاره د روح مثال لري. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: په یوه اوږده حدیث کښې یوه ورځې عمر رضي الله عنه (امیر المؤمنین) د آبو هریره رضي الله عنه څخه په سوګند سره پوښتنه وکړه چې ایا تا د نبي کریم ﷺ څخه اورېدلي دي چې حسان رضي الله عنه ته یې په «اللّهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ» په کلماتو سره دعاء وکړه چې: ای الله! حسان رضي الله عنه په روح القدس (پاکې پرښتې) سره تائید او قوي کړې. نوموړي صحابي رضي الله عنه جواب ورکړ چې: «اللّهُمَّ نَعَمْ»[۳] یعنې: هو، ما دغه دعاء اورېدلې ده، ای الله! ته شاهد یې.

ب: یو ځل نبي کریم ﷺ حسان رضي الله عنه مخاطب کړ چې: «اهْجُهُمْ أَوْ هَاجِهِمْ وَجِبْرِيلُ مَعَكَ»[۴] یعنې: ای حسانه! (زما څخه په خپلو اشعارو کښې د مشرکانو د بدو خبرو دفاع وکړه او) ویې کنځه حال دا چې جبرائیل علیه السلام درسره ملګری دی.

## په جبرائیل علیه السلام سره د عیسی علیه السلام تائید

۳ـ پاتې شوه دا خبره چې الله ﷻ په څه ډول په جبرائیل علیه السلام سره عیسی علیه السلام تائید کړی او قوي کړی وه؟، نو د دغه تائید لاندې مثالونه ولولئ:

الف: د عیسی علیه السلام د ولادت دپاره د الله ﷻ د پلوه جبرائیل علیه السلام ذریعه ګرځولې شوې وه چې د [مریم: ۱٦ـ۳۴] ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: عیسی علیه السلام به چې چرته ګرځېده نو هلته به ورسره جبرائیل علیه السلام ملګری وه حتی چې اسمان ته دواړه ملګري ختلي او د قیامت په قرب کښې به دواړه ملګري ځمکې ته رانښکته شي، او داسې نور[۵].

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: بني اسرائیلو خو پخوا پیغمبران علیهم السلام وژلي وه، نه دا چې په راتلونکي

(۱) زاد المسیر ج۱ ص۹٦
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۲۲؛ تفسیر الطبري ج۱ ص۱۰۵
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۰۰
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۴۵۷
(۵) البحر المحیط ج۱ ص۴۸۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې به یې وژني، نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد د ﴿ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴾ په عوض ·وَفَرِيقًا قَتَلْتُمْ· نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې دا د دې دپاره چې:

الف: ترڅو اورېدونکي د هغوی پیغمبر وژنه حاضره وګڼي او پوه شي چې دا څومره زیات قبیح او بد کار دی چې څوک خپل ناصحان او خیرغوښتونکي کسان وژني.

ب: ترڅو دې ته اشاره شي چې بني اسرائیل (یهودان) د خپلو پلرونو په کړنلاره راضي او خوښ دي، حتی که بالفرض په دې زمانه کښې د هغوی پیغمبران ژوندي وی نو د وژلو به یې ورباندې صرفه نه وی کړې.

## د آخر الزمان پیغمبر ﷺ د وژلو هڅې

۵ـ بني اسرائیلو (یهودانو) د آخر الزمان پیغمبر ﷺ د وژلو هڅې هم کړې دي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: یو ځل هغوی په نبي کریم ﷺ باندې کوډې (جادو) کړی وه ترڅو یې په شهادت باندې ورسوي، چې د احادیثو په رڼا کښې د همدې مطلب پوره تفصیل ان شاء الله ﷻ د "سُورة الْفَلَق" په شان نزول کښې راروان دی.

ب: د څو احادیثو لنډ مضمون دی چې:

اول: یو ځل یوې یهودۍ ښځې د خیبر په غزا کښې په نبي کریم ﷺ باندې زهرجنه غوښه وخوړه ترڅو یې په شهادت باندې ورسوي[۱].

دوهم: نبي کریم ﷺ نوموړې یهودۍ ښځه راوغوښتله او مخاطبه یې کړه چې: ایا تا په دغې غوښه کښې زهر اچولي دي؟

دریم: هغې اعتراف وکړ چې: هو! ما دغه کار کړی دی خو ته چا خبر کړې؟

څلورم: نبي کریم ﷺ د پسه لاس ته اشاره وکړه او ویې ویلې چې: «أَخْبَرَتْنِي هَذِهِ»[۲] یعنې: زه دغې غوښې (د پسه لاس) خبر کړم کوم چې دغه دی زما په لاس کښې دی.

پنځم: نبي کریم ﷺ د خپل مرض الموت په وخت کښې فرمایلي دي چې: «مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ فَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذَلِكَ السُّمِّ»[۳] یعنې: زه په دوامداره توګه وم چې د هغه زهرجن خوراک د کبله مې په خپل بدن کښې درد مونده کاوه کوم چې ما په خیبر کښې خوړلی وه. نو دغه (اوس) هغه وخت دی چې زه پکښې د همدغو زهرو د کبله د خپل شاړګ پرې کېدل مونده کوم.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۴۳۵
(۲) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲٦۴
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص٦۳۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "غُلف" څه معنی؟

٦_ په ﴿ وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ ﴾ کښې د ﴿ غُلْفٌ ﴾ کلمه د "أغْلَف" _لکه "أشْرَف"_ جمعه ده، هر شی چې په غلاف (پوښ) کښې وي هغه ته د "أغْلَف" لقب ورکولی کېږي[۱]. یعنې: بني اسرائیل (یهودان) وایي چې زمونږ زړونه ستا د دعوت د قبول څخه په غلاف (پوښ) او پرده کښې پټ دي، ته ندشی کولی چې خپل دعوت پکښې ورننباسې. د ښه وضاحت دپاره لاندې نکات ولولئ:

الف: د یهودانو دغه خبره د مشرکانو هغې خبرې ته ورته ده کومه چې الله ﷻ د هغوی د خولې څخه راحکایته کړې ده چې: ﴿ وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ ﴾ [حم السجدة:۵] یعنې: او مشرکان وایي چې زمونږ زړونه د هغه شي څخه په پرده کښې دي د کوم دپاره چې ته مونږ دعوتوې.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې ټول زړونه په څلورو ډولونو سره تقسیم کړي دي او بیا یې فرمایلي دي چې: «وَأَمَّا الْقَلْبُ الْأَغْلَفُ فَقَلْبُ الْكَافِرِ»[۲] او هر چې أغلف (په پوښ کښې) زړه دی نو هغه د کافر زړه دی چې د حق د اورېدلو څخه پټ دی.

## یو اعرابي تحلیل

۷_ په ﴿ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴾ کښې د "مَا" توری د قلت په مبالغې باندې دلالت کوي[۳]، او د "قَلِیلًا" کلمې په نصب کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[۴]، خو کوم احتمال چې مونږ ته غوره بربښي هغه دا دی چې دغه کلمه (قَلِیلًا) د خپل مقدر موصوف په لحاظ د ﴿ يُؤْمِنُونَ ﴾ دپاره مفعول مطلق واقع شوې ده، ته به وایې چې داسې یې نزول موندلی دی چې: "فَيُؤْمِنُونَ إِيمَانًا قَلِيلًا غَايَةَ الْقِلَّة".

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ایمان قلت په درېوو ډولونو سره صورت نیولی شي او څه لرې نه ده چې د بدلیت په لحاظ درېواړه ډولونه اراده کړی شوي وي. هغه دا چې:

الف: د "مُؤمن به" د قلت په لحاظ. یعنې نو یهودان د خپل کتاب په ډېرو لږو احکامو باندې ایمان راوړي. همدې مضمون ته په [البقرة:۸۵] ایت کښې اشاره شوې ده چې ایا نو تاسو په خپل خینې کتاب باندې ایمان راوړئ او په خینې باندې کفر غوره کوئ؟

ب: د زمانې د قلت په لحاظ سره. یعنې هغوی د آخر الزمان پیغمبر په دین باندې ډېر لږ وخت ایمان راوړي. همدې مضمون ته په [آل عمران:۷۳] ایت کښې اشاره شوې ده چې د اهل الکتابو یو ډله (مشران خپلو کشرانو) ته وایي چې تاسو د سهار د مخې په آخر الزمان پیغمبر باندې ایمان

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۸۵. لسان العرب ج۹ ص۲۷۱
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۳٦
(۳) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۲۸
(۴) البحر المحیط ج۱ ص۴۸۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راوړئ او د بېګاه د پلوه ورباندې کفر غوره کړئ شاید چې د دغه دین پیروان هم ترې راواوړي او ستاسو ملګرتیا خوښه کړي.

ج. د اشخاصو د قلت په لحاظ. یعنې نو د هغوی ډېر لږ کسان به ایمان راوړي او په محمدي (ﷺ) دین باندې به عقیده خپله کړي لکه عبد الله بن سلام ﵁ او د ده ملګري.

﴿ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَٰبٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُوا۟ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُوا۟ كَفَرُوا۟ بِهِۦ ۚ فَلَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بَغْيًا أَن يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ فَبَآءُو بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٍ ۚ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٩٠﴾ ﴾

[۸۹] او هرکله چې بني اسرائیلو ته د الله ﷻ د نزده داسې کتاب ورغی (ورورسېد) چې د هغه (کتاب یعنې تورات) تصدیق کوونکی وه کوم چې د هغوی سره شتون درلود (نو هغوی ورباندې کفر غوره کړ).

حال دا چې هغوی (د تصدیق کوونکي کتاب د ور رسېدلو څخه) مخکښې (په همدې کتاب او د همدې کتاب په راوړونکي پیغمبر) سره په هغو کسانو باندې نصرت غوښت کومو چې کفر (شرک) غوره کړی وه.

نو هر کله چې هغوی ته هغه شی (کتاب) ورغی کوم یې چې ښه پېژانده نو کفر یې ورباندې اختیار کړ، نو په کفارو باندې د الله ﷻ لعنت دی (چې په خپله خبره نه ودرېږي).

[۹۰] ډېر بد شی وه (البته) داسې شی چې بني اسرائیلو ورباندې خپل ځانونه خرڅ کړي وه. (هغه دا چې) هغوی په هغه کتاب (قرآن کریم) باندې (د ایمان راوړلو په عوض) کافر کېدل د حسد د کبله غوره کړه چې الله ﷻ د خپلو بندګانو د جملې څخه د خپل فضل څه برخه په هغه چا باندې ورنازله کړه کوم ته یې چې اراده وشوه.

نو بني اسرائیلو (یهودو) د یوه غضب دپاسه په بل غضب باندې رجوع وکړه (او خپلو ځانونو ته یې په دنیا کښې غضبونه وګټل).

او (په آخرت کښې) د کفارو دپاره سپکوونکی (تحقیروونکی) عذاب (تاکلی شوی) دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې په بني اسرائیلو (یهودانو) باندې ګناهونو احاطه کړې ده او د الله ﷻ لعنت ورباندې ورېدلی دی نو د ایمان د راوړلو تمه ورته په کار نه ده. چې حاصل یې داسې راځي:

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د بني اسرائیلو (یهودانو) په هکله لاندې مطالب هم قرائت کړه:

۱ـ هر کله چې هغوی ته د الله ﷻ د پلوه کتاب (قرآن کریم) ورشي او ورباندې قرائت کړی شي نو سمدستي ورباندې کفر غوره کوي او ترې منکرېږي چې دا د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی.

سره د دې چې ذکر شوی کتاب (قرآن کریم) د هغه کتاب تصدیق کوونکی دی کوم چې د هغوی سره دی، چې د تورات څخه عبارت دی، نو که بالفرض دغه کتاب د هغوی د کتاب تصدیق نه کولی، نو بیا به یې د انکار حق درلودی.

۲ـ د دغه کتاب (قرآن کریم) د نزول څخه وړاندې او هم د هغه چا د مبعوثیت څخه وړاندې چې دغه کتاب ورباندې نزول موندلی دی، هغوی همدغه کتاب او همدغه پیغمبر ته سترګې په لار وه چې ای الله! دغه آخر الزمان پیغمبر مبعوث کړه ترڅو مونږ ورباندې ایمان راوړو او په جهاد کښې یې ترڅنګ کلک ودرېږو ترڅو مونږ د همدغه پیغمبر په قوت سره په هغو کسانو باندې غلبه مونده کړو او د تسلطه یې خلاصون مونده کړو کومو چې کفر او شرک اختیار کړی دی او په هیڅ پیغمبر باندې عقیده نه خپلوي.

۳ـ نو هر کله چې ورته ذکر شوی پیغمبر ورغی او هغه علامات یې تول په سترګو ولیده کومو چې په آخر الزمان پیغمبر پورې اختصاص درلود، نو سمدستي ورباندې کافر شوه او بالکل ترې انکاري وګرځېده.

۴ـ نو په دغو کفر اختیاروونکو کسانو باندې د الله ﷻ لعنت دی او د ده ﷻ د رحمت څخه لرې دي چې د معرفت او پېژاندنې سره سره په عنادي توګه په کفر کلک دي.

۵ـ ای پیغمبره! نو هغه شی ډېر بد شی دی چې یهودانو ورباندې خپل ځانونه پلورلي دي هغه دا چې:

الف: هغوی د عناد د کبله په هغه شي باندې کفر او انکار غوره کړی دی کوم چې الله ﷻ په حقه نازل کړی دی چې هغه د قرآن کریم څخه عبارت دی.

ب: د عناد بنیاد یې دا دی چې هغوی نه خوښوي چې په بل چا باندې څه وحې نازله کړی شي حال دا چې د الله ﷻ فضل په هغوی پورې محصور او ایسار نه دی بلکې د خپلو بندګانو څخه یې چې په هر چاباندې اراده وشي په هغه باندې خپل فضل ورنازلوي او پیغمبر یې ګرځوي.

۶ـ نو د دغه بخل او عناد د کبله بني اسرائیلو (یهودانو) د یوه غضب د پاسه په بل غضب سره هم رجوع وکړه چې دوه غضبونه یې په خپلو اوږو بار کړه، چې د یو پلوه یې په ما أنزل الله باندې ایمان رانه ؤړ او د بله پلوه یې په آخر الزمان پیغمبر باندې حسد وکړ، بلکې د جنایاتو په سبب یې زښت ډېر غضبونه خپل کړه.

۷ـ ای پیغمبره! دغه کارونه هغوی خپلو ځانونو ته د عزت د ګټلو په منظور ترسره کوي، خو دغسې نه ده بلکې د الله ﷻ د پلوه د کفارو دپاره په دنیا او آخرت کښې سپکوونکی عذاب ټاکلی شوی دی نو هیڅکله به په عزت مونده او برخمن نه شي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَلَمَّا جَآءَهُمۡ كِتَٰبٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ ﴾ کښې د "لما" توری د شرط دپاره دی چې مدخوله جمله یې شرطیه جمله ده، د دغه شرط په جواب کښې علماوو کرامو ګڼ احتمالات لیکلي دي[1]، خو کوم احتمال چې مونږ ته غوره بریښي هغه دا دي چې د ذکر شوي شرط جواب "جزائیه جمله" مقدره ده چې مونږ ترې په "کَفَرُوا بِهِ" سره تعبیر کولی شو[2]، په همدغې مقدرې جملې باندې په ﴿ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُواْ كَفَرُواْ بِهِۦ ﴾ کښې د ﴿ كَفَرُواْ بِهِۦ ﴾ جمله دلالت کوي چې د "فَلَمَّا" دپاره جزائیه جمله ده.

دا د یو پلوه، او د بله پوره په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ مُصَدِّقٞ ﴾ کلمه دېته اشاره ده چې قرآن کریم د تورات تصدیق کوونکی دی، البته په لاندې معناوو سره:

الف: دواړه کتابونه په عقیدوي احکامو او د فرعي احکامو په اصولو کښې سره متفق دي.

ب: قرآن کریم د تورات هغه خبره رښتیا کړه چې آخر الزمان پیغمبر به مبعوث شي او یو عظیم الشان کتاب به وربانديې نازل کړی شي.

ج: قرآن کریم دا خبره تصدیق کړه چې تورات په حقه د الله ﷻ د پلوه په موسی ﷺ باندې نازل شوی وه.

## استفتاح څه معنی؟

۲ـ په ﴿ مِن قَبۡلُ يَسۡتَفۡتِحُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَسۡتَفۡتِحُونَ ﴾ کلمه د "اسْتِفْتَاح" ـلکه "اسْتِخْرَاج"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د نصرت غوښتلو په معنی ده[3].

په دې مقام کښې علماوو کرامو نصرت غوښتل په لاندې دوه ډوله تفسیر کړي دي او څه لرې نه ده چې د بدلیت په ملحوظ دواړه ډولونه مراد وي:

الف: ځینې علماء کرام وايي چې د بعثت څخه وړاندې به چې کله په اهل الکتابو باندې د مشرکانو د پلوه ظلم او تېري صورت ونیوه نو دوی به د سوال لاسونه اوچت کړه چې: ای الله! ته آخر الزمان پیغمبر مبعوث وګرځوې، ترڅو مونږ د ده په ملګرتیا د مشرکانو کفارو سره جهاد وکړو او خپل کسات ترې واخلو[4].

ب: ځینې نور وايي چې اهل الکتابو به د بعثت څخه وړاندې د مشرکانو سره په جنګونو کښې د الله ﷻ څخه د آخر الزمان پیغمبر په برکت فتحه او نصرت غوښت[5].

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۲۷۴
(۲) تفسیر القاسمي ج۲ ص۱۸۷
(۳) لسان العرب ج۲ ص۵۳۷
(۴) تفسیر الطبري ج۱ ص۴۱۱
(۵) تفسیر القرطبي ج۲ ص۲۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څو نکات

۳_ په ﴿ بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْا۟ بِهِ ﴾ الآية کښې لاندې نکات په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: په ﴿ بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ﴾ کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات ليکلي دي[۱]، خو مونږ فقط د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

اول: د "بِئْسَ" کلمه د "ذَمّ" فعل دی چې ضمير پکښې مستتر دی او مرجع نه لري.

دوهم: د "مَا" کلمه د "شيء" په معنی سره موصوفه ده او ﴿ ٱشْتَرَوْا۟ بِهِ ﴾ يې صفت واقع شوې ده.

دریم: دغه صفت او موصوف محلاً مرفوع دی چې د "بِئْسَ" د مستتر مبهم ضمير دپاره تفسير واقع شوی دی.

ب: د ﴿ ٱشْتَرَوْا۟ ﴾ کلمه د "شِرَاء" _لکه "نِدَاء"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د أضدادو څخه ده نو د خرڅولو او اخستلو دواړو په معناوو کښې استعمالېږي، خو په دې مقام کښې د خرڅولو معنی ورکوي[۲].

ج: د ﴿ أَن يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ کلمات د مقدرې مبتداء (هُوَ) دپاره خبر دی چې همدغه "هُوَ" ﴿ بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْا۟ بِهِ ﴾ ته راجع دی[۳].

د: د ﴿ بَغْيًا ﴾ کلمه په ډېرو معناوو کښې استعمالېږي لکه طلب، ظلم، تکبر، حسد او داسې نور. خو په دې مقام کښې ترې علماوو کرامو د حسد معنی اخستې ده[۴].

ه: په ﴿ فَبَآءُو بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٍ ﴾ کښې د ﴿ بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٍ ﴾ کلمات علماوو کرامو په غبرګو غضبونو سره تفسير کړي دي لکه د خوسې عبادت او په عيسى ﷺ باندې کفر غوره کول يا لکه په آخر الزمان پيغمبر ﷺ باندې کافر کېدل او د خپل کتاب (تورات) تحريفول او داسې نور[۵].

خو غوره دا ده چې دغه کلمات په دې مقام کښې د غضبونو په کثرت باندې دلالت کوي. او دا ځکه چې د بني اسرائيلو (يهودانو) جنايات خو دومره نه دي چې د حصر لاندې راشي.

نو د ذکرو شوو نکاتو په ملحوظ به د ايت شريف د معنى حاصل داسې راځي چې:

ډېر بد شی وه البته کوم شی چې بني اسرائيلو ورباندې خپل ځانونه خرڅ کړه او د الله ﷻ د غضبونو لايق يې پرې وګرځول، هغه دا چې دوی په هغه کتاب (قرآن کريم) باندې د حسد او کينې د کبله کفر غوره کړ کوم چې الله ﷻ د خپل فضل په بنياد د دوی څخه په غير په بل چا (محمد ﷺ باندې نازل کړ او د دوی څخه يې ورباندې د نبوت سلسله ختمه کړه.

---

(۱) تفسير الکشاف ج۱ ص۱۶۵؛ تفسير القرطبي ج۲ ص۲۷؛ البحر المحيط ج۱ ص۴۸۸

(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۴۲۷

(۳) روح المعاني ج۱ ص۳۲۲

(۴) القاموس المحيط ج۱ ص۲۹۹؛ تفسير البغوي ج۱ ص۹۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۵) زاد المسير ج۱ ص۹۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د همدغه حسد او کینې د کبله بني اسرائیل د زښتو ډېرو جنایاتو مرتکب وګرځېده او د الله ﷻ زښت ډېر غضبونه یې د خپلو ځانونو دپاره وګټل چې یوه غضب د بل غضب دپاسه صورت ونیوه. په همدې بنیاد د بني اسرائیلو (یهودانو) د نېکۍ استعداد ختم شو نو د ایمان د راوړلو تمه کول ورته بالکل بې ګټې دي.

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُوا۟ نُؤْمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٩٢﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱسْمَعُوا۟ ۖ قَالُوا۟ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا۟ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ۚ قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾ ﴾

[۹۱] او کله چې بني اسرائیلو ته وویلی شي چې تاسو په هغه (کتاب) ایمان راوړئ کوم چې الله ﷻ (په دې زمانه کښې) نازل کړی دی، نو هغوی (په جواب کښې) وایي چې: مونږ (فقط) په هغه (کتاب) باندې ایمان راوړو (او بس) کوم چې مونږ ته نازل شوی دی.

او هغوی په هغه کتاب باندې کفر غوره کوي کوم چې (د هغوی د کتاب) څخه وروسته نازل شوی دی، حال دا چې همدغه (وروسته نازل شوی کتاب) حق دی (او) د هغه کتاب تصدیق کوونکی دی کوم چې د هغوی سره دی (ورسره متناقض نه دی).

(ای پیغمبره!) ته (ورته) ووایه چې: نو تاسو مخکښې ولې د الله ﷻ پیغمبران وژل (او اوس یې هم وژنئ که لاس مو بر شي).

که تاسو (رښتیا په خپل کتاب باندې) ایمان راوړونکي وی (نو د الله ﷻ د پیغمبرانو د وژلو څخه به مو اجتناب کړی وی).

[۹۲] او بې شکه تاسو ته موسی ﷺ د ښکارندو معجزاتو سره درغلی وه، بیا تاسو (د طور غره ته) د موسی ﷺ (د ورتګ) څخه وروسته خوسی (د معبود په حیث) ونیوه حال دا چې تاسو (د عادت په توګه) ظالمان یاست.

[۹۳] او تاسو هغه وخت یاد کړئ چې مونږ ستاسو څخه کلک عهد واخست او (د عهد د تجدید دپاره) مو په تاسو باندې د پاسه غر دراوچت کړ. چې هغه کتاب (تورات) په قوت سره واخلئ کوم چې مونږ تاسو ته درکړی دی (درنازل کړی دی).

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ای پیغمبره!) بني اسرائیلو وویلې چې: دواړه امرونه (خُذُوا، اسْمَعُوا) مو واورېده (قبول مو کړه خو په عمل کښې یې) نه منو، حال دا چې هغوی ته په زړونو کښې د خوسي (محبت) د خپل کفر په سبب ورځښول شوی وه.

ته (ورته) ووایه چې ډېر بد شی دی (البته داسې شی) چې تاسو ته ورباندې خپل ایمان امر کوي که تاسو (په خپل کتاب باندې) ایمان راوړونکي وی (نو ذکر شوي کارونه به مو نه کولی).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو مضامین تعقیب شوي دي چې په بني اسرائیلو باندې جنایاتو احاطه کړې ده او کلک حسد او عناد نیولي دي چې د ایمان د راوړلو تمه ورته په کار نه ده حتی چې په خپلو خبرو کښې د تناقض مرتکب ګرځي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د بني اسرائیلو په هکله لاندې څه نور معلومات هم په خپل اُمت باندې قرائت کړه:

۱ـ کله چې هغوی ته وویلی شي چې دغه پیغمبر (محمد ﷺ) خو د بعثت څخه وړاندې تاسو د پیغمبر په صفت قبول کړی وه نو نظر همغه پخوا قبول ته تاسو ورباندې ایمان راوړئ او هغه کتاب حقاني کتاب وپېژنئ کوم چې ورباندې الله ﷻ نازل کړی دی.

نو هغوی په جواب کښې وایي چې مونږ فقط په هغه کتاب باندې عقیده او ایمان خپلوو کوم چې په مونږ باندې د موسی ﷺ په سلسله نازل شوی دی، او د همدغه کتاب څخه په غیر مونږ یو کتاب هم د حقاني کتاب په نامه نه پېژنو.

۲ـ ای پیغمبره! هغوی د خپل کتاب څخه په غیر په بل هر کتاب باندې کفر غوره کوي. حال دا چې همدغه بل کتاب (قرآن کریم) حق دی او د هغه کتاب (تورات) تصدیقوونکی دی کوم چې (هغوی سره شتون لري) چې په عقیدوي موضوعاتو کښې سره دواړه متفق او متحد دي.

نو د قران کریم څخه انکار په حقیقت کښې د تورات څخه انکار دی حال دا چې هغوی د خپلو خبرو په تناقض نه پوهېږي.

۳ـ ای پیغمبره! ته یو ځل بیا هغوی مخاطب وګرځوه او د الله ﷻ د پلوه ورته ووایه چې ای بني اسرائیلو! نو که چرته تاسو په خپل کتاب او په خپل پیغمبر (موسی ﷺ) باندې رښتیانی ایمان راوړی وی نو تاسو په تېرو وختونو کښې د الله ﷻ پیغمبران ولې وژل؟. یا په بل عبارت تاسو په هره زمانه کښې خپل ناصحان ولې وژنئ؟.

ایا تاسو ته خپل کتاب حکم درکوي چې د الله ﷻ پیغمبران ووژنئ؟.

ایا د پیغمبرانو وژنه په هغوی باندې ایمان راوړل دي؟.

۴ـ برسېره په دې تاسو چې د خپل پیغمبر (موسی ﷺ) د پیروۍ دعوه کوئ نو دغه پیغمبر تاسو ته څومره ډېر معجزات او خوارق درڅرګند کړه نو د دغو خوارقو او معجزاتو د لیدلو څخه وروسته تاسو ولې خوسی په معبودیت سره ونیوه حال دا چې تاسو په خپلو ځانونو باندې ظلم کوونکي

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یاست؟. ایا د موسی ﷺ په پیروی کښې د خوسي عبادت هم شامل وه؟

نو حقیقت دا دی چې تاسو د هیڅ پیغمبر او هیڅ کتاب پیروان نه یاست بلکې تاسو د خپلو خواهشاتو پیروان یاست.

۵_ ای پیغمبره! ته هغوی ته زمونږ د پلوه ووایه چې تاسو هغه وخت یاد کړئ چې مونږ ستاسو څخه د خپل کتاب (تورات) په تعمیل باندې کلکه وعده اخستې وه خو تاسو بیا خپلې وعدې ته شا کړه.

نو مونږ ستاسو د سرونو دپاسه د وعدې او عهد د تجدید دپاره یو غر دراوچت کړ چې تاسو هغه احکام په قوت سره واخلئ او عمل ورباندې وکړئ کوم چې مونږ تاسو ته په همدې کتاب کښې درکړي او درنازل کړي دي او څه چې په دې کتاب کښې مندرج دي هغه د زړه په غوږونو واورئ.

که بالفرض تاسو په خپله دعوه کښې رښتیني وی چې خپل کتاب منئ نو د غره دراُوچتولو ته به څه اړتیا وی، بلکې تاسو داسې قوم یاست چې په عهد باندې ودرېدونکي نه یاست.

۶_ ای پیغمبره! د همدغه عهد د تجدید په وخت کښې بني اسرائیلو په خوله وویلې چې مونږ دغه مندرج احکام قبول کړي او منلي دي، خو په عین وخت کښې یې په زړونو کښې غوټه کړې وه چې مونږ دغه احکام نه شو عملی کولی مونږ ترې عاصیان یاستو، چې د زمانې په اوږدو کښې یې همدغه عصیان څرګند کړ.

که بالفرض هغوی په خپله خبره کښې رښتیني وی نو په زړونو کښې به یې د احکامو د عدم تعمیل تکل نه خپلولی او د زمانې په اوږدو کښې به ترې عاصیان نه جوړېدلی.

۷_ د دغو تناقضونو او جنایاتو بنیاد دا دی چې بني اسرائیلو ته د خوسي محبت په زړونو کښې د اوبو په څېر ورڅښول شوی دی چې زړونه یې په همدغه محبت باندې تازه دي او لا ورباندې تازه کېږي.

۸_ ای پیغمبره! زمونږ د پلوه هغوی ته دا هم ووایه چې ای بني اسرائیلو! که ستاسو ایمان تاسو ته امر کوي چې خپل پیغمبران ووژنئ او خوسی د معبود په حیث ونیسئ نو دا خو ډېر بد ایمان دی، دا خو په حقیقت کښې بالکل ایمان نه دی، نو که تاسو رښتیاني مؤمنان یاست باید چې تاسو پخپله قضاوت وکړئ چې ایا دغه ډول ایمان ته د ایمان لقب ورکول مناسب دي؟

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ ﴾ کښې د "وَرَاءَ" کلمه د اضدادو څخه ده چې په دوه ضدینو باندې دلالت کوي، چې هغه د وړاندې او وروسته څخه عبارت دي[1]. د مثال په توګه:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَكَانَ وَرَآءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴾ [الکهف: ۷۹]

(۱) لسان العرب ج۱ ص۱۹۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني: حال دا چې د دوی په وړاندې یو داسې پاچا وه چې هره (روغه بې عیبه) بېړۍ به یې په زور (ظلم) سره نیوله.

ب. الله ﷻ فرمایلي دي چې ﴿ وَمِن وَرَآءِ إِسۡحَٰقَ يَعۡقُوبَ ﴾ [هود: ۷۱] یعني: نو مونږ د ابراهیم ؑ مېرمنې (بي بي ساره) ته په اسحاق ؑ سره زېرې ورکړ او د اسحاق ؑ څخه وروسته مو په یعقوب ؑ باندې هم زېرې ورکړ (چې د مور د جوړېدلو څخه وروسته به نیا هم جوړه شي).

په دې مقام کښې ذکر شوې کلمه په دوهمه معنی سره ده. یعني: او یهودان په هغه کتاب باندې کفر غوره کوي کوم چې د دوی د کتاب (تورات) څخه وروسته نازل شوی دی.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: ظاهرًا د ﴿ قُلۡ فَلِمَ تَقۡتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبۡلُ ﴾ معنی داسې کېږي چې نو تاسو د الله ﷻ پیغمبران ولې وژنئ مخکښې. حال دا چې د "ولې وژنئ" کلمات په حال او استقبال دلالت کوي او د "مخکښې" څخه تېره شوې زمانه معلومېږي چې دواړه سره تناقض لري؟

مونږ وایو چې: د دغه ظاهري تناقض د اوچتولو دپاره لاندې جوابونه صورت نیولی شي:

اول: د ذکر شوې عبارت معنی دا ده چې: نو تاسو ولې په تېره شوې زمانه کښې د استمرار په توګه پیغمبران وژل چې تراوسه پورې مو ترې هم لاس نه دی اخستی[1]، که بالفرض د محمد ﷺ په وژنه مو وسه وشي نو هیڅ صرفه به ورباندې ونه کړئ.

دوهم: دلته د زیات تقبیح دپاره تېر شوی قتل داسې ګڼل شوی دی لکه چې سمدستي د اجراء لاندې وي[2]، د همدې جواب یو مثال د [البقرة: ۸۷] ایت لاندې تېر شوی دی والحمد لله ﷻ، چې دلته ورباندې لاندې وضاحت وراضافه کوو:

کله چې یو افغان مجاهد پخوانی حالت څرګندوي نو وایي چې په افغانستان باندې روسانو په "۶۰/۱۰/۱۳۵۸ هـ ش" نېټه تېری وکړ، چې دوی راباندې راخېژي او مونږ یې وژنو، ترڅو چې په "۶۰/۱۱/۱۳۶۷ هـ ش" کال بېرته وتلو ته مجبور شوه.

نو په ذکر شوي کلام کښې د "راخېژي، وژنو" دواړه کلمې په حال باندې دلالت کوي خو قیصه د تېرې شوې زمانې ده.

شاید چې په دې مقام کښې به دا ډول تعبیر د دې دپاره خوښ کړی شوی وي چې: اې بني اسرائیلو! تاسو یو خل پخوانی حالت حاضر ونیسئ او بیا په انصاف سره ووایاست چې: ایا تاسو ریښتیا په خپل کتاب (تورات) باندې ایمان راوړی دی؟.

ب. که څوک وایي چې: لاندې مطالب په همدې سورت کښې یو خل وړاندې نازل شوي وه:

---

(۱) روح المعاني ج۱ ص۳۲۴

(۲) تفسیر المنار ج۱ ص۳۸۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د بني اسرائيلو (يهودانو) د پيغمبرانو وژنه. د [البقرة:۶۱، ۸۷] ايتونه.

دوهم: د خوسي معبود گرځول. د [البقرة:۵۴] ايت.

دريم: په هغوی باندې د عهد د تجديد دپاره د غره اوچتول. د [البقرة:۶۳] ايت.

نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنياد ذکرو شوو درېواړو مطالبو ته د ايتونو په ذکره شوې مجموعه کښې يو ځل بيا اشاره وکړی شوه؟.

مونږ وايو ــ والله ﷻ أعلم ــ چې: دا د دې دپاره ترڅو واضحه شي چې د بني اسرائيلو دا وعده چې ﴿ نُؤْمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ﴾ دروغ ده. او دا ځکه چې که بالفرض هغوی په رښتيا ايمان راوړی وی نو نه به يې پيغمبران وژلي وی او نه به يې خوسی د معبود په حيث نيولی وی، او بالآخره نه به څه اړتيا وی چې دغره په وراوچتولو سره ورباندې عهد تجديد کړی شي.

ج: که څوک وايي چې: بني اسرائيل خو د غره لاندې په دوه وو امرونو "خُذُوا، اسْمَعُوا" باندې مامور شوي وه حال دا چې هغوی په جواب کښې يوازې د دوهم امر "اسْمَعُوا" په جواب اکتفاء وکړه او اولنی امر "خُذُوا" يې بې جوابه پرېښود؟

مونږ وايو چې: ددوهم امر جواب ﴿ سَمِعْنَا ﴾ دهغې "سَمْع" څخه اشتقاق شوی دی د کوم سره چې قبول ملگری وي نو دغه جواب د "خُذُوا" دپاره هم جواب دی[۱]، يعني: مونږ ارشادات په غوږونو واورېده او په عمل کښې مو قبول کړه.

د: که څوک وايي چې: د دغه جواب په بنياد د "عَصَيْنَا" کلمه د "سَمِعْنَا" سره متناقضه واقع کېږي او د "سَمِعْنَا" د جوابيت صلاحيت د منځه وړي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه بني اسرائيلو خو د غره لاندې د "عَصَيْنَا" په ويلو سره خپل عهد تجديد نه کړ بلکې د عهد نقض يې اعلان کړ.

نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنياد په غره سره چيت پيت ونه گرځولی شوه؟

مونږ وايو چې:

اول: هغوی دغه کلمه "عَصَيْنَا" د غره لاندې سمدستي نه وه ويلې ترڅو اعتراض وارد شي بلکې ډېر وروسته يې ورباندې قول کړی وه، خو په حکايت کښې د "سَمِعْنَا" سره پيوسته نازله شوې ده.

همدې مضمون ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ﴾ [البقرة: ۶۴] يعني: بيا تاسو د همدغه عهد د تجديد څخه وروسته د تورات ارشاداتو ته شا کړه او د پښو لاندې مو کړه.

دوهم: په عربي ژبه کښې د هر فعل څخه په "قَول" سره تعبير صورت نيولی شي. لکه چې وايي:

[۱] روح المعاني ج۱ ص۳۲۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"قَالَ بِيَدِهِ" (په خپل لاس يې اشاره وکړه) يا لکه "قَالَ بِرِجْلِهِ"[۱] (په پښه يې وهل وکړه)

همدارنګه په نورو ژبو کښې هم دغه ډول استعمال شتون لري لکه په دري کښې چې وايي "روسها افغانستان را ترک گفت" يعني روسيانو افغانستان پرېښود.

نو په همدې بنياد په ﴿ قَالُواْ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ﴾ کښې د ﴿ قَالُواْ ﴾ کلمه د هغه قول څخه اشتقاق شوې ده کوم چې د "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الْقَوْلُ" (هر هغه شی چې د قول اطلاق پرې کېږي) په لحاظ فعل (عصيان) ته هم شموليت لري. يعني: بني اسرائيلو په خوله وويلې چې مونږ ارشادات واورېدل او قبول مو کړه خو په عمل سره يې وويلې چې قبول مو نه کړه او د پښو لاندې مو کړه.

ه: که څوک وايي چې: په ﴿ وَأُشْرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ﴾ کښې د "الْعِجْلَ" کلمه د "أُشْرِبُوا" دپاره مفعول واقع شوې ده حال دا چې خوسی جامد دی څښنول کېږي نه؟

مونږ وايو چې: دلته د مبالغې په توګه د خوسي محبت پخپله خوسی ګڼل شوی دی[۲]، يعني: د بني اسرائيلو د زړونو سره د خوسي محبت خلط کړی شوی او اغګل شوی دی او په همدغه محبت باندې يې زړونه داسې تازه کېږي لکه چې نباتات په اوبو سره تازګي مومي. نو د همدې کبله د ډول ډول جناياتو مرتکب ګرځي.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «حُبُّكَ الشَّيْءَ يُعْمِي وَيُصِمُّ»[۳] يعني: د يو شي سره ستا محبت تا ړوندوي او تا کڼوي (چې نه بل شی ګوري او نه بل شی اوري).

﴿ قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلْـَٔاخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٍ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْ ۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِۦ مِنَ ٱلْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ ﴾

[۹۴] ته (يهودانو ته) ووايه چې: که چرته وروستنی کور د نورو خلکو څخه په غير د الله ﷻ په نزد سوچه ستاسو دپاره وي (لکه چې تاسو خيال کوئ). نو تاسو د مرګ آرزو وکړئ، که تاسو رښتيا ويونکي ياست (نو ضرور دغه کار وکړئ).

[۹۵] او هيڅکله به يهودان د مرګ آرزو د همېشه دپاره ونه کړي. (البته) د هغو جناياتو په سبب چې د دوی لاسونو وړاندې استولي دي.

---

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۵۷۷. القاموس المحيط ج۳ ص۷۱۸

(۲) تفسير القاسمي ج۲ ص۱۹۳. تفسير ابي السعود ج۱ ص۱۳۱

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۶۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او الله ﷻ په (دغو) ظالمانو باندې پوه دی (چې دغه کار نه کوي).

[۹۶] او هرومرو (ضرور) به ته يهودان په ژوند باندې د ټولو خلکو څخه ډېر حارصان مونده کړې، او د هغو کسانو څخه به يې هم (پرې زيات حارصان مونده کړې) کومو چې شرک غوره کړی دی (او په آخرت باندې بالکل عقيده نه لري).

(يا په بل عبارت) د يهودانو هر يو کس خوښوي چې يو زرکاله (اوږد) عمر ورته ورکړی شي.

د يهودانو يو کس هم داسې نه دی چې د الله ﷻ د عذابه به ورته اوږد عمر ورکول خلاصوونکی (نجات ورکوونکی) وګرځي.

او الله ﷻ په هغو جناياتو باندې بينا دی کوم چې يهودان لګيا دي د عمل جامه وراغوندي.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د بني اسرائيلو (يهودو) يوه داسې باطله دعوه رده شوې ده کومه چې د هغوی د ايمان راوړلو تمه شکوي کومه چې په هغوی باندې د جناياتو داحاطې سبب ګرځېدلی وه، هغه دا چې د آخرت ښېګڼې فقط په مونږ پورې اختصاص لري او نور خلک د اور (دوزخ) دپاره پيدا شوي دي. نو حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! د يهودانو دغه باطله دعوه رده کړه (چې جنت يوازې په مونږ پورې خاص دی) او ورته ووايه چې:

۱ـ ای يهودانو! که چرته رښتيا د الله ﷻ په نزد د نورو ټولو خلکو څخه په غير جنت سوچه او يوازې تاسو پورې اختصاص لري او جنت ته ستاسو داخلېدل ضروري او يقيني وي نو تاسو د مرګ آرزو وکړئ. او دا ځکه چې:

الف: د آخر الزمان پيغمبر په مبعوثيت سره ستاسو دين منسوخ شوی دی او د خطر سره مخامخ دی چې بالکل به د منځه لاړ شي نو تاسو ته فعلاً د ځمکې د مخ څخه د ځمکې ګېډه بهتره ده.

ب: کله چې د ځنکدن په حالت کښې چاته په يقين سره څرګنده شي چې الله ﷻ ترې راضی دی نو هلته خو هرڅوک د خپل روح په تلوار سره د جدا کېدلو آرزو کوي ترڅو د خپل رب ﷻ د رضا سره پيوسته شي. نو څرنګه چې ستاسو په عقيده ستاسو دپاره جنت يقيني دی نو تاسو هم بايد د مرګ آرزو وکړئ.

۲ـ که تاسو د مرګ آرزو ونه کړئ نو څرګنده به شي چې تاسو په خپلو زړونو کښې هم متيقن نه ياست چې رښتيا ستاسو دپاره جنت دی. او دغه دعوه مو په دروغو کلکه کړې ده.

که بالفرض تاسو وربانديې په خپلو زړونو کښې يقين کوونکي ياست او څه دلايل او براهين په لاس کښې لرئ نو هلئ ژر شئ دغه ارزو وکړئ.

۳ـ ای پيغمبره! هيڅکله به د همېشه دپاره بني اسرائيل (يهود) د مرګ ارزو ونه کړي. او دا ځکه چې:

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: هغوی په خپلو لاسونو ډېر پیغمبران علیهم السلام شهیدان کړي دي، او هغوی پوهېږي چې دا کار ناحق او ناجائز وه.

ب: هغوی خپل کتاب تورات ته تحریف ورکړی دی حال دا چې د تحریف د عدم جواز څخه انکار نه شي خپلولی.

۴ـ ای پیغمبره! برسېره په دې چې یهودان د مرګ آرزو نه کوي هغوی د ژوند اوږدوالی غواړي حتی چې هغوی د ټولو خلکو څخه عمومًا او د مشرکانو څخه خصوصًا د ژوند په اوږدوالي باندې ډېر زیات حارصان دي حال دا چې مشرکان بالکل په آخرت باندې عقیده نه لري خو د دې سره سره د عمرونو په اوږدوالي باندې یې د هغوی څخه حرص لږ دی.

۵ـ د همدې کبله د یهودانو هر کس خوښوي چې یو زر کاله، لا د دې څخه ډېر عمر ورکړی شي، نو دغه زر کلن عمر خو د هغوی یو کس ته هم نه ورکولی کېږي خو که بالفرض یو زر کاله عمر ورته ورکړی شي هم دغه اوږد (زر کلنی) عمر ورته د الله ﷻ د عذابه نجات ورکوونکی نه دی، آخر به په دوزخ کښې غورځولی کېږي، مګر هلته چې د خرافاتي عقیدې څخه تېر شي او په آخر الزمان پیغمبر باندې عقیده خپله کړي.

او دا ځکه چې الله ﷻ د دغو ظالمانو په ټولو کړو وړو خبردار او بینا دی که د هغوی څخه خپل جنایات پټ یا ورک شي نو د الله ﷻ څخه نه ورکېدلی شي او نه ترې پټېدلی شي.

## توضیحات

۱ـ ځینو علماوو کرامو دغه ایتونه د یهودانو سره په مباهله باندې تفسیر کړي دي[۱]، لکه چې په [الجمعة: ۶، ۷] ایتونو کښې یې هم همدغه ډول تفسیر غوره کړی دی.

د مباهلې څه زیات تفصیل إن شاء الله ﷻ د [آل عمران: ۶۱] ایت لاندې راروان دی خو دلته فقط همدومره لیکو چې:

مباهله دې ته وایي چې کله یوه ډله خلک سره مختلف شي او په دوه ډلو باندې ووېشل شي چې په دلایلو باندې یو طرف هم قناعت خپل نه کړي، نو بیا دواړه طرفه په اتفاق سره ښېرا وکړي چې ای الله ﷻ په مونږ دواړو طرفو کښې په هغه طرف باندې خپل لعنت ورنازل کړه او د خپل رحمت څخه یې لرې وګرځوه کوم چې ظالم وي او په ناحقه خبره پورې نښتی وي[۲].

په دې مقام کښې به د مباهلې حاصل داسې راوخېژي چې: ای یهودانو! تاسو وایاست چې آخرت عند الله په مونږ پورې اختصاص لري او مونږ ستاسو همدغه خبره دورغ او باطله ګڼو.

نو د حق د اظهار دپاره تاسو د مرګ تمنی او ارزو وکړئ او مونږ به هم د مرګ ارزو وکړو، البته د هغه طرف دپاره چې په ناحقه ولاړ وي.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۹۶؛ تفسیر الطبري ج۱ ص۴۲۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۲۷

(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۷۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر مونږ ته دغه ډول تفسير د ايتونو څخه لرې برېښي[۱].

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې مقام كښې كېدى شي چې د چا په ذهن كښې لاندې پوښتنې راپيدا شي:

الف: كه څوک وايي چې: دا ﴿ إِن كَانَتْ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ ﴾ شرطيه جمله ده، او دا ﴿ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ ﴾ يې جزائيه جمله ده، په كار دي چې دغـه دواړه جملې سره يو تربله تلازم ولري. نو پوښتنه دا ده چې د دغو دواړو جملو تلازم په څه ډول سره صورت نيسي؟

مونږ وايو چې: د دغو دواړو جملو تلازم په لاندې دوه وو ډولونو سره صورت نيولى شي:

اول: د آخر الزمان پيغمبر په مبعوثيت سره د يهودانو دين د خطر لاندې واقع دى چې مغلوب به وګرځي او اسلام به وربا ندې غالب جوړ شي.

نو هغوى مخاطب كړى شوه چې: اى يهودانو! ستاسو دين د اسلام په ظهور سره د خطر لاندې دى نو تاسو ته په كار دي چې د مرګ آرزو وكړئ ترڅو په مرګ سره خپل دين د خطر څخه بچ كړئ.

دوهم: يهودان د خپلو ځانونو دپاره آخرت اختصاصوي نو دوى په همدې بنياد مامور كړى شوه چې تاسو د مرګ آرزو وكړئ ترڅو هغه مطلوب ته ورسېږئ كوم چې (د دوى په عقيده) په همدوى پورې اختصاص لري په كوم باندې چې دوى ته په دنيا كښې بشارت وركړى شوى دى او دوى د همدغه بشارت دعوه ګير دي.

ب: كه څوک وايي چې: ايا د هغه چا دپاره د مرګ ارزو جواز لري چې دين يې د خطر لاندې واقع شوى وي او يا هغه څوک همدغه آرزو خپلوي كوم ته چې په جنت سره بشارت وركړى شوى وي؟

مونږ وايو چې: په ذكرو شوو دواړو حالاتو كښې د مرګ آرزو كول صورت نيولى شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

اول: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ»[۲] يعني: ترهغه به قيامت قائم نه شي ترڅو چې (داسې حالت نه وي متحقق شوى ) چې يو سړى به د بل سړي په قبر باندې تېرېږي نو وبه وايي چې: اى كاش! چې زه د ده په ځاى (په همدې قبر كښې دفن) وى (چې خپل دين به په خطر كښې ګوري).

دوهم: نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «وَإِذَا كَانَتْ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ بُخَلَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ إِلَى نِسَائِكُمْ فَبَطْنُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا»[۳] يعني: كله چې ستاسو آمران ستاسو شريران وي او ستاسو غنيان ستاسو بخيلان وي او كارونه مو خپلو ښځو ته (مَوكُول) وي نو (دغه وخت) تاسو ته د ځمكې د شا څخه د ځمكې ګېډه غوره ده (چې دين به مو په خطر كښې واقع شي).

---

(۱) تفسير القاسمي ج۲ ص۱۹۵
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۳۹۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۵۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دریم: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَإِذَا أَرَدْتَ فِي النَّاسِ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِي إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُونٍ»[۱] یعني: ای الله! کله چې ته په خلکو کښې د فتنې د اچولو اراده وکړې نو ما خپل اقدس ذات ته په داسې حال درقبض (مړ) کړه چې په فتنه (امتحان) کښې نه یم اچولی شوی.

څلورم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَلَكِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا حَضَرَهُ الْمَوْتُ بُشِّرَ بِرِضْوَانِ اللهِ وَكَرَامَتِهِ فَلَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ»[۲] یعني: مګر کله چې مؤمن انسان ته مرګ حاضر شي (ځنکدن یې شي) نو د الله ﷻ په رضامندۍ او د ده ﷻ په کرامت ورته زیری ورکړی شي نو په دغه وخت کښې نوموړي ته د هغو (نعمتونو څخه بل) هیڅ شی ډېر محبوب نه وي کوم چې ذ ده په وړاندې دي (په کوم سره چې ورته بشارت ورکړی شوی وي نو په دغه وخت کښې د مرګ آرزو کوي چې ژر مړ شي خپل بشارت ته وصل شي).

ج: که څوک وايي چې: ایا هغه چا ته د مرګ ارزو کول جواز لري کوم ته چې مصیبت ورسېږي؟

مونږ وایو چې: دغسې کس ته د مرګ سوال کول جائز نه دي. او دا څکه چې:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا يَدْعُوَنَّ أَحَدُكُمْ بِالْمَوْتِ لِضُرٍّ نَزَلَ بِهِ وَلَكِنْ لِيَقُلْ: اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي»[۳] یعني: ستاسو یو کس دې هم د داسې ضرر (مصیبت) د کبله مرګ نه غواړي کوم چې ورباندې ورنازل شوی وي مګر (که ضرور یې غواړي) نو هرومرو دې ووايي چې: ای الله! ما ترهغه ژوندي پرېږدې ترڅو چې راته ژوند بهتر وي او ما (په مرګ) سره درواخلې کله چې ماته دراخستل (مرګ) بهتر وي.

دوهم: د نبي کریم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: په خلکو کښې څوک بهتر دی؟.

جواب یې ورکړ چې: «مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ» یعني: هغه څوک بهتر دی چې عمر یې اوږد وي او عمل یې ښائسته (نېک) وي.

بیا یې ترې پوښتنه وکړه چې: په خلکو کښې ډېر بد سړی څوک دی؟.

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَسَاءَ عَمَلُهُ»[۴] یعني: هغه څوک شر او بد دی چې عمر یې اوږد وي او عمل یې بد او ناکاره وي.

د: که څوک وايي چې: بي بي مریمې رضي الله عنها خو د مصیبت او خفګان د رسېدلو د کبله د مرګ آرزو کړې وه چې: ﴿يَٰلَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا﴾ [مریم: ۲۳] یعني: ای کاش چې د دغه وخت څخه وړاندې مړه شوې وی او زه هېره او هېره کړی شوې وی.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا د دغه ایت څخه د مصیبت د کبله د مرګ د آرزو جواز نه معلومېږي؟

---

(۱) موطا الإمام مالک ص۱۳۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۳
(۳) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۸۷
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۳۱۲، ۳۲۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د پخوانیو شریعتونو د حکم حکایت زمونږ دپاره په هغه وخت کښې شرعي حکم ګرځي چې زمونږ په شریعت کښې منفي نه وي ګرځولی شوی حال دا چې دلته منفي ګرځولی شوی دی. لکه چې لږ وړاندې د احادیثو په رڼا کښې څرګند شو، والحمد لله ﷻ.

په دې باندې علاوه د بي بي مریمې رضی‌الله‌عنها آرزو دا وه چې ای کاش چې زه لا پخوا مړه شوې وی، نه دا چې ای الله! ما مړه کړې، حال دا چې دلته دوهمه خبره مطرحه ده نه اوله خبره.

ه: که څوک وایي چې: که یهودان د پوښتنې مخ مونږ ته راواړوي چې که ستاسو دین حق دین وي نو تاسو د مرګ آرزو وکړئ مونږ به ورته څه جواب ورکړو؟

مونږ وایو چې: په دې زمانه کښې د محمد ﷺ څخه په غیر مونږ د ټول أمت خاتمه مستوره ګڼو لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ»[۱] یعني: یقینًا یو بنده هرومرو د أَهْلِ النَّار عمل کوي حال دا چې هغه (په عاقبت کښې) د أَهْلِ الْجَنَّة څخه وي او یو بنده د أَهْلِ الْجَنَّة د عمل غوندې عمل کوي حال دا چې هغه یقینًا د أَهْلِ النَّار څخه وي او یقینًا وروستنیو حالتونو ته اعتبار دی (کوم چې د مړه کېدلو حالتونه دي).

نو کله چې خاتمه مستوره شوه نو مونږ ته هغوی پوښتنه نه شي راجع کولی.

خو مونږ ورته پوښتنه راجع کولی شو چې هغوی خپله خاتمه مکشوفه ګڼي چې هرومرو به جنت ورکولی کېږي.

په دې باندې علاوه مونږ أخروي خوشالي په نېک عمل پورې مربوطه ګڼو چې د عمر اوږدوالی ورباندې اثر لري او یهودان یې په نسب پورې تړلې بولي چې د عمر اوږدوالی ورباندې څه اثر نه لري. لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَمَنْ أَبْطَأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ»[۲] یعني: او هرڅوک چې عمل یې سست (وروسته) کړي نو نسب به یې تېز (وړاندې) نه کړي.

هو! کله چې زمونږ کوم کس ته یقیني بشارت ورکړی شي نو هغه کولی شي چې د مرګ آرزو وکړي لکه چې وړاندې د "ب" د توضیح په څلورم حدیث کښې ورته اشاره شوې ده.

و: که څوک وایي چې: په ﴿ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ﴾ کښې د ﴿ أَيْدِيهِمْ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې د یهودانو جنایات یوازې هغه جنایات وه کوم یې چې په جوارحو سره کسب کړي وه حال دا چې هغوی ډېر غټ عقیدوي جنایات هم درلوده لکه د نبي کریم ﷺ تکذیب او داسې نور؟

مونږ وایو چې: په عربي کلامونو کښې د کنایې په توګه د اشخاصو څخه په لاسونو سره تعبیر صورت نیسي[۳]، او په دې مقام کښې همدغه کنایه مراده ده. یعني هغوی د هغو جنایاتو د کبله د

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۷۸
(۲) سنن ابي داوُد ج۲ ص۱۵۷
(۳) تفسیر روح المعاني ج۱ ص۳۲۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مرګ آرزو نه کوي د کومو چې هغوی مرتکب ګرځېدلي دي برابره خبره ده چې عقیدوي وي او که عملي وي.

ز. که څوک وايي چې: آرزو په زړه سره هم صورت نیولی شي نو که یهودان ووايي چې مونږ په زړونو کښې د مرګ آرزو وکړه نو زمونږ عقیده حقه ده چې آخرت یوازې زمونږ دپاره دی نو جواب به یې څه وي؟

مونږ وایو چې: هغوی د مرګ آرزو نه کړې ده او نه به یې وکړي. او دا ځکه چې:

اول: الله ﷻ د هغوی حالت بیان کړی دی چې ﴿ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا ﴾ یعنې: هیڅکله به هغوی د همېشه دپاره دغه آرزو ونه کړي.

که بالفرض هغوی په زړونو سره دغه آرزو کړې وی نو د دغه اخبار سره متصل به یې اعلان کړی وی چې ستاسو کتاب دروغ وايي، او ساکت به نه وی پاتې شوي.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَلَوْ أَنَّ الْيَهُودَ تَمَنَّوُا الْمَوْتَ لَمَاتُوا وَرَأَوْا مَقَاعِدَهُمْ فِي النَّارِ»[۱] یعنې: او که چرته یقینًا یهودانو د مرګ آرزو کړې وی نو سمدستي به مړه شوي وی او د خپلو کیناستلو ځایونه به یې په اور کښې لیدلي وی.

درېیم: هغوی دروغینه دعوه هم ونه شوه کړی چې مونږ د مرګ آرزو کړې ده، سره د دې چې هغوی ته دروغ ویل ډېر اسان وه ترڅو ورباندې توقه ټقاله جوړه نه شي او د شرمې مړه نه شي.

ح. که څوک وايي چې: په ﴿ أَحْرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٍ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْ ﴾ کښې د ﴿ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْ ﴾ کلمات په څه شي عطف دي؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو په دغه عطف کښې بل احتمال هم لیکلی دی[۲]، مګر کوم احتمال چې مونږ ته بهتر برېښي هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

اول: دا کلمات د ﴿ ٱلنَّاس ﴾ په کلمه باندې عطف دی د کومې سره چې د "مِنْ" توری مقدر دی، ته به وايي چې داسې "وَأَحْرَصَ مِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا" یې نزول موندلی دی.

دوهم: د ﴿ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ ﴾ جمله مستانفه ده او د ما قبل دپاره تفسیر واقع شوې ده، او د "هُمْ" ضمیر یې یهودانو ته راجع دی.

درېیم: په ﴿ لَوْ يُعَمَّرُ ﴾ کښې د "لَوْ" توری د مصدري "أَنْ" معنی ورکوي چې د "أَنْ يُعَمَّرَ" په تاویل سره د ﴿ يَوَدُّ ﴾ دپاره مفعول ګرځي.

یعنې هرومرو به ته یهودان د ټولو خلکو څخه عمومًا او د هغه کسانو څخه خصوصًا کومو چې شرک غوره کړی دی په ژوند باندې ډېر حارصان مونده کړې.

یا په بل عبارت د یهودانو هر یو کس خوښوي چې یو زر کاله اوږد عمر ورته ورکړی شي.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۳۳

(۲) تفسیر الطبري ج۱ ص۴۲۸؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۲۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ط: كه څوک وايي چې: د ﴿ وَمَا هُوَ بِمُزَحۡزِحِهِۦ مِنَ ٱلۡعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ﴾ اعرابي حالت په څه ډول سره صورت نيسي؟

مونږ وايو چې: د دغو كلماتو اعرابي حالت په لاندې تكو كښې راخلاصه كېږي[۱]:

اول: د "هُوَ" ضمير په ﴿ أَحَدُهُمۡ ﴾ كښې "أَحَد" ته راجع دى چې د "مَا" توري دپاره اسم دى.

دوهم: د ﴿ بِمُزَحۡزِحِهِۦ ﴾ كلمه د همدغه "مَا" د توري دپاره خبر ده چې خپل مفعول (هٖ) ته مضافه ده او د ﴿ أَن يُعَمَّرَ ﴾ كلمات يې د مصدر په تاويل سره فاعل دى.

يعنې: او د يهودانو يو كس نه دى چې د ده دپاره د الله ﷻ د عذابه ډېر عمرى جوړېدل نجات وركوونكى وګرځي (آخر به هم په عذاب ككړېږي).

﴿ قُلۡ مَن كَانَ عَدُوّٗا لِّجِبۡرِيلَ فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلۡبِكَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَهُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٩٧﴾ مَن كَانَ عَدُوّٗا لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوّٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ ﴿٩٨﴾ وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ وَمَا يَكۡفُرُ بِهَآ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٩٩﴾ أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُواْ عَهۡدٗا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠٠﴾ ﴾

[۹۷] (اى پيغمبره!) ووايه چې: هرڅوک چې د جبرائيل ؑ دښمن وي (هغه ډېر بې انصافه دى) ځكه چې يقينًا جبرائيل ؑ خو دا قرآن كريم ستا په مبارک زړه باندې د الله ﷻ په اجازه (امر) سره نازل كړى دى (نه په خپله خوښه).

په داسې حال كښې چې همدا (قرآن كريم) د هغو ټولو اسماني كتابونو تصديق كوونكى دى كوم چې د ده څخه وړاندې (نازل شوى) دى، او (هم) هدايت كوونكى دى او ايمان درلودونكو ته بشارت (زيرى) وركوونكى دى.

[۹۸] هرڅوک چې د الله ﷻ دپاره دښمن وي او د ده ﷻ د پرښتو دپاره (هم) او د ده ﷻ د پيغمبرانو دپاره هم او (بالآخره) د جبرائيل ؑ او ميكائيل ؑ دپاره هم، نو يقينًا (هغوى كفار دي او) الله ﷻ د ټولو كفر غوره كوونكو دپاره دښمن دى (چې هر يوه ته به موافقه سزا وركړي).

[۹۹] او بې شكه مونږ تاته واضحه دلايل درنازل كړي دي او په دغو (زمونږ په دلايلو) سره كفر نه غوره كوي مګر (د شريعت د چوكاټ څخه) وتونكي كسان.

[۱۰۰] او هر كله چې يهودانو عهد كړى دى، يو عهد نو هغه (عهد) د دوى څخه يوې ډلې ګوزار كړى دى بلكې د دوى اكثريت (په هره زمانه كښې) ايمان نه راوړي (نو ته ورته تمه مه خپلوه).

---

[۱] تفسير ابي السعود ج۱ ص۱۳۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شان نزول او د مطلب خلاصه

د دې ایتونو په شان نزول کښې یو ډېر اوږد حدیث روایت شوی دی چې مونږ یې د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

د یهودانو یوه ډله یوه ورځ نبي کریم ﷺ ته ورغله او څلور پوښتنې یې ورته وړاندې کړې چې که دغه څلور واړه پوښتنې ستا د پلوه جوابې شوې نو مونږ به په تاباندې ایمان راوړو.

د څلورو پوښتنو څخه یوه دا وه چې تاته د پرښتو څخه کومه یوه پرښته ډېره نژدې ده (چې وحې درته راوړي)؟. نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: ما ته ډېره نژدې پرښته جبرائیل ﷺ دی چې د همده ﷺ په ذریعه ماته وحې رالېږلی کېږي.

د یهودانو ذکرې شوې ډلې سمدستي نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې ای محمده! جبرائیل خو زمونږ دښمن دی مونږ په هغې وحې باندې ایمان نه راوړو کومې چې د ده په ذریعه صورت نیولی وي، که بالفرض بله پرښته تاته ډېره نژدې وی او په تاباندې یې وحې نازلولی نو مونږ به په تاباندې ایمان راوړی وی.

نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[١]، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! یهودان مخاطب کړه او د الله ﷻ د پلوه ورته ووایه چې:

۱ـ ای یهودانو! هرڅوک چې د جبرائیل ﷺ سره دښمني خپلوي او د دښمن په حیث یې نیسي نو هغه ډېره بې انصافي کوي. او دا ځکه چې:

الف: جبرائیل ﷺ خو ستا په مبارک زړه باندې په ډېره امانتدارۍ سره هره یوه وحې او خاصة قرآن کریم نازل کړی دی چې هیڅ پکښې د تغیر او تبدیل توان نه شو درلودلی او نه یې پکښې درلودلی شي.

ب: جبرائیل ﷺ په خپله خوښه نه بلکې د الله ﷻ په امر دغه کار کړی دی چې قرآن کریم یې تاته درنازل کړی دی.

ج: جبرائیل ﷺ خو داسې کتاب نه دی نازل کړی کوم چې د پخوانیو اسماني کتابونو سره متناقض وی، که ورسره متناقض وي نو په دغه وخت کښې به د ایمان د راوړلو جوګه نه وی، دغه قرآن کریم د ټولو پخوانیو اسماني کتابونو تصدیق کوونکی دی او په تېره بیا د تورات مصدق دی. ایا تاسو د دغسې کتاب د راوړونکې سره دښمني خپله کړې ده؟

د: څه چې جبرائیل ﷺ په محمد ﷺ باندې نازل کړی هغه ټول د دوستۍ موجبات دي. هغه دا چې دا قرآن کریم د قیامت د ورځې پورې د ټولو عالمونو دپاره لارښود دی او د ټولو عالمونو دپاره د دنیاوي او اُخروي نعمتونو زېری ورکوونکی دی، خو افسوس چې یوازې مؤمنان ترې د هدایت استفاده کوي او په بشارتونو باندې یې باور کوي او نورو خلکو ترې هیڅ ګټه اوچته نه کړه.

---

(١) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۹۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ ای یهودانو! جبرائیل ﷺ د پرښتو د جملې څخه یوه پرښته ده او هغه څه کوي په کوم باندې چې ورته د الله ﷻ د پلوه امر وکړی شي.

نو د جبرائیل ﷺ سره دښمني غوره کول په حقیقت کښې د الله ﷻ سره دښمني ده او د ټولو پرښتو سره هم او د ټولو پیغمبرانو سره هم او بالآخره د میکائیل ﷺ سره هم کوم چې تاسو یې د دوستۍ دعوه کوئ.

او هرڅوک چې ذکره شوې دښمني خپله کړي نو هغه د کفارو د جملې څخه دی او الله ﷻ د ټولو کفارو دښمن دی، نو په دې تقدیر تاسو د کفارو د جملې څخه جوړېږئ او الله ﷻ مو دښمن ګرځي چې ډېره سخته سزا به درکړي.

۳_ ای پیغمبره! یقینًا مونږ تاته متعدد څرګند دلایل او معجزات درنازل کړي دي چې ستا نبوتورباندې ښه پوره په اثبات رسېدلی دی. د مثال په توګه:

الف: برسېره په دې چې ته اُمي یې په لیک او لوست نه پوهېږې او نه دې د چا شاګردي کړې ده خو د دې سره-سره د پخوانیو حالاتو څخه هو بهو اِخبار کوې.

ب: تاته د یهودانو هغه حالات در وحې کړی شوي دي کوم چې تا په سترګو نه دي لیدلي او کوم چې هغوی په خپلو زړونو کښې پټ ساتلي دي او زیات کوښښ کوي چې ته ورباندې اطلاع حاصله نه کړې.

نو په دې بنیاد ستا د نبوت څخه انکار نه خپلوې، مګر هغه څوک چې د اسماني شریعت څخه وتونکي وي او د سمې لارې خپلوونکی نه وي بلکې په خپل کفر کښې د حده تجاوز کوونکي وي.

۴_ ای پیغمبره! ته په دې باندې مه غمژن کېږه چې یهودانو درسره د ایمان د راوړلو لوظ او عهد وکړ خو په خپل لوظ او عهد باندې ونه درېده او ایمان یې درباندې رانه ووړ او بهانه یې ونیوه چې مونږ د جبرائیل ﷺ سره دښمني لرو. او دا څکه چې هغوی چې هر کله عهد کړی دی هغوی مات کړی دی او هر کله چې په راتلونکي کښې عهد وکړي هغه به مات کړي، دغه کړنلاره د هغوی د یوې غټې ډلې کار دی بلکې د هغوی اکثریت ایمان نه راوړي او د ایمان د نه راوړلو دپاره رنګارنګ پلمې او بهانې تراشي (خپل عهدونه د پښو لاندې کوي).

## توضیحات

۱_ په ﴿قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ﴾ کښې د "عَدُوّ" د کلمې په هکله لاندې معلومات په ذهن کښې ساتل په کار دي[۱]:

الف: دا کلمه صفت مشبه ده چې په اصل کښې "عَدُوو" _لکه "شکُور"_ وه چې مفرد او مثنی او هم جمعه درېواړه پکښې یو برابر دي.

[۱] مفردات الراغب ص۳۳۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. دا کلمه د "عَدوٌ" _لکه "ضَرْبٌ" _ څخه اشتقاقه شوې ده چې د تجاوز معنی ورکوي. خو:

اول: د زړه تجاوز (دښمني) ته "عَدَاوَةٌ" _لکه "شَرَافَةٌ"_ وايي.

دوهم: د پښو تجاوز (منډو) ته "عَدوٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ ویل کېږي.

دریم: په عدالت کښې تجاوز (بې انصافي) ته "عُدْوَانٌ" _لکه "كُفْرَانٌ"_ وايي.

څلورم: د یوه شي د اجزاوو تجاوز (خورېدلو) ته "عَدْوَاءُ" _لکه "فَحْشَاءُ"_ ویل کېږي.

ج. (عَدُوٌ) دښمن په دوه ډول دی یو هغه دښمن دی چې په قصدي توګه دښمني کوونکی وي او بل هغه دښمن دی چې په نتیجه کښې سړي ته دښمن جوړېږي لکه چې په [التغابن:۱۴] ایت کښې خپنو اولادونو او خپنو مېرمنو ته د دښمنانو لقب ورکړی شوی دی.

د. د الله ﷻ سره د بنده دښمني د عصیان څخه عبارت ده او یا د صالحو بندګانو سره دښمني کول د الله ﷻ سره دښمني ګڼله کېږي.

بالمقابل د بنده سره د الله ﷻ دښمني د دې معنی ورکوي چې د جنایاتو په مطابق سزا ورکړي او عفوه او مغفرت ورته ونه کړي.

## د "جبرائیل" د کلمې تحلیل

۲_ په ذکر شوې عبارت کښې د "جِبْرَائِيل" کلمه عربي نه ده او د دوه برخو "جِبْرٌ" او "اِيْلٌ" څخه ترکیب شوې ده. نو "جِبْرٌ" او "مِيْكٌ" او هم "اِسْرَا" درېواړه کلمې هره یوه د "عَبْدٌ" معنی ورکوي، او د "اِيْلٌ" کلمه د "الله" دپاره وضعه شوې ده[۱].

نو "جِبْرَائِيل" او "مِيْكَائِيل" او هم "اِسْرَافِيْل" درېواړه کلمې په "عَبْدُ الله، عَبْدُ الله، عَبْدُ الله" سره معنی کېدلی شي.

## غیر عرب لغت په عربي کلام کښې

۳_ کله چې غیر عربي کلمه (لغت) په عربي کلام کښې استعمال شي نو تلفظ یې په خپل حال نه پاتې کېږي، د همدې کبله د "جِبْرَائِيل" په کلمه کښې لس ډوله تلفظ اوربدلی شوی دی لکه جِبْرِيْل او داسې نور. او د "مِيْكَائِيل" په کلمه کښې شپږ ډوله قرائت اورېدل کېږي لکه مِيْكَال او داسې نور.

## د دښمنۍ بهانې

۴_ یهودانو په جبرائیل ﷺ ته په ډېرو بهانو سره د دښمن لقب ورکاوه. د مثال په توګه[۲]:

الف. هغوی به ویل چې: بخت نصر (ظالم پاچا) زمونږ پوخ دښمن وه او د کوچنیتوب په وخت کښې ورباندې مونږ بریالي شوي وه چې د منځه یې یوسو، خو ذکرې شوې پرښتې ورته نجات ورکړ

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۳

(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۹۶؛ تفسیر المراغي ج۱ ص۱۶۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې په نتيجه کښې په مونږ باندې مسلط شو او بيت المقدس يې تخريب کړ.

ب: مونږ خکه د نوموړې پرښتې سره دښمني لرو چې هغه زمونږ پټ رازونه محمد ﷺ ته وروړې او وربانديې يې خبروي.

ج: جبرائيل ﷺ د الله ﷻ د پلوه مکلف ګرځولی شوی وه چې په يهودانو کښې کوم سړي ته وحي وروړې او آخر الزمان پيغمبر يې وګرځوي، خو دغې پرښتې دغه کار ونه کړ بلکې محمد ﷺ يې آخر الزمان پيغمبر جوړ کړ.

د: مونږ ورسره خکه دښمني لرو چې د ده په لاس افتونه او عذابونه نازلېږي او د ميکائيل ﷺ سره مو خکه جوړه ده چې د ده په لاس رحمتونه او خوشالۍ نازلېږي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې: جبرائيل او ميکائيل عليهما السلام خو دواړه په پرښتو کښې شامل دي، نو د څه حکمت په بنياد د دوی دواړو په نومونو باندې په ﴿ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَىٰلَ ﴾ سره صراحت نازل کړی شو؟

مونږ وايو چې: الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېږي خو څه لږې نه ده چې د لاندې حکمتونو په بنياد به دغه صراحت صورت نيولی وي:

الف: ترڅو د دغو دواړو پرښتو په زيات تشريف او زيات تکريم باندې دلالت وکړی شي، لکه چې په [الرحمن:۶۸] ايت کښې د ﴿ فَٰكِهَةٌ ﴾ د کلمې څخه وروسته په ﴿ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴾ سره صراحت نازل شو، حال دا چې دغه دواړه (کجورې، انار) په ميوجاتو کښې شامل دي.

ب: څرنګه چې يهودانو په خپلو خرافاتو کښې د همدغو دواړو پرښتو نومونه اخستل چې مونږ د جبرائيل ﷺ سره دښمني لرو او د ميکائيل ﷺ سره د دوستۍ درلودونکي ياستو، نو د هغوی د خرافاتي عقيدې په رد کښې د دواړو پرښتو نومونه واخستل شوه چې د دغو دواړو پرښتو تفريقول پوره جهالت دی.

﴿ وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾ وَٱتَّبَعُوا۟ مَا تَتْلُوا۟ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا۟ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنْ خَلَـٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا۟
بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٢﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ
خَيْرٌ ۖ لَّوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٣﴾ ﴾

[۱۰۱] او هر کله چې بني اسرائیلو (یهودانو) ته د الله ﷻ د نزده داسې پیغمبر ورشي چې د هغه شي دپاره تصدیق کوونکی وي کوم چې د هغوی سره دی، نو سمدستي د هغو کسانو د جملې څخه یوه ډله د الله ﷻ کتاب (تورات) خپلو شاګانو ته ګوزاروي کومو ته چې کتاب ورکړی شوی دی. لکه چې یقیناً هغوی (په خپل کتاب باندې) نه پوهېږي (او هیڅ معلومات پکښې نه لري).

[۱۰۲] او د هغو (اکاذیبو) پیروي کوي کوم چې شیطانانو د سلیمان ﷺ په واکدارۍ باندې تړل (چې سلیمان ﷺ جادوګر وه او د جادو په زور یې حکومت چلاوه).

حال دا چې سلیمان ﷺ کفر (او جادو) نه وه غوره کړی مګر شیطانانو کفر غوره کړی وه چې خلکو ته یې (بې قیدو شرطه) د جادو ښودانه کوله.

او (هغوی د هغه جادو پیروي هم کوي) کوم چې د بابل په ښار کښې (د الله ﷻ د پلوه د امتحان دپاره) په دوه وو پرښتو هاروت ﷺ او ماروت ﷺ باندې نازل کړی شوی وه.

او دغو دواړو پرښتو به هیچا ته تر هغه (د جادو) ښودانه نه کوله تر څو به چې ورته دواړو وویلې چې یقیناً مونږ دواړه امتحان یاستو نو (جادو زده کړه څو) کفر مه غوره کوه (چې عمل ورباندې وکړې).

نو یهودانو به د دوی دواړو څخه هغه جادو زده کاوه د کوم په سبب به چې هغوی د سړي او خپلې مېرمنې ترمنځ جدائي واقع کوله (او ذکره شوې توصیه به یې د پښو لاندې کوله).

(حال دا چې) هغوی په جادو سره هیچا ته ضرر رسوونکي نه وه مګر د الله ﷻ په ارادې سره.

او هغوی به (د ذکر شوې نصیحت په خلاف) هغه جادو زده کاوه کوم چې ورته ضرر رساوه او ګټه به یې ورته نه رسوله.

او یقیناً هغوی پوهېده چې هرومرو هغه څوک چې (ذکر شوی جادو) رانیسي، هغه لره په آخرت کښې هیڅ برخه نشته.

او هرومرو ډېر بد شی دی چې په کوم باندې هغوی خپل ځانونه خرڅوي که چرته هغوی وي چې پوهېدلی (په خپلې پوهې باندې یې عمل کړی وی نو دغه کړنلاره به یې نه وی خپله کړې).

[۱۰۳] او که چرته هغوی ایمان راوړي او تقوی غوره کړي نو بې شکه د الله ﷻ د پلوه اجر (او ثواب) ډېر بهتر دی (چې ورته به ورکړی شي).

که چرته هغوی وي (چې په خپل خیر او شر باندې) پوهېږي (نو ضرور به همدغه خط السیر ته ورودانګي).

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱_ په دې ایتونو کښې د یهودانو اکثره هغه اکاذیب او باطلې دعوې یو ځل بیا په بل اسلوب سره ردې شوې دي د کومو رد ته چې په وړاندېنیو اکثرو ایتونو کښې اشارې شوې دي.

## "نَبذ" څه معنی؟

۲_ په ﴿ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ نَبَذَ ﴾ کلمه د "نَبْذ" _لکه "ضَرْب" _ څخه اشتقاقه شوې ده چې په بې اهمیتۍ سره د یوه شي غورځولو ته وضعه شوې ده[۱]، او د ﴿ ٱلْكِتَٰبَ ﴾ او ﴿ كِتَٰبَ ٱللَّهِ ﴾ څخه تورات مطلب دی[۲] چې حاصل یې داسې راځېږي:

الف: یهودان په افتخار سره وایي چې مونږ یوازې په خپل کتاب (تورات) باندې عمل کوو او د حقانیت عقیده ورته لرو، دا زمونږ دپاره ډېر لوی امتیاز دی چې مونږ اهل العلم او اهل الکتاب یاستو او نور خلک ناپوه او جُهّال دي.

حال دا چې هغوی ته آخر الزمان پیغمبر ﷺ په علاماتو سره خپل کتاب داسې ورپېژاندلی وه لکه چې هغوی خپل زامن او اولادونه پېژني.

ب: خو کله چې هغوی ته همدغه ورپېژندل شوی پیغمبر ورغی او د هغوی د کتاب (تورات) تصدیق یې هم وکړ نو هغوی سمدستي خپل کتاب شاته ګوزار کړ او په عمل کښې یې پیاده نه کړ چې ایمان یې ورباندې راوړی وی.

بلکې خپل ځانونه یې ورباندې داسې ناخبره او ناپوهه واچول لکه چې هغوی هیڅکله نه د آخر الزمان پیغمبر علامات لوستي وي او نه هغوی اهل الکتاب او اهل العلم وي.

## د قرآن کریم توقیر

۳_ سفیان علیه الرحمة وایي چې: یهودانو خپل کتاب (تورات) په وربښمو کښې پېچلی (تاو کړی) وه او په سرو زرو باندې یې ښایسته کړی وه، خو کله یې چې معمول ونه ګرځاوه نو الله ﷻ هغوی ته د خپل کتاب (تورات) د شاته ګوزاروونکو لقب ورکړ[۳].

په همدې بنیاد مؤمنانو ته په کار دي چې د خپل کتاب (قرآن کریم) توقیر په عمل کولو سره خپل کړي او په یوازې مچوکولو او پوښولو باندې یې اکتفاء ونه کړي.

همدې مضمون ته یوه پښتون شاعر اشاره کړې ده چې[۴]:

بې عمل که کتاب کېږدي په سر څه شو :: ګویا اېښی یې د پښو لاندې کتاب دی

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۰۲

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۳۴

(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۶۸

(۴) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۱۸۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څو نکات

۴_ په دې مقام کښې څو نکاتو ته توجه په کار ده هغه دا چې:

الف: په ﴿ مَا تَتْلُواْ ٱلشَّيَـٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَـٰنَ ﴾ کښې د "ما" توری د هغو غیبي خبرونو څخه کنايي دی کوم به چې جني شیطانانو پرښتو ته په غوږ نیولو سره ترلاسه کول او بیا به یې خپلو انسي شیطانانو ته ور رسول چې هغوی به ورسره زښت ډېر دروغ ضمیمه کول ترڅو وربانديې عوام تېر باسي.

په همدې ارتباط _ان شاء الله ﷻ د [الحجر:۱۷، ۱۸] ایت لاندې ښه پوره څېړنه راروانه ده.

ب: په همدغه عبارت کښې د "تَتْلُوا" کلمه د "تِلاوَة" _لکه قِرَاءة"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د لوستلو معنی ورکوي خو کله-کله د دروغو تړلو په معنی هم استعمالېږي[۱]، چې په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

ج: د ﴿ ٱلشَّيَـٰطِينُ ﴾ د کلمې څخه جني او انسي دواړه ډوله شیطانان مطلب دي کومو ته چې په [الأنعام:۱۱۲] ایت کښې اشاره شوې ده.

یعنې: یهودان دروغ وایي چې مونږ د خپل کتاب (تورات) څخه په غیر په بل شي باندې ایمان نه راوړو. او دا ځکه چې هر شی چې دهغوی د خواهشاتو سره برابر وي هرومرو د همغه شي اتباع او پیروي کوي که څه هم هغه شی ورته د مقربې پرښتې (جبرائیل ؑ) په لاس نه بلکې د شیطانانو په لاس رسېدلی وي، که څه هم هغه سوچه دروغ وي. لکه د شیطانانو خبرې چې د سلیمان ؑ په پاچاهۍ باندې یې ورتپلې چې سلیمان ؑ جادوګر او ساحر وه او په همدې بنیاد یې په پیریانو او انسانانو باندې حکومت چلاوه.

د: په هغه وخت کښې شیطانانو د غیبي علم دعوه کوله چې مونږ په غیبو باندې پوهېږو، دغه حکومت د ساحر کومک دی او بس.

و: که څه هم سلیمان ؑ د دغې افواه او دروغین خبر د مخنیوي دپاره ډېرې هلې ځلې کړې وې، حتی چې د سلیمان ؑ وفات هم الله ﷻ په هغوی باندې ښه قوي دلیل وګرځاوه چې د یو کاله پورې وربانديې پیریان او شیطانان خبر نه شوه لکه چې په [سبأ: ۱۴] ایت کښې ورته اشاره شوې ده، مګر هغوی خپلو دروغینو خبرو ته ادامه ورکړه او خپله دروغینه دعوه یې په خپلو مخلصو شاګردانو کښې ژوندۍ وساتله.

ز: که څوک وایي چې: د ذکر شوې بیان په بنیاد په کار وه چې د ﴿ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَـٰنُ ﴾ په عوض "وَمَا سَحَرَ سُلَيْمَانُ" نازل شوی وی؟!

مونږ وایو _والله ﷻ أعلم_ چې: دا د دې دپاره ترڅو خلکو ته ورڅرګنده کړي چې که بالفرض

(۱) مفردات الراغب ص۷۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سلیمان ﷺ ساحر وی او خپل خان یې په دروغو پیغمبر تراشلی وی نو هرومرو به کافر وی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په نازل شوي عبارت کښې لاندې مطلبونو ته هم اشاره ده:

اول: ترڅو د هغه اعتراض مخه ونیوله شي کوم چې د یهودانو د پلوه نبي کریم ﷺ ته متوجه کېده هغه دا چې محمد ﷺ پیغمبر نه دی که نه نو سلیمان ﷺ به یې د پیغمبرانو په جمله کښې نه وی شمېرلی هغه خو یو ساحر سړی وه.

د جواب حاصل یې داسې راخېژي چې: که بالفرض سلیمان ﷺ ساحر وی نو په دغه وخت کښې به هیڅ مسلمان نه وی بلکې کافر به وی چې دغه لقب تاسو هم نه ورکوئ.

دوهم: یهودانو غوښتل چې سلیمان ﷺ ته د ساحریت په اثبات سره په خلکو کښې سحر او جادو ته مقبولیت حاصل کړي او په خلکو باندې یې تاثیرات قبول کړي. دهمدې کبله دذکر شوي عبارت په تعقیب د ﴿ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ﴾ جمله هم نازله شوه. یعني هغوی څکه سلیمان ﷺ ته د ساحر لقب ورکوي ترڅو د سحر دپاره طرفداران او شاګردان مونده کړي.

خو د ﴿ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ ﴾ د عبارت په نزول سره د دغه غرض مخه ونیوله شوه چې سحر او جادو د سلیمان ﷺ په ارتباط عین کفر دی حال دا چې هغوی دغه لقب نه ورکوي.

ج: په ﴿ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَ ﴾ کښې د "مَا" توری د سحر او جادو څخه کنایي دی.

که څه هم د اکثرو مفسرینو کرامو په نزد ذکر شوی توری په ﴿ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلسِّحْرَ ﴾ په کلمه باندې عطف دی[۱]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه توری به په ﴿ مَا تَتْلُواْ ﴾ کښې د "مَا" په توري باندې عطف وي.

دا د یو پلوه، او دبله پلوه په همدغه عبارت کښې د ﴿ ٱلْمَلَكَيْنِ ﴾ کلمه د دوه وو پرښتو څخه عبارت ده په کومو باندې چې جادو او سحر نازل شوی وه[۲].

ط: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په دوه وو پرښتو باندې د الله ﷻ د پلوه جادو (سحر) نازل کړی شو؟

مونږ وایو چې: څرنګه چې هغه جادو او سحر د إدریس ﷺ په زمانه کښې[۳] زښت ډېر عمومیت ترلاسه کړ او په خلکو کښې خور شو د کوم بنیاد چې د سلیمان ﷺ په زمانه کښې جني او انسي شیطانانو ایښی وه حتی چې عوامو د معجزې او جادو ترمنځ فرق نه شو خپلولی.

نو الله ﷻ ذکرې شوې دواړه پرښتې د اسمانه راښکته کړې او جادو یې ورباندې ورنازل کړ، ترڅو د یو پلوه خلک د معجزې او جادو فرق وکړی شي او د بله پلوه خلک امتحان کړی شي چې

(۱) المحرر الوجیز ج۱ ص۳۰۷
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۹۹
(۳) تفسیر الخازن ج۱ ص۱۶۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په سحر باندې عمل کوي او که نه[۱].

یعنې: یهودانو برسېره د شیطانانو په جادو باندې د هغه جادو او سحر پیروي هم خپله کړه کوم چې په دوه وو پرښتو باندې نازل کړی شوی وه.

ي: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د ذکر شوې مطلب د بیان په ارتباط د ﴿ بِبَابِلَ هَـٰرُوتَ وَمَـٰرُوتَ ﴾ کلمات هم نازل کړی شوه حال دا چې د دغو کلماتو د نزول څخه په غیر هم مطلب ترلاسه کېده؟

مونږ وایو ــوالله ﷻ أعلم ــ چې:

اول: یهودان په خمکه کښې بلکې د "بابل" ښار غونډې په ګڼ نفوسه ښار کښې د پرښتو د پلوه هغه جادو زده کوي او قبلوي کوم چې د هغوی د خواهشاتو سره برابر وي. حال دا چې د پرښتو اصلي مسکن اسمان دی.

که نه نو وخت کښې هغوی ته ډېره اسانه بهانه په لاس ورتله چې دغه دواړه پرښتې نه دي مونږ ترې جادو نه زده کوو.

دوهم: هغوی خپل خواهشات د نااشنا پرښتو (هاروت او ماروت) د پلوه هم قبلوي او عمل ورباندې کوي.

که بالفرض د هاروت ﷺ او ماروت ﷺ په عوض ورته جبرائیل ﷺ د سحر او جادو ښودانه کړې وی نو سمدستي به یې قبوله کړې وی او ضرور به یې دا خبره هېره کړې وی چې مونږ ورسره دښمني لرو.

یا: که څوک وایي چې: هغه جادو کوم چې شیطانانو رواج کړی وه د هغه جادو سره په کوم سره چې هاروت ﷺ او ماروت ﷺ د اسمانه راښکته شوي وه څه فرق درلود؟

مونږ وایو چې: که څه هم د جادو دغو دواړو ډولونو په ماهیت کښې فرق نه درلود چې دواړو د پټو اسبابو په بنیاد صورت نیوه حال دا چې معجزه د اسبابو په بنیاد صورت نه نیسي.

مګر په ښودانه کښې یې فرق وه هغه دا چې د شیطانانو جادو ښودانه د فساد اچولو دپاره وه، د همدې کبله یې ورته خلک ترغیبول چې سلیمان ﷺ د جادو په زور حکومت چلولی دی چې خوارق یې معجزات نه وه بلکې د جادو اثرات وه، نو تاسو هم جادو زده کړئ او عمل ورباندې وکړئ چې ګټه ترې اوچته کړئ.

نو هغوی به ترې د همدغه غرض په بنیاد زده کړه کوله. همدې مطلب ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ﴾ یعنې: هغوی د جني او انسي شیطانانو څخه هغه شی زده کړ کوم به چې ورته په ضرر تمامېده او په ګټه به ورته نه تمامېده، چې تر نن ورځې پورې لګیا دي همدغه خط السیر تعقیبوي.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۳۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يا په بل عبارت هغوی د جادو د زده کړې څخه دنياوي ناچيزه متاع په نظر کښې نيولې وه او د آخرت ګټې يې د نظره غورځولې وې. او نن ورځ هم فقط په دنياوي ګټو او خواهشاتو پسې تاند وهي او بس.

خو د هاروت ﷺ او ماروت ﷺ جادوښودانه د اصلاح په غرض وه چې څوک په معجزې باندې د جادوګومان ونه کړي.

د همدې کبله دوی دواړو عليهما السلام به خپل هر يو شاګرد ترهيباوه چې ﴿ فَلَا تَكْفُرْ ﴾ جادو وپېژنه خو عمل ورباندې مه کوه، هسې نه چې د کفر غوره کوونکی وګرځې.

يب: که څوک وايي چې: ايا د جادو زده کول کفر دی چې هغوی دواړو هر يو شاګرد په ﴿ فَلَا تَكْفُرْ ﴾ سره مخاطب ګرځاوه؟

مونږ وايو چې: لکه چې سود پېژاندل يو شی دی او سود ته عملي صورت ورکول بل شی دی، همدارنګه د جادو پېژاندل جائز دي خو په ځينو ډولونو باندې يې عمل کول کفر دی[١]، چې جادو ډېر ډولونه لري[٢].

يج: که څوک وايي چې: دا وقوعي امکان لري چې عوام خلک د پرښتو څخه څه شی زده کړي او شاګردان ورته جوړ شي؟

مونږ وايو چې: دا کار ممکن دی خو هله چې استاذه پرښته د بنيادم په څېره وګرځوله شي.

همدې مطلب ته الله ﷻ داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنَٰهُ رَجُلًا ﴾ [الأنعام: ٩] يعني: که بالفرض مونږ خپل استول شوی پرښته ګرځولې وی نو ضرور به مو سړی (د سړي په څېره) ګرځولې وی.

يد: د ذکرو شوو توضيحاتو څخه څرګنده شوه چې جادو په دنيا کښې د دوه وو منابعو څخه نشئت کړی دی هغه دا:

اول: يو د هاروت ﷺ او ماروت ﷺ د پلوه چې بنياد يې په اصلاح اينښودلی شوی وه.

دوهم: بل د جني او انسي شيطانانو د پلوه چې بنياد يې په فساد باندې اينښودل شوی دی.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه يهودانو په هره زمانه کښې په جادوګرۍ کښې زيات مهارتونه درلودلي دي او د جادو په تعميل کښې يې هم هيڅکله سستي نه ده کړې حتی چې د نبي کريم ﷺ په مسحور ګرځولو باندې يې هم صرفه نه ده کړې لکه چې د [البقرة:٨٧] ايت لاندې ورباندې رڼا اچولې شوې ده، والحمد لله ﷻ.

همدې مطلب ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ﴾، يعني هغوی به د پرښتو توصيه په نظر کښې نه نيوه او جادو به يې په عمل کښې پياده

---

[١] نظم الدرر ج١ ص٢٠٧

[٢] اللباب في علوم الكتاب ج٢ ص٣٣١؛ تفسير ابي السعود ج١ ص١٣٧؛ التفسير الكبير ج٣ ص٢٠٦_٢١٤

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کاوه حتی چې په همدغه جادو سره به یې د میرمنې او خاوند ترمنځ تفرقه اچوله او دنیاوي ناچیزه متاع به یې ترلاسه کوله.

یه په ﴿ وَمَا هُم بِضَارِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "إذن" کلمه د اجازې او رخصت (عدم ممانعت) معنی ورکوي خو په دې مقام کښې یې الله ﷻ ته اضافت شوی دی نو د الله ﷻ اراده او قضاء ترې مراد ده[1] یعني هغوی په جادو سره هیڅ ته ضرر رسوونکي نه شوه جوړېدلی مګر د الله ﷻ په ارادې سره یا په بل عبارت جادو د مرضونو څخه یو مرض دی چې د الله ﷻ د ارادې څخه په غیر وربانډې هیڅوک چاته ضرر نه شي رسولی.

یو په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو[2] د هاروت ﷺ او ماروت ﷺ په ارتباط یوه قیصه لیکلې ده چې د دغو دواړو پرښتو په جنایتکارۍ باندې دلالت کوي، حال دا چې د ټولو پرښتو په هکله الله ﷻ فرمایلي دي چې ﴿ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴾ [النحل: ۵۰] یعني پرښتې د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي چې په دوی باندې یې "قدرت" دپاسه دی او دوی هغه کار کوي په کوم باندې چې ورته (د خپل رب ﷻ) د پلوه امر وکړی شي.

دغه قیصه د بني اسرائیلو د دروغینو قیصو څخه یوه قیصه ده چې حقیقت او واقعیت نه لري[3]. نو موږ ځکه په تفسیر کښې د نظر لاندې ونه نیوه.

یز که څوک وایي چې ذکره شوې قیصه د احادیثو په ځینو کتابونو کښې[4] نبي کریم ﷺ ته په سند سره مرفوعه ګرځولې شوې ده، نو ایا هغې ته د دُرغینې قیصې لقب ورکول صحت لري؟

موږ وایو چې دغه قیصه اصلاً کعب الاحبار ﷺ پورې موقوفه ده چې د بني اسرائیلو په کتابونو کښې لیکلې شوې ده خو راویانو خطا شوي دي او مرفوعه یې ګرځولې ده[5].

یح که څوک وایي چې د ﴿ وَلَقَدْ عَلِمُوا۟ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ﴾ څخه ځرګندېږي چې یهودان د دنیاوي منافعو دپاره د جادو په سزا باندې په یقین سره پوهېده چې هغوی ته په آخرت کښې برخه نشته او په کوم شي باندې چې هغوی خپل ځانونه خرڅ کړي دي هغه ډېر بد شی دی او ډېره بده سزا ده؛ خو په عین ایت کښې د ﴿ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴾ د جملې څخه فهمېږي چې هغوی د خپلې کړنلارې په قباحت باندې نه پوهېده، که بالفرض په قباحت باندې یې پوهېدی خپل خط السیر ته به یې ادامه نه وی ورکړې؟

موږ وایو چې د دغه سوال د جوابولو دپاره ځینو مفسرینو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[6].

---

(۱) مفردات الراغب ص ۱۰۰ تفسير الطبري ج۱ ص۴٦٤
(۲) زاد المسير ج۱ ص۱۰۷ تفسير البغوي ج۱ ص۱۰۰
(۳) الاسرائيليات والموضوعات في كتب التفسير ص۱٦۱
(٤) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۲۹۵
(۵) تفسير ابن كثير ج۱ ص۱۳۸
(٦) روح المعاني ج۱ ص۳٤٦

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو مونږ ته هغه جواب غوره برېښي کوم چې د وروستني متصل ایت ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ خَيْرٌ ﴾ څخه ځرګند ېږي هغه دا چې که هغوی د خپل علم په مقتضی عمل کړی وی او په بې بنیاده آرزوګانو باندې یې اعتماد نه وی کړی چې ایمان یې راوړی وی او تقوی یې خپله کړې وی نو په ذکر شوي خط السیر باندې به کلک نه وی پاتې شوي.

د همدې کبله په ﴿ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ ﴾ [البقرة: ۱۸] ایت کښې منافقانو ته د کڼو او ګونګانو او هم د ړندو لقبونه ورکړی شوي دي چې هغوی د خپلو حواسو څخه د حق په پېژاندلو کښې استفاده نه ده کړې، نو داسې ګڼل شوي دي لکه چې هیڅ حواس ونه لري.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقُولُوا۟ رَٰعِنَا وَقُولُوا۟ ٱنظُرْنَا وَٱسْمَعُوا۟ ۗ وَلِلْكَـٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾ مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ وَلَا ٱلْمُشْرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾ ﴾

[۱۰۴] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو د (ایمان په زور خپل پیغمبر ﷺ ته) د "رَاعِنَا" کلمه مه وایاست (چې زمونږ رعایت وکړه).

او تاسو (ورته د همدغې کلمې په ځای) د "انظُرْنَا" کلمه ووایاست (چې مونږ ته ګوره)، او تاسو (خپل پیغمبر ﷺ ته) ښه غوږ ونیسئ (او خبرې یې په دقت سره واورئ ترڅو د دغې کلمې ویلو ته هم اړتیا پاتې نه شي).

او (دا ځکه چې) د کفارو دپاره دردناک عذاب دی (دوی ترې بده استفاده کوي).

[۱۰۵] هغه کسان نه خوښوي کومو چې کفر غوره کړی دی (نه) د اهل الکتابو څخه او نه د مشرکانو څخه چې په تاسو باندې د خپل رب ﷻ د پلوه څه خیر (ایتونه) درنازل کړی شي.

حال دا چې الله ﷻ په خپل رحمت (فضل) سره هغه څوک مختص ګرځوي چا ته چې یې اراده وشي

او الله ﷻ د ډېر لوی فضل خاوند دی (چې هغوی دغه لوی فضل نه شي دروکی کولی).

## ارتباط او شان نزول

په وړاندېنیو ایتونو کښې د جادو (سحر) په شمول د یهودانو د هغو قبائحو ذکر نازل شوی وه کومو چې د هغوی په اسلافو (پخوانیو) پورې اړه درلوده، او په دې ایتونو کښې یې د هغو قبائحو ذکر ته اشاره کېږي کوم چې په موجوده وو (ژوندیو) یهودانو پورې ارتباط لري، لکه د دوه مخو کلماتو استعمال او داسې نور.

څرنګه چې د نبي کریم ﷺ په مجالسو کښې به صحابه وو کرامو ﷺ د "رَاعِنَا" کلمه استعمالوله چې وضاحت یې _ إن شاء الله ﷻ_ راروان دی، خو یهودانو د دغې کلمې څخه داسې معنی اراده کوله

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د نبي کریم ﷺ توهین او کنځل پکښې نغښتې، وه نو الله ﷻ دغه ایتونه نازل کړه[۱] چې خلاصه یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه مؤمنان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱_ ای مؤمنانو! تاسو د خپل ایمان په زور خپل خانونه اداره کړئ او د نبي کریم ﷺ په مجالسو کښې داسې کلمات مه استعمالوئ د کومو څخه چې یهودان بده استفاده کوي.

یا په بل عبارت: تاسو د "رَاعِنَا" په کلمه باندې تلفظ مه کوئ چې "زمونږ سره څه مراعات وکړه، ترڅو په خبره باندې ښه پوه شو". او دا ځکه چې یهودان ستاسو په تلفظ باندې استدلال کوي او د ذکرې شوې کلمې په تلفظ سره نبي کریم ﷺ ته توهین آمېزه کلمات اوروي.

۲_ تاسو د ذکرې شوې کلمې (رَاعِنَا) په عوض په "انظُرْنَا" سره خپل پیغمبر مخاطب کړئ چې "مونږ ته وګوره ترڅو ستا ارشادات په دقت سره زده کړو".

په دې باندې علاوه تاسو د خپل پیغمبر خبرې ته د ابتداء څخه ښه متوجه اوسئ ترڅو د "انظُرْنَا" کلمې ویلو ته هم اړتیا پاتې نه شي.

۳_ کفار د موقع څخه استفاده اوچتوي او په حیلو سره د الله ﷻ پیغمبر ﷺ توهینوي نو تاسو ورته متوجه اوسئ او داسې موقع ورته مه برابروئ چې هغوی ترې خپل مطلب ته ورسېږي، د هغوی دپاره عند الله دردناک عذاب دی چې هرومرو به ورسره مخامخ کړی شي.

۴_ ای مؤمنانو! هغو کسانو چې کفر غوره کړی دی برابره خبره ده چې اهل الکتاب دي او که مشرکان دي یا بله کفري ډله ده، دا خبره نه خوښوي چې په تاسو باندې د خپل رب ﷻ د پلوه څه خیر او ګټور مطلب درنازل کړی شي او درته وحې کړی شي.

یا په بل عبارت: هغوی ډېر خپه دي چې په تاسو باندې روزمره قرآن کریم درنازلېږي چې ستاسو د دنیا او آخرت منافع او ارشادات پکښې مندرج دي او د استمرار په توګه تاسو په هغو پلانونو او دسانسو باندې پکښې خبرول کېږئ کوم چې د کفارو د پلوه په نظر کښې نیول کېږي.

۵_ که څه هم کفار نه خوښوي چې په تاسو باندې کوم خیر درنازل کړی شي مګر الله ﷻ په خپل فضل سره هغه چا ته اختصاص ورکوي کوم ته یې چې اراده وشي نو د هغوی خوښي او ناخوښي هیڅکله موثره نه شي واقع کېدلی.

په دې باندې علاوه الله ﷻ د ډېر لوی فضل خاوند دی چې هیڅوک یې په خپلو خانونو پورې مختص نه شي ګرځولی لکه چې اهل الکتاب په خپلو خانونو پورې د نبوت د سلسلې اختصاص خوښوي بلکې اختصاص ورکوي.

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص ۲۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ کلمات په قرآن کریم کښې تقریبًا اته اتیا (۸۸) ځله نازل شوي دي چې اول ځل يې په همدغو ایتونو کښې نزول موندلی د دغو کلماتو په نزول سره دې ته اشاره ده چې شرعي احکام د ایمان په زور په عمل کښې پیاده کرځېدلی شي او بس نو څومره چې ایمان کمزوری کېږي په همغې اندازه به په تعمیل کښې خنډونه صورت نیسي.

### "رَاعِنَا" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ لَا تَقُولُوا رَاعِنَا ﴾ کښې مومنان مکلف ګرځولي شوي دي چې تاسو ذکره شوې کلمه د نبي کریم ﷺ په حضور کښې مه استعمالوئ ترڅو ترې یهودان بده ګټه اوچته نه کړي چې د کنځلو فرصت لاس ته ورشي، بلکې تاسو داسې کلمه استعماله کړئ چې د هغوی دسیسه پکښې ځای ونه شي نیولی هغه دا چې تاسو خپل پیغمبر په ﴿ ٱنظُرْنَا ﴾ سره مخاطب ګرځوئ کومه چې دوه معناوې لري یوه دا چې مونږ ته ګوره، او بله دا چې زمونږ حالت په نظر کښې ونیسه ترڅو مونږ ستا ارشادات حفظ کړی شو.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د یهودانو په نزد د "رَاعِنَا" کلمه د لاندې وجوهو د کبله په کنځلو باندې مشتمله ده:

الف: د هغوی په لغت کښې د "رَاعِینو" کلمې د شریر معنی ورکوله[1] نو هغوی به په ذکرې شوې کلمې باندې خپلې ژبې اړولې. تا به ویل چې هغوی "رَاعِنَا" وایي حال دا چې هغوی به "رَاعِینو" ویل چې: ای شریره!.

ب: هغوی به ذکره شوې کلمه په اړولو ژبو سره تلفظ کوله لکه چې "رَاعِنَا" وایي حال دا چې هغوی به "رَاعِینَا" ویل چې: ای زمونږ شپونکیه! چې په هوښیارۍ کښې زمونږ شپونکي ته هم نه شي رسېدلی[2].

ج: هغوی به ذکره شوې کلمه د "رَعُونَة" څخه ګڼله چې د بې عقلۍ معنی ورکوي او الف یې پکښې د نداء دپاره ګڼله چې ای احمقه! ای بې عقله![3]، حال دا چې دغه کلمه د "مراعاة" څخه اشتقاقه شوې ده چې د مراقبت او څارنې معنی ورکوي[4].

### هېر مو نه شي!

۳ـ نبي کریم ﷺ په فصاحت او بلاغت کښې د هر چا څخه وړاندې وه او انس بن مالک ﷺ وایي

---

(۱) تفسیر المراغي ج۱ ص۱۸۴
(۲) البحر المحیط ج۱ ص۵۴۳
(۳) روح المعاني ج۱ ص۳۴۹
(۴) مفردات الراغب ص۲۰۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُعِيدُ الْكَلِمَةَ ثَلَاثًا لِتُعْقَلَ عَنْهُ»[۱] يعني: د الله ﷻ پيغمبر ﷺ وه چې (مهمې کلمې) به يې درې کرته اعاده کولې (تکرارولې) ترڅو ترې بندې کړی شي (ترې زده کړی شي).

په دې باندې علاوه عائشه (أمُ المؤمنين) رضي الله عنها په یوه حدیث کښې وايي چې: «إنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ كَسَرْدِكُمْ»[۲] يعني: د الله ﷻ پيغمبر نه وه چې خپلې خبرې يې ستاسو د خبرو په شان زنځير کولې (چې فرجه به پکښې نه وه).

همدارنګه کله به چې نبي کريم ﷺ خبرې کولې نو صحابه کرام ﷺ به ورته د ډېر زيات متوجه وو لکه چې البراء بن عازب ﷺ په یوه حدیث کښې وايي چې: «فَجَلَسَ وَجَلَسْنَا كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرَ»[۳] يعني: نو نبي کريم ﷺ کيناشت او مونږ هم په داسې حال کښې کيناستو لکه چې يقيناً زمونږ په سرونو باندې مرغان ناست دي.

نو څه اړتيا نه وه چې صحابه وو کرامو ﷺ نبي کريم ﷺ ته د "رَاعِنَا" کلمه اورولې وی، چې زمونږ څه مراعات وکړه عجله مه کوه چې مونږ ستا خبره زده کړو.

مګر مونږ ته داسې برېښي چې صحابه کرامو ﷺ به په دغې کلمې سره نبي کريم ﷺ د تکيه کلام په توګه مخاطب ګرځاوه لکه چې مونږ په پښتو کښې د تکيه کلام په توګه وايو چې: "ماته ګوره" والله ﷻ أعلم.

## د ايت شريف ارشادات

۴ـ ذکر شوی ايت شريف ټولو مؤمنانو ته د قيامت د ورځې پورې په ډېرو مهمو ارشاداتو باندې مشتمل دی. د مثال په توګه:

الف: مونږ ته په کار دي چې نبي کريم ﷺ د "ډاکتر، فيلسوف، پروفيسر" او داسې نورو لقبونو سره ياد نه کړو کوم چې د بلې ژبې القاب دي او په شريعت کښې بنياد نه لري.

څه لرې نه ده چې کفار د دغو القابو څخه استفاده وکړي او ووايي چې محمد ﷺ په کسب سره د نبوت درجې ته اوچت شوی وه. لکه څنګه چې ذکر شوي القاب په کسب سره ترلاسه کېږي.

ب: که مونږ په شرعي احکامو کښې د خپل اطمنان دپاره اسرار لټوو نو بايد ووايو چې په دې کښې دا حکمت دی او په هغه کښې دا حکمت دی.

نه دا چې په دې حکم کښې دا فلسفه يا هغه فلسفه ده. او دا ځکه چې شرعي احکام د حکيم احکام دي نو حکمت لټونه پکښې په کار ده، نه د فيلسوف احکام چې فسلفه پکښې ولټوله شي.

ج: مؤمنانو ته په کار دي چې د غربيانو په ډيموکراسۍ باندې هم د حقانيت عقيده خپله نه کړي او دا ځکه چې خينو علماوو کرامو پنځوس (۵۰) دلايل اقامه کړي دي چې ډيموکراسي کفر دی[۴].

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۵؛ شمائل الترمذي ص۱۴
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۳۰۱
(۳) سنن ابن ماجه ص۱۱۱
(۴) د مفتي علامه عبد المجيد الزعي تصنيف (د پوهنمل زاهدي احمدزي زباړه) ص۴۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


﴿مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ أَوْ مِثْلِهَآ ۗ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ
قَدِيرٌ ﴿١٠٦﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ
مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾ أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْـَٔلُوا۟ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۗ
وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾ وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ
ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ
لَهُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَٱعْفُوا۟ وَٱصْفَحُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٩﴾
وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ
ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٠﴾﴾

[۱۰۶] په دې شرط چې مونږ یو شی چې د ایت څخه عبارت دی منسوخ کړو یا یې (د اذهانو څخه هېر کړو نو مونږ د هغه څخه په بهتر ایت یا د هغه په مثل ایت سره راتګ کوو.

ایا ته نه پوهېږې؟ (بلکې پوهېږې چې) یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې قدرت درلودونکی دی.

[۱۰۷] ایا ته نه پوهېږې (بلکې پوهېږې چې) یقیناً الله ﷻ چې دی همده ﷻ پورې د اسمانونو او ځمکو واکداري (اختصاص) لري.

او (ستاسو د عدم اطاعت په صورت کښې) تاسو ته د الله ﷻ څخه په غیر هیڅ دوست نشته او نه (تاسو ته) نصرت کوونکی شته (چې په شفاعت یا قوت سره نجات درکړي).

[۱۰۸] (ای مؤمنانو!) ایا تاسو اراده کوئ (چې د یهودانو په تحریک سره) د خپل پیغمبر ﷺ څخه داسې غوښتنې (او پوښتنې) وکړئ لکه څنګه چې (د هغوی دپلوه) لا دړاندې د موسی ؑ څخه غوښتلې شوې وې.

او هر څوک چې په ایمان سره (د خپل ځان دپاره) کفر عوض کړي نو بې شکه هغه سمه لاره ورکه کړه (او په منحرفه لاره باندې روان شو).

[۱۰۹] (ای مؤمنانو!) د اهل الکتابو څخه ډېر کسان خوښوي چې تاسو د خپل ایمان څخه وروسته (کفر ته) د کفارو په حیث ورواړوي.

(البته) د داسې حسد د کبله چې (څه بنیاد نه لري او) هغوی د خپلو ځانونو څخه د هغه وخت څخه وروسته نشئت ورکړی دی چې حق ورته څرګند شوی دی (چې ستاسو سره دی).

نو تاسو (د هغوی څخه) عفوه وکړئ او تر هغه پورې ترې مخونه واړوئ چې الله ﷻ خپل (جهادي) امر راوړي (درنازل کړي).

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یقینًا الله ﷻ په هر شي د قدرت خاوند دی (تاسو ته به د جهاد توان درکړي).

[۱۱۰] او تاسو لمونځ ودروئ او زکات ورکړئ (جهاد ته خانونه چمتو کړئ).

او هر شی چې تاسو د خپلو ځانونو دپاره وړاندې ولېږئ چې د هر خیر څخه عبارت دی هغه به د الله ﷻ په نزد مونده کړئ.

یقینًا الله ﷻ په هغو کړو وړو بینا دی کومو ته چې تاسو عملي جامه وراغوندئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د "رَاعِنَا" ویل منسوخ ګرځولي شوي وه کوم چې په تقریري احادیثو سره په اثبات رسېدلي وه. او دلته په مطلقې نسخې باندې رڼا اچولې شوې ده.

برسېره په دې، هلته د قرآن کریم په نزول باندې د کفارو ناخوښی ته اشاره شوې وه چې الله ﷻ خپل لوی فضل نازل کړ او پخواني کتابونه یې ورباندې منسوخ وګرځول او دلته د نسخې حکمتونو ته اشاره کېږي ترڅو ورباندې د هغه اعتراض مخه ونیوله شي د کوم څخه به چې کفارو د ایمان د نه راوړلو دپاره د پلمې او بهانې په توګه کار اخست هغه دا چې که چرته دا کتاب (قرآن کریم) په حقه په محمد ﷺ باندې نازل شوی وی نو په دې کښې به نسخې صورت نه وی نیولی ځکه چې نسخه د کم علمۍ څخه نمایندګي کوي حال دا چې د الله ﷻ علم کامل دی او هم ازلي او ابدي دی.

همدارنګه په دې ایتونو کښې د یهودانو یوه بله دسیسه هم شنډه کړې شوې ده. هغه دا چې هغوی به ځینې صحابه کرام ﷺ هڅول ترڅو نبي کریم ﷺ په تعنتي او بې ګټو پوښتنو باندې مصروف کړي چې د دعوت په چلولو کښې پاتې راشي او تورات ته د منسوخ کتاب لقب ورنه کړي.

نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د ذکرو شوو مطالبو په تعقیب په خپل دعوتي اُمت باندې زمونږ د پلوه څه نور مطالب هم قرائت کړه. هغه دا چې:

۱ـ د یو شریعت یا یوه شرعي حکم نسخه کول د نبي کریم ﷺ کار نه دی، دا ټول زمونږ د پلوه د حکمتونو په بنیاد او د بندګانو د ګټو په بنیاد صورت نیسي. د مثال په توګه:

الف: کله چې یو شرعي حکم یا یو قرآني ایت نسخه کړو او یا یې د خلکو د زړونو څخه هېر کړو نو په عوض کښې یې د هغه څخه بهتر حکم یا ایت نازلوو، چې بندګانو ته د دنیا او آخرت په ګټه تمامېږي. او یا اقلاً د حکمتونو په بنیاد د منسوخ حکم او ایت مثل نازلوو.

نو لنډه دا چې نسخه د کم علمۍ څخه نمایندګي نه کوي بلکې د علم په کمال باندې دلالت کوي چې د بندګانو د هر حالت سره مطابق احکامو ته نزول ورکوي.

ب: برسېره پردې الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت درلودونکی دی، توان یې درلود چې بندګان یې په داسې ډول سره پیدا کړي وی چې د شرائعو او احکامو تبدیل ته یې اړتیا نه درلودای خو دا ډول پیدا کول د حکمت غوښتنه نه وه.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(۱) په دې باندې علاوه ټول بندګان د الله ﷻ ملکیت دی نو ځنګه یې چې خوښه شي همغسې
احکام او شرائع ورنازلوي.
ای بنده! ایا ته نه پوهېږې چې یقینًا د اسمانونو او ځمکو واکداري فقط په الله ﷻ پورې
اختصاص لري او بس.
۲ـ ای بندګانو! که تاسو د الله ﷻ حکم او شریعت ته غاړې کښېنږدئ او انکار ترې وکړئ نو د
ډېر سخت عذاب سره به مخامخ کړی شئ.
په دغه وخت کښې به د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست ولرئ او نه نصرت کوونکی، چې په
شفاعت او یا په زور سره نجات درکړي.
۳ـ ای مؤمنانو! ایا تاسو اراده لرئ چې د یهودانو په تحریک خپل پیغمبر ته داسې پوښتنې
راجع کړئ لکه ځنګه چې پخوا د یهودانو د پلوه موسی ﷺ ته راجع کړی شوې وې؟.
هغوی غواړي چې په همدغه تحریک سره تاسو د خپلو خانونو غوندې بې لارې کړي ترڅو تاسو
د کفر په خپلولو سره خپل ایمان عوض او ضائع کړئ او د هغوی غوندې د شریعت عدم تعمیل ته
بهانې او پلمې وتراشئ.
حال دا چې هر څوک دغه کړنلاره خپله کړي نو هغوی خپل ایمان په کفر سره عوض کړ او په
یقیني توګه یې سمه لاره ورکه کړه او په غلطه لاره باندې روان شوه.
۴ـ ای مؤمنانو! د اهل الکتابو اکثریت خوښوي چې تاسو بې لارې کړي او په هره دسیسه یې
چې توان ورسېږي تاسو د ایمان د راوړلو څخه بېرته کفر ته واړوي او داسې مو ګمراهان وګرځوي
لکه ځنګه چې هغوی ګمراهان او بې لارې دي.
هغوی دغه کړنلاره صرف د عناد او حسد د کبله خپله کړې ده، که نه نو هغوی ډېر ښه پوهېږي
چې تاسو په حقه لاره باندې روان یاست. نو تاسو ته په کار دي چې څه خاصیتونه خپل کړئ ترڅو د
هغوی د دسائسو څخه په امن کښې پاتې شئ. هغه دا چې:
الف: تاسو د هغوی سره ناندرۍ مه وهئ او خپل وختونه وریاندې مه ضائع کوئ او همدارنګه د
هغوی په اذیتونو باندې صبر وکړئ او د انتقام هڅه مه خپلوئ.
ب: البته تاسو دغه خاصیت ته تر هغې ادامه ورکړئ ترڅو چې الله ﷻ تاسو ته خپل امر درنازل
کړي او د همدوی سره مو په جهاد سره مکلف وګرځوي.
ج: تاسو خپل خانونه کمزوري مه ګڼئ تاسو په هر وخت کښې برلاسي یاست چې الله ﷻ ستاسو
ملګری دی حال دا چې الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت درلودونکی دی.
د: فعلاً تاسو د خپلو خانونو اصلاح ته ډېر متوجه شئ نو لمونځونه ودروئ او زکاتونه ورکړئ
(په بدني عباداتونو او په مالي عباداتونو باندې کلک شئ).
ځکه چې هر یو عبادت او نېک عمل چې تاسو د خپلو خانونو دپاره وړاندې ولېږئ هغه به هیڅکله
د الله ﷻ په نزد ضائع نه کړی شي او هرومرو به تاسو ورسره ملاقې شئ او ګټه به ترې اوچته کړئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: يقيناً الله ﷻ ستاسو په ټولو کړو وړو باندې بينا دی او هر څه خاري نو تاسو ته په کار دي چې په ټولو خيريه کارونو کښې اخلاص وکړئ او د الله ﷻ څخه وډار شئ.

## توضيحات

۱ـ د ﴿مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ أَوْ مِثْلِهَآ﴾ کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په ذکر شوي عبارت کښې د "مَا" کلمه شرطيه ده او د "شيء" څخه کنايي ده چې په ﴿مِنْ ءَايَةٍ﴾ کښې په "آية" سره تفسيره شوې ده.

ب: که څه هم د ﴿ءَايَةٍ﴾ کلمه دلته ځينو علماوو کرامو په معجزې او خارق العاده سره تعبير کړې ده[۱]، مګر د مقام غوښتنه دا ده چې دغه کلمه په قرآني ايت يا شرعي حکم سره تعبير کړی شي.

ج: د ﴿نَنسَخْ﴾ کلمه د "نَسْخ" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې په لغت کښې په يو شي سره د بل شي د محوه کولو معنی ورکوي چې هغه شی د دې شي په ځای ودرېږي، لکه چې زوړوالی ځواني د منځه وړي او په ځای يې ودرېږي[۲].

خو "نَسخ" په شريعت کښې د دې دپاره وضعه شوې ده چې د يوه شرعي حکم د انتهاء موده بيان کړې شي[۴]، يا په بل عبارت چې د شارع د پلوه سابق شرعي حکم ته په سابق حيثيت سره انتهاء ورکړی شي، که څه هم من کل الوجوه د منځه محوه نه کړی شي.

د: د همدغه شرعي تعريف د قيوداتو څه وضاحت دا دی:

اول: د شرعي حکم نسخه کول په شارع پورې اختصاص لري نو د نبي کريم ﷺ په وفات سره وحي قطعه شوې ده او د نسخې دروازه تړلې شوې ده.

دوهم: د نبي کريم ﷺ په حيات کښې صرف په شرعي احکامو کښې نسخې تحقق موندلی دی او بس، چې په قصصو او اخباراتو کښې نسخه د تکذيب معنی ورکوي. ته به وايې چې سابقه قيصه او سابق خبر دروغ وه.

دريم: همدارنګه نسخې په شرعي عملي احکامو کښې صورت نيولی دی او په عقيدوي احکامو کښې يې هيڅکله تحقق نه دی موندلی، د همدې کبله د ټولو پيغمبرانو شريعتونه په عقيدوي احکامو کښې متحد دي او هيڅ تفاوت پکښې نشته.

هـ: د ايت او حديث په لحاظ نسخه لاندې ډولونه درلودلی شي:

اول: چې يو ايت په بل ايت سره نسخه شي، لکه چې په [التوبة:۵] ايت سره هغه ټول ايتونه منسوخ ګرځولي شوي دي په کومو کښې چې مؤمنان د وسلوال جهاد څخه منعه کړی شوي دي.

---

(۱) تفسير المنار ج۱ ص۴۱۶
(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۱۴۹؛ تفسير البغوي ج۱ ص۱۰۲
(۳) مفردات الراغب ص۵۱۱
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۵۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


دوهم: نسخه د یوه حدیث په بل حدیث سره لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې ناسخ او منسوخ دواړو ته اشاره کړې ده چې: «كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا»[۱] یعني: ما تاسو د قبرونو د زیارت کولو څخه منعه کړي وئ. نو (اوس تاسو ته اجازه ده) د قبرونو زیارت وکړئ.

دریم: په [البقرة: ۱۸۰] ایت سره په مؤمنانو باندې وصیت کول فرض کړی شوي وه، خو د میراث د ایتونو په نزول سره د وصیت فرضیت د استحباب رتبې ته راښکته کړی شو.

اما وارثانو ته وصیت کول د نبي کریم ﷺ د پلوه بالکل منسوخ وګرځول شو چې: «إِنَّ اللهَ قَدْ أَعْطَى كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ فَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ»[۲] یعني: یقینًا الله ﷻ د حق هر خاوند ته خپل حق ورکړی دی، نو بالکل د وارث دپاره وصیت نشته (او که چا ورته وکړ هغه لغوه او باطل دی).

څلورم: نسخه د حدیث په ایت سره لکه چې د هجرت په اولنیو وختونو کښې دځو میاشتو دپاره د لمانځه قبله د نبي کریم ﷺ د پلوه بیت المقدس قبله ګرځولې شوې وه خو د [البقرة: ۱۴۲ـ۱۵۰] ایتونو سره دغه حکم منسوخ وګرځولی شو او کعبه شریفه د قبلې په حیث وټاکله شوه.

و: د قرآن کریم د ایتونو په ملحوظ نسخه په لاندې دولونو سره تحقق موندلی شي:

اول: چې شرعي حکم منسوخ ګرځولی شوی وي خو هغه ایت چې په همدغه حکم باندې دلالت کوي په خپل حال پرېښودلی شوی وي چې د لمانځه د قرائت فرضیت ورباندې اداء کېږي او په قرآن کریم کښې په عثماني لیکنه کښې هم شامل وی. لکه چې د [البقرة: ۲۴۰] ایت سره د هغې زنانه عدت یو کال فرض کړی شوی وه د کومې چې مېړه (خاوند) وفات شي. خو همدغه عدت د [البقرة: ۲۳۴] ایت سره څلورو میاشتو او لسو ورځو ته راټیټ کړی شوی دی حال دا چې منسوخ ایت د قرآن کریم یو جزء دی او د مصحف څخه نه دی غورځولی شوی، دغسې ایت ته د منسوخ الحکم لقب ورکولی کېږي.

دوهم: چې حکم په خپل ځای پاتې وي خو دلالت کوونکی ایت منسوخ التلاوة ګرځولی شوی دی. لکه د «الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا»[۳] یعني: کله چې واده والا سړی او واده والا ښځه زنا وکړي نو تاسو دغه دواړه رجم کړئ (په کاڼو سره یې قتل کړئ).

د دغه ایت حکم باقي دی چې نبي کریم ﷺ او خلفاوو راشدینو ورباندې عمل کړی دی خو ایت شریف د تلاوة څخه غورځولی شوی دی او د لمانځه د قرائت فرضیت ورباندې نه اداء کېږي.

د همدغه ایت په هکله امیر المؤمنین عمر ﷺ ویلي دي چې: «لَوْلَا أَنْ يَقُولَ: زَادَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي كِتَابِ اللهِ تَعَالَى لَكَتَبْتُهَا»[۴] یعني: که چرته د دې خبرې ډار نه وی چې کوم ویونکی به ووایي چې:

---

[۱] صحیح مسلم ج۱ ص۳۱۴
[۲] سنن ابي داود ج۲ ص۴۰
[۳] سنن ابن ماجه ص۱۸۳
[۴] موطا الامام مالک ص۵۳۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عمر بن الخطاب په کتاب الله (قرآن کریم) کښې زیادت وکړ، نو ما به دغه ایت په مصحفونو کښې لیکلي وی (دغه ایت به مونږ قرائت کاوه).

همدغه مضمون ته د احادیثو په ځینو نورو کتابونو کښې هم اشاره شوې ده[۱].

دریم: چې شرعي حکم او دلالت کوونکی ایت دواړه منسوخ ګرځولي شوي وي او د لوستونکو د اذهانو څخه هېر کړی شوي وي چې دغه ډول ته په ﴿ نُنسِهَا ﴾ کلمې سره اشاره کړی شوې ده.

په همدې ارتباط أبو موسى الأشعري ﷛ په یوه حدیث کښې ویلي دي چې: «وَإِنَّا كُنَّا نَقْرَأُ سُورَةً كُنَّا نُشَبِّهُهَا فِي الطُّولِ وَالشِّدَّةِ بِبَرَاءَةَ فَأُنْسِيتُهَا»[۲] یعنې: او یقیناً مونږ وو چې په قرآن کریم کښې به مو داسې سورت قرائت کاوه چې په اوږدوالي او شدت کښې به مو د "بَرَاءَة" د سورت غوندې ګاڼه، خو زما څخه هېر کړی شو (او نورو صحابه وو کرامو ﷡ ته هم یاد پاتې نه شو).

ز: په ﴿ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ ﴾ کښې د نسخې لاندې دوه وو صورتونو ته اشاره ده:

اول: چې ناسخ حکم د عمل په لحاظ د منسوخ حکم څخه خفیف وي چې د ناکامۍ احتمال پکښې لږ وي، لکه د هغې ښځې عدت د کومې چې خاوند وفات شوی وي چې لږ وراندې یې د الله ﷻ په توفیق په (و ـ اول) توضیح کښې وضاحت تېر شو.

دوهم: چې ناسخ حکم د منسوخ حکم څخه په عمل کښې ثقیل وي خو د ثواب او اجر په لحاظ د هغه څخه خیر (بهتر) وي لکه د وسلوال جهاد فرضیت چې په (هـ ـ اول) توضیح کښې ورته اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

ح: په ﴿ أَوْ مِثْلِهَا ﴾ کښې د نسخې هغه صورت ته اشاره کېږي په کوم کښې چې ناسخ او منسوخ دواړه حکمونه په عمل او ثواب کښې برابر وي خو د امتحان او نورو حکمتونو په بنیاد یې تحقق موندلی دی لکه د قبلې بدلون چې د الله ﷻ په توفیق په (هـ ـ څلورم) کښې یې بیان تېر شو.

ط: که څوک د نسخې په هکله د ذکرو شوو وضاحتونو څخه اضافه وضاحتونه غواړي نو هیله ده چې ځینو نورو کتابونو ته مراجعه وکړي[۳].

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په ﴿ أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْـَٔلُواْ رَسُولَكُمْ ﴾ الآية کښې لاندې پوښتنې په ذهن کښې راپیدا کیدی شي:

الف: که څوک وایي چې: په ﴿ أَمْ تُرِيدُونَ ﴾ کښې په مستتر ضمیر سره څوک مخاطب ګرځولي شوي دي؟

(۱) سنن ابي داود ج۲ ص۲۵۰
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۳۳۵
(۳) مناهل العرفان في علوم القرآن ج۲ ص۱۹ ـ ۱۶۶؛ تیر الاتیا... اصول الفقه ص۲۰۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو[۱] مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو په دغه ضمير سره مشرکان مخاطب ګڼلي دي[۱]، خو مونږ د هغوی مخاطب ګرځول په زړه پوري نه بريښي چې د وړاندې ټيرته کلامونو سره هيڅ پيوند نه لري چې هغوی دلته هيڅ مطرح نه دي.

او ځينې نور مفسرين کرام وايي چې دا خطاب يهودانو ته متوجه دی[۲]، خو مونږ ته دغه نظر هم بې مزې بريښي. او دا ځکه چې:

اول: دغه نظر د ﴿رَسُولَكُمْ﴾ سره مناسب نه دی چې هغوی خو محمد ﷺ د خپلو خاتونو دپاره پيغمبر نه ګاڼه.

دوهم: که بالفرض ذکر شوي نظر صحت درلودی نو ضرور به د ﴿كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ﴾ په عوض "كَمَا سَأَلْتُمْ مُوسَى مِنْ قَبْلُ" نازل شوی وی، چې همدا عبارت ورسره تناسب لري.

نو مونږ ته غوره برېښي چې: په دغه خطاب سره به صحابه کرام ﷺ مخاطب ګرځولي شوي وي. لکه چې لږ وړاندې په [البقرة:۱۰۴] ايت کښې همدوی مخاطب ګرځېدلي دي.

ب: که څوک وايي چې: نو هغه کومې پوښتنې وې چې هغو ته د ارادې کولو څخه صحابه کرام ﷺ منعه کړی شوه؟

مونږ وايو چې: د ځينو مفسرينو کرامو په نزد دلته هغه پوښتنه ممنوعه ګرځولې شوې ده کومه چې صحابه کرامو ﷺ د حنين په غزا کښې کړې وه[۳]. هغه دا چې صحابه وو کرامو ﷺ يوې شنې غنې ونې ته اشاره وکړه چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! اجْعَلْ لَنَا ذَاتَ أَنْوَاطٍ»[۴] يعنې: ای د الله رسوله! مونږ ته دغه ونه ذات انواط وګرځوه لکه څنګه چې د کفارو دپاره په همدې نامه سره يوه ونه ده.

د همدې موضوع زيات وضاحت إن شاء الله ﷻ د [الأعراف:۱۳۸] ايت لاندې راروان دی.

خو مونږ ته دغه ډول تفسير په زړه پوری نه بريښي. او دا ځکه چې په ايت شريف کښې هغه غوښتنه رد شوې ده کومې ته چې اراده کړی شوې وه، نه دا چې بالفعل ورته صورت ورکړی شوی وه حال دا چې په ذکر شوي حديث کښې د "ذَاتَ أَنْوَاطٍ" د ونې تاکل بالفعل غوښتل شوي وه.

مونږ ته داسې ښکاري ـ والله ﷻ أعلم ـ چې په دغه وخت کښې به يهودانو ځينې جديد الايمان مؤمنان هڅولي وي چې خپل پيغمبر ته ځينې پوښتنې راجع کړئ. د مثال په توګه:

اول: ای پيغمبره! څه وجه ده چې مونږ بايد تاته په "رَاعِنَا" سره خطاب ونه کړو بلکې په "انظُرْنَا" سره درته خطاب وکړو؟.

دوهم: ای پيغمبره! څه وجه ده چې د هغې ښځې عدت د يو کال څخه څلورو مياشتو او لسو

---

[۱] زاد المسير ج۱ ص۱۱۲
[۲] التفسير الكبير ج۳ ص۲۳۵
[۳] البحر المحيط ج۱ ص۵۵۴، حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۳۸۷
[۴] مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۲۰۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورخو نه راتیبې کړې شو د کومې چې خاوند وفات شوی وي؟

څه لرې نه ده چې د کوم یوه صحابي ﷺ سره به د دغسې پوښتنو اراده پیدا شوې وي خو الله ﷻ د ذکر شوې ایت په نزول سره دغه ډول اراده هم ممنوعه وګرځوله.

د همدې موضوع په ارتباط ـ ان شاء الله ﷻ ـ د [المائدة ۱۰۱] ایت لاندې د احادیثو په رڼا کښې به پوره خوندور بحث راروان دی.

ج: که څوک وایي چې د یهودانو په دغسې هڅولو کښې څه مطلب وه؟

مونږ وایو: دهغوی مطلب دا وه چې د یو پلوه خپلو جدید الایمان مومنانو ته تشویش ورواچوي او بیرته یې کفر ته ورتاو کړي لکه چې متصل ایت ﴿ وَدَّ كَثِيرٌ ﴾ الآیة کښې ورباندې صراحت شوی دی او دبله پلوه په دغسې غوښتنوسره نبي کریم ﷺ ته اذیت ورسوي چې دا دهغوی ډېرمهم امید وه.

د: که څوک وایي چې په ﴿ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ﴾ کښې کومو پوښتنو ته اشاره ده؟

مونږ وایو چې: بني اسرائیلو موسی ﷺ ته زښتې ډېرې پوښتنې راجع کړې وې ترڅو د احکامو عدم تعمیل ته بهانه جوړه کړي. د مثال په توګه:

اول: هغوی د موسی ﷺ څخه وغوښتل چې مونږ ته په دنیا کښې الله ﷻ راولید کړه: [البقرة: ۵۵] ایت.

دوهم: هغوی وویلې چې: ای موسی! د کومې غوا په ذبحه باندې چې مونږ مامور کړی شوي یاستو هغه څنګه غوا ده؟ [البقرة: ۶۷_۷۴] ایتونه.

دریم: هغوی وویلې چې: ای موسی! مونږ ته غیر الله یو معبود ودروه لکه څنګه چې نور خلک د غیر الله د معبودانو درلودونکي دي: [الأعراف: ۱۳۸] ایت.

## "حَسَد" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم ﴾ کښې د "حَسَد" کلمه دېته وضعه شوې ده چې څوک د هغه چا د نعمت د زوال آرزو وکړي کوم یې چې مستحق وي[۱]، چې په لاندې صورتونو کښې تحقق مونډلی شي:

الف: چې څوک د بل چا څخه د نعمت د زوال آرزو کوي خو د خپل ځان دپاره یې نه خوښوي لکه چې یهودانو د صحابه ووکرامو ﷺ د ایمان د زوال آرزو کوله خو پخپله ایمان راوړلو ته تیار نه وه.

ب: چې د بل چا څخه یې زوال غوارې او خپل ځان ته یې د ثبوت غوښتونکی وي. لکه چې یهودانو د نبوت نعمت فقط د خپلو خانو دپاره اختصاصاوه.

ج: چې د بل چا څخه د نعمت د زوال ارزو د دې دپاره کوي چې بل څوک ورباندې فوقیت مونده نه کړي.

(۱) مفردات الراغب ص ۱۱۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## هېر مو نه شي!

۴_ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب هېر نه کړې شي:

الف: "حَسَد" کول په ټولو صورتونو کښې په ډېرو نصوصو سره قطعي حرام دي. د مثال په توګه:

اول: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ [النساء: ۳۲]

یعني: او تاسو د هغه شي آرزو مه کوئ په کوم سره چې الله ﷻ ستاسو ځینو کسانو ته په ځینو نورو باندې بهتري او فضیلت ورکړی دی (ترڅو ستاسو ترمنځ کینه او عداوت واقع نه شي).

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې ویلي دي چې: «اَلْحَسَدُ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ»[۱] یعني: هر حسد نیکي داسې خوري (محوه کوي) لکه چې اور لرګي خوري (سوزوي)

ب: که څوک د "حَسَد" په هکله زیات معلومات خوښوي چې د "حَسَد" اسباب کوم کوم دي او د خلاصون چاره ترې څه ده نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۲].

ج: د "حَسَد" په مقابل کښې د "غِبْطَة" _لکه "حِكْمَة"_ کلمه استعمالېږي، چې دا کلمه (غِبْطَة) دې ته وضعه شوې ده چې څوک د خپل ځان دپاره د بل چا د نعمت غوندې نعمت وغواړي (خوښ کړي) خو د بل چا څخه یې د زوال آرزو خپله نه کړي[۳].

د: همدغه خاصیت کله ـکله په "تَنَافُس" سره تعبیر کېدلی شي[۴]، لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ﴾ [المطففین: ۲۶] یعني: او په دغه (جنت) کښې دې رغبت کوونکي رغبت وکړي (د جنت په تحصیل کښې دې یو تربله مسابقه وکړي).

## "عَفو" او "صَفح" څه فرق لري؟

۵_ په ﴿فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا﴾ کښې د "اعْفُوا" کلمه د "عَفو" _لکه "قَوْل"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د یوه شي د پرېښودلو او د ډېرولو معنی ورکوي[۵]، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَأَعْفُوا اللُّحَى»[۶] یعني: او تاسو ږیرې ډېرې کړئ (په حال یې پرېږدئ چې اوږدې شي، مه یې لنډوئ او مه یې خربیئ).

او د "اصْفَحُوا" کلمې پکښې د "صَفح" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاق موندلی دی چې د اعراض او مخ اړولو دپاره وضعه شوې ده[۷].

---

[۱] سنن ابن ماجه ص ۳۱۰
[۲] احیاء علوم الدین للغزالي ج۹ ص۱۲۷، ۱۵۲
[۳] القاموس المحیط ج۴ ص۴۱۵
[۴] تفسیر القرطبي ج۲ ص۷۱
[۵] لسان العرب ج۱۵ ص۷۲
[۶] صحیح البخاري ج۲ ص۸۷۵
[۷] لسان العرب ج۲ ص۵۱۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم ذکرې شوې دواړه کلمې په مقصودي معنی کښې سره ډېرې نژدې دي، مګر څه لږ ډ
ده چې په دې مقام کښې یې په لاندې ډول سره د معنی په حاصل کښې فرق وکړو:

الف: ای مؤمنانو! تاسو هغوی ته د الله ﷻ د امر پورې عفوه وکړئ او په خپل حال یې پرېږدئ
(وسلې ته مه لاس کوئ).

ب: تاسو د هغوی څخه د الله ﷻ د امر پورې مخونه واړوئ او اعراض ترې وکړئ (د هغوی په
ستغو خبرو باندې مه ناارامه کېږئ او نااندرې ورسره مه وهئ).

﴿وَقَالُوا۟ لَن يَدْخُلَ ٱلْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَـٰرَىٰ ۗ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ قُلْ هَاتُوا۟ بُرْهَـٰنَكُمْ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴿١١١﴾ بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُۥٓ أَجْرُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١١٢﴾ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ لَيْسَتِ ٱلنَّصَـٰرَىٰ عَلَىٰ شَىْءٍ وَقَالَتِ ٱلنَّصَـٰرَىٰ لَيْسَتِ ٱلْيَهُودُ عَلَىٰ شَىْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ ٱلْكِتَـٰبَ ۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١١٣﴾﴾

[۱۱۱] او اهل الکتاب وایي چې: هیڅکله به هیڅوک جنت ته ورداخل نه شي مګر هغه څوک
چې (هغوی) یهودان وي یا نصارا وي، دغه د هغوی د دروغینو اټکلونو څخه (یو اټکل) دی.
(ای پیغمبره! ورته) ووایه چې: (په دغې خبرې باندې) خپل قوي دلیل حاضر کړئ.
که تاسو (په خپله خبره کښې) رښتیني یاست (نو دغه کار وکړئ).

[۱۱۲] دغسې نه ده (لکه چې تاسو خیال کوئ بلکې) هرڅوک چې خپل مخ (خپل ذات) الله ﷻ
ته تسلیم کړي حال دا چې نیکي کوونکی هم وي، نو خاص د همده دپاره د ده د خپل رب ﷻ په نزد د
ده اجر (ټاکلی شوی) دی، چې نه به په دوی باندې (د رب ﷻ دپلوه) ډار وي، او نه به دوی غمژن شي.

[۱۱۳] او یهودان وایي چې نصارا په هیڅ اعتباري شي (دین) باندې نه دي (په غلطه روان دي)
او نصارا وایي چې یهودان په هیڅ اعتباري شي (دین) باندې نه دي (بلکې په غلطه روان دي)، حال
دا چې دغه دواړه ډلې اسماني کتاب لولي (چې د دواړو ډلو د اصلي دین حقانیت پکښې په اثبات
رسېدلی دی).

(ای پیغمبره! د اهل الکتابو) غوندې هغه کسان هم (بې دلیله ) وایي کوم چې نه پوهېږي
(اهل الکتاب نه دي) البته د هغوی غوندې خبره (چې زمونږ څخه په غیر بله یوه ډله هم په سمه لار
باندې روانه نه ده).

نو الله ﷻ به د قیامت په ورځ د ټولو خلکو ترمنځ په هغو مسائلو کښې (په حقه) فیصله وکړي په
کومو کښې چې دوی لګیا دي اختلاف کوي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنی متصل ایت کښې د هغه حسد بیان نازل شوی وه کوم چې یهودان او نصارا (اهل الکتاب) یې د مؤمنانو سره لري او په دې ایتونو کښې هغه حسد ته اشاره کېږي په کوم باندې چې ذکرې شوې دواړه ډلې په خپلو منځو کښې اخته دي. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د اهل الکتابو د خپلمنځي حالت بیان قرائت کړه ترڅو د هغوی ځنې په تشویش کښې واقع نه شي هغه دا چې:

۱_ که څه هم هغوی په اتفاق سره ستاسو ارتداد ته سترګې په لار دي مګر هغوی په خپلو منځو کښې یوه ډله د بلې ډلې دښمنه ده. او دا ځکه چې:

الف: یهودان وایي چې د همدوی څخه په غیر به بله هیڅ ډله جنت ته داخله نه شي که څه هم نصارا وي، نو جنت فقط په خپلو ځانونو پورې مختص ګڼي.

ب: بالمقابل نصارا وایي چې جنت په همدوی پورې اختصاص لري چې د دوی څخه په غیر به ورته هیڅوک ورداخل نه شي که څه هم هغوی یهودان وي.

۲_ ای پیغمبره! دغه ذکره شوې خبره د هغوی دواړو د دروغینو آرزوګانو څخه یوه آرزو ده چې د هرې ډلې همدغه مطلب زړه غواړي حال دا چې یوه ډله هم د هغه په ثبوت باندې څه قاطع دلیل نه لري. نو د تخجیل دپاره د هغوی هره یوه ډله مخاطبه کړه او ورته ووایه چې تاسو په همدغه اختصاص باندې خپل دلیل او برهان وړاندې کړئ.

نو که تاسو په خپل قول کښې رښتیني یاست هلئ ژر شئ دغه کار ته اقدام وکړئ ترڅو ورباندې نورو خلکو ته قناعت ورکړی شي، که نه نو تاسو به په خپله-خپله دعوه کښې دروغژنان یاست.

۳_ دغسې نه ده لکه چې اهل الکتاب (یهودان او نصارا) خیال کوي او خپل زړونه خوشالوي بلکې جنت ته د داخلېدلو هر هغه څوک جوګه دي او د ورداخلېدلو لیاقت لري چې:

الف: چا چې خپل ځان خاص الله ﷻ ته تسلیم کړی وي چې د وحدانیت عقیده یې خپله کړې وي او په عبادت کښې ورسره شریک نه دروي.

ب: چا چې شریعت عملي کړی وي او د ټولو پیغمبرانو علیهم‌السلام په حقانیت عقیده لري او بالآخره عبادت ته په هغه شکل سره صورت ورکوي په کوم شکل سره چې د الله ﷻ د پلوه تشریع شوی وي.

۴_ هرڅوک چې په ذکرې شوې طریقې سره ایمان درلودونکی وي نو د هغه دپاره جنت تیار کړی شوی دی. نو:

الف: د دغسې کسانو دپاره د خپل رب ﷻ په نزد اجرونه ټاکلي شوي دي.

ب: په دغو کسانو باندې د خپل رب ﷻ د پلوه هیڅ ډار نشته چې دوزخ ته به یې ورواچوي او نه به دغه کسان غمژن وګرځي چې ای کاش! چې په دنیا کښې مو سمه لاره خپله کړې وی.

۵_ ای پیغمبره! د اهل الکتابو ذکرې شوې دواړه ډلې یوه بلې ته یوازې د جنت څخه په محرومیت سره د پیغور په ورکولو باندې اکتفاء نه کوي بلکې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف. یهودان وایي چې نصارا هیڅ صحیح دین نه لري او په خرافاتو باندې اخته دي، په دغه قول سره هغوی د عیسی ﷺ او هم د انجیل څخه انکاري ګرځي حال دا چې د هغوی په کتاب (تورات) کښې د عیسی ﷺ بشارت هم ورنازل شوی دی کوم چې د هغوی په لاس کښې دی او تلاوت یې کوي.

ب. نصارا (بالعکس) وایي چې د یهودانو دین څه واقعیت نه لري او محض خرافات او خیالات دي، حال دا چې انجیل د تورات متمم دی او هر یو د بل تصدیق کوي چې د تلاوت په وخت کښې هغوی ته پوره څرګندېږي.

۶ـ هسې نه چې یوازې د اهل الکتابو یوه ډله د بلې تکذیب کوي او د ګمراه ډلې لقب ورکوي، بلکې د دوی څخه په غیر نورې ناپوهې ډلې هم یوه په بلې باندې د ضلالت پړه اچوي حال دا چې د دغو نورو ډلو د ادیانو د بنیاد ډېره په باطله اېښودلې شوې ده.

نو لکه څنګه چې د اهل الکتابو یوې ډلې ته هم د خپلې دعوې په اثبات کوم دلیل او برهان نشته، همدارنګه دهغوی پرته نورې ډلې هم په خپلو-خپلو دعوو باندې کوم دلیل او برهان نه لري.

۷ـ د قیامت ورځ ډېره نږدې راروانه ده چې په دغې ورځ کښې به الله ﷻ د ټولو ډلو په هکله په هغو مسائلو کښې حقاني فیصله وکړي په کومو کښې چې هغوی لګیا دي اختلاف ته پکښې ادامه ورکوي.

هلته به څرګنده شي چې حقه ډله کومه یوه ده او د جنت نعمتونه د کومې ډلې دپاره مختص ګرځولی شوي دي، خو په هغه وخت کښې به پښېماني او ندامت هیڅ ګټه ونه لري.

## توضیحات

په دې مقام کښې کېدی شي چې د چا په ذهن کښې لاندې پوښتنې وګرځي:

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَقَالُواْ لَن يَدْخُلَ ٱلْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ﴾ کښې د "قالوا" مستتر ضمیر په وړاندېني [البقرة: ۱۰۹] ایت کښې د "اهل الکتاب" کلمې ته راجع دی، نو په کار ده چې د معنی حاصل یې داسې راوخېژي چې اهل الکتاب وایي چې هیڅکله به جنت ته څوک داخل نه شي مګر هغه څوک چې یا یهودي وي او یا نصراني وي (دغه دواړه ډلې په حقه دي).

نو پوښتنه دا ده چې: دغه ډول معنی د راتلونکي ایت ﴿ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ ﴾ الآیة سره بالکل مناقضه ده چې د هرې یوې ډلې څخه د بلې ډلې د دین بطلان حکایت شوی دی؟

مونږ وایو چې: په ذکر شوي عبارت کښې د "قالوا" مستتر ضمیر "اهل الکتاب" ته راجع دی، خو د "أو" توری پکښې د تقسیم دپاره دی چې دغه توری د همدې معنی دپاره هم استعمالېږي[1]، نو حاصل یې داسې راخېژي چې: یهودان وایي چې هیڅکله به څوک جنت ته داخل نه شي مګر هغه

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۱۹۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


الم(۱) ځوک چې یهودي وي. همدارنگه نصارا وایي چې هیڅکله به څوک جنت ته داخل نه شي مگر هغه ځوک چې نصراني وي.

دغه ډول أسلوب د بدیع په علم کښې د "اللف والنّشر" په نامه سره یادېږي(۱)، چې په راتلونکي [البقرة: ۱۳۵] ایت کښې هم په کار اچولی شوی دی.

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ﴾ کښې د "أَمَانِيُّ" کلمه جمعه ده حال دا چې په ﴿ تِلْكَ ﴾ کښې ذکرې شوې یوې دروغینې خبرې ته اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې کلمې سره د "مِنْ" توری مقدر دی _والله ﷻ أعلم_ یعني: دغه دروغینه خبره د هغوی د دروغینو خبرو د جملې څخه یوه دروغینه خبره ده. د هغوی دروغینې خبرې ډېرې دي. د مثال په توگه:

الف: هغوی وایي چې: مونږ أبناء الله او أحباء الله یاستو، مونږ په گناه نه نیولی کېږو: [المائدة: ۱۸] ایت.

ب: مونږ به هیڅکله اور مسه نه کړي که بالفرض زمونږ کوم یو عاصي دوزخ ته لاړ شي هغه به فقط څو ورځې وي: [البقرة: ۸۰] ایت.

ج: د هغوی په عقیده هغوی ته د أمیانو د مالونو خوراک جائز دی چې وربانډې نه نیولی کېږي: [آل عمران: ۶۵] ایت.

۳_ که څوک وایي چې: په ﴿ قُلْ هَاتُوا بُرْهَـٰنَكُمْ ﴾ کښې د "هَاتُوا" کلمه څه صیغه ده او د "بُرْهَان" کلمه پکښې د څه شي دپاره وضعه شوې ده؟

مونږ وایو چې: د "هَاتُوا" د کلمې په تحلیل کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي(۲)، خو کوم چې غوره تحلیل دی هغه دا دی چې(۳):

اول: دا کلمه په اصل کښې د "هَتْو" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د حاضرولو او رانژدې کولو معنی ورکوي.

دوهم: دا کلمه د "مفاعلې" د باب څخه د بې لامه امر صیغه ده چې په اصل کښې "هَاتِوُوا" _لکه "ضَارِبُوا"_ وه، خو د تخفیفونو د کبله ترې د "هَاتُوا" کلمه جوړه شوې ده.

او د "بُرْهَان" کلمه د هغه قوي دلیل دپاره وضعه شوې ده چې هیڅکله پکښې په ابدي توگه خلاف تحقق نه شي موندلی(۴).

یعني: ای پیغمبره! یهودانو او نصاراوو هرې یوې ډلې ته د هغوی د ذکرې شوې خبرې په رد

(۱) مختصر المعاني علم البدیع ص۴۸۴
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۳۹۸
(۳) القاموس المحیط ج۴ ص۴۷۹؛ روح المعاني ج۱ ص۳۵۲ ... ص۱۵ ...
(۴) مفردات الراغب ص۴۳

Downloaded: bawarletabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



البقرة (۲) کښې ووایه چې تاسو د خپلې خبرې د اثبات دپاره نقلي یا عقلي دلیل حاضر کړئ او رابې وړئ، که تاسو دا کار نه شئ کولی نو یقیناً تاسو دروغژنان یاست

۴_ که څوک وایي چې: مسلماني خو الله ﷻ ته د ټولو اندامونو د تسلیمۍ څخه عبارت ده، نو د څه حکمت په بنیاد په ﴿ بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ ﴾ کښې یوازې د مخ په تسلیمۍ باندې صراحت نازل شو؟

مونږ وایو چې: په هره ژبه کښې ځینې اصطلاحات شهرت لري چې ټولو ته منلي وي او هیڅوک ورباندې اعتراض نه کوي، د همدې جملې څخه د "وَجْه" کلمه هم ده، چې د "ذَات" څخه د کنایې په توګه استعمالیږي، نو د مخ تسلیمي او د "ذَات" تسلیمي یوه معنی ورکوي چې ټولو اندامونو ته شمولیت لري.

په پښتو کښې د ټولو اندامونو تسلیمي د غاړې په ایښودلو سره تعبیریږي چې نه ورباندې څوک اعتراض کوي او نه پکښې چاته شک ورلویږي.

۵_ که څوک وایي چې: کله چې د ﴿ وَجْهَهُۥ ﴾ کلمه ټولو اندامونو او ټول ذات ته شامله شوه نو ښکاره ده چې د ﴿ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ مفهوم هم پکښې شامل شو.

نو پوښتنه دا ده چې: په همدغه مفهوم باندې په صراحت کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: د یوه عبادت یا یوه نېک عمل د قبول دپاره دوه شیان ضرور دي. هغه دا چې:

الف: یو عقیدوي اخلاص دی چې الله ﷻ شرکي او ریائي عبادت نه قبلوي، چې همدغه شرط ته په ذکر شوي عبارت کښې اشاره شوې ده.

ب: بل شی دا دی چې باید عبادت یا نېک عمل په هغه ډول سره اداء کړی شي کوم چې په شریعت کښې ټاکلی شوی وي، که نه نو د راهبانو غیر مقبول عبادت ترې جوړیږي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ»[1] یعني هرڅوک چې عمل وکړي یو داسې عمل چې په هغه باندې زمونږ ارشاد موجودیت ونه لري نو هغه "عند الله" مردود او نامقبول دی.

خلک وایي چې: "هندو ستړی او خدای ناراض".

نو د قبول همدغه شرط ته په ﴿ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ کښې اشاره شوې ده. یعني اُخروي اجرونه د هغه چا دپاره ټاکلي شوي دي چې په ټولو اندامونو باندې یې اسلامي عقیده حاکمه وي او عبادت یې په شرعي چوکاټ کښې صورت نیسي.

۶_ که څوک وایي چې: په ﴿ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ﴾ کښې د "مِثْلَ قَوْلِهِمْ" مفهوم د "كَذَٰلِكَ" په کلماتو سره اداء شوی دی، نو د دغه مفهوم په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۷۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


مونږ وايو چې: دلته تکرار نشته ترڅو اعتراض وارد شي او جوابولو ته يې اړتيا پيښه شي. او دا ځکه چې په ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ کښې په "ذلك" سره د اهل الكتابو د کلام کيفيت ته اشاره ده چې بې ثبوته او برهان نه لري. او په ﴿ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ﴾ سره د هغوی عين کلام ته اشاره ده چې يوازې زمونږ دين حق دی او بس.[1]

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ کلمات د اهل الكتابو څخه په غير نورو ټولو کفري ډلو ته شامل دي[2]. لکه مشرکان او بودايان او نور.

نو حاصل بې داسې راخېژي چې د اهل الكتابو څخه په غير نورې ټولې کفرې ډلې هم هره يوه ډله د هغوی غوندې يوازې خپل دين ته په حقانيت قائله ده او بس.

حال دا چې په همدغې خبره باندې څه برهان نه شي قائمولی او په سوچه اټکل باندې روان دي، لکه څنګه چې هغوی په خپله خبره برهان نه شي قائمولی او په اټکل باندې روان دي او بس.

۷ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ ﴾ الآية کښې د يهودانو او نصاراوو د هرې يوې ډلې خبره حقه ده چې نن ورځ نه د يهودانو دين حق دی او نه د نصاراوو دين حقانيت لري، نو په څه وجه ذکره شوې خبره د هرې يوې ډلې په قبائحو کښې وشمېرله شوه او آفرين ورته ورنه کړی شو؟

مونږ وايو چې: که څه هم ذکره شوې خبره د هرې يوې ډلې حقه ده مګر د لاندې وجو د کبله ورته قباحت سرايت وکړ:

الف: په ذکره شوې خبره کښې د هرې يوې ډلې خپلې ډلې ته د حقانيت اختصاص مطلب وه لکه چې په ﴿ وَقَالُواْ لَن يَدْخُلَ ٱلْجَنَّةَ ﴾ الآية کښې د هغوی څخه همدغه اختصاص راحکايت شوی دی. که بالفرض هرې يوې ډلې ويلي وی چې د بلې ډلې دين داسې باطل دی لکه چې زمونږ دين باطل دی او حقانيت نه لري، نو افرين به ورباندې ويلی شوی وی.

ب: هره يوه ډله د بلې ډلې د مطلق دين څخه انکاري شوه حال دا چې اصلي دين د هرې يوې ډلې حق دی خو د تحريفاتو د کبله باطل ګرځېدلی دی نو که بالفرض د هغوی هرې ډلې بلې ډلې ته د اصل دين په حقانيت اقرار کړی وی او تحريفات يې باطل ګڼلي وی نو د ملامتی پړه به ورباندې نه وی اچولې شوې.

﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا ٱسْمُهُۥ وَسَعَىٰ فِى خَرَابِهَآ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَآ إِلَّا خَآئِفِينَ ۚ لَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا خِزْىٌ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾ وَلِلَّهِ ٱلْمَشْرِقُ وَٱلْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجْهُ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾

(۱) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۳۹۲
(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۱۵۵؛ تفسير القاسمي ج۲ ص۳۲۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَانَهُ ۖ بَل لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ ﴿١١٦﴾
بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿١١٧﴾

[۱۱۴] او د هغه چا څخه بل غټ ظالم څوک دی کوم چې د الله ﷻ جوماتونه د دې څخه منع کوي چې د الله ﷻ نوم پکښې یاد کړی شي؟

او (په دې باندې علاوه) د جوماتونو په تخریب کښې زیار باسي (او کوښښ پکښې کوي) دغه منعه کوونکي کسانو ته مناسبه نه ده چې جوماتونو ته داخل شي مګر په داسې حال کښې چې د مؤمنانو څخه) دارېدونکي وي (نه دا چې جوماتونه په خپله ولکه کښې راولي).

د دغو منعه کوونکو دپاره (د الله ﷻ په نزد) په دنیا کښې شرمندګي ده او په آخرت کښې ورته ډېر لوی عذاب (ټاکلی شوی) دی.

[۱۱۵] او خاص الله ﷻ ته (ملکیت) د مشرق او مغرب دی، نو په هر ځای کښې چې تاسو (ټاکلې قبلې ته) مخونه ورواړوئ نو هملته د الله ﷻ اقدس ذات دی.

یقیناً الله ﷻ (د رحمت د حیثه) ډېر پراخ دی (او ستاسو په ټولو حالاتو باندې) پوه دی (په هر ځای کښې عبادت قبلوي).

[۱۱۶] او (کفار) وایي چې: الله ﷻ ولد نیولی دی. الله ﷻ ته (د ولد نیولو څخه) پاکي ده، بلکې خاص الله ﷻ ته (د ملکیت د حیثه) هغه ټول مخلوقات دي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي.

ټول مخلوقات خاص الله ﷻ ته اطاعت کوونکي (او غاړې ایښودونکي) دي (چې هر شی یې په تسبیحاتو مشغول دی).

[۱۱۷] الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو بدون د سابق قدیم اصل څخه پیدا کوونکی دی (په دغه صفت کښې ټول مخلوقات یو برابر دي).

او کله چې الله ﷻ د یوه کار (د موجودولو) فیصله وکړي نو هغه ته وایي چې: (موجود) شه نو هغه (سمدستي) موجود (او شته) شي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفري ډلو د کفري اقوالو ذکر نازل شوی وه او په دې ایتونو کښې هغوی د افعالو حکایت ته اشاره کېږي چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! یهودان دي او که نصارا دي او یا نورې کفري ډلې دي دوی ټول ډېر غټ غټ ظالمان دي. لکه څنګه چې د دوی اقوال د دوی د غټ ظلم څخه نمایندګي کوي، همدارنګه د دوی افعال او کارونه هم د دوی د ظلم په لویوالي باندې شهادت ورکوي.

نو په همدې ارتباط په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ د هغه چا څخه بل غټ ظالم څوک دی کوم چې د جوماتونو دروازې تړي ترڅو پکښې د الله ﷻ

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورباندې نه کړی شي او عبادت ورته پکښې اداء نه کړی شي.
په دې باندې علاوه کوم چې په دې هڅه کښې دي او کوښښ کوي چې جوماتونه تخریب کړي او
بالکل یې اباديې د منځه یوسي.
حال دا چې د دغو ظالمانو د ظلم سره مناسبه دا وه چې هغوی توان نه درلودی چې جوماتونو ته
ور داخل شوي وی مگر په داسې حال کښې چې د مؤمنانو څخه ډارېدونکي وی.
یا په بل عبارت: مناسبه دا وه چې هغوی د جوماتونو څخه منعه کړی شوي وی نه دا چې هغوی
جوماتونه دخپل حاکمیت لاندې راولي او دعبادت په مخ یې دروازې وتړي (مؤمنان ترې منعه کړي).
۲ـ ای پیغمبره! د ذکرو شوو ظالمانو دپاره د الله ﷻ په نزد په دنیا کښې رسوائي او شرمندگي
ټاکلې شوې ده چې هرومرو به ورسره مخامخ کړی شي، او په آخرت کښې ورته ډېر لوی عذاب
ټیکلی شوی دی چې د هغوی د ظلم سره مطابق دی.
۳ـ که څه هم هغوی زیار وباسي او کوښښ کوي چې د جوماتونو په تړلو سره به د الله ﷻ د ذکر
او عبادت مخه بنده کړي خو په دغه مطلب کښې هغوی کامیابی ته نه شي رسېدلی.
دا ځکه چې ای مؤمنانو! د مشرق او مغرب بلکې د ټولې دنیا واکداري او ملکیت د الله ﷻ
پورې اختصاص لري نو کله چې تاسو د هغوی د پلوه د عبادت په هکله د مشکلاتو سره مخامخ
شوئ نو په ځمکه کښې هجرت وکړئ.
نو تاسو چې په هر ځای کښې یاست او په هر ځای کښې درته د خپل رب ﷻ عبادت اسان وي
هملته د الله ﷻ اقدس ذات ته مخونه ورواړوئ او رضامندي یې ترلاسه کړئ.
یقیناً الله ﷻ د رحمت د حیثه ډېر پراخوونکی دی او د علم د حیثه په هر شي باندې پوه دی نو
تاسو به هیڅکله د خپل پراخه رحمت څخه بې برخې نه کړي.
۴ـ ای پیغمبره! غټ ظالمان (یهودان او نصارا او نور کفار) ځکه د الله ﷻ د جوماتونو دروازې
تړي او د عبادت مخه پکښې نیسي چې هغوی ټول الله ﷻ په صحیحو معناوو کښې نه پېژني.
د همدې کبله هغوی وایي چې الله ﷻ ولد نیولی دی چې یهودان په عُزیر ﷺ باندې د ابن الله
نوم ږدي او نصارا عیسی ﷺ ته همدغه لقب ورکوي او بالآخره مشرکان پرښتو ته د بنات الله په نامه
قائل دي. حال دا چې الله ﷻ د دغسې نواقصو څخه پاک دی او د هغوی اقوال یو هم د واقعیت سره
مطابقت نه شي درلودی. او دا ځکه چې:
الف: څومره مخلوقات چې په ځمکو کښې دي او یا په اسمانونو کښې دي ټول د الله ﷻ ملکیت
دی. ایا مملوک ولد گرځېدلی شي؟.
ب: د پرښتو او عیسی ﷺ او هم د عُزیر ﷺ په شمول ټول مخلوقات د الله ﷻ بندگان او عبادت
کوونکي دي چې په ډېره عاجزۍ ورته عبادت کوي. ایا بنده او مخلوق ولد جوړېدلی شي؟.
ج: ټول مخلوقات په مخلوقیت کښې یو برابر دي ایا یوه مخلوق ته په ولدیت سره ترجیح ورکول
بلا دلیله صحت لري؟.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د الله ﷻ اسمانونه او ځمکې بدون د سابق مثاله پیدا کړي دي. ایا دا خبره حقانیت پیدا کولی شي چې ځینې مخلوقات دې د الله ﷻ اجزاء وي او سابق اصل دې ولري؟.

ه: الله ﷻ هیڅ شي ته اړ او احتیاج نه دی، کله چې د یوه شي د پیدا کولو اراده وکړي نو هغه شي ته فقط همدومره ووایي چې "شه". نو هغه سمدستي موجودېږي. نو ایا الله ﷻ د ولد نیولو ته څه اړتیا لري؟.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ ﴾ الآیة غوښتنه دا ده چې د هغه چا څخه غټ ظالم بل نشته کوم چې په عبادت کوونکو باندې د جوماتونو دروازې تړي، حال دا چې د ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ﴾ [الأنعام: ۲۱] ایت غواړي چې د هغه چا څخه دې بل غټ ظالم نه وي کوم چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي او یا د الله ﷻ د ایتونو تکذیب کوي؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه دواړه ایتونه یو تربله په غوښتنه کښې منافات نه لري؟

مونږ وایو چې[1]:

الف: دغه دواړه ایتونه سره یو تربله منافات نه لري او دا ځکه چې د هر یوه غوښتنه دا ده چې د ده د مدلول څخه دې بل څوک غټ ظالم موجودیت ونه لري، اما د مساوات خبره په سکوت کښې پاتې ده، نو څه لرې نه ده چې د دواړو مدلول کسان سره مساوات ولري.

ب: په عربي کلام کښې د بیان ذکره شوې طریقه محض د جنایت د غټوالي څخه د کنایې په توګه استعمالېږي او مقایسه پکښې مطلب نه وي چې اعتراض وارد شي.

## د "مَنْ" کلمه د کومې ډلې څخه کنایي ده؟

۲ـ په ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ ﴾ کښې د "مَنْ" په کلمه کښې اختلاف دی چې ځینو مفسرینو کرامو دنصارا وو څخه کنایي اخستې ده[2]، او ځینې نور علماء کرام وایي چې دغه کلمه دلته د مشرکانو څخه د کنایې په توګه نازله شوې ده[3].

خو مونږ ته بهتره برېښي چې ذکره شوې کلمه په خپل عموم سره پرېښودله شي ترڅو د قیامت د ورځې پورې تولو کفري ډلو ته شامله شي. او دا ځکه چې یوه کفري ډله هم په جوماتونو باندې صرفه نه کوي چې دروازې یې وتړي او عمارتونه یې تخریب کړي، او نه به وریاندې (د لاس برې په صورت کښې صرفه وکړي). د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: یو ځل نبي کریم ﷺ په المسجد الحرام کښې لمونځ کاوه او په سجده پروت وه چې یوه کافر

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۴۰۵
(۲) تفسیر الطبري ج۱ ص۴۹۹
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۵۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رنګي اوښې پيروان ورووړ او په مبارکه شاباندې يې وروغورځاوه[۱]، ترڅو بل ځل المسجد الحرام ته د لمانځه دپاره تشريف رانه وړي.

ب: لکه چې په [الأنفال: ۳۵] ايت کښې ورته اشاره شوې ده چې کله به نبي کريم ﷺ په حرم شريف کښې په لمانځه وه نو د مشرکانو ځينې کسان به يې چپې خوا او ځينې ښې خوا ته ودرېده او شپېلۍ به يې وهلې او هم به يې لاسونه پړقول او د تخرګونو څخه به يې تېزونه ويستل، تر څو په نبي کريم ﷺ باندې لمونځ ګډوډ کړي.

ج: نبي کريم ﷺ د مشرکانو د لاسه مجبور کړی شو چې د مکې معظمې څخه هجرت وکړي او د المسجد الحرام د لمانځه څخه لاس واخلي.

نو د مکې مشرکانو که څه هم د المسجد الحرام تعمير نه خراب کړی او نه ړنګ کړی وه مګر دعبادت کوونکو څخه يې خالي کول ډېر غټ او لوی معنوي تخريب دی چې هغه يې عملی کړی وه.

د: د روسيانو (او کمونستانو) مشر (مارکس) اصلاً يهودي وه چې يوازې په ترکستان کښې يې څوارلس زره (۱۴۰۰۰) جوماتونه د عبادت کوونکو په مخ وتړل او مسلمانان يې ترې منعه کړه[۲].

ه: الله ﷻ پوهېږي چې کمونستانو (روسيانو) د يهودي "مارکس" شاګردانو به په افغانستان کښې څومره جوماتونه بمبار کړي وي او څومره به يې په سکټ توغونديو ويشتلي وي، خو پنځه پنځوس لکه (۵۵۰۰۰۰) مسلمانان يې د مسلمانۍ د کبله هجرت ته مجبور کړه او وفادار ملګري يې (خلقيان او پرچميان) لا اوس هم لګيا دي د هغوی تګلاره تعقيبوي.

و: څو ورځې مخکښې مو واورېده چې د هندوستان بودايانو قصد کړی دی چې هلته يو جومات ړنګ کړي کوم چې پنځه سوه (۵۰۰) کاله پخوا جوړ شوی دی او د "بابري" جومات په نامه يادېږي.

ز: همدا نن[۳] د تهران راديو نشر کړه چې چينايانو په چين کښې پنځوس (۵۰) جوماتونه وتړل او يو سلو پنځوس (۱۵۰) نور جوماتونه ترميم ته نه پرېږدي په دې بهانه چې اړتيا ورته نشته.

ح: نصاراوو هم زښت ډېر جوماتونه تخريب کړي دي، که څوک د صليبي جنګونو په تاريخ باندې نظر واچوي نو زښت ډېر مثالونه به يې وګوري.

ط: د امريکا نصارا همدا اوس هم لګيا دي په عراق او کويت باندې بې رحمانه بمونه وروي نو الله ﷻ پوهېږي چې څومره جوماتونه به يې تخريب کړي وي او څومره به تخريب کړي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿ مِمَّن مَّنَعَ مَسَـٰجِدَ ٱللَّهِ ﴾ مضمون داسې راخېژي چې: ظالمان جوماتونه د ذکر څخه منعه کوي، نه دا چې ذاکرين پکښې د ذکر څخه منعه کوي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۵۲
(۲) تاريکيهاي سرخ. تاليف احمد حامي ص۷۰
(۳) ۱۳۶۹/۱۱/۹ هـ ش

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد په همدغه مطلب باندې صراحت نازل نه شو؟
مونږ وایو(والله ﷻ اعلم) چې نازل شوی عبارت د منعې په قوت باندې دلالت کوي، نه بلې
چې هغوی په جوماتونو باندې خپل امر چلوي چې ذاکرینو ته د ذکر کولو دپاره خای ورنه کړي
نو که نازل شوی عبارت نه وی نازل شوی دغه اشاره به پټه پاتې وی او د هغوی د زیات کوښښ
او تاند وهلو اندازه به نه وی ښودلې شوې.

## "وَجه الله" څه معنی؟

۴ـ په ﴿ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "وَجْهُ" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۱۱۲] ایت لاندې واضحه کړی شوې ده، چې په دغې کلمې سره د (ذات) څخه تعبیر کېږي.
خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:
الف: د قرآن کریم د اعجاز یوه وجه بې انتهاء بلاغت دی چې د مخاطبینو د مقتضی الحال سره مطابق دی.
ب: د مخاطبینو په هکله نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایي چې: «النَّاسُ مَعَادِنُ»[۱] یعني خلک (په استعدادونو کښې) د معدنونو غوندې دي لکه د زرو معدن او د سپینو زرو معدن، او نور.
د دغه تفاوت مقتضی او غوښتنه دا ده چې باید د هر یو مطلب اداء کول په متعددو طریقو سره امکان ولري.
ج: د طریقو تعدد په حقیقت کښې تحقق نه شي موندلی بلکې دغه کار په کنایي او مجاز کښې ممکن دی[۲]، د همدې کبله په قرآن کریم کښې ځینې مطالب په کنایه او مجاز سره نازل شوي دي.
د: خو په یاد ولرئ چې هره کنایه او هر مجاز تاویل نه دی بلکې تاویل د هغې معنی د اراده کولو څخه عبارت دی کومه چې متبادره نه وي.
نو کومه معنی چې متبادره وي او په محاوراتو کښې استعمالېږي (خلک ورسره عادت وي) د هغې اراده کول تاویل نه دی که څه هم هغه مجازي معنی وي او یا کنایي معنی وي.
د همدې کبله علماء وایي چې د حقیقي غیر متعارفې معنی څخه د مجازي متعارفې معنی اراده کول غوره او بهتر دي[۳].

په همدې اړه به ان شاء الله ﷻ د [الأعراف:۵۴] ایت لاندې څه نور وضاحت هم اضافه کړی شي.
هـ: د ذکرو شوو وضاحتونو په بنیاد عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ویلي دي چې د ﴿ وَجْهُ ٱللَّهِ ﴾ څخه د کنایي په توګه الله ﷻ مطلب دی[۴].

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۰
(۲) مختصر المعاني ج۹ ۳۰
(۳) نور الانوار ص۱۰۸
(۴) تفسیر القرطبي ج۲ ص۸۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس یاسین لخوا سکین شو



(۱)

نو دا تاويلي معنی نه ده بلکې کنايي معنی ده چې د احترام دپاره يې زيادت موندلی دی، لکه په پښتو ژبه کښې په دې عبارت کښې د "حضور" کلمه د احترام دپاره زياته شوې ده او پخپله د بې... څخه کنايي ده چې "د امير صاحب حضور ته عرض کوم".

امير... لنډه دا چې په دغه عبارت کښې هيڅوک نه وايي چې دلته د "حضور" څخه د تاويل په توګه امير صاحب" مراد دی او نه د تاويل خبره د چا په ذهن کښې ګرځي.

ر. هو! که چرته متبادره (څرګنده) معنی خپل تبادر د لاسه ورکړي نو په هغه صورت کښې ورته بيا تاويلي معنی ويلی شو. د مثال په توګه:

نن ورځ چې جهادروان دی هرڅوک په تبادر سره پوهېږي چې په دې عبارت کښې چې (مجاهدينو د افغانستان ټول لوی-لوی ښارونه محاصره کړي دي او لګيا دي په چاپيريال کښې يې پښې ټينګوي) د پښو د ټينګولو څخه د خپلو مورچو قوي کول مطلب دي، او همدا يې تفسيري معنی ده.

خو که بالفرض ـ العياذ بالله ـ د جهاد سره خلک ناآشنا شي او ننی اصطلاح د خلکو څخه هېره شي نو بيا به د ذکرې شوې معنی اراده کول تاويلي معنی وګرځي.

په همدې اړه د دې کتاب په دوهمه سريزه کښې څه زيات وضاحت تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ.

ز: څرنګه چې: د "وَجْه" د کلمې څخه د "ذات" اراده کول په عربي محاوره کښې متبادر او څرګند دي، نو ښکار دي چې ذکره شوې کلمه په همدغې معنی سره تفسيره کړی شي او څه اړتيا نشته چې د ځينو مفسرينو کرامو غوندې په "رضامندی" يا "ثواب" سره معنی کړی شي.

ح: نو د ايت شريف حاصل به داسې راوځېژي چې: ای مؤمنانو! که تاسو ته په يوه وطن کښې د کفارو د لاسه د خپل رب ﷻ عبادت سخت شي چې د جوماتونو دروازې درباندې وتړلی شي، نو تاسو د جهاد په نيت په ځمکه کښې هجرت وکړئ چې شرق او غرب بلکې ټوله دنيا د الله ﷻ ملکيت دی، تاسو چې په هر ځای کښې خپل رب ﷻ ته په عبادت کښې مخونه واړوئ، نو همله ستاسو سره الله ﷻ موجود دی، هيڅ تشويش مه کوئ.

ط: همدغه مضمون په ډېرو نصوصو کښې شتون لري. لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿يَـٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرْضِي وَٰسِعَةٌ فَإِيَّـٰيَ فَٱعْبُدُونِ﴾ [العنکبوت: ۵۶] يعني: ای زما هغو بندګانو کومو چې ايمان راوړی دی! يقيناً زما ځمکه پراخه ده نو تاسو خاص ماته عبادت وکړئ (په هر ځای کښې چې تاسو ته اسان وي).

دوهم: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَـٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُواْ﴾ [المجادلة: ۷] يعني: هيڅ د دريو کسانو د راز مجلس نه جوړېږي مګر الله ﷻ يې څلورم دی او نه د پنځو کسانو د راز مجلس جوړېږي مګر الله ﷻ يې شپږم دی، او نه د دغه (عدد) څخه کم او نه ډېر (د راز مجلس جوړېږي) مګر الله ﷻ ورسره دی په هر ځای کښې چې د راز شورا کوونکی موجوديت ولري.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## هېر مو نه شي!

۵_ هېر مو نه شي چې مونږ د الله ﷻ په توفیق په وړاندېنۍ دوهمه توضیح کښې لیکلي دي چې په ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ ﴾ الآیة کښې ټول کفار مطلب دي چې ټول کفار جوماتونه تخریبوي نو په همدې بنیاد وایو چې په ﴿ وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ﴾ کښې د ﴿ وَقَالُوا ﴾ مستتر ضمیر ټولو کفارو ته راجع دی. خو په ټولو کفارو کښې یهودان او نصارا او هم مشرکان الله ﷻ ته د ولدیت په عقیده باندې شهرت لري چې په ترتیب سره ورته عُزیر ﷺ او عیسی ﷺ او ملائک علیهم السلام اولادونه ګڼي.

نو څه لرې نه ده چې د ولدیت عقیده به ټولو کفارو ته یا د تغلیب په توګه منسوبه شوې وي او یا به نور کفار هم د ذکرې شوې عقیدې درلودونکي وي خو شهرت ته به نه وي رسېدلي.

د الله ﷻ څخه د ولدیت تنزیه ته په نورو ایتونو کښې هم اشارې شوې دي لکه د [الأنعام: ۱۰۰_ ۱۰۲] ایتونه او داسې نور، مګر په دې مقام کښې یې لاندې دلایلو ته اشاره کېږي:

الف: په ﴿ سُبْحَـٰنَهُۥ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې ولدیت د الوهیت سره منافات لري، ځکه چې:

اول: د ولدیت سره فنا لازمه ده، چې په توالد سره د څه وخته پورې بقاء مونده کړي حال دا چې الله ﷻ ازلي او ابدي دی.

دوهم: د ولدیت سره احتیاج لازم دی ترڅو د خپل اصل سره د ضعف او اړتیا په وخت کښې همکاري وکړي حال دا چې الله ﷻ د دغو شیانو څخه پاک او بې پروا دی.

دریم: د ولدیت سره تشابه ملګرې ده حال دا چې د الله ﷻ سره هیڅ شی تشابه نه شي موندلی.

څلورم: د ولدیت دپاره ازدواج ضروري دی حال دا چې الله ﷻ ته په زوجه درلودلو باندې هیڅ کافر قول نه دی کړی (البته څومره چې مونږ ته معلومات دي).

ب: په ﴿ بَل لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې ټول مخلوقات د الله ﷻ ملکیت دی حال دا چې د ولدیت سره ملکیت منافي دی.

ج: په ﴿ كُلٌّ لَّهُۥ قَـٰنِتُونَ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې ټول مخلوقات دالله ﷻ محکومین او اطاعت کوونکي دي حال دا چې هیڅ ولد د خپل اصل دپاره محکوم او مطیع (عبادت کوونکی) نه وي.

د: په ﴿ بَدِيعُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې الله ﷻ ټول مخلوقات بدون د سابق اصل څخه پیدا کړي دي چې نو هم قدیم اصل نه لري.

که بالفرض المحال الله ﷻ ولد درلودلی نو هرومرو ضرور به هغه د قدیم اصل (الله ﷻ) درلودونکی وی، حال دا چې الله ﷻ ټول مخلوقات د نشت څخه پیدا کړي دي.

هـ: په ﴿ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې الله ﷻ ټول مخلوقات بالاختیار پیدا کړي دي.

که بالفرض المحال الله ﷻ ولد درلودلی نوهغه به یې هم په اختیار سره پیدا کړی وی، نه دا چې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ده به بلا اختیاره موجود شوی وی، لکه د اور سره حرارت او د ګلاب سره خوشبویي او د اسې نور.

## سوالونه او جوابونه

په دې مقام کښې کېدی شي چې د چا په ذهن کښې لاندې پوښتنې راپيدا شي:

الف: که څوک وايي چې: په ﴿ بَل لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴾ کښې د "لَهُ" ضمیر د "مَا" کلمې ته راجع دی کومه چې په بې تمیزه شیانو کښې استعمالېږي، حال دا چې د بې تمیزه شیانو صفت په مونثې جمعې سره جمعه کېږي؛ نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې د ﴿ قَٰنِتُونَ ﴾ په عوض "قَانِتَات" نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې: د "مَا" کلمه د بې تمیزه شیانو او د تمیز والا شیانو په مجموعه کښې هم استعمالېږي[1]، چې په دې مقام کښې همدغه استعمال مراد دی.

اما د ﴿ قَٰنِتُونَ ﴾ کلمه د تغلیب په توګه مذکره روغه جمعه نازله کړی شوه، ته به وايي چې جمادات هم د الله ﷻ اطاعت کوي او په اطاعت کښې د غیر جماداتو څخه کم نه دي، نو په نظر سره اطاعت ته تغلیباً ټول د تمیز والا دي.

ب: که څوک وايي چې: په ﴿ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴾ کښې د ﴿ كُن ﴾ په کلمې دغه شی مخاطب ګرځولی کېږي کوم ته چې الله ﷻ اراده وکړي چې موجود يې کړي خو لا موجود کړی يې نه وي، نو ایا په دغه وخت کښې چې لا موجود شوی نه وي د خطاب صلاحیت لري؟

مونږ وایو چې[2]:

اول: امر په دوه ډوله دی، یو تکلیفي امردی. او بل تکویني امر دی.

په تکلیفي امر کښې د مامور موجودیت ضرور دی ترڅو اطاعت وکړي. اما په تکویني امر کښې مامور شی پخپله په امر سره د موجودیت درلودونکی ګرځي.

پوره واضحه ده چې د ﴿ كُن ﴾ کلمه د تکلیفي امر دپاره نه ده وضعه شوې ترڅو اعتراض وارد شي بلکې د تکویني امر دپاره وضعه شوې ده.

دوهم: د هر شي موجودېدل صرف د الله ﷻ په اراده پورې ارتباط لري خو الله ﷻ زمونږ د پوهولو دپاره د خپلې ارادې څخه په ﴿ كُن ﴾ سره تعبیر نازل کړ، که نه نو دا محض د امر صورت او شکل دی (حقیقي امر نه دی چې اعتراض وارد شي).

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا ٱللَّهُ أَوْ تَأْتِينَآ ءَايَةٌ ۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ۘ تَشَٰبَهَتْ قُلُوبُهُمْ ۗ قَدْ بَيَّنَّا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿١١٨﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ

---

[1] البحر المحیط ج۱ ص۵۸۱
[2] تفسیر القرطبي ج۲ ص۹۱؛ التفسیر الکبیر ج۴ ص ۳؛ تفسیر القاسمي ج۲ ص۲۳۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۖ وَلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١١٩﴾ وَلَن تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا
ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡۗ قُلۡ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ
ٱلَّذِي جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٢٠﴾ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ
يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٢١﴾

[۱۱۸] او هغه کسان وايي کوم چې نه پوهېږي (کومو چې کفر غوره کړی دی) چې زمونږ سره (د نبوت په باره کښې) الله ﷻ ولې خبرې نه کوي؟ یا ولې مونږ ته (فرمايشي) معجزه نه راځي (کومه چې مونږ غواړو)؟

همدارنګه د دوی د وینا په مثل وینا هغو کسانو هم کړې وه کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي.

(او دا ځکه چې) د (ټولو) کفارو زړونه (په حسد او عناد کښې) متشابه دي (يو بل ته ورته دي).

یقینًا مونږ خپل څرګند دلایل واضحه نازل کړي دي (د فرمايشي معجزاتو نزول ته څه اړتیا نشته).

(البته) د داسې قوم دپاره چې یقین کوونکي وي (عناد او حسد نه وي نیولې چې همدوی ترې ګټه اوچتوي).

[۱۱۹] (ای پیغمبره!) یقینًا مونږ ته په داسې حال کښې استولی یې، چې ته زېرې ورکوونکی او ډاروونکی یې (او بس د معجزاتو راوړل ستا دنده نه ده).

او ته به د اور د ملګرو (کفارو په هکله) ونه پوښتلی شې (چې هغوی ولې کافران پاتې شوه)؟.

[۱۲۰] او ستا څخه به هیځکله یهودان راضي (خوشاله) نه شي او نه به (درڅخه) نصارا خوشاله شي ترڅو چې ته د هغوی (د تحریف شوي) دین پیروي خپله کړې.

ته ورته ووايه چې د الله ﷻ هدایت (دين) همدا غوره هدایت (او دین) دی (زه د دغه غوره دین څخه بل دین ته اوښتونکی نه یم).

او (ای پیغمبره! که (بالفرض المحال) ته د هغوی د خواهشاتو (تحریف شوي دین) د هغه شي څخه وروسته پیروي وکړې کوم چې تاته درغلی دی چې د واقعي علم څخه عبارت دی نو تاته به د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست (شتون) ولري او نه نصرت کوونکی (چې په شفاعت سره یا په زور سره نجات درکړي).

[۱۲۱] هغه کسان کومو ته چې مونږ کتاب ورکړی دی حال دا چې هغوی یې په خپل حق قرائت سره قرائت کوي (تحریف پکښې نه کوي) همدغه کسان ورباندې ایمان راوړي (او همدوی کامیابان دي).

او هرڅوک چې ورباندې کفر غوره کړي نو دغه کسان همدوی تاوانیان (او زیانکاران) دي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه [۱]

دا ایتونه په نبوت پورې اړوند دي.
دراندېنیو ایتونو په توحید پورې ارتباط درلود او دا ایتونه په نبوت پورې اړوند دي.
۱ـ دراندېنیو د موجودو کفارو (یهودانو او نصاراوو) اقوال د موجوده کفارو (مشرکانو) د اقوالو
۲ـ دراندې تشبیه کړې شوي وه او دلته د دې زمانې د ټولو کفارو اقوال د هغو کفارو سره تشبیه کړې
سره تشبیه کړې شوي دي کوم چې پخوا تېر شوي دي. لکه عادیان او ثمودیان او نور.
۳ـ هلته د کفارو د اقوالو تشابه په دې کښې وه چې براهین یې نه درلوده او دلته په دې کښې
شوې دي چې ټولې کفري ډلې د فرمایشي معجزاتو غوښتونکې دي او غوښتونکې وې.
۴ـ هلته د اهل الکتابو د قبائحو بیان نازل شوی وه او دلته د هغوی د یوې ډلې ذکر ته اشاره
شوې ده چې په ذکرو شوو قبائحو کښې د شمولیت درلودونکې نه ده.
۵ـ هلته د کفري عقائدو د ابطال دلایل نازل شوي وه او دلته نبي کریم ﷺ ته ډاډ او تسلي ورکړه
شوې ده ترڅو د کفارو په کفر باندې باقي پاتې کېدل یې ډېر غمژن ونه ګرځوي.

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د کفارو په ارتباط د تسکین او ډاډینې دپاره څه نور مطالب هم
نازل کړه او د هغو کفري عقائدو ابطال ورته څرګند کړه کوم چې ستا د نبوت پورې اړوند دي.
هغه دا چې:
۱ـ د یهودانو او نصاراوو په شمول ټولې کفري ډلې داسې خبرې کوي کومې چې د هغوی د
ناپوهۍ او بې علمۍ څرګنده نمایندګي کوي چې:
الف: ای محمده! که ته په رښتیا پیغمبر یې، نو زمونږ سره په دې باره کښې ولې الله ﷻ خبرې نه
کوي؟ که مونږ ته وحي وکړه شي او مستقیماً اطلاع راکړه شي چې ته په حقه پیغمبر یې، نو مونږ
به دربانډې باور وکړو او ایمان به دربانډې راوړو.
ب: که دا نه کېږي نو مونږ ته ستا د نبوت د اثبات دپاره هغه معجزه ولې نه راځي، د کومې چې
مونږ تاته فرمایش درکوو، او د کومې چې مونږ غوښتونکي یاستو.
کله چې نه هغه کار کېږي او نه دا کار کېږي نو مونږ به هیڅکله په تابانډې د حقانیت او
صداقت عقیده خپله نه کړو.
۲ـ ای پیغمبره! لکه څنګه چې ستا د زمانې کفار عناد او تکبر نیولي دي همدارنګه د پخوانیو
زمانو کفار هم په عناد او تکبر باندې کلک وه.
نو د دې زمانې د کفارو خبرې او غوښتنې کټ مټ د پخوانیو زمانو د کفارو خبرو او غوښتنو ته
ورته دي، ته به وایې چې هغوی دوی ته وصیت کړی دی چې دغسې خبرې به وایاست او دغسې
کارونه به کوئ.
د دغې تشابه وجه دا ده چې د هغوی او د دوی بلکې د ټولو کفارو زړونه په عناد او تکبر کښې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره تشابه لري او خاصيتونه يې سره يو رنګ دي.

۳ـ اى پيغمبره! مونږ تاته دومره معجزات او خوارق درکړي دي چې ستا د نبوت او صداقت دپاره کفايت کوي او څه اړتيا نشته چې فرمايشي معجزې درکړو.

خو د دغو معجزاتو څخه هغه قوم ګټه اوچتوي کوم چې د ايمان راوړلو اراده لري او غواړي چې په خوارقو سره خپل قناعت حاصل کړي نو هغه قوم ترې ګټه نه شي اوچتولى کوم چې عناد او تکبر نيولي وي او د هيڅ معجزې د اثر لاندې نه واقع کېږي.

۴ـ په دې باندې علاوه د معجزاتو او خوارقو غوښتنه ستا څخه بې ځايه ده. او دا ځکه چې نه مونږ د خوارقو د ښودانې دپاره نه يې استولى او نه دا ستا دنده ده.

بلکې مونږ ته د دې دپاره استولى يې، چې مؤمنانو ته په حقه سره د جنت زيرى ورکړې او کفار په حقه سره د دوزخ د عذابه وډار کړې او د توحيد عقيدې ته يې دعوت کړې.

۵ـ اى پيغمبره! ته د کفارو په تګلاره خپلولو باندې مه غمژن کېږه، په دې هکله تاته هيڅ مسئوليت متوجه نه دى او نه به د قيامت په ورځ ستا څخه د هغوى د کافر پاتې کېدلو پوښتنه وکړى شي. او دا ځکه چې هغوى د خپلو ځانو دپاره اور او دوزخ خوښ کړى دى او په همدې تګلاره کلک دي.

۶ـ اى پيغمبره! که ته بالفرض يهودانو او نصاراوو ته، بلکې نورو کفارو ته، فرمايشي معجزې ورورې او ورځرګندې يې کړې هم، په تاباندې به ايمان رانه وړي او په خپل لوظ به ونه دريږي لکه څنګه چې د صالح ﷺ قوم په خپل لوظ باندې ونه درېده.

لنډه دا چې ستا څخه به نه يهودان راضي شي او نه نصارا او نه نور کفار ترڅو چې ته د هغوى د کفري دين پيروي خپله کړې، د هغوى اصلي هدف فقط همدغه دى چې تا خپل دين ته ورواړوي، نو د معجزاتو فرمايش محض د بهانو په توګه نيسي او بس.

خو ته کفارو ته ووايه او په جدي ډول يې غوښتنه رده کړه چې زه هيڅکله ستاسو دين ته دراوښتونکى نه يم. او دا ځکه چې:

دالله ﷻ هدايت او حقه لاره فقط همدغه ده چې زه ورباندې روان يم او زه ورته په دعوت چلولو باندې مکلف شوى يم او بس.

۷ـ اى پيغمبره! که بالفرض المحال ته د کفارو د دين او د هغوى د خواهشاتو پيروي خپله کړې البته د هغه علم او حقاني پوهې څخه ورروسته چې تاته د الله ﷻ د پلوه درغلې ده، نو په دې صورت کښې به ته د الله ﷻ څخه په غير د خپل ځان دپاره نه دوست مونده کړې او نه نصرت کوونکى، چې په شفاعت يا په قوت سره تاته د عذاب څخه نجات درکړي.

۸ـ اى پيغمبره! په خپل امت باندې دا خبره هم قرائت کړه چې په هغو کسانو کښې کومو ته چې مونږ کتاب (تورات، انجيل) ورکړى دى په حقه لاره باندې يوه روانه ډله هم شته نو تاسو هغوى ټولو ته په کرکه مه ګورئ.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


...ته ولېږل کتاب په حقه توګه تلاوت کوي او تحريف پکښې نه کوي، د همدې ډلې دوی آخر زمان پيغمبر پېژني او د حقانيت او صداقت عقيده ورباندې خپلوي او نصرت ورسره کوي.
او هغه کسان چې د دغې ډلې څخه مغاير دي او په آخر الزمان پيغمبر ﷺ باندې کفر غوره کوي او خپل کتاب په تحريف باندې اخته دي نو همدغه کسان همدوی تاوانيان او خساره مندان دي، چې دنيا او آخرت يې دواړه خراب کړه.

## توضيحات

۱_ په ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ الآية کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف. که څه هم په مخکې ذکر شوي عبارت کښې ځينو علماوو کرامو د ﴿ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ کلمات د يهودانو څخه[۱] او ځينو د نصاراوو څخه[۲] او بالآخره ځينو د مشرکانو څخه[۳] کنايي اخستي دي، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا کلمات د ټولو کفارو څخه کنايي وګڼل شي[۴]. په دې تقدير به د ټولو څخه په ﴿ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ سره د تغليب په توګه صورت نيولی وي، که نه نو په قرآن کريم کښې د يهودانو او نصاراوو څخه اکثراً په "أَهْلَ الْكِتَابِ" يا "الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ" سره تعبير صورت نيسي. نو لکه څنګه چې وړاندې په [البقرة: ۱۱۴، ۱۱۶] ايتونو کښې ټول کفار مطلب وه دلته به هم ټول کفار مطلب شي.

ب. الله ﷻ د مشرکانو فرمايښي غوښتنو ته په [الإسراء: ۹۰_ ۹۳] ايتونو کښې او د يهودانو فرمايښي غوښتنو ته په [النساء: ۲۵۴] ايت کښې او د نصاراوو فرمايښي غوښتنو ته په [المائدة: ۱۱۲] کښې اشارې کړې دي، مګر څه لرې نه ده چې نورو کفارو به هم دغسې غوښتنې کړې وي خو مونږ ته به نه وي راحکايتې شوې.

په دې باندې علاوه، مونږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة: ۷۳] ايت لاندې ليکلي دي چې کله-کله د ځينو کسانو کار ټول قوم ته نسبت کول کېږي.

نو دلته به د ځينو کفارو فرمايښي غوښتنې په همدغه اساس ټولو کفارو ته نسبت کړې شوې وي ـ والله ﷻ أعلم.

ج. په ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ کښې په "ذَٰلِكَ" سره د دې زمانې د کفارو د فرمايښي غوښتنو کيفيت ته اشاره ده چې د قلبي عناد او تکبر څخه يې منشا نيولې ده. او په ﴿ قَوۡلِهِمۡ ﴾ کښې د دې زمانې د کفارو فرمايښي غوښتنو ته اشاره ده. هغه دا چې:

---

(۱) تفسير القاسمي ج۲ ص۲۳۹؛ تفسير البغوي ج۱ ص۱۰۹
(۲) زاد المسير ج۱ ص۱۲۰؛ تفسير الطبري ج۱ ص۵۱۳
(۳) تفسير القرطبي ج۲ ص۹۱
(۴) المحرر الوجيز ج۱ ص۳۴۱؛ الدر المنثور ج۱ ص۲۷۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای محمده! که ته په رښتیا پیغمبر یې، نو زمونږ سره په دې هکله ولې الله ﷻ خبرې نه کوي چې تا راته معرفي کړي؟. او یا ولې مونږ ته خپلې فرمایښې معجزې نه راځي (نه راکولی کېږي)؟.

زمونږ ایمان راوړل به په هغه وخت کښې صورت ونیسي چې د دغو دوارو کارونو څخه یو کار یا دواړه کارونه متحقق شي.

د: د پخوانیو کفارو فرمایښي غوښتنې د دې زمانې د کفارو فرمایښي غوښتنو ته ورته دي، د مثال په توګه:

اول: ثمودیانو د خپل پیغمبر (صالح ﷺ) څخه خاصه معجزه غوښتې وه، چې په [الشعراء: ۱۵۴ _ ۱۵۸] ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

دوهم: پخوانیو یهودانو د موسی ﷺ څخه همدغسې د خاصې معجزې غوښتنه کړې وه، چې په [البقرة:۵۵] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ه: په دې مقام کښې الله ﷻ د دې زمانې د کفارو فرمایښي معجزې فقط راحکایت کړې دي او د پخوانیو کفارو د غوښتنو سره یې تشبیه کړې دي، ترڅو نبي کریم ﷺ ته تسلي او ډاډ ورکړي چې دغسې غوښتنې د ټولو پیغمبرانو څخه شوې دي.

اما د دغو غوښتنو رد ته په نورو ایتونو کښې اشاره شوې ده، لکه په [الأنعام:۷_۱۰] او [الأنعام:۱۰۹_۱۱۰] ایتونو کښې، او داسې په نورو کښې.

و: په ﴿ تَشَٰبَهَتۡ قُلُوبُهُمۡ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې د وړاندېنیو او وروستنیو کفارو اقوال او غوښتنې ځکه متشابهې دي چې د ټولو معتقدات متشابه دي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ أَتَوَاصَوۡاْ بِهِۦۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ﴾ [الذاريات: ۵۳] یعني: ایا کفارو د مرګ په وخت کښې یو تربله وصیت کړی دی؟ بلکې دوی ټول سرکشان دي (په سرکشۍ کښې سره متشابه دي).

په دې باندې علاوه د تشابه بله وجه یې دا ده چې د ټولو کفارو استاذ یو دی چې د ابلیس علیه اللعنة څخه عبارت دی.

دغه ملعون د خپل ملعونیت په وخت کښې اوه ګوني شبهات مطرح کړه چې د قیامت د ورځې پورې ټول شبهات په دغو اوه ګونو شبهاتو کښې شمولیت لري او ترې وتلي نه دي.

ز: د ابلیس اوه ګوني اعتراضات او شبهات د "الْمِلَل والنّحَل" خپنو کتابونو په تفصیل سره لیکلي دي[۱]، که څوک یې د لوستلو شوق لري او د څه علمي پانګې درلودونکی هم وي نو هغه دې مراجعه وکړي. مونږ دلته ځکه رانقل نه کړه چې د هغو جوابول خپنو مقدماتي علومو ته ضرورت لري کوم چې عوام یې درلودونکي نه دي، او بدون د جوابه اعتراضات او شبهات عوامو ته په ضرر تمامېږي او په تشویش کښې یې غورځوي.

---

(۱) کتاب الملل والنحل للشهرستاني ج۱ ص ۲۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس ابا سین لخوا سکین شو


مونږ غواړو او د الله ﷻ څخه امید لرو چې په دې کتاب سره زمونږ د اولاد په شمول ټولو ځوانانو ته د عقیدې او عمل په اصلاح کښې ګټه ورسوو ترڅو ورباندې د دنیا او آخرت دواړو سعادت ترلاسه کړي، نه دا چې تشویش ورته ورواچوو.

ح: د ټولو کفارو د استاذ (ابلیس) د خولې څخه الله ﷻ دا کلمات راحکایت کړي دي چې: ﴿ أَنَاْ خَيْرٌ مِّنْهُ ﴾ [الأعراف: ۱۲] یعني: زه آدم ﷺ ته سجده نه کوم ځکه چې زه د هغه څخه بهتر یم.

د نوموړي همدغه خبره ټولو کفارو په نظر کښې نیولې ده او په هره زمانه کښې خپل خانونه د مؤمنانو څخه غوره او بهتر ګڼي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: الله ﷻ د فرعون د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ أَمْ أَنَاْ خَيْرٌ مِّنْ هَـٰذَا ٱلَّذِى هُوَ مَهِينٌ ﴾ [الزخرف: ۵۲] یعني: فرعون موسی ﷺ ته اشاره وکړه او ویې ویلې چې ایا زه ددغه هغه سړي څخه بهتر یم چې سپک دی (چې نه حکومت لري او نه یې په لاسونو کښې د سرو زرو بنګړي شته)؟.

دوهم: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ قَالُوٓاْ أَنُؤْمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلْأَرْذَلُونَ ﴾ [الشعراء: ۱۱۱] یعني: د نوح ﷺ قوم خپل پیغمبر مخاطب وګرځاوه او ورته یې وویلې چې: ایا مونږ تا ته د رښتیني پیغمبر عقیده وکړو حال دا چې ستا پیروي حقیران او سپک خلک کوي؟ (او مونږ خو معزز او درانه خلک یاستو).

دریم: د مکې مشرکانو هم د نبي کریم ﷺ څخه غوښتي وه چې: "اطْرُدْ هَؤُلَاءِ"[1] یعني: دغه فقیران مؤمنان د خپل مجلسه وشړه نو بیا به مونږ ستا سره ناسته ولاړه وکړو که نه نو د دغو سره په مجلس کښې په اشتراک باندې مونږ شرمیږو، نو الله ﷻ ایت نازل کړ چې: ﴿ وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِىِّ ﴾ [الأنعام: ۵۲] یعني: ای پیغمبره! ته د مشرکانو په غوښتنې سره هغه کسان د خپل مجلس څخه مه شړه کوم چې سبا او بیګاه خپل رب ﷻ بلي او عبادت یې کوي.

څلورم: نن ورځ[2] هم کفري دولتونه مؤمنانو (مجاهدینو) ته په حقارت سره ګوري او د ذلیلانو لقب ورکوي. د همدې کبله ټول کفار په اتفاق سره وایي چې په افغانستان کښې د کمونستانو او غرب مشربه مسلمانانو څخه په غیر یوازې مجاهدین (مؤمنان) د حکومت د جوړولو جوګه نه دي او لیاقت یې نه لري باید د هغوی سره مختلط حکومت جوړ کړي.

## دلته نبي کریم ﷺ مخاطب دی

۲ـ که څه هم په ﴿ وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَـٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ﴾ کښې په ﴿ تَرْضَىٰ ﴾ سره نبي کریم ﷺ مخاطب دي مګر مطلب پکښې د قیامت تر ورځې پورې ټول مؤمنان دي ترڅو دوی پوه شي چې:

الف: ټول کفار او په تېره بیا یهود او نصارا به د دوی څخه ترهغه راضي او خوشاله نه شي ترڅو

---

[1] صحیح مسلم ج۲ ص۲۸۱
[2] ۱۳۶۹/۱۱/۱۵ هـ ش

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د هغوی سره په خپل دین (اسلام) باندې سودابازي وکړي او د خپل دین د څه برخو څخه د مداهنت په توګه ورتېر شي او بالآخره ترڅو چې ارتداد خپل کړي او د هغوی دین ته ورواوړي.

ب: په دې باندې علاوه مؤمنانو ته په کار دي چې په حکومتي سیاسي قوانینو کښې هم د کفارو قوانین مخلوط او ګډوډ نه کړي. دا ځکه چې حکومتي سیاسي قوانین هم دین دی، د همدې کبله الله ﷻ د مصر پخوانی حکومتي قانون په دین سره تعبیر کړی دی چې: ﴿ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ ٱلْمَلِكِ ﴾ [یوسف: ۷۶] یعني: یوسف ﷺ نه وه چې خپل ورور د مصر د پاچا د قانون په بنیاد ونیسي. حال دا چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ ﴾ [الزمر: ۳] یعني: اګاه اوسئ چې الله ﷻ ته (مقبول دین) سوچه (غیر مخلوط) دین دی او بس.

## "مِلَّة" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ﴾ کښې د "مِلَّة" کلمه د هغو احکامو د مجموعې څخه عبارت ده کومه چې الله ﷻ د پیغمبرانو علیهم السلام په سلسله خمکې ته رالېږلې ده ترڅو په همدغې مجموعې سره د دواړو دنیاوو سعادت حاصل کړی شي[۱].

همدغه مجموعه د "دِيْن" په کلمې سره هم یادېږي چې د "مِلَّة" د کلمې سره یې صرف په استعمال کښې فرق دی. هغه دا چې د "دِيْن" کلمه الله ﷻ ته هم مضافه کېدلی شي. لکه چې اشخاصو ته هم اضافت مومي او ویلی شي چې: "دِيْنُ اللهِ ﷻ" او "دِيْنُ زَيْدٍ".

اما د "مِلَّة" کلمه صرف هغه پیغمبر ته اضافت کېږي په کوم باندې چې نازل شوی وي. لکه "مِلَّةُ إِبْرَاهِيمَ" او "مِلَّةُ مُحَمَّدٍ" او داسې نور. خو "ملة اللهِ ﷻ" او "ملة زَيْدٍ" نه استعمالېږي.

خو دلته په ﴿ مِلَّتَهُمْ ﴾ کښې د "مِلَّة" د کلمې څخه د اهل الکتابو د تحریف شوو قوانینو مجموعه مراده ده. د همدې مقام ښه وضاحت ـ ان شاء الله ﷻ ـ د [المائدة:۴۸] ایت لاندې راروان دی.

## د دې ایت ارشاد

۴ـ په دغه ایت کښې الله ﷻ د قیامت تر ورځې پورې ټولو مؤمنانو ته ارشاد نازل کړی دی چې د کفارو په خبرو او لاپو شاپو باندې ونه غولېږې چې مونږ ستاسو څخه راضي او خوشال یاستو، مونږ ستاسو وطن ته ستاسو د خدمت دپاره راغلي یاستو.

هغوی په حقیقت کښې خپلو شومو اغراضو ته د پردې تر شا وده ورکوي چې په ښکاره سرکونه جوړوي، د ښوونځیو ودانۍ، ابادوي، زده کوونکو ته په خپله خوښه او د خپل نظر مطابق درسي کتابونه چاپوي او داسې نور کارونه سرته رسوي، خو دغه کارونه د هغوی فرعي مطالب دي چې د حیلې کار ترې اخلي، د هغوی اصلي مطلب د اسلام له منځه وړل دي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۹۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثًا ﴾ [النساء: ۸۷] یعني: او د الله ﷻ څخه د خبرې د حیثه څوک ډېر رښتیني دی؟.
نو هرڅوک چې د کفارو په خبرو باور کوي داسې بربښي چې هغه ته د الله ﷻ څخه کفار ډېر رښتیني ښکاري ـ العیاذ بالله.

## هېر مو نه شي!

۵ـ په کار دي چې په ﴿ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾ الآیة- کښې لاندې مطالب هېر نه کړی شي:
الف: مؤمنانو ته په کار دي چې ټولو اهل الکتابو ته په سپک او بد نظر ونه ګوري او دا څکه چې په دوی کښې نیکان خلک هم شته کوم چې خپل کتاب (تورات) په حقه توګه قرائت کوي او تحریف پکښې نه اجراء کوي. لکه عبد الله بن سلام او نور. د همدې کبله په قرآن کریم باندې هم ایمان راوړي لکه څنګه یې چې په تورات باندې ایمان راوړی دی.
ب: همدغه ډله د دې ورتیا لري چې د "أهل الکتاب" لقب ورکړی شي څکه چې د خپل کتاب حق یې ښه پوره اداء کړی دی.
ج: په دې ایت کښې نبي کریم ﷺ ته ډاډ او تسلي ورکړه شوې ده چې ستا دعوت بې نتیجې نه دی پاتې شوی چې که په ډېرو أهل الکتابو باندې یې اثر نه دی غورځولی په یوه ډله باندې یې خو ښه پوره اثر اچولی دی چې په ایمان باندې مشرف ګرځېدلي دي، نو ته په همدغې ډلې باندې سترګې یخې کړه.
د: په دې ایت کښې د معاندینو هغه خبره رد شوې ده چې وایي که قرآن حق وی نو أهل الکتاب به ورباندې ایمان راوړي څکه چې دوی أهل العلم (د علم خاوندان) دي.
د رد کېدلو وجه یې دا ده چې د اهل الکتابو مخلصو اشخاصو ورباندې ایمان راوړی دی چې خپل کتاب په حقیقي معناوو کښې قرائت کوي او تحریف ته پکښې ځای نه ورکوي. نو د دوی هغه کسان په ایمان نه مشرفېږي کوم چې عناد نیولي دي او د خپل کتاب په تحریف باندې اخته دي.
هـ: د همدې ایت مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ»[۱]
یعني: زما دې په هغه اقدس ذات باندې سوګند وي چې د محمد ﷺ ځان یې په لاس کښې دی چې (نن ورځ به) د دغه امت (اهل الکتابو او نورو کفارو) څخه هیڅوک زما په مبعوثیت سره اورېدل ونه کړي (خبر نه شي) نه یهودي او نه نصراني (او نه بل کافر) او بیا په داسې حال کښې مړ شي چې په هغه شي باندې ایمان رانه وړي په کوم باندې چې زه رالېږلی شوی یم مګر هغه به د اور (دوزخ) د ملګرو څخه وي.

[۱] صحیح مسلم ج۱ ص۸۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢٢﴾ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿١٢٣﴾ ﴾

[۱۲۲] ای د یعقوب ﷺ اولادې! تاسو زما هغه نعمت درپه یاد کړئ کوم چې ما په تاسو (او ستاسو په پلرونو) باندې پېرزو کړی وه.

او (بل دا نعمت هم درپه یاد کړئ) چې یقینًا ما تاسو ته (د خپلې زمانې) په ټولو عالمونو باندې فضلیت (بهتري) درکړې وه.

[۱۲۳] او تاسو (په ایمان سره) د داسې ورځې (د عذابه د خپلو ځانونو) ساتنه وکړئ، چې په هغې کښې هیڅ نفس د بل نفس څخه څه شی په غاړه نه شي اخستی، او نه ترې فدیه قبلېږي او نه ورته (د الله ﷻ د اجازې پرته) شفاعت څه ګټه رسولی شي، او (بالآخره) نه به دوی وي چې (د کومه پلوه) ورسره نصرت وکړی شي.

## ارتباط او توضیحات

۱ـ په وړاندېنی متصل ایت کښې د بني اسرائیلو (اهل الکتابو) د هغې ډلې ذکر نازل شوی وه کومه چې خپل کتاب (تورات) په حقه توګه قرائت کوي او په نتیجه کښې په ایمان باندې مشرفه ګرځي. په دې ایتونو کښې هغوی ټول همدغه چال چلند ته دعوت کړی شوي دي چې تاسو ټول د الله ﷻ نعمتونه درپه زړه کړئ او په شکریه کښې یې د همدغې ذکرې شوې ډلې تګلاره خپله کړئ ترڅو په ایمان مشرف جوړ شئ.

۲ـ دغو دواړو ایتونو ته ورته دوه ایتونه [البقرة:۴۷، ۴۸] په ډېر لږ تغیر سره وړاندې تېر شوي دي، نو هیله ده چې د هغو دواړو ایتونو توضیحات په دې دواړو ایتونو کښې په نظر کښې ونیولی شي چې مونږ یې په بیا تکراولو سره کتاب نه شو اوږدولی.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د ذکرو شوو ایتونو په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: په دغو دواړو ایتونو کښې په دقیق نظر سره تکرار نشته، بلکې اعتباري تغایر لري هغه دا چې هلته دواړه ایتونه د مدعی په اعتبار نازل شوي وه او دلته د ډېرو دلایلو څخه وروسته د نتیجې په اعتبار سره نازل شوه.

منطقیان وایي چې مدعی او نتیجه فقط اعتباري فرق لري، چې د یوه مطلب د استدلال څخه وړاندې د "مدعی" په نامه او د استدلال څخه وروسته همدغه مطلب د نتیجې په نامه یادېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثال ولولئ.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مدعی - اَلْعَالَمُ حَادِثٌ. یعنې: ټول عالم حادث دی.

دلیل - لِاَنَّهُ مُتَغَیِّرٌ وَکُلُّ مُتَغَیِّرٍ حَادِثٌ. یعنې: ځکه چې ټول عالم متغیر دی او هر متغیر حادث دی.

نتیجه - فَالْعَالَمُ حَادِثٌ. یعنې: نو ټول عالم حادث دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: ایا په اعتباري تغایر سره د تکرار مخه نیوله کېږي؟

مونږ وایو چې: دغه تغایر په شریعت کښې مقبول دی او د حکم په تغیر باندې اثر غورځوي. د ښه وضاحت دپاره د یوه حدیث لاندې مضمون ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ نه فرضي خیراتونه خواړه لکه زکات او عُشر. او نه استحبابي خیراتونه لکه نفلي ورکړې شوي مالونه او خوراکونه. بلکې یوازې سوغات یې اخست او هم یې سوغاتي خوراکونه خواړه.

ب: یوه ورځې د نبي کریم ﷺ حضور ته څه پخه غوښه وړاندې کړې شوه ترڅو ترې استفاده وکړي، خو په عین حال کښې ورته وویلی شوه چې: ای د الله رسوله! دا خیراتي غوښه ده چې بریرې رضی الله عنها ته ورکړه شوې ده (او ته خو خیرات نه خورې).

نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَهُوَ لَنَا هَدِيَّةٌ»[1] یعنې: دا غوښه په بریرې رضی الله عنها باندې خیرات ده خو همدا غوښه زمونږ دپاره (د بریرې رضی الله عنها د پلوه) سوغات ده (او د سوغات څخه خو زه استفاده کوم).

## هېر مو نه شي!

۵_ هېر مو نه شي! چې د قرآن کریم ځینې قیصې بیا-بیا ذکرې شوې دي خو په دغو ټولو کښې تکرار نشته بلکې په اعتباراتو سره یوه د بلې څخه جدا او بېله ده.

دغه اعتبارات د مقامونو په لحاظ فرق لري نو که مونږ ته بېل بېل اعتبار ځرګند نه شي نو هغه به زمونږ علمي قصور وي او بس.

د مقامونو په مقتضی په یوه ځای کښې یو ډول عبارت نازل شوی دی او په بل ځای کښې بل ډول عبارت نزول موندلی دی.

یوه قیصه په یوه مقام کښې لنډه نازله شوې ده او په بل مقام کښې یې په ښه تفصیل سره نزول موندلی دی حتی چې په ځینو مقامونو کښې ورته محض اشاره شوې ده. د ښه وضاحت دپاره په ذکرو شوو دواړو ایتونو کښې د ځینو کلماتو د تقدیم او تاخیر اعتبارونه ولولئ، هغه دا:

الف: هلته اول د شفاعت عدم مقبولیت ته اشاره شوې ده او بیا د فدیې عدم اخذ ذکر شوی دی چې ﴿وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَٰعَةٌ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ﴾ نازل شوی دی. دا ځکه چې د جنایتکار د نجات

[1] صحیح البخاري ج۱ ص۲۰۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره اول شفاعت صورت نیسي خو چې کله شفاعت قبول نه شي نو فدیه ورکوله کېږي.
ب. دلته بالعکس لومړی د فدیې د عدم أخذ (نه اخستلو) او بیا د شفاعت عدم قبول ذکر نازل شوی دی چې: ﴿ وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٌ ﴾ نزول موندلی دی. او دا ځکه چې هلته په راتلونکو متصلو ایتونو کښې د پیغمبرانو ذکر نه وه او دلته شته دی لکه ابراهیم ﷺ، یعقوب ﷺ او اسحاق ﷺ. نو په ذکر شوي ترتیب سره د شفاعت عدم مقبولیت د هغو کسانو سره اتصال مومي د کومو شفاعت ته چې بني اسرائیل په تمه وه.

ته به وایې چې هغوی په غوږ باندې وهلي شوي دي چې د دغو پیغمبرانو شفاعت هم د الله ﷻ د اجازې څخه پرته په ګټه نه تمامېږي او نه دوی بدون د اجازې شفاعت کولو ته اقدام کوي او بالآخره نه د دوی شفاعت د ظالمانو په هکله د قبول درجې ته پورته کېږي لکه چې په راتلونکي متصل ایت کښېورباندې صراحت نازل شوی دی.

﴿ وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ۖ قَالَ إِنِّى جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ۖ قَالَ وَمِن
ذُرِّيَّتِى ۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٢٤﴾ وَإِذْ جَعَلْنَا ٱلْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا
وَٱتَّخِذُوا۟ مِن مَّقَامِ إِبْرَٰهِـۧمَ مُصَلًّى ۖ وَعَهِدْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِىَ
لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْعَٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿١٢٥﴾ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا
ءَامِنًا وَٱرْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنْ ءَامَنَ مِنْهُم بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ قَالَ وَمَن كَفَرَ
فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾ وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ
ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا
وَٱجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ
ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَٱبْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ
ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾ ﴾

[۱۲۴] او هغه وخت (یاد کړه) چې کله ابراهیم ﷺ لره خپل رب ﷻ په څو کلماتو (ارشاداتو) سره امتحان کړ نو ابراهیم ﷺ دا (ارشادات) پوره کړه (او په امتحان کښې کامیاب شو).
(ابراهیم ﷺ ته) خپل رب ﷻ وویلې چې: (ای ابراهیمه!) یقینًا زه د خلکو دپاره تا امام ګرځوونکی (جوړوونکی) یم.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابراهیم ﷺ وویلې چې: (ای ربه!) ته زما د اولادې څخه (هم د ځینو کسانو امام جوړوونکی) شه.
د ابراهیم ﷺ رب ﷻ وویلې چې: (دا کار به وکړم خو) زما وعده ظالمانو ته نه رسېږي (د ظالمانو پکښې برخه نشته).

[۱۲۵] او هغه وخت (هم یاد کړه) چې مونږ بیت الله (حرم شریف) د خلکو دپاره د بیا بیا ورتلو ځای او هم د امن ځای وګرځاوه.

او (ومو ویلې چې) تاسو د ابراهیم ﷺ د مقام څخه د لمانځه ځای ونیسئ (د هغه په شاوخوا کښې لمونځ وکړئ).

او (هغه وخت هم یاد کړه چې) ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ ته مونږ کلکه توصیه وکړه چې تاسو دواړه زما کوټه پاکه وساتئ (البته) د طواف کوونکو او هلته د کیناستونکو او هم د رکوع کوونکو (او) سجده کوونکو (لمونځ کوونکو) دپاره.

[۱۲۶] او هغه وخت (هم یاد کړه) چې ابراهیم ﷺ وویلې چې ای زما ربه! دا (بیدیا ځمکه) امن درلودونکی ښار وګرځوه، او اهل (اوسېدونکو) ته یې د میوجاتو څخه (ښې پرېمانه) ور روزي کړه.
(البته) د دوی څخه د هغو اوسېدونکو دپاره کومو چې په الله ﷻ او په وروستنی ورځ (د قیامت په ورځ) ایمان راوړی وي.

د ابراهیم ﷺ رب ﷻ وویلې چې: (دا کار به وکړم) او هر چا چې کفر غوره کړی وي نو هغه ته به هم لږ وخت ناچیزه متاع ورکړم، بیا به یې د اور عذاب ته ورمجبور کړم او اور د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی.

[۱۲۷] او هغه وخت (هم یاد کړه) چې د بیت الله (کعبې شریفې) څخه ابراهیم ﷺ او (هم) اسماعیل ﷺ (په ګډه سره) بنیادونه اوچتول (لوړول).
دوی دواړو وویلې چې: ای زمونږ ربه! زمونږ څخه (دا کوټه جوړول) قبول کړې. یقیناً ته همدا ته اورېدونکی (او) پوه یې.

[۱۲۸] ای زمونږ ربه! مونږ دواړه تاته غاړه ایښودونکي وګرځوه (چې غاړې ایښودلو ته ادامه ورکړو).

او زمونږ دواړو د اولادونو څخه هم یوه ډله تا ته غاړه ایښودونکي وګرځوه (چې زمونږ خط السیر تعقیب کړي).

او (ای زمونږ ربه!) مونږ ته خپل د حج مواقف (او عبادتونه) راولیده کړې او په مونږ باندې په رحمت سره رجوع وکړې. یقیناً ته همدا ته ډېر توبه قبلوونکی (او) ډېر مهربان یې.

[۱۲۹] ای زمونږ ربه! ته زمونږ په اولاده کښې د همدوی څخه داسې پیغمبر مبعوث کړې چې په همدوی باندې ستا ایتونه قرائت کوي او د کتاب او احادیثو ښودانه ورته کوي او (هم) یې تزکیه کوي. یقیناً ته همدا ته د کلکې ارادې درلودونکی (او) د حکمت ښتن یې.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# ارتباط

۱_ که څوک وايي چې: د [البقرة: ۴۰] ایت څخه راپه دې خوا آن د ذکر شوي ایت پورې پنځه اتیا (۸۵) ایتونه د بني اسرائیلو په هکله نازل شوي دي، نو پوښتنه دا ده چې په څه مناسبت سره په دې مقام کښې ناڅاپه د کلام مخ د هغوی څخه د ابراهیم ﷺ د حالاتو بیان ته وارولی شو؟

مونږ وایو چې: د دې څخه وړاندې چې مونږ ذکر شوی اعتراض جواب کړو، غواړو چې د یوې لنډې مقدمې په توګه څه معلومات وړاندې کړو. هغه دا چې:

۲_ ځینې علماء کرام وايي[۱] چې د قرآن کریم د ایتونو ترمنځ د ارتباطاتو او مناسباتو لټول بالکل عبثه خبره ده په کار دي چې هیڅوک ورپسې هڅه ونه کړي. او دا څکه چې:

الف: قرآن کریم په تقریر سره نازل شوی دی، (نه په کتابت سره) چې په درویشتو (۲۳) کلونو کښې یې تکمیل موندلی دی، نو څه اړتیا نشته چې د ایتونو د ارتباطاتو دپاره یې په تکلف سره وجوه وتراشو.

ب: د قرآن کریم اکثره ایتونه د حوادثو په سبب نازل شوي دي نو لکه څنګه چې د حوادثو په منځکښې تناسب موجودیت نه لري، نو د ایتونو ترمنځ به د کومه شي.

ج: یا په بل عبارت د یوه خطیب خطبات د مخاطبینو په لحاظ او د مقام په لحاظ او همدارنګه د زمانې په لحاظ فرق کوي او داسې نور. نو که د یو خطیب د درویشتو (۲۳) کلونو خطبات راغونډ کړی شي هیڅوک د خطباتو ترمنځ تناسبات نه لټوي او نه ورباندې څوک اعتراض کوي چې دا خطبه د بلې څخه ولې بې ارتباطه ده؟.

د: د قرآن کریم نزولي ترتیب د موجوده عثماني ترتیب څخه مغایر دی او په دغه ترتیب کښې د نبي کریم ﷺ څخه د مناسباتو احادیث نه دي روایت شوي.

نو که څوک په ایتونو کښې مناسبات لټوي هغه به صرف په عقل باندې اتکاء کوي او پورته څرګنده ده چې دغسې لټونه د فلاسفه وو لټون ته ورته ده. په کار دي چې په قرآن کریم کښې په کار وانه چوله شي.

۳_ اکثره علماء کرام وايي چې د قرآن کریم ایتونه سره یو تربله پوره تناسب لري. همدا نظر د [الزمر: ۳۲] ایت څخه هم په اشارې سره څرګندېږي، او مونږ ته هم همدغه نظر په زړه پورې برېښي چې په دې کتاب کښې به مونږ إن شاء الله ﷻ په همدغه نظر باندې اجراءات کوو.

هو! په کومو ځایونو کښې چې مونږ ورباندې نه پوهېږو نو د هغه سبب زمونږ علمي قصور دی، او دا څکه چې:

نو په کار دي چې د الله ﷻ په کومک په دغې باره کښې د بشري توان په اندازه هڅې وکړی شي.

الف: د کوم کلام چې مضامین او مطالب تناسب ونه لري هغه کلام خوندور او مزه ناک نه وي،

---

(۱) تفسیر فتح القدیر ج۱ ص۱۳۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


و به کار ده چې د ایتونو تناسبات وموندل شي ترڅو د قرآن کریم فصاحت او بلاغت لا زیات ښکاره شي او داسې مثال ولري لکه چې ملغلري په یوه مزي کښې پیلې شوې وي.

ب: دا هم د قرآن کریم د اعجاز نښه ده چې په درویشتو (۲۳) کلونو کښې د بېلابېلو حوادثو په اثر نازل شوی دی، خو د دې سره سره د ایتونو تناسب یې په ځای پاتې دی، ته به وایې چې ټول ایتونه په یوه وخت او یوه مقام کښې نازل شوي دي.

ج: نو په کار دي چې د قرآن کریم ایتونه په بشري خطباتو باندې قیاس نه کړی شي کومې چې په وخت او ځای او هم په عمر او اغراضو سره فرقونه مومي.

د: که څه هم د قرآن کریم ایتونه د حوادثو په سبب نازل شوي دي مګر منظور پکښې خاص حوادث او خاص واقعات نه دي بلکې د مفهوم عموم ته اعتبار دی، چې د مفهوم په عموم باندې د حوادثو خصوص کوم اثر نه لري.

هـ: که څه هم د قرآن کریم نزولي ترتیب د عثماني ترتیب څخه جدا وه مګر په لوح محفوظ کښې په همدغه عثماني ترتیب باندې موجود دی په کوم باندې یې چې مونږ قرائت کوو[1]. نو په نزول سره یې اصلي ترتیب د منځه نه دی تللی، لکه چې څوک یو کتاب پاڼې پاڼې کړي چې ټول تیت پرک شي خو بیرته یې راغونډ کړي او په اصلي ترتیب باندې یې د دوهم ځل دپاره مرتب کړي.

و: د ایتونو تناسب ته په احادیثو کښې اشاره شوې ده، نو صرف په عقل باندې اتکاء نه لري. دا څکه چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د دې کتاب په دوهمه سریزه کښې د یوه حدیث په رڼا کښې لیکلي دي چې د ایتونو ترتیب بالاتفاق توقیفي دی او د سورتونو ترتیب د جمهورو علماوو کرامو په نزد هم توقیفي دی چې اجتهاد ته پکښې دخل نشته.

## د اعتراض ځواب

۴ـ د ذکرې شوې مقدمې څخه وروسته مونږ د ذکر شوي سوال په هکله وایو چې: دغه ایتونه د وراندېنیو ایتونو سره د لاندې وجوهو د کبله ارتباط لري:

الف: په تېر شوو پنځه اتیا (۸۵) ایتونو کښې په عقلي او نقلي دلایلو سره بني اسرائیل دعوت کړی شوي وه چې په آخر الزمان پیغمبر (محمد ﷺ) باندې ایمان راوړي او همکاري ورسره وکړي. په دې ایتونو کښې همدغه کار ته د خپلو پلرونو په توصیو سره دعوت کېږي چې ابراهیم ﷺ او یعقوب ﷺ خپلو اولادونو ته څنګه ـ څنګه پیغامونه پرېښي دي.

ب: هلته د بني اسرائیلو څخه دا خبره هم راحکایته شوې وه چې هغوی مختار امت دی، او دلته همدغه خبره د اشارې په توګه رده شوې ده چې بني اسرائیل او بني اسماعیل ﷺ د نسب په لحاظ دواړه په ابراهیم ﷺ ګډېږي، نو د نسب په لحاظ یوه ډله په بلې ډلې باندې څه فضیلت نه لري. نو حاصل یې داسې راځېږي:

[1] الاتقان في علوم القرآن للسیوطي ج۱ ص۶۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپل ټول دعوتي امت باندې عموماً او په بني اسرائیلو باندې خصوصاً د خپل رب ﷻ د پلوه څه مطالب قرائت کړه. هغه دا چې:

۱ـ تاسو هغه وخت یاد کړئ په کوم کښې چې ابراهیم ﷺ د خپل رب ﷻ د پلوه په څو ارشاداتو سره امتحان کړی شو.

۲ـ ابراهیم ﷺ په دغه امتحان کښې بریالی شو نو خپل رب ﷻ ورته وویلې چې:

ای ابراهیمه! ته په امتحان کښې کامیاب شوې او د دې خبرې جوګه شوې چې د قیامت د ورځې پورې ټولو خلکو ته امام وګرځې، نو زه د دغه کار کوونکی یم او د ټولو خلکو دپاره تا امام جوړوونکی یم، نورو خلکو ته په کار دي چې هرڅوک په خپل امتحان کښې ستا غوندې بریالی ووځي او په تا پسې اقتداء وکړي.

۳ـ ابراهیم ﷺ وویلې چې ای زما ربه! زما د اولادې څخه هم ځینې داسې کسان جوړ کړه چې خلک ورپسې په نېکیو کښې اقتداء وکړي.

۴ـ ابراهیم ﷺ ته خپل رب ﷻ د ذکر شوي سوال په هکله وفرمایل چې:

زه د دغه کار کوونکی یم، نو ستا په اولاده کښې به هم ځینې کسان امامان جوړ کړم، خو په یاد ولره چې زما دغه وعده ظالمانو ته نه رسېږي او هغوی امامان نه شي جوړېدلی او هغوی پکښې برخه نه شي موندلی.

۵ـ ای پیغمبره! ته هغه وخت هم یاد کړه چې مونږ بیت الله (کعبه شریفه) دخلکو دپاره د اجتماع او راغونډېدلو ځای وګرځاوه او هم مو په همدغه ځای کښې ټولو خلکو ته امن ورپېرزو کړ چې په دغه ځای کښې به هیڅوک د خپل ځان دپاره خطر نه احساسوي که څه هم هلته ورسره د هر سخت دښمن پیوستون ولري.

په دې باندې علاوه هغه وخت هم یاد کړه چې مونږ د ابراهیم ﷺ په ذریعه خلکو ته وویلې چې: تاسو د ابراهیم ﷺ د مقام څخه د خپلو ځانونو دپاره د لمانځه ځای ونیسئ او لمونځونه پکښې اداء کړئ، البته کله چې د حج ارکان اداء کوئ.

۶ـ دا هم خلکو ته وریاده کړه چې مونږ ابراهیم ﷺ او د ده زوی (اسماعیل ﷺ) ته کلکه توصیه کړې وه چې تاسو دواړه زما کوټه (کعبه شریفه) جوړه کړئ او د بوتانو او پلیتیو څخه یې پاکه وساتئ: البته د طواف کوونکو او هلته د ناستو کسانو دپاره چې د بیت الله په لیدلو باندې سترګې یخوي او هم د رکوع کوونکو او سجده کوونکو دپاره چې په لمانځه باندې مشغول وي.

۷ـ ای پیغمبره! ته هغه وخت هم یاد کړه چې ابراهیم ﷺ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې:

الف: ای زما ربه! دغه ځای چې سمدستي یوه بیدیا ده داسې ښار وګرځوې چې د خلکو ګڼه ګوڼه پکښې زیاته وي او د دې سره‌سره د امن ځای وي چې هیڅوک پکښې د خپل دښمن د پلوه نه متضرر کېږي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ای ربه! ددغه مقام او ددغه ښار اوسېدونکو ته د هر ډول میوجاتو څخه ور روزي کړې او ښه
پرېمانه خوراکونه ورته ورکړې، البته د دې ښار هغو اوسېدونکو ته کوم چې مؤمنان وي (ظالمان نه
وي) چې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځ باندې سمه شرعي عقیده ولري او ایمان ورباندې راوړي.

۸_ ابراهیم ﷺ ته د ذکرې شوې غوښتنې په ارتباط خپل رب ﷻ جواب ورکړ چې:

الف: ستا سوال قبول دی د دغه ښار اوسېدونکو ته به ښې پرېمانه مېوې ورکړم او د رزق پراخي
به ورپېرزو کړم.

ب: خو څرنګه چې ذکر شوي نعمتونه دنیاوي نعمتونه دي نو ظالمان به ترې ونه باسم بلکې
هغوی ته به هم پکښې برخه ورکړم. یا په بل عبارت د دغه ښار د اوسېدونکو څخه چې هرڅوک کفر
او شرک غوره کړي نو هغه ته به هم د لږ وخته پورې د نعمتونو څخه د استفادې کولو موقع ورکړم
چې د مرګ د ورځې پورې ترې ګټه اوچته کړي.

نو بیا به همدغه ظالم او کافر د قیامت په ورځ د مرګ څخه وروسته مجبور کړم چې دوزخ ته
ورداخل شي او پکښې معذب شي حال دا چې دوزخ د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی.

۹_ او ای پیغمبره! هغه وخت هم یاد کړه چې ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ دواړو په ګډه د کعبې
شریفې هغه تاداوونه د خاورو څخه رالوڅ کړه او دواړو شروع وکړه چې دغه تاداوونه اوچت کړي او
د یوې کوټې شکل ورکړي.

نو په همدغه حال کښې ذکرو شوو دواړو پیغمبرانو خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه او
دواړو وویلې چې:

الف: ای زمونږ ربه! زمونږ دغه محبت په خپل نزد کښې قبول وګرځوې چې مونږ لګیا یاستو د
کعبې تاداوونه اوچتوو.

ب: ای زمونږ ربه! یقینًا همدا ته زمونږ د سوالونو اورېدونکی یې او همدا ته زمونږ په زړونو
باندې پوه یې چې په سوچه اخلاص مو کار پیل کړی دی.

ج: ای زمونږ ربه! مونږ دواړه تاته د مرګ د وخته پورې په دوامداره توګه غاړه اېښودونکي
وګرځوه او په همدغه حالت باندې مو ثابت قدم ولره.

د: ای زمونږ ربه! زمونږ دواړو د اولادې څخه هم یوه ډله د مرګ د وخته پورې خپل اقدس ذات
ته غاړه اېښودونکي او ثابت قدمه وګرځوه.

هـ: ای زمونږ ربه! مونږ ته په خپل فضل سره د حج مناسک او ارکان راوښیه او هم په مونږ باندې
په رحمت سره رجوع وکړه. دا ځکه چې یقینًا یوازې همدا ته ډېر توبه قبلوونکی او ډېر مهربان یې.

و: ای زمونږ ربه! زمونږ دواړو په اولاده کښې د همدوی څخه داسې یو پیغمبر مبعوث کړې کوم
چې په همدوی باندې ستا ایتونه وخت په وخت قرائت کوي او د توحید دعوت ته ادامه ورکوي، کوم
چې دوی ته ستا کتاب تعلیموي او د حکمت خبرې (احادیث) ورته زده کوي، او بالآخره کوم چې
همدوی د شرکیاتو او کفریاتو څخه پاکوي او د پلیتو [illegible] پاک پاتې کېدلو لارې چارې ورښایي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ژ: ای زمونږ ربه! یقینًا همدا ته د کلکې ارادې درلودونکی یې، چې هیڅوک ستا د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړولی. او یقینًا همدا ته د حکمت والا یې، چې هر کار دې د حکمت په بنیاد صورت نیسي، ستا په یوه کار باندې هم د عیب لګولو او د ګوتې د ایښودلو ځای نشته.

## توضیحات

۱ـ په ﴿وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ﴾ کښې د "إِبۡرَٰهِـۧمَ" کلمه په قرآن کریم کښې نهه نوي (۹۹) کرته نازله شوې ده، دا کلمه د نبي کریم ﷺ د یو دېرشم (۳۱) نیکه نوم ده[۱].

د همدې کلمې په ارتباط لاندې معلومات ولولئ:

الف: دا کلمه اعجمي ده چې په اعجمي او عربي دواړو کښې د "أب رحیم"[۲] د ډېر مهربان پلار معنی ورکوي.

ب: که څه هم دا نوم د ابراهیم ؑ د ماشومتوب نوم دی خو الله ﷻ نوموړی په نتیجه کښې د همدغه نامه مصداق وګرځاوه چې د ټولو خلکو دپاره امام جوړ شو او د ډېر مهربان پلار غوندې وړباندې زړه سواندی جوړ شو.

الله ﷻ همدغه مطلب ته اشاره کړې ده چې: ﴿ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٞ مُّنِيبٞ ﴾ [هود: ۷۵] یعني: یقینًا ابراهیم ؑ حوصله ناک (او) زړه سواندی (او هم الله ﷻ ته) رجوع کوونکی وه.

ج: خواخوږي او زړه سواندي مشر ته د مهربان پلار لقب ورکولی کېږي، د همدې کبله نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې خپل ځان د پلار سره تشبیه کړی دی چې: «إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْوَالِدِ»[۳] یعني: یقینًا زه ستاسو دپاره د والد (پلار) غوندې یم (حتی چې د بیت الخلاء آداب هم درزده کوم).

د همدې کبله په پښتو کښې نامتو شاعر عبد الرحمن مومند د "بابا" په نامه شهرت موندلی دی.

د: د همدغې زړه سواندۍ او خواخوږۍ اثرات دي چې ابراهیم ؑ په عالم برزخ کښې د مسلمانانو د ماشومانو د اجتماع ځای ګرځولی شوی دی او ماشومان ترې داسې راتاو دي لکه چې په دنیا کښې د خپل مهربان پلار څخه راتاو وي همدغه مضمون نبي کریم ﷺ په خوب کښې لېدلی وه[۴] حال دا چې د پیغمبر خوب وحې دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه څرنګه چې د الله ﷻ علم ازلي او ابدي دی نو امتحان ته څه اړتیا نه لري خو بندګان د دې دپاره د امتحان لاندې نیسي ترڅو چې هر چا ته د خپلې نیکۍ یا خپلې بدۍ اندازه څرګنده شي، چې نېکان د نورو نېکانو سره سیالي ونه کړي او بدان په خپله سزا باندې قناعت خپل کړي.

---

(۱) البحر المحیط ج۱ ص۵۹۹
(۲) تفسیر القرطبي ج۲ ص۹۶
(۳) سنن ابي داوُد ج۱ ص۳
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۱۸۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین اخوا سکین شو



## "کلمات" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ بِكَلِمَٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ﴾ کښې د "کَلِمَات" کلمه په دې مقام کښې د اوامرو او نواهیو (شرعي ارشاداتو) څخه عبارت ده[۱]. پاتې شوه دا خبره چې هغه کوم ارشادات وه چې الله ﷻ ورباندې ابراهیم ﷺ امتحان کړی وه؟، نو په دې کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي چې تقریباً شپاړسو (۱۶) قولونو ته رسېږي[۲]. د مثال په توګه:

الف: دغه ارشادات د لسو (۱۰) احکامو څخه عبارت دي[۳]، هغه دا دي:

خوله وینځل، پوزه وینځل، د بریتونو لنډول، د مسواک وهل، د ږیرې پرېښودل، د نوکانو قلم کول، د نامه څخه لاندې ویښتان اخستل، د تخرګونو ویښتان ویستل، استنجاء کول، ختنه کول.

په دغو لسو ارشاداتو کښې لسم ارشاد درونند ارشاد وه او ابراهیم ﷺ پکښې کامیاب شو. او دا ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «اخْتَتَنَ إِبْرَاهِيمُ النَّبِيُّ ﷺ وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِينَ سَنَةً بِالْقَدُومِ»[۴]

یعنې: ابراهیم ﷺ چې د الله ﷻ پیغمبر وه خپل ځان یې په تخذې سره په داسې حال کښې ختنه کړ چې عمر یې اتیا کاله وه.

ب: د "کَلِمَات" په کلمې سره لاندې ارشاداتو ته اشاره ده[۵]:

اول: د توحید دپاره اور ته د وراچولو زغمل چې په [الأنبياء:۶۸] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

دوهم: د خپل زوی د ذبحه کولو ماموریت ترسره کول، چې په [الصافات:۱۰۵] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

دریم: د الله ﷻ د رضامندۍ دپاره هجرت کول، چې په [العنکبوت:۲۶] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

څلورم: د الله ﷻ په امر خپله مېرمن (هاجر رضي الله عنها) او خپل ماشوم زوی (اسماعیل ﷺ) د مکې په بیدیا کښې پرېښودل، چې په [إبراهيم:۳۷] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

### تبصره

۳ـ مونږ ته داسې برېښي چې دلته د ابراهیم ﷺ د عالي شان بیان مطلب دی چې په هغو ټولو امتحاناتو کښې کامیاب شو د کومو لاندې چې خپل رب ﷻ واقع کړی وه.

دلته د امتحاناتو د تشخیص بیان مطلب نه دی او نه ورته څه اړتیا شته، که بالفرض تشخیص ته یې څه اړتیا وی نو هرومرو به الله ﷻ تشخیص کړی وی.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۶۴
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۱۲۴؛ روح المعاني ج۱ ص۳۷۴؛ الدر المنثور ج۱ ص۲۷۳؛ تفسیر الطبري ج۱ ص۵۲۴
(۳) المحرر الوجیز ج۱ ص۳۴۸
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۳؛ صحیح مسلم ج۲ ص۲۶۵
(۵) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۵۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


په دې باندې علاوه که دلته د ټولو علماوو کرامو اقوال اراده کړی شي هم څه منافات سره نه لري او د "كَلِمَاتٌ" د کلمې په تفسير کښې شموليت موندلی شي.

زمونږ په نظر دغه ايت هغه ايت ته ورته دی کوم چې د موسی ﷺ په ارتباط نازل شوی دی چې ﴿ وَفَتَنَّـٰكَ فُتُونًا ﴾ [طه: ۴۰] يعني: او ای موسی! مونږ ته په ډېرو امتحانونو سره امتحان کړې.

## "إِمَام" څه معنی؟

۴ـ په ﴿ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ﴾ کښې د "إِمَام" کلمه د هغه کس يا هغه شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې د نورو کسانو دپاره يا د نورو کارونو او شيانو دپاره د اقتداء کولو ځای وي[۱]، لکه رئيس د قوم دپاره، يا لکه د رجې تار د تعميراتي کارونو دپاره.

دغه کلمه په "أَئِمَّةٌ" سره جمعه کېږي او په ښکانو او بدانو دواړو کښې استعمالېږي، لکه:

الف: ﴿ وَجَعَلْنَـٰهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا ﴾ [الأنبياء: ۷۳] يعني: مونږ ذکر شوي پيغمبران امامان ګرځولي وه چې زمونږ په امر به يې خلکو ته د سمې لارې ښودانه کوله.

ب: ﴿ وَجَعَلْنَـٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ ﴾ [القصص: ۴۱] او مونږ فرعونيان امامان ګرځولي وه چې اور (دوزخ) ته به يې بلنه کوله.

## ابراهيم ﷺ په څه شي کښې امام ګرځولی شوی وه؟

۵ـ پاتې شوه دا خبره چې د الله ﷻ د پلوه ابراهيم ﷺ په څه شي کښې امام ګرځولی شوی وه حال دا چې هر يو پيغمبر د خپل امت دپاره امام دی؟، نو د دې خبرې جواب دا دی چې ابراهيم ﷺ په عام مقبوليت او هم په ولاء او براء (پيوستون او پرهېزه) کښې د قيامت تر ورځې پورې د ټولو خلکو دپاره امام دی چې تګلاره يې د توحيد معيار دی، نو که څوک ورته د رئيس الموحدين لقب ورکړي هم باک به يې نه وي ـ ان شاء الله ﷻ. لکه چې ځينو مفسرينو کرامو[۲] په همدې لقب ياد کړی دی.

په همدې ارتباط لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: هره ډله ابراهيم ﷺ خپل هم مسلکی ګڼي چې يهودان ورته يهودي وايي او نصارا ورته نصراني وايي او مشرکان ورته مشرک وايي او داسې نور.

نو هره يوه ډله ورته د نژدېکت دعوه کوي خو الله ﷻ په دې باره کښې داسې فيصله کړې ده چې: ﴿ مَا كَانَ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَـٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ۝ إِنَّ أَوْلَى ٱلنَّاسِ بِإِبْرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ وَهَـٰذَا ٱلنَّبِيُّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ [آل عمران: ۶۷، ۶۸] يعني: ابراهيم ﷺ نه يهودي وه او نه نصراني وه مګر د ټولو باطلو اديانو څخه حق دين (توحيد) ته ګرځېدونکی وه، او (بالآخره) نه د مشرکانو څخه وه. يقيناً د خلکو څخه ابراهيم ﷺ ته ډېر نژدې

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۲۴

(۲) روح المعاني ج۱۴ ص۲۴۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس ياسين لخوا سکین شو


لو (الف) هغه کسان دي کومو يې چې په خپله زمانه کښې اتباع (پيروي) کړې وه او (بل) دغه پيغمبر محمد ﷺ او هغه کسان دي کومو چې (په دې زمانه کښې) ايمان راوړی دی.
ب: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ ﴾ [الممتحنة:٤]
يعني: يقيناً ستاسو دپاره په ابراهيم ؑ او په هغو کسانو کښې کومو چې ورسره ايمان راوړی وه، ښائسته اقتداء ده (چې د خپلو کفري قوميانو او کفري اقاربو څخه بېزاره شوي وه).
ج: ابراهيم ؑ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: ﴿ وَٱجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي ٱلْـَٔاخِرِينَ ﴾ [الشعراء: ٨٤] يعني: اې زما ربه! ماته په وروستنيو خلکو کښې ښائسته (نېک) يادښت وګرځوې.
شايد چې د ابراهيم ؑ به په دغه سوال کښې مطلب دا وه چې همدغه نېکنامي په خلکو باندې باعث وګرځي او په توحيد او هم په ولاء او براء (پيوستون او پرېکړه) کښې راپسې اقتداء وکړي او د کفارو د نژدېکت څخه لاس واخلي.

## سوال جواب

٦_ که څوک وايي چې: ځينو علماوو کرامو په دې مقام کښې امامت په نبوت سره تفسير کړی دی[1]، نو پوښتنه دا ده چې تاسو دغه تفسير ولې خوښ نه کړ؟
مونږ وايو چې: دغه تفسير په دې مقام کښې د لاندې وجوهو د کبله په زړه پورې نه برېښي:
الف: د ﴿ جَاعِلُكَ ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي چې ابراهيم ؑ ته د نبوت څخه وروسته امامت ورکړی شوی وه، که نه نو د "كَ" په کلمې سره به مخاطب نه وی ګرځولی شوی.
ب: د ﴿ لِلنَّاسِ ﴾ کلمه هم دلالت کوي چې دلته د امامت څخه نبوت مراد نه دی. او دا ځکه چې ابراهيم ؑ د ټولو خلکو دپاره پيغمبر نه وه خو په "وَلاء" او "بَرَاء" کښې امام وه او دی.
او که بالفرض د "النّاس" څخه د خپلې زمانې خلک اراده کړی شي نو بيا د نوموړي پيغمبر ؑ امتياز د منځه ځي چې هر پيغمبر د خپلې زمانې د خلکو دپاره امام وه.
ج: د کلام د سوق څخه څرګندېږي چې ابراهيم ؑ ته د ابتلاء په نتيجه کښې امامت ورکړی شوی دی او په کسب باندې يې ترتب موندلی دی، حال دا چې نبوت کسبي شی نه دی بلکې موهبي او فضلي شی دی.

## أهل التشيع څه وايي؟

٧_ أهل التشيع وايي چې په دې مقام کښې د "إمَامِيَت" څخه هغه مرتبه مراده ده کومه چې د نبوت او رسالت څخه لوړه ده، د کومې درلودونکی چې مطلب ته رسوونکی او د اسلامي حکومت قانوونکی وي چې شرعي احکام په ځمکې کښې جاري او عملي کړي[2].

[1] زاد المسير ج١ ص١٢٥
[2] تفسير نمونه لأهل التشيع ج١ ص٤٣٧_ ٤٤٦

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

یا په بل عبارت: هغوی د نبوت، رسالت او هم د امامیت درجات په تکاملي توګه تفسیروي، چې په لاندې توګه واضحه کېږي:
الف: د نبوت مقام دا دی چې چا ته د الله ﷻ د پلوه وحې ورنازله کړی شي.
ب: د رسالت مقام دا دی چې څوک په وحې باندې علاوه د احکامو په ابلاغ او نشر باندې هم مکلف وګرځول شي.
ج: د امامیت مقام دا دی چې څوک داحکامو په نشر او ابلاغ باندې علاوه د اسلامي حکومت په جوړولو باندې هم مکلف کړی شي چې شرعي احکام په ځمکه کښې عملي کړي او خلک مطلب ته ورسوي (چې خلافت او امارت قائم کړي).

## د ذکر شوي نظر رد

۸ـ د اهل التشیع ذکر شوی نظر د قبول قابل نه دی. او دا ځکه چې:
الف: الله ﷻ هر یوه پیغمبر ته د "إمام" لقب ورکړی دی چې: ﴿ يَوْمَ نَدْعُواْ كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَـٰمِهِمْ ﴾ [الإسراء: ۷۱] یعني: هغه ورځ یاده کړئ چې کله مونږ هره یوه ډله خلک د خپل پیغمبر په نامه راوبلو (چې: ای د فلانکي پیغمبر امتیانو! را اوچت شئ).
ب: مطلب ته رسول، الله ﷻ پورې اختصاص لري او هیڅ پیغمبر دغه کار نه شي کولی. الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ إِنَّكَ لَا تَهْدِى مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَـٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ﴾ [القصص: ۵۶] یعني: ای پیغمبره! یقیناً ته هغه چا ته هدایت نه شې کولی (چې مطلب ته یې ورسوې) د کوم هدایت (او مطلب ته رسول) چې ستا زړه غواړي، مګر الله ﷻ هغه چا ته هدایت کوي (مطلب ته یې رسوي) کوم ته یې چې اراده وشي. یا په بل عبارت: نبي کریم ﷺ لارښودونکی دی خو مطلب ته رسوونکی نه دی. الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ [الشورى: ۵۲] او یقیناً (ای پیغمبره!) هرومرو ته سمې لارې ته ښودانه کوې.
ج: د ذکر شوي تفسیر او نظر په بنیاد ابراهیم ؑ هم امام نه شي جوړېدلی، ځکه چې په ﴿ إِنِّى جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ﴾ کښې د "النَّاس" کلمه ټولو خلکو ته شامله ده، حال دا چې ابراهیم ؑ په ټولو زمانو کښې خلکو ته اسلامي حکومت نه دی قائم کړی.
د: د ذکر شوي نظر سره دا خبره هم لازمه ګرځي چې نبوت ختم دی خو هغه نبوت ختم نه دی په کوم باندې چې امامیت مشتمل دی.
هـ: د دغې نظر څخه دا هم لازمېږي چې ځینې مؤمنان (که څه هم پیغمبران نه دي) د پیغمبرانو څخه غوره او بهتر دي، لکه علي ؓ چې د اهل التشیع په نزد امام دی خو بالاتفاق پیغمبر نه دی. که څه هم هغوی د دغه لازم تناقض د رفعه کولو دپاره څه هلې ځلې کړې دي مګر څه ګټور او قناعت بښونکی جواب یې نه دی وړاندې کړی.
Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو صرفي تحلیل

۹ـ په ﴿ وَمِن ذُرِّيَّتِي ﴾ کښې د "ذُرِّيَّة" په کلمه کښې علماوو کرامو ګڼ تحلیلونه کړي دي[1]، خو کوم تحلیل چې مونږ ته غوره بریښېدلی دی هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: په "ذُرِّيَّة" کښې مشدده "يّ" د نسبت دپاره ده چې په "ذرّ" ـلکه "شدّ"ـ پورې یې الحاق موندلی دی.

ب: د "ذرّ" کلمه سرو کوچنیو مېږیانو ته او یا هغو کوچنیو شیانو ته وضعه شوې ده کوم چې د لمر په رڼا کښې لیدل کېږي البته په هغې رڼا کښې کومه چې یوې بندې کوټې ته د کوم منفذ (سوري) د لارې ورننوځي.

ج: که څه هم پکار وه چې د "ذرِيَّة" په کلمه کښې د "ذ" توری په زُوَر لوستلی شوی وی مګر څنګه چې د نسبتي "يّ" په پیوستون سره زښت ډېر غیر قیاسي تغیرات صورت نیسي نو دلته په همدغه بنیاد د ذکر شوي توري (ذ) زور په پېښ سره بدلون موندلی دی[2].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ټول علماء کرام متفق دي چې د "ذُرِّيَّة" کلمه د "اولاد" معنی ورکوي او ځینې لا وایي چې دا کلمه په ماشومانو اولادونو پورې اختصاص لري.

خو غالبه دا ده چې په دې مقام کښې به ترې بالغان اولادونه مطلب وي ځکه چې ماشومان امامان نه شي جوړېدلی، حال دا چې ابراهیم ﷺ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې ای زما ربه! زما د اولادې څخه هم ځینې امامان جوړ کړه.

### د لته د "عَهد" معنی

۱۰ـ که څه هم په ﴿ لَا يَنَالُ عَهْدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ کښې د "عَهْد" کلمه د کلکې وعدې څخه عبارت ده، خو ظاهره دا ده چې په دې مقام کښې به ترې د امامیت ګرځولو وعده مطلب وي، کومې ته چې په عین ایت کښې وړاندې اشاره شوې ده.

### آهل التشیع بیا څه وایي؟

۱۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق وړاندې په اومه (۷) توضیح کښې لیکلي دي چې اهل التشیع دلته د "امامیت" څخه خلیفه او امیر اراده کوي.

نو هغوی دهمدغه ایت شریف په استناد د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته د خلافت وړ یوازې علي ؓ ګڼي چې په طفولیت کښې یې ایمان راوړی وه او د ظالمیت دوره یې نه ده تېره کړې[3].

اما د دوی په نزد د ده ؓ څخه په غیر نور ټول صحابه کرام ؓ (د ابو بکر الصدیق ؓ او عمر

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۴۵۳

(۲) لسان العرب ج۴ ص۳۰۴

(۳) تفسیر نمونه لاهل التشیع ج۱ ص۴۴۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الفاروق ﷺ په شمول) ظالمان دي او د خلافت جوګه نه دي چې هر یوه د شرک دوره تېره کړې ده حال دا چې شرک د ډېر لوی ظلم دی.

## د ذکر شوي نظر رد

۱۲ـ دغه نظر د ډېرو وجو د کبله مردود دی، د مثال په توګه:

الف: د "ظَالِم" کلمه د اسم فاعل صیغه ده چې د عربیت په لحاظ په حال یا استقبال کښې استعمالېږي، نو هغه چاته ظالم ویل کېږي کوم چې سمدستي په ظلم اخته وي او یا په راتلونکې کښې په ظلم لګیا کېږي[1].

اما هغه کس چې په تېره زمانه کښې د ظلم مرتکب ګرځېدلی وي او بیا یې ترې په اخلاص سره توبه ویستلې وي په هغه باندې د ظالم اطلاق صحت نه لري.

نو په همدې بنیاد صحابه کرام ﷺ د "ظَالِمِين" په کلمه کښې په هیڅ وجه شمولیت نه شي درلودلی.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «يَا عَمْرُو بَايِعْ فَإِنَّ الْإِسْلَامَ يَجُبُّ مَا كَانَ قَبْلَهُ»[2] یعني: ای عَمرو! بیعت وکړه (د پخوانیو جنایاتو په هکله تشویش مه کوه) چې یقیناً مسلمانېدل (ایمان راوړل) هغه جنایات پرې کوي (محوه کوي) کومو چې د اسلام راوړلو (ایمان راوړلو) څخه پخوا صورت نیولی وي.

ج: عجیبه ده چې الله ﷻ ابو بکر الصدیق ﷺ ته د خپل پیغمبر ﷺ د ملګري لقب ورکوي چې: ﴿ إِذْ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ﴾ [التوبة: ۴۰] یعني: هغه وخت چې پیغمبر ﷺ خپل ملګري (ابو بکر الصدیق ﷺ) ته وویلې چې مه خپه کېږه یقیناً الله ﷻ زمونږ سره دی. حال دا چې اهل التشیع یې د ظالمانو په ډله کښې شمېري چې پخوا یې د شرک دوره تېره کړې ده.

ته به وایې چې د ابو بکر الصدیق ﷺ په شرکي دوره باندې الله ﷻ علم نه درلود، او اهل التشیع ورباندې پوه وه او پرې خبر وه.

د: که داسې وی لکه چې هغوی یې وایي نو نبي کریم ﷺ به خپل رسالت نه وی انجام کړی چې: ﴿ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ ﴾ [الشورى: ۱۵] یعني: او ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې زه د دې دپاره مامور کړی شوی یم چې ستاسو ترمنځ عدل وکړم (او د ظلم مخه ونیسم).

بلکې ټول عمر به یې د ظالمانو په ډله کښې تېر کړی وی، العیاذ بالله.

یا په بل عبارت: په دې تقدیر به نبي کریم ﷺ د ظلم مخنیوی کړی وی خو خپله ناسته ولاړه به یې د ظالمانو سره وه او همدغه ظالمان به ورباندې ګران وه او حتی د دغو ظالمانو څېنو کسانو ته به یې په جنت سره زېری هم ورکړی وي.

---

(۱) شرح ملا جامي في النحو ص ۲۸۰

(۲) مسند احمد بن حنبل ج ۶ ص ۲۳۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱۲ـ په دې مقام کښې په کار دي چې لاندې نکات په ذهن کښې وساتل شي:

الف: په ﴿ وَإِذْ جَعَلْنَا ٱلْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا ﴾ کښې که څه هم د ﴿ ٱلْبَيْتَ ﴾ کلمه د کعبې شریفې نه عبارت ده مګر په دې مقام کښې ترې ټول حرم شریف مراد دی(۱) او دا ځکه چې د ﴿ لِّلنَّاسِ مَثَابَةً وَأَمْنًا ﴾ دواړه کلمې یوازې په کعبې شریفې پورې اختصاص نه لري بلکې ټول حرم ته شاملې دي.

ب: په همدغه عبارت کښې د ﴿ مَثَابَةً ﴾ کلمه د هغه ځای دپاره وضعه شوې ده کوم ته چې خلک ځي راځي او بیا ـ بیا ورته رجوع کوي(۲)، چې د "ة" توری یې په مبالغه دلالت کوي(۳).

ج: د همدغه مضمون په هکله ابراهیم ﷺ د الله ﷻ څخه سوال کړی وه چې: ﴿ فَٱجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ ﴾ [إبراهیم: ۳۷] یعني: ای زموږ ربه! نو د ځینو خلکو (مسلمانانو) زړونه داسې وګرځوه چې دوی (اسماعیل ﷺ، هاجره) ته میلان وکړي (چې بیا بیا هلته ورشي).

د: د ﴿ وَأَمْنًا ﴾ کلمه د "ذَا أَمْنٍ" په تاویل سره په ﴿ مَثَابَةً ﴾ باندې عطفه ده. یعني ته هغه وخت یاد کړه چې موږ د کعبې شریفې په برکت ټول حرم د بیا ـ بیا ورتللو ځای او هم د امن خاوند وګرځاوه.

هـ: په ﴿ وَٱتَّخِذُوا۟ مِن مَّقَامِ إِبْرَٰهِـۧمَ مُصَلًّى ﴾ کښې د "اتَّخِذُوا" کلمه د "قُلْنَا" په تقدیر په ﴿ جَعَلْنَا ﴾ باندې عطفه ده(۴).

و: که څه هم ظاهره دا ده چې د "اتَّخِذُوا" په ضمیر سره ټول خلک مخاطب ګرځولي شوي وي چې په عین ایت کښې ورته په "النَّاس" سره اشاره شوې ده مګر د شان نزول په بنیاد باید چې په دغه ضمیر سره آخر الزمان امت مخاطب وګرځولی شي. هغه دا چې:

عمر الفاروق ﷺ په یوه حدیث کښې وایي چې ما د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې ای د الله رسوله! کاشکې چې موږ د مقام ابراهیم ﷺ په شا خوا کښې د لمانځه ځای ونیسو «فَنَزَلَتْ»(۵) نو ذکره شوې جمله نازله شوه.

ز: د همدې کبله أبو حنیفه رحمة الله علیه او ځینو نورو علماوو کرامو علیهم الرحمة ویلي دي چې په هر طواف کوونکي باندې دوه رکعته لمونځ واجب دی چې د طواف په اختتام کښې یې د مقام ابراهیم ﷺ په شاوخوا کښې اداء کړي(۶).

ح: که څه هم د "مقام ابراهیم ﷺ" په تعین کښې اختلاف شته مګر غوره خبره دا ده چې دغه مقام

---

(۱) البحر المحیط ج۱ ص۶۰۷
(۲) لسان العرب ج۱ ص۲۴۴
(۳) المحرر الوجیز ج۱ ص۲۵۱
(۴) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۵۷
(۵) صحیح البخاري ج۱ ص۵۸
(۶) احکام القرآن للجصاص ج۱ ص۷۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د هغې ډبرې څخه عبارت دی کومه چې فعلا په مطاف کښې په یوه ښیښیي پوښ کښې بنده ده.⁽¹⁾ د کومې په ارتباط چې ځینو مفسرینو کرامو ډېر اوږد بیان لیکلی دی⁽²⁾، چې مونږ یې د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

اول: دغه ډبره په اصل کښې دکعبې ترڅنګ ایښې وه خو عمر الفاروق ﷺ د مطاف د پراخوالي دپاره لږ څه وراندې کېښودله.

دوهم: په دغې ډبرې باندې به ابراهیم ﷺ د کعبې د جوړولو په وخت کښې دریده ترڅو وکړی شي چې د دېوال سرته یې لاس ورسېږي، حال دا چې دغه ډبره به په دغه وخت کښې په خارق العاده توګه اوچتېده او ښکته کېده.

ط: د ﴿ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ ﴾ څخه مطلب دا نه دی چې فعلا هلته پلیتي ده هغه ترې لرې کړئ، بلکې مطلب دا دی چې دغه کوټه پاکه وساتئ چې څوک پکښې بوتان داخل نه کړي، ته به وایې چې د قیامت تر ورځې پورې یې ټول خلک په همدغه پاک ساتلو باندې مامور ګرځولي دي.

ي: په ﴿ وَعَهِدْنَآ ﴾ کښې د "عَهِدْنَا" کلمه د "عَهْد" څخه اشتقاقه شوې ده چې د کلکې وعدې څخه عبارت ده. خو دلته د "أمر" او "توصیه" کولو معنی ورکوي⁽³⁾، یعنې: او مونږ ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ دواړو ته امر او توصیه کړې وه.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه د "إِسْمَاعِيل" کلمه اصلا اعجمي ده چې د "مطیع الله" معنی ورکوي. او یا د "اسمع ایل" څخه تخفیفه شوې ده چې ابراهیم ﷺ سوال کړی وه چې: ای الله! ماته اولاد راکړې، نو کله یې چې ورته اولاد ورکړ همدغه د سوال کلمات یې ورته په څه تغیر سره نوم وګرځاوه⁽⁴⁾.

یا: په ﴿ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْعَٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴾ کښې د "الْعَاكِفِينَ" کلمه خاص د مقام په ملحوظ د هغو کسانو څخه عبارت ده چې نه طواف کوونکي وي چې په "الطَّائِفِينَ" سره ورته اشاره شوې ده او نه لمونځ کوونکي وي چې په "الرُّكَّعِ السُّجُود" سره ورته اشاره شوې ده بلکې چې هلته ناست وي او کعبې شریفې ته ګوري⁽⁵⁾.

لنډه دا چې د ذکرو شوو درېواړو ډلو فرق اعتباري دی، کېدی شي چې یوه ډله په درېواړو لحاظونو سره په ذکرو شوو درېواړو لقبونو سره یاده کړی شي.

## سوالونه او جوابونه

۱۴ـ په ﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا ﴾ الآیة کښې د سړي په ذهن کښې څو

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۱۲
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۷۰؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۱۱۳؛ الدر المنثور ج۱ ص۲۸۷، ۲۹۵
(۳) المحرر الوجیز ج۱ ص۵۳۵
(۴) روح المعاني ج۱ ص۳۸۰
(۵) تفسیر الطبري ج۱ ص۵۴۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوښتنې ګرځي راګرځي، هغه دا چې:

الف: که څوک وايي چې: د ﴿ هَـٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا ﴾ د جملې مفهوم دا دی چې: ای ربه! دغه د مکې ځمکه (چې بیدیا او بیابان دی) امن درلودونکی ښار وګرځوه؛ حال دا چې الله ﷻ د ابراهیم ﷺ د خولې څخه په بل ایت کښې داسې سوال راحکایت کړی دی چې: ﴿ رَبِّ ٱجْعَلْ هَـٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا ﴾ [إبراهیم: ۳۵] یعني: ای زما ربه! دغه د مکې ښار امن درلودونکی ښار وګرځوه.

نو پوښتنه دا ده چې ایا د دغو دواړو ایتونو ترمنځ منافات نشته؟

مونږ وايو چې: ابراهیم ﷺ د مکې معظمې په هکله دوه کرته سوالونه کړي دي چې یو د ښار جوړېدلو څخه مخکښې وه چې په همدې ایت کښې ورته اشاره شوې ده په کوم کښې چې بحث روان دی او بل د ښار د جوړېدلو څخه وروسته وه، کوم چې په بل ایت کښې راحکایت شوی دی.

ب: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې ابراهیم ﷺ مکې معظمې ته د امن په غوښتلو باندې ډېر ټینګار کړی دی او دوه کرته یې غوښتنی دی؟

مونږ وايو چې: امن ډېر لوی نعمت دی چې د عبادت فراغت او د تجارانو تګ راتګ په همدې نعمت پورې موقوف دی.

نو که بالفرض په مکه معظمه کښې دغه نعمت موجودیت نه درلودی نو هلته به بیا بیا خلک نه وی ورغلي او د میوجاتو بهیر به په پټه دربدلی وی او کومه غټه ګټه ګوټه چې هلته د حج په موسم کښې جوړېږي هغه به نه وی جوړه شوې.

ج: که څوک وايي چې د دغه ایت څخه فهمېږي چې مکه معظمه د ابراهیم ﷺ په سوال سره د امن ځای ګرځېدلې ده، حال دا چې د وړاندېني متصل ایت او د وړاندېني دیارلسمې (۱۳) توضیح د "الف" د بند څخه څرګندېږي چې دغه امنیت ورته د الله ﷻ د پلوه د ابراهیم ﷺ د سوال څخه په غیر ورکړی شوی وه؟!

مونږ وايو چې: په وړاندېني ایت او په وړاندېنۍ توضیح کښې د مکې معظمې هغه امن ته اشاره ده کوم چې ورته د الله ﷻ په ازلي علم کښې ټاکلی شوی وه، او په دې ایت کښې د ابراهیم ﷺ په سوال سره د همدغه ازلي امن ظهور صورت ونیوه.

په دې باندې علاوه دا هم څه لرې نه ده چې په هغه ایت کښې تکویني امن ته اشاره وي چې حیوانات او ځناور یې هم د اثر لاندې واقع دي چې هلته یو تربله تجاوز نه کوي، او په دې ایت کښې ابراهیم ﷺ د تشریعي امن سوال کړی دی چې: ای ربه! هرڅوک چې د مکې معظمې امن ته ضرر رسوي نو هغه ته سزا ورکړې.

په همدې مطلب باندې په بل ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ [الحج: ۲۵] یعني: او هر څوک چې په مکه معظمه کښې اراده وکړي چې ظلم (ګناه) ته میلان خپل کړي مونږ به ورته د دردناک عذاب څخه وروڅکوو (پرې اخته به یې کړو).

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د. که څوک وایي چې: په مکه معظمه کښې د رزق پراخي د کفارو دپاره منظوره شوه چې ﴿ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِ ﴾، حال دا چې ابراهیم ﷺ د رزق او میوجاتو پراخي صرف د هغه خای د مؤمنانو اوسېدونکو دپاره غوښتې وه؟

مونږ وایو چې: د مؤمنانو په هکله ذکر شوی سوال په دلالة النّص سره قبول شوی او منظور شوی دی چې په ﴿ وَمَن كَفَرَ ﴾ کښې وربانديې د "و" توری دلالت کوي، ته به وایې چې د سوال په اجابت کښې داسې عبارت نازل شوی وی چې: "أَرْزُقُ مَنْ آمَنَ وَمَنْ كَفَرَ" ستا سوال قبول دی زه به دغه شیان هغه چا ته ور روزي کړم کومو چې ایمان راوړی وي او هغه چاته هم کومو چې کفر غوره کړی وي.

همدغه مضمون ته بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ كُلًّا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ﴾ [الإسراء: ۲۰] یعنې: هرې یوې ډلې ته مونږ امداد ورکوو هغې ډلې ته (چې دنیا غواړي) او هغې ډلې ته (چې آخرت غواړي).

ه: که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد د مؤمنانو په هکله د سوال په اجابت باندې صراحت نازل نه شو بلکې په دلالة النّص سره اکتفاء وکړی شوه؟

مونږ وایو -والله ﷻ أعلم- چې: حکمت پکښې دا دی چې مؤمنان په دنیاوي نعمتونو کښې اصل دي او کفار ترې په طفیلي توګه استفاده کوي. دا ځکه چې دلالة النّص د حکم په جدیت او بهترۍ باندې دلالت کوي. د مثال په توګه:

الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ ﴾ [الإسراء: ۲۳] یعنې: نو تاسو مور او پلار ته اُف مه وایاست (او تاسو د خپل مور او پلار د وهلو څخه په جدي ډول اجتناب وکړئ).

و: که څوک وایي چې: ځینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې یوه قیصه لیکلې ده، هغه دا چې کله الله ﷻ د ابراهیم ﷺ سوال قبول کړ نو د فلسطین څخه یې یوه ټوټه مېوه داره ځمکه راجدا کړه او د مکې معظمې د مربوطاتو څخه یې هغه خای ته راانتقال کړه کوم چې اوس د "طَآئِف" په نامه یادېږي[۱].

نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه قیصه صحت لري؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو دغه قیصه بالکل دروغه او باطله ګڼلې ده[۲] او ځینو پکښې سکوت غوره کړی دی، چې الله ﷻ هر څه کولی شي[۳].

## "قَاعِدَة" څه معنی؟

۱۵- په ﴿ وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِۦمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَٰعِيلُ ﴾ کښې د "قَوَاعِد" کلمه د "قَاعِدَة"

---

(۱) الدر المنثور ج۱ ص۴۰۳؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۵۸

(۲) تفسیر المنار ج۱ ص۴۶۴

(۳) روح المعاني ج۱ ص۳۸۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جمعه ده، دا د کوټې هغو بنیادونو (تاداوونو) ته ویل کېږي په کومو باندې چې د پاسه دیوالونه اوچت ولاړ وي(۱).

ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې کعبه شریفه لس (۱۰) کرته جوړه کړی شوې ده او اصلي باني يې ابراهیم ﷺ نه دی، چې بنیاد يې د ده ﷺ څخه وړاندې ایښودل شوی وه(۲)، او هرڅوک چې ورته د اولني باني او بنیاد ایښودونکي لقب ورکوي هغوی خرافات وايي او اسرائیلیات يې راحکایت کړي دي(۳)، مګر ځینې نور مفسرین کرام وايي چې ابراهیم ﷺ د کعبې شریفې اولنی باني او بنیاد ایښودونکی دی.

څرنګه چې په دغې موضوع پورې کوم شرعي حکم توقف نه لري نو تعمق او بحث ته پکښې چندان حاجت نشته، د همدې کبله مونږ په همدې ارتباط فقط د هغو مطالبو په ذکر باندې اکتفاء کوو کوم چې ثبوت ته رسېدلي دي. هغه دا:

الف: په دغه ایت شریف کښې په کوم کښې چې بحث روان دی، د ﴿ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ ٱلْقَوَاعِدَ ﴾ د جملې څخه ظاهراً څرګندېږي چې ابراهیم ﷺ د کعبې شریفې اولنی باني او بنیاد ایښودونکی نه دی، بلکې د هغو بنیادونو (تاداوونو) اوچتوونکی دی کوم چې وړاندې ایښودل شوي وه.

نور نو الله ﷻ پوهېږي چې اولنی بنیاد ایښودونکی به يې د الله ﷻ په امر څوک وه؟

ب: د کعبې شریفې اولنی ساختمان داسې وه چې حَطیم پکښې شامل وه او دوه وره يې درلوده چې یو شرقي وه او بل غربي وه او دواړه وَرُونه يې د ځمکې سره هوار وه(۴).

ج: د نبي کریم ﷺ د بعثت څخه وړاندې یو ځل کعبه شریفه د سیلابونو په اثر ورانه شوې وه چې قریشو ترمیم کړه.

په دغه ترمیم کښې نبي کریم ﷺ هم برخه اخستې وه چې عمر يې په دغه وخت کښې پنځه دېرش (۳۵) کاله وه(۵)، او په خپلو مبارکو اوږو باندې يې ورته دبرې د غره څخه راښکته کړې وې(۶).

په دغه ترمیم کښې قریشو د کعبې شریفې دپاره فقط یو وَر پرېښود او دغه ور يې هم د ځمکې د مخ څخه تقریباً دوه متره اوچت کړ ترڅو هغه څوک د ورداخلېدلو توان ونه لري کوم چې د قریشو څخه اجازه وانخلي.

په دې باندې علاوه "حَطیم" يې هم په کعبه شریف کښې شامل نه کړ او دباندې يې پرېښود چې مصارف ورباندې زیاتېدل او قریشو يې توان نه درلود(۷).

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۳۶۱؛ مفردات الراغب ص۴۲۴

(۲) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۶۰

(۳) السار ج۱ ص۴۶۶

(۴) سنن النسائي ج۲ ص۳۴

(۵) سیرت ابن هشام ج۱ ص۲۰۹

(۶) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۲۱۰

(۷) صحیح البخاری ج۱ ص۲۱۵؛ سنن الدارمي ج۱ ص۳۸۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د کله چې کعبه شریفه د مسلمانانو د خپلمنځي جنګونو د کبله تخریب شوه نو عبد الله بن الزبیر ﷺ په هغه شکل سره ترمیم کړه په کوم چې د ابراهیم ﷺ څخه پاتې وه[۱]. نو حطیم یې پکښې شامل کړ او د ځمکې د مخ سره هوار یې دوه ورونه ورته پرېښودل چې یو شرقي وه او بل غربي وه.

د عبد الله بن الزبیر ﷺ د شهادت څخه وروسته حجاج بن یوسف د عبد الملک بن مروان په امر کعبه شریفه بېرته هغه شکل ته واړوله په کوم باندې چې قریشو ترمیم کړې وه. چې تر نن ورځې پورې په همدغه شکل سره پاتې ده[۲].

الله ﷻ دې د قیامت تر ورځې پورې په همدغه شکل سره پاتې لري او الله ﷻ دې ورته د تخریب څخه حفاظت ورکړي لکه څنګه یې چې د اصحاب الفیل په وخت کښې حفاظت ورکړی وه.

و نبي کریم ﷺ په یو حدیث کښې فرمایلي دي چې: «يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ»[۳] یعنې کله چې دنیا عمر تقریبًا آخر ته ورسېږي نو کعبه شریفه به یو حبشي سړی خرابه کړي چې د دوه لینګکیو خاوند به وي.

## "مَنَاسِك" څه معنی؟

۱۶_ په ﴿وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا﴾ کښې د "مَنَاسِك" کلمه د "نُسك" _لکه "شُغل"_ څخه اشتقاقه شوې ده او د اسم ظرف "منسَك" _لکه "منصر"_ جمعه ده.

که څه هم "نُسك" د عبادت معنی ورکوي خو په استعمال کښې هغه عبادت پورې مختصه شوې ده کوم چې په حج پورې ارتباط لري[۴]، یعنې او ای زمونږ ربه! مونږ ته هغه مواقف او هغه ځایونه راولید کړې (راوښیي) په کومو کښې چې مونږ دحج کولو په وخت کښې عبادتونو ته صورت ورکړو.

## د حج مناسک په څه ډول وروښودل شوه؟

۱۷_ پاتې شوه دا خبره چې الله ﷻ ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ ته د حج مناسک په څه ډول سره وروښودل؟ نو ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي[۵] چې دغو دواړو پیغمبرانو سره جبرائیل ﷺ په ټولو مواقفو باندې وګرځېد، او د عرفات د ورپېژاندلو په وخت کښې یې ابراهیم ﷺ مخاطب وګرځاوه چې "عَرَفْتَ، عَرَفْتَ، عَرَفْتَ" چې مناسک دې وپېژاندل، وپېژاندل، وپېژاندل. نو د دغه مقام عرفات نوم شو، چې دې کرته پکښې د "عَرَفْتَ" کلمه ویله شوې ده.

مونږ وایو چې: دغه ښودانه کېدې شي د پنځو لمونځونو ښودانې ته ورته ده، چې د دغو لمونځونو د فرضیت څخه وروسته سر په سر دوه ورځې نبي کریم ﷺ ته جبرائیل ﷺ رالېږل شو چې په اوله

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۴۳۰
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۴۳۰
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۲۱۶؛ مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۸۴
(۴) مفردات الراغب ص۵۱۲
(۵) تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۲۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورځ کښې يې ورته په اولنيو وختونو کښې امامت وکړ او په دوهمه ورځ کښې يې ورته په آخرنيو وختونو کښې امامت وکړ او بيا يې مخاطب کړ او ورته يې وويلې چې: «بهذا اُمرت»[۱] يعنې: اې پيغمبره! ته مامور کړې شوې يې چې په دغو وختونو کښې لمونځونه ادا کړې.

## د ايتونو ارشاد

۱۸_ په دغو ايتونو کښې د قيامت تر ورځې پورې ټولو مؤمنانو ته يو ارشاد نغښتی دی هغه دا چې بايد هرڅوک د خپل عبادت د انجام په وخت کښې خپل رب ﷻ ته سوالونه وړاندې کړې، ډېر اُميد دی چې الله ﷻ به يې سوالونه قبول کړي لکه څنګه يې چې د ابراهيم ﷺ او اسماعيل ﷺ سوالونه قبول کړي وه.

## د قبول يو مثال

۱۹_ څرنګه چې ابراهيم ﷺ او اسماعيل ﷺ دواړو خپل رب ﷻ ته سوالونه کړي وه او په سوالونو کښې يې د يوه پيغمبر د مبعوثيت سوال هم شامل وه کوم چې د دواړو اولاد وي چې: ﴿ رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولاً مِّنۡهُمۡ ﴾ يعنې: اې زموږ ربه! زموږ په اولاده کښې د همدوی د جملې څخه يو پيغمبر هم راولېږې؛ نو الله ﷻ د هغوی دواړو سوالونه قبول کړي وه چې د قبول يو مثال يې د محمد ﷺ مبعوثيت دی چې د دواړو اولاد دی. يا په بل عبارت: د ابراهيم ﷺ څخه راپه دېخوا ټول پيغمبران عليهم السلام د ابراهيم ﷺ اولادونه دي خو يوازې په محمد ﷺ کښې ورسره اسماعيل ﷺ هم شريک دی نو څکه د محمد ﷺ مبعوثيت د دواړو سوالونو د قبول دپاره مثال جوړېږي.

همدې مطلب ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې اشاره کړې ده[۲].

﴿ وَمَن يَرۡغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبۡرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفۡسَهُۥ ۚ وَلَقَدِ ٱصۡطَفَيۡنَـٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَا ۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿١٣٠﴾ إِذۡ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسۡلِمۡ ۖ قَالَ أَسۡلَمۡتُ لِرَبِّ ٱلۡعَـٰلَمِينَ ﴿١٣١﴾ وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبۡرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعۡقُوبُ يَـٰبَنِيَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰ لَكُمُ ٱلدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ حَضَرَ يَعۡقُوبَ ٱلۡمَوۡتُ إِذۡ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعۡبُدُونَ مِنۢ بَعۡدِي قَالُواْ نَعۡبُدُ إِلَـٰهَكَ وَإِلَـٰهَ ءَابَآئِكَ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَـٰعِيلَ وَإِسۡحَـٰقَ إِلَـٰهًا وَٰحِدًا وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴿١٣٣﴾ تِلۡكَ أُمَّةٌ قَدۡ خَلَتۡ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡ

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۷۵
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۸۴، ج۸ ص۲۹۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾

[۱۳۰] او هغه څوک دی چې د ابراهیم ﷺ د ملت (دین) څخه بل دین ته میلان کوي؟ (هیڅوک نه دی) مګر هغه څوک دی چې خپل ځان یې سپک کړی (او ذلیل کړی) وي.

او یقینًا مونږ ابراهیم ﷺ په دنیا کښې (په امتیازاتو سره) غوره کړی وه، او یقینًا ابراهیم ﷺ په آخرت کښې د صالحانو د ډلې څخه دی (د لوړو درجاتو درلودونکی دی).

[۱۳۱] (او دا ځکه چې) کله ابراهیم ﷺ ته خپل رب ﷻ وویلې چې غاړه کېږده، نو هغه ﷺ وویلې چې: ما رب العالمین ته غاړه ایښې ده (زه صرف د همده ﷻ اطاعت کوم او بس).

[۱۳۲] او په همدې ملت (توحیدي دین) سره ابراهیم ﷺ خپلو زامنو ته توصیه کړې وه او یعقوب ﷺ هم (خپلو زامنو ته وربانديې توصیه کړې وه هغه دا چې):

ای زما زامنو! یقینًا الله ﷻ ستاسو دپاره توحیدي دین غوره کړی دی، نو تاسو هیڅکله هرومرو مه مړه کېږئ مګر په داسې حال کښې چې تاسو رب العالمین ته غاړې ایښودونکي یاست (د مرګ د وخته پورې په همدغه دین باندې کلک اوسئ).

[۱۳۳] (ای بني اسرائیلو!) ایا تاسو په هغه وخت کښې حاضر وئ چې کله یعقوب ﷺ ته مرګ ورغی چې کله یې خپلو زامنو ته وویلې چې:

(ای زما زامنو!) تاسو به زما د مرګ څخه وروسته د کوم شي عبادت کوئ؟

هغوی ټولو (په یوه خوله په جواب کښې) وویلې چې:

مونږ به (ستا د مرګ څخه وروسته) ستا د معبود او ستا د پلرونو ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ او اسحاق ﷺ د معبود عبادت کوو.

(یا په بل لفظ: مونږ به) د یو معبود (عبادت کوو چې د رب العالمین ﷻ څخه عبارت دی) او مونږ به همده ﷻ ته (په دوامداره توګه) غاړې ایښودونکي یاستو.

[۱۳۴] دغه (د پیغمبرانو ټولګی) یو ټولګی وه چې تېر شوی دی.

د دوی دپاره هغه څه دي کوم یې چې کسب کړي دي او ستاسو دپاره (ای بني اسرائیلو!) هغه څه دي کوم چې تاسو کسب کړي دي.

او تاسو به د هغو کارونو څخه ونه پوښتلی شئ کوم چې دوی وه چې عملي کول به یې (او نه به دوی ستاسو د کارونو څخه وپوښتلی شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې په هغو مطالبو باندې صراحت نازل شوی دی کومو ته چې په وړاندېنیو ایتونو کښې اشارې شوې وې. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! په خپل دعوتي امت باندې د ابراهیم ﷺ او د اسماعیل ﷺ او هم د اسحاق ﷺ او د یعقوب ﷺ څه حالات قرائت کړه ترڅو د ټولو کفارو عمومًا او د مشرکانو او بني اسرائیلو

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


خصوصاً د هغو بهانو او فاسدو استدلالاتو مخه ونیوله شي کوم چې هغوی د خپلو کفریاتو دپاره تراشلي دي. څه حالات یې دا دي:

۱- وړاندې څرګنده شوه چې د ابراهیم ﷺ ملت او دین د الله ﷻ په وحدانیت باندې ولاړ وه او د محمد ﷺ په شمول په وړاندېنیو او وروستنیو ټولو پیغمبرانو علیهم السلام باندې یې د حقانیت عقیده درلوده. نو په همدې بنیاد د ابراهیم ﷺ د دین او د ده ﷺ د عقیدوي خط السیر څخه بل طرف ته میلان نه خپلوي مګر هغه څوک کوم چې خپل ځان سپکوي او په لوی لاس خپل ځان د سادګانو په قطار کښې دروي. او دا ځکه چې:

الف: ابراهیم ﷺ خو مونږ په دنیا کښې غوره بنده ګرځولی وه چې د ټولو أهل المللو دپاره مو په توحید کښې او هم په "ولاء او براء" کښې امام جوړ کړی وه.

ایا دا عجیبه نه ده چې مشرکان د یو پلوه ابراهیم ﷺ غوره بنده ګڼي او د بله پلوه د ده ﷺ د عقیدې په خلاف شرکي عقیده خپلوي؟ ایا دا کار سادګي او بي عقلي نه ده؟ ایا دا کار د خپلو خانونو توهین نه دی؟

همدارنګه دا عجیبه نه ده او سادګي نه ده چې یهود او نصارا د یو پلوه وایي چې ابراهیم ﷺ غوره بنده وه او د بله پلوه په آخر الزمان پیغمبر (محمد ﷺ) باندې ایمان نه راوړي او د پیغمبر په حیث یې نه پېژني؟

حال دا چې ابراهیم ﷺ د یوه عالي شان پیغمبر د مبعوثیت سوال کړی وه او د الله ﷻ په نزد دغه سوال قبول شوی هم وه، چې ذکر شوی آخر الزمان پیغمبر یې مبعوث کړ.

ب: ابراهیم ﷺ په آخرت کښې هم د غوره او صالحانو بندګانو څخه دی نو هرڅوک چې ورپسې اقتداء خپله کړي هغه به هم د همدغو صالحانو بندګانو د ډلې څخه وشمېرل شي، او که نه نو خپل خان به توهین کړي.

۲- ای پیغمبره! ته هغه وخت یاد کړه چې:

الف: کله ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ دواړو خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: ای زمونږ ربه! مونږ دواړه تاته غاړه ایښودونکي وګرځوه او تاته د غاړې د ایښودلو او انقیاد توفیق راکړه.

ب: نو خپل رب ﷻ د دواړو سوال قبول کړ او په تکویني توګه یې ورته امر وکړ چې تاسو دواړه غاړه ایښودونکي جوړ شئ او توفیق قبول کړئ.

ج: نو دواړه توفیق موندونکي او غاړه ایښودونکي وګرځېده او دواړو وویلې چې: مونږ یوازې رب العالمین ته غاړه ایښودونکي یاستو، نو زمونږ اولادې ته هم په کار دي چې زمونږ غوندې فقط رب العالمین ته غاړه ایښودونکي جوړ شي او بس.

۳- ای پیغمبره! هغه وخت هم یاد کړه چې:

الف: ابراهیم ﷺ او هم یعقوب ﷺ هر یوه خپلو خپلو اولادونو ته په توحیدي دین سره کلکه توصیه وکړه او هر یوه ورته وویلې چې: ای زمونږ بچیانو! الله ﷻ ستاسو دپاره هغه توحیدي دین

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


غوره کړې دې په کوم باندې چې مونږ روان یاستو.
ب: نو تاسو په همدغه توحیدي دین باندې د مرګ د وخته پورې کلک اوسئ او رب العالمین ﷻ ته تر وروستنۍ سلګۍ پورې غاړه ایښودونکي اوسئ، ترڅو په همدغې عقیده باندې مړه شئ او په مونږ پسې پیوستون ومومئ.
۴_ ای پیغمبره! ته د یعقوب ﷺ توصیه څه نوره هم توضیح کړه او بني اسرائیل (یهود او نصارا) مخاطب وګرځوه چې:
الف: ای بني اسرائیلو! ایا تاسو په هغه وخت کښې حاضر وئ په کوم کښې چې ستاسو نیکه (یعقوب ﷺ) ته مرګ ورسېد او د ځنکدن په حالت کښې پرېووت؟
ب: تاسو په دغه وخت کښې حاضر نه وئ خو الله ﷻ حاضر وه او هغه سوال جواب ورته ډېر ښه معلوم دی کوم ته چې په دغه وخت کښې یعقوب ﷺ (ستاسو نیکه) صورت ورکړ. هغه دا چې:
اول: ای زما زامنو! تاسو ما ته خبر راکړئ چې زما د مرګ څخه وروسته به تاسو د څه شي عبادت کوئ؟
دوهم: هغوی ټولو په یوه خوله جواب ورکړ چې ای پلاره! مونږ به ستا د مرګ څخه وروسته صرف د الله ﷻ عبادت کوو. لکه څنګه چې همدا اوس فقط د الله ﷻ په عبادت باندې مشغول یاستو، او د همده ﷻ ارشاداتو ته به د مرګ د وخته پورې غاړه ایښودونکي یاستو.
یا په بل عبارت مونږ به ستا د معبود او ستا د پلرونو د معبود عبادت کوو او بس چې ستا پلرونه د ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ او هم د اسحاق ﷺ څخه عبارت دي.
نو ته هیڅ تشویش مه کوه چې مونږ به ذکره شوي سمه لاره پرېږدو او په غلطو لارو به سر شو.
۵_ ای پیغمبره! یو ځل بیا خپل دعوتي امت د الله ﷻ د پلوه مخاطب کړه او ورته ووایه چې:
الف: ای زما دعوتي امته! دغه ذکر شوی د پیغمبرانو ټولګی یو ټولګی وه چې خپل عمر یې په دنیا کښې انجام کړ او تېر شو. لکه چې هر څوک په دنیا کښې خپل عمر پوره کوي او تېرېږي.
ب: دغه تېر شوي ټولګي چې هرڅومره نېکۍ کړې دي هغه یې د خپلو ځانونو دپاره کړې دي چې نه یې ستاسو دپاره کړې دي او نه یې تاسو ته ګټه رسېږي.
نو په همدې بنیاد تاسو هیڅ تمه مه خپلوئ چې د پلارولۍ په سبب به د هغوی نېک اعمال ستاسو په درد باندې وخوري او جنت ته به ورباندې داخل شئ.
ج: همدارنګه ستاسو نېک عملونه یوازې همدا ستاسو دپاره ګټور واقع کېدلی شي او بس. نو که تاسو په آخر الزمان پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړئ فقط خپلو ځانونو ته به د دوزخ څخه نجات ورکړئ او ګټه به ورته ورسوئ.
د: بالمقابل ستاسو بد عملي همدا ستاسو په اوږو بار ده ستاسو پلرونه (که څه هم پیغمبران دي) ستاسو جنایات نه په خپلو اوږو اخلي او نه یې اخستی شي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

هـ: بالآخره د پیغمبرانو ذکر شوی ټولګی (ستاسو پلرونه) د ګناهونو څخه په عصمت کښې دي او که بالفرض المحال هغوی د څه جنایت مرتکب شوي وی نو د هغه جنایت پوښتنه به ستاسو څخه ونه کړی شي، بلکې هغوی به یې پخپله مسئول وي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَٰهِـۧمَ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: که څه هم د ایت شریف مفهوم عام دی مګر ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي، چې دا ایت د عبد الله بن سلام ﷺ د وربرونو په هکله نازل شوی دی چې دواړه "سلمة، مُهاجر" نومېده. هغه دا چې کله نوموړي جلیل القدر صحابي ﷺ (چې د یهودانو څخه وه) ایمان راووړ نو خپل دواړه وریرونه یې هم ایمان راوړلو ته دعوت کړه چې تاسو دواړو ته په تورات کښې معلومه ده چې د بني اسماعیلو څخه به یو پیغمبر مبعوثیږي چې نوم به یې "أحمد" وي نو په همدې بنیاد تاسو دواړه زما غوندې په محمد ﷺ باندې ایمان راوړئ چې د بني اسماعیلو څخه دی.

خو په نتیجه کښې یې یوه وراره (سلمة) ایمان راووړ او دعوت یې قبول کړ او بل وراره (مهاجر) کافر پاتې شو چې دعوت یې قبول نه کړ او ذکر شوی ایت نازل شو[1].

ب: په دغه عبارت کښې د "مَن" توری د انکاري استفهام دپاره دی چې په نافیه "مَا" باندې دلالت کوي.

ج: په ﴿إِلَّا مَن سَفِهَ نَفْسَهُۥ﴾ کښې د ﴿سَفِهَ﴾ کلمه د "سَفه" ـلکه "شَرف"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د عقل د سپکوالي او د سادګۍ معنی ورکوي[2]، خو حقارت او ذلت ورسره ملګری دی.

د: دلته د ﴿سَفِهَ﴾ کلمه متعدي ده او د "جَعَلَ" معنی ته متضمنه ده چې د ﴿نَفْسَهُۥ﴾ کلمه یې مفعول واقع شوې ده[3].

نو پورتنیو ټکو ته په پام سره یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: او هغه څوک دی چې د ابراهیم ﷺ د دین څخه شنګ کوي او د توحیدي عقیدې څخه بل طرف ته رغبت او میلان کوي؟ (هیڅوک نه دی) مګر هغه څوک دی چې خپل ځان یې سپک او ذلیل ګرځولی وي او د بې عقلانو او سادګانو په ډله کښې یې شامل کړی وي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: ظاهره دا ده چې په ﴿إِذْ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسْلِمْ﴾ کښې به ابراهیم ﷺ په ﴿أَسْلِمْ﴾ سره د نبوت څخه وروسته مخاطب ګرځولی شوی وي چې د ﴿قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ﴾ معنی خو د

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۱۷
(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۴۹۷
(۳) روح المعاني ج۱ ص۳۸۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وحي څخه په غیر بل شی نه دی، حال دا چې د نبوت سره خو انقیاد لازم وي، مکلفیت ته هیڅ ضرورت نه لري؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال د جوابولو دپاره علماوو کرامو دوه جوابونه کړي دي. هغه دا چې:

اول: دلته ﴿ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ ﴾ کلمات په هغې وحې باندې دلالت نه کوي کومه چې د نبوت وحې ده ترڅو اعتراض وارد شي. بلکې دلته تري هغه وحي معلومیږي کومه چې د الهام سره په مصداق کښې متحده ده او په نبوت پورې اختصاص نه لري. لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ ﴾ [القصص ۷] یعني: او مونږ د موسی ؑ مور ته وحې (الهام) وکړ چې ته خپل زوی ته د اطمئنان په حالت کښې تی ورکوه.

لنډه دا چې ذکر شوی الهام ابراهیم ؑ ته په هغه وخت کښې صورت نیولی دی په کوم کښې چې لا نبوت نه وه ورکړی شوی، په کوم کښې بې چې په کواکبو سره د الله ﷻ په وحدانیت باندې استدلال قائم کړ چې په [الانعام ۷۴_ ۷۹] ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

دوهم: په ذکر شوي خطاب سره ابراهیم ؑ د نبوت څخه وروسته مخاطب ګرځولی شوی دی خو په دې معنی نه چې ته غاړه کیږده (چې تر اوسه پورې دې غاړه نه ده ایښې) بلکې په دې معنی چې ته د غاړې ایښودلو ته ادامه ورکړه.

دغه خطاب ته په ورته خطاب باندې نبي کریم ﷺ هم مخاطب ګرځولی شوی دی چې: ﴿ فَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ ﴾ [هود:۱۱۲] یعني: ای پیغمبره! تو ته داسې استقامت خپل کړه (استقامت ته ادامه ورکړه) لکه څنګه چې د خپل رب ﷻ د پلوه پرې مامور ګرځولی شوی یې.

دا هم څه لري نه ده چې په جواب کښې وویلی شي چې په ﴿ أَسْلِمْ ﴾ کښې په تکویني توګه د هغه سوال اجابت ته اشاره ده کوم چې الله ﷻ د ابراهیم ؑ او اسماعیل ؑ څخه په [البقرة:۱۲۸] ایت کښې راحکایت کړی دی چې: ای زمونږ ربه! مونږ دواړه تاته غاړه ایښودونکي وګرځوه.

نو د دې جواب په بنیاد به بې حاصل بې داسې راوځیږي چې:

ای ابراهیمه! مونږ ستاسو دواړو سوال قبول کړ او په تکویني امر سره ته غاړه ایښودونکی وګرځه. نو ابراهیم ؑ به ورته د حال په ژبه جواب کړی وي چې ما ستا په تکویني امر سره رب العالمین ته غاړه ایښې ده، او زما زوی اسماعیل ؑ هم ورته غاړه ایښودونکی دی.

## "تَوْصِيَة" څه معنی؟

۳_ په ﴿ وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبْرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ ﴾ کښې د "وَصّیٰ" کلمه د "تَوْصِيَة" _لکه "تکرمة"_ څخه اشتقاقه شوې ده. "تَوْصِيَة" هغه عهد او هغه امر ته ویل کیږي کوم چې عهد اخستونکي ته او امر کوونکي ته ډېر زیات اهمیت لري او په تعمیل باندې بې ډېر زور اچوي[۱].

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۳۹۴؛ القاموس المحیط ج۴ ص۶۲۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس یاسین لخوا سکین شو



د همدې کبله په شرعي احکامو کښې هم کله-کله په "تَوْصِيَة" سره تعبير صورت نيسي لکه چې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حُسْنًا ﴾ [العنکبوت: ۸] يعني: او مونږ انسان ته د خپل مور او پلار په ارتباط ښايسته توصيه کړې ده (چې اطاعت يې وکړي او خپه يې نه کړي).

څرنګه چې د څنکدن (د روح دقبض) په حالت کښې هرڅوک خپلوانو ته په هغه کار سره امر کوي او د هغه کار عهد ترې اخلي کوم چې ورته زيات اهميت لري او په تعميل باندې يې زور اچوي، نو په عرف کښې د همدغه حالت د خبرو څخه په "تَوْصِيَة" کولو سره تعبير صورت نيسي بلکې همدغه تعبير ورپورې اختصاص موندلی دی[1].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ذکر شوي عبارت کښې د "بِهَا" ضمير د مرجع په لحاظ دوه احتماله درلودلی شي چې دواړه په مصداق کښې متحد دي[2] هغه دا چې:

الف: دغه ضمير لرې وړاندې په ﴿ عَن مِّلَّةِ إِبْرَٰهِـۧمَ ﴾ کښې د ﴿ مِلَّةِ ﴾ کلمې ته راجع دی کومه چې په صراحت سره ذکره ده.

ب: دغه ضمير په نږدې متصل ايت کښې د ﴿ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ جملې ته د "کلمة" په تاويل سره راجع دی.

## د ابراهيم عليه السلام زامن

۴ـ په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ بَنِيهِ ﴾ په کلمې سره د ابراهيم عليه السلام زامنو ته اشاره ده چې ټول تعداد يې اتو (۸) تنو ته رسېده چې څه معلومات يې دا دي[3]:

الف: د ابراهيم عليه السلام د ټولو مشر زوی اسماعيل عليه السلام وه (چې مور يې بي بي هاجره وه) او په يو سلو اوه دېرش (۱۳۷) کلن عمر کښې وفات شوی دی.

ب: بل زوی يې اسحاق عليه السلام وه چې د اسماعيل عليه السلام څخه څوارلس کاله کشر وه (مور يې بي بي ساره رضي الله عنها نومېده) چې په خپل يو سلو اتيا (۱۸۰) کاله عمر کښې وفات شو.

ج: کله چې بي بي ساره رضي الله عنها وفاته شوه نو بيا ابراهيم عليه السلام يوه بله بي بي هم په نکاح واخسته چې "قطوره" يا "قنطوره" (رضي الله عنها) نومېده چې په نتيجه کښې د شپږو زامنو مور جوړه شوه او د ابراهيم عليه السلام د زامنو شمار يې اتو (۸) تنو ته اوچت کړ.

## يو نحوي تحليل

۵ـ په ذکر شوي عبارت ﴿ إِبْرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ ﴾ کښې د "يَعْقُوبُ" کلمه د "إِبْرَاهِيمُ" په کلمه باندې عطفه ده[4]. نو څه چې هلته مذکور دي هغه ټول دلته مقدر دي، ته به وايې چې داسې عبارت

(۱) روح المعاني ج۱ ص۳۸۹
(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۱۸۵
(۳) تفسير القرطبي ج۲ ص۱۳۵؛ تفسير القاسمي ج۲ ص۲۶۴
(۴) تفسير الکشاف ج۱ ص۱۹۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نازل شوی دی چې: "وَوَصَّى بِهَا يَعْقُوبُ بَنِيهِ" يعنې: يعقوب ﷺ هم د ابراهيم ﷺ غوندې د يوسف ﷺ په شمول خپلو دولسو (۱۲) زامنو ته توصيه وکړه چې ای زامنو!

## دوه ځله توصيه

۶_ ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي[1] چې يعقوب ﷺ خپلو زامنو ته دوه کرته په توحيدي دين سره توصيه کړې وه. هغه دا چې:

الف: کله چې يعقوب ﷺ په اول ځل مصر ته لاړ هلته يې وليده چې خلک بوت پرستان او اتش پرستان دي نو خپل ټول زامن يې ورغونډ کړه او په توحيد سره يې ورته توصيه وکړه، همدغې توصيې ته په همدغه ايت کښې اشاره شوې ده په کوم کښې چې بحث روان دی.

ب: بيا کله چې يعقوب ﷺ د ځنکدن حالت ته ورسېد نو خپل زامن او لمسيان او کړوسيان يې بيا راغونډ کړه او د اشارې په توګه يې ورته ذکره شوې توصيه تکراره کړه په کومې باندې چې په راتلونکي ايت کښې په ﴿ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنْ بَعْدِي ﴾ کښې صراحت نازل شوی دی او د سوال جواب په شکل يې صورت موندلی دی.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه الله ﷻ د يعقوب ﷺ د زامنو د خولو څخه د ﴿ قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَٰهًا وَاحِدًا ﴾ کلمات راحکايت کړي دي، چې خپل پلار ورته اسماعيل ﷺ د پلرونو په ډله کښې شمېرلی دی، شايد چې د دغو شمارلو وجه به دا وي چې:

اول: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَإِنَّمَا عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ»[2] يعنې نو يقيناً د سړي تره د هغه د پلار يوه څانګه ده (چې دواړه د يوه اصل نيکه څخه راجدا کېږي).

دوهم: څه لرې نه ده چې هغوی ته به د خپل پلار عادت معلوم وه چې اسماعيل ﷺ ته به يې د پلار لقب ورکاوه.

نو هغوی به د خپل پلار د عادت په مطابق ورته په پلرونو کښې شمېرلی وي او د همدې کبله به يعقوب ﷺ د هغوی خبره نه وي رده کړې چې اسماعيل ﷺ خو زما پلار نه دی بلکې تره مې دی.

## هېر مو نه شي!

۷_ هېر مو نه شي! چې په ذکرو شوو ايتونو کښې د "أَسْلِمْ، أَسْلَمْتُ، مُسْلِمُونَ، مُسْلِمُونَ" کلماتو څخه څرګندېږي چې د اسلام دين د ټولو پيغمبرانو دين دی.

يا په بل عبارت هر اسماني شريعت د "إسلام" په نامه يادېږي[3]. خو په عرف کښې د "اسلام" نوم د محمد ﷺ په شريعت پورې خاص شوی دی[4].

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۱۱۸
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱۷؛ مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۱۹۴
(۳) تفسير ابن کثير ج۱ ص۱۸۶
(۴) روح المعاني ج۱ ص۳۸۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا ۗ قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ
الْمُشْرِكِينَ ۝١٣٥ قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ
وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ
أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ۝١٣٦ فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا ۖ وَّإِن
تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ۖ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۝١٣٧ صِبْغَةَ اللَّهِ ۖ
وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً ۖ وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ ۝١٣٨﴾

[۱۳۵] او (تاسو ته) یهود او نصارا (بني اسرائیل) وایي چې تاسو یهودان یا نصارا جوړ شئ؛ ژر به سمه لاره مونده کړئ.

(ای پیغمبره! ته د ټولو مؤمنانو په نیابت سره ورته په جواب کښې) ووایه چې بلکې مونږ د ابراهیم ﷺ د دین (پیروي) کوو، چې د ټولو باطلو ادیانو څخه یې خپل ځان په څنګ ساتلی وه، او د مشرکانو څخه هم نه وه.

[۱۳۶] تاسو ټول (په یوه خوله کفارو ته) ووایاست چې: مونږ په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی او په هغه شي باندې هم چې مونږ ته نازل کړی شوی دی او په هغه شي باندې هم کوم چې ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ او (یا) اسحاق ﷺ او یعقوب ﷺ او (یا) اسباط (د یعقوب ﷺ د اولادې پیغمبرانو) ته نازل کړی شوی دی.

او (همدارنګه مونږ) په هغه شي باندې ایمان راوړی دی کوم چې موسی ﷺ ته او (کوم) چې عیسی ﷺ ته ورکړی شوی وه.

او (په هغه شي باندې هم) کوم چې نورو پیغمبرانو ته د خپل رب ﷻ د پلوه ورکړی شوی وه.

مونږ د پیغمبرانو څخه د یو پیغمبر په منځکښې هم فرق نه خپلوو (چې ایمان ورباندې رانه وړو). (لنډه دا چې) مونږ خاص الله ﷻ ته غاړه ایښودونکي یاستو.

[۱۳۷] نو که چرته کفارو د هغه شي په مثل باندې ایمان راووړ په کوم باندې چې تاسو راوړی دی (ستاسو غوندې موحدین جوړ شوه) نو یقیناً سمه لاره یې مونده کړه.

او که شا یې وګرځوله (په کفري عقیده کلک شوه) نو یقیناً (په دې صورت کښې) کفار (ستاسو سره) په عداوت او مخالفت کښې دي.

نو ډېر زر دی چې الله ﷻ به د هغوی څخه ستا دپاره کافي شي (او چاره به یې درته وکړي). او (دا ځکه چې) الله ﷻ اوریدونکی (او) پوه دی.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۳۸] (تاسو ورته ووایاست چې: مونږ) الله ﷻ د اسلام په دین (رنګ کړي یاستو) خپل رنګول (د پخې عقیدې توفیق یې راکړی دی).
او د الله ﷻ څخه د رنګولو د حیثه څوک ډېر ښه دی؟
او (دا هم ورته ووایاست چې) مونږ خاص د الله ﷻ دپاره عبادت کوونکي یاستو (او بس).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني [البقرة: ۱۲۴] ایت څخه را پدېخوا الله ﷻ په یوولسو (۱۱) ایتونو کښې د توحیدي ابراهیمي دین حقیقت بیان کړ او په همدې ارتباط یې د ابراهیم ﷺ په شمول د اسلافو نصائح او توصیې تشریح کړې. په دې ایتونو کښې د موجودو کفارو عموماً او د یهودو او نصاراوو خصوصاً عکس العمل ته اشارې کېږي چې د خپلو اسلافو د نصائحو سره یې څه ډول خط السیر خپل کړی دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! اوس په خپل امت باندې د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام د اولادونو د حالاتو څه بیان قرائت کړه چې د هغوی خط السیر یې تعقیب کړی دی او که رد کړی یې دی. هغه دا چې:

۱ـ موجودو کفارو د خپلو اسلافو عقیدوې تګلاره تعقیبه نه کړه بلکې یوې ډلې یهودیت غوره کړ او بلې ډلې نصرانیت ته لاس واچاوه او بالآخره مشرکان په خپله شرکي عقیده کلک پاتې شوه.

برسېره په دې ذکرې شوې درېواړه ډلې هره یوه خپل باطل دین ته دعوت هم چلوي چې:

الف: یهودان وایي چې ای د محمدي (ﷺ) دین پیروانو! تاسو یهودان جوړ شئ ترڅو سمه لاره مونده کړئ.

ب: نصارا ورته وایي چې ستاسو هدایت او د سمې لارې موندل فقط په نصرانیت کښې نغښتي دي.

ج: بالآخره، مشرکان ورته د هدایت د موندلو دپاره د شرکي عقیدې وړاندیز کوي چې سمه سیده لاره دغه ده..

۲ـ ای پیغمبره! د دغو درېواړو ډلو په جواب کښې ووایه چې دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ بلکې حق دین د ابراهیم ﷺ دین دی چې په توحید باندې ولاړ دی.

ابراهیم ﷺ نه یهودي وه او نه نصراني وه او بالآخره نه مشرک وه او نه د بلې باطلې عقیدې درلودونکی وه، نو سمه سیده لاره فقط همدغه ده او بس.

۳ـ ای پیغمبره! ته (او ستا پیروان) د هغوی په جواب کښې څه زیات وضاحت وکړئ او ورته ووایاست چې:

الف: مونږ په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی چې په عبادت کښې هیڅ شریک او سیال نه لري.

ب: مونږ په هغه کتاب باندې ایمان راوړی دی کوم چې مونږ ته نازل شوی دی کوم چې د قرآن کریم څخه عبارت دی.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ج: مونږ په هغو ټولو شیانو باندې ایمان راوړی دی کوم چې پخوانیو پیغمبرانو علیهم‌السلام ته ورنازل شوي وه، لکه ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ او هم اسحاق ﷺ او یعقوب ﷺ او بالآخره هغه پیغمبران کوم چې د یعقوب ﷺ په اولاده کښې تېر شوي دي. لکه یوسف ﷺ او نور.

د: مونږ په هغو کتابونو باندې هم ایمان راوړی دی کوم چې موسی ﷺ او عیسی ﷺ ته ورکړی شوي وه. لکه تورات او انجیل.

ه: بالآخره مونږ په هغې وحې باندې هم ایمان راوړی دی کوم چې نورو پیغمبرانو علیهم‌السلام ته د خپل رب ﷻ د پلوه ورکړه شوې وه. لکه د داوُد ﷺ زبور او نورې صحیفې او خوارق. که څه هم تفصیلوار راته معلوم نه دي.

و: لنډه دا چې مونږ په ټولو پیغمبرانو علیهم‌السلام باندې د حقانیت او صداقت عقیده لرو که څه هم د ځینو نومونه پېژنو او د ځینو نورو نومونه نه دي رابښودلي شوي.

مونږ د ټولو پیغمبرانو علیهم‌السلام په هکله په تفریق باندې معتقد نه یاستو چې یو ومنو او د بل څخه انکاري جوړ شو.

ز: بالآخره، مونږ خاص خپل رب ﷻ ته غاړه اېښودونکي یاستو او په هغې توحیدي عقیده باندې کلک ولاړ یاستو کومه چې ابراهیم ﷺ او یعقوب ﷺ خپلو اولادونو ته توصیه کړې وه چې په توحیدي عقیده ټینګ شئ او کفري عقیدې ته میلان مه کوئ.

۴_ ای پیغمبره! بالمقابل تاسو یهودان او نصارا او هم مشرکان او نور کفار خپلې توحیدي عقیدې او ابراهیمي دین ته دعوت کړئ، نو:

الف: که چرته هغوی ستاسو دعوت قبول کړ او ستاسو غوندې ایمان یې راوړ چې ټول پیغمبران علیهم‌السلام او ټول ما انزل الله یې قبول کړه، نو یقیناً په دغه صورت کښې هغوی ستاسو غوندې سمه لاره موندلې کړه.

ب: که ستاسو دعوت یې قبول نه کړ او هغې عقیدې ته یې شا کړه کومه چې تاسو خپله کړې ده. نو یقیناً هغوی په دغه صورت کښې فقط په دښمنۍ او هم ستاسو په مخالفت باندې اخته دي او عناد نیولي دي.

ج: نو ای پیغمبره! ډېر ژر به الله ﷻ د هغوی چاره وکړي او ستا په وړاندې به یې د شکست سره مخامخ کړي چې ستا د دعوت په وړاندې به خنډ ونه شي ګرځېدلی.

دا څکه چې یقیناً الله ﷻ اورېدونکی دی، ستاسو دعوت او د هغوی عنادي جوابونه یې اورېدلي دي او هم پوه دی چې ستاسو د زړونو اخلاص او د هغوی د زړونو عناد ورته ښه پوره معلوم دی، نو تاسو هغوی ته یو ځل بیا ووایاست چې:

د کومه عقیده چې مونږ خپله کړې ده هغه په مونږ پورې داسې کلکه نښتې ده لکه څنګه چې د بوټې جامې پورې خپل اصلي رنګ نښتی وي. مونږ په دغه اسلامي رنګ سره الله ﷻ رنګ کړي یاستو چې د همدغه توحیدي دین هدایت یې راته کړی دی.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا داسې څوک شته چې د رنګ ورکولو د حیثه د الله ﷻ څخه د هر بنه او بهتر وي؟.

نو د همدې کبله مونږ په همدغه دین باندې کلک یاستو او خاص خپل رب (الله ﷻ) ته عبادت کوونکي یاستو او بس.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ مِلَّةَ ﴾ کلمه په مقدر "نَتَّبِعُ" سره منصوبه ده چې په عین ایت کښې ورباندې د معنی په لحاظ د ﴿ كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا ﴾ کلمات دلالت کوي[۱].

ب: د ﴿ حَنِيفًا ﴾ کلمه د "حَنَف" ـ لکه "شَرَف" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، د لغت په لحاظ "حَنَف" دېته وايي کېږې چې د چا د یوې پښې غټه ګوته د بلې پښې غټې ګوتې ته مائله وي[۲].

که څه هم ذکر شوي ډول بنیادم ته په پښتو کښې کوم خاص نوم نشته، مګر کېدی شي چې د "کجي" په نامه یاد شي. په پښتو کښې هغه څوک د کجي په نامه یادېږي چې د چا د یوې پښې پونده د بلې پښې پوندې ته مائله وي.

ج: که څه هم ځینو علماوو کرامو ذکره شوې کلمه ﴿ حَنِيفًا ﴾ د ﴿ مِلَّةَ ﴾ د کلمې څخه په حالیت باندې منصوبه ګڼلې ده[۳]، خو مونږ ته بهتره برېښي چې د ﴿ إِبْرَاهِيمَ ﴾ د کلمې څخه په حالیت سره منصوبه وګڼله شي او دا ځکه چې په ﴿ وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا ﴾ [آل عمران: ۶۷] کښې همدغه کلمه د ابراهیم ؑ په صفت باندې دلالت کوي نه د ملت په صفت باندې.

یا په بل عبارت: ابراهیم ؑ د ټولو باطلو ادیانو څخه حق دین ته ګرځېدونکی وه نو ذکر شوی لقب یې ګټلی وه.

یعني: ای بني اسرائیلو! ای یهودانو او نصاراوو! مونږ ستاسو د دین اتباع نه خپلوو لکه چې تاسو ورباندې ټینګار کوئ بلکې مونږ په داسې حال کښې د ابراهیم ؑ د دین اتباع خپلوو چې د ټولو باطلو ادیانو څخه حق دین ته تاوېدونکی او راګرځېدونکی وه او ورباندې کلک وه.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د "حَنِيف" لقب یوازې په ابراهیم ؑ پورې خاص ګرځولی شوی دی حال دا چې هر یو پیغمبر د باطلو ادیانو څخه حق دین ته ګرځېدونکی وه او په توحیدي عقیده باندې کلک وه؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ: څرنګه چې د ټولو باطلو ادیانو خاوندانو هرې یوې ډلې خپل باطل

(۱) تفسیر أبي السعود ج۱ ص۱۶۶
(۲) لسان العرب ج۹ ص۵۶
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۵۱۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دين په ابراهيم ﷺ پورې ورتاپه، نو الله ﷻ هغه ﷺ ته په ذکر شوي لقب باندې صراحت نازل کړ ترڅو په هغوی ټولو باندې رد صورت ونيسي.

## "أَسْبَاط" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ ﴾ کښې د "أَسْبَاط" کلمه د "سِبْط" ـ لکه "عِلْم" ـ جمعه ده، چې د لمسي دپاره وضعه شوې ده(۱)، نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «حُسَيْنٌ سِبْطٌ مِنَ الْأَسْبَاطِ»(۲) يعنې: حسين ﷺ زما د لمسيانو څخه يو لمسی دی.

په عُرف کښې دغه کلمه (أَسْبَاط) د يعقوب په اولادې پورې مختصه ګرځولې شوې ده چې زامنو او لمسيانو او کړوسيانو ټولو ته شموليت لري.

که څه هم د يعقوب ﷺ په نسل کښې زښت ډېر پيغمبران تېر شوي دي. حتی ځينو علماوو کرامو ليکلي دي(۳) چې د لسو پيغمبرانو څخه په غير نور ټول پيغمبران عليهم السلام د يعقوب ﷺ د نسل څخه دي.

د دغو لسو پيغمبرانو نومونه دا دي: نوح ﷺ، شُعيب ﷺ، هود ﷺ، صالح ﷺ، لوط ﷺ، ابراهيم ﷺ، اسحاق ﷺ، يعقوب ﷺ، اسماعيل ﷺ، محمد ﷺ (خاتم الأنبياء).

مګر د يعقوب ﷺ په زامنو کښې يوازې د يوسف ﷺ نبوت ثابت دی او د نورو يوولسو زامنو په نبوت کښې يې شک دی(۴)، والله ﷻ أعلم.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنياد په ﴿ قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ ﴾ الآية کښې د ځينو پيغمبرانو عليهم السلام په نومونو باندې صراحت نازل شو حال دا چې موسی ﷺ او عيسی ﷺ په "أَسْبَاط" کښې شامل دي او ابراهيم ﷺ، اسماعيل ﷺ، اسحاق ﷺ او يعقوب ﷺ د ﴿ ٱلنَّبِيُّونَ ﴾ په کلمه کښې شموليت لري؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: دا د دې دپاره ترڅو مشرکان او هم يهود او نصارا ايمان راوړلو ته ترغيب شي ځکه چې دغو پيغمبرانو هغوی ته مقبوليت درلود چې ځينې يوه ته معتقد وه او ځينې بل ته او ابراهيم ﷺ خو د ټولو په نزد مقبول وه.

## "شِقَاق" څه معنی؟

۵ـ په ﴿ وَإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ﴾ کښې د ﴿ شِقَاقٍ ﴾ کلمه د مخالفت دپاره وضعه شوې

(۱) لسان العرب ج۷ ص۳۱۰؛ مفردات الراغب ص۲۲۷
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱۸؛ مسند أحمد بن حنبل ج۶ ص۱۷۸
(۳) تفسير ابن کثير ج۱ ص۱۸۵، تفسير القرطبي ج۲ ص۱۴۱
(۴) روح المعاني ج۱ ص۳۹۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ده(۱)، چې د عناد او تعصب ښخه نمایندګي کوي، لکه چې یو سړی د بل چا په څنګ کښې نه بلکې په مقابل طرف کښې قرار ونیسي. یعنې: سره د دې چې تاسو په هغو ټولو پیغمبرانو علیهم السلام باندې ایمان راوړی دی کوم چې هغوی ته مقبول دی خو هغوی په هغه پیغمبر (محمد ﷺ) باندې ایمان نه راوړي په کوم باندې چې تاسو ایمان راوړی دی.

دغه ډول خط السیر نیول د دې خبرې دلیل دی چې هغوی ستاسو سره په ډېر زیات تعصب او عناد او هم په مخالفت او دښمنۍ کښې اخته دي.

## د "نصْرَة" وعده

۶ـ په ﴿ فَسَيَكْفِيكَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته د اشارې په توګه د نصرت وعده ورکړې ده. دا ځکه چې د "یَکْفِي" کلمه د "کِفَایَة" ـ لکه "رِعَایَة" ـ ښخه اشتقاقه شوې ده چې مراد ته د رسېدلو دپاره د بسوالي معنی ورکوي(۲)، یعنې: ای پیغمبره! د کفارو د مخالفت او عداوت په صورت کښې به الله ﷻ تاته د هغوی په مقابل کښې کفایت او بسوالی وکړي او ورباندې به دې غالب وګرځوي.

الله ﷻ خپله وعده رښتیا کړه چې د مشرکانو قوت یې مات کړ او مکه معظمه یې ورته فتحه کړه او هم یې مدینه منوره د یهودانو د درېواړو قبیلو ښخه پاکه او خالي کړه، والحمد لله ﷻ.

## د "صِبْغَةَ اللهِ" معنی

۷ـ د ﴿ صِبْغَةَ ٱللَّهِ ﴾ الآیة په ارتباط لاندې معلومات ولولئ:

الف: ﴿ صِبْغَةَ ﴾ کلمه مصدر ده، او په هغه حالت باندې دلالت کوي کوم چې په رنګ کړی شوي شي کښې د رنګ کولو ښخه وروسته قرار نیسي(۳)، چې تک سور یا تک تور یا په بل رنګ باندې واوړي.

په دې مقام کښې علماوو کرامو هغه په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده(۴)، مګر عبد الله بن عباس رضی الله عنهما وايي چې دلته دغه کلمه (صِبْغَة) د "دین" معنی ورکوي(۵)، ته به وايي چې "دین الله" نازل شوی وي.

ب: د دغې کلمې د اعراب (نصب) په هکله هم علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي(۶)، خو د مقام سره مناسب احتمال دا دی چې دغه کلمه د هغې مقدرې جملې دپاره د مفعول مطلق په

(۱) القاموس المحیط ج۲ ص۹۲۹
(۲) مفردات الراغب ص۴۵۴
(۳) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۶۸؛ لسان العرب ج۸ ص۴۳۷
(۴) المحرر الوجیز ج۱ ص۲۷۰
(۵) الدر المنثور ج۱ ص۳۴۰
(۶) اللباب في علوم الکتاب ج۲ ص۵۲۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۸۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حیث منصوبه ده په کومې باندې چې وړاندېنی کلام دلالت کوي، دغه ډول مفعول مطلق ته نحویان د تاکید لنفسه" لقب ورکوي[۱].

یا په بل عبارت: د ﴿ قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ ﴾ څخه تر ﴿ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ پورې کلمات د "صبغنا الله" په جمله باندې دلالت کوي، ته به وایې چې: "صبغنا الله صِبْغَةً" جمله نازله شوې ده.

ج: بیا د "صبغنا" کلمه حذفه شوې ده او د "الله" مبارکه کلمه د ﴿ صِبْغَةَ ﴾ دپاره مضاف الیه ګرځولې شوې ده، چې نازل شوی عبارت ﴿ صِبْغَةَ ٱللَّهِ ﴾ ترې جوړ شوی دی.

یعنې: ای مؤمنانو! تاسو کفارو ته ووایاست چې مونږ د الله ﷻ په توفیق په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام باندې او هم په ټول ما انزل الله باندې ایمان راوړی دی.

او دا هم ورته ووایاست چې مونږ الله ﷻ په حقیقي معناوو کښې د خپل غوره دین (اسلام) په رنګ باندې رنګ کړي یاستو. نو تاسو هم توحیدي عقیده خپله کړئ چې زمونږ غوندې مو د اسلام د غوره دین په رنګ باندې رنګ کړي او پرې دینداره مو وګرځوي.

د: پاتې شوه دا خبره چې په څه مناسبت سره په دې مقام کښې د ایمان د راوړلو او د دیندار ګرځولو څخه په رنګولو سره تعبیر نازل کړی شو؟

نو که څه هم ځینو علماوو کرامو دغه تعبیر په مشاکلت باندې حمل کړی دی چې پوره بیان یې په علم البدیع کښې ذکر دی[۲]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په دغه تعبیر سره د ایمان قوت ته اشاره ده چې مونږ الله ﷻ په ایمان سره داسې ښایسته کړي یاستو چې زمونږ د ایمان او زمونږ د دینداري اثار د ورایه څرګند دي لکه څنګه چې په رنګ کړی شوې جامه باندې د رنګ اثار د ورایه په سترګو ښکارېږي او د هیچا څخه پټ نه وي.

﴿ قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِي ٱللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ
مُخْلِصُونَ (۱۳۹) أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطَ
كَانُواْ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ۗ قُلْ ءَأَنتُمْ أَعْلَمُ أَمِ ٱللَّهُ ۗ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ
مِنَ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ (۱٤۰) تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا
كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ (۱٤۱) ﴾

[۱۳۹] (ای پیغمبره! اهل الکتابو ته) ووایه چې: ایا تاسو زمونږ سره د الله ﷻ په هکله جګړې کوئ؟ حال دا چې الله ﷻ زمونږ رب دی او ستاسو رب هم دی او زمونږ دپاره خپل عملونه دي او

(۱) شرح ملا جامي في النحو ص ۱۰۰
(۲) مختصر المعاني قسم البدیع ص ۴۵۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ستاسو دپاره خپل عملونه دي. (حال دا چې) مونږ خاص الله ﷻ ته اخلاص درلودونکي یاستو (او تاسو ورته اخلاص نه لرئ).

[۱۴۰] ایا تاسو وایاست چې: یقیناً ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ او (هم) اسحاق ﷺ او یعقوب ﷺ او د یعقوب ﷺ اولاده یهودان یا نصارا وه؟.

(بیا ورته) ووایه چې: ایا تاسو ښه پوهېږئ او که الله ﷻ ښه پوهېږي؟ (الله ﷻ وایي چې ذکر شوي پیغمبران نه یهودان وه او نه نصارا وه بلکې موحدین وه او بس).

او د هغه چا څخه بل غټ ظالم څوک دی کوم چې (د خپل کتاب) داسې شهادت پټوي کوم چې د هغه په نزد د الله ﷻ د پلوه په ثبوت رسېدلی وي؟

او الله ﷻ ستاسو د هغو کارونو څخه ناخبر نه دی کوم چې تاسو لګیا یاست چې روزمره یې عملي کوئ (نو موافقه سزا به درکړي).

[۱۴۱] دغه (د پیغمبرانو ټولګی) یو ټولګی وه چې تېر شوی دی د دوی دپاره هغه څه دي کوم یې چې کسب کړي دي او ستاسو دپاره (ای اهل الکتابو) هغه څه دي کوم چې تاسو کسب کړي دي.

او تاسو به د هغو کارونو څخه ونه پوښتلی شئ کوم چې دوی وه چې کسب کول به یې (او نه به دوی د هغو کارونو څخه وپوښتلی شي کوم چې تاسو لګیا یاست چې کسب کوئ یې او یا مو پخوا کسب کړي دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې هغه دعوت رد شوی وه کوم چې د بني اسرائیلو (یهودو او نصاراوو) د پلوه مؤمنانو ته صورت نیولی وه چې تاسو زمونږ دین ته راواوړئ.

په دې ایتونو کښې هغه استدلالات رد شوي دي د کومو په بنیاد چې هغوی ذکر شوي دعوت ته صورت ورکاوه. هغه دا چې هغوی به ویل چې زمونږ اتباع او پیروي حقه ده چې زمونږ دین سابقه لري او شریعتونه په مونږ باندې نازل شوي دي، په عربو کښې خو (د هغوی په قول) نه کوم پیغمبر تېر شوی دی او نه ورباندې کوم شریعت نازل شوی دی.

په دې باندې علاوه زمونږ پلرونه پیغمبران وه چې د قیامت په ورځ به هرومرو مونږ ته شفاعت کوي چې یوازې همدا مونږ په ابراهیمي دین باندې باقي پاتې یاستو[۱].

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! یهود او نصارا مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ ـ ای بني اسرائیلو او اهل الکتابو! ایا تاسو زمونږ سره د الله ﷻ په هکله جګړه کوئ حال دا چې:

الف: الله ﷻ لکه څنګه چې ستاسو رب دی همدارنګه زمونږ رب هم دی، بلکې الله ﷻ د ټولو عالمونو رب دی چې فضل یې ټولو عالمونو ته شامل دی، د همدې کبله یې په مونږ عربو کښې آخر الزمان پیغمبر (محمد ﷺ) مبعوث کړ.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۲۱؛ تفسیر المراغي ج۱ ص۲۲۸.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین الخوا سکین شو


نو لکه څنګه چې مونږ په هغو ټولو پیغمبرانو علیهم السلام باندې ایمان راوړی دی کوم چې په تاسو کښې تېر شوي دي باید تاسو هم زمونږ غوندې په آخر الزمان پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړئ کوم چې د عربو د نسل څخه دی.

ب: مونږ تاسو ته د آخر الزمان پیغمبر د اتباع دعوت د دې دپاره درکوو چې په دې کښې ستاسو ګټه ده چې نن ورځ د نجات لاره فقط همدغه ده او بس. که نه نو ستاسو دپاره خپل عمل دی، ښه وي او که بد او زمونږ دپاره خپل عمل دی، ښه وي او که بد.

ج: خو څرنګه چې زمونږ عبادت او نېک اعمال د اخلاص په بنیاد صورت نیسي نو هیله ده چې زمونږ د رب ﷻ په نزد به مقبول وګرځي او ستاسو عبادت په اخلاص ولاړ نه دی (چې د خپل رب ﷻ ټول پیغمبران نه قبلوئ) نو د قبول درجې ته به هم ونه رسېږي.

۲_ ای اهل الکتابو! که بالفرض محض نسب د افضلیت سبب ګرځېدلی شوی نو ابراهیم ﷺ به د ټولو خلکو دپاره امام نه وی جوړ شوی چې پلار یې (آزر) کافر او مشرک وه.

۳_ ایا تاسو په ابراهیم ﷺ او په اسماعیل ﷺ او هم په اسحاق ﷺ او په یعقوب ﷺ او بالآخره په هغو پیغمبرانو باندې کوم چې د یعقوب ﷺ په نسل کښې تېر شوي دي، یهودیت او نصرانیت ورتپئ؛ حال دا چې د هغوی په زمانو کښې خو نه یهودیت موجودیت درلود او نه نصرانیت، بلکې دغه دواړه لقبونه خو تاسو د هغوی د وفات څخه وروسته اختراع کړي دي.

۴_ که تاسو ذکره شوې خبره نه منئ او د یهودیت او نصرانیت په سابقیت باندې معتقد یاست نو جواب راکړئ چې ایا تاسو ښه پوهېږئ او که الله ﷻ ښه پوهېږي؟ الله ﷻ خو وایي چې ذکر شوي دواړه لقبونه سابقه نه لري او تاسو ورته په سابقه قائل یاست.

۵_ او ای اهل الکتابو! تاسو.ته خو په خپلو کتابونو (تورات او انجیل) کښې معلومه ده چې آخر الزمان پیغمبر څه شکل او څنګه څېره لري، ایا همدغه شکل او څېره په محمد ﷺ باندې تطبیقه نه ده؟

ذکره شوې څېره ورباندې تطبیقه ده خو تاسو ورباندې سترګې پټوئ او تحریف ورکوئ او هم په همدغې څېرې باندې د شهادت څخه انکار خپلوئ.

نو ایا د هغه چا څخه ډېر غټ ظالم شته؟ کوم چې د خپله خانه سره داسې علم او شهادت پټوي چې د الله ﷻ د پلوه ورته د دې دپاره ورکړی شوی وي چې پخپله ورباندې ایمان راوړي او نورو خلکو ته یې د ایمان راوړلو په غرض اظهار او څرګند کړي.

۶_ ای اهل الکتابو! نو په همدې بنیاد ستاسو څخه نور غټ ظالمان نشته چې د الله ﷻ درکړی علم پټوئ او تحریف کړی شوی علم خلکو ته څرګندوئ، ترڅو هغوی هم د خپلو ځانونو په څېر بې لارې کړئ.

نو الله ﷻ د هغه خط السیر او هغو کړو وړو څخه ناخبر نه دی کوم چې تاسو یې مرتکبین یاست، نو هرومرو به مطابقه سزا درکړي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷_ ای اهل الکتابو! تاسو یو خل بیا واورئ چې ستاسو دپاره د اسلافو نیکۍ څه په درد نه خوري، د هر چا نیکۍ فقط د خپل خان دپاره دي او بس.
همدارنګه د هر چا بد عمل د خپلې غاړې هار دی او د قیامت په ورځ به يې په اوږو باندې بار وي، ستاسو بدۍ ستاسو د اسلافو په اوږو نه وراچولی کېږي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِي ٱللَّهِ ﴾ کښې د اهل الکتابو هغې جګړې ته اشاره شوې ده کومه چې د الله ﷻ په توفیق د [البقرة: ۱۱۱] ایت په توضیحاتو کښې تېره شوې ده چې مونږ په ګناه باندې د الله ﷻ په نزد نه مواخذه کېږو او جنت په مونږ پورې اختصاص لري، او بالآخره د اُمیانو مالونه مونږ ته حلال دي.
نو په دې مقام کښې دهغوی جګړې ته داسې جواب ورکړی شوی دی چې:
الف: ای أهل الکتابو! تاسو په مونږ باندې هیڅ امتیاز نه لرئ بلکې زمونږ او ستاسو ټولو رب الله ﷻ دی او مونږ تاسو ټول د همده ﷻ مربوبین یاستو.
ب: بلکې مونږ د الله ﷻ په نزد په تاسو باندې د امتیاز درلودونکي یاستو چې زمونږ د اعمالو او کړو وړو سره اخلاص ملګری دی او تاسو نه عقیدوي اخلاص لرئ او نه مو په اعمالو کښې اخلاص شتون لري. دا ځکه چې تاسو عُزَیر ﷺ ته د ابن الله لقب ورکوئ او عیسی ﷺ مو خپل معبود ګرځولی دی حال دا چې مونږ دغه دواړه د الله ﷻ مقرب بندګان ګڼو او بس.
همدغه مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِ ﴾ [آل عمران: ۲۰] یعنې: نو ای پیغمبره! که ستا سره آهل الکتابو د الله ﷻ په هکله جګړه پیل کړه نو ته ورته په جواب کښې ووایه چې ما خپل مخ (خپل ذات) په اخلاص سره الله ﷻ ته منقاد او غاړه اېښودونکی ګرځولی دی او هغه چا هم (دغه کار کړی دی) کوم چې زما پیروي کوي، حال دا چې تاسو نه اخلاص لرئ او نه یوازې الله ﷻ ته غاړه اېښودونکي یاست.

## هېر مو نه شي!

۲_ هېر مو نه شي چې د ﴿ أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَٰهِـۧمَ ﴾ الآیة مضمون د [آل عمران: ۶۵_۶۷] ایتونو کښې ښه تفصیلوار نازل شوی دی، نو هیله ده چې لوستونکي هلته یو ځل د زیات وضاحت دپاره مراجعه وکړي.

## یو تفسیري تحلیل

۳_ د ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ﴾ جمله ځینو مفسرینو کرامو د تفسیر په لحاظ په متعددو طریقو سره تحلیله کړې ده[1]، خو مونږ ته غوره تحلیل دا دی چې:

---

(۱) البحر المحیط ج۱ ص۶۶۱؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۷۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ عِندَهُۥ ﴾ او ﴿ مِنَ ٱللَّهِ ﴾ دواړه کلمات د يوه مقدر متعلق په اعتبار سره د "شَهَادَةً" دپاره دوه صفتونه دي، ته به وايي چې داسې نازل شوی دی چې: "شَهَادَةً ثَابِتَة عِنْدَهُ مِنَ اللهِ" يعني: د هغه چا څخه بل غټ ظالم څوک دی چې د خپل کتاب داسې شهادت پټوي کوم چې د هغه په نزد د الله ﷻ د پلوه په ثبوت رسېدلی وي او هم ترې تعهد اخستلی شوی وي چې دغه شهادت به خلکو ته ابلاغوي، نه به يې ترې پټوي او نه به تحريف ورکوي.

د همدغه ايت مضمون ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُۥ ﴾ [آل عمران:۱۸۷] يعنې: او ته هغه وخت ياد کړه چې الله ﷻ د هغو کسانو څخه کلکه وعده واخسته کومو ته چې کتاب ورکړی شوی دی چې په سوګند سره به هرومرو خلکو ته هوبهو خپل کتاب څرګندوئ چې نه به يې پټوئ او نه به پکښې تحريف ته صورت ورکوئ. حال دا چې هغوی هم پټ کړ او هم يې پکښې تحريف ته صورت ورکړ چې ترڅو آخر الزمان پيغمبر (محمد ﷺ) څوک په نبوت سره ونه پېژني او زمونږ رشوت اخستل زيانمن ونه ګرځي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: دغه ايت ﴿ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ﴾ الآية خو لږ وړاندې يو ځل نازل شوی دی نو په عين موضوع کښې يې په دوهم کرت نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو _والله ﷻ أعلم_ چې:

الف: دغه ايت وړاندې د اسلافو د وصاياوو په تعقيب نازل شوی وه چې ای اهل الکتابو! که بالفرض ستاسو دعوې صحت درلودی چې جنت يوازې په تاسو پورې اختصاص لري نو ستاسو اسلافو به ورباندې ضرور په خپلو وصاياوو کښې صراحت کړی وی چې ستاسو جنت ته داخلول زمونږ ذمه واري ده، نو تاسو به اوس نقلي دليل په لاس کښې درلودلی وي.

او دلته دغه ايت د هغو استدلالاتو د رد په تعقيب نازل شوی دی کوم چې هغوی به د خپل دعوت د اثبات دپاره اقامه کول.

ته به وايي چې هغوی مخاطب کړی شوي دي چې ای اهل الکتابو! که بالفرض ستاسو دعوې څه صحت درلودی نو عقل به يې هم غوښتنه کړې وی، او تاسو به عقلي دليل په لاس کښې درلودی. نو په همدې بنياد تاسو اوس د خپلې مدعی د اثبات دپاره نه عقلي دليل په لاس کښې لرئ او نه نقلي دليل راحکايت کولی شئ، نو ستاسو دعوه عقلا او نقلا باطله ده.

لنډه دا چې ذکر شوی اعتراض به په هغه وخت کښې په ځای وی چې ذکرو شوو دواړو ايتونو په حيثيت سره هم تغير نه درلودی بلکې من کل الوجوه کټ مټ متحد وی.

ب: په دې باندې علاوه که مونږ ذکر شوی د حيثيت تغير په نظر کښې ونه نيسو نو بيا په جواب کښې وايو چې:

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ځرنګه چې اهل الکتابو د دغې پلمې ځخه د عوامو په غولونه کښې زښت ډېر کار اخستے چې زمونږ د جنایاتو ذمه واري زمونږ د اسلافو په غاړه ده چې په شفاعت سره هرومرو ترې نجات راکوي او جنت ته به داخلېږو او همدارنګه دغه پلمه د زیاتو مفاسدو بنسټ وه، نو الله ﷻ یې په رد باندې تاکید وکړ او دوه کرته یې ردّه کړه چې ترڅو هغوی قناعت خپل کړي او عوام وربانديې ونه غولېږي.

د قرآن کریم په نورو ایتونو کښې هم په مهمو مطالبو کښې دغه ډول تاکیـد صورت نیولی دی لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ۝ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴾ [النبأ: ۴_ ۵] یعني: دغسې نه ده ژر ده چې مشرکان به پوه شي، بیا وایم چې دغسې نه ده ژر ده چې مشرکان به پوه شي (چې په غلطه لاره باندې روان دي).

ج: دا هم څه لرې نه ده چې وړاندې په [البقرة: ۱۳۴] ایت کښې اهل الکتاب مخاطب کړی شوي دي او په دې ایت کښې چې بحث پکښې روان دی د آخر الزمان پیغمبر ﷺ امت ته د کلام مخ وراړولی شوی دی چې پام کوئ چې تاسو د اهل الکتابو غوندې لاره غلطه نه کړئ چې په خپلو اسلافو باندې اتکاء او اعتماد خپل کړئ او د نېک عملي ځخه لاس واخلئ[1].

په همدې ځای د اولې سپارې پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو، والحمد لله ﷻ.

اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا التُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْاِسْتِقَامَةَ وَالثَّبَاتَ.

اللَّهُمَّ لَا تَكِلْنَا إِلَى نُفُوسِنَا طَرْفَةَ عَيْنٍ وَاهْدِنَا إِلَى مَا تُحِبُّ وَتَرْضَى.

۱۴۱۱/۸/۲۰ هـ ق = ۱۳۶۹/۱۲/۱۶ هـ ش.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۷۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


﴿سَيَقُولُ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَ ٱلنَّاسِ مَا وَلَّىٰهُمْ عَن قِبْلَتِهِمُ ٱلَّتِي كَانُواْ عَلَيْهَا ۚ قُل لِّلَّهِ ٱلْمَشْرِقُ
وَٱلْمَغْرِبُ ۚ يَهْدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٤٢﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا
لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ۗ وَمَا جَعَلْنَا ٱلْقِبْلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ
عَلَيْهَآ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى
ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ ۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٣﴾﴾

[۱۴۲] ژر دی چې د خلکو ځنې به ساده ګان ووایي چې (مسلمانان) څه شي د هغې قبلې څخه واړول چې تر اوسه ورباندې کلک ولاړ وه (چې هغه د بیت المقدس څخه عبارت ده).

ورته ووایه چې خاص الله ﷻ لره مشرق او مغرب دی (ټوله دنیا د ده ﷻ ده) هر چا لره یې چې اراده وشي سمې لارې ته یې هدایت کوي).

[۱۴۳] او همدارنګه (لکه چې هدایت یې درته کړی دی) غوره ټولنه یې ګرځولي هم یاست ترڅو تاسو په خلکو باندې شاهدان (څارونکي) شئ او ترڅو نبي کریم ﷺ په تاسو باندې څارونکی شي (چې تاسو ته احکام درزده کوي او تاسو یې خلکو ته ابلاغوئ).

او مونږ ستا قبله هغه جهت چې تهورباندې (په مکه معظمه کښې) وې د بل شي دپاره قبله نه ګرځوو مګر د دې دپاره چې هغه څوک معلوم کړو چې هغه د پیغمبر ﷺ متابعت کوي د هغه چا څخه چې بېرته په خپلو پوندو باندې تاوېږي.

او بې شکه د قبلې تاوول په هر چا درانه تمامېږي مګر په هغو کسانو باندې نه کومو ته چې الله ﷻ هدایت کړی دی (چې هغه مسلمانان دي) او نه دی الله ﷻ چې ستاسو ایمان (لمونځونه) ضائع کړي.

بې شکه الله ﷻ په خلکو باندې د ډېرې نرمۍ خاوند (او هم پرې) ډېر مهربان دی.

## څو مقدمات

۱ـ قرآن کریم په داسې وخت کښې الله ﷻ نازل کړ چې د نړۍ ټولو انسانانو د حال په ژبه غوښته اوټول ورته احتیاج وه چې خلک په ډول-ډول بدبختیو اخته وه او دحیواناتو سره یې مشابهت درلود.

۲ـ نو الله ﷻ د نړۍ والو سوال قبول کړ او د قرآن کریم د نزول او د نبي کریم ﷺ د مبعوثیت اراده یې وکړه چې د قیامت تر ورځې پورې د خلکو مشکلات حل کړي.

۳ـ قرآن کریم د خلکو مشکلات هغه وخت حل کولی شي چې په عملي ساحه کښې پیاده شي، محض په تلاوت او قرائت باندې که څه هم ثوابونه لري خو د مفاسدو مخه پرې نه نیوله کېږي.

۴ـ د قرآن کریم ﷺ د عملي کولو دپاره با نفوذه جامعه ضرور ده چې خپل سیاسي قدرت ولري چې د ایمان او عقیدې په رڼا کښې یې په ډېر اخلاص سره په خلکو تطبیق کړي. که بالفرض

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مسلمانان بانفوذه خپلواکه جامعه ونه لري او په دنیا کښې د نورو د سوري لاندې ژوند کوي او سره د دې دوی آرزو ولري چې قرآن کریم به په ځمکه کښې پیاده کړي او د مفاسدو مخه به ورباندې ونیسي دا محض خام فکر دی او بس. خلک وايي چې د سوال په اوبو باندې ژرنده نه ګرځي.

۵ـ د خپلواکه جامعې تیره په مدینه منوره کښې کېښودله شوه ځکه چې مسلمانانو په مکه معظمه کښې بانفوذه جامعه نه درلوده. د همدې کبله الله ﷻ عملي احکام هم نه نازلول چې په دوی کښې يې د پیاده کولو توان نه وه.

په مدینه منوره کښې هم چې څومره د مسلمانانو د جامعې توان او نفوذ زیاتېده په همغې اندازه د احکامو د نزول کیفیت هم زیادت پیدا کاوه، د مثال په توګه په اولو وختونو کښې د منافقانو سره لږ څه په نرمه وضعه د ګوزارې امر کېده، خو په آخر کښې چې اسلامي جامعې پوره وده وکړه نبي کریم ﷺ ته امر وشو چې: ﴿وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡ﴾ [التوبة:۷۳] یعنې: په دوی (منافقانو) باندې د غلظت څخه کار واخله.

۶ـ د بانفوذه جامعې مخه څلورو طائفو نیوله او په هغه وخت کښې د لارې خنډ وې چې هغوی د مشرکانو او یهودو او نصاراوو او منافقانو څخه عبارت وې.

۷ـ په دې سورت کښې د اول څخه ترآخره پورې د همدغو څلورو ډلو سره د مبارزې طرز او طریقه بیانه کړه شوې ده او هم پکښې د همدغو څلورو ډلو خاصیتونه او عادتونه بیان شوي دي تر څو ورته مسلمانان متوجه وي چې په جامعه جوړونه کښې يې د دسیسو مخه ونیسي.

۸ـ په دې سورت کښې مسلمانان پوه کړی شوي دي چې اصلًا د ځمکې په مخ باندې انسان خلیفه ګرځول شوی دی خو په هیڅ وخت کښې نوموړی خلیفه بې دښمنه شوی نه دی او نه به بې دښمنه شي. نو باید چې مسلمانان د خپلې زمانې د دښمنانو سره بې حوصلې هم نه شي او ثبات او استقامت هم د لاسه ورنه کړي.

۹ـ د انسان حوصله په دوه شیانو ډېره ښه وده کوي چې یو د پخوانیو تاریخ دی او بل د امتحاني مراحلو څخه په کامیابۍ سره تېرېدل دي، د همدې کبله نسبت عامو خلکو ته په پیغمبرانو علیهم السلام باندې ډېرې امتحاني دورې تېرې شوې دي، لکه چې الله ﷻ موسی ؑ ته وايي چې ﴿وَفَتَنَّٰكَ فُتُونٗا﴾ [طه: ۴۰] یعنې: او ته مو په ډېر ازمېښتونو باندې ازمېښت کړې.

د دې امت د حوصلې د غښتلو دپاره په دوی باندې په اولو وختونو کښې د تهجد لمونځ فرض وه ترڅو چې د دوی حوصله قوي شوه، صبر او استقامت يې زیات شو او وېې کړی شوه چې د خوارېخوب څخه صرف نظر شي او د الله ﷻ په عبادت باندې خپلې سترګې روښانه کړي همدا موضوع د "الْمُزَّمِّل" په سورت کښې پوره بیانه شوې ده.

۱۰ـ نو د پخوانیو تواریخو څخه ورته په همدې سورت کښې د آدم ؑ او ابلیس سرګذشت او هم د بني اسرائیلو او د هغوی د پیغمبرانو علیهم السلام حوادث او بالآخره د ابراهیم ؑ اخلاص او کړه وړه

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


بیان کړی شوه، ترڅو چې دوی ترې عبرت واخلي او پوه شي چې اندي جامعه جوړه کړی شي.
او د امتحان دورې د تېرېدلو دپاره الله ﷻ قبله تحویل کړه چې نبي کریم ﷺ په مدینه منوره
کې شپاړلس (۱۶) یا اولس (۱۷) میاشتې بیت المقدس طرف ته لمونځونه کول، خو بیا ورته امر
وکړی شو چې کعبې شریفې ته ورتاو شئ او خپل لمونځونه د هغې طرف ته وکړئ.

۱۱ـ څرنگه چې د قبلې تحویل ډېر لوی امتحان وه، حتی چې ځینې خلک بېرته کافر شوه او په
امتحان کښې ناکام شوه نو الله ﷻ د ﴿ مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا ﴾ [البقرة: ۱۰۶]
څخه تر دې ځایه پورې څه مقدماتې خبرې بیانې کړې ترڅو مسلمانان د دې لوی امتحان څخه
بریالي راووځي، او په همدې ایتونو کښې یې هم دوی پوه کړه چې د قبلې په تحویل کښې به درته
دښمنان ډول-ډول خبرې کوي خو تاسو ورته بې حوصلې کېږئ مه، او په ډېر استقامت او صبر سره
ورته جوابونه ورکړئ، چې لنډیز یې دا دی:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپلو صحابه وو کرامو باندې څه مطالب قرائت کړه چې د کفارو د اعتراضاتو
مخه ورباندې ونیسي هغه دا چې:

۱ـ ژر دی چې ساده گان به اعتراضونه وکړي چې په دوی باندې څه شی باعث شو چې خپله هغه
قبله یې پرېښودله چې تراوسه پورې یې ورته لمونځونه کول. دوی به هره ډله (په بېل بېل طرز سره)
شبهات وکړي. مثلاً:

الف: مشرکان به وایي چې په دوی باندې بل باعث نشته بې له دې چې په خپله خطا او سهوه
باندې پوه شوه چې تر اوسه یې بیت المقدس ته لمونځ کاوه ایله په ایله چې اوس یې عقل سر ته
راغی په نژدې ورځو کښې به وگورئ چې بېرته به پلارني دین ته راواوړي.

ب: أهل الکتاب به وایي چې په دوی باندې بل باعث نشته بې له د ې چې زمونږ سره تعصب
کوي او خپله قومېزه پالي مونږ یې خپه کړو او خپل عزیزان (قریش) یې خوشاله کړه د هغوی قبلې
ته یې مخ ورواړاوه، تر اوسه یې لا د هغوی سره وطنداري د زړه څخه نه ده وتلې، نو مونږ به په
داسې متعصب سړي باندې څنگه ایمان راوړو.

ج: منافقان به وایي چې که بیت المقدس په حقه قبله وی نو ولې یې حق ته شا کړه او حق یې
پرېښود، او که کعبه شریفه حقه وي نو تر اوسه پورې شپاړس (۱۶) یا اوولس (۱۷) میاشتې یې
ولې بیت المقدس ته لمونځونه کول. نو تر اوسه پورې یې چې هرڅه لمونځونه کړي دي هغه ټول هدر
او عبث شوه.

کله به لا وایي چې د قبلې د تحویل څخه پخوا چې څوک مړه شوي دي د هغوی مرگ خو خراب
شو، هغوی لا حق ته نه وه رسېدلي چې مړه شوه او د توبې فرصت هم ورته نشته چې د ژوندیو په
شان توبه وباسي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله به لا وایي چې نبي کریم ﷺ په خپل دین کښې متحیر دی بلکې د خپل دین څخه زیات په تنګ شوی دی په همدې چرت کښې دی چې مشرکانو ته ورواوړي او که اهل کتابو ته.

کله به وایي چې د داسې سړي متابعت څه په کار دی چې فکري استقلال او استقرار نه لري بلا ورځ به یې ګوري چې بېرته به بیت المقدس ته راتاو شي.

لنډه دا چې چا ته چې څه په خوله ورځي درته به یې وایي، خو تاسو به ورته حوصله نه تنګوئ، ټولو ته همدومره ووایئ چې مونږ خو نه د کعبې عبادت کوو او نه د بیت المقدس، بلکې مونږ د الله ﷻ بندګان یو او د الله ﷻ عبادت کوو، او د الله ﷻ د امر تابعداران یو. مونږ ته بیت المقدس، کعبه بلکې مشرق او مغرب ټول یو شی دي. که د دغه دواړو قبلوڅخه په غیر مونږ ته بل ځای تعین کړي نو مونږ به سمدستي هملته مخ ورواړوو، دغه کړنلاره د بندګۍ سره مناسبه او سمه لاره ده خو ستاسو نه ده په برخه شوې

۲ـ ای مؤمنانو! د دښمنانو پروپاګند ته اعتناء مه کوئ د قبلې تحویل ستاسو دپاره یوه امتحاني مرحله ده. لکه څنګه مو چې د سمې لارې هدایت درته په نصیب کړ، همدارنګه مونږ غواړو چې ستاسو څخه یوه غوره بانفوذه جامعه جوړه کړو. نو په کار ده چې تاسو دغسې امتحاني مراحل طي کړئ او په کامیابه توګه ترې تېر شئ.

ترڅو تاسو په دغسې ساده ګانو باندې په هر وخت کښې حاکمیت ولرئ، ساده ګان خو یوازې همدوی نه دي بلکې په هره زمانه کښې د دوی امثال شته نو مونږ غواړو چې تاسو په دوی باندې څارنه ولرئ چې په دنیا کښې به یې د اصلاح لاندې نیسئ او د دسیسو څخه به یې څانونه ساتئ او په آخرت کښې به وربانديې شاهدي وایئ.

مونږ غواړو چې ستاسو بانفوذه جامعه د نبي کریم ﷺ د إشراف لاندې وده وکړي، نو ځکه دربانديې د ده ﷺ په ژوند کښې دغسې امتحاني دورې تېروو، چې د قیامت تر ورځې پورې د ټولو مسلمانانو دپاره سرمشق جوړ شئ.

۳ـ په همدې منظور مو یو ځل بیت المقدس ته ورتاو کړئ ترڅو مو درڅخه هغه خلک جدا کړي چې هغوی د الله ﷻ بندګي نه کوله بلکې د کعبې بندګان وه، او دا ځل به مو بېرته کعبې ته ورتاو کوي. نو په دې توګه به ستاسو ټولنه یوه چاندې ټولنه جوړه شي.

۴ـ د قبلې تحویل خو دروند کار دی خلک وربانديې ګمراه کېږي لکه چې ساده ګان وربانديې اعتراضات او شبهات واردوي، مګر دغه کار په هدایت موندونکو باندې څه اثر نه لري، تاسو نه خو الله ﷻ هدایت کړی دی چې د قبلې د تحویل په اسرارو او حکمتونو باندې پوهېږئ، تاسو خو مختاره او معززه ټولنه یاست، پام کوئ چې د ساده ګانو په خبرو باندې ونه غولېږئ او په زړونو کښې وسواس ته ځای ورنه کړئ.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د الله ﷻ خو ستاسو نه ایمان ضائع کوي او نه عمل، بلکې غواړي چې ستاسو عقیدې لا پخې او کلکې کړي، الله ﷻ خو په ټولو خلکو باندې مهربان دی حتی په نومونو ساده ګانو هم روؤف او رحیم دی چې د دوی د شبهاتو د جوابولو دپاره یې دغه ایتونه نازل کړه ترڅو د شبهاتو څخه لاس واخلي او په رحمة للعالمین پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړي.

که په دوی باندې هم روؤف او رحیم نه وی نو د دوی سره خو لا دا مناسبه وه چې د سره یې د دوی ایمان نه وی قبول کړی، مګر د دې بدې سابقې سره-سره که دوی توبه تائب شي، ایمان یې قبلوي او په پخوانیو کفریاتو باندې یې نه نیسي.

نو ستاسو پخواني لمونځونه به ولې ضائع کوي کوم مو چې هغې بلې قبلې ته کړي دي، او د وفات شوو او یا شهیدان شوو مؤمنانو ایمان به ولې ضائع کوي چې د هغې بلې قبلې د حقیت په عقیده باندې مړه شوي دي.

## توضیحات

۱ـ مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د قرآن کریم ذکر شوې ټکړه ایتونه په نزول کښې وروسته دي او راتلونکی [۱۴۴] ایت ترې مخکښې دی، دوی د "سَيَقُولُ" مضارع د "قَالَ" ماضي په معنی اخلي[1]. دوی وايي چې دا ایتونه د هغو ایتونو په څېر وراندې او بېرته دي لکه چې د بني اسرائیلو د غوا په قیصه کښې ﴿ وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا ﴾ [البقرة: ۷۲] ایت د قیصې اول سر دی، دلته هم د قبلې د تحویل په موضوع کښې راتلونکی [۱۴۴] ایت د موضوع اول سر دی.

مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې نزولي او عثماني ترتیب سره تفاوت نه لري او دا ځکه چې:

الف: هغه ترتیب د تبادر څخه مخالف دی، سړي ته په منډه ذهن ته نه ورځي، برسېره پر دې په ﴿ سَيَقُولُ ﴾ کښې د "س" کلمه یې مانع ده چې د استقبال پورې خاصه ده. یعنې ژر دی چې ویه وايي، نه داسې چې ویلي دي.

ب: په دې ترتیب کښې د قرآن کریم د حقانیت یوه لویه معجزه هم پرته ده لکه څنګه چې قرآن کریم پخوا خبر ورکړی وه، همغسې وشوه او د تحویل سره سم د هره طرفه په مسلمانانو باندې د اعتراضونو باران جوړ شو، یوه دښمن به یو ډول اعتراض کاوه او بل به بل ډول.

ج: د قبلې د تحویل څخه مخکښې خکه مسلمانان په اعتراضاتو باندې خبر کړی شوه ترڅو دوی درته په حوصله کښې وي او ورته وارخطا نه شي چې اعتراضات زښت ډېر او د هره طرفه وه.

## د هجرت څخه وراندې قبله کومه یوه وه؟

۲ـ د قبلې په باره کښې د دې څخه پخوا قرآن کریم نه وه نازل شوی، اول خل چې پکښې نازل شو مضمون یې همدا وه چې د بیت المقدس څخه کعبې شریفې ته قبله تاوه کړی شوه.

[1] التفسیر الکبیر ج۴ ص۱۰۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې کبله پکښې د سلفو صالحینو څخه لاندې دوه نظره نقل شوي دي:

اول نظر:

هلته (په مکه معظمه کښې) قبله بیت المقدس وه خو نبي کریم ﷺ کعبه شریفه هم د نظره نه وه غورځولې. یعنې په داسې طرف کښې به یې لمونځ کاوه چې دواړو قبلو ته به یې مخ کېده، چې کعبه شریفه به یې د خپل ځان او بیت المقدس په منځکښې واقع کوله[۱].

مګر دا کار په مدینه منوره کښې ممکن نه وه، ځکه چې مدینه منوره د دواړو قبلو په منځکښې واقع ده چې بیت المقدس یې په شمال کښې دی او کعبه یې په جنوب کښې ده. نو ځکه یې د شپاړس یا اولس میاشتو پورې په مدینه منوره کښې یوازې بیت المقدس ته لمونځ وکړ، چې بیا نسخه شوه نو په قبله کښې همدا یو خل نسخه راغلې ده.

دوی لاندې دوه دلیله وړاندې کوي چې

الف. د قبلې تحویل اولنی نسخه وه چې په اسلام کښې واقع شوه د همدې کبله یې ډېر شور ماشور جوړ کړ. که د هجرت څخه وړاندې قبله کعبه وی، نو اوله نسخه به هغه وی چې کعبه بیت المقدس ته واړوله شوه او دا به دوهمه نسخه وی.

ب. د قبلې تحویل دروند کار ګڼل شوی دی چې: ﴿ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً ﴾، که نسخه دوه کرته شي نو بیا خو به دا خل نسخه په خلکو باندې درنه نه تمامېده؛ ځکه چې خلک به ورسره اموخته وی، ډېره درنه خو وړباندې هله تمامېږي چې دا اول خل نسخه شي.

دوهم نظر:

د هجرت څخه وړاندې قبله کعبه شریفه وه، خو ثبوت یې د نبي کریم ﷺ د پلوه شوی وه، قرآن کریم پکښې نه وه نازل شوی او تحویل یې هم د نبي کریم ﷺ په اشاره باندې شوی دی. نو دلته نسخې د یو حدیث په بل حدیث سره صورت نیولی دی[۲].

## د دوی دلایل

اول: ددې خبرې چې مشهوره ده چې د قبلې تحویل اولنی نسخه وه، معنی دا ده چې په قرآن کریم سره چې په اسلام کښې اوله نسخه واقع شوې ده هغه همدا ده، داسې یې مطلب نه دی چې د دې څخه پخوا مطلقًا نسخه نه وه واقع شوې.

نه ګورئ چې په نبي کریم ﷺ باندې د معراج په شپه پنځوس لمونځونه فرض شوي وه خو الله ﷻ یې شمېر د پنځوسو څخه پنځو ته راټیټ کړ. ایا دا نسخه نه ده؟.

دوهم: د بیت المقدس څخه کعبې شریفې ته د قبلې تحویل ځکه په خلکو باندې دروند تمام شو

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۸۹
(۲) تفسیر القرطبي ج۲۸ ص۱۵۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


چې دغه تحويل د يهودانو خوښ نه وه او د هر شور ماشور جوړوونكي همدوى وه. اول تحويل خو د هغوى د فكر سره برابر وه.

درېيم: د قبلې په تحويل كښې خو مهم مطلب ابتلاء او ازمېښت وه چې يو خل د كعبې څخه بيت المقدس ته واړوله شوه ترڅو بني اسماعيل امتحان كړي چې د هغوى قبله كعبه وه. او بل خل د بيت المقدس څخه كعبې ته ورتاو كړى شوه ترڅو بني اسرائيل پرې وازمويل شي چې قبله يې بيت المقدس وه.

نو په دې نظر كښې دوه امتحانه راخي او په اول كښې يو امتحان تحقق مومي او ښكاره ده چې د دې نظر گټه زياته ده.

څلورم: نبي كريم ﷺ خو د كعبې په انتظار كښې وه، خو د انتظار روايتونه ترې په مدينه منوره كښې روايت كړى شوي دي. كه په مكه معظمه كښې هم كعبې ته انتظار وى نو څه روايات به ترې هلته هم رانقل شوي وى.

پنځم: ترڅو چې بيت المقدس قبله وه نبي كريم ﷺ د كعبې قبله توب ته په انتظار وه، د سړي ذهن ته ورخي چې ايله په ايله شپاړس يا اوولس مياشتې انتظار به يې ويستلى وي، نو كه نسخه يو كرت شي نو بيا خو څه د پاسه څوارلس كاله انتظار كېږي، دومره اوږد انتظار به الله ﷻ په نبي كريم ﷺ باندې نوي تېر كړى.

شپږم: په دې تقدير باندې دا خبره ښه واضحه كېږي چې محمدي (ﷺ) ملت ابراهيمي ﷺ ملت دى چې اول او آخر ورته كعبه شريفه قبله وټاكله شوه، هغسې نه ده لكه چې يهودان يا نصارا يې وايي چې دوى په ابراهيمي ﷺ ملت باندې دي او بس.

يعنې په دې نظر باندې د بيت المقدس عارضيتوب د ورايه ښكاري چې صرف څو مياشتې وه او بس. او د عارضي شي دپاره چې څومره لږ موده وي همغومره ورسره ښه مناسبه په نظر راخي.

## يادونه

۳ـ په ﴿وَمَا جَعَلْنَا ٱلْقِبْلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيْهَآ إِلَّا لِنَعْلَمَ﴾ الآية كښې د ذكر شوو دواړو نظرونو گنجايش شته دى، دا څكه چې:

الف: كه د ﴿ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا﴾ څخه بيت المقدس مراد شي لكه په ﴿قِبْلَتِهِمُ ٱلَّتِي كَانُوا۟ عَلَيْهَا﴾ كښې چې ترې بيت المقدس مرادوو. نو د معنى حاصل به يې داسې شي چې اى پيغمبره! كه څه هم ستا قبله اصلا كعبه شريفه ده چې ته په ابراهيمي ﷺ ملت باندې يې مگر تر اوسه پورې مو ستا قبله څكه بيت المقدس گرځولې وه چې په خلكو باندې امتحان وكړو چې كله ته خپلې اصلي قبلې (كعبې) ته وراړول كېږې چې ستا متابعت كوي او كه نه، كه بالفرض تر اوسه پورې درته قبله بيت المقدس نه وى گرځول شوې او د اولنې ورځې څخه مو درته په كعبې باندې امر كړى وى نو نه به د قبلې تحويل وه او نه به د خلكو امتحان.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: او كه د ﴿ ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا ﴾ څخه كعبه شريفه مراده كړې شي. نو د معنى حاصل به يې داسې شي چې اى پيغمبره! ته خو پوهېږې چې ستا اصلي قبله كعبه ده، د همدې كبله دې د هجرت څخه پخوا همغې ته لمونځ كاوه، او د دې كبله چې هغه د ابراهيم ﷺ د ملتيت يو غټ دليل وه، ته ورباندې خوښ او خوشاله هم وې.

په مدينه منوره كښې چې څو مياشتې ستا قبله بيت المقدس وګرځول شوه دا كار عارضي دی او د لاندې دوه امتحانونو دپاره ترسره شوی دی:

اول: تر څو بني اسماعيل امتحان كړو چې د خپلې پلرنۍ قبلې (كعبې) څخه درسره بيت المقدس ته تاوېږي او كه نه.

دوهم: تر څو بني اسرائيل امتحان كړو چې كله ته خپلې اصلي قبلې ته بېرته وراړول كېږې او د پلارنۍ قبله (بيت المقدس) پرېږدي دوی درسره اوړي او كه نه.

كه بالفرض ستا قبله مو په دائمي توګه كعبه شريفه ګرځولې وی او دا تحولات مو پكښې نه وی واقع كړي، نو ذكر شوي دواړه امتحانونه به نه وی ترلاسه شوي.

موږ ته ستا د زړه ميلان معلوم دی چې كعبې شريفې ته ډېر زيات دی، ته خو همدې خبرې ته په تمه ناست يې، چې كله به درته د تحويل امر كېږي، همدومره انتظار دې بس دی، نور دې د زړه مرام حاصلوو خپه كېږه مه.

## ﴿وَسَطًا﴾ څه ته وايي؟

۴- ﴿وَسَطًا﴾ مختار او غوره ته وايي[۱]، چې د [آل عمران: ۱۱۰] ايت كښې په ﴿ خَيْرَ أُمَّةٍ ﴾ سره تعبير كړې شوی دی. د ﴿وَسَطًا﴾ كلمه يا د دې كبله د ﴿بهتر﴾ معنى وركوي چې د هر شي وسط (منځ) په امن كښې وي خطرات او حوادث اكثره په اطرافو كښې واقع كېږي، او يا د دې كبله چې محمدي (ﷺ) شريعت د افراط او تفريط دواړو په منځكښې دی، نه پكښې د نصاراوو په شان افراط شته چې عيسى ﷺ يې د الوهيت درجې ته رسولی دی، او نه پكښې د يهودو په شان تفريط شته چې د پيغمبرانو په وژلو باندې يې صرفه نه ده كړې.

## ۵- علماء كرام په دې موضوع كښې په متعددو ګروپونو ويشلي شوي دي. مثلاً: د دې امت شاهدي په دنيا كښې ده كه په آخرت كښې؟

الف: ځينې مفسرين كرام وايي چې ددې امت شاهدي په نورو خلكو باندې په آخرت كښې تحقق مومي كله چې هغوی منكر شي چې موږ ته خپلو پيغمبرانو د الله ﷻ احكام نه دي رسولي لكه چې په همدې باره كښې اوږد حديث د نبي كريم ﷺ څخه روايت شوی دی[۲].

(۱) تفسير القاسمي ج۲ ص۲۸۱، المحرر الوجيز ج۲ ص۳
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نو په دې تقدیر باندې د شاهد څخه هغه شاهد مراد دی چې د دعوې د اثبات دپاره شاهدي ورکوي او د نبي کریم ﷺ شاهدي د تزکیې په معنی کېږي، چې په رښتیا ما خپل امت ته رسولي وه او ټولو پیغمبرانو علیهم السلام خپل امتیان د الله ﷻ په احکامو باندې خبر کړي دي، او په تبلیغ کښې چې قصور نه دی کړی، که څه هم د نورو پیغمبرانو په زمانو کښې دوی نه وه پیدا شوي چې هغوی به په خپلو سترګو باندې لیدلي وی خو دوی زما خبره داسې ګڼلې ده لکه چې په سترګو یې د نورو پیغمبرانو احکام رسونه لیدلې وي او په غوږو یې اورېدلې وي.

ب: ځینې نور مفسرین کرام وايي چې لکه څنګه چې شاهدي ورکوونکي د مدعي سره د دعوې په اثبات کښې کومک کوي همدارنګه محمدي (ﷺ) امت په نورو خلکو باندې د دې کبله شاهدان دي چې هغوی ته امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي چې همدغه شی دوی ته نبي کریم ﷺ ښودلی او ورزده کړی دی[1].

ج: ځینو نور مفسرین کرام وايي چې دلته د شاهد ګرځېدلو معنی دا ده چې د محمدي (ﷺ) امت څخه یوه بانفوذه جامعه جوړه شي ترڅو ټول سیاسي قدرت د همدوی سره وي، نو نور خلک به د دوی د قیادت او څارنې لاندې ژوند کوي چې د دغه قیادت اولنی تیره نبي کریم ﷺ ایښې ده[2].

مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوي درېواړه تفسیرونه او همداسې نور تفاسیر چې کړی شوي دي څه منافات سره نه لري. هر یوه مفسر د بهتر امت یو مصداق ذکر کړی دی، په دې غوره او عادل امت کښې دا ټولې بهترۍ شته.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وايي چې: د ﴿لِنَعْلَمَ﴾ څخه ظاهراً داسې معنی سرې ته ذهن ته ورځي کومه چې د الله ﷻ د شان سره مناسبه نه ده؛ او دا ځکه چې الله ﷻ خو په هر شي باندې ازلاً او ابداً پوه دی د علم حدوث او نوي حاصلول د ممکناتو کار دی.

مونږ وايو چې: د همدې اشتباه د مخنیوي دپاره مفسرینو کرامو لاندې توجیهات کړي دي:

الف: ځینې مفسرین کرام وايي چې دلته الله ﷻ د دوستانو علم داسې ګڼلی دی لکه خپل علم، که څه هم مونږ ته دغه ډول اطلاق روا نه دی، مګر الله ﷻ د خپلو مخلصو بندګانو پورې مربوط صفت کله خپل ځان ته نسبتوي. لکه چې نبي کریم ﷺ په قدسي حدیث کښې فرمايي چې: «إِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا ابْنَ آدَمَ مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِي» یعنې: الله ﷻ به د قیامت په ورځ ووايي چې اې بنیادمه! زه مریض وم، پوښتنه دې زما ونه کړه. بنده به ووايي چې: «يَا رَبِّ كَيْفَ أَعُودُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ» اې ربه! ما به څنګه ستا عیادت کړی وی ته خو رب العالمین یې؟ (مریضي خو د بندګانو

---

[1] تفسير القاسمي ج۲ ص۲۸۲
[2] في ظلال القرآن ج۱ ص۱۲۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د صفاتو څخه ده)، ورنه به ووايي چې «أما علمت أن عبدي فلانا مرض فلم تعده (الحديث)»[۱] ايا ته نه يوهېدلې چې فلانی مریض وه او تا يې عيادت ونه کړ؟.

نو په دې حديث کښې يې د بنده مرض د خپل خان مرض ګڼلی دی.

په دې اعتبار سره يې د معنی حاصل داسې کېږي چې ترڅو زمونږ بندګان پوه شي[۲]، چې د قيامت په ورځ پرې شاهدي اداء کړي.

ب. د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دلته علم د "تميز" په معنی سره دی، لکه چې الله ﷻ فرمايي ﴿ مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ﴾ [آل عمران ۱۷۹] يعني الله ﷻ داسې نه دی چې مؤمنان په همغه حالت باندې پرېږدي چې تاسو ورباندې ياست ترڅو چې ناپاک د پاک څخه بېل کړي.

نو معنی يې داسې کېږي چې ترڅو مونږ هغه څوک چې د پيغمبر ﷺ متابعت کوي د هغه چا څخه جدا سړو چې هغه بېرته ګرځي[۳].

ج. ځيني مفسرين کرام وايي چې بې شکه د الله ﷻ علم ازلي او ابدي دی مګر تعلقات يې حادث دي. مثلاً الله ﷻ په ازل کښې عالم وه چې أبو جهل ايمان نه راوړي خو کله چې موجود شو هم الله ﷻ ورباندې عالم وه چې ايمان نه راوړي خو د الله ﷻ علم په ازل کښې په معدوم پورې تعلق نيولی وه او چې أبو جهل موجود شو نو په موجود پورې يې تعلق ومونډ.

• نه ګورئ چې د الله ﷻ علم د أبو جهل په عدم کښې او د هغه په وجود کښې هيڅ تفاوت نه دی موندلی. محض تعلقات يې تغير شوي دي چې په اول کښې په معدوم پورې نښتی وه او چې موجود شو په موجود پورې يې تعلق ونيوه.

نو په دې اعتبار سره يې د معنی حاصل داسې کېږي چې: د دې دپاره چې زمونږ علم په موجوده مطيع او عاصي پورې هم تعلق ونيسي لکه څنګه يې چې په معدومانو پورې تعلق نيولی وه، ترڅو هر يوه ته مناسبه جزا ورکړو، الله ﷻ هيڅګا ته په ازلي علم باندې جزا نه ورکوي ترڅو چې هغه شی موجود نه شي[۴].

ځينو نورو مفسرينو کرامو نور جوابونه کړي دي، مګر مونږ ته د ټولو څخه دا ښه ښکاري چې په دغسې مقامونو کښې نه سوال وکړی شي او نه جواب، او نه ورباندې وخت ضائع کړی شي ځکه چې د قرآن کريم د مضامينو په بيانولو کښې د بشري محاوراتو دود او دستور د نظره نه دی غورځولی ترڅو يې اعجاز په بهتره طريقه باندې څرګند شي، که بالفرض په خپل بيان کښې يې ناآشنا طريقه غوره کړې وی نو دښمنانو به ويلی چې مونږ ځکه د قرآن کريم مقابله نه شو کولی چې

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۱۸
(۲) تفسير الطبري ج۲ ص۱۳
(۳) الدر المنثور ج۱ ص۳۵۳
(۴) البحر المحيط ج۲ ص۱۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د محاورې په قواعدو باندې برابر نه دی که زمونږ د محاورې په قواعدو ولاړ وی نو تاسو به زمونږ د محاورې په قواعدو باندې برابر نه دی که زمونږ د محاورې په قواعدو ولاړ وی نو تاسو به لیدلی وی چې مونږ یې څنګه مقابله کوله.

په دغسې مقامونو کښې د محاوراتو طریقه مشهوره ده چې وایي دا کار مو خکه وکړ ترڅو مونږ په دې شو چې څوک مو خبره مني او که نه.

د همدې کبله پرې د قرآن کریم د نزول د زمانې کافرانو هیڅ اعتراض ونه کړ چې ایا الله ﷻ اوس خپل علم حاصلوي؟، سره د دې چې هغوی خو اعتراض ته شنه ناست وه.

همدا موضوع د [البقرة: ۱۱۵] ایت لاندې به شرحه شوې ده، هیله ده هغه یو خل بیا وکتله شي.

## "رَءوفٌ رَحِيمٌ" څه معنی؟

۴ـ "رَءوفٌ" د "رَأفَةٌ" څخه اخستل شوی دی چې د "رَحْمَةٌ" په معنی سره دی، مګر نظر رحمة ته پکښې مبالغه زیاته ده[1].

نو معنی یې داسې کېږي چې: الله ﷻ په خلکو باندې زښت ډېر نرمي کوونکی او بې اندازې مهربان دی نو باید چې مؤمنان د منافقانو شبهاتو ته هیڅ اعتناء ونه کړي چې د مؤمنانو د بیت المقدس لمونځونه او یا یې پخوانی ایمان ضائع شو باید چې اوس د سره بیا ایمان راوړي؛ دا خکه چې د اعمالو او یا د ایمان ضائع کول د رؤفیت او رحیمیت سره بالکل منافي کار دی.

﴿ قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي ٱلسَّمَآءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَىٰهَا ۚ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُۥ ۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَـٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾ ﴾

[۱۴۴] بې شکه مونږ ستا بیا بیا مخ اړول اسمان طرف (وحې) ته ګورو.

نو ژر دی چې هغې قبلې ته به دې ورتاو کړو چې ستا خوښه ده (زړه دې غواړي).

نو خپل مخ دې د المسجد الحرام طرف (جهت) ته ورتاو کړه، او هر چرته چې تاسو یاست نو مخونه مو هغه طرف ته ورتاو کړئ.

او بې شکه هغه کسان چې هغوی ته کتاب ورکړی شوی دی، دوی به پوهېږي چې دا (تحویل) د دوی د رب ﷻ له خوا څخه حق دی.

او الله ﷻ د هغه شي څخه چې دوی یې کوي ناخبره نه دی.

### د مطلب خلاصه

د قبلې په باره کښې چې د پخوانیو ایتونو څخه د اشارې په توګه څه معلومېده هغه په دې ایت کښې په صراحت سره ذکر شوه، چې لنډیز یې دا دی:

[1] لسان العرب ج۹ ص۱۱۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشغول (۲)

ای پیغمبره! موږ ستا بیا بیا اسمان ته مخ اړول ګورو چې ستا په تمه یې چې کله به رالیږدي، د قبلې د تحویل امر وکړی شي، زر دی چې دا مراد به دې حاصل کړو.

نو هغې قبلې ته چې ورته په انتظار یې مخ ورواړه کړه چې د المسجد الحرام په داخل کښې واقع ده. دا کار نه یوازې تا پورې خاص دی او نه د یوې زمانې یا یو ځای پورې اختصاص لري بلکې ته او ستا امت په هره زمانه او هر ځای کښې چې یاست همدغې قبلې ته په لمانځه کښې مخ واړوئ.

د دښمنانو اعتراضونو ته هیڅ التفات مه کوئ او مه پرې چورت خرابوئ، هغوی ټول د عناد د کبله هاغه او دغه کوي، خصوصاً اهل الکتاب خو یې په حقیت باندې ښه پوهیږي چې د آخر الزمان پیغمبر ﷺ اصلي قبله کعبه شریفه ده باید چې د دوی دپاره د قبلې تحویل د ایمان راوړلو باعث ګرځېدلی وی او پوه شوي وی چې، نه په حقه پیغمبر یې، خو چې اوس هم درسره دښمني کوي نو الله ﷻ ته یې ټوله کړنلاره معلومه ده او ترې غافل نه دی، سمدستي چې ورته جزا نه ورکوي او د خه وخته پورې یې ټالوي دا د خه حکمت غوښتنه ده، او که نه نو دوی في الحال هم د جزا لیاقت لري.

یا په بل عبارت نه خپله وظیفه وړاندې بوځه، په عنادیانو باندې خپل وخت مه ضائع کوه، زه پوهیږم او هغوی

## توضیحات

۱ـ د بیت المقدس څخه د قبلې په تحویل کښې زښت ډېر احادیث روایت شوي دي چې موږ د څو احادیثو په ذکر سره دلته اکتفاء کوو. هغه دا چې:

الف. نبي کریم ﷺ د هجرت څخه وروسته په مدینه منوره کښې شپاړس (۱۶) یا اولس (۱۷) میاشتې بیت المقدس ته لمونځ کاوه خو په تمه وه چې کعبه شریفه یې قبله وګرځوله شي، نو بیا ذکر شوی ایت نازل کړی شو «فَتَوَجَّهَ إِلَى الْقِبْلَةِ»[۱] یعني: نو موجوده قبلې (کعبه) ته یې مخ واړاوه.

ب. کله چې د بیت المقدس څخه قبله کعبې ته تحویل شوه نو یوه صحابي داسې یوه قوم ته پرې خبر ورکړ کوم چې په لمانځه باندې ولاړ وه «فَانْحَرَفُوا إِلَى الْكَعْبَةِ»[۲] یعني: دغه قوم په عین لمانځه کښې کعبې شریفې ته تاو شو.

ج. ځینې صحابه کرام ﷺ د قباء په جومات کښې د سهار په لمانځه باندې ولاړ وه نو د قبلې په تحویل باندې خبر کړی شوه نو سمدستي یې د شام څخه کعبې شریفې ته مخونه واړول[۳].

د. البراء ﷺ وایي چې: «أَوَّلَ صَلَاةٍ صَلَّاهَا صَلَاةَ الْعَصْرِ»[۴] یعني: نبي کریم ﷺ اولنی لمونځ چې کعبې ته اداء کړ د مازیګر لمونځ وه.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۷

(۲) سنن النسائي ج۱ ص ۱۲۲

(۳) صحیح مسلم ج۱ ص ۲۰۰؛ موطا الامام مالک ص۱۱۸؛ مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۵۱

(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۱۰

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


یوه صحابي ﷛ د نبي کریم ﷺ سره د مازیګر لمونځ کعبې ته اداء کړی وه، بیا په څو لمونځ کوونکو باندې تېرېده چې بیت المقدس ته په لمانځه باندې د رکوع په حال کښې وه نو د قبلې په تحویل باندې یې خبر ورکړ «فَانْحَرَفُوا وَهُمْ رُكُوعٌ»[۱] یعنې: نو هغوی سمدستي کعبې ته ورتاو شوه حال دا چې د رکوع په حالت کښې یې قرار درلود.

## تبصره

۲ـ د ښه وضاحت دپاره مونږ یوه تبصره وړاندې کوو، هغه دا چې:

الف: د اکثرو علماوو کرامو نظر دا دی چې د قبلې د تحویل ایت په نبي کریم ﷺ باندې د لمانځه په حالت کښې نه دی نازل شوی بلکې د لمانځه څخه دباندې پرې نازل شوی دی[۲].

ب: ځینې علماء کرام وايي چې نبي کریم ﷺ د بني سلمه وو په قبیله کښې د ماسپښین په لمانځه باندې ولاړ وه چې امر ورباندې وشو چې د کعبې شریفې طرف ته مخ واړوه نو په عین لمانځه کښې یې د بیت المقدس څخه کعبې شریفې طرف ته مخ ورتاو کړه چې شا ته صفونه یې هم په همدې ډول باندې ورتاو شوه تردې چې ښځې د سړیو په ځای ودرېدې او سړیو د ښځو په ځای قرار ونیوه (د اولنیو صفونو ځای وروستنیو صفونو ونیوه)، نو نیمایي لمونځ یې بیت المقدس ته اداء کړ او نیمایي کعبې شریفې ته[۳].

مګر سمه خبره دا ده چې ذکر شوی لمونځ په ذکرې شوي قبیله کښې په ذکر شوي کیفیت سره اداء کړی شوی دی د همدې کبله دغه جومات د ذو القبلتین په نامه یادېږي، خو نبي کریم ﷺ پکښې امام نه وه بلکې دغه لمونځ د کوم صحابي ﷛ په امامت اداء کړی شوی وه[۴].

ج: که څه هم د ځینو علماوو په نظر ذکر شوی لمونځ په ذکر شوي کیفیت سره په بني حارثه وو کښې اداء کړی شوی دی[۵] مګر څه لرې نه ده چې د ذکر شوي جومات په شاوخوا کښې به ځینې کورونه د بني حارثه وو هم مېشت وه، نو چا به د یوې قبیلې نوم اخستی وي او چا د بلې.

د: ځینې علماء کرام وايي چې نبي کریم ﷺ کعبې شریفې ته د قبلې د تحویل په بنیاد په اول خل د ماسپښین لمونځ اداء کړی دی[۶] خو صحیح خبره دا ده چې اولنی لمونځ یې د مازیګر لمونځ وه[۷].

## اوس زړونه سخت شوي دي

۳ـ عجیبه ده چې صحابه کرام ﷡ د احکامو په تعمیل کښې څومره زیات ګړندي او چوست وه؟!

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۵
(۲) تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۴۹
(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۲۵
(۴) روح المعاني ج۲ ص۹
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۹۳
(۶) الدر المنثور ج۱ ص۳۵۴، المحرر الوجیز ج۲ ص۱
(۷) تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۴۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او زړونه يې څومره نرم وه؟!، او د دې زمانې د خلکو زړونه څومره کلک او سخت دي او د احکامو په تعمیل کښې څومره سست او لټان دي؟!. د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه مثالونه ولولئ:

الف: د بني سلمه وو صحابه وو کرامو ﷺ د قبلې د تحویل حکم په عین لمانځه کښې تعمیل کړ او د لمانځه د فراغت پورې يې ټال نه کړ.

ب: يوه ورځ نبي کريم ﷺ د يوه صحابي ﷺ په دروازه کښې ودرېد او غږ يې ورته وکړ (حال دا چې نوموړی صحابي ﷺ د خپلې مېرمنې سره په جنسي ارتباط اخته وه)، نو نوموړی سمدستي د کوره په داسې کيفيت سره رابهر شو چې لنګ يې په پښو کښې تاوېده او په څمکه يې راښکوده، کله چې نبي کريم ﷺ وليد نو ويې فرمايل چې: «أَعْجَلْنَا الرَّجُلَ»[1] يعنې په سړي باندې مو ګرنديتوب تحميل کړ (چې خپل کار يې نيمګړی پرېښود).

همدغه مضمون ته د [الحديد: ١٦] ايت کښې اشاره شوې ده نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي او د زړونو د سختوالي اندازه واخستله شي.

## د قبلې تحويل ته انتظار

۴ـ نبي کريم ﷺ د قبلې بدلون ته څکه په انتظار وو چې:

الف: بيت المقدس ته په لمانځه باندې خو د بني اسرائيلو د زړونو تألف لاس ته ورنغی او په عناد کښې لاپسې وړاندې لاړه، نو امکان لري چې په ذهن کښې به يې تېرېدله چې که قبله کعبې شريفې ته ورتاو کړی شي. نو د عربو د ايمان راوړلو سبب خو به شي، دوی به د بني اسرائيلو د پروپاګند د کبله ايمان نه راوړي که دا مانع لرې شي ښه به وي.

ب: څرنګه چې نبي کريم ﷺ اعلان کاوه چې په ابراهيمي (ﷺ) ملت باندې همدا مونږ يو او بس نو غوښتنا يې چې ابراهيمي قبلې ته ورتاو شي ترڅو د همدې مطلب دپاره سند په لاس کښې ولري.

ج: دا هم څه لرې نه ده چې د الله ﷻ د پلوه ورسره وعده کړه شوې وي او د همدغې وعدې په اثر يې ورته تمه زياته شوې وي چې کله به دغه وعده پوره کېږي.

که څه هم نبي کريم ﷺ د قبلې بدلون ته ډېره تلوسه وه او د مبارک زړه څخه يې هيڅکله نه وتله، مګر د کمال آدب د کبله يې په مبارکه خوله باندې نه غوښتله ترڅو يې د آدب په کمال کښې څه نقصان واقع نشي.

## اسمان ته کتل

۵ـ په خلکو کښې عادت دی چې د کوم يو شي اسباب موجود نه وي نو وايي چې ته غواړې چې د اسمان څخه درباندې راولوېږي، نو څرنګه چې د قبلې بدلون د وحې پورې مربوط وه او وحې غيبي شی دی په اسبابو پورې اړه نه لري، نو څکه د نبي کريم ﷺ انتظار دکنايې په توګه داسې

[1] مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۹۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

پېبېر کړی شو لکه چې بیا-بیا یې اسمان ته کتل، او که حقیقةً یې اسمان ته کتلي وي هم څه لرې خبره نه ده، څکه چې کله سړی یو شي ته ډېر په تمه وي نو بنکته پورته ګوري.

## سوال جواب

۶_ که څوک وایي چې: په ایت شریف کښې خو ورته امر کړی شوی دی چې د المسجد الحرام پلطر ته مخ واړوئ او د ﴿شَطۡرَ﴾ کلمه څنډې ته وایي[1]، نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې: د لمانځه قبله د المسجد الحرام یوه څنډه ده؛ د کعبې شریفې د قبله توب ذکر خو پکښې نشته؟.

مونږ وایو چې: د ټولو مفسرینو کرامو په اتفاق سره دلته د شطر څخه طرف او جهت (لوری) مراد دی، او همدارنګه ټول متفق دي چې په هغه سړي باندې کعبې شریفې ته مخ کول فرض دي کوم چې کعبه ګوري حتی که عین کعبې ته یې مخ نه کړ نو لمونځ یې نه کېږي[2].

نو معلومه شوه چې په پورتني ایت شریف کښې د کعبې شریفې قبله ګرځول مطلب ذي، مګر څرنګه چې آیت په مدینه منوره کښې نازل شوی دی نو د کعبې په عوض باندې د شطر (جهت) کلمه نازله کړی شوه، تر څو د اول وخت څخه څرګنده شي چې په اطرافیانو باندې د کعبې طرف ته مخ اړول فرض دي، نه عین کعبې ته؛ په دین کښې اساني ده، تنګي پکښې نشته، ﴿هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمۡ إِبۡرَٰهِيمَۚ﴾ [الحج:۷۸] یعنې: الله ﷻ تاسو غوره ګرځولي یاست او په دین کښې یې درباندې داسې حرج نه دی ایښی (چې ستاسو د توان څخه بهر وي) دا ملت مو د خپل پلار ابراهیم ﷺ ملت دی.

که څه هم دغه مطلب د "المسجد الحرام" د کلمې څخه پرته هم اداء کېدلی شو چې "شَطۡرَ ٱلۡكَعۡبَةِ" نازل کړی شوی وی، مګر دغسې نازل نه کړی شو او د ﴿ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ﴾ کلمه ورسره زیاته کړی شوه، ترڅو د کعبې په قبله توب باندې ښه تاکید راشي، یعنې کعبه به ولې قبله نه وي چې چارچاپېر شاوخوا یې حرم ګرځولی شوی دی چې د هغې جملې څخه المسجد الحرام هم دی کوم چې د کعبې څخه راتاو دی.

علاوه په دې، امکان لري چې المسجد الحرام ورسره څکه نازل کړی شوی وي چې مونږ ته قبله ښه مشخصه کړي. دا څکه چې یوازې د کعبې شریفې تیرې او ختې قبله نه ده، حتی که څوک یې بالفرض بل ځای ته انتقال کړي او هلته ترې کوټه جوړه کړي نو هغه قبله نه ګڼله کېږي.

که د فعلي تعمیري موادو په عوض په نورو تیږو او خاورو باندې په همدې ځای کښې جوړه کړی شي نو هغه قبله ګڼله کېږي.

او که بالفرض _العیاذ بالله_ هیڅ کوټه نه وی هم همغه مقام چې المسجد الحرام ترې راتاو دی د

---

[1] تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۵۹؛ تفسیر المنار ج۲ ص۱۵
[2] روح المعاني ج۲ ص۹. حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۴۵۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته به وايې چې کعبه شريفه داسې کوټه ده چې تاداوونه يې د اروپې مسلمانانو دپاره قبله ده، ته به وايې چې کعبه شريفه داسې کوټه ده چې تاداوونه يې د اروپې خمکې څخه راپورته شوي دي او بام يې عرش العظيم ته رسېدلی دی.

لنډه دا چې: د کعبې شريفې د ديوالونو او نورو اجزاوو بدلون ممکن دی، اما د حرم شريف (چې د هغه د جملې څخه المسجد الحرام هم دی) بدلون ممکن نه دی، نو که المسجد الحرام ورسره نه وی ذکر شوی، د قبلې په تشخيص کښې دومره وضاحت نه حاصلېده لکه په ذکر سره يې چې حاصل شوی دی، والله ﷻ أعلم.

## کعبې ته کتل هم عبادت دی

۷ـ بيت الله شريف ته چې سړی محض ګوري دا کتل هم الله ﷻ په عبادت کښې حسابوي او د لمانځه غوندې پرې ثواب ورکوي[1]. نو زيارت کوونکو ته په کار دي چې د المسجد الحرام په داخل کښې د کيناستلو دپاره داسې ځای غوره کړي چې کعبه شريفه ورته ښکاري ترڅو ورته د کتلو عبادت هم حاصل کړی شي.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: أهل الکتاب په څه دليل باندې پوه وه چې د قبلې تحويل حق دی چې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ﴾.

مونږ وايو چې:

الف: دوی ته په خپلو کتابونو کښې معلومه وه چې د آخر الزمان پيغمبر ﷺ اصلي قبله کعبه شريفه ده او د څه وخت دپاره به بيت المقدس هم خپله قبله وګرځوي، نو کله چې د قبلې تحويل واقع شو نو د هغوی علم لا پسې زيات شو چې نبي کريم ﷺ په حقه پيغمبر دی، خو افسوس چې د خپل علم په مقتضی يې عمل ونه کړ.

ب: ځرنګه چې د نبي کريم ﷺ رسالت هغوی ته په معجزاتو سره پوره ځرګند وه نو هغوی پوهېدل چې پيغمبر ﷺ دروغ نه وايي د قبلې تحويل حق دی، خو خپل ځانونه يې ګونګان واچول چې مونږ نه هيڅ معلوم نه دي.

ج: هغوی ته معلومه وه چې الله ﷻ په فرعي احکامو کښې د خلکو د مصالحو دپاره نسخه واقع کوي، خو په دې خبره باندې يې خوله پټه کړې وه، او ويلې به يې چې په اسماني شرائعو کښې نسخه نه شته.

## يادونه

۹ـ که څه هم دا امر ﴿فَوَلِّ وَجْهَكَ﴾ د نبي کريم ﷺ ټول امت ته شامل دی مګر د دوهم ځل دپاره دوی په ﴿فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ﴾ کښې خکه مامور شوه چې:

(۱) تفسير القرطبي ج۲ ص ۱۶۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د قبلې تحویل خو د بهر عظیم الشان شی وه نو په ضمني امر سره یې اکتفاء ونه کړه او په صراحت سره ټول امت مکلف وګرځول شو.

ب: د دې دپاره په صراحت سره مخاطب کړی شوه چې د دوی اطمنان ښه حاصل شي چې دغه حکم په نبي کریم ﷺ پورې مختص نه دی او هم ورته د الله ﷻ په خطاب سره اعزاز او اکرام په نصیب شي.

ج: ترڅو چې د منافقانو او شیطانانو د شبهاتو د اچولو مخه په ښه توګه ونیوله شي چې په دې حکم کښې خو تاسو نه یاست مخاطب کړی شوي تاسو ولې کعبې ته مخونه ورتاوه وئ.

﴿وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَّا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَا أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٥﴾ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾﴾

[۱۴۵] او که چرته هغو کسانو ته چې هغوی ته کتاب ورکړی شوی دی، هره یوه معجزه او دلیل وروړې هم ستا د قبلې (کعبې) متابعت به ونه کړي.

او ته د دوی د قبلې متابعت کوونکی نه یې. او هغوی هم ځینې د ځینو نورو د قبلې متابعت کوونکي نه دي. او که ته چېرې د دوی د خواهشاتو متابعت د هغه څخه وروسته وکړې چې تا ته د علم څه برخه درغلې ده (نو) بې شکه ته به په دغه وخت کښې ضرور د ظالمانو څخه اوسې.

[۱۴۶] هغه کسان کومو ته چې مونږ کتاب ورکړی دی هغه (محمد ﷺ) داسې پېژني لکه چې خپل زامن پېژني او بې شکه د دوی یوه ډله ضرور حق پټوي، حال دا دی چې دوی پرې پوهېږي.

[۱۴۷] هر یو حق د جانب د رب ستا څخه دی، نو خامخا د شک کوونکو څخه مه کېږه.

## د مطلب خلاصه

د قبلې د تحویل په باره کښې د پورتنیو ایتونو څخه لاندې مطالب معلومېږي:

۱ـ کله چې د یوې موضوع په ثبوت باندې پوره کلک دلایل تېر کړی شي خو سره د هغه مدعي او مقابل طرف ورته التفات ونه کړي نو سړي ته لږ څه خپګان پېښېږي.

نو څه لږ نه ده چې په نبي کریم ﷺ باندې به د کافرانو د لجاجت (ضد) د امله خپګان پرېوتلی وي نو د تسلی دپاره ورته الله ﷻ واضحه کړه چې دوی د خپل زیل څخه لاس نه اخلي او همغسې درېسې پروپاګند کوي د دې باعث یوازې عناد او حسد دی، نه د دلایلو کمزوري. بالفرض که د دنیا هر یو دلیل او برهان ورته ښېل ښېل راوړې او د دوی هره یوه فرمایشي غوښتنه ورته په مخکښې کېږدې هم ستا د قبلې متابعت به ونه کړي.

۲ـ ای پیغمبره! نظر هغو دلایلو ته چې ستا په باره کښې د اهل الکتابو سره شته تا داسې پېژني

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لکه خپل زامن چې پېژني، نو د نه متابعت وجه یې دا هم نه ده چې دوی دې د پیغمبر په صفت نه پېژني. نورو معجزاتو ته ضرورت دی چې د دوی علم پرې حاصل شي.

او دا ځکه چې هغه څوک چې د نه منلو وجه یې شبهه وي د هغه قانع کول اسان دي، په دلایلو سره یې قناعت حاصلېدلی شي چې شبهات یې رفعه شي، مګر هغه څوک چې عنادي وي هغه ته دلایل او معجزات هیڅ فائده نه کوي او بلکې عناد یې پرې لا اضافه کېږي.

۳ـ یهودانو نبي کریم ﷺ ته تمه ورکوله چې که یو ځل بیا بیت المقدس ته لمونځ وکړې نو مونږ به درباندې ایمان راوړو او خبره به دې ومنو[۱]، نو الله ﷻ یې دغه خبره په لاندې وجو سره رده کړه.

الف: دوی دروغ وایي، که بالفرض ته بیت المقدس ته بېرته وروګرځې او هره یوه غوښتنه یې پوره کړې هم دوی به ایمان رانه وړي، دوی عنادیان دي، عنادي سړي ته دلایل څه ګټه نه کوي.

ب: ای پیغمبره! ته اوس اصلي قبلې ته ورواوښتې، تر اوسه پورې چې دې بیت المقدس ته لمونځ کاوه هغه د څه مــصالحو په خاطر وه، نور نو کعبه شریفه ستا دائمي قبله شوه، لکه څنګه چې ته آخر الزمان پیغمبر یې، همدارنګه دې قبله هم آخرنۍ قبله ده، نو د یهودانو تمه بې ځایه ده چې ته به بېرته هلته ورتاو شې.

ج: څرنګه چې یهود او نصارا یوه ډله د بلې ډلې قبلې ته مخ نه اړوي او ورڅخه نفرت لري، نو نه به څنګه دوی خوشاله کړی شې، که د هر یوه قبلې ته بالفرض مخ ورتاو کړې، بله ډله به خپه وي او دواړو قبلو ته خو مخ نه شې ورتاوه ولی.

ځکه چې بیت المقدس د مدینې منورې تقریباً په شمال کښې پروت دی چې د یهودو قبله ده، څوک چې بیت المقدس ته مخ کړي ضرور به یې مشرق (چې د نصاراوو قبله ده) ښې طرف ته واقع کېږي، دواړو قبلو ته مخ کول په هغه وخت کښې ممکن وه چې دواړه د مدینې منورې په یو سمت کښې واقع وی.

د: کله چې هغوی په منسوخه او باطله قبله باندې کلک دي چې هیڅ برهان او دلیل ورسره نشته نو تاسو به ولې په خپله حقه قبله (کعبه) باندې کلک نه اوسئ چې د حقیت دلایل یې هم لرئ، نو په کار دي چې د بېرته تاوېدلو تمه ستا څخه ونه کړي او نه ته د هغوی څخه د ایمان راوړلو تمه وکړې.

هـ: یهودانو ته وروښودله شوه چې نبي کریم ﷺ په اسلامي احکامو کښې د خپله خانه څه نه شي کولی، بلکې د الله ﷻ امر ته منتظر دی، که د ده خپله خوښه وی نو قبله به یې لا ډېره پخوا تبدیله کړې وی، که بالفرض د الله ﷻ د حکم څخه یې مخالفت کړی وی نو د ظالمانو څخه به شمېرل شوی وی.

## توضیحات

۱ـ که څه هم د یهودو او نصاراوو دواړو ډلو اصلي قبله په بیت المقدس کښې هغه تیره ده چې

---

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۴۵۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کریم ﷺ ورپورې د معراج په شپه براق تړلی وه چې ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ته یې امامت کاوه[۱]، خو نصاراوو د ځانو دپاره لمر خاته طرف قبله ټاکلې وه او دلیل یې دا نیولی وه چې په عیسی علیه السلام باندې په شرقي طرف کښې بي بي مریم امیدواره شوې وه. الله ﷻ فرمایي: ﴿ إِذِ ٱنتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴾ [مریم: ۱۶] یعني: کله چې (مریم) شرقي ځای ته د خلکو څخه په څنګه شوه.

یهودانو د ځانونو دپاره صندوق السکینه، چې د [البقرة:۲۴۸] ایت لاندې یې بیان راځي، د قبلې په صفت ګرځولی وه چې هغه به یې په . ذکره شوې تیرې باندې اینبوده خو کله چې ترې صندوق ضائع شو نو بیا یې نومورې تیره د قبلې په صفت باندې د مجبورۍ د کبله ومنله[۲].

## د معقول تشبیه د محسوس سره

۲_ د عربي ژبې په محاوره کښې دا خبره پوره مشهوره ده چې د هر څرګند شیان د زامنو سره تشبیه کوي[۳].

په همدې اساس الله ﷻ د آهل الکتابو علم او معرفت چې د نبي کریم ﷺ په باره کښې یې درلوده دهغوی د زامنو سره تشبیه کړ. دوی د لاندې وجو د کبله نبي کریم ﷺ پېژاند چې په حقه پیغمبر دی:

الف: ددوی په کتاب کښې داسې نښې او علامې نازلې شوې وې چې هغه ټولې په نبي کریم ﷺ باندې تطبیق وې. الله ﷻ فرمایي: ﴿ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلْأُمِّيَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ ﴾ [الأعراف:۱۵۷] یعني: هغه کسان چې د هغه لېږلي شوي نالوستي پیغمبر متابعت کوي کوم چې په خپل نزد باندې یې لیکل شوی مومي هم په تورات کښې او هم په انجیل کښې.

ب: د نبي کریم ﷺ څخه یې علاوه په قرآن کریم باندې چې لویه دائمي معجزه ده، نور خوارق او معجزات هم لیدل چې ښه باور یې پرې راته چې په حقه پیغمبر دی.

ج: که بالفرض دوی نه پېژاندلی نو د قرآن کریم خبره به یې رده کړې وی چې مونږ خو یې نه پېژنو، حال دا چې د نومورې ایت د نزول په وخت کښې ټول ساکت شوه.

د: مګر هغه چا دغه سکوت مات کړ کوم چې د همدوی د ډلې څخه وه او په ایمان باندې مشرف شوی وه، او د قرآن کریم خبره یې تائید او تصدیق کړه. د همدې جملې څخه عبد الله بن سلام رضي الله عنه هم وه، کله چې ترې عمر بن الخطاب رضي الله عنه پوښتنه وکړه، په جواب کښې یې ویلې چې: «يَا عُمَرُ! لَقَدْ عَرَفْتُهُ حِينَ رَأَيْتُهُ كَمَا عَرَفْتُ ابْنِي، وَمَعْرِفَتِيْ بِمُحَمَّدٍ ﷺ أَشَدُّ مِنْ مَعْرِفَتِي بِابْنِي» اي عمره! کله مې چې ولید داسې مې وپېژاند لکه خپل زوی چې پېژنم، بلکې د محمد ﷺ پېژاندنه مې لا ډېره قوي ده.

عمر رضي الله عنه وویلې چې دا څنګه؟ هغه وویلې چې: «أَشْهَدُ أَنَّهُ رَسُولٌ حَقٌّ مِنَ اللهِ تَعَالَى، وَقَدْ نَعَتَهُ اللهُ فِي

(۱) الطبقات الکبری لابن سعد ج ص: تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۶
(۲) تفسیر القاسمي ج۲ ص۳۰۲
(۳) في ظلال القرآن ج۱ ص۱۲۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پلوه رالېږلی شوی دی او چې دا په حقه د الله ﷻ د «كِتَابُنَا، وَلَا أَدْرِي مَا تَصْنَعُ النِّسَاءُ»(۱) زه شاهدي وایم زمونږ په کتاب کښې یې هم د ده صفات بیان کړي دي، مګر په دې نه پوهېږم چې ښځې څه کوي یعني که بالفرض زما ښځې خیانت کړی وي نو بیا به زما زوی نه وي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: کله چې د اهل الکتابو علم د نبي کریم ﷺ په باره کښې دومره قوي وه، نو باید چې د نفس سره یې تشبیه ورکړه شوې وی چې داسې یې پېژني لکه ځانونه چې پېژني؟

مونږ وایو چې: ځکه یې داسې ونه کړه ـ والله ﷻ أعلم ـ چې په ځینو وختونو کښې سړی خپل ځان نه پېژني، لکه د ماشوموالي په وخت کښې. اما د زامنو په باره کښې دغسې وخت متصور نه دی ځکه چې د زامنو پلاران خو به ضرور بالغان وي.

## یادونه

په یاد ولرئ! چې علم په دوه ډوله دی: یوه ته تصور وایي او بل ته تصدیق.

تصور د هغه علم نوم دی چې یو شی محض وپېژاندل شي او نور څه حکم ورباندې ونه کړی شي. او تصدیق هغه علم ته وایي چې برسېره په پېژندلو په هماغه پېژندل شوي شي باندې څه حکم هم وکړی شي، لکه چې مؤمنان وایي نبي کریم ﷺ په حقه د الله ﷻ لېږلی شوی بنده دی.

اهل الکتابو نبي کریم ﷺ د تصور په علم باندې پېژانده او د تصدیق مرتبې ته نه وه رسیدلي چې د پیغمبرۍ تصدیق یې هم کړی وی. نو ځکه دوی مؤمنان ونه ګڼل شوه.

لنډه دا چې محض تصوري علم ته ایمان نه شي ویلی ترڅو چې ورسره تصدیق نه وي. د هغوی د علم سره تصدیق نه وه که تصدیق ورسره وی نو ضرور به یې ددوی په کړنلاره باندې څه تاثیر کړی وی او ددوی کړه وړه به یې لږ څه کنټرول کړي وی، افسوس چې د تصدیق څخه بې برخې پاتې شوه.

## د شک کوونکو څخه مه کېږه

۴ـ باید چې د ﴿فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ﴾ څخه د چا په ذهن کښې دا خبره ونه ګرځي ـ العیاذ بالله ـ چې نبي کریم ﷺ د قبلې په حقیت کښې څه شک درلود. دا ځکه چې:

الف: په دې مقام کښې د نهي څخه په تعریضي توګه دې ته اشاره ده چې اهل الکتاب شک کوونکي دي که ته هر څه وکړې د شک څخه به یې وانه ړوې. دا یې مطلب نه دی چې ته شک کوونکی یې، شک دې لرې کړه.

ب: دلته که څه هم خطاب نبي کریم ﷺ ته دی مګر مطلب پکښې ټول امت دی چې د قبلې په تحویل کښې د انسي او جني شیطانانو شک اچولو ته التفات ونه کړي.

---
(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۲۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ج: دېته هم اشاره ده چې د قبلې په تحویل باندې عقیده کول دومره مهم دي که بالفرض المحال نبي کریم ﷺ پکښې څه تردد وکړي، نو دی به هم د ممترینو څخه وشمېرل شي، پاتې خو لا نور امت.
د: په دې ټولو باندې د پاسه د یو شي څخه منعه کول دا معنی نه ده چې هغه شی به د منعه کړی شوي په امکان کښې وي او د دې خطر به موجود وي چې چرته وربانديې مبتلی نه شي بلکې په دغسې مواردو کښې چې د وقوع امکان یې هم نه وي نهي واردېږي او مطلوب پکښې زیات ناکیدېږي، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ [الزمر:۶۵] یعنې او بې شکه تا ته هم وحې شوې ده او هغو کسانو ته هم چې ستا څخه پخوا وه (د دې خبرې که بالفرض) ته چېرې د الله ﷻ سره په شرک باندې قائل شې نو خامخا عمل به دې ضائع شي او د زیانکارانو څخه به شې.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې د قبلې په تحویل باندې خو یوازې أهل الکتابو اعتراضونه نه وه کړي بلکې مشرکان او منافقان هم پکښې اخته وه، نو په دې کښې څه حکمت دی چې د اعتراضاتو په جوابولو کښې د هغوی نومونه وانخستل شوه؟
مونږ وایو دا خکه چې:
الف: د اعتراضاتو اصلي منشأ همدوی وه، خکه چې د دوی قبله پرېښودله شوې وه او نورو ورسره پکښې همکاري کوله.
ب: د اهل الکتابو اعتراضاتو څه اهمیت درلود خکه چې دوی ته د وخت ټولو کافرانو د ملایانو په نظر کتل، دوی به هم خپل اعتراضات د خلکو د غولونې دپاره وحې ته نسبتول، نو خلک یې نسبتاً اسان غولولی شوه، نو کله چې د دوی اعتراضات جواب کړی شوه نو د نورو خو په طریق اولی سره جواب کړی شوي وګرځېده.

﴿وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا ۖ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ۚ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٤٨﴾﴾

[۱۴۸] او د هر چا دپاره د مخ اړولو خای شته چې همغه ته د خپل مخ وراړونکي دی، نو (بحث پکښې مه کوئ) نېکیو ته ورواړاندې شئ، په هر خای کښې چې یاست الله ﷻ به مو ټول (د قیامت حساب کتاب ته) راولي. بې شکه (لکه څنګه چې) الله ﷻ (د قبلې په تبدیل باندې قدرت لري) همدارنګه په هر شي باندې د قدرت والا دی.

## د مطلب خلاصه

په تېرو شوو ایتونو کښې د شبه کوونکو شبهاتو ته شو ځله جوابونه ویل شوي وه، په دې ایت

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شریف کښې مسلمانان هڅول کېږي چې معاندین عناد نیولي دي، د عناد څخه لاس نه اخلي، نو
ښه دا ده چې په همدومره دلایلو باندې چې مخکښې تېر شوه اکتفاء وکړي او نور د هغوی په خبرو
باندې خپل وخت ضائع نه کړي. چې لنډیز یې دا دی:

هره یوه طائفه د خپل ځان دپاره یوه خاصه قبله لري چې همغې ته خپل مخونه وراړوي تاسو هم د
محمدي (ﷺ) شریعت پیروان یاست، یوه خاصه طائفه یاست نو تاسو ته هم په کار ده چې خاصه قبله
او سنبول ولرئ، په همدې منظور مو درته کعبه د قبلې او سنبول په حیث وټاکله.

ستاسو او د نورو طوائفو دومره فرق دی چې تاسو ته الله ﷻ سنبول تعین کړ چې د الله ﷻ بندګان
یاست، نو په دې شکر وکړئ او د الله ﷻ احسان ومنئ، او هغوی چې د خپلو خواهشاتو بندګي کوي
هغوی خپلو خپلو ځانو ته پخپله سنبولونه ټاکلي دي.

لکه څنګه چې نورې طائفې کله-کله خپل سنبولونه بدلوي او څوک وربانديې اعتراض نه کوي،
نو ستاسو په سنبول بدلونې باندې (چې الله ﷻ د بیت المقدس څخه کعبې شریفې ته ورتبدیل کې)
هم باید څوک اعتراض ونه کړي.

د هر مسلک سنبول اصلي رکن نه وي بلکې محض د معرفت او پېژندنې نشان وي، د همدې
کبله په اسماني ادیانو کښې قبلې بدلون رابدلون موندلی دی چې د بني اسرائیلو پیغمبرانو ته بیت
المقدس ښودل شوی وه او ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام ته کعبه تعینه شوې وه، او محمد ﷺ ته
-چې جامع الکمالات دی- یو ځل د دواړو قبلو افتخار ورپه برخه شو او بیا ورته د قیامت تر ورځې
پورې په دائمي توګه کعبه شریفه سنبول او قبله وټاکله شوه.

نو نور پکښې سر مه خوږوئ او بحث پکښې مه کوئ، باید چې هغو قوانینو او احکامو ته
متوجه شئ چې د سنبول د سوري لاندې اجراء کېږي چې هغه د اسلام ټول احکام او یا د دنیا او
آخرت ټولې ښېګڼې دي.

په دې کښې مخ په وړاندې قدم واخلئ او په عملي میدان کښې یې پیاده کړئ. ځکه چې تاسو ته
ډېر لوی حساب او کتاب په مخکښې پروت دی د هغه دپاره تیاری ونیسئ په دنیا کښې چې
هرڅومره خلکو د یو سنبول لاندې ژوند کړی وي د قیامت په ورځ به د همغه سنبول لاندې یو ځل
راغونډېږي. تاسو او ستاسو دښمنان به هم په هر ځای او په هره زمانه کښې چې یاست یو ځل د
قیامت په ورځ راغونډ کړی شئ چې هر چا ته به د هغه د کړو وړو مطابق جزا ورکړی شي.

لکه چې الله ﷻ په ټوله دنیا کښې په خپل اختیار سره تصرفات کوي او تغیر او تبدیل پکښې
واقع کوي، همدارنګه په احکامو کښې هم د نسخې واک او اختیار لري، نو چې قبله یې د بیت
المقدس څخه کعبې ته واړوله، دا یې هم د لوی قدرت اثار او نښې دي.

بې شکه چې الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی. "قادر" هغه چاته وایي چې کارونه یې په اختیار
سره وي، نه وربانديې څوک زور کولی شي او نه یې پکښې اختیار سلب شوی وي. لکه د ګوزن
وهلي حرکت.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دلته د ﴿ وِجْهَةٌ ﴾ څخه قبله مراده ده[۱]، چې د مخ اړولو ځای ته يې وايي. دغه معنی ترې په لاندې طريقو سره اخستلی شي[۲]:

الف: چې "وِجْهَةٌ" مصدر شي په معنی د مفعول سره لکه "خَلْق" په معنی د مخلوق سره. يعنې هغه ځای چې هغه ته مخ کړی شوی دی.

ب: چې "وِجْهَةٌ" اسم شي د هغه ځای دپاره چې هغه ته مخ اړول کېږي، په دواړو طريقو سره يې د معنی حاصل يو شی راووځي.

﴿ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۖ وَإِنَّهُۥ لَلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٩﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُۥ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِى وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِى عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٠﴾ كَمَآ أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِّنكُمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا۟ تَعْلَمُونَ ﴿١٥١﴾ فَٱذْكُرُونِىٓ أَذْكُرْكُمْ وَٱشْكُرُوا۟ لِى وَلَا تَكْفُرُونِ ﴿١٥٢﴾ ﴾

[۱۴۹] او د هر ځای څخه چې ته خارج شې (او هر ځای ته لاړ شې) نو خپل مخ د المسجد الحرام طرف ته ور اړوه. او بې شکه همدا (مخ اړول) ستا د رب د پلوه حق (ثابت) دی.

او الله ﷻ د هغه څه څخه چې تاسو يې کوئ ناخبر نه دی.

[۱۵۰] او د هر ځای څخه چې ته خارج شې (او هر ځای ته لاړ شې) نو خپل مخ د المسجد الحرام طرف ته وراړوه.

او په هر ځای کښې چې تاسو اوسېږئ نو مخونه د همغه طرف ته وراړوئ، د دې دپاره چې په تاسو باندې د خلکو دپاره (مستند) حجت نه وي، مگر هغه کسان چې د هغوی د جملې څخه ظلم کوونکي (عناديان) دي (د هغوی د جنجال څخه نه شئ خلاصېدلی) نو د هغوی څخه مه وېرېږئ او زما څخه ووېرېږئ.

---

(۱) زاد المسير ج۱ ص۱۴۳
(۲) روح المعاني ج۲ ص۱۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

او د دې دپاره چې خپل نعمتونه په تاسو باندې پوره کړو (او بل د دې دپاره) شاید چې تاسو په سمه سیده لاره باندې روان اوسېږئ.

[۱۵۱] (لکه څنګه مو چې درباندې نعمتونه پوره کړه) همدارنګه مو په تاسو کښې ستاسو د جنس څخه خپل پیغمبر دراستولی دی چې په تاسو باندې زمونږ ایتونه لولي او تاسو تزکیه کوي او هم تاسو ته دکتاب او حکمت ښودانه کوي او هم درته هغه څه زده کوي چې هغه پخوا ستاسو زده نه وو.

[۱۵۲] نو تاسو ما یادوئ زه به تاسو یادوم، او خاص زما شکریه کوئ او ناشکري مې مه کوئ.

## د مطلب خلاصه

څرنګه چې د قبلې تحویل یو لوی بدلون وه او هم اولنی نَسخه وه چې په قرآن کریم سره ثابته شوه نو الله ﷻ په هغو ټولو خواګانو باندې صراحت وکړ چې هغه په غیر صریحي توګه معلومېدلې، ترڅو د ټولو بهانو آنو مخه ونیوله شي او دښمن ته د شک اچولو هیڅ وُت پاتې نه شي. نو د همدې کبله الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته یو څل بیا امر وکړ چې:

۱ــ د قبلې تحویل یوازې د مدینې منورې د ښار پورې خاص نه دی، هر طرف ته چې ته لاړ شې او سفر وکړې هم په لمانځه کښې المسجد الحرام ته مخ اړوه. څکه چې د قبلې تحویل د هغه ذات ﷻ د پلوه تثبیت شوی دی چې هغه ستا تربیه کوونکی دی، هر شی چې د تربیه کوونکي دپلوه وي په هغه کښې ضرور د ودې او ترقۍ ورکولو مطلب نغښتی وي.

الله ﷻ خو ستاسو د أعمالو څخه ناخبر نه دی بلکې ستاسو ټول کړه وړه د تل دپاره د هغه ﷻ د څارنې لاندې دي او مراقبت یې کوي.

۲ــ ای پیغمبره! دا حکم (چې د مدینې څخه هر ښار ته سفر وکړې هم مخ به کعبې شریفې ته اړوې) یوازې تا پورې خاص نه دی بلکې ټول امت دې مکلف دی چې د هر ځای څخه کعبې شریفې ته مخونه ورواړوي. حتی که تاسو پخپله دَ بیت المقدس په شاوخوا کښې استوګنه لرئ او یا په المسجد الأقصی (هغه جومات چې د بیت المقدس څخه راتاو دی) کښې لمونځونه اداء کوئ هم قبله به مو کعبه شریفه وي نه بیت المقدس.

نو په دې اعتبار سره به ستاسو مخونه کله شرق طرف ته ګرځي که تاسو د کعبې په غرب کښې اوسئ، نو پام کوئ چې دا خیال در ونه لوېږي چې مشرق خو د نصاراوو قبله ده او زمونږ مخونه ورتاو شوه.

۳ــ او کله چې په داسې وطن کښې استوګنه ولرئ چې کعبې ته په مخ اړولو کښې به مو بیت المقدس ته هم مخونه واوړي نو پام کوئ چې دا فکر درنه شي چې بیت المقدس خو د یهودو قبله ده او زمونږ مخونه ورواوښتل. دا څکه چې ستاسو په اراده او نیت کښې خو کعبې شریفې ته مخ اړول دي او بس. نور نو په مخه کښې مو چې څه درځي باک یې نشته.

۴ــ برسېره په دې تاسو چې د هر طرفه کعبې ته مخ کړئ که د شرق څخه وي او که د غرب

Downloaded: hawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځنګه، د جنوب ځخه وي او که د شمال ځخه، د ټولو اتفاق او اتحاد په پوره پیمانه تحقق مومي ځکه چې د ټولو په یو سنبول پورې د زړه سترګې تړلې دي، د دښمنانو وسواس ته التفات مه کوئ چې درته ووایي چې تاسو خو ځینې جنوب ته، ځینې شمال ته، ځینې شرق ته، او ځینې غرب ته ودرېږئ علاوه په دې دا فکر هم مه کوئ چې که قبله نه وی تحویل شوې نو د خلکو د اعتراضونو ځخه به بچ شوي وی. او یا دا چې ځینې خلک چې د قبلې په تحویل سره مرتد شوه هغه به نه وي مرتد شوي دغه ډول فکر کول هم د منافقانو د پلوه یو تشویش دی چې تاسو ته یې دراچوي.

۵_ نو د دې دپاره چې تاسو (مسلمانان) د قبلې په تحویل باندې ښه اطمنان ترلاسه کړئ لاندې ټکانو ته توجه وکړئ:

الف: که بالفرض مونږ قبله نه وی تحویل کړې نو په دې وخت کښې به هم د خلکو د اعتراضونو ځخه نه وی خلاص شوي بلکې په دې وخت کښې خو به د هغوی اعتراض ځه قوت هم درلودی مثلاً:

اول: مشرکانو به ویلی چې د محمدي (ﷺ) امت باید د ابراهیمي (ﷺ) ملت دعوه ونه کړي، ځکه چې قبله یې د دوام په توګه بیت المقدس ده، هغې کعبې ته چې ابراهیم ﷺ د قبله توب دپاره اباده کړې وه دوی د قبلې په نظر نه ګوري.

دوهم: یهودو به ویلی چې د آخر الزمان پیغمبر یوه نښه دا ده چې هغه به ذو القبلتین (د دوه وو قبلو خاوند) وي. محمد ﷺ ځکه آخر الزمان پیغمبر نه دی چې د ده قبله خو یوازې بیت المقدس ده.

دریم: منافقانو به هم مسلمانانو ته تشویشونه وراچولی چې محمدي (ﷺ) شریعت د یهودانو د دین پیرو او تابع دی، دوی د مستقل مسلک خاوندان نه دي.

نو کله چې قبله کعبې ته ورتاوه کړی شوه د دغو ټولو اعتراضاتو مخه ونیوله شوه او مستند اعتراض درباندې هیڅوک نه شي درلودی.

هو! ځینې معاندین خلک چې هغوی درباندې ظلم کوي او بې دلیله اعتراض درباندې کوي د هغه ځخه په هیڅ وخت کښې نه شئ خلاصېدلی. مثلاً چې ووایي چې محمد ﷺ په خپل دین کښې مضطرب دی په سر او بسر باندې نه پوهېږي، کله یو طرف ته مخ کړي او کله بل طرف ته او یا داسې نور بې اساسه اعتراضات.

لنډه دا چې د اساسي اعتراضاتو مخه مو درځخه ونیوله او غیر اساسي اعتراضونو ته ځه التفات مه کوئ او په خپل دین باندې منګولې ولګوئ او پرې کلک شئ تر ځو د عذاب مستحق ونه ګرځئ.

ب: د قبلې په تحویل سره غواړو چې په تاسو باندې خپل نعمتونه د پوره کولو په لور باندې لا ګړندي کړو، د قبلې تحویل خو ستاسو د استقلال په لور یو لوی قدم دی چې په بل قدم سره به درته کعبه شریفه فتحه کړو او په هغو دښمنانو باندې به مو برلاسي کړو چې تاسو یې د کعبې شریفې ځخه شړلي وئ.

ج: د قبلې په تحویل کښې یوه بله لویه ګټه هم شته هغه دا چې مخالفانو درباندې د نبي کریم ﷺ په ژوند کښې -چې د الله ﷻ د پلوه ورته وحي جاري ده_ ډول-ډول اعتراضات او شبهات وارد کړه او

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په مقابل کښې یې الله ﷺ درته د ښه مقاومت او صبر او استقامت لارې چارې دروښودلې چې د قیامت تر ورځې پورې به ترې استفاده کوئ، او ټولو دښمنانو ته به په حوصله ځوابونه ورکوئ او خپل ثبات به نه خرابوئ. که بالفرض بالکل د قبلې تحویل نه وی راغلی نو نه به دربانديې مخالفانو شور او غوغا جوړه کړې وی او نه به ستاسو تجربه پخه شوې وی نو د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته که دربانديې په کومه حادثه کښې د دښمنانو د پلوه اعتراضات کېدلی نو تاسو به یې په جوابولو کښې ښه تجربه نه درلودی او ورته به وارخطا شوي وی.

۶ـ علاوه په دې، دا یوازې نن ورځ نه ده چې تاسو ته مونږ د نعمتونو د پوره کولو په لور حرکت درکوو او په هره موضوع کښې ستاسو تربیه قوي کوو، بلکې د دې احساناتو لړۍ د هغه وخت څخه مونږ شروع کړې ده چې په تاسو کښې مو همدا ستاسو د جنس څخه پیغمبر درواستاوه چې هغه ستاسو دپاره لاندې کارونه کوي:

الف: زمونږ ایتونه دربانديې لولي، که دا مو نه وی مبعوث کړی د دې لوی شرف څخه به تاسو بې نصیبه وی.

ب: په عملي ساحه کښې تاسو تربیه کوي د جاهلیت د فاسدو عقایدو او د فاسدو اخلاقو څخه مو تزکیه کوي.

ج: تاسو ته د کتاب (قرآن) تعلیم کوي؛ ځکه چې د هغه هره وینا د قرآن کریم شرحه او بیان دی.

د: تاسو ته د حکمت ښودانه کوي. یعنې هغه څه یې چې ستاسو دپاره راوړي دي هغه درته په عملي میدان کښې پیاده کوي نو تعلیمات یې یوازې نظریات نه دي چې عملي بڼه ونه لري. د همدې کبله تاسو چې څه پېژنئ د واقع مطابق یې پېژنئ، او د حقائقو په پېژندلو کښې تاسو ملکه لرئ چې معلومات مو ټول د حقیقت په بنیاد دي.

هـ: نور داسې شیان دربښيي چې پخوا ترې محروم وئ او هیڅ مو نه پېژانده. نو څرنګه چې د نعمتونو لړۍ لا روانه ده او څه انتهاء نه لري نو تاسو ما یادوئ زه به تاسو یادوم او زما شکریه کوئ او ناشکري مې مه کوئ، لکه څنګه چې زه په شکر سره نعمتونه اضافه کوم، همدارنګه یې په ناشکرۍ سره بېرته اخلم.

## توضیحات

۱ـ هغه امر چې د قبلې تحویل دربانديې ثابت شوی دی په [۱۴۴، ۱۴۹، ۱۵۰] ایتونو کښې نازل شوی دی، په [۱] او [۳] ایت کښې ورسره د امت دپاره امر هم ذکر دی: ﴿ فَوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ ﴾، او په منځنې کښې ورسره د امت امر نشته او یوازې نبي کریم ﷺ ته خطاب شوی دی چې ﴿ فَوَلِّ وَجْهَكَ ﴾ یعنې مخ دې ورواړوه.

که څه هم ځینو مفسرینو کرامو دغه تکرار د تاکید دپاره ګڼلی دی ځکه چې د قبلې تحویل یو ډېر مهم حکم وه نو د دې دپاره چې د خلکو ... په ... کښې ښه کښېني درې خله تاکیداً تکرار شو، او

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نورو مفسرینو کرامو پکښې نور څه لیکلي دي⁽¹⁾؛ مګر موږ ته داسې ښکاري چې په دغه تکرار کښې یوازې تاکید مطلب نه دی بلکې په هر یو ځای کښې په تازه مطلب باندې هم دلالت کوي، چې تشریح یې په لاندې ډول ده:

الف: د اول مقام څخه دوه مطلبه معلومېږي: یو دا چې نبي کریم ﷺ خوشاله کړي: ﴿ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَىٰهَا ﴾ الآية [۱۴۴]، او بل دا چې د مخالفینو د اعتراضاتو مخه ونیسي: ﴿ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ﴾ الآية [۱۴۴].

څرنګه چې د مخالفینو اعتراضاتو یوازې په نبي کریم ﷺ پورې اختصاص نه درلود بلکې په ټولو مؤمنانو باندې یې پړه اچوله نو ځکه مؤمنانو ته هم امر وکړی شو چې: ﴿ فَوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ ﴾ الآية.

ب: په دوهم مقام کښې هم دوه مطلبه په نظر راځي: یو دا چې د قبلې تحویل یوازې په مدینه منوره پورې خاص نه دی بلکې ټوله دنیا پکښې شامله ده: ﴿ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ ﴾ الآية.

او بل دا چې دا حکم دائمي دی، بل وار نسخه نه قبلوي، نو ټولو زمانو ته شامل دی: ﴿ وَإِنَّهُۥ لَلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ﴾ الآية، څرنګه چې په دې مقام کښې د امت ذکر ته اړتیا نه وه نو د دوی دپاره پکښې امر ذکر نه کړی شو.

ج: په درېیم مقام کښې د ېر لوی مطلب دا ذهن ته راځي چې د مؤمنانو اطمنان او ډاډینه حاصله شي ځکه چې د مخالفینو اعتراضات ډېر په شدت سره جاري وه، نو په کار وه چې څه د ډاډیني دلایل هم ذکر کړی شي، ﴿ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ﴾ الآية.

که څه هم په دې مقام کښې د نبي کریم ﷺ د امر ذکر کولو ته چندان اړتیا نه وه ځکه چې هغه ﷺ خولا د پخوا څخه د قبلې تحویل ته لېوال وه او د اعتراضاتو د اغېزې لاندې د راتلو خطره ورته نه وه، مګر د مؤمنانو د اطمنان په خاطر ورته په درېیم ځل هم امر وشو چې ﴿ فَوَلِّ وَجْهَكَ ﴾ الآية.

## یادونه

په یاد ولرئ چې د اطمنان حاصلول د نبي پخې عقیدې سره څه منافات نه لري، لکه چې ابراهیم ﷺ د مړو په ژوندي کېدلو کښې د الله ﷻ څخه د ښه اطمنان دپاره غوښتنه کړې وه، چې مکمل بحث یې په [البقرة: ۲۶۰] ایت کښې راروان دی.

## پوښتنه او د هغې جواب

۲- که څوک وایي چې: "خوف" او "خشیة" څه فرق لري چې ﴿ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِى ﴾ نازل شوی او "فلا تخافوهم وخافوني" نازل نه کړی شو؟

موږ وایو چې: "خوف" هغه ډار او وېرې ته وایي چې په زړه کښې وارخطائي پیدا شي او د هغې

(۱) التفسیر الکبیر ج۴ ص۱۵۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۹۵؛ حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۴۶۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په سبب د مُخَوفٌ عَنهُ کار څخه سړی خان وساتي. او "خَشيَة" هغه اطمنان او ډاډینه ده چې په زړه کښې ځای ونیسي او د هغه په اثر د سړي په زړه کښې تقوی (وېره) موجوده شي[۱].

خيني مفسرين كرام وايي چې "خوف" هغه ډار ته وايي چې د داسې حادثې د کبله پيدا شي کومه چې تر اوسه نه وي واقع شوې، او "خَشيَة" هغه ډار ته وايي چې د واقع شوې حادثې څخه يې منشا نيولې وي[۲].

که اولني توضيح څوک يو ځل بيا ولولي پوه به شي چې دلته د "خَشيَة" کلمه څومره ښه مناسبه ده چې هم د قبلې تحويل واقع شوی دی او هم په دې مقام کښې اطمنان حاصلول مطلب دي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ وَلِأُتِمَّ نِعۡمَتِي عَلَيۡكُمۡ ﴾ کښې د "و" توری په دې دلالت کوي چې دلته د تعميم دپاره يوه جمله مقدره ده چې مونږ تري په "فَعَلْتُ مَا فَعَلْتُ لِحِكَمٍ كَثِيرَةٍ" سره تعبير کولی شو. يعني: ما هغه کارونه وکړه کوم مې چې وکړه (البته) د ډېرو حکمتونو د کبله او هم د دې کبله چې په تاسو باندې خپل نعمت پوره کړم.

## د ذکر ډولونه

۳ـ د الله ﷻ يادول (ذِکر) په لاندې درې طريقو سره کېږي[۳]:

الف: په ژبه، چې د الله ﷻ کتاب ولولي او پاکي او تقديس يې بيان کړي. همدا ذکر نبي کريم ﷺ د ابو هريره رضي الله عنه په روايت په قدسي حديث کښې بيان کړی دی چې فرمايلي يې دي چې: «يَقُولُ اللهُ ﷻ أَنَا مَعَ عَبْدِي حِينَ يَذْكُرُنِي فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ هُمْ خَيْرٌ مِنْهُمْ وَإِنْ اقْتَرَبَ إِلَيَّ شِبْرًا اقْتَرَبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا وَإِنْ اقْتَرَبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا اقْتَرَبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا فَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً»[۴] يعني: الله ﷻ فرمايي چې زه د خپل بنده سره يم کله چې ما يادوي، که د ځان سره مې ياد کړي نو زه يې هم د خانه سره يادوم، او که په يو ټولګي کښې ما ياد کړي زه يې په داسې ټولګي کښې يادوم چې د ده د ټولګي څخه بهتر دی، که ماته يوه لوېشت رانژدې کېږي زه ورته يو ګز ورنژدې کېږم، او که دی يو ګز رانژدې کېږي زه يو باع (چې سړی دواړه لاسونه غزول شوي ونيسي) ورنژدې کېږم، او که ماته په ارامۍ سره راځي زه ورته په جلتۍ سره ورځم.

د دغه حديث شارحين وايي چې د جلتۍ يا نژدې کېدلو نسبت چې دلته الله ﷻ ته شوی دی، مقصد پکښې دا دی چې الله ﷻ بنده ته څو چنده ثوابونه او اجرونه ورکوي البته د مجاز په طريقه سره او يا د مشاکلت په قانون باندې چې د [البقرة:۱۳۸] ايت لاندې ورته څه اشاره شوې ده، هلته دې وکتل شي.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۲ ص۱۷۰
(۲) البحر المحيط ج۱ ص۴۴۲
(۳) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۴۶۶
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۰۱؛ مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۵۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ب: هغه ټول اعمال چې انسان ورباندې مامور دی او په جوارحو اداء کېږي د "ذکر" په نامه یادېږي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ ﴾ [الجمعة: ۹] یعنې: ای مؤمنانو! کله چې د لمانځه دپاره د جمعې په ورځ اواز وشي نو د الله ﷻ ذکر (لمانځه) ته د ورتللو کوښښ وکړي.

ج: د زړه ذکر، چې په لاندې درې ګروپونو باندې وېشل کېږي:

اول: په هغو دلایلو کښې فکر کول چې په هغو سره ټولې فاسدې شبهې او شکونه د منځه ځي، چې د دې جملې ځخه د دښمنانو اعتراضات هم شمېرل کېږي چې د قبلې په تحویل کښې یې په کار اچولي وه.

دوهم: په هغو دلایلو کښې تفکر کول، چې د الله ﷻ په أحدیت (یووالي) او نورو صفاتو باندې دلالت کوي، لکه چې فرمایي: ﴿ سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ ﴾ [فصلت: ۵۳] یعنې: ژر دی چې دوی ته به مونږ خپل دلایل په اطرافو او په نفسونو کښې ورښکاره کړو ترڅو دوی ته واضحه شي چې یوازې همدی ﷻ حق دی.

دریم: په هغو دلایلو کښې فکر کول، چې هغه د الله ﷻ په تشریعي احکامو باندې دلالت کوي. لکه فرض، واجب، سنت او داسې نور.

## په درې لحاظونو سره د الله ﷻ یادونه

که د الله ﷻ یادونه څوک د عظمت په لحاظ سره وکړي نو هیبت ترې پیدا کېږي، او که دقدرت په لحاظ سره یې وکړي وېره او ډار پیدا کوي، او که د نعمت په لحاظ یې وکړي نو سړی شکر ته مخوي، باید چې سړی دغه درېواړه لحاظونه د نظره ونه غورځوي.

## د شکر ډولونه

۴ـ شکر په لغت کښې د نعمت اظهار ته ویل کېږي چې په مقابل کښې یې کفر استعمالېږي چې د نعمت د پټولو ځخه عبارت دی.

په شکر کښې هم د ذکر درېواړه ډولونه تحقق موندلی شي چې:

الف: په ژبه باندې شکر کول، چې د الله ﷻ نعمتونه یاد کړی شي لکه چې فرمایي: ﴿ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ ﴾ [الضحى: ۱۱] یعنې: او هر چې په تاباندې د خپل رب نعمتونه دي نو هغه بیان کره.

ب: په نورو جوارحو باندې شکر کول، چې سړی خپل مکلفیت پوره کړي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗاۚ ﴾ [سبأ: ۱۳] یعنې: ای د داوُد ﷺ کورکهوله! تاسو د شکر د پوره کولو په حیثیت عمل وکړئ.

ج: په زړه باندې شکر کول چې د الله ﷻ د نعمتونو تصور د خانه سره وساتي[1].

(۱) مفردات امام راغب ص۲۷۲؛ تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۷۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: د پورتني شرحې په مطابق سړي ته ذهن ته ورځي چې په دې مقام کښې د ﴿ فَاذْكُرُونِي ﴾، ﴿ وَاشْكُرُوا لِي ﴾، ﴿ وَلَا تَكْفُرُونِ ﴾ دريواړه جملې يوه معنی ورکوي، نو په دې کښې څه حکمت وه چې د دريواړو څخه په يوه جمله باندې اکتفاء ونه کړی شوه؟

مونږ وايو چې: د همدې کبله مفسرينو کړامو د "ذکر" څخه د ژبې ذکر اخستی او د "شکر" څخه يې د عمل شکر مراد کړی دی او د ﴿ وَلَا تَكْفُرُونِ ﴾ څخه يې د ذکر او شکر اختصاص اراده کړی دی چې خاص زما ذکر او شکر کوئ نه د بل چا. او دغسې څه نور جوابونه يې هم کړي دي[۱].

مګر مونږ ته دا هم لرې نه ښکاري چې د قبلې د تحويل په باره کښې (لکه چې په اوله توضيح کښې پوره شرحه شوی دی) الله ﷻ د متعددو مطالبو دپاره درې کرته امر کړی وه نو د دريواړو اوامرو په مقابله کښې يې دلته په هغو باندې عمل کول درې خله په بېله-بېله بڼه کښې بيان کړه، والله ﷻ أعلم.

## يادونه

۶_ که د دې سورت [۱۵۱] ايت سړی د [۱۲۹] ايت سره مخامخ کړي نو د ورايه پوهېږي چې نبي کريم ﷺ د ابراهيم ﷺ او اسماعيل ﷺ د سوال اجابت او قبول دی.

نو څرنګه چې هغوی دواړو د يو پيغمبر غوښتنه يوازې د عربو دپاره نه وه کړې نو معلومه شوه چې دلته د ﴿ مِّنكُمْ ﴾ څخه مطلق انسانان مراد دي چې الله ﷻ پيغمبر د ملکو او جنيانو څخه راونه لېږه، د بشر د جنس څخه يې راولېږه.

نو چا چې د ﴿ مِّنكُمْ ﴾ خطاب يوازې عربو ته معنی کړی دی[۲] هغه صحيح فکر نه دی کړی.

## سوال جواب

که څوک وايي چې: دا ايت او هغه ايت سره دومره فرق لري چې هلته د تعليم څخه تزکيه وروسته ذکر شوې ده او دلته بالعکس د تزکيې څخه تعليم وروسته ذکر شوی دی، په دې کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: دلته خو د طبيعي حالت سره مطابقت شوی دی چې تزکيه (تخليه) په تعليم (تحليه) باندې مقدمه وي، دا ايت خو عملي ساحه بيانوي. او په هغه ايت کښې خو محض د يوه پيغمبر -چې دغه، دغه صفات ولري- غوښتنه ذکر ده او ښکاره ده چې د وجودي صفاتو ارزښت زيات دی نسبت عدمي صفاتو ته، نو ځکه يې تزکيه وروسته ذکره کړه.

لنډه دا چې هلته د غوښتنې بيان وه او دلته د عمل بيان دی، د غوښتنې د بيان سره (چې محض

(۱) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۴۶۶
(۲) تفسير نمونه ج۱ ص۵۱۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


بعول (٢) حیثیت لري) تزکیه وروسته ذکر کول ښه مناسب وه چې عدمي صفت دی او د عمل د بیان ذکر مخکښې ذکر کول ښه مناسب وه چې وجودي صفت دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾ وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقۡتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتُۢۚ بَلۡ أَحۡيَآءٞ وَلَٰكِن لَّا تَشۡعُرُونَ ﴿١٥٤﴾ وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٥﴾ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ﴿١٥٧﴾﴾

[١٥٣] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! د الله ﷻ څخه په صبر او لمانځه سره کومک وغواړئ. بې شکه الله ﷻ د صبر کوونکو سره دی.

[١٥٤] او تاسو هغه چا ته چې د الله ﷻ په لاره کښې ووژل شي مه وایئ چې (دوی) مړي دي، بلکې دوی ژوندي دي مګر ستاسو د شعور لاندې نه راځي.

[١٥٥] او ضرور به تاسو امتحان کړو په څه ناڅه ډار، لوږې، د مالونو په نقصان، د نفسونو په کمبود او د میو جاتو په لږوالي سره او زېری ورکړه صبر کوونکو ته.

[١٥٦] هغو کسانو ته چې کله ورته مصیبت ورسېږي نو دوی وایي چې بې شکه مونږ الله ﷻ لره یو او بې شکه مونږ خاص همده ﷻ ته رجوع کوونکي یو.

[١٥٧] دغه کسان په همدوی باندې د خپل رب ﷻ د پلوه مغفرتونه او رحمتونه دي او همدغه کسان همدوی سیده لاره موندونکي دي.

## ارتباطونه

١- په وړاندینیو ایتونو کښې مؤمنان د قبلې په تحویل باندې وازمویل شوه، لکه چې فرمایي: ﴿إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِۚ﴾ [البقرة: ١٤٣].

په دې ایتونو کښې اشاره ده چې ستاسو امتحان یوازې د قبلې په تحویل نه وه چې خلاص شو بلکې تاسو به په آینده کښې په ډېرو شیانو باندې وازمویل شئ لکه جهاد او د جهاد متعلقات.

٢- په وړاندینیو ایتونو کښې بیان شوې وه چې ستاسو د مخالفینو د اعتراضاتو مخه مو ونیوه خو عنادي مخالفین مو د جګړې څخه لاس نه اخلي: ﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ﴾ [البقرة: ١٥٠]، د دوی سره به آخر ستاسو خبره مسلح جهاد ته ورسېږي چې هلته به د ډېرو کړاوونو سره مخامخ شئ لکه شهادت، لوږه، تنده او نور. نو خانونه ورته تکړه کړئ او حوصله ورته غټه کړئ.

٣- په وړاندینیو ایتونو کښې د شکر غوښتنه شوې وه ﴿وَٱشۡكُرُواْ لِي﴾ [البقرة:١٥٢]. په دې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایتونو کښې په صبر باندې امر کړی شوی دی ترڅو مؤمنان د دواړو کمالاتو درلودونکي وګرځي ځکه چې د مؤمنانو د مادي او معنوي پرمختګ عوامل همدا دوه شیان (شکر، صبر) دي او بس.

## شان نزول

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې کله د بدر په غزا کښې څوارلس (۱۴) کسه مجاهدین شهیدان شوه، د همدوی په باره کښې الله ﷻ وفرمایل چې دوی ته مړي مه وایئ بلکې دوی د الله ﷻ په نزد ژوندي دي[1].

امکان لري چې د اسلام مخالفانو به پروپاګند هم کړی وي چې مسلمانانو بې فائدې خپل ځانونه مرګ ته ورکړي دي چې محض د محمد ﷺ د خوشالولو دپاره ځانونه وژني، نو د دې دپاره چې مسلمانانو ته څه تشویش ورپیښ نه شي الله ﷻ د مخالفینو خبره په کلکه رده کړه.

## د مطلب خلاصه

۱ ـ څرنګه چې د قرآن کریم د نزول حادثه د مفهوم عموم ته څه تکان نه ورکوي نو ځکه عمومي مؤمنان مخاطب وګرځول شوه چې ای مؤمنانو! تاسو باید د خپل دین په ساتنه کښې او د مخالفینو په مقابل کښې د مقاومت دپاره د الله ﷻ څخه په لاندې دوه شیانو باندې کومک وغواړئ:

الف ـ صبر او استقامت، چې ورته بې حوصلې نه شئ او ثبات د لاسه ورنه کړئ.

ب ـ لمونځ، چې ستاسو علاقه د الله ﷻ سره قوي کوي او تاسو ته الله ﷻ په ډېره موثره توګه درپه زړه کوي، چې فرمایي: ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴾ [الرعد ۲۸] یعني: الله ﷻ ته رجوع کوونکي هغه کسان دي چې دوی ایمان راوړي او د الله ﷻ په یادولو سره یې زړونه ډاډینه ترلاسه کوي، خبردار چې د الله ﷻ په ذکر سره زړونه مطمئن کېږي. (الله ﷻ د د ... ر کوونکو او لمونځونه کوونکو سره دی).

۲ ـ ستاسو ثبات په دې خبره هم خرابېږي چې د الله ﷻ په لار کښې شهیدان درته مړه ښکاره شي او هغوی ته مړه ووایي، نو دوی ته مړه مه وایئ بلکې هغوی د الله ﷻ په نزد کښې ژوندي دي خو تاسو یې ژوند نه شئ حس کولی. تاسو ته هغسې مشاعر نه دي درکړی شوي چې د هغوی په ژوند باندې مو شعور راشي. ستاسو دښمنان چې ورته مړه وایي د هغوی مطلب دا دی چې ستاسو زړونه وغورځوي ترڅو د جهاد څخه لاس په سر شئ.

دنیا د امتحان او ازمېښت ځای دی، د عیش او عشرت ځای جنت دی چې چارچاپېره ترې په ډول ډول تکالیف او مشقتونه ځای په ځای شوي دي، ترڅو چې د هغو څخه ورتېر نه شئ نو جنت ته نه شئ داخلیدلی.

یوازې همدا یو غم نه دی چې په تاسو باندې راغی او څه مجاهدین وروڼه مو شهیدان شوه، په

---

[1] التفسیر الکبیر ج۴ ص۱۶۳. اسباب النزول للواحدي ص۲۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لځوا سکین شو



کېږي کښې به تاسو د دغسې نورو ډېرو امتحانونو سره هم مخامخ شئ. مثلاً:
... خه ناځه خوف او ډار به درباندې د دښمن د پلوه راشي چې تعرض به درباندې وکړي.
... به لوږه او تنده به وازمایل شئ چې د سخت اوړي په ورځو کښې به درباندې روژه راشي او یا د کافرو د پلوه په محاصره کښې واقع شئ او ټوله اذوقه (خوراک، څښاک) به درباندې بند شي.
... د مالونو او شتمنیو د نقصان سره به مخامخ شئ چې د کافرو د لاسه به هجرت ته مجبور شئ او ټوله شتمني به درڅخه په وطن کښې پاتې شي چې یو سر او غوږ به ترې ووځي، برسېره په جهاد باندې به مشغول اوسئ تجارت او کارو کسب ته به فرصت نه شئ موندلی او مالونه به مو مخ په کمبود باندې روان وي.
... د سرېو نقصان به هم درته پېښ شي چې ځوانان به مو په جهاد کښې ځوک شهیدان او ځوک معیوبان شي او سپین ږیري به مو مړه شي، کېدی شي چې د قحط الرجالی سره لاس او ګرېوان شئ چې انفاقي مشر به نه شئ موندلی او د همدې ډول مشر په موندلو کښې به په لوی مصیبت باندې اخته شئ.
... لکه څنګه چې په جهاد باندې د مشغولیت د کبله په شتمنی کښې تجارت ته فرصت نه لرئ همدارنګه به د خپلو ځمکو خدمت او دهقانی ته هم اوزګار نه اوسئ، پټي به مو پوره حاصل نه ورکوي او باغونه به مو پوره میوجات نه نیسي چې خدمت ته به یې رسېدګي نه شئ کولی.
دغسې د نورو امتحاناتو سره به مخامخ شئ دا خو محض د مثال په توګه درته یاد کړی شو، نو خپلې حوصلې به نه خرابوئ او په پراخو سینو به د حوادثو مقاومت کوئ؛ او دا خکه لکه څنګه چې د الله ﷻ په لار کښې وژل کېدل مرګ نه دی بلکې ژوند دی.
همدارنګه دغه تلفات نه بلکې منافع دي چې تاسو یې څانونو ته راجلبوئ مګر سمدستي درباندې شعور نه لرئ خو بیا به پرې پوه شئ؛
۳ـ نو ای پیغمبره! صبر کوونکو ته بشارت او زېری ورکړه چې ستاسو هیڅ یو درد او غم بې اجره نه دی، خو صبر کوونکي وپېژنئ؛
صبر کوونکي چې الله ﷻ ورته بشارت ورکوي هغه کسان دي چې کله ورته مصیبت ورسېږي، لږ دی او که ډېر، نو دوی وایي چې مونږ ټول د الله ﷻ ملک یو او هغه ﷻ مو مالک او واکدار دی هرڅه چې مونږ ته راپېښوي مونږ پرې راضي یو، برسېره په دې د همدغه مهربان الله ﷻ سره زمونږ هیڅ غم او درد بې اجره نه دی، هغه ﷻ ته به ضرور رجوع کوو او په اجرونو باندې به سترګې رڼې کوو.
۴ـ نو ای پیغمبره! دوی ته دا زېری ورکړه چې په همدوی باندې د خپل رب ﷻ د پلوه مغفرتونه دي چې ګناهونه به ورته عفوه شي او په دوی باندې رحمت دی چې لوړو درجو ته به وخېژول شي، او همدوی ته هدایت کړی شوی دی چې په سمه لار باندې روان دي.
د دوی په شان بل ځوک هدایت موندونکی نشته، نو په دوئ باندې به هیڅکله مصیبتونه دومره

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


فشار وارد نه کړي چې د کافرانو په شان بې صبري وکړي او خپل ځانونه انتحار کړي.

## توضیحات

د [البقرة: ۴۵] ایت لاندې څه معلومات لیکلي دي.

۱_ مونږ د صبر او لمانځه په باره کښې د [البقرة: ۴۵] ایت لاندې څه معلومات لیکلي دي، هیله ده چې لوستونکي هلته یو ځل بیا مراجعه وکړي، مګر دلته لاندې څو مطالب وراضافه کوو.

الف: څرنګه چې د انسان د کامیابۍ یو لوی عامل صبر دی نو په قرآن کریم کښې تقریباً اویا (۷۰) ځله د صبر کلمه او د هغې مشتقات ذکر شوي دي او د هغې په شاوخوا کښې بحث شوی دی د همدې کبله صابرینو ته په ډېره لویه پیمانه د اجر وعده ورکړه شوې ده ﴿ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ [الزمر: ۱۰] یعنې: بې شکه صبر کوونکو ته به بې حسابه اجر ورکړی شي.

خو په یاد ولرئ چې د ظالم په مقابل کښې سر ټیټول او د هغه ظلم ته تسلیمېدل هیڅکله د صبر معنی نه ده. یعنې په نورو مصیبتونو باندې صبر واجب دی مګر د ظالم په ظلم باندې واجب نه دی.

په دې صورت کښې باید د ظالم حالت ته وکتل شي که حالت یې داسې وو چې سړی پوهېده چې عفوه کول ورباندې تاثیر راوړي او خجالت کېږي، نو هلته صبر کول او هغه ته عفوه کول بهتر دي او که د هغه حالت داسې وه چې په عفوه باندې یې لا ظلم اضافه کېده او تکبر یې پرې مخ په وړاندې روان وه نو هلته انتقام بهتر دی، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلْبَغْيُ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴾ [الشورى:۳۹] یعنې: او مؤمنان هغه کسان دي چې کله دوی ته بغاوت ورسېږي (ظلم پرې وکړی شي) دوی انتقام اخلي.

ب: د صابرانو یو مثال د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې موجود وه او هغه دا چې: ﴿ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُوا۟ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا وَقَالُوا۟ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴾ [آل عمران:۱۷۳] یعنې: مؤمنان هغه کسان دي چې کله دوی ته خلک ووایي چې بې شکه خلک ورته راټول شوي دي نو ویې ډار کړي (خو دوی نه ډارېږي) دغه خبره یې لا ایمان زیات قوي کوي او وایي چې الله ﷻ مو بس دی او هغه ډېر ښه کارساز دی.

ج: صبر په انسان پورې خاص دی ملائکو ته صابران نه ویل کېږي ځکه صبر هلته تحقق مومي چې د عقل او شهوت مقابله وکړي او په نتیجه کښې عقل بریالی شي، او ملائک خو شهوت نه لري.

د: لمونځ د صبر یو ژوندی مثال دی، د همدې کبله یې په ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ باندې اکتفاء وکړه، سره د دې چې وړاندې خو لمونځ هم ذکر شوی وه.

نو معنی یې داسې شوه چې: بې شکه الله ﷻ د صبر کوونکو ملګری دی په نصرت، علم او قدرت سره، چې د هغوی د جملې څخه لمونځ کوونکي هم دي.

### د شهیدانو په باره کښې څه مطالب

۲_ مونږ غواړو چې د شهیدانو په باره کښې لاندې مطالب محترمو لوستونکو ته وړاندې کړو:

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "شهید" د کلمې معنی

الف: د شهید کلمه یا په معنی د شاهد سره ده یعنې د شهادت خاوند، ځکه چې د قیامت په ورځ به د هر شهید دپاره د هغه زخمونه شهادت وايي. لکه چې نبي کریم ﷺ فرمايي: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ وَالرِّيحُ رِيحُ الْمِسْكِ»[۱] یعنې: په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما وجود د هغه په قدرت کښې دی چې هیڅوک په لار د الله ﷻ کښې نه زخمي کېږي (الله ﷻ ښه پوهېږي په هغه چا باندې چې هغه یې په لار کښې زخمي کېږي) مګر د قیامت په ورځ به په داسې حالت کښې راشي چې د وینو رنګ به یې د وینو په شان (سور) وي خو خوشبويي به یې داسې وي لکه مشک.

او یا شهید د شاهد (حاضر) په معنی دی چې هر یو شهید د قیامت څخه لا پخوا د شنو مرغانو په جوجورو کښې جنت ته حاضرېږي[۲]، ته به وایې چې په ځرخي الوتکه کښې سور دی.

یا شهید د "مشهود" په معنی دی، چې د روح د قبضې په وخت کښې ورته د بشارت او رحمت ملائک حاضرېږي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ [فصلت: ۳۰] یعنې: په دوی باندې ملائک رانښکته کېږي چې مه وېرېږئ او مه خپه کېږئ او زېرې قبول کړئ په هغه جنت سره چې ستاسو سره یې وعده کړه شوې وه.

## شهیدان ژوندي دي

ب: په دې کښې شک نشته چې شهیدان د خلکو په وړاندې همېشه ژوندي دي چې د تل دپاره په نېک نامه سره يادېږي او رحمتونه ورته غوښتل کېږي. او په دې کښې هم شک نشته چې د شهیدانو ارواګانې وروسته د هغه چې د بدنونو څخه یې جدا شي د شنو مرغانو په جوجورو کښې د قیامت د ورځې څخه مخکښې په جنت کښې ګرځي راګرځي او د برکاتو څخه یې استفاده کوي.

خو په دې کښې اختلاف دی چې شهیدان د شهادت څخه وروسته جسماً ژوندي دي او که نه؟.

ځیني مفسرین کرام وايي چې جسماً ژوندي نه دي ځکه چې بدن یې منحل کېږي، که بدني حیات یې درلودی نو بدنونه به یې نه خاورې کېدلې.

اکثره مفسرین کرام وايي چې هر کله چې ورته الله ﷻ ژوندي وايي نو خامخا ژوندي دي، خو هغه داسې ژوند نه دی چې مونږ پرې په دې دنیا کښې پوه شو. د همدې کبله راته الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴾ یعنې: مګر تاسو پرې شعور نه لرئ.

زمونږ (أهل السنة والجماعة) عقیده دا ده چې د ژوند دپاره ضرور نه ده چې بدن دې منحل نه شي، بلکې الله ﷻ کولی شي چې شهیدان سره د دې چې بدنونه یې بالکل ټوټه-ټوټه شوي وي هم

---

[۱] صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۳

[۲] سنن الدارمي ج۲ ص۱۲۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ژوندي وساتي چې د ورکړې شوي رزق څخه استفاده هم وکړي. لکه چې فرمایي: ﴿ يُرْزَقُونَ ﴾ [آل عمران: ۱۶۹] یعنې: دوی ته روزي ورکول کېږي.

## یوه قیصه

ج: د "إرشاد العقل السليم إلى مزايا القرآن الكريم" تفسير مصنف (أبو السُّعود، جليل القدر مفسر) وایي چې زه په دې خیال وم چې دشهیدانو ژوند روحاني ژوند دی، جسماني نه دی، تردې چې په (۹۳۹ ه کال) په خوب کښې ګورم چې د اُحد شهیدانو ته ورغلم او په خوب کښې د [البقرة:۱۵۵] او د [آل عمران:۱۶۹، ۱۷۰] ایتونه لولم او د دوی په ژوند کښې فکر کوم چې دا به روحاني وي او که جسماني؟. په همدغه حال کښې وینم چې یو ځوان په قبر کښې ناست دی چې د نامه څخه ښکته راته نه ښکاري یعنې هغه اندامونه کوم چې عورت دي. بدن یې ډېر ښایسته او غښتلی دی، چې ما ورته وکتل نو هغه راته مسکی شو، ته به وایې چې راته وایي چې مونږ ستا د خیال په خلاف په جسماني ژوند سره ژوندي یو[1].

مونږ ته همدا خبره یقیني ښکاري چې شهیدان په جسماني ژوند سره ژوندي دي. که څوک غواړي چې نور معلومات هم پکښې حاصل کړي نو د دې بحث مراجعو ته دې مرجعه وکړي[2].

## حکمي شهیدان

د: حکمي شهید هغه ته وایي چې د چا د خوا څخه وژل شوی نه وي خو الله ﷻ یې د شهیدانو په ډله کښې شمېري او د هغوی درجه ورکوي. چې خینې ډولونه یې دا دي[3]:

اول: چې څوک په اوبو کښې غرق شي.

دوهم: چې څوک په اور باندې وسوزي.

دریم: چې دېوال یا کوټه پرې راولوېږي او یا د کمره څخه لاندې شي.

څلورم: چې په جهاد کښې یا د علم په تحصیل کښې او یا په حج کښې مشغول وي او په خپل مرګ مړ شي.

پنځم: چې ښځه په اولاد باندې مړه شي.

شپږم: چې څوک د ګېډې د امراضو د کبله مړ شي او داسې نور.

اووم: څوک چې د جمعې په شپه او یا ورځ وفات شي.

اتم: څوک چې په ناڅاپي مرګ سره مړ شي، چې مرګ مفاجات ورته وایي.

---

(۱) تفسير أبي السعود ج۱ ص۱۸۰

(۲) تفسير المنار ج۲ ص۳۹، روح المعاني ج۲ ص۲۰؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۴۶۷، ۴۶۸؛ في ظلال القرآن ج۱ ص۱۴۳؛ تفسير ابن كثير ج۱ ص۱۹۷، ۴۲۶، ۴۲۸؛ تفسير الطبري ج۱ ص۲۴؛ تفسير البغوي ج۱ ص۱۳۰؛ التفسير الكبير ج۴ ص۱۶۲

(۳) التفسيرات الأحمدية ص۴۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

ﻫ: د حکمي شهداوو په باره کښې ډېر احادیث وارد شوي دي مګر مونږ دلته په لاندې یو حدیث باندې اکتفاء کوو:

د ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ الْمَطْعُونُ وَالْمَبْطُونُ وَالْغَرِقُ وَصَاحِبُ الْهَدْمِ وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللهِ»[1] یعنې: شهیدان پنځه دي د وباء په مرض چې مړ شي او چې د ګېډې د امراضو څخه مړ شي، چې په اوبو کښې غرق شي، چې دېوال پرې راولوېږي او بل شهید في سبیل الله دی.

نور نو الله ﷻ پوهېږي چې د حکمي شهیدانو توله شمېره به څو ته رسېږي، خو امید ورته ډېر دی.

## د حکمي شهیدانو فقهي حکم

د دوی فقهي حکم دا دی چې جنازه وربانديې اداء کېږي، غسل به ورکول کېږي او په مسنونه کفن کښې به راتاوول کېږي. یعنې د جامو سره به نه دفن کېږي.

## د شهید پېژندنه

و: په حنفي فقه کښې شهید د هغه چا نوم دی چې په ظلم سره ووژل شي، برابره خبره ده چې قاتل (وژونکی) یې کافر وي او که مسلمان، باغي وي او که لوټمار، قاطع الطریق (د لارې شکوونکی) وي او که غاصب، غل وي او که بل څوک.

او هغه څوک چې په حق باندې ووژل شي هغه شهید نه ګڼل کېږي. لکه:

اول: مرتد چې بېرته اسلام ته راجع نه شي.

دوهم: قاتل چې قصاص شي.

درېیم: زاني چې رجم شي.

څلورم: غل، قاطع الطریق، باغي چې د خپل عمل په جریان کښې ووژل شي او داسې نور. ځکه چې دا ټول په حق باندې وژل کېږي، مظلومان نه دي.

## د شهید ډولونه

ز: شهید په درې ډوله دی: اول: کامل شهید. دوهم: د آخرت شهید. درېیم: د دنیا شهید.

مونږ غواړو چې درېواړه ډولونه محترمو لوستونکو ته وروپېژنو:

## کامل شهید

ح: کامل شهید هغه څوک دی چې په دنیا او آخرت دواړو کښې شهید ګڼل کېږي او لاندې صفات ولري[2]:

---

[1] صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۷
[2] الفقه علی المذاهب الأربعة ج۱ ص۵۲۸؛ بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۱ ص۳۲۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

اول عقل ولري که لیونی ووژل شي نو ابو حنیفه رحمه‌الله وایي چې باید غسل او کفن ورکړی شي، اما یاران (محمد، ابو یوسف رحمهما‌الله) پکښې دا شرط ضرور نه ګڼي.

دوهم بلوغ ته رسېدلی وي دا شرط هم د امام صاحب په نزد دی، یاران دا شرط ضرور نه بولي. په دوارو کښې د امام صاحب دلیل دا دی چې د احد شهیدان نه لیونیان وه او نه صغیران، مګر مونږ ته د یارانو رایه غوره ښکاري، ځکه چې په احد کښې خو ښځه هم نه ده شهیده شوې او سره د دې چې امام صاحب پکښې ذکورت شرط نه بولي.

دریم د شهادت په وخت کښې د جنابت، حیض، نفاس څخه خلاص وي.

څلورم د زخمي کېدلو څخه وروسته د شهادت د وخته پورې پرې داسې کیفیات تېر نه شي چې نوموړی د شهیدانو د ډلې څخه وباسي او په ژوندیو کښې وشمېرل شي. مثلاً څه وخوري، وڅښي، اخستل او خرڅول وکړي، او یا اوږدې خبرې وکړي، او یا څه دنیاوي وصیت وکړي او یا د زخمي کېدلو د ځای څخه ژوندي بوتلل شي، یا وبېهوښه شي او یا یې ورته څه دارو درمل وکړی شي.

## د کامل شهید حکم

ط: د دې شهید حکم دا دی چې غسل به نه ورکول کېږي او د جامو سره به دفنېږي. ځکه چې دوی د اُحد د شهیدانو حکم لري او نبي کریم ﷺ د احد شهیدانو په باره کښې فرمایلي دي چې: «ادْفِنُوهُمْ فِي دِمَائِهِمْ وَلَمْ يُغَسِّلْهُمْ»[1] یعني: د وینو سره یې ښخ کړئ او نبي کریم ﷺ غسل ورنه کړ. یعنې په غسل ورکولو باندې یې امر ونه کړ.

علاوه په دې، نبي کریم ﷺ د بدر د شهیدانو او هم د خندق د شهیدانو سره همداسې معامله کړې وه چې غسل یې نه وه ورکړی او د جامو سره یې دفن کړي وه[2].

## د آخرت شهید

ي: د آخرت شهید هغه ته وایي چې د کامل شهید ټول صفات ونه لري. د مثال په توګه یو مجاهد د جنابت په حال کښې شهید شي او یا کومه حائضه یا نفاسه ښځه شهیده شي او یا کوم زخمي خوراک، څښاک، دارو درمل وکړي او یا څه ډېرې خبرې او یا دنیاوي وصیتونه وکړي او بیا د شهادت جام وڅښي.

هو! په لږو خبرو باندې او همدارنګه په دیني وصیتونو باندې د کامل شهید د درجې څخه نه راښکته کېږي. ځکه کله چې د احد جګړه سره شوه نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې د سعد بن الربیع رضی‌الله‌عنه حال به څوک واخلي چې څنګه دی؟.

عبد الله بن عبد الرحمن النجاري رضی‌الله‌عنه وایي چې زه ورپسې وګرځېدم، په شهیدانو کښې مې مونده کړ چې زخمي پروت وه، سا پکښې لا ښورېده. ما ورته وویلې چې نبي کریم ﷺ تا پسې راولېږلم چې

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۷۹
(۲) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۱ ص۳۲۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



يول (٢) چې په ژونديو کښې يې که په مړو کښې؟.
ردې گورم چې زه په مړو کښې يم، خو نبي کريم ﷺ ته مې سلام کوه او بيا ورته ووايه چې
نو هغه ﷺ وويلې چې
الله ﷻ دې دومره بهتره جزا درکړي چې هيڅ يو پيغمبر ته هم د خپل امت له امله نه وي
سعد وايي: او هم مې خپلوانو ته سلام کوه او د سلام څخه وروسته ورته ووايه چې سعد وايي چې
ورکړه شوې، که نبي کريم ﷺ ته دښمن څه ضرر ورسوي او په تاسو کښې يو کس ژوندی وي د قيامت په ورځ به د
الله ﷻ په حضور کښې هيڅ عذر ونه لرئ. يعنې ټول ترې ځانونه قربان کړئ.
نوموړی صحابي (سعد بن الربيع ﷺ) سره د دې چې ذکر شوی وصيتونه او خبرې يې وکړې خو
غسل ورنه کړی شو او د نورو شهيدانو په څېر د جامو سره دفن کړی شو[١].

## د آخرت د شهيد حکم

يا: د دې شهيد حکم دا دی چې په تجهيز او تکفين کښې يې د نورو مړو سره هيڅ فرق نشته
چې غسل او کفن به ورکول کېږي، اما د آخرت په درجاتو کښې يې د کامل شهيد سره هيڅ تفاوت
نه لري. ځکه چې:

اول: د احد په شهيدانو کښې حنظله ﷺ هم وه نبي کريم ﷺ وفرمايل چې نوموړي ته ملائکو
غسل ورکړ نو تاسو يې پوښتنه وکړئ چې دا ولې؟.

کله چې د هغه د بي بي رضي الله عنها څخه پوښتنه وشوه هغې وويلې چې نوموړی جنب وه.

نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: ده ته ځکه ملائکو غسل ورکړ[٢].

نو معلومه شوه چې که په جنابت کښې څوک شهيد شي نو غسل دې ورکړی شي.

دوهم: عمر ﷺ او علي ﷺ دواړه د زخمي کېدلو څخه متصل شهيدان نه شوه نو دواړو ته صحابه
رو کرامو ﷺ غسلونه ورکړه او په جامو کښې دفن نه کړی شوه، ځکه چې دوی خبرې وکړې
وصيتونه يې وکړه او دارو درمل به يې هم کړي وي.

بالمقابل عثمان ﷺ چې خای په خای شهيد کړی شو نو غسل ورنه کړی شو او د جامو سره دفن
کړی شو[٣].

دريم: سعد بن معاذ ﷺ چې د خندق په غزا کښې زخمي شوی وه او څه وخت وروسته شهيد شو،
نبي کريم ﷺ او صحابه کرام ﷺ دومره په چالاکۍ سره ورغله چې د ځينو صحابه وو ﷺ د څپليو
رندني وشکېدل، کله چې د نبي کريم ﷺ څخه د دې چالاکۍ پوښتنه وشوه نو وې ويلې چې: ځکه په
چالاکۍ باندې ورغلو چې غسل ورکړو ترڅو ملائک راڅخه د ده په غسل کښې مخکښې نه شي
لکه څنگه چې د حنظله ﷺ په غسل کښې راڅخه مخکښې شوي وه[٤].

---

[١] موطا الامام مالک ص٢٧٥؛ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج١ ص٣٢٢
[٢] الاصابة في تميز الصحابة ج١ ص٣٦١
[٣] بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج١ ص٣٢١، ٣٢٤
[٤] طبقات الکبری لابن سعد ج٣ ص٤٢٨

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## د دنیا شهید

یب: د دنیا شهید د هغه شهید نوم دی چې د الله ﷻ دپاره جهاد ته نه وي تللی، بلکې نور موجبات ولري، چې په جهاد کښې یې اشتراک کړی وي او هلته شهید شوی وي. مثلاً:
اول: د دې دپاره جهاد کوي چې خلکو ته خپل شجاعت ورخرګند کړي.
دوهم: د سیالۍ دپاره جهاد کوي، تر څو د نورو خلکو سره یې په جهاد یا قومندانۍ کښې سیالي برابره شي.
دریم: چې په جهاد کښې یې مطلب غنیمت وي.
څلورم: غواړي چې په مجاهدینو کښې خان وشمېري ترڅو د مجاهدینو د امتیازاتو څخه استفاده وکړي یعنې بوټ، جمپر، موټر، نقدي کومک، او نورې مرستې ترلاسه کړي.
پنځم: چې په ... وری باندې جهاد ته تللی وي. مثلاً یو قوم په دې اتفاق وکړي چې د هر کور په سر دې یو-یو سړی جهاد ته لاړ شي، بیا نو د یو کور خاوند مزدور ونیسي او د خپل ځان په عوض یې جهاد ته ولېږي او هغه هلته شهید شي.
شپږم: د دنیا شهیدانو د جملې څخه جاسوسان یا دستوري کسان هم شمېرل کېږي.
د دې دول مثالونه ډېر دي خو دلیل پکښې دا دی چې یوه ورځې یو سړی نبي کریم ﷺ ته راغلی او پوښتنه یې ورځخه وکړه چې یو سړی د غنیمت دپاره جهاد کوي، یو سړی د شهرت دپاره، یو سړی د خپل ځان د شجاعت ښودلو دپاره، نو کوم یو في سبیل الله ﷻ ګڼل کېږي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ»[1] یعنې: هغه څوک چې د دې دپاره جهاد کوي چې کلمة الله لوړه شي نو یوازې همدغه (جهاد) د الله ﷻ په لار کښې ګڼل کېږي اوبس.

## د دنیاوي شهید حکم

یج: دغه شهید د خپل شهادت له درکه په آخرت کښې هیڅ برخه نه لري اما په دنیا کښې به یې حالاتو ته کتل کېږي که د کامل شهید په شروطو برابر وه نو غسل به نه ورکول کېږي او د جامو سره به دفنېږي او که نه نو د نورو مړو په شان معامله به ورسره کېږي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

ید: که څوک وایي چې: که جهادي وسائل او نورې جهادي مرستې تولې د دې لامل ګرځي چې ډېر مجاهد جهاد ورباندې خراب شي نو هغه صورت راپه ګوته کړئ چې بې وسائلو امکان ولري. یا په بل عبارت: د جهادي وسائلو برابرول خو فرض دي الله ﷻ امر کوي چې: ﴿وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾ [الأنفال: ٦٠] یعنې: او تیار کړئ د دوی (کفارو) د مقابلې دپاره هر څه مو چې وسه کېږي

[1] صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: زمونږ مطلب دا دی چې د مجاهد نیت باید لله في الله وي، دا مو مطلب نه دی چې وسائل ناجائز دي. نبي کریم ﷺ فرمایي: «إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ»(۱) یعنې: د عملونو دارمدار په نیت پورې اړه لري.

که په دقت سره فکر وشي دا دواړه جملې سره ډېر فرق لري چې: فلانی سړی د دې دپاره جهاد کوي چې وسائل او مرستې ترلاسه کړي او فلانی سړی د دې دپاره وسائل تیاروي او مرستې اخلي چې جهاد وکړي، فلانی سړی د دې کبله هجرت کوي چې راشن او نور کومکونه واخلي او فلانی د دې کبله راشن او نورې مرستې اخلي چې هجرت یې کړی دی.

لنډه دا چې په دغسې شیانو کښې باید څوک په چاباندې بدګومانه نه شي، دا د زړه خبره ده یوازې الله ﷻ پرې پوهېږي او یوازې الله ﷻ به ورسره مطابقه معامله کوي، او د قیامت په ورځ به معلومېږي مګر مجاهدینو ته په کار دي چې خپل نیتونه پاک وساتي.

## د مجاهدینو د تنخاګانو مسئله

یه: په همدې قانون باندې د مجاهدینو د تنخاګانو او معاشاتو مسئله هم حل شوه چې د مجاهدینو په سنګرونو کښې د انضباط په صفت معاش اخلي او یا ورته ډوډۍ پخوي، یا ورته موټرې چلوي یا ورته قچرې چلوي او یا داسې نور کارونه ورته کوي او معاش اخلي.

داسې حل شوه چې په دنیا کښې خو مجاهد دی او که شهید شو نو د شهید په سترګه ورته کتل کېږي، او حتی په غنیمت کښې برخه اخلي، مګر نور کار یې د الله ﷻ په لاس کښې دی، هغه ﷻ یې په زړه باندې پوه دی چې ورسپارله شوې وظیفه یې په جهاد کښې د معاش د کبله اشغاله کړې وه او که معاش د دې کبله اخلي چې نوموړی په جهاد کښې په یوه وظیفه بوخت دی.

یعنې الله ﷻ پوهېږي او دی پوهېږي چې اصلي مقصد یې جهاد دی او که اصلي مقصد یې معاش دی، هر یو یې چې اصلي مقصد وي د قیامت په ورځ به ورته د همغه مطابق جزا ورکړه شي.

## د مجاهد په شهادت کښې جارحه وسله شرط نه ده

یو: د دښمن د پلوه چې یو مجاهد په هر شي باندې شهید شي هغه شهید دی، دا پکښې شرط نه ده چې ضرور دې یا په ګولۍ، بمبارد، ماین او په بله جارحه وسله باندې شهید شوی وي.

که یو مجاهد په آس یا قچره باندې سور وي او د بمبارد د کبله آس یا قچره تور وخوري او مجاهد په ځمکه راولوېږي او دستي وفات شي نو باید چې د جامو سره دفن شي او غسل ورنه کړی شي. هو! که آس یا قچرې د داسې شي څخه تور وخوړ چې هغه دښمن پورې مربوط نه وه بیا به کفن او غسل دواړه ورکول کېږي(۲).

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۳
(۲) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۱ ص۳۲۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هغه ضد پرسونل ماین باندې چې د دښمن د پلوه خای په خای شوی وي او یو مجاهد پرې والوزي او دستي شهید شي نو که هیڅ جګړه نه وي او حتی که په هغه منطقه کښې د دښمن سره جهاد بالکل پای ته رسېدلی هم وي، نو د دې شهید سره به د نورو شهیدانو په شان معامله کېږي غسل به نه ورکول کېږي او د جامو سره به دفنېږي.

هو! هغه مجاهد چې د بل مجاهد د پلوه سهواً شهید شي او یا په هغو ماینونو باندې شهید شي چې هغه مجاهدینو پخپله خای په خای کړي وي نو باید چې په دنیا کښې ورسره د عادي مړو معامله وشي. یعني: نوموړی د آخرت شهید ګڼل کېږي او بس.

## د یوې اشتباه لرې کول

یو: د ځینو خلکو سره داسې ذهنیت شته چې یوازې هغه کسان ورته شهیدان ښکاري چې بدن یې تعفن (بدبویي) ونه کړي که څه هم ډېر وخت ورباندې تېر شي، مګر دا فکر غلط دی، باید چې هرڅوک ترې خپل خان وساتي. خکه چې د شهید په تعریف کښې همدا ده چې په ظلم سره وژل شوی وي او نیت یې صرف لله في الله وي. په هیڅ حدیث او په هیڅ کتاب کښې پکښې دا علامه نه ده ګڼله شوې چې د هغه بدن دې خراب نه شي.

هو! کله-کله الله ﷻ ځینو شهیدانو ته څه کرامات ورکوي چې جسد یې نه خرابېږي او یا یې په وینو باندې د شپې د مخې شغلې او رڼاګانې تاوېږي راتاوېږي. د مثال په توګه خبیب ﷺ مشرکانو شهید کړ او څلوېښت (۴۰) ورځې په دار باندې زوړند وه، چې په نتیجه کښې دوه صحابه وو (الزُبیر ﷺ، المقداد ﷺ) د شپې د خوا په پټه باندې د دار څخه راخلاص کړ چې هیڅ نه وه خراب شوی، تا به ویل چې دستي شهید شوی دی[۱].

د افغانستان په روان جهاد کښې مونږ د شهیدانو ډېر کرامات ولېدل. مثلاً د کونړ په ولایت کښې یو مجاهد شهید شو چې همله مجاهدینو دفن کړ، مګر پلار یې څه سوداني مزاجه سړی وه، مجاهدینو ته یې وویل چې ضرور به زما د زوی یا مړی راوړئ او یا به یې ژوندی راته راولئ، مجاهدینو چې هر څه وکړه او هر څه بهانې آنې یې ورته وکړې نوموړی د خپل تصمیم څخه په بله خوا نه شو، تردې چې مجاهدین مجبور شوه چې د شهید قبر لوڅ کړي او پلار ته یې وسپارې. نو شپږ میاشتې وروسته یې د هغه مړی د قبر څخه واوویست چې هیڅ نه وه خراب شوی تا به ویل چې همدا اوس دستي شهید شوی دی.

د شهید د وینو بوی مې پخپله حس کړی دی چې د عطرو څخه لا ښه خوندور بوی یې کاوه. مګر د دې ټولو خبرو سره-سره مونږ وایو چې په شهیدانو باندې کرامات ښکاره کېدل د شهید د شهادت سره لازم شی نه دی. که د الله ﷻ اراده وشي ورباندې یې ښکاره کوي او که اراده یې ونه شي نه یې ښکاره کوي. خو د نه ښکاره کولو معنی دا نه ده چې د هغه شهادت د الله ﷻ په نزد منظور نه دی.

(۱) زاد المسیر ج۱ ص۲۰۰ نقلا عن اسباب النزول للسیوطي ... ج۱ ص۱۸۲؛ الإصابة في تمييز الصحابة ج۱ ص۴۱۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې په دنیا کښې د ټولو اولیاء الله حالات همداسې دي چې ځینو ته الله ﷻ په دنیا کښې کرامات ورکوي او ځینو ته یې نه ورکوي خو د نه ورکولو معنی دا نه ده چې هغه د الله ﷻ ولي نه دی.

## مصیبت څه ته وایي؟

۳_ هغه شی چې یو مؤمن ته ضرر (تکلیف) رسوي لږ وي او که ډېر وي غم وي او که درد هغه ټول د مصیبت په نوم باندې یادېږي[1].

## یادونه

۴_ په ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴾ کښې عام صبر کوونکي مطلب دي، برابره خبره ده چې د ګناه څخه صبر کوونکي (خپل ځانونه اداره کوونکي) وي او که په عبادت باندې صبر کوونکي (محکم ودرېدونکي) وي بالآخره که په مصیبت باندې صبر کوونکي وي.

خو په ﴿ وَبَشِّرِ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴾ کښې خاص په مصیبت باندې صبر کوونکي مراد دي، ځکه چې الله ﷻ یې پخپله بیان کړی دی چې: ﴿ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَـٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌ ﴾ یعنې: هغه کسان چې هغوی ته کله مصیبت ورسېږي نو هغوی دا کلمات لولي چې: ﴿ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴾.

د دې کلماتو په ژبه باندې لوستل مستحب دي ترڅو د یو پلوه نور خلک ورپسې اقتداء وکړي او پوه شي چې د صابرانو څخه دی او د بې صبره ګومان پرې ونه کړي، او د بل پلوه دښمنان وپوهول شي چې مصیبت پرې دومره تاثیر نه دی کړی چې بې لارې یې کړي او هغوی پرې خوشاله شي.

خو د همدغو کلماتو په مضمون باندې په زړه کښې قناعت کول او خپل خان الله ﷻ ته سپارل او په قضاء باندې راضي کېدل فرض دي[2].

## د استرجاع اجرونه او ثوابونه

۵_ د استرجاع (إنا لله وإنا إليه راجعون) لوستونکو ته الله ﷻ دغه درې اجرونه مقرر کړي دي:
(۱) صلوات یعني مغفرتونه، (۲) رحمت، (۳) هدایت.

په همدې ارتباط لاندې معلومات ولولئ:

الف: عمر ﷺ ویلي دي چې څومره ښه دوه انډې (صلوات، رحمت) دي او څومره ښه سرباري (هدایت) ده[3]، دغه درېواړه اجرونه زما په معلوماتو سره د بل هیڅ عمل دپاره الله ﷻ په مجموعي توګه نه دي ښودلي.

ب: د سعید بن جبیر رحمه الله څخه (چې جلیل القدر تابعي او د حجاج بن یوسف د لاسه شهید شوی دی) روایت دی چې نوموړي کلمات په همدې محمدي (ﷺ) امت باندې د الله ﷻ د پلوه پېرزو شوي

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۷۵
(۲) التفسیر الکبیر ج۴ ص۱۷۵
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۹۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي چې د دوی څخه پخوا بل امت ته نه دي ورکړی شوي.

د همدې کبله کله چې په یعقوب ﷺ باندې د یوسف ﷺ په فراق سره غمونو فشار راوور نو ويې وويلې چې: ﴿يَٰأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ﴾ [یوسف: ۸۴] یعنې: ای زما غمه په یوسف باندې.

که ذکر شوي کلمات الله ﷻ وربښودلي وی نو ضرور به يې ويلي وی چې: إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ[۱].

ج: د أم سلمه رضي الله عنها څخه روایت دی چې ما د نبي کریم ﷺ څخه اورېدلي دي چې: «مَا مِنْ عَبْدٍ تُصِيبُهُ مُصِيبَةٌ فَيَقُولُ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَجَرَهُ اللهُ فِي مُصِيبَتِهِ وَأَخْلَفَ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا»[۲] یعنې: هیڅ بنده نه دی چې هغه ته څه مصیبت ورسېږي چې ووايي: مونږ ټول الله ﷻ لره یو او بې شکه مونږ ټول همده ﷻ ته رجوع کوونکي یو، ای الله! په دې مصیبت کښې اجر راکړې او د دې څخه يې بهتر عوض راکړې؛ مګر الله ﷻ به ورته په دې مصیبت کښې اجر ورکړي او د هغه څخه به بهتر عوض ورکړي.

په همدې اړوند په تفاسیرو کښې[۳] زښت ډېر احادیث راغونډ کړی شوي دي چې دلته په همدومره باندې اکتفاء کوو، علاقمندان دې هملته مراجعه وکړي.

## د مصیبت ځپلي د توجه وړ

۶ـ هر مصیبت ځپلی باید چې لاندې خبرې هېرې نه کړي:

الف: صبر هلته اجر او ثواب لري چې د مصیبت د رسېدلو په اول وخت کښې وکړی شي. څکه چې نبي کریم ﷺ فرمايي: «إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى»[۴] یعنې: بې شکه مقبول صبر هغه دی چې د مصیبت په اوله حمله کښې وکړی شي، صابر سړی باید د غم په اول وخت کښې داسې حالت غوره کړي چې بې صبره سړی يې درې ورځې وروسته غوره کوي.

ب: که زوړ غم په سړي باندې تازه حمله وکړي او سړی يې په مقابل کښې صبر اختيار کړي او د استرجاع کلمې ولولي داسې اجر ورکول کېږي لکه چې په ابتداء کښې ورکول کېږي[۵]، مثلاً څوک د نبي کریم ﷺ وفات راپه زړه کړي او د دې مصیبت په مقابل کښې صبر وکړي، امید دی چې داسې اجر ورکړی شي لکه چې د نبي کریم ﷺ په وفات کښې حاضر وي.

ج: که په مړو اوښکو باندې وژاړي چې په زوره چغې ونه وهي، ګرېوان ونه شکوي، په سر خاورې باد نه کړي او خپل خان په څپېړو ونه وهي او یا د شریعت څخه مخالفې خبرې ونه کړي نو بې صبره نه ګڼل کېږي او اجر ورباندې نه خرابېږي. لکه چې نبي کریم ﷺ د خپل ماشوم زوی (ابراهیم) په وفات

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲ ص۲۶؛ تفسیر روح المعاني ج۲ ص۲۳
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۳۰۰
(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۳۱؛ روح المعاني ج۲ ص۲۳؛ في ظلال القرآن ج۱ ص۱۴۴؛ تفسیر المظهري ج۱ ص۱۵۵
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۱۷۱
(۵) تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۷۵، ۱۷۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې د مبارکو سترګو څخه اوښکې توی کړې وې[۱].

## د مصیبتونو فوائد

۷ـ په تفسیر القاسمي کښې د عزالدین بن عبدالسلام رحمه الله په حواله د مصیبتونو څه فوائد لیکلي شوي دي[۲]، زه غواړم چې دلته یې څه اجمال ولیکم، د تفصیل دپاره دې مینه وال هملته مراجعه وکړي. هغه فوائد دا دي:

الف: د الله ﷻ قهاریت پېژندل.

ب: خپل ذلت او ناتواني پېژندل.

ج: د الله ﷻ سره اخلاص زیاتېدل چې د خلاصون توان یې د بل چا سره نشته.

د: الله ﷻ ته توبه تائب ګرځېدل.

هـ: الله ﷻ ته سوال او تضرع کول چې دا هم لوی عبادت دی.

و: په بنده کښې حلم او حوصله پیدا کېدل.

ز: د عفوې اجر موندل (که عفوه وکړي).

ح: د صابرینو د ډلې څخه شمېرل کېدل (که صبر وکړي).

ط: په هغه اجر باندې خوشاله کېدل چې صابرینو ته ورکول کېږي (که صبر یې په نصیب شي).

ي: په مصیبت باندې شکر کول (که وتوانېږي).

یا: د ګناهونو عفوه کېدل.

یب: هغه رحمت موندل چې هغه د محنتونو خاوندانو ته په دنیا کښې ورکول کېږي.

یج: د نعمتونو قدر پېژندل چې باید شکریه یې وکړي.

ید: هغه درجات موندل چې هغه صابرینو ته په آخرت کښې ورکول کېږي.

یه: هغه پټ خیرونه ترلاسه کول چې سړی پرې د شر ګومان کوي او هغه ټول خیر او ښېګنې وي.

یو: د کبر او غرور ماتېدل او تواضع لاس ته راوستل.

یز: د الله ﷻ رضا ګټل، ځکه چې مصیبتونه په هغو خلکو باندې ډېر واقع کېږي د چا څخه چې الله ﷻ راضي وي.

﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ ۖ فَمَنْ حَجَّ ٱلْبَيْتَ أَوِ ٱعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا ۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ ٱللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾﴾

[۱۵۸] بې شکه صفا او مروه (دواړه) د الله ﷻ (د دین) د علاماتو څخه دي. نو هغه څوک چې بیت الله شریف ته د حج کولو قصد وکړي او یا عمره کوي نو په هغه باندې

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۷۴
(۲) تفسیر القاسمي ج۲ ص۳۲۹، ۳۴۰.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هیڅ ګناه (مواخذه) نشته چې د همدغودواړو په منځکښې تګ راتګ وکړي.
او هرڅوک چې په نېک کار کښې ښه اطاعت وکړي نو بې شکه الله ﷻ (به نېکه جزا ورکړي) ښکه چې همدی) قبلوونکی (او) پوه دی.

## شان نزول

د دې ایت په شان نزول کښې مفسرینو کرامو څه متعدد روایات ذکر کړي دي چې د ټولو څخه ثابتېږي چې ځینې مسلمانانو د صفا او مروه دواړو غونډیو د سعې څخه خودداري کوله[۱]، البته چې لاندې وجوه یې درلوده:

۱ـ د جاهلیت په زمانه کښې مشرکانو یو بوت د صفا په غونډۍ نصب کړی وه چې "اساف" نومېده او بل بوت یې د مروه په غونډۍ ایښی وه چې هغه ته به یې "نائله" ویلې او د دې دواړو بوتانو په منځکښې به یې سعیه کوله. نو کله چې په اسلام باندې دنیا رڼا شوه، مسلمانانو ته د جاهلیت د زمانې سعیه وریادېدله نو زړونو یې نه غوښته چې سعیه وکړي. امکان لري چې دا تشویش به د اسلام مخالفینو وراچاوه.

۲ـ په جاهلیت کښې په مشرکانو کښې رواج وه چې چا به د "مناة" بوت په نامه باندې احرام وتاړه نو هغه به د صفا او مروه سعیه نه کوله ځکه چې په دې دواړو غونډیو باندې نور بوتان ایښودل شوي وه او په سعې سره د دوی په نزد د "مناة" سپکاوی راته. کله چې اسلام راغی نو مسلمانانو د نبي کریم ﷺ څخه د همدې سعې په باره کښې پوښتنه وکړه چې د صفا او مروه سعیه وکړو او که نه؟

۳ـ ځینو مسلمانانو ته دا خیال پیدا شوی وه چې الله ﷻ خو د کعبې شریفې د طواف ذکر کړی دی چې: ﴿ وَلْيَطَّوَّفُواْ بِٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴾ [الحج: ۲۹] یعنې: دوی دې ضرور د قدیمي کوټې (کعبې) طواف وکړي. اما د صفا او مروه د طواف ذکر خو په قرآن کریم کښې نشته البته چې دغه طواف به د شعائرو څخه نه وي.

نو د دې ټولو اشتباهاتو د لرې کولو دپاره الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ.

## ارتباطونه

۱ـ د دین دښمنانو مسلمانانو ته د قبلې د تحویل په باره کښې تشویشونه وراچول چې الله ﷻ په ډېره دقیقه طریقه باندې جواب کړه، نو الله ﷻ مونږ د اشارې په توګه پوهوي چې دوی د خپل عادت څخه لاس نه اخلي، نه ګورئ چې دا ځل درته د صفا او د مروه د سعې په باره کښې تشویش دراچوي او بله ورځ به په بل شي کښې دا کار کوي.

۲ـ په تېرو شوو ایتونو کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې خپل نعمتونه به درباندې نور هم دربوره کړم: ﴿ وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِى عَلَيْكُمْ ﴾ [البقرة: ۱۵۰]، او هم یې فرمایلي وه چې صابرانو ته زېری ورکړه

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۷۸؛ تفسیر القاسمي ج۲ ص...

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَبَشِّرِ ٱلصَّـٰبِرِينَ﴾ [البقرة: ١٥٥]. نو په دې ایت کښې یې د نعمت د پوره کولو او د بشارت یوه نمونه وښودله چې د مکې معظمې فتحه به الله ﷻ درکړي او د حج او عمرې مناسک به په خای کوئ نو په یاد وساتئ چې صفا او مروه د منځ طواف (سعیه) د اسلام د مشاعرو څخه ده، په اطمنان سره یې کوئ او د مخالفینو تشویشونو ته التفات مه کوئ.

## د مطلب خلاصه

ای مسلمانانو! ستاسو دښمنان نه غواړي چې تاسو په اطمنان سره د الله ﷻ عبادت وکړئ چې څومره یې توان رسېږي د قیامت تر ورځې پورې به تاسو ته تشویشونه دراچوي خو تاسو د دوی شیطانت ته څه التفات مه کوئ او په خاطر جمعی سره د خپل رب ﷻ اطاعت کوئ او ذات البیني اختلاف څخه خانونه وساتئ.

صفا او مروه د شعائر الله څخه دي د شعائر الله په اداء کولو کښې وسواس په کار نه دی، د شعائر الله اداء کول برسېره په دې چې څه باک نه لري بلکې اجرونه لري او اداء کول یې ضرور دي.

د جاهلیت په زمانه کښې خو کعبه شریفه هم د بوتانو څخه ډکه وه ایا تاسو به د مشرکانو د دې کار د امله د بیت الله شریف طواف پرېږدئ؟ نو همدارنګه د صفا او مروه سعیه هم درواخلئ، نو هرڅوک چې حج کوي او یا عمره کوي د زړه په اطمنان سره دې د دې دواړو غونډیو ترمنځ سعیه هم وکړي، الله ﷻ به ورته اجرونه ورکړي.

په یاد ولرئ! چې په هر نېک کار کښې چې څوک په کلکه اطاعت وکړي او د مخالفینو د تشویشونو په مقابل کښې مقاومت وکړي هغوی ټولو ته به الله ﷻ عوضونه ورکړي. څکه چې الله ﷻ منونکی دی او پوه دی چې په اخلاص سره لږ عمل وکړی شي اجرونه یې څو چنده ورکوي برابره خبره ده چې هغه عبادت نفلي وي او که فرضي.

## توضیحات

۱ـ د لاندې څو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: "صفا" په اصل کښې د ښویه تیږې نوم دی او "مروه" سپینې او یا نرمې تیږې ته ویل کېږي، خو اوس د هغو دوه غونډیو نومونه دي کومې چې د کعبې شریفې د ختیځ لوري په څو متری کښې پرتې دي[1]. اوس مهال د غونډیو نښې ډېرې کمې معلومېږي او د المسجد الحرام د تعمیر د اغېز لاندې راغلي دي، بلکې دغه ټوله مسافه دوه چته پټه شوې ده چې حاجیان او عمره کوونکي یې په دواړو چتونو کښې سعیه کوي.

ب: شعائر د "شعیرة" جمعه ده، هغه شیان چې د الهي دین نښې او علامې وي د شعائر الله په نامه باندې یادېږي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۱) تفسیر المراغي ج۲ ص۲۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې حروفو څخه د "مشاعر الحج" کلمه هم اخستله شوې ده[۱]. يعنې هغه نښې او علامې چې هغه په سترګو باندې لېدل کېږي او د حج احکام پکښې اجراء کېږي، لکه مزدلفه، عرفات او داسې نور.

په دې مقام کښې د صفا او مروه د دوه غونډکيو څخه په شعائر الله سره تعبير وکړی شو ترڅو مسلمانان پوه شي چې دا شعائر الشيطان نه دي لکه څنګه چې دوی ته تشويش پيدا شوی وه.

ج: حج په لغت کښې محض قصد ته ويل کېږي، او په شريعت کښې هغه مخصوص احکام چې په مخصوصو خايونو کښې ترسره کېږي د حج په نامه يادېږي. نو په دې معنی کښې بيت الله شامل دی. مګر د زيات اهتمام او تشريف دپاره د ﴿ حَجَّ ٱلْبَيْتَ ﴾ عبارت اداء کړی شو، او د بيت کلمه په صراحت سره ذکره کړی شوه[۲].

د: عمره په لغت کښې محض زيارت ته وايي[۳]، او په شريعت کښې د مخصوصو قوانينو لاندې د کعبې شريفې زيارت د عمرې په نامه يادېږي، چې مهم يې دغه درې څيزونه دي:

۱_ احرام. ۲_ طواف الزيارة. ۳_ د صفا او مروه سعيه.

هـ: "جُنَاح" أصلًا د ميلان په معنی سره دی لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلْمِ ﴾ [الأنفال: ۶۱] يعنې او که دوی صلحې ته ميلان وکړي. خو دلته ترې مراد ګناه او نيونه ده.

نو معنی يې داسې کېږي چې: د صفا او مروه په سعيه باندې مواخذه او ګناه نشته، داسې نه ده لکه چې مسلمانانو ته سعيه کول ګناه ښکاري.

نو په دې عبارت کښې مطلب فقط همدومره دی چې په سعيه باندې دګناه خيال کول غلط دي. پاتې شوه دا خبره چې دغه سعيه واجبه ده او که مستحبه؟ ضرور ده او که ضرور نه ده؟، دا عبارت ورته نه "هو" وايي او نه "نه".

مګر د نورو عباراتو څخه يې جواب معلومېږي چې وروسته به ان شاء الله راشي.

و: که څه هم "طواف" ګردچاپېر تاوېدلو ته ويل کېږي خو دلته ترې مراد محض تګ راتګ دی. نو معنی يې داسې کېږي چې: ګناه او نيونهورباندې نشته چې څوک د صفا او مروه په منځکښې تګ راتګ يعنې سعيه وکړي.

ز: د ﴿ تَطَوَّعَ ﴾ کلمه د "طوع" څخه اخستله شوې ده، چې د خوښۍ معنی ورکوي او په مقابل کښې يې "کَرْه" (ناخوښي) استعمالېږي. او يا د طاعت څخه اخستله شوې ده، چې د فرمان منلو معنی ورکوي او په مقابل کښې يې عصيان (نافرماني) راځي، مګر د "تَفَعُّل" باب پکښې د مبالغې دپاره دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۶۹
(۲) روح المعاني ج۲ ص۲۵
(۳) التفسير الكبير ج۴ ص۱۷۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو دلته يې معنى داسې کېږي هرڅوک چې نېک کار په ښه خوښۍ سره وکړي، او يا هرڅوک چې په نېک کار کښې ښه اطاعت وکړي.

ح: شکر: په لغت کښې د نعمت اظهار ته ويل کېږي خو کله يې چې الله ﷻ ته نسبت وشي نو بيا ترې نېکه جزا او اجرونه مراد ېږي. نو دلته يې د معنى حاصل داسې کېږي چې: الله ﷻ منونکى دى چې د هرې نېکۍ په عوض په څو چنده باندې جزا ورکوي.

## احکام په دوه ډوله دي

۲_ د اسلام احکام په دوه ډوله دي: يو هغه دي چې صرف تعبدي حيثيت لري او معاملاتو پورې يې ارتباط نه وي لکه لمونځ، روژه، حج او داسې نور. دې ډول ته شعائر الله ويل کېږي.

بل ډول احکام هغه دي چې د خلکو په معاملاتو پورې مربوط وي لکه بَيع، شراء او داسې نور. دې ډول ته شعائر الله نه ويل کېږي ځکه چې د انسان فکر پکښې کار کولى شي او صرف په نقل پورې توقف نه لري

اما په اول ډول کښې هيڅوک اختيار نه لري چې د يوه عبادت شکل بدل کړي او يا د يوه نوي عبادت تيره کېږدي، چې د حج او عمرې عبادتونه او هغه ارنکه د صفا او مروه تر منځ سعيه کول د همدې ډول څخه دي[۱].

## د صفا او مروه تاريخي سابقه

۳_ د حج او عمرې اکثره احکام داسې دي چې بايد مسلمان ورته بې قيد او بې شرطه تسليم شي ترڅو ښه څرګنده شي چې بې شکه نوموړى د الله ﷻ تابع دى او د خپل عقل تابع نه دى، که عقل يې ورته نه رسېږي هم د الله ﷻ د اطاعت او امر منه کوي.

د صفا او د مروه تاريخ مونږ د دې دپاره نه ليکو چې د سعي د وجوب دپاره يې دليل پيدا کړو بلکې صرف د دې دپاره يې ليکو ترڅو يې محترم لوستونکي په څه ناڅه حکمتونو باندې پوه شي.

نو تاريخي سابقه يې داسې وه چې:

کله چې ابراهيم عليه السلام د الله ﷻ په امر خپله يوه بي بي (هاجره رضي الله عنها) او د هغې ماشوم زوى (اسماعيل عليه السلام) د مکې معظمې په چول بيابان کښې پرېښوده او د بي بي هاجرې رضي الله عنها سره چې څه اذوقه (خوراک، څښاک) وه هغه هم ختم شو، نو بي بي خپل زوى د کعبې شريفې د مقام په څنګ کښې پرېښود او د صفا په غونډۍ باندې وختله ترڅو ورته کوم انسان ښکاره شي او يا يې د اذوقې څه چاره وشي. شاوخوا يې وکتل چې هيڅ شى په نظر ورنغى، نو د دې غونډۍ څخه ښکته شوه او د مروه د غونډۍ په لور باندې روانه شوه، په هغې غونډۍ باندې ودرېده او د شاوخوا څارنه يې وکړه مګر څه ورته ښکاره نه شوه، د هغې څخه بېرته د صفا غونډۍ ته لاړه او بيا بېرته د مروه غونډۍ ته

(۱) تفسير المراغي ج۲ ص۲۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورغله. دغه عمل يې اوه کرته تکرار کړ، چې الله ﷻ زمونږ دپاره د شعائر الله څخه وګرځاوه ترڅو دغه واقعه راته کال په کال راپه زړه کړي او عبرت ترې واخلو.

بي بي هاجرې رضي الله عنها ته په خپل ټول مزل کښې چې د صفا او مروه په منځکښې يې کاوه چې تقريبًا اوه سوه او شپېته (۷۶۰) متره مسافه ده خپل زوی ښکارېده، خو په لږ مسافه کښې (چې تقريبًا دېرش، څلوېښت متره به کېږي) د هغې د نظره بلې کومې غونډکۍ پناه کاوه. نو د همدې کبله نومورې بي بي په هغه لږ ځای کښې جلتي کوله، چې اوس يې په دواړو طرفونو کښې شنه‌شنه ګروپونه رڼا کړی شوي دي ترڅو په هغې مسافه کښې سعي کوونکي هم جلتي وکړي.

په دې اړه که څوک نور معلومات حاصلوي نو د دې قيصې مراجعو ته دې مراجعه وکړي[۱].

## يادونه

۴ــ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې د صفا او مروه په منځکښې تګ راتګ واجب دی. همداسې حکم ترې بي بي عائشه رضي الله عنها هم استنباط کړی دی[۲].

همدا د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب دی، او ښه قوي دليل يې دا دی چې هر کله چې د شعائر الله څخه وشمېرل شو نو بايد چې د واجبو څخه خو اقلًا ټيټ نه وي.

مګر خينې امامان ورته مستحب وايي، هغوی په ﴿ وَمَن تَطَوَّعَ ﴾ باندې دليل نيسي چې نفل ترې معلومېږي ځکه د "تَطَوَّعَ" کلمه په نفلي عبادت کښې استعمالېږي.

امام صاحب وايي چې "تَطَوَّعَ" چې په نفلي عبادت کښې استعمال مومي. دا فقهي اصطلاح ده چې ډېره وروسته رواج شوې ده او د عربيت په لحاظ په نفلي عبادت پورې خاصه نه ده. لکه څنګه چې مخکښې په اوله توضيح کښې پوره شرحه شوې ده.

## د سعي کيفيت

سعي بايد په دې کيفيت باندې وکړه شي چې د صفا څخه به شروع کوي او په مروه باندې به يې ختموي، چې د صفا څخه د مروه په لور څلور مزله پوره کېږي او د مروه څخه د صفا په لور درې مزله پوره کېږي چې ټول اوه مزله کېږي. يعنې تګ او راتګ دواړه مجرا کېږي.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ۝١٥٩ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ۝١٦٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٌ أُوْلَٰٓئِكَ

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۴؛ تفسير ابن كثير ج۱ ص۱۹۲
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۲۲۲

Downlaoded: bawarketabloon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ ٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٦١﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ
ٱلْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿١٦٢﴾ ﴾

[۱۵۹] بې شکه هغه کسان چې دوی هغه شی پټوي چې مونږ نازل کړی دی چې هغه د ښکاره دلایلو او هدایت څخه عبارت دی د هغه څخه وروسته چې مونږ هغه د خلکو دپاره په کتاب کښې ښه واضحه کړی دی، په دغو کسانو باندې الله ﷻ هم لعنت کوي (د رحمت څخه يې لرې کوي) او ټول لعنت کوونکي وربانديې هم لعنت غواړي.

[۱۶۰] مګر هغه کسان د لعنت څخه خلاص دي چې هغوی توبه وباسي او خانونه اصلاح کړي او هغه څه بيان کړي چې پټ کړي يې وه، نو په همدغو باندې زه په رحمت سره رجوع کوم او همدا زه ښه توبه قبلوونکی او ښه مهربان يم.

[۱۶۱] بې شکه هغه کسان چې دوی کافر شوي دي او په داسې حال کښې مړه شي چې کافر وي دغه کسان په همدغو باندې د الله ﷻ لعنت دی او د ټولو ملائکو او د ټولو انسانانو هم.

[۱۶۲] دوی به پکښې همېشه وي چې نه به ترې عذاب تخفيف کړی شي او نه به ورته وخت ورکړی شي چې اعتذار وړاندې کړي (او نه به ورته معطل وکړی شي چې د عذاب وخت يې راشي)

## ارتباط

په مدينه منوره کښې د قبلې تحويل څخه لويه غوغا جوړه کړه چې يهودانو حق پټ کړ که څه هم نبي کريم ﷺ يې ښه پېژانده چې په حقه آخر الزمان پيغمبر ﷺ دی، چې دواړو قبلو ته لمونځ کوي، ه دوی هغه حق چې دوی ته معلوم وه نه وی پټ کړی او تحريف يې نه وی ورکړی، نه به شور وی او نه به غوغا. لکه چې همدې مطلب ته په ﴿ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَعْرِفُونَهُۥ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ [البقرة: ۱۴۶] کښې اشاره شوې ده.

په وړاندینیو ایتونو د ځينو مناسباتو په اثر ځينې نور مضامين بيان کړی شوه خو اوس الله ﷻ د حق د پټوونکو د ګناه لويه جزا بيانوي ترڅو ترې محمدي (ﷺ) امت عبرت واخلي او د يهودانو په شان حق پټ نه کړي چې خلاصه مطلب يې دا دی:

## د مطلب خلاصه

۱- بې شکه هغه کسان چې حق پټوي داسې حق چې:

الف: هغه مونږ نازل کړی وي په خپلو پيغمبرانو باندې او دوی غواړي چې په پټولو سره يې د صحنې څخه وباسي.

ب: مونږ په کتاب کښې نازل کړی وي چې په دوامداره توګه لاربښودونکی وګرځي، او دوی يې د دوام مخه نيسي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: مونږ د خلکو دپاره نازل کړي وي او دوی يې د خلکو څخه پټوي چې د دغه لوی فیض څخه ګټه وانخلي.

دغسې حق پټونه که په هره زمانه او هر ځای کښې وي پټوونکي يې د لوی لعنت مستحق دي، چې الله ﷻ هم په دوی باندې لعنت کوي او د خپل رحمت څخه يې لرې کوي او هم هر لعنت کوونکی الله ﷻ ته سوال کوي چې ای الله! دوی د خپل رحمت څخه لرې کړه او په دوی باندې خپل غضب نازل کړه.

۲_ هو! د دوی د جملې څخه هغه څوک د لعنت څخه بچ کېږي چې هغوی په خپلو ځانونو کښې لاندې تغیرات راولي:

الف: چې الله ﷻ ته رجوع وکړي، د حق پټونې څخه توبه تائب شي او ایمان راوړي.

ب: چې ځانونه اصلاح کړي یعنې صالح عملونه وکړي.

ج: چې هغه څه ښکاره کړي چې تر اوسه يې پرې خوله پټه کړې وه، خلک په دې پوه کړي چې مونږ لویه غلطي کړې وه چې حق مو درڅخه پټ کړی وه. یعنې صرف په همدومره باندې د لعنت څخه نه بچ کېږي چې سکوت اختیار کړي ترڅو چې په حق باندې صراحت وکړي. او ترڅو چې خپله توبه هم خلکو ته ښکاره کړي چې مونږ د حق پټونې څخه توبه تائب یو.

که څوک په خپلو ځانو کښې دغسې انقلاب راولي، نو زه د هغوی سره دښمني نه کوم بلکې د لعنت په عوض پرې په رحمت سره رجوع کوم. او دا ځکه چې زه ښه توبه قبلوونکی او ښه مهربان یم.

۳_ هو! که هغوی حق پټولو ته د مرګ د ورځې پورې ادامه ورکړي او په خپل کفر باندې کلک شي چې د کفر په حالت کښې مړه شي نو هغوی د لعنت څخه د بچ کېدلو چانس د لاسه ورکوي، دوی به الله ﷻ د رحمت څخه په دائمي توګه لرې کړي او لعنت کوونکي به (چې هغوی ملائک او ټول انسانان دي) ورته دائمًا د الله ﷻ څخه لعنت غواړي.

دوی به د لعنت په آثارو (دوزخ) کښې همېشه وي، کله يې چې دوزخ ته د وراچولو وخت راشي نو نه به ورته څه مهلت ورکړی شي چې په دوزخ کښې د وراچولو نېټه لږ څه وروسته کړی شي، ترڅو پکښې دوی څه معذرت وړاندې کړي او نه به ورته دنیا ته د ورستنېدلو او هلته د توبه تائب کېدلو فرصت ورکړی شي.

او بالآخره نه به ترې عذاب څه تخفیف کړی شي، او دا ځکه چې په عذاب کښې معطل کول او تخفیفول هم د لعنت څخه یو ډول وتل دي او دوی خو د لعنت څخه په هیڅ ډول سره نه شي وتلی او پکښې همېشه به وي.

## توضیحات

۱_ که څه هم پورتنې ایتونه د اهل الکتابو په باره کښې نازل شوي دي چې د نبي کریم ﷺ هغه صفات يې چې الله ﷻ په پخوانیو کتابونو کښې نازل کړي وه خلکو ته نه واضحه کول بلکې تحریف

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بې ورکاوه، مګر د مفسرینو کرامو په اتفاق سره د ایتونو په عموم کښې ټول حق پټوونکي شامل دي.[۱] الله ﷻ مو دې ترې وساتي.

## سوال جواب

که څوک وايي: که د مفهوم عموم ته اعتبار شي خو مسلمان حق پټوونکو ته به هم شامل شي نو ایا مسلمان حق پټوونکي به هم په دوزخ کښې همېشه وي؟

مونږ وايو چې: د حق پټولو جزا خو دوزخ ده لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايي: څوک چې حق پټ کړي «أُلجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ»[۲] يعنې: د قيامت په ورځ به د اور په قيزه باندې قيزه شي.

اما د خلود (دائم) جزا صرف هغه حق پټوونکي ته ورکول کېږي چې برسېره په هغه کافر هم وي.

د همدې حکمت د کبله ترې په هغه مقام کښې -چې د خلود جزا ورته ښودله شوې ده_ د ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمْ كُفَّارٌ ﴾ سره تعبير نازل شوی دی. يعنې: بې شکه هغه کسان چې کافر دي او د کفر په حالت کښې مړه شي. او داسې تعبير ترې ونه شو چې: بې شکه هغه کسان چې مَا أنزلنا (هغه څه چې مونږ نازل کړي دي) يې پټ کړي دي او په داسې حال کښې مړه شي چې د ما أنزلنا پټوونکي وي؛ ترڅو د ذکر شوي اعتراض مخه ونيسي.

## پټول يا کتمان

۲_ دلته بايد محترم لوستونکي لاندې بحثونه د نظره تېر کړي:

الف: کتمان څه ته وايي؟

د کتمان کلمه په هغو پټولو کښې استعمالېږي چې ښکاره کول يې په ژبه او بيان سره کېږي. يا په بل عبارت: د خولې پټولو ته کتمان وايي، نه په لاس سره پټول.

ب: د کتمان ډولونه څو دي؟

کتمان په دوه ډوله دی: يو هغه دی چې سړی ورباندې سکوت وکړي لکه چې يهودو د رجم په حکم باندې خولې پټې کړې وې. او بل هغه دی چې په عوض يې بل شی خلکو ته وښودل شي لکه چې دوی د نبي کريم ﷺ په صفاتو کښې تحريف کاوه او په عوض يې بدل صفات بيانول چې د [البقرة:۷۹] ايت لاندې بيان کړی شوي دي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کوي چې فرمايي: ﴿ وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ ﴾ [آل عمران: ۱۸۷] يعنې: او هغه وخت ورپه زړه کړه چې الله ﷻ د هغو کسانو څخه کلک عهد واخست چې هغوی ته کتاب ورکړی شوی وه چې ضرور به يې خلکو ته بيانوئ او پټوئ به يې ترې نه، نو هغوی ورکړی شوی کتاب شاته واچاوه.

---

[۱] روح المعاني ج۲ ص۲۶
[۲] جامع الترمذي ج۲ ص۹۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


یعنې په ځینو احکامو باندې یې سکوت اختیار کړ او ځینې یې تحریف کړه.

أبو هریره ﷺ وایي چې که دغه دواړه ایتونه ([البقرة:۱۵۹] او [آل عمران:۱۸۷]) په قرآن کریم کښې نه وی نازل شوي ما به یو حدیث هم نه وی بیان کړی، خو د خپل مسئولیت د رفعه کولو دپاره د هر احادیث بیانوم، هغه وخت چې د علم د زده کړې وخت وه (نبي کریم ﷺ ژوندی وه) مهاجرین ورونه په بازارونو کښې په اخستلو او خرڅولو بوخت وه، او انصار ورونه د خپلو مالونو په اصلاح باندې مصروف وه او ما د نبي کریم ﷺ څخه په مړه ګېډه علم زده کړ، هلته ورسره حاضر وم چې هغوی به حاضر نه وه او هغه څه مې حفظ کړه چې هغوی حفظ نه کړه[1]. یعنې نه غواړم چې د یهودو غوندې په زده کړی شوو احادیثو باندې خوله پټه کړم.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

ج: که څوک وایي چې: أبو هریره ﷺ خو پخپله اقرار کوي چې ما د نبي کریم ﷺ څخه دوه ډوله علم زده کړی دی، یو ډول مې په خلکو کښې نشر کړ او بل ډول که نشر کړم نو سر به مې پرې شي[2]، ایا دا د علم کتمان او پټول نه دي؟

مونږ وایو چې: علم په دوه ډوله دی، یو هغه دی چې د خلکو د عقائدو او اعمالو د برابرولو دپاره نازل کړی شوی وي او روزمره ورته خلک اړتیا لري. او بل هغه دی چې روزمره حوادث ورته اړتیا نه لري خو محض څه معلومات وي چې نبي کریم ﷺ د وړاندوینې او پیش ګویي په توګه ورکړي وي او د یوې معجزې مثال لري.

هغه څه چې أبو هریره ﷺ خلکو ته بیان کړه هغه د اول ډول څخه وه چې په ایت شریف کښې ترې په ﴿ٱلۡبَیِّنَـٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ﴾ سره تعبیر کړی شوی دی، او سخت وعید د همدغه ډول په پټولو نازل شوی دی. اما دوهم ډول علم چې نشرول یې څه فتنې او فساد زیاتوي او خلک ورته څه خاص ضرورت نه لري د هغه پټول بهتر دي.

امکان لري چې أبو هریره ﷺ ته د ظالمانو حاکمانو څه نومونه ښودل شوي وي لکه د یزید او نورو. د نوموړي صحابي ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ رَأْسِ السَّبْعِینَ»[3] یعنې: تاسو د (۷۰ هـ) کال د اول سر څخه په الله ﷻ سره پنا وغواړئ، (د همدغه په شاوخوا کښې د یزید امارت وه).

او نوموړی صحابي ﷺ په (۵۷ هـ) کال کښې وفات شوی دی[4]، فإنا لله وإنا إلیه راجعون.

د همدې قبیلې څخه د حذیفه ﷺ علم هم وه چې نبي کریم ﷺ ورته د منافقانو نومونه ښودلي وه، خو هغه د خانه سره وساتل او فاش یې نه کړه.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۲
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۳
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۲۱۵
(۴) الإصابة في تمیز الصحابة ج۴ ص۲۱۱: تاریخ الإسلام ج۱ ص۲۸۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## ايا سكوت هم كتمان ګڼل كېږي؟

د: كه څوک وايي چې: كه سكوت كتمان وګڼل شي نو هيڅوک به ترې خلاص نه شي. ايا د چا د وس خبره پوره ده چې په هر وخت كښې ټول حقائق بيان كړي؟

مونږ وايو چې: هغه سكوت كتمان ګڼل كېږي او د حق ټولو نوم ورباندې اېښودل كېږي چې د حاجت په وخت كښې پرې سړى چپ شي او د بيان خبره يې خوله ونيسي. په همدې مطلب باندې د ﴿لِلنَّاسِ﴾ كلمه د اشارې په توګه دلالت كوي چې الله ﷻ د خلكو د حاجت پوره كولو دپاره نازل كړي وي خو سړى پرې د خلكو اړتيا پوره نه كړي او ورباندې غلى شي، نه به وايې چې هيڅ پرې نه پوهېږي. نو هغه سكوت چې په اعتراض كښې ذكر شوى دى هغه نه عدم تبليغ ويلى شو، خو كتمان ورته نه شو ويلى.

## ايا تبليغ فرض نه دى؟

مونږ وايو چې: د احكامو تبليغ كفائي فرض دى چې يوه ډله مسلمانان ورته ملا وتړي د نورو غاړه ورباندې خلاصېږي، د همدې كبله الله ﷻ امر كوي چې دغه وظيفه دې د مسلمانانو يوه ډله په غاړه واخلي لكه چې فرمايي: ﴿ وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى ٱلْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ﴾ [آل عمرن: ۱۰۴] يعنې: او هرومرو ستاسو د جملې څخه دې يوه ډله شتون ولري چې خير ته بلل كوي او په نيكيو سره امر كوي او په شريعت كښې د نا اشنا كارونو څخه منعه كوي.

هو! په هغه وخت كښې په سړي باندې فرض عين ګرځي چې د سړي څخه د حق د بيان غوښتنه وشي او په هغه موقع كښې بل څوک نه وي چې جواب وركړي. خو په دې صورت كښې دا هم شرط ده چې سوال كوونكى ترې بده استفاده نه كوي او د مسلمانانو عمومي مصالح پكښې د پښو نه لاندې كېږي، د مثال په توګه:

اول: يو مجاهد ـ الله دې نه كړي ـ د كافرانو په لاس كښې اسير وي، نو د تحقيق په وخت كښې پرې واجبه نه ده چې د مسلمانانو مجاهدينو اسرار ورته بيان كړي، بلكې دلته د حقائقو كتمان او پټول واجب دي.

دوهم: بې دينه سړي ته داسې احكام وربښودل په كار نه دي چې د اهل الحق سره پرې مجادله او جګړې وكړى شي.

دريم: ظالم پاچا او يا بدعتيانو خلكو ته داسې احكام ښودل ممنوع دي چې هغوى پرې د رعيت مالونه وخوري او يا پرې د واجباتو د پرېښودلو دپاره لاره جوړه كړي او د بې دينۍ دپاره يې وسيله وګرځوي او داسې نور[1]. نو په دغسې مواقعو كښې بايد سړى داسې كار وكړي لكه ابو هريره ﷺ او حذيفه ﷺ چې كړى وه، يعنې بايد چې چا ته يې بيان نه كړي. چې لږ مخكښې يې څه بيان تېر شو.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۲ ص۱۸۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## ټول حقائق بیان شوي دي

۳ـ د لاندې دوه ایتونو په بناء په قرآن کریم کښې ټول حقائق بیان شوي دي:

الف: ﴿ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ تِبۡيَٰنٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ ﴾ [النحل: ۸۹] یعنې: او مونږ په تا باندې داسې کتاب نازل کړی دی چې هر شي لره ډېر ښه بیانوونکی دی.

ب: ﴿ مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖ ﴾ [الأنعام: ۳۸] یعنې: مونږ په کتاب (قرآن کریم) کښې هیڅ شی (بې بیانه) نه دی پرېښې.

په ذکر شوي مطلب باندې هلته سړی ښه پوهېږي چې د اُصول الفقه کتابونو ته مراجعه وکړي او پوه شي چې قرآن کریم په معانیو باندې په اتیا (۸۰) ډوله باندې دلالت کوي، او سړی کولی شي چې د دغو اتیا ډولو څخه په یو ډول باندې د قرآن کریم څخه معناګانې استفاده کړي، چې هلته یې شروط او قواعد ښه پوره شرحه شوي دي[۱].

نو په همدې بنیاد مونږ ویلی شو چې د نبي کریم ﷺ احادیث ټول او یا په اجتهادي مسائلو باندې خوله ټول په وعید کښې داخل دي. دا ځکه چې دغو ټولو ته "بَيِّنَات" او "هُدَى" ویل کېږي او ټول په قرآن کریم کښې په یوه وجه باندې بیان شوي دي، نو باید چې سړی ترې خپل ځان وساتي.

## د لعنت په باره کښې معلومات

۴ـ د لعنت په باره کښې باید محترم لوستونکي لاندې بحثونو ته متوجه شي:

الف: لعنت په غضب او قهر سره شړلو ته وايي، چې کله یې نسبت الله ﷻ ته وکړی شي.

نو په دنیا کښې یې مطلب دا کېږي چې الله ﷻ ورته توفیق ورنه کړي او خپل رحمت یې پرې قطعه کړي، او په آخرت کښې خو معلوم دی چې د دوزخ عذاب دی.

او چې کله یې نسبت بنده ته وکړی شي نو بد آزاري او ښېرې ترې مراد ېږي چې: ای الله! د فلاني څخه خپل رحمت پرې کړې او په آخرت کښې یې په دوزخ کښې واچوې[۲].

ب: د ﴿ ٱللَّٰعِنُونَ ﴾ "لعنت کوونکو" څخه چې په [۱۵۹] ایت کښې ذکر دي هغه لعنت کوونکي مراد دي کوم چې الله ﷻ په [۱۶۱] ایت کښې پخپله تفسیر کړي دي: ﴿ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴾ چې ټول ملائک او ټول انسانان دي.

پاتې شوه دا خبره چې په ظالمانو باندې (چې د دوی د جملې څخه حق پټوونکي هم دي) حشرات او ټول حیوانات څنګه او ولې لعنت غواړي؟

نو د دې جواب دا دی چې دهغوی د ظلم د کبله وچکالي راځي چې په نتیجه کښې ټول ساکښان پرې متضرر کېږي.

---

(۱) نور الانوار ص۱۳ او شروح یې.
(۲) مفردات الراغب ص۴۷۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالمقابل ټول ساکښان یا عمله عالم ته د الله ﷻ څخه مغفرت غواړي. دا خکه چې د دوی د نېک عملي د کبله پرې بارانونه کېږي او پراخي ورباندې راځي، چې استفاده ترې کوي، لکه چې په احادیثو کښې ثابته ده[1].

## په یاد ولرئ!

په یاد ولرئ چې په لومړني ایت ﴿ يَلْعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ﴾ کښې دغه مضمون د مضارع په کلماتو کښې اداء کړی شوی دی چې په تجدد او تحدث باندې دلالت کوي او د ژوندیو سره ښه مناسب دی چې ګړی په ګړی د لعنت موجبات زیاتېږي او نوي نوي پیدا کېږي.

اما په دوهم ایت ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ ٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴾ کښې د اسمیې جملې په قالب کښې اداء شوی دی چې په دوام او استمرار باندې دلالت کوي. دا ځکه چې دلته د مرګ څخه وروسته لعنت مراد دی، هلته خو تجدد او تحدث نشته بلکې استمرار دی، چې اسمیه جمله پرې ښه دلالت کوي.

## سوال جواب

ج: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د الله ﷻ د لعنت د ذکر سره د ملائکو او انسانانو د لعنتونو ذکر وشو، ایا یوازې د الله ﷻ لعنت کفایت نه کاوه؟

مونږ وایو چې: په دې کښې دوه مطلبه دي:

اول: د دوی جنایت دومره لوی او دومره څرګند دی چې هرڅوک ورباندې لعنت وایي او هرڅوک پوهېږي چې دوی د لعنت لیاقت لري چې ورباندې پوهېدل یوازې الله ﷻ پورې خاص نه دي.

دوهم: څرنګه چې یهودو خپلو ځانونو ته امتیاز ثابتاوه چې زمونږ شفاعت به هرومرو کېږي نو الله ﷻ وفرمایل چې: هغه څوک چې دوی ورته د شفاعت تمه کوي لکه ملائک او پیغمبران، هغوی پرې د الله ﷻ د پلوه د لعنت د ورېدلو غوښتنه کوي، دا خو لا پرېږده چې دوی ته رحمت وغواړي او شفاعت یې وکړي.

## پوښتنه او د هغې جواب

د: که څوک وایي چې: په ټولو خلکو کښې خو پخپله کافران هم داخل دي نو ایا کافران په خپلو ځانو باندې لعنت وایي؟

مونږ لاندې جوابونه کوو:

اول: د قیامت په ورځ په کافرانو باندې داسې حالت راځي چې یو به په بل باندې لعنت وایي[2]، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا وَمَأْوَىٰكُمُ

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۹۷
(۲) تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۹۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ﴾ [العنکبوت: ٢٥] یعني: بیا د قیامت په ورځ به ستاسو ځینې به ځینو نورو باندې کافر شي (انکار به ترې وکړي) او ځینې به مو په ځینو نورو باندې لعنت غواړي او د اوسېدانې ځای مو اور دی او نشته تاسو لره هیڅ کومک کوونکی.

دوهم: دلته د خلکو څخه اکثریت مراد دی، اکثرو لره حکم د کُل وي او یا ترې یوازې مؤمنان مراد دي، نه به وایې چې کافران د سره خلک نه دي[١].

دریم: هرڅوک ـ که کافر وي هم ـ په ظالم باندې لعنت وایي، نو کله چې پخپله ظالم وي نو طبعًا داسې کېږي لکه چې په خپل ځان باندې یې لعنت غوښتی وي.

یا په بل عبارت دوی هم په ظالمانو باندې لعنت وایي خو نهایت د ظالم په تشخیص کښې غلطېږي: خپل ځانونه ورته ظالمان نه ښکاري[٢].

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې بې موجبه ایت شریف ته تخصیص ورکول څه خوندوره خبره نه ده نو ښه دا ده چې د ذکر شوي سوال څخه لاندې دوه جوابه وکړی شي:

لومړی: هر یو کافر چې د کفر فساد او خصوصًا د حق د پټولو لوی جنایت ته وګوري او د تعصب څخه د لږ وخت دپاره صرف نظر شي نو دستي به په فساد کوونکو باندې لعنت ووایي، که څه هم پخپله فساد کوونکی وي، مګر دا بېله خبره ده چې لږ ساعت هم د تعصب څخه لاس نه شي اخستی او یا په لعنت باندې اقرار نه کوي.

دویم: د کافر جسد په طبعي ډول باندې په کافر باندې لعنت وایي، ځکه چې جسد یې د الله ﷻ تابع دی. یا په بل عبارت: که د قال په ژبه باندې لعنت ونه غواړي د حال په ژبه باندې خو هر کافر د ځان دپاره هم لعنت غواړي. الله ﷻ فرمایي: ﴿إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا﴾ [مریم: ٩٣] یعني: هیڅوک نه په اسمانونو کښې شته او نه په ځمکو کښې مګر مهربان الله ﷻ ته د بنده په صفت ورتلونکی دی.

په تکویني اوامرو کښې د کافرانو جسدونه هم د الله ﷻ اطاعت کوي که وژنې یې مره کېږي، که مریضان کوي یې مریضان کېږي او که زړه وي یې زړېږي او داسې نور.

## په کافر باندې لعنت غوښتل

س: په دې کښې څه شک نشته چې په کافرانو باندې لعنت غوښتل جائز دي اما په معین کافر باندې په لعنت غوښتلو کښې اختلاف دی خو د علماوو کرامو لویه ډله یې جائز نه بولي ځکه دوی وایي چې مونږ نه پوهېږو چې خاتمه به یې په ایمان کښې تېره شي او که په کفر کښې. یعنې احتمال لري چې ایمان راوړي، نو باید چې داسې ونه ویل شي چې په فلاني کافر باندې دې لعنت وي[٣].

---

(١) تفسیر المنار ج٢ ص٥١؛ تفسیر کبیر ج٤ ص١٨٨
(٢) روح المعاني ج٢ ص٢٩
(٣) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٢٠١

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ
وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا
أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ
وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾﴾

[۱۶۳] او ستاسو ټولو معبود يو معبود دی په حقه بل معبود نشته مګر همدی ﷻ دی، چې بې اندازې مهربان او بې اندازې رحم والا دی.

[۱۶۴] بې شکه د اسمانونو او ځمکو په پيدا کولو کښې او د شپې او ورځې په بدلون رابدلون کښې، او په هغو بېړيو کښې چې په دريابونو کښې د هغه شي سره چلېږي کوم چې خلکو ته ګټه رسوي او په هغه شي کښې چې الله ﷻ يې د اسمانه (د پاسه) نازلوي چې هغه د اوبو (باران) څخه عبارت دي، نو ځمکه پرې د هغې د مرګ (وچوالي) څخه وروسته راژوندۍ کوي، او هم پرې د هر ډول ساکښانو څخه خوروي (ژوندي ساتي او ډېروي). او د بادونو په چلولو کښې، او (بالآخره) په داسې وريځې کښې چې د اسمان او ځمکې په منځکښې مسخره ده (نه پورته خېژي او نه راښکته کېږي، په دې هر يوه کښې) د داسې قوم دپاره چې د عقل څخه کار اخلي لوی دلايل او براهين دي (چې همدا الله ﷻ په وجود او هم يې په وحدانيت باندې دلالت کوي).

## د ارتباط په هکله څه معلومات

په دې مقام کښې د ايتونو د ارتباط او اړوند په هکله لاندې معلومات ولولئ:

۱ـ ځرنګه چې د تېرو شوو ايتونو د مبحث مخه اهل الکتابو ته اوړي او دوی خو د الله ﷻ په وحدانيت باندې قائل وه، دې ته حاجت نه وه چې د توحيد دلايل ورته وړاندې کړی شي. نو ځکه ځينو مفسرينو کرامو د ذکرو شوو دوه ايتونو دپاره داسې شان نزولونه بيان کړي دي چې د دې ايتونو مخه يې مشرکانو ته اړولې ده. دوی ليکلي دي چې:

الف: د مکې مشرکانو نبي کريم ﷺ ته وويلې (ممکن مطلب به يې دا وي چې د مکې معظمې څخه يې ورته سوال وروراستاوه) چې مونږ ته د الله ﷻ اوصاف بيان کړه، نو د دې سورت (۱۶۳) ايت او د «الإخلاص» سورت نازل شو[۱].

ب: بيا مشرکانو وويلې چې د همدې مدعا دپاره ـ چې الله ﷻ يو دی ـ دلايل څه شی دي؟، ايا يو الله ﷻ ټول عالم ته کفايت کولی شي؟. نو الله ﷻ ورپسې [۱۶۴] ايت نازل کړ[۲].

---

(۱) زاد المسير ج۱ ص۱۵۰
(۲) تفسير القرطبي ج۲ ص۱۹۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ مګر مونږ ته دغه طرز تفسیر ډېر بعید ښکاري. دا ځکه چې:

الف: دا سورت خو مدني دی او د "الإخلاص" سورت مکي دی، که دا [۱۶۳] ایت د "الإخلاص" د سورت سره په یو ځل نازل شوی وي نو یا به دا منو چې دا ایت مدني نه دی، او یا به منو چې "سورة الإخلاص" مکي نه دی، که د هرې خبرې التزام وکړو خوند به ونه کړي او لمر به مو په ګوتو پټ کړی وي.

ب: د توحید په باره کښې خو نبي کریم ﷺ دیارلس (۱۳) کاله مشرکانو ته په مکه معظمه کښې توضیحات ورکړي وه او ښه یې ورته شرحه کړې وه چې په نتیجه کښې هجرت ته مجبور کړی شو، نو دا به څنګه زړه ته ولوېږي چې دیارلس کاله وروسته یې نبي کریم ﷺ ته پوښتنه رالېږلې وي چې مونږ ته د الله ﷻ توحید بیان کړه؟، ایا تر اوسه پورې په دې باره کښې دوی ته د نبي کریم ﷺ دریځ نه وه معلوم؟ ایا دوی غوښتل چې د شرک څخه لاس واخلي او حق دین ته راواوړي؟

نو ښه دا ده چې د دغو ایتونو اړوند او ارتباط د تېرو شوو ایتونو څخه ونه شکوو، او که دا کار وکړو نو داسې به ښکاره شي لکه د ملغلرو او جواهرو امیل چې په منځکښې قطعه شي.

## په یاد ولرئ!

۳ـ په یاد ولرئ چې په دې کښې زمونږ دا مطلب نه دی چې په دې ایتونو کښې د مشرکانو دپاره جواب نشته، بلکې مطلب مو فقط همدومره دی چې د دې ایتونو سوق د هغوی د جواب دپاره نه دی، که څه هم د ټولې دنیا مشرکانو دپاره او هم د ټولو دهریانو دپاره ـچې بالکل د الله ﷻ څخه منکران دي ـ پکښې پوره غاښ ماتوونکي جوابونه بیان شوي دي.

۴ـ د دې دواړو ایتونو ارتباط مونږ ته د لاندې وجوهو د امله ټینګ ښکاري:

الف: د اهل الکتابو د حق پټولو غټه وجه دا وه چې د نبوت لوی نعمت یې په بل چا باندې نه لوربده، په دې ایتونو کښې الله ﷻ دوی وپوهول چې په حقه معبود خو د ټولو یو دی، چې هغه ﷻ په خپلو بندګانو باندې څه پېرزوینه کوي، نو تاسو پرې ولې بخیلي کوئ؟، ایا دوی د الله ﷻ په حقه عبادت کوونکي نه دي؟.

ب: الله ﷻ لکه څنګه چې خپل مادي نعمتونه یوازې تاسو پورې نه دي خاص کړي (مثلًا د اسمانونو او ځمکو څخه ګټې اخستل او یا د بېړیو څخه استفادې کول او داسې نور) نو خپل معنوي نعمتونه (لکه نبوت او کتاب) به تاسو پورې څنګه مختص وګرځوي.

ج: د هغو حقائقو د جملې څخه چې اهل الکتابو یې کتمان کاوه او پټول یې د الله ﷻ توحید هم وه؛ دا ځکه چې دوی هم په اخره کښې مشرکان شوي وه. لاندې دلایلو ته متوجه شئ:

اول: ﴿ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ عُزَيْرٌ ٱبْنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ ٱللَّهِ ۖ ذَٰلِكَ قَوْلُهُم بِأَفْوَٰهِهِمْ ۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوْلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَبْلُ ﴾ [التوبة: ۳۰] یعني: او یهود وایي چې عُزَیر ؑ د الله ﷻ زوی دی (په معبودیت کښې ورسره شریک دی) او نصارا وایي چې مسیح (عیسی ؑ) د الله ﷻ

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زوی دی (په معبودیت کښې ورسره شریک دی) دا د دوی محض د خولې خبره ده (کوم دلیل ورسره نشته) دوی په خپله خبره کښې د هغو خلکو د خبرې سره مشابهت کوي چې هغوی لا پخوا کافران (مشرکان) وه.

درهم: ﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ [آل عمران: ۶۴] یعني: ورته ووایه چې ای اهل الکتابو! راشئ؛ فقط یوې خبرې ته چې هغه زمونږ او ستاسو په منځکښې یو برابره ده، هغه دا چې د الله ﷻ څخه به په غیر د بل چا عبادت نه کوو او نه به ورسره څه شی شریکوو، او هم به مو ځینې ځینو نورو لره اربابان (کارسازان) نه جوړوي، دالله ﷻ څخه په غیر.

۵_ لنډه دا چې اهل الکتاب د توحید د عقیدې څخه منحرف شوي وه حتی چې تحلیل او تحریم یې خپلو مشرانو او ملایانو ته سپارلی وه لکه چې په همدې مطلب باندې راتلونکی [۱۶۸] ایت نه دلالت کوي چې د شیطانانو په متابعت سره یې په خانونو باندې ځینې شیان حلال کړي وه او ځینې یې پرې حرام کړي وه.

نو د دوی پوهول ضرور وه چې د توحید دلایل ورته وویل شي. نو ځکه دوی او هغو خلکو ته چې دوی یې غولولي وه یو ځل بیا د توحید دلایل ورپه یاد کړی شوه چې خلاصه یې لاندې لوستلی شئ:

## د مطلب خلاصه او توضیحات

یعنې: ستاسو ټولو معبود یکي یو دی چې الله ﷻ دی، دا ځکه چې:

۱_ د الله ﷻ څخه پرته بل په حقه معبود نشته چې بې اندازې مهربان او بې اندازې رحم والا دی.

نو ای اهل الکتابو! تاسو ته په کار دي چې د محمدي (ﷺ) شریعت سره عناد ونه کړئ، د دې شریعت پیروان خو ستاسو ورونه دي خو تاسو د دوی څخه د شرکي عقیدې په درلودلو سره خانونه لرې کړي او جدا کړي دي، د هغې څخه بېرته توحید ته راتاو شئ او د الله ﷻ بې اندازې مهربانۍ په خانونو پورې خاصې مه ګرځوئ او بني اسماعیلو ته هم د نبوت په لوی نعمت باندې قائل شئ چې د الله ﷻ معنوي نعمتونه ټولو مخلصو بندګانو ته شامل دي، هغه څوک به ترې محروم وي چې په اخلاص کښې یې نقصان راشي لکه چې تاسو اوس د توحید د عقیدې څخه د شرک عقیدې ته اوښتي یاست او د نبوت سلسله درڅخه قطعه شوه.

۲_ اما د الله ﷻ مادي نعمتونه خو ټول مخلوق ته شامل دي تردې چې کافران هم ترې استفاده کوي. د مثال په توګه د لاندې څو غټو نعمتونو نوملیک ولولئ چې د یو پلوه د الله ﷻ نعمتونه دي چې هیڅوک ترې انکار نه شي کولی، او د بله پلوه د الله ﷻ په موجودیت او هم د الله ﷻ په وحدانیت باندې د عقل د خاوندانو دپاره غټ دلایل دي. دا ځکه چې دغه اته واړه شیان هر یو داسې نه دي چې هوښیار سړی پرې قناعت وکړي چې دا به پخپله پیدا شوي وي او خالق به نه لري او نه داسې دي چې د سړي پرې قناعت راشي چې خالق به یې یکي یو نه وي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو مونږ غواړو چې اول یې د الله ﷻ په وجود باندې دلالت بیان کړو او بیا یې د هغه ﷻ په وحدانیت باندې لاندې ښوونه شرحه کړو:

## دا هر یو د الله ﷻ په وجود باندې دلالت کوي

۳ـ دا ټول انه واړه شیان په الله ﷻ باندې دلالت کوي چې واجب الوجود او ازلي او ابدي دی، ځکه چې دغو اتو شیانو یوه هم خپل ځان پخپله نه دی پیدا کړی او نه څوک په دې عقیده باندې شته. همدارنګه یوه هم بل نه دی پیدا کړی ځکه چې هر یو په خپل وجود کېښې محتاج دی او هر شی چې په خپل وجود کېښې بل ته اړ وي نو بل شي ته خو هیڅکله وجود نه شي ورکولی. نو ضرور به د ټولو خالق د دوی (د ممکناتو) د سلسلې څخه دباندې وي او په دوی کېښې به داخل نه وي.

## طبیعت هم خالق نه شي کېدلی

۴ـ طبیعت هم خالق نه شي کېدلی ځکه چې:

الف: طبیعت خو پخپله د ممکناتو څخه دی نو تېر شوی بیان کټ مټ په همده کېښې هم جاري کېږي چې نه یې خپل ځان پخپله پیدا کړی او نه بل ممکن وجود ورکړی دی او نه بل شي ته وجود ورکولی شي.

ب: طبیعت خو د هغه کیفیت نوم دی چې د ترکیب څخه وروسته حاصلېږي. او په وجود ورکوونکي کېښې خو دا شرط ده چې د وجود ورکولو څخه لا پخوا پخپله موجود وي.

مثلاً: تر هغه چې د یوه معجون اجزاء نه وي ترکیب شوي د هغه طبیعت هم وجود نه لري، نو چې پخپله معدوم وي، بل شي ته به څنګه وجود ورکړي؟

ج: طبیعت خو یو کیفیت دی چې بې علمه، بې ارادې او بې حیاته شی دی، نو دا به کوم یو عقل ومني چې هغه ـې داسې شیان موجود کړي کوم چې علم لري، اراده لري او حتی ژوند لري؟

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: که دهریان طبیعت ته په علم، اراده او حیات باندې قائل شي نو بیا یې جواب څه دی؟

مونږ وایو: که دهریان ومني چې طبیعت داسې موجود دی چې ازلي او ابدي دی، علم او اراده لري او حتی حیات لري، نو دا خو به ډېره ښه شي او جګړه به پای ته ورسېږي. ځکه په دې تقدیر خو دوی په الله ﷻ باندې قائل شوه خو دومره ده چې د الله ﷻ په نوم یې نه یادوي او د طبیعت نوم ورباندې ږدي، نو جګړه یوازې په نامه کېښې پاتې کېږي چې مونږ ورته الله ﷻ وایو او دوی ورته طبیعت وایي. مګر دهریان داسې چرته کوي.

## دا هر یو د الله ﷻ په وحدانیت باندې دلالت کوي

۶ـ دغه ټول د الله ﷻ د توحید دلایل هم دي، ځکه چې ټول یو هدف تعقیبوي، العیاذ بالله که د

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سیقول (۲)

تولو خالق واحد لا شريک نه وي نو موجوده نظام به دړې وړې شوی وي او د انسان د خلافت دوره به ختمه شوې وي او يو کپ دودی به يې د ژوند دپاره نه وي موندلې. لاندې بيان ته متوجه شئ:

الف: د شريکانو به کله د يو بل سره د اسمانونو په کميت او کيفيت کښې جګړه وي او کله د ځمکې په کيفيت او کميت کښې، بې شمېره ستوري او بې شمېره غرونه، خاورې او تيږې به يو هم د جګړې څخه خلاص نه وي.

ب: د شپې او ورځې په بدلون رابدلون کښې خو به يې همېشه سره اختلاف وي.

ج: په دريابونو کښې خو به هيڅکله يوه بېړۍ هم په ارامه ارامۍ سره نه وي چلېدلې، يوه به ډوبولې او بل به يې مخه نيولې.

د: د واورې، ږلۍ او باران په هر يوه څاڅکي به لانجې او جګړې وي.

هـ: د ځمکې يو بوټی به هم د کم او کيف په لحاظ د دعوو او دنګلو څخه په غير په ارامه فضا کښې نه وي زرغون شوی او نه به يې وده کړې وي.

و: په ځمکه کښې چې څومره ژوندي شيان اوسېږي، د هغوی په شکل، حجم خوراک او څښاک عمرونو او د اوسېدانې په ځايونو کښې به سات په سات بحثونو صورت نيولی.

ز: د بادونو په چلونو کښې به هم هره ورځ جګړه جوړه وي؛ يوه به د شرق د طرفه حرکت ورکولی او بل د غرب د پلوه، يوه به نرۍ باد چلولی او بل به ترې سيلۍ جوړولی، او داسې نور.

ح: د وريځې په تاوېدلو او راتاوېدلو په سر خو به هر وخت جنګ وي؛ د يوه به سپينه وريځ خوښه وي او د بل توره، يوه به چالاکه حرکت ورکولی او بل به په ورو-ورو، او داسې نور.

## د دې جګړو پايلې

۷ـ د دې جګړو پايلې او نتائج به د لاندې صورتونو څخه خالي نه وي:

الف: هر يو خالق به د بل خالق د ارادې مخنيوی کولی شوی، چې په دې صورت کښې خو به د ذکر شوو شيانو څخه يو هم نه وي موجود شوی او هم به دوی يو هم خالق او الله نه وي کېدل شوی. ځکه چې د الله ﷻ په صفاتو کښې دا صفت لازم او ضروري دی چې څوک يې د ارادې مخه نه شي نيولی. نو د دې صورت نتيجه د دهريت څخه پرته بل شی نه دی چې هغه مخکښې باطل شوی دی.

ب: د يوه اراده به قوي وي او د بل اراده به کمزورې وي چې په دې صورت کښې کمزوری خالق نه شي کېدلی. نو د دې صورت نيتجه توحيد ته اوړي، نو بايد چې د اوله توحيد ومنل شي.

ج: د مجبورۍ د کبله به يې سره صلحه او ايتلاف کولی، او د کارونو په وېشلو باندې به يې اتفاق کولی. نو:

اول: دا صورت خو بالکل هوښيار سړي ته محال ښکاري. ځکه چې نه يوه جګړه او يوه لانجه ده او نه سل او زر دي. ايا په دغو ټولو بې شمېره جګړو کښې په ټولو زمانو کښې تر اوسه پورې په يوه باندې هم بې اتفاقي رانغله او نه به راشي!؟

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: دا چې صلحه کول هم د ناتوانۍ علامه ده چې یا به دواړه ناتوانه وي او یا به یو کمزوری وي، چې دغه دواړه صورتونه مخکښې باطل شوي دي.

دریم: یا به یو محض په نامه خالق وي، په یو کار کښې به هم کار نه لري او محض د سنبول او یا د یو بوت مثال به لري.

نو په دې صورت کښې دا پوښتنه مطرح کېږي چې: ایا د کاره لاس اخستل د مجبورۍ د کبله دي چې د عمل میدان ته نه شي ورورانډې کېدلی او که څه یې د لاسه نه کېږي؟، چې په دغو دواړو صورتونو کښې باید شریک ونه ګڼل شي ځکه چې د الوهیت حیثیت نه لري.

او که بې کاره کېناستل یې د مجبورۍ د کبله نه وي او قدرت هم لري خو دغه وضعه یې موقته اختیاره کړې وي په یو وخت کښې به د عمل میدان ته ورورانډې شي.

مونږ وایو چې: په هر وخت کښې یې چې په کار لاس پورې کړ د "الف" او د "ب" دوه صورتونو څخه به خالي نه وي چې دواړه د الوهیت سره منافي دي.

نو معلومه شوه چې ذکر شوي اته شیان (چې نومونه یې په ایت شریف کښې اخستل شوي دي) هر یو د الله ﷻ په وحدانیت باندې هم دلالت کوي.

## د توحید یو بل دلیل

۸ـ د الله ﷻ د وحدانیت یو بل لوی دلیل دا هم دی چې د الله ﷻ وجود داسې دی لکه لمر که څوک ترې منکر شي هم د مجبوریت د کبله به یې مني، ځکه چې بې د الله ﷻ د وجود د حق ګڼلو څخه امکان نه لري چې یو شی هم موجود شي. لکه چې مخکښې په اثبات ورسېد.

مګر دغه مجبوریت د یکي یو الله ﷻ په حق ګڼلو سره پورته کېږي څه مجبوریت نشته چې شریک ورسره ومنل شي نو معلومه شوه چې الله ﷻ واحد لا شریک دی.

یا په بل عبارت: ټول موجودات لکه چې په یکې یو الله ﷻ باندې دلالت کوي همدارنګه یې په لاشریکیت باندې هم دلالت کوي.

## د دې ټول بحث نتیجه

۹ـ د توحید عقیده داسې عقیده ده چې سړي ته د آبرو او عزت ژوند ورپه برخه کوي چې:

الف: موحد سړی یوازې د الله ﷻ څخه ډارېږي، هغه پوهېږي چې د الله ﷻ څخه په غیر نور د هیچا په وسه کښې د ضرر رسولو توان نشته، د همدغې عقیدې برکت وه چې رئیس الموحدین (ابراهیم ﷺ) د نمرود په اور باندې څه چرت خراب نه کړ.

ب: موحد سړی د الله ﷻ څخه په غیر بل هیچا ته تمه نه کوي، هغه پوهېږي چې هر څه د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دي، بل هیڅوک چاته څه شی نه شي ورکولی. د همدې عقیدې په برکت خاتم الأنبیاء (محمد ﷺ) کافرانو ته قاطع او پرېکنده جواب ورکړ، کله چې هغوی ورته وراندیز وکړ چې د الله ﷻ د توحید څخه لاس واخله هر څه چې غواړې مونږ به یې درکړو. قاطع جواب یې دا وه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې: «لَوْ جِئْتُمُونِيْ بِالشَّمْسِ حَتّٰى تَضَعُوهَا فِيْ يَدِيْ مَا سَأَلْتُكُمْ غَيْرَهَا»[۱] يعني: كه بالفرض لمر راوړئ او زما په لاس كښې يې كېږدئ هم د توحيد د كلمې څخه په غير به په بل شي باندې راضي نه شم او نه به يې درڅخه وغواړم.

ج: موحد سړی يوازې الله ﷻ ته د عبادت او بندګۍ سر ټيټوي او بس، او يوازې همده ﷻ ته تواضع او عاجزي كوي.

څوک چې د توحيد عقيده ونه لري، هغه به په زرګونو قيدونو كښې راګېر وي، د هر چا څخه به ډارېږي، هر چا ته به تمه كوي او هر چا ته به عاجزي كوي، سره د دې چې د الله ﷻ د ارادې څخه په غير ورته نه څوک نفعه رسولی شي او نه ضرر.

د: د توحيد په عقيده باندې د سړي د زړه اضطراب ختمېږي او زړه يې ارام نيسي: ﴿أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ﴾ [الرعد:۲۸] يعني: اګاه اوسئ چې د الله ﷻ په يادولو سره زړونه ارام نيسي.

لنډه دا چې څومره چې د سړي د توحيد عقيده كلكېږي په همغې اندازې به يې عزت زياتېږي او وارخطائي به يې لږې كېږي. او څومره چې دغه عقيده كمزورې كېږي هغومره په سړي كښې ذلت او تشويش اضافه كېږي.

د اسلام څخه پرته نور ټول اديان د بندګانو بندګي ده. يهوديت او نصرانيت كه څه هم په اصل كښې اسماني اديان دي خو د تحريف څخه وروسته يې پيروان په حقيقت كښې د تحريف كوونكو عبادت كوي. بوت پرستان او مشركان خو د خپله خانه ټيټ مخلوق ته عبادت كوي چې شعور هم نه لري او حس او حركت هم نه شي كولی.

د دهريانو او ملحدانو د بنده بندګي خو لا د بوت پرستانو څخه هم ډېره بدتره ده. ځكه چې د بوت پرستانو معبودان (مجسمې) خو د هغوی سره په معاملاتو كښې كار نه لرې، مګر د ملحدانو معبودان (د دوی مشران) خو ورسره په روزمره كارونو او معاملاتو كښې مداخله كوي او د وسلې په زور پرې خپل عبادت فرضوي.

## په ياد ولرئ!

۱۰- په ياد ولرئ چې د توحيد عقيده دا معنی نه لري چې سړی به بالكل د اسبابو څخه لاس په سر كېږي كه د مرض علاج كوي دا به هم د توحيد سره مخالف وي او كه كارو كسب كوي دا به هم ورسره ضديت لري، بلكې د توحيد معنی دا ده چې هر څه الله ﷻ كوي او د هر شي موجوديت او يا د هرې بلا دفعه يوازې الله ﷻ پورې مربوطه ده او بس. نو صرف الله ﷻ د عبادت او بندګۍ لياقت لري. اسباب څه تاثير نه لري موثر فقط خپل مكلفيت ګڼو چې ځان پرې مشغول كړو، نتيجه بايد په هر حال د الله ﷻ په قدرت كښې وګڼو او بس.

[۱] روح المعاني ج۲۳ ص۱۶۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څوک وايي چې مرض دوا درمل لرې کوي هغه مشرک دی، او که وايي چې مرض الله ﷻ لرې کوي او دارو محض اسباب دي دا موحد دی او داسې نور.

## سوال جواب

۱۱ـ که څوک وايي چې: ﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ﴾ هم په توحید دلالت کوي او ﴿ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ هم همدغه معنی ورکوي، نو په دې کښې څه حکمت دی چې دغه مطلب تکراراً نازل شو؟

مونږ وايو چې: تکرار نه شته. د اولې جملې څخه دا معلومېږي چې ای انسانانو! ستاسو معبود واحد (يو) دی. او دوهمه جمله په دې دلالت کوي چې د همدغه يو معبود څخه پرته په حقه بل معبود بالکل شته نه دی. که بالفرض ورستنۍ جمله نه وی نازله شوې نو دوهم مطلب به پټ پاتې وی.

## هېر مو نه شي!

۱۲ـ هېر مو نه شي چې د توحید د بیان سره الله ﷻ د خپلو صفاتو د جملې څخه ﴿ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ ځکه پیوسته کړه چې:

الف: وروسته چې د توحید د بیان دپاره کوم دلایل ذکر کېږي هغه په واقع کښې نعمتونه هم دي چې د الله ﷻ د رحمانیت او رحیمیت ته اشارې کوي.

ب: د الله ﷻ د وحدانیت سره بې نیازي او بې پروائي لازمه ده چې نه چا ته محتاج دی او نه په چا څه پروا لري، نو ذکر شوي دواړه صفات يې ورسره ضميمه کړه ترڅو بندګان مايوسه او نا اميده نه شي او تمه يې قطعه نه شي.

## د شپې او ورځې اختلاف

۱۳ـ د شپې او ورځې د اختلاف مفسرينو کرامو دوه معناوې کړې دي[1]:

الف: چې شپه د ورځې ځای نيسي او يا ورځ د شپې په عوض راځي چې دغه کار منظم روان دی او هيڅ تخلف پکښې نه واقع کېږي.

ب: چې شپه لنډېږي او څه برخې يې د ورځې سره يو ځای کېږي او ورځ پرې اوږدېږي او کله بالعکس شپه اوږدېږي او د ورځې څه برخې شپې ته ورانتقالېږي.

مګر مونږ ته اوله معنی غوره برېښي. ځکه چې الله ﷻ ورباندې په [القصص: ۷۱ـ۷۳] ايتونو کښې تصريح کړې ده. "وَالْقُرْآنُ يُفَسِّرُ بَعْضُهُ بَعْضًا" او د قرآن کريم ځينې ايتونه ځينې نور تفسيروي.

## بېړۍ په درياېونو کښې

۱۴ـ بېړۍ د دې وجې څخه د الله ﷻ په لوی قدرت باندې دلالت کوي چې سره د دې چې ځوړنه وزن لري، خصوصاً په دې زمانه کښې چې داسې بېړۍ هم شته چې د الوتکو هوايي ډګر پکښې دي

(۱) تفسير القرطبي ج۲ ص۱۹۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

نه په وابي چې یو لوی ښار د اوبو په سر باندې روان دی، خو بیا هم پکښې نه ډوبېږي.
یعنې الله ﷻ د اوبو جوړښت داسې پیدا کړی دی چې یوه ډېره وړه شګه پکښې ډوبېږي خو بېړۍ پکښې نه ډوبېږي. دا د دې دپاره ترڅو ترې خلک ګټې او فائدې اوچتې کړي.
په نني عصر کښې خو هغه مملکت د بل هر یو مملکت څخه موړ او غني دی کوم چې د اوبو سره اتصال ولري. څکه کوم وزن چې یوه بېړۍ وړي او راوړي هغه وزن په کلونو-کلونو موټر او اورګاډي نه شي انتقالولی او نه یې د دریاب بلې خواته تېرولی شي.
روسانو چې په "۱۳۵۸/۱۰/۶ هـ ش" نېټه په افغانستان باندې تعرض وکړ یو هدف یې دا هم وه چې د افغانستان او بلوچستان په سلسله ګرمو اوبو ته ځان ورسوي ترڅو پکښې تجارتي مالونه نقل او انتقال کړي. په بحر منجمد شمالي کښې (چې روسیه ورپورې پیوسته ده) بېړۍ نه شي ګرځېدلی.

## باران هم د الله ﷻ د قدرت لویه نښه ده

۱۵ـ د اسمان د طرفه د باران نازلېدل هم ډېره عجیبه خبره ده خو خلک ورسره عادت شوي دي څه عجیبه ورته نه ښکاري. لاندې څو لنډ مطالب په دې باره کښې ولولئ:
الف: دنیا چې اباده شوې ده بارانونه ورېږي، هېڅ خلاصون یې نشته، څومره لویه بې انتهاء خزانه ده؟!.
ب: که ټوله دنیا سره لاس یو کړي نو یو څاڅکی به هم د اسمانه راښکته نه کړي.
ج: باران د څاڅکو په شکل نازلېږي، ته به وایې چې په هوا کښې ورته غلبېل او یا چاڼ ایښی دی او غټ او واړه څاڅکي ترې جوړوي، که د څاڅکو په شکل نه وی نو په ځمکه کښې به یې د نفعې په ځای ضرر رسولی، داسې به وی لکه چې د چا په کور باندې د ژرندې ناوه ورسمه شي، او بل به په هر ځای باندې نه اورېدلی، ډېر ځایونه به وچ پاتې کېدلی.
د: کله- کله باران د پوډرو په شکل اړول کېږي چې د واورې او ږلی په شکل راورېږي ترڅو ترې د غرونو په سرونو کښې ذخېرې جوړې شي او په تدریج سره ترې خلک استفاده وکړي.

## د ځمکې ژوندي کېدل

۱۶ـ په باران باندې وچه کلکه ځمکه راژوندۍ کېږي او ډول-ډول نباتات رازرغونوي چې د ځمکې ټول ژوندي شیان ترې د خپل ژوند دپاره استفاده کوي. د انسان دپاره خو داسې دی لکه چې اولادېورباندې راورېږي. الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزۡقٍ ﴾ [الجاثیة:۵] یعنې: په هغه شي کښې هم (د الله ﷻ د قدرت نښې دي) چې د اسمانه یې نازلوي چې هغه عبارت د روزۍ څخه دی. یعنې چې هغه د خوراک او څښاک او دارو درمل او داسې نورو څخه عبارت دی.

## ټوله ځمکه په ژوندیو مخلوقاتو باندې ډکه ده

۱۷ـ ټوله ځمکه د حیواناتو څخه ډکه ده چې هر یوه ته الله ﷻ د هغه سره مناسبه خېره ورکړې ده او مناسب ځای یې ورته برابر کړی دی چې ځینې په وچه کښې دي او ځینې په دریابونو کښې او

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالآخره هر یوه ته یې د هغه د حال سره موافقه روزي هم وربرابره کړې ده (هرې نوعې ته یې د هغې سره مناسب خوراک او څښاک ورتیار کړی دی) چې یوه نوعه د بلې روزي نه شي خوړلی، بلکې ډېر زیات داسې دي چې سړی نه پوهېږي چې دا به څه خوري او په څه ډول ځای کښې به اوسېږي او په خلقت کښې به یې څه اسرار وي.

## د بادونو چلول

۱۸_ د باد چلېدل یا د هوا حرکت هم د الله ﷻ د قدرتونو لویه نښه ده. په دې باره کښې لاندې معلومات ولولئ:

الف: په باد سره یخني او ګرمي د یو ځای څخه بل ځای ته انتقالېږي.

ب: باد د نباتاتو په وده کښې لوی لاس لري، چې میوه دارې ونې پرې بارداري کېږي هم.

ج: د هغو ټولو حیواناتو دپاره د روح مثال لري چې په ځمکه ژوند کوي، که یو ساعت هوا ودرېږي د اسمان او ځمکې منځ به ټول بوی وکړي(۱).

د: باد مختلف حرکتونه لري د ځینو بادونو سرعت په یو ساعت کښې یو میل مسافه وي. آن تردې پورې چې په یو ساعت کښې یو سلو شل (۱۲۰) میله او یا د دې څخه زیاته مسافه وهي(۲).

هـ: د صفاتو په اعتبار سره باد بېل بېل نومونه لري. د مثال په توګه:

اول: "قَبُول" یا "صَبَا" هغه باد ته وایي چې د شرق د طرفه غرب ته حرکت کوي، چې مونږ ورته "ښکېښنی باد" وایو.

دوهم: "دَبُور" د هغه باد نوم دی چې د لوېدیځ (غرب) څخه د ختیځ (شرق) په لور روان وي، چې مونږ ورته "برو باد" وایو.

دریم: د جنوب څخه چې د شمال په لور روان وي هغه ته "جَنوب" وایي، د جیم په فتحې (زور) سره، او چې بالعکس د شمال څخه جنوب ته الوزي هغه ته "شَمَال" وایي، د شین په زور سره.

څلورم: تېز باد ته "عَاصِف" وایي، او ډېر تېز ته چې ونې د بېخه وباسي "زَعْزَاع" وایي.

پنځم: هغه باد چې د ځانه سره تیږې کولوي د "حَصْبَاء، حَاصِبَة" په نومونو یادېږي.

شپږم: چې د ځمکې څخه په عمودي ډول د اسمان طرف ته حرکت کوي هغه ته "اعْصَار، زُوبَعَة" وایي، چې مونږ یې د "بربوړکی" په نوم یادوو.

اووم: د دوړو په لحاظ سره ورته "هَبْوَة" وایي.

اتم: ډېر یخ او تېز باد د "صَرْصَر" په نامه یادېږي چې د چلېدلو په وخت کښې اواز کوي.

نهم: ګرم باد ته د "سَمُوم، حَرُور" نومونه اخلي.

(۱) روح المعاني ج۲ ص۳۳
(۲) الجواهر للطنطاوي ج۱ ص۱۵۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لم په هغه باد باندې چې نه ونې بلواره کوي او نه وریځې خوروي د "عقیم" (شنډ) باد نوم
ېږدلی شوی دی.

## وریځ هم عجیبه شی دی

۱۹ـ بل د الله ﷻ د قدرتونو لویه نښه وریځ ده چې د اسمان او ځمکې ترمنځ په شنه اسمان
کې راپیدا شي او په کراره کراره د اسمان مخ پټ کړي، نه ځمکې ته رانښکته کېږي چې تول
ځکه نوره تیاره کړي او نه پورته اسمان ته خېژي، بلکې د اسمان او ځمکې ترمنځ په قدرتي توګه
ګرځي راګرځي او د باران د وریځو امیدونه خلکو ته ورکوي. او کله ترې د یو لوی تجیر کار
اخستل کېږي، لکه چې د بني اسرائیلو دپاره د "تیه" په بیدیا کښې همداسې ګرځوله شوې وه.

## یادونه

۲۰ـ مونږ یو ځل بیا دا خبره کوو چې که د دغو ذکر شوو نعمتونو خالق یو نه وی نو دوی به په
فعالیت کښې سره دغسې لاس نه وی یو کړی لکه چې اوس په یو اتفاق باندې په فعالیت بوخت دي
او یو د بل مؤید دي، نو دغه شیان او بلکې ټول موجودات لکه چې د الله ﷻ په وجود دلالت کوي
همدارنګه یې په وحدانیت باندې هم غټ غټ دلایل دي.

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَشَدُّ
حُبًّا لِّلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ إِذْ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ أَنَّ ٱلْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ
ٱلْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ إِذْ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوا۟ وَرَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ
ٱلْأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوا۟ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا۟ مِنَّا ۗ كَذَٰلِكَ
يُرِيهِمُ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ حَسَرَٰتٍ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿١٦٧﴾﴾

[۱۶۵] د خلکو څخه ځیني داسې (بې عقلان) هم شته چې د الله ﷻ څخه په غیر نور دوستان
نیسي، داسې محبت ورسره کوي لکه د الله ﷻ سره چې محبت کوي. او هغه کسان کومو چې ایمان
راوړی دی هغوی (د کافرانو څخه) د الله ﷻ په محبت کښې ډېر کلک دي.
او کله چې هغه کسان چې ظلم یې کړی دی په هغه وخت کښې چې عذاب ګوري دا هم وګوري
چې ټول قوت او توانایي خاص الله ﷻ لره ده او بې شکه د الله ﷻ عذاب ډېر سخت او کلک دی (نو
به خپلو کړو وړو به پښېمانه شي).
[۱۶۶] په دې وخت کښې به هغه کسان چې د هغوی متابعت (او عبادت) کړی شوی دی د هغو
کسانو څخه بېزاره شي چې د دوی متابعت (عبادت) یې کاوه او دوی به ټول (تابعین او متبوعین)

Downloaded from: bawarketabtoon.com

عذاب وګوري او د اتصال او پیوند اسباب به یې ټول پرې شي (نه به یو د بل په غم کښې وي او نه به یې څه د لاسه کېږي).

[۱۶۷] او هغه کسان به چې متابعت یې کاوه ووایي چې: کاشکې چې مونږ لره بېرته دنیا ته تاوېدل وی چې د دوی (متبوعینو) څخه داسې بېزاره شوي وی لکه چې (نن ورځ) دوی زمونږ څخه بېزاره شوه.

همدارنګه الله ﷻ دوی ته خپل عملونه په دوی باندې د حسرت په شکل ورښکاره کوي، او دوی د اور څخه وتونکي نه دي.

## ارتباط

په دغو ایتونو کښې الله ﷻ د هغو بې عقلانو (سادګانو) څه حالت بیانوي چې د ذکر شوو دلایلو څخه استفاده نه کوي او سترګې وربانديې پټوي او د شرک په ګرداب کښې ځانونه ورغوبه کوي چې خلاصه یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ د خلکو څخه داسې هم شته چې د الله ﷻ څخه په غیر نور دوستان نیسي او داسې محبت او مینه ورسره لري لکه چې د الله ﷻ سره یې لري، دوی ته په کار وه چې ذکر شوو دلایلو ته یې په دقت سره کتلي وی او د الله ﷻ سره یې ـ چې وجود یې ورکړی دی او بې شماره نعمتونه یې پرې پېرزو کړي دي ـ بل شی په محبت کښې نه وي برابر کړی. ځکه چې هیڅ شی د الله ﷻ سره نه سیالي کولی شي او نه ورسره شریک کېدلی شي.

که دوی الله ﷻ پېژندلی وی نو دغسې به یې نه وی کړي او د الله ﷻ سره به یې داسې کلک محبت درلودی لکه چې مومنان یې ورسره لري چې په هیڅ حالت کښې هغه محبت کمزوری کېږي نه، نه پرې غم تاثیر کوي او نه خوشالي، په دنیا کښې لا څه چې د مرګ څخه وروسته لا ورېسې قوي کېږي.

۲ـ د مشرکانو محبت خو د الله ﷻ سره دومره ضعیفه دی چې صرف د بېړۍ په امواجو کښې یې ورته فکر کېږي خو مجردې چې وچې ته ورسېږي او د دریاب د خطر څخه بچ شي بیا نو د الله ﷻ محبت ترې هېر شي او د بوتانو په عبادت مشغول شي، نو دوی په سختۍ کښې د الله ﷻ سره محبت لري او په خوشالۍ کښې د بوتانو سره، نو د دوی محبت متزلزل دی.

۳ـ کله چې دغه ظالمان د عذاب د لېدنې په وخت کښې د زړه په سترګو وګوري او علم یې حاصل شي چې ټول قوت د الله ﷻ سره دی او عذاب یې هم ډېر سخت دی چې نه ترې خلاصېدل شته او نه یې څوک مخه نیولی شي، نو په هغه وخت کښې به د معبودانو په محبت باندې پښېمانه شي او ارمان به وکړي چې کاشکې چې د مومنانو په شان مو صرف د الله ﷻ سره مینه او محبت ساتلی وی او بس؛ ځکه چې په دغه وخت کښې به د یوې خوا د الله ﷻ عذاب ګوري چې دوی ته

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دروران دی او د بلې خوا به د خپلو معبودانو ناتواني او کمزوري ګوري او حتی د هغوی بېزاري به هم ګوري او په هر سبب سره یې چې په دنیا کښې ورسره علاقه او محبت ټینګ کړی وه هغه سبب به هم د منځه لاړ شي، نه به قرابت په ښه ورځي، نه قومیت، نه به وطنداري ورته څه ګټه رسوي او نه د یو ګوند غړیتوب، نه به یې استاذي او شاګردي خلاصولی شي او نه د ژبې یووالی او داسې نور تولې اړیکې به د منځه لاړې شي).

۴ـ په دغه وخت کښې به خپلو معبودانو ته خطاب کوي چې کاشکې چې مونږ یو ځل بیا بېرته دنیا ته تللي وی چې د یو پلوه مو ستاسو څخه دغسې بېزاري اعلان کړې وی لکه چې تاسو زمونږ څخه نن ورځ اعلان کړه، ستاسو د لاسه خو هیڅ شی پوره نه دي مونږ دریاندې چټې غولېدلي وو او د بله پلوه مو د الله ﷻ سره مینه، محبت کلک کړی وی لکه چې مؤمنانو ورسره کلک کړی دی. نکه چې مونږ اوس پوه شوو چې هر څه واک او اختیار د همده ﷻ دي او بس.

۵ـ په دغه ډول سره به الله ﷻ دوی ته خپل عملونه ورولیده کړي چې هیڅ فائده یې ورته ونه کړه زخو حسرت او افسوس دوی ته یو بل عذاب جوړ شي، بلکې لکه څنګه یې چې عذاب همېشه دی دغه حسرت او انتهاء درجه پښېماني به یې هم همېشه وي.

هو! که هغوی هرڅومره حسرتونه او ارمانونه وکړي نو نه به د اوره وتونکي وګرځي او نه به بېرته دنیا ته ګرځېدونکي جوړ شي.

## توضیحات

۱ـ د الله ﷻ سره محبت د اطاعت او حکم منني څخه عبارت دی چې د شرعي حکم په مقابل کښې نه د پلار حکم، نه د زوی حکم، بلکې د هیچا د حکم منه نه کوي او د شرعې څخه په غیر بل حکم منل ورته داسې ښکاري لکه چې سرې په اور کښې وراچول کېږي.

څوک چې د الله ﷻ د محبت دعوه کوي او سره د دې د هغه ﷻ حکم د پښو لاندې کوي نو دا په حقیقت کښې محبت نه دی، باید چې د قیامت په ورځ یې نتائجو ته په تمه نه شي.

په لاندې څو احادیثو کښې ایماني محبت ښه شرحه شوی دی:

الف: د أنس ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ»[۱] یعني: ستاسو یو کس به تر هغه پوره ایماندار نه شي ترڅو چې ورته زه د پلار او زوی او تولو خلکو څخه زیات محبوب شم.

ب: د أنس ﷺ په بل روایت کښې نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ»[۲] یعني: تر هغه به ستاسو یو تن د کامل ایمان خاوند نه شي ترڅو چې د خپل ورور دپاره هغه څه ښه ونګڼي کوم چې د خپل ځان دپاره ښه ګڼي.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۷
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د انس ﷺ په بل روایت کښې نبي کریم ﷺ فرمايي چې «ثَلاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلاوَةَ الإِيمانِ مَنْ كانَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمّا سِواهُما وَمَنْ أَحَبَّ عَبْدًا لا يُحِبُّهُ إِلّا لِلّهِ ﷻ وَمَنْ يَكْرَهُ أَنْ يَعُودَ فِي الكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْقَذَهُ اللهُ مِنْهُ كَما يَكْرَهُ أَنْ يُلْقى فِي النّارِ»[۱] یعني درې شیان دي چې په چا کښې موجود شي د ایمان خوږوالی به ومومي (هغه دا دي) چا ته چې الله ﷻ او د هغه ﷻ پیغمبر ﷺ د بل هر شي څخه ګران او محبوب وي. او څوک چې د هیڅ بنده سره د الله ﷻ د رضا څخه په غیر د بل شي دپاره محبت نه کوي. او څوک چې کافر کېدل ورته دومره بد ښکاري لکه هغه څخه وروسته چې الله ﷻ ورته ترې نجات او خلاصون ورکړی دی- لکه چې ورته بد ښکاري چې په اور کښې ورواچول شي.

۲- مونږ د دې سورت د [۲۲] ایت لاندې لیکلي وه چې "انداد" د "ندّ" جمعه ده او "ندّ" هغه مثال ته وايي چې د مثلیت سره سره د خپل مقابل سره ضدیت او دښمني هم لري.

هغه څوک او یا هغه شی چې د هغه د الله ﷻ څخه په غیر اطاعت او یا عبادت وکړی شي هغه د "ندّ" په نامه یادېږي، برابره خبره ده چې هغه بوت وي او یا انسان او یا بل څوک.

خو ځینې مفسرین کرام وايي[۲] چې دلته د "انداد" څخه هغه مشران مراد دي چې د الله ﷻ د اطاعت په عوض د هغوی اطاعت کېږي او خبره يې منله کېږي. لکه چې په همدې مطلب پاندې راتلونکی ایت دلالت کوي چې همدغه انداد (معبودان) به د خپلو عابدينو څخه بېزاري او برائت اعلان کړي. ځکه چې برائت د ژوندیو سره ښه مناسب دی.

مګر که عام واخستل شي هم صحت لري چې الله ﷻ ورته جمادات معبودان (بوتان) ګویا کړي لکه چې د قیامت په ورځ ځمکه هم خبرې کوي: ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾ [الزلزال: ۴] یعنې په دغه ورځ به ځمکه هم خپل اخبار (معلومات) بیان کړي.

او دا هم کېدلی شي چې د حال په ژبه خپله بېزاري اعلان کړي.

## کافران او د معبودانو محبت

۳- که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د دې جملې ﴿يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ﴾ معنی داسې کړې ده چې دوی د خپلو معبودانو سره داسې محبت لري لکه چې مومنان يې د الله ﷻ سره لري[۳]، مګر مونږ دغه معنی ځکه ونه کړه چې:

الف: دا وړل معنی اخستل تقدیر ته حاجت لري چې باید د "الْمُؤْمِنِينَ" کلمه ورسره مقدره کړی شي (كَحُبِّ الْمُؤْمِنِينَ الله). او کومه معنی چې مونږ اخستې ده هغه تقدیر ته حاجت نه لري.

ب: همدا معنی الله ﷻ د کافرانو د خولې څخه حکایت کړې ده لکه چې فرمايي: ﴿ قَالُوا وَهُمْ

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۸
(۲) تفسیر القاسمي ج۳ ص۲۰
(۳) تفسیر کبیر ج۳ ص۲۳۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یختصمون ۞ تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ۞ إِذۡ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ [الشعراء: ۹۶_۹۸]

یعني: ویه وایي (کافران عبادت کوونکي) حال دا چې دوی به په دوزخ کښې سره جګړې کوي چې قسم دی چې بې شکه مونږ په ښکاره غلطی کښې وو چې تاسو مو د رب العالمین سره (په عبادت او محبت کښې) برابر او مساوي ګرځولي وئ.

ج: په همدې معنی باندې دغه جمله ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبّٗا لِّلَّهِۗ ﴾ هم دلالت کوي. ځکه چې د معنی حاصل بې داسې راځي چې د کافرانو محبت د الله ﷻ سره کمزوری دی او د مؤمنانو محبت ورسره ډېر قوي دی.

د: په همدې معنی کښې د کافرانو حماقت هم ښه څرګندېږي چې خالق او مخلوق سره برابروي.

## د کافرانو دپاره خپل عملونه حسرت جوړېږي

۴_ د قیامت په ورځ به د کافرانو دپاره ټول عملونه د حسرت او افسوس اسباب جوړ شي[1] مثلاً:

الف: کوم یو نېک عمل یې چې کړی وي هغه خو به لکه د ایرو په ټوپن باندې چې توند باد وچلېږي، تار په تار شي ځکه چې بې ایمانه نېک عمل د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی.

ب: مؤمنان به په نېکو اعمالو سره جنت ته لاړ شي او د دوی نېک اعمال به د سراب په شان پوچ او بې مغزه ورښکاره شي.

ج: د دوی دپاره به بد اعمال هم لوی حسرت شي چې دوی ته په دنیا کښې ښه ښکاره کېده، په همدې حسرت باندې به د معبودانو برائت د پاسه مالګې ودوروي او لا به یې زیات کړي.

## عذاب لېدل په آخرت کښې

۵_ که څه هم د "لَوْ" او د "إِذْ" دواړه کلمې د ماضي دپاره وضعه شوې دي خو کله چې په مضارع کښې استعمالې شي لکه چې دلته استعمالې شوې دي نو دې خبرې ته اشاره ګرځي چې د قیامت په ورځ به د عذاب لیدنه او ندامت ضرور واقع کېږي.

ځینو مفسرینو کرامو یې معنی داسې اخستې ده چې که بالفرض دوی د آخرت عذاب په دنیا کښې وګوري نو ډېر ژر به د کفر څخه لاس واخلي[2]. ایت شریف د دې معنی تحمل هم کولی شي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ ۝١٦٨ إِنَّمَا يَأۡمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلۡفَحۡشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ۝١٦٩ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَآ أَلۡفَيۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۳۸؛ تفسیر القرطبي ج۲ ص۲۰۷؛ تفسیر کبیر ج۳ ص۲۳۹
(۲) تفسیر تیسیر الرحمن ج۱ ص۶۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿۱۷۰﴾ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ كَمَثَلِ
ٱلَّذِى يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَآءً وَنِدَآءً ۚ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿۱۷۱﴾ ﴾

[۱۶۸] ای خلکو! د هغه شیانو څخه خورئ چې په ځمکه کښې دي په داسې حال کښې چې حلال وي (حرام نه وي) پاکیزه وي (خبیث نه وي)، او د شیطان د قدمونو متابعت مه کوئ. بې شکه هغه (شیطان) ستاسو دپاره ښکاره دښمن دی.

[۱۶۹] بې شکه شیطان تاسو ته په بدو او بې شرمه کارونو او قولونو باندې او په دې خبره باندې چې په الله ﷻ باندې هغه څه ووایئ چې تاسو ته پرې علم نه وي، امر کوي.

[۱۷۰] او کله چې دوی ته وویلی شي چې: د ما أنزل الله (څه چې الله ﷻ نازل کړي دي) متابعت وکړئ، دوی وایي چې بلکې مونږ د هغه څه متابعت کوو چې په هغه باندې مو خپل پلرونه موندلي دي. (ورته ووایه چې) ایا تاسو دا متابعت (ړوند تقلید) کوئ اګر که پلرونو مو په هیڅ شي کښې هم د عقل څخه کار نه وي اخستی او نه یې د چا په هدایت باندې عمل کړی وي.

[۱۷۱] او د هغو کسانو (د بلونکي) مثال کومو چې کفر اختیار کړی دی د هغه شپانه د حال په شان دی چې هغه داسې څارویو ته اواز کوي چې هغه نه اوري (نه پوهېږي) مګر د بلنې په اواز او د رټلو په اواز. (ځکه چې) دوی کاڼه دي، ګونګان دي، ړانده دي. نو دوی د عقل څخه کار نه اخلي.

## ارتباطونه

۱ـ ځینې خلک د الله ﷻ سره داسې محبت نه لري چې اطاعت یې وکړي او واحد او لا شریک یې وګڼي مګر الله ﷻ په دنیا کښې په دوی باندې روزي نه ودروي.

۲ـ لکه څنګه چې یوازې یو الله ﷻ د عبادت لایق دی چې دلایل یې وړاندې تېر شوه، همدارنګه هغه ﷻ قانون جوړوونکی هم دی چې د هر شي تحلیل او تحریم په همده ﷻ پورې مختص دي. نو ای خلکو! د همده ﷻ حکم ومنئ! او بس.

۳ـ مخکښې د محبت بیان تېر شوی وه چې د الله ﷻ سره د کافرانو محبت او د مؤمنانو محبت یو برابر نه دی د مؤمنانو محبت ترې ډېر قوي دی، نو په دې ایتونو کښې د دواړو محبتونو مصداقونه ښودلي شوي چې کافران د خپلو معبودانو (شیطانان وي او که مشران، پلرونه یې دي او که دیني امامان) امر مني او مؤمنان صرف د الله ﷻ د امر اطاعت کوي او بس.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې لاندې څو مهم او عمده مطالب بیان شوي دي:

۱ـ ای خلکو! ناحقه معبودان د الله ﷻ سره په اطاعت او محبت کښې مه برابروئ څه شی چې درته الله ﷻ حلال کړی وي هغه حلال وګڼئ او څه یې چې درباندې حرام کړي وي هغه حرام وګڼئ

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پردي مالونه مه خورئ او خپل حلال مال په ځان باندې مه حراموئ، برسېره په دې په خپلو مالونو او يا په لا مالکه شيانو کښې د خبيثو او ناپاکه شيانو څخه ځانونه وساتئ، که د حرامو او ناپاکيو څخه ځانونه وساتئ نو امکان لري چې په زړه کښې مو څه رڼا پيدا شي چې خپل واحد او لاشريک الله ﷻ وپېژنئ.

۲ـ ځوک چې تاسو د الله ﷻ د اطاعت او محبت څخه اړه وي هغه ستاسو ښکاره دښمن دی چې ستاسو د پلار او مور (آدم ﷺ، حواء رضي الله عنها) څخه يې لا دښمني راپيل شوې ده او د قيامت تر ورځې پورې به جاري وي، نو دغه پوخ دښمن به هيڅکله تاسو ته د خير خبره ونه کړي.

هغه غواړي چې تاسو په تدريج سره بې لارې کړي لکه ځوک چې يو ماشوم د لاسه ونيسي او په کراره-کراره په ورو-ورو قدمونو يې روان کړي چې ترڅو يې په مزل باندې اموخته کړي او منډې ته بې جوړ کړي، نو هغه تاسو په منظمه توګه غولوي او په غولونه کښې ډېر ماهر دی.

۳ـ شيطان غواړي چې په ورو-ورو په تاسو باندې خپل ځان آمر جوړ کړي چې په هر څه درته امر وکړي هغه ومنئ: يعنې شيطان به ترهغې ستاسو د ګمراه کولو څخه لاس وانخلي ترڅو چې تاسو هغه ته بې قيده او شرطه تسليم شئ.

۴ـ کله مو چې د شيطان باداري ومنله نو بيا به درته په لاندې شيانو باندې امر کوي، چې نه به مو عمل روغ پرېږدي او نه عقيده:

الف: هغه شی به درته په ګوته کوي چې د هغه شي عاقبت او نتيجه دا وي چې تاسو ورباندې خپه شئ چې هغه د بد په نامه يادېږي، چې د همدې جملې څخه حرام خوري هم ده.

ب: فحشاء ته به مو ترغيبوي، چې برسېره په بدۍ باندې بې شرمي هم پکښې ده. لکه زنا او نور لوازم يې.

ج: تاسو به دې ته هڅوي چې په الله ﷻ باندې داسې څه وروتړئ چې په هغو باندې علم نه لرئ او محض په ګومان او اټکل سره پرې بې دليله او بې برهانه قول وکړئ. لکه چې ووايئ ـالعياذ باللهـ عيسی ﷺ د الله ﷻ زوی دی. او يا د خپله ځانه ووايئ چې دا حلال دی او دا حرام دی.

۵ـ نو ای خلکو! کله چې په تاسو کښې شيطان يوه ډله د ځان دپاره تربيه کړه چې بالکل د هغه په لومنده کښې راګيره شوه نو هغوی چې هر کله د ما أنزل الله متابعت ته راوبلل شي، نو وايي به چې مونږ ته خو الله ﷻ دومره محبوب نه دی چې پلارنی دود او دستور ورته پرېږدو، بلکې مونږ خو خپل پلرونه په همدې تګلاره باندې موندلي دي چې مونږ ورباندې روان يو، او په همدې باندې به ځو. يعنې دغه ډله بيا داسې مرحلې ته رسېږي چې خپله بده لاره ورته ښه ښکاري.

۶ـ نو د هغوی همدومره متوجه کول په کار دي چې ورته وويل شي چې:

الف: ايا تاسو په هر حالت د خپلو پلرونو متابعت کوئ، که هغوی د جاهلانو په لار باندې تللي وي هم او د عقل څخه يې کار نه وي اخستی هم تاسو به ورپسې ځئ؟.

ب: علاوه په دې که هغوی په خپل وخت کښې د هدايت کوونکي هدايت ته غوږ نه وي اېښی او

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په سمه لاره باندې نه وي تللي هم تاسو به د هغوی په قدم باندې روان یاست؟

ج: تاسو باید د خپلو پلرونو په کړنلاره کښې فکر وکړئ که د حق سره برابره وه خو ډېره ښه ده او که نه نو بیا هم ورپسې تلل د عاقلانو کار نه دی، بلکې د څناورو کار دی چې په خبره کښې سوچ او فکر نه شي کولی او محض په اواز پسې ځغلي.

د: تاسو یو مثال لږ څه په خیال کښې راولئ، امکان لري چې په خپل جهالت او ګمراهۍ باندې پوه شئ او د دغسې ړوند تقلید څخه لاس واخلئ. هغه دا چې:

۷ـ دغسې کافران د مېږو او څاروېو سره په لاندې خاصیتونو کښې ورته والی لري:

الف: مېږې د خپل شپانه یوازې په اواز باندې پوهېږي چې دا اواز د رابللو دپاره دی او دا اواز د شړلو دپاره دی، مګر په دې نه پوهېږي چې په رابللو کښې یې څه مطلب دی او په شړلو کښې یې څه مرام دی؟

ب: که مېږو ته خپل شپانه د هغه خاص اواز څخه په غیر چې مېږې ورسره اموخته وي په بل اواز سره غږ وکړي، نو نه به ورته راشي او نه به ترې لاړې شي؛ بلکې د هر وطن مېږې د خپل وطن د شپنو په اوازونو باندې عمل کوي، که د بل وطن شپانه ورته داسې اواز وکړي چې په دې وطن کښې ورسره مېږې عادي نه وي، هم څُرت به پرې خراب نه کړي. حتی که د هغه خاص اواز په ځای ـچې د رابللو دپاره ورسره عادت شوې وي ـ په صراحت ورته ووایي چې: راشئ! چې وابښه درکړم او یا اوبه وڅښئ. هم نه به پرې پوه شي او نه به ورته ورشي.

ج: که د توبیخ دپاره ورته خاص اواز ونه کړي، او حتی په ډېر قهر او په غُصه ورته ووایي چې ذبحه کومه مو، خو لاړې شئ، هم مېږې به پرې هیڅ پروا ونه کړي او د خبرې اجابت به یې ونه کړي.

## تطبیق

۸ـ نو لکه چې مېږې د خپل شپانه د خاصو اوازونو څخه په غیر بل هیڅ اواز باندې نه پوهېږي او نه یې د اجراء لاندې نیسي همدارنګه دغه د ړوند تقلید خاوندان د هغې خپلې پلرنۍ تنې څخه په غیر نه په بله خبره پوهېږي او نه پرې عمل کوي.

که بالفرض نبي کریم ﷺ او یا بل د خیر داعي یې د پلرونو تقلید ته وردعوت کړي منې یې او پرې خوشالېږي او که نه نو بله هیڅ یوه د خیر خبره یې نه په زړونو کښې کښېني او نه ورته غوږ نه شي نیورولی، رانده دي حق نه ګوري، بلکې لکه څنګه یې چې پلرونه ﴿ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴾ [۱۷۰] وه چې نه یې د چا په هدایت باندې عمل کاوه او نه یې د عقل څخه کار اخست همدارنګه دوی هم دي، چې د پوهې تولې لارې چارې یې په ځانو باندې تړلې دي.

نو ای پیغمبره! ستا په دعوت کښې نقصان نشته ته خپه کېږه مه، دا د دوی خپل نقصان دی، که دوزخ ته ځي، ځي به، تا خو خپله غاړه خلاصه کړه او خپله فریضه دي اداء کړه.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د لاندې څو لغاتو معناوې او فرقونه ولولئ:

الف: د "حلال" په مقابل کښې "حرام" راځي او د "طيب" په مقابل کښې "خبيث" استعمالېږي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ قُل لَّا يَسْتَوِى ٱلْخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ ﴾ [المائدة: ۱۰۰] یعني: ورته ووايه چې پليت او پاکيزه سره برابر نه دي.

ځينو مفسرينو کرامو "طيب" د دې څخه عبارت اخستی دی چې بدبويه نه وي او يا پکښې شبهات نه وي او يا د بدن او يا عقل سره ضديت ونه لري چې سړی نه بې هوشه کوي[۱].

مګر مونږ ته دا خبره غوره ښکاري چې حلال د هغه مال څخه عبارت دی چې د سړي خپل حق وي او طيب د هغه مال څخه عبارت دی چې خپل حق خو وي مګر برسېره په دې ذاتي خُبث هم نه لري.

نو د دواړو حاصل داسې کېږي چې: خپل مالونه خورئ، پردې مالونه مه خورئ او خپلو مالونو کښې هم هغه مالونه خورئ چې هغه پاکيزه وي مثلا د خپلو انګورو شراب هم مه څښئ.

مونږ څکه په بېله-بېله معنی باندې واخستل چې د عربيت په لحاظ تاسيس د تاکيد څخه بهتر دی.

ب: د "سُوء" کلمه د حزن او خپګان په معنی سره ده او په مقابل کښې يې خوشالي استعمالېږي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِن تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا۟ بِهَا ﴾ [آل عمران: ۱۲۰] يعني که تاسو ته خوښي او نېکي ورسېږي هغه دوی خپه کوي او که درته بدي ورسېږي دوی درباندې خوشالېږي. ناروا کار يا فعل ته څکه "سُوْء" وايي چې په يو وخت کښې پکښې ضرور خپګان رابښکاره کېږي، که په دنيا کښې وي او که په آخرت کښې.

ج: "فَحْشَاء" هغه قول او يا عمل ته وايي چې قباحت يې ډېر لوی وي او د حده يې تجاوز کړی وي[۲]، چې مونږ ترې دلته په "بې شرمه" سره تعبير کوو ترڅو واضحه شي چې علاوه په هغه خپګان سره چې يو وخت کښې به راڅرګندېږي، بې حيايي او بې شرمي هم پکښې وي.

د: "نُعْق" يا "نُعِيق" هغه اواز ته وايي کوم چې مېږو ته استعمالېږي، د همدې کبله مونږ ذکر شوی مثال په مېږو کښې شرحه کړ، که دا خبره نه وی نو دغه مثال خو په خرو، قچرو، اوښانو او بلکې په ټولو څناورو کښې تطبيق موندلی شي. مثلا مونږ د خرو رابللو ته "کرو کرو" اواز او تېزولو ته يې "اوښا" اواز کوو، همدارنګه د سپيو رابللو ته "تو تو" او شړلو ته يې "چغې چغې" اواز کوو. يعني زمونږ د وطن خره او سپي د همدغو اوازونو سره بلد دي او بس. د پخوانيو خرو او سپيو څخه ورته همدا عادت پاتې دی.

امکان لري چې د مېږو مثال به څکه غوره کړی شوی وي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې په مېږو کښې د

(۱) تفسير المنار ج۲ ص۸۷؛ تفسير تبصير الرحمن ج۱ ص۶۸؛ تفسير ابن کثير ج۱ ص۲۰۳
(۲) مفردات الراغب ص۳۸۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



روند تقلید حس دېر قوي دی، که فرضاً د مېږو سرکښې دریاب ته ورودانګې نورې مېږې هم ورپسې خانونه ورغورځوي، او حتی کله لا د خپل شپونکي هم همدغسې کلک تقلید کوي چې په هر طرف باندې هغه منډې وهي مېږې هم ورپسې ځغلي.

هـ: د "دُعَاء" څخه د رابللو اواز مطلب دی او د "نِدَاء" څخه د توبیخ کولو اواز مراد دی. او دا ځکه چې کله یو اندیوال د بل اندیوال څخه وغواړي چې څاروي ژر ژر بوځه، نو ورته وایي چې: هم ږږ وکړه. او "نِدَاء" خو د غږ څخه په غیر بل شی نه دی.

## د "وسواس" او "الهام" فرق

۲ـ د شیطان په انسان باندې نوره وسه نه رسېږي فقط همدومره کولی شي چې وسواس (وسوسه) ورواچوي، خو بالمقابل هر انسان ته د وسواس (وسوسې) د مخنیوي دپاره یوه پرښته هم په فعالیت لګیا ده، نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «إِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً»(۱) یعني: بې شکه شیطان لره دا وسه شته چې بنیادم ته څه ورنژدې شي (او څه خبره ورته وکړي) او ملکې لره هم شته چې ورنژدې شي (او څه خبره ورته وکړي).

د شیطان خبره دا ده چې فسق او فجور او د حق تکذیب ته یې وربلي، او د ملکې خبره دا ده چې نېکیو او د حق تصدیق ته یې وربلي نو چا چې دغه د ملکې خبره په زړه کښې وموندله نو پوه دې شي چې دا د الله ﷻ د پلوه ده (چې د الهام په نامه یادېږي) او د الله ﷻ حمد دې ووایي، او چا چې هغه بله د شیطان خبره په زړه کښې وموندله نو په الله ﷻ باندې دې د شیطان څخه پنا وغواړي.

نو د الهام او د وسوسې فرق په همدې کښې دی که د زړه خبره یې ناروا وه نو هغه شیطاني وسواس دی باید چې خان ترې وساتي او که جائزه وه نو هغه د الله ﷻ د پلوه الهام دی، باید چې عمل پرې وکړي.

## وسواس او تلفظ

۳ـ د سړي په زړه کښې چې هر څومره د کفر خبره خطور وکړي باک یې نشته ترڅو چې پرې تلفظ ونه کړي او ورته تسلیم نه شي، په همدې باندې د ﴿ وَأَن تَقُولُوا ﴾ کلمه دلالت کوي. یعني: نه لرئ، شیطان په دې باندې اکتفاء نه کوي چې باطل خیالات مو محض په زړو کښې خطور وکړي دا خبره په یوه حدیث شریف کښې ښه واضحه شوې ده چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یو سړی راغلی او ورته یې وویلې چې: ای د الله رسوله! زمونږ په زړونو کښې کله-کله داسې خبرې هم خطور کوي چې که په اور باندې وسوزو او سکاره راڅخه جوړ شي راته ښه ښکاري، نه دا چې په هغې خبرې باندې تلفظ وکړو. یعني ایا په دې خبره باندې نیول کېږو چې په زړه کښې مو د کفر خبره تاو راتاو شي؟

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ وفرمايل چې: «اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي رَدَّ أَمْرَهُ إِلَى الْوَسْوَسَةِ»[۱] يعني: الله ﷻ د باطلو خيالاتو څخه پورته دى، الله ﷻ د باطلو خيالاتو څخه پورته دى، تولې ستاينې هغه الله ﷻ لره ده چې د ده كار يې وسوسې ته اړولى دى، چې په دغسې خطوراتو باندې يې نه نيسي، كه پرې نيولى يې نو دغسې سړى به كافر شوى وى.

## تقليد څه ته وايي؟

۴ـ د "تقليد" كلمه د هغو حروفو څخه اخستله شوې ده د كومو څخه چې "قلادَة" اخستله شوې ده، او "قلادَة" غاړكۍ ته وايي، نو تقليد د دې څخه عبارت دى چې سړى د بل چا خبره بلا علمه او بلا دليله ومني او د خپل ځان دپاره يې غاړكۍ وګرځوي چې په هغې كښې يې خپل سر ننويستلى وي چې په هيڅ شان سره ترې سر نه راوباسي، كافرانو د پلرونو عادات او رسوم همداسې كلك كړي وه لكه غاړكۍ.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

كه څوك وايي چې: علم خو هغه ته وايي چې يقيني وي او مجتهدين خو ټول خپل احكام په ظن (ګومان) باندې بنا كوي ايا د هغوى متابعت جواز لري؟ حال دا چې د كفارو اسلاف په ګومان باندې روان وه نو څكه يې متابعت روند تقليد وګڼل شو.

مونږ وايو چې: څرنګه چې په مجتهدينو باندې د خپل اجتهاد متابعت په عمل كښې واجب دى، كوم حكم چې واجب العمل وي هغه كه په ظن باندې ثابت وي هم داسې ګڼل كېږي لكه چې په علم باندې ثابت وي، نو د مجتهدينو متابعت د كافرانو د متابعت په شان نه دى.

د همدې كبله مونږ وايو چې د پيغمبرانو متابعت او يا په دې زمانه كښې د مجتهدينو متابعت په حقيقت كښې روند تقليد نه دى بلكې د ما أنزل الله اتباع ده. څكه هر يو مجتهد چې د خپل قول استنباط د ايت او حديث څخه ونه كړي او ووايي چې دا زما شخصي حكم دى د هغه حكم متابعت نه هغه مجتهد ته جواز لري او نه نورو خلكو ته.

الحمد لله د مجتهدينو (لكه امام أبو حنيفه او امام الشافعي رحمهما الله) څخه دا خبره نقله شوې ده چې زمونږ خبره كه د ايت او يا حديث څخه مخالفه وي هغه په دېوال باندې وولئ، يعني هغې ته په حقارت سره وګورئ او هغه مردوده وګڼئ.

د زيات تفصيل دپاره بايد چې اوږدو تفاسيرو ته مراجعه وكړى شي[۲].

## سوال جواب

۵ـ كه څوك وايي چې: د وړانديني شرحې څخه څرګندېږي چې په ﴿ وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا كَمَثَلِ

---

(۱) سنن ابي داوُد ج۲ ص۳۴۱
(۲) تفسير القرطبي ج۲ ص۲۱۱، ۱۲۳؛ روح المعاني ج۲ ص ... حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۴۷۸

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ٱلَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَآءً وَنِدَآءً﴾ کښې دوه تشبیه ګانې واخستلی شوې، چې نبي کریم ﷺ د شپانه سره او کافران د څارویو سره تشبیه کړی شوه،او عبارت د مضاف په تقدیر سره حمل کړی شو، یعني: "وَمَثَلُ دَاعِي ٱلَّذِينَ كَفَرُوا" الآية. که عبارت په خپل حال باندې پرېښودل شي هم صحیح معنی ورکوي، چې حاصل یې داسې کېږي چې: د کافرانو مثال داسې دی لکه شپانه چې خپلو میږو ته اواز کوي، نو لکه چې میږې څه شی نه اوري همدارنګه د دوی بوتان هم څه شی نه اوري.

په همدې مضمون باندې یو بل آیت هم شته چې ﴿إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَآءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا ٱسْتَجَابُوا لَكُمْ﴾ [فاطر:۱۴] یعنې که تاسو یې وبلئ، بلل به مو ونه اوري، او که بالفرض وایې وري نو جواب به درنه کړي.

نو پوښتنه دا ده چې څه باعث وه چې د دې بې تکلفه معنی څخه مو صرف نظر وکړ؟

مونږ وایو چې: د لاندې وجوهو د کبله د دغې معنی څخه صرف نظر شو:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: یوه ورځ نبي کریم ﷺ یهودان اسلام ته دعوت کړه او د الله ﷻ د عذاب څخه یې وډار کړه، چې په جواب کښې د یهودانو دوه کسانو چې یو رافع بن خارجه او بل مالک بن عوف نومېده، وویلې چې: مونږ د هغه شي متابعت کوو چې په هغه باندې مو خپل پلرونه موندلي دي، ځکه هغوی زمونږ څخه ښه پوهېدل او زمونږ څخه بهتر وه. نو دا ایت ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُوا﴾ الآية- نازل شو(۱)، نو معلومه شوه دغه مثال د اهل الکتابو دپاره بیان شوی دی نه د مشرکانو دپاره.

ب: که څه هم ذکر شوی مثال مفسرینو کرامو په نهه ډوله تفسیر کړی دی(۲)، خو ځکه پکښې مونږ نوموړی ډول تفسیر غوره کړ چې د همدې تفسیر غوښتنه همدا مقام کوي چې وړاندې ېېرته تول بحث په اهل الکتابو کښې روان دی.

ج: د دې مثال وروستنی برخه ﴿إِلَّا دُعَآءً وَنِدَآءً﴾ د هغه تفسیر مانعه ده چې معترض یې وایي ځکه چې بوتان خو هیڅ شی نه شي اورېدلی، او دلته خو ورته د لږ څه اواز اورېدل ثابت کړی شوي دي، نو د میږو سره ښه مناسب ښکاري.

او کوم ایت چې په سوال کښې ذکر شوی دی هغه خو د مکي سورت ایت دی او د مشرکانو په باره کښې نازل شوی دی، هغه د دې ایت تفسیر نه شي واقع کېدلی.

اما د مضاف (داعي) د تقدیر خبره څه مشکله نه ده، د قرآن کریم په نورو ځایونو کښې هم پېښه شوې ده. لکه چې فرمایي: ﴿وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ ٱلْبَحْرِ﴾ [الأعراف:۱۶۳] یعني: او پوښتنه ترې د هغې قریې د اوسېدونکو څخه وکړه چې هغه د دریاب په غاړه وه،چې دلته "أَهْلَ" مقدر دی، همدارنګه مقدرات په عربي ژبه کښې زینت ډېر دي څه خفا پکښې نشته.

(۱) تفسیر الطبري ج۲ ص۸۰؛ زاد المسیر ج۱ ص۱۵۵
(۲) البحر المحیط ج۲ ص۱۰۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِلَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ﴿١٧٢﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿١٧٣﴾﴾

[۱۷۲] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! د هغو پاکیزه شیانو څخه چې مونږ درته روزي کړې دي خورئ او الله ﷻ لره شکریه کوئ که چېرې یاست (چې رښتیا) خاص الله ﷻ لره تاسو عبادت کوئ.

[۱۷۳] بې شکه (الله ﷻ) په تاسو باندې مرداره حرامه کړې ده، او وینه او د خنزیر (خوگ) غوښه او هغه شی (ذبیحه) چې په هغه باندې (د ذبحې په وخت کښې) د الله ﷻ د نامه څخه په غیر د بل شي دپاره اواز پورته کړی شوی وي.

نو هغه څوک چې مضطر (مجبور) شي په داسې حال کښې چې بغاوت کوونکی نه وي (رښتیا مجبور وي او د مردارې خوراک ته بهانه نه جوړوي) او تجاوز کوونکی هم نه وي (چې د ضرورت څخه زیاته وخوري) نو په هغه باندې څه ګناه نشته.

بې شکه الله ﷻ بښونکی دی (که کومه لقمه ترې زیاته وخوړله شي بښنه به ورته وکړي) او مهربان دی (چې په دې حالت کښې یې ورته اجازه ورکړه).

## ارتباط

په وړاندینیو ایتونو کښې د ټولو خلکو دپاره دعوت وه، او په دې ایتونو کښې صرف د مؤمنانو دپاره دعوت دی. خو ددې او د هغو په لاندې وجوهو کښې سره فرق شته:

الف: هلته ټول خلک دې ته رابلل شوي وه چې په ځمکه کښې دې حلال او پاکیزه شیان خوري او د الله ﷻ په مخلوقاتو او نعمتونو کښې دې فکر کوي او د شیطان دې نه مني. ځکه چې شیطان د انسان دښمن دی ترڅو په نتیجه کښې په ایمان باندې مشرف شي.

دلته صرف مؤمنان نوموړې خبرې ته وربلل کېږي ترڅو په نتیجه کښې په شکر کولو باندې هم بریالي شي لکه چې په ایمان باندې مشرف شوي دي.

ب: هلته حرامو شیانو ته محض همدومره اشاره شوې وه چې د شیطان د قدمونو متابعت مه کوئ او دلته په هغو باندې صراحت شوی دی چې په تاسو باندې فلانی شی او فلانی شی حرام دی. نو د مطلب خلاصه یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! تاسو خو د شیطان متابعت ونه کړ او ایمان مو راووړ خو شیطان ستاسو د غولونې څخه اوس هم نه دی صرف نظر شوی پخوا ... په تاسو باندې به دې لحاظ حرام خوړل چې حلال یې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


وګڼئ او اوس مو د حرامو خوړلو ته په دې نیت هڅوي چې افلا په عمل کښې خو مو بې لارې کړي او د الله ﷻ د نعمتونو ناشکري خو وکړئ.

تاسو خو د کافرو په شان نه یاست چې د خاروبو په شان خورئ او څښئ تاسو خو پوهېږئ چې دا نعمتونه مونږ در روزي کړي دي او ستاسو د استفادې دپاره مو تیار کړي دي.

الله ﷻ په دې نه راضي کېږي چې حلال کړی شوی نعمت په ځان باندې حرام کړئ بلکې په دې راضي کېږي چې د نعمت څخه استفاده وکړئ او د الله ﷻ شکر وکړئ، دا علامه د محبت ده نه هغه نو تاسو یوازې د الله ﷻ شکریه وکړئ او خپل عمل د عقیدې مطابق وګرځوئ ترڅو دا خبره په عمل کښې هم تصدیق ته ورسېږي چې تاسو رښتیا د الله ﷻ عبادت کوونکي او ورسره محبت کوونکي یاست.

شیطان لکه چې په دې کښې کوښښ کوي چې د الله ﷻ نعمتونه تاسو په ځانو باندې حرام کړئ لکه چې د اهل الکتابو رهبانانو په ځانو باندې حرام کړي وه، همدارنګه زیار باسي چې مردارې او نور ناپاکه شیان هم وخورئ لکه چې نور کافران یې خوري. او د پاکیزه شیانو نوم ورباندې ږدي.

دوی مردارې، وینې، د خنزیر غوښې او بالآخره هغې مذبوحې ته چې د الله ﷻ د نامه څخه په غیر د بل شي په نامه باندې ذبحه شوي وي ټولو ته طیبات او پاکیزه شیان وایي.

خو ای مؤمنانو! تاسو په ډې باندې پوه شئ چې دا حلال او پاکیزه نه دي بلکې خبره بالعکس ده، دا شیان حرام او خبائث دي بل څه نه دي.

څرنګه چې فعلاً دغه ځلور واړه شیان ټول کافران او د وخت عمومي خلک حلال او پاکیزه ګڼي او شیطان غواړي چې تاسو هم په همدې ګرداب کښې ورګډ کړي؛ نو ځکه مو درته د همدې ځلورو شیانو نومونه واخستل که څه هم نور محرمات او خبائث هم شته چې هغه به هم درته په وخت سره بیان کړی شي.

خو په یاد ولرئ چې که تاسو د اضطرار په حالت کښې یاست او د لوږې مړه کېدلئ، نو په هغه وخت کښې یې درباندې نوموړي شیان نه دي حرام کړي او په خوراک کښې یې درباندې ګناه نشته خو لاندې شرطونه لري:

الف. باید خوړونکي یې د الله ﷻ څخه بغاوت نه وي کړی چې مطلقاً یې حلال وګڼي او یا یې د اضطرار د حالت څخه مخکښې وخوري.

ب. باید د ضرورت د اندازې څخه تجاوز ونه کړي چې ځان ورباندې موړ کړي او د هغې اندازې څخه چې د مرګ څخه ورباندې بچ کېږي اضافه وخوري، او یا په بل مضطر باندې تجاوز وکړي چې په غصب (زور) سره یې ترې واخلي.

بې شکه الله ﷻ ښښونکی دی که د کفایت په اندازې کښې غلط شئ او پوره یې تشخیص نه کړی شئ او کوم یو کپ درڅخه زیات وخوړل شي هغه به درته وبښي، او مهربان دی چې د اضطرار په حالت کښې یې درته د حرامو شیانو په خوړلو کښې رخصت درکړ.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## توضيحات

۱ـ الله ﷻ لکه چې په دې خای کښې مؤمنان د پاکو شیانو خوړلو ته هڅولي دي همدارنګه یې پیغمبرانو ته هم په همدې باندې امر کړی دی لکه چې فرمايي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَـٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَـٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾ [المؤمنون: ۵۱] یعني ای پیغمبرانو! د پاکیزه شیانو څخه خورئ او نیک عمل کوئ بې شکه زه په هغه شي باندې چې تاسو یې کوئ پوه يم
نو باید چې مونږ په پاکیزه شیانو باندې د هر کلکوالی وکړو چې دا د ټولو پیغمبرانو خوراک وه.

### "مَيْتَة" څه ته وايي؟

۲ـ "مَيْتَة" په شریعت کښې د هغه حیوان نوم دی چې د شرعي ذکات (حلالولو) څخه په غیر یې روح خارج شي، چې مونږ ورته په پښتو کښې "مرداره" وایو.

### هغه شی چې بې د ذبحې حلال دی

۲ـ دوه حیوانات بې د ذبحې څخه حلال دي چې په وچه کښې "ملخ" دی او په دریاب کښې "ماهي" دی. څکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ الْحُوتُ وَالْجَرَادُ»[۱] یعني: مونږ ته د الله ﷻ د پلوه دوه ډوله حیوانات پرته د ذبحې څخه حلال کړی شوي دي چې یو ماهي دی او بل ملخ دی.

### کومه یوه وینه حرامه ده؟

۳ـ کومه وینه چې حرامه ده هغه په بل خای کښې تفسیر شوې ده چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا ﴾ [الأنعام: ۱۴۵] یعني: یا وینه وي چې په شدت سره وتونکې وي.
یعني د رګونو وینه حرامه ده. نو هغه وینه چې غوښې پورې نښتې وي حرامه نه ده. نو که څوک غوښه ونه وینځي او پخه یې کړي ورته نه حرامېږي.

### د وینې د خوراک ډولونه

۴ـ د هغه وخت خلکو وینه په ډول-ډول صورتونو باندې خوړله. د مثال په توګه[۲]:
الف: یو حیوان به یې ذبحه کړ او د هغه وینه به یې په داسې کولمه کښې چې پچې به یې ورڅخه لرې کړې وې، واچوله، او ذواړه سرونه به یې وتړل بیا به یې وریته کړه. دا د دوی د هر لوړ طعام وه.
ب: کله به یې د ژوندي څاروي څخه د ضرورت په اندازه وینه وویستله او وریته به یې کړه او بیا به یې خوړه.

### سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په دې زمانه کښې د یو کس وینه بل کس (مریض) ته پیچکاري کول

[۱] سنن ابن ماجه ص ۲۳۲
[۲] تفسیر القاسمي ج ۳ ص ۳۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


رواج دي، ایا دا جواز لري او که څنګه؟

مونږ وایو چې: د دې مسئلې جواب پخپله د ایت شریف څخه څرګندېږي چې که د ضرورت او اضطرار حالت وه چې مریض د مرګ په حالت کښې وه جائزه ده او که نه نو بیا نه ده جائزه.

مګر د جهاد په مرحله کښې مونږ د وینې ضرورتونه زښت ډېر ولیده او ګټې او فائدې مو ترې ترلاسه کړې چې ډېر زخمیان مجاهدین په همدې طریقه باندې الله ﷻ د مرګ څخه بچ کړه.

ما هم ـ لله ﷻ الحمد ـ یوه زخمي مجاهد ته چې وینه یې ډېره ضائع شوې وه پنځه سوه (۵۰۰) سیسي وینه په داسې وخت کښې ورکړه چې عمر به مې د پنځوسو کالو په شاوخوا کښې وه. نو تولو مسلمانانو ته توصیه کوم چې زخمیانو مجاهدینو ته د وینې په ورکولو کښې څه تشویش ونه کړي، سړي ته هیڅ نقصان نه کوي او خپل ورور ته پرې ګټه رسېږي.

## خنزیر نجس العین دی

٦ـ که څه هم په ایت شریف کښې د خنزیر په یوازې غوښه باندې صراحت شوی دی چې حرامه ده مګر وازده یې هم حرامه ده. په غوښه باندې یې ځکه صراحت وکړی شو چې په کافرانو کښې د خنزیر غوښه ډېره قدرمنه او باعزته ده او وه. یا په بل عبارت: خنزیر نجس العین دی، ټول نجس دی، هیڅ شی پکښې د استفادې قابل نه دی، چې څوک ایمان لري د ټول خنزیر (خوګ) څخه دې ځان وساتي.

## هیر مو نه شي!

۷ـ هېر مو نه شي چې په خنزیر کښې دوه خاصیتونه ډېر راسخ او قوي دي چې هغه دواړه د انسان دپاره قاتل زهر دي، چې یو "بې غیرتي" ده او بل "حرص" دی. دا ځکه چې خوګ نجاسات (غول، خورشایه) خوري او د ناولو شیانو سره یې ډېره جوړه ده. الله ﷻ د دې دپاره د خنزیر غوښه په مؤمنانو باندې حرامه کړې ده چې دغه دواړه خویونه دوی ته سرایت ونه کړي.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: بې غیرتي او حرص دواړه روحي صفات دي او خوراک او څښاک خو مادیات دي، نو په څه دلیل باندې به د خوګ د غوښې څخه په انسان کښې بې غیرتي او حرص پیدا شي؟.

مونږ وایو چې: انسان د روح او بدن دواړو څخه عبارت دی، په جنت کښې دواړه د نعمتونو څخه استفاده کوي او په دوزخ کښې به دواړه معذبېږي ـ الله ﷻ دې راته ترې نجات راکړي ـ ځکه چې د دواړو علاقه سره دومره قوي ده چې ضرور یو د بل څخه متاثر کېږي. لاندې مثالونو ته متوجه شئ:

الف: کله چې سړی ډېر خوشاله شي په مخ او تنده کښې یې خوشالي ښکاري، که څوک خجالت شي مخ یې تک زېړ واوړي، او همدارنګه په ډېر غم کښې د سړي رنګ تک تور ګرځي او اشتهاء یې سوزي. سره د دې چې خوشالي، خجالت او غم ټول روحي شیان دي خو په بدن باندې تاثیر کوي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بالمقابل د یوناني طب په بنیاد د خینو شیانو په خوراک سره د سړي روح بې تاثیره نه پاتې
کېږي. مثلا خوک چې د ماهي غوښه ډېره خوري او یا خام پیاز ډېر استعمالوي هغه ته بې عقلي او
بې یادګي عارضېږي. همدارنګه خینې معجونات سړي ته ذکاوت (د ذهن تېزي) او پوهه زیاتوي او
حفظ یې وریاندې قوي کېږي، سره د دې چې ماهي او پیاز او معجونات ټول مادي شیان دي.
نو د تېرو شوو بیاناتو څخه ثابتېږي چې د انسان د روحي پاکیزګۍ دپاره د پاکو او سپېڅلو
شیانو خوراک او څښاک څومره ګټه رسوي!. همدا مطلب په لاندې احادیثو ښه واضحه کېږي:
اول: یوه ورځې حسن بن علي رضي الله عنهما د زکات د خرماوو څخه یوه خرما واخستله او په خوله یې
کړه، نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: «کِخْ کِخْ» یعنې: تو کړه، تو کړه؛ د دې دپاره چې ایسته یې
واچوي. بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ»[1] یعنې ایا ته شعور نه لرې چې
مونږ زکات نه خورو؟.
دوهم: یوه ورځې عمر بن الخطاب رضي الله عنه څه شوده وڅښل او خوښ یې شوه، نو چا چې ورکړي وه د
هغه څخه یې پوښتنه وکړه چې: دا شوده دې د کومه کړي وه؟ هغه ورته خبر ورکړ چې: د یو ځای
اوبو ته ورغلم چې هلته د زکات اوښان وه چې خلکو رالوشل، ما هم ترې څه اندازه شوده په خپله
مشکوره کښې واچول چې هغه همدغه دي «فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ»[2] یعنې: نو عمر رضي الله عنه خولې ته
لاس کړ (ستوني ته یې ګوته وروړه) او خوړلي شوي شوده یې بېرته راقي کړه.
هر خوک پوهېږي چې تو کړی شوی او یا قي کړی شوی شی د هیچا په ښه باندې نه راځي خو د
دې دپاره یې په ګېډه کښې نه پرېښوده چې د هغوی بدنونه پرې تغذیه نه شي او په روحونو کښې
یې کثافت او خېرې پیدا نه کړي.

## دوه تجربې

۹- دذکر شوي بیان مضمون مونږ ته په تجربې سره هم ثابت شوی دی. لاندې مثالونه یې ولولئ:
الف: د خینو دیندارو خلکو اولادونه مونږ ولیدل چې د پلرونو په څېر دیندار نه شوه، بلکې ډېر
بې دینه او بې تقوی غټ شوه، مونږ چې پکښې فکر کړی دی پلرونو یې د دینداری سره-سره په
اولادونو باندې حرام خواره، یعنې زکاتونه یې اخستل، حال دا چې هغه ورته جائز نه وه (غنیان وه)؛
او زکات خو د فقیرانو حق دی.
نو که خوک غواړي چې اولاد یې بادیانته او باتقوی وروزل شي باید چې حرام ورباندې ونه خوري.
ب: فحش او فحشاء په کفري دولتونو کښې زښته ډېره ده. مثلا یوه ورځې د لندن رادیو (BBC)
په خپلو نشریاتو کښې دا هم وویلې چې د انګلستان خلک تقریباً ۴۰٪ برخې حرامیان دي. د دې
غټه وجه دا ده چې هغوی د خوګ غوښه خوري او د خوګ بې غیرتي هغوی ته ورانتقاله شوې ده.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۰۲
(۲) موطأ الإمام مالک ص۱۸۶؛ شعب الإیمان ج۵ ص۶۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د الله ﷻ څخه په غیر په بل نامه ذبحه

۱۰_ "هِلال" د اولې شپې او دوهمې شپې میاشتې ته وایي، چې د دوه وو شپو څخه وروسته بیا ورته "قمر" وایي چې مونږ یې د سپوږمۍ په نامه بولو. اما "اِهْلال" هغه اواز ته وایي چې د میاشتې د اول لیدلو په وخت کښې یې لیدونکي پورته کوي چې: "هغه ده میاشت!"، د همدغه "اِهْلال" څخه د «أُهِلَّ» کلمه اخستنه شوې ده[1].

نو دلته ترې هغه اواز مطلب دی چې د ذبحې په وخت کښې یې ذبحه کوونکی پورته کوي، طبعي ده چې په دغسې موقع کښې به د همغه چا په نامه باندې اواز پورته کېږي د کوم د احترام دپاره چې ذبحه کول صورت نیسي. نو ځکه مونږ ویلی شو چې دغه اواز په دوه ډوله دی:

الف: یو هغه اواز دی چې د الله ﷻ په نامه باندې پورته کړی شي چې: «بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ».

ب: بل هغه دی چې د الله ﷻ د نامه څخه پرته په بل نامه پورته کړی شي چې دا په ډېرو صورتونو کښې تحقق مومي. ذابح ته چې هر څوک او یا هر شی د قدر وړ وي نو د همغه نوم به یادوي. د مثال په توګه مشرکانو به ویلې چې: "باسم اللّات، بِاسم الْعُزّٰی" په نامه د لات، او په نامه د عُزی بوت[2].

## که د الله ﷻ د نامه سره د بل چا نوم یاد شي

۱۱_ که د الله ﷻ د نامه سره د بل چا نوم ذکر شي نو هغه به د لاندې درېوو صورتونو څخه بهرون نه وي:

اول: که متصل ورسره ذکر شي او د الله ﷻ په نامه باندې عطف شي نو ذبحه بالکل مرداره ده لکه چې ووایي: "بسم الله ومحمد" یعنې: په نامه د الله او محمد ﷺ.

دوهم: چې متصل ورسره ذکر شي خو ورباندې عطف نه شي لکه "بسم الله محمد" یعنې: په نامه د الله محمد ﷺ. نو ذبیحه مرداره نه ده، خو مکروه ده.

درېیم: چې متصل ورسره ذکر نه شي، د ذبحې څخه وروسته چې ذبحه تمامه شي او یا ترې وړاندې د بل چا نوم یاد کړی شي نو په دې صورت کښې یې باک نشته[3].

## سوال جواب

۱۲_ که څوک وایي چې: په اول صورت کښې چې ذبیحه مرداره ده، پخپله ذابح ورباندې کافر کېږي او که څنګه؟

مونږ وایو چې: کافر کېږي نه، ځکه چې کفر باطني شی دی خو ګناهګار دی[4]. لکه چې نبي

---

(۱) مفردات الراغب ص ۵۴۲
(۲) تفسیر المدارک ج ۱ ص ۲۴۳
(۳) التفسیرات الاحمدیه ص ۴۵: هدایه ج ۲ ص ۴۳۴
(۴) رد المختار المشهور بالشامي ج ۵ ص ۲۱۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ»(۱) یعني: الله ﷻ د خپل رحمت څخه لرې کړی دی هغه څوک چې د الله ﷻ د نامه څخه په غیر ذبحه وکړي. داسې یې نه دي ویلي چې کافر دی.

## سوال جواب

۱۳_ که څوک وایي چې: د مشرک ذبیحه خو مرداره ده او د ذکر شوي بیان څخه معلومېږي چې د اهل الکتابو ذبیحه هم باید مرداره وي ځکه چې هغوی خو د الله ﷻ د نامه سره د عُزیر ﷺ یا مسیح ﷺ نوم یو ځای ذکر کوي او یا خو یې یوازې د همدوی په نامه باندې ذبحه کوي، سره د دې چې الله ﷻ فرمایي: ﴿وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ﴾ [المائدة: ۵] یعني: او د هغو کسانو طعام (ذبیحه) چې کتاب ورکړی شوی دی تاسو ته حلاله ده.

نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه دواړه حکمونه سره متناقض واقع نه شوه؟

مونږ وایو چې: تناقض ځکه نشته چې اهل الکتابو په دوه ډوله ذبحه کوله: یو د الله ﷻ په نامه او بل د غیر الله په نامه. نو په یو ایت کښې یو ډول بیان شوی دی او په بل کښې بل ډول. لکه چې ځینو صحابه وو کرامو ویلي دي چې: «إِذَا سَمِعْتَ الْكِتَابِي يُسَمِّي بِغَيْرِ اسْمِ اللهِ فَلا تَأْكُلْ»(۲) یعني: کله چې ته د اهل الکتابو څخه واورې چې د الله ﷻ د نامه څخه پرته په بل نوم ذبحه کوي نو هغه مه خوره.

## سوال جواب

۱۴_ که څوک وایي چې: ایا د هغې مذبوحې خوراک حلال دی چې ذبحه یې یوازې د الله ﷻ په نامه وي خو سره د دې د غیر الله ﷻ دپاره نذر کړی شوی وي. یعنې چې د ذبحې په وخت کښې ورسره د غیر الله نوم یاد نه کړی شي مګر قصد او نیت یې د غیر الله نذر پوره کول وي.

مونږ وایو چې: دغه ذبیحه حلاله ده، حرامه نه ده. ځکه چې د شرعې په قانون باندې برابره ذبحه شوې ده(۳). هو! دا بېله خبره ده چې ذبح کوونکی په نذر بغیر الله باندې ګناهګار دی.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې نوموړې مذبوحه که څه هم شرعًا حلاله ده مګر خوړل یې جائز نه دي، ترڅو نذر بغیر الله ته خلک ترغیب نه شي.

د همدې خبرې، چې ذبیحه حلاله وي خو خوړل یې حرام وي، لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: هغه ذبائح چې د فخر او تکبر په غرض ذبحه شوې وي لکه چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي چې: «إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنْ طَعَامِ الْمُتَبَارِيَيْنِ أَنْ يُؤْكَلَ»(۴) یعني: نبي کریم ﷺ منعه کړې ده چې د فخر کوونکو دوړې وخوړله شي.

ب: چې د غیر الله د تعظیم دپاره ذبحه کړی شوي وي، که څه هم د غیر الله نوم ورباندې نه وي

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص ۱۶۰
(۲) أحکام القرآن للجصاص ج۱ ص۱۲۵
(۳) التفسیرات الأحمدیة ص۴۵
(۴) سنن أبي داود ج۲ ص۱۷۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ياد شوی. په دې باره کښې يوه قيصه ولولئ:

په ١٣٦٣/٧/٣ هـ ش نېټه د سوډان په هېواد کښې يو نړيوال اسلامي کانفرانس جوړ شوی وه چې د مجاهدينو په استازيتوب پکښې زما په شمول اتو کسانو ګډون کړی وه. د سوډان خلکو د جهاد په خاطر زمونږ ډېر تود هرکلی وکړ حتی چې په يوه کلي کښې يې زمونږ په ناخبری کښې زمونږ دغه غير شرعي تعظيم هم وکړ، پسونه او اوښان يې د سړک په غاړه باندې ودرولي وه، خلکو چې زمونږ موټر ورښکاره شوه دستي يې ذکر شوي ځاروي حلال کړه، إنا لله وإنا إليه راجعون.

ج: د هغه ځاروي غوښه چې هغه د غشو ويشتلو دپاره تړل شوی وي ترڅو پرې د غشو ويشتل او يا په دې زمانه کښې د ټوپک ويشتل زده کړی شي او په پای کښې ذبحه شي.

آبو الدرداء رضی الله عنه وايي چې: «نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ أَكْلِ الْمُجَثَّمَةِ»[1] يعني: نبي کريم ﷺ منعه کړې ده د هغې مذبوحې د خوړلو څخه چې هغه ژوندی د غشو ويشتلو دپاره تړل شوې وي ترڅو وربانډې د غشو ويشتل زده کړی شي.

د همدې جملې څخه د غلا شوي او يا غصب شوي ځاروي حکم هم دی.

## د دې مسئلې يو نظير

١٥_ که يو سړی دارو درمل وخوري او وربانډې مست شي نو که په همدې حالت کښې خپله ښځه طلاقه کړي طلاق يې نه واقع کېږي، مګر که په شرابو باندې مست شوی وه او طلاقه يې کړه وربانډې طلاقېږي؛ ترڅو خلک د شراب څښلو څخه ځان ساتنه وکړي[2].

## اضطرار څه ته وايي؟

١٦_ اضطرار د هغه حالت څخه عبارت دی چې سړی د حرامو شيانو خوړلو ته مجبور کړی شي دغه حالت د لاندې دوه لارو څخه سړي ته وړاندې کېدلی شي:

الف: چې سړی وږی شي او د حرامو شيانو څخه په غير بل شی نه وي چې خپل ځان پرې د مرګ څخه بچ کړي، چې د لوږې مړ نه شي.

ب: چې کوم ظالم يې پرې په زور او اکراه باندې وخوروي، چې که وېې نه خوري وژل کېږي.

په دغو دواړو حالاتو کښې يې خوړل ورته عزيمت دی، يعنې که وېې نه خوري او مړ شي او يا ووژل شي، ګناهګار دی[3].

## مرداره او که پردی حق؟

١٧_ که سړي ته د اضطرار په حالت کښې دوه صورتونه مخې ته شوه، يو دا چې په مرداره ځان د مرګ څخه بچ کړي او بل دا چې پردی مال وخوري. کوم يو ورته بهتر دی؟

---

(١) جامع الترمذي ج١ ص٢٧٢

(٢) هدايه كتاب الطلاق ج٢ ص٥٣

(٣) تفسير ابن كثير ج١ ص٢٠٦. تفسير البغوي ج١ ص١٤١

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې کښې حکم دا دی چې په پردي مال باندې چې اضطرار رفعه کړي بنه ده خو د مال خاوند ته د مال ضامن ګرځي. په دې باره کښې څه نور تفصيل او قيدونه هم شته[1].

## ايا محرمات څلور دي؟

۱۸ـ ځينو خلکو ته په دې مقام کښې داسې اشتباه ورلوېږي چې محرمات خو په څلورو کښې منحصر نه دي بلکې د دې څخه اضافه نور هم شته. لکه سپی، پيشو او نور. سره د دې چې دلته د «إِنَّمَا» په کلمه باندې ذکر شوی ﴿ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ ﴾ الآية چې صرف همدغه څلور حرام کړی شوي دي نه نور. ځکه چې ذکره شوې کلمه حصر افاده کوي.

خو د دې اشتباه لرې کول په لاندې طريقو سره کېدی شي:

الف. دلته قصر اضافي دی: چې کافرانو په خپلو خانو باندې ځينې حلال شيان حرام کړي وه. نو ورته وويل شوه چې په هغو کښې حراموالی نشته بلکې حراموالی د دغو څلورو څخه چې تاسو ورته حلال وايئ هغو ته تجاوز نه کوي او په همدې څلورو کښې منحصر دی، که څه هم نور حرام شته چې هغو ته تاسو هم حرام وايئ او يا اقلاً په هغو کښې سکوت کوئ.

ب. دلته قصر قلب دی: چې کافرانو دغه څلور شيان پاکيزه حلال ګڼل. نو ورته وويل شوه چې خبره بالکل سرچپه ده، دا حلال او پاکيزه نه دي، بلکې بې شکه حرام او خبائث دي. پاتې شوه د نورو محرماتو خبره، هغه دلته هيڅ مطرح نه ده.

د قصر اضافي او قصر قلب د ښه پېژندنې دپاره دې علم المعاني ته مراجعه وکړی شي[2].

## څلور شيان څلور کرته نازل شوي دي

۱۹ـ ځرنګه چې دغه څلور محرمات هغه وخت په خلکو کښې زښت ډېر رواج وه او ټولو ته ښه ښکاريده. مشرکان او اهل الکتاب ټول پکښې شريک وه، نو الله ﷻ په قرآن کريم کښې د تفصيل په تفاوت سره څلور کرته ذکر کړي دي، دوه ځلې په مدني سورتونو کښې او دوه ځلې په مکي سورتونو کښې. لکه:

الف: ﴿ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ ﴾ [البقرة: ۱۷۳].

ب: ﴿ حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةُ ﴾ [المائدة: ۳].

چې دا دواړه مدني سورتونه دي.

ج: ﴿ قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا ﴾ [الأنعام: ۱۴۵].

د: ﴿ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ ﴾ [النحل: ۱۱۵].

چې دغه دواړه مکي سورتونه دي.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۱ ص۲۰۵

(۲) مختصر المعاني ص۱۹۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَشْتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ۙ أُولَٰٓئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِى بُطُونِهِمْ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٤﴾ أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلْهُدَىٰ وَٱلْعَذَابَ بِٱلْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ أَصْبَرَهُمْ عَلَى ٱلنَّارِ ﴿١٧٥﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ ۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُوا۟ فِى ٱلْكِتَٰبِ لَفِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿١٧٦﴾ ﴾

[۱۷۴] بې شکه هغه کسان چې دوی هغه شی چې الله ﷻ نازل کړی دی پټوي چې هغه د الله ﷻ د کتاب څخه عبارت دی او وربانديې ناچیزه پیسې اخلي، همدغه خلک په ګېډو کښې نه خوري (نه اچوي)، مګر اور (یکښې اچوي)، او د دوی سره به نه الله ﷻ د قیامت په ورځ خبرې وکړي او نه به دوی د ګناه څخه پاک (تزکیه) کړي او دوی لره دردناک عذاب دی.

[۱۷۵] همدوی هغه کسان دي چې ضلالت یې په هدایت اخستی دی او عذاب یې په مغفرت رانیولی دی، نو دوی په اور باندې څومره ډېر کلک دي!

[۱۷۶] دا ذکر شوی بیان څکه واقعیت لري چې بې شکه الله ﷻ هر یو کتاب په حقه نازل کړی دی او بې شکه هغه کسان چې په کتاب کښې اختلاف کوي په داسې عداوت کښې دي چې د (ښېرته راتاوېدلو څخه) ډېر لرې دي.

## ارتباط

لکه څنګه چې اهل الکتابو د نبي کریم ﷺ اوصافو ته تغیر ورکاوه او په خپل شکل باندې یې خلکو ته نه ښکاره کول ترڅو یې ونه پېژني او ایمان ورباندې رانه وړي او لکه څنګه یې چې د قبلې تحویل پېژانده چې حق دی خو هغه یې هم د خلکو څخه پټاوه، همدارنګه یې د الله ﷻ احکام هم خلکو ته لکه څنګه یې چې شان وه نه ښودل. بلکې شریعت یې د خپلو خانو تابع ګرځولی وه او په خپل طبیعت باندې یې ځینې شیان حلال کړي وه او په ځینو باندې یې د تحریم حکم کاوه.

نو په دې ایتونو کښې یو ځل بیا الله ﷻ د حق پټوونکو جزا بیانوي، چې لنډیز یې په لاندې دول سره ورانديې کوو:

## د مطلب خلاصه

هغه کسان چې هغوی کله ما أنزل الله ته راوبلل شي نو:

۱ـ هغوی برسېره په دې چې پخپله یې متابعت نه کوي او وایي چې مونږ د خپلو پلرونو متابعت کوو. نورو خلکو ته هم موقع نه ورکوي چې په ما أنزل الله کښې فکر وکړي او متابعت یې وکړي. بلکې ما انزل الله د هغوی څخه پټوي او د دنیا ناچیزه متاع پرې اخلي. څوک چې دغسې لوی

Downloaded: pawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جنايت د پيسو او ټکو دپاره کوي که بالفرض هغوی ته ټوله دنيا هم ورکړی شي بيا هم دېره ناچيزه او بې ارزښته ده چې بقا نه لري او د همدغې بدلې څخه ورته اور جوړېږي چې د قيامت په ورځ به يې په مرو ګېډو وخوري.

۲ـ دوی خو عوامو ته ذمه واري کوي چې په الله ﷻ باندې به مو وبښو او د ګناهونو پېټې به درڅخه لرې کړو مګر داسې نه ده، د دوی سره به الله ﷻ خبرې قدرې هم ونه کړي پاتې خو لا د شفاعت قبول، چې ورته ووايي چې فلانی وبښه. او نه به الله ﷻ دوی تزکيه کړي چې ګناهونه ورته عفوه کړي ترڅو دوی د شفاعت کولو جوګه شي، بلکې د قيامت په ورځ دوی ته مستقيماً دردناک عذاب متوجه دی.

نو چې کله خپل ځانونه د عذاب څخه نه شي خلاصولی د بل چا به څه شفاعت وکړی شي او د عذابه به يې څه خلاص کړي.

۳ـ دوی به ولې په غضب باندې ککړ نه وي؟ دوی خو هغه خلک دي چې د هدايت په ځای ځانونو ته ضلالت اختياروي او د مغفرت په عوض ځانونو ته عذاب غوره کوي، سره د دې چې هدايت او مغفرت چې د شفاعت کولو ذرائع دي، دواړه نن ورځ د ځانونو دپاره ګټلی شي. مګر دوی دغه دواړه ضائع کړه او ځانونه يې ورباندې کانه اچولي دي، په مقابل کښې ورځ به ورځ په ضلالت او عذاب باندې کلکېږي او منګولې ورباندې خښوي.

عجيبه خلک دي هرڅومره دلايل چې ورته وويلی شي او هرڅومره چې د عذاب څخه وډارول شي بيا هم د خپلو کړو وړو څخه لاس نه اخلي.

۴ـ دوی ځکه د همدې سرنوشت سره مخامخ کېږي چې الله ﷻ هر يو کتاب په حقه نازل کړی دی چې خلک ترې استفاده وکړي.

خو دوی يې پټوي (که څه هم ټول کتاب نه پټوي مګر د يو حکم پټول او د ټول کتاب پټول يو شی دی) او د خلکو د استفادې مخه نيسي، پيسې ورباندې اخلي او تجارت يې ورباندې پيل کړی دی چې سات په سات يې جنايت درنېږي، ترڅو چې آخر د ختم او مهر درجې ته رسېږي.

۵ـ ولې به د مهر درجې ته نه رسېږي؛ ځکه چې د الله ﷻ په کتاب کښې تجزيه او تبعيض اچوي چې ځينې ښکاره کوي او ځينې پټوي، هغه خپل ځان په داسې عداوت کښې اچولی دی چې د حق څخه روزمره فاصله پيدا کوي او ترې لرې کېږي.

نو ځکه چې د دغسې لوی خير مخه نيسي د دغسې لويې جزا سره به مخامخ کېږي.

## توضيحات

۱ـ د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې ذکر شوي ايتونه د يهودانو د مشرانو په باره کښې نازل شوي دي چې د خپلو تابعانو او کشرانو څخه به يې هدايا او تحفې اخستې، خو کله چې نبي کريم ﷺ مبعوث شو نو دوی د همدغو تحفو په قطعه کېدلو وډار شوه او د نبي کريم ﷺ هغه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خصوصيات (چې دوی ته په خپلو کتابو کښې معلوم وه) د کښرانو څخه پټ کړه[١].

ځينو مفسرينو دا هم روايت کړې ده چې د يهودو مشرانو او واکدارانو. د علماوو څخه په هغه وخت کښې چې لا نبي کريم ﷺ نه وه مبعوث شوی پوښتنه وکړه چې د آخر الزمان پيغمبر په هکله په تورات کښې څه شته او که نه؟

دوی ورته وويلې چې مونږ په تورات کښې ګورو چې د آخر الزمان پيغمبر "محمد" نوم دی. سود، شراب، ډمبازي او د وينو تويول به منعه کړي. خو کله چې مبعوث شو بيا يې ترې پوښتنه وکړه چې رښتيا دا هغه آخر الزمان پيغمبر دی؟ دوی وويلې چې: نه، دا هغه نه دی: ترڅو هغوی ورباندې پيسې ونه دروي او مقرره جيره ورته جاري وساتي[٢].

برسېره په دې ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې دوی به حتی د عربو څخه هم تحفې او هدايا ترلاسه کولې. ځکه چې هغوی د دوی پلرونو ته په درنه سترګه کتل او دوی ورته علماء ښکارېدل چې په ځينو مسائلو کښې به يې همدوی ته رجوع کوله[٣].

مګر د دې ټولو سره سره ذکر شوی حکم عام دی، د شان نزول خاص مورد ورباندې څه اثر نه غورځوي، نو په محمدي (ﷺ) امت کښې چې څوک حق پټوي او د دنيا ناچيزه متاع ترلاسه کوي هم په همدې حکم کښې شامل دی.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وايي چې: خوراک خو ضرور په ګېډه کښې اچول کېږي نو که د ﴿ فِي بُطُونِهِمْ ﴾ کلمه نه وی ذکره شوې هم معنی يې معلومېده، نو په دې کښې څه حکمت دی چې په صراحت سره ذکره شوه؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو ويلي دي چې د دې دپاره ورسره ذکره شوه چې "أكل" يعنې "خوړل" کله-کله مجازاً د رانيولو په معنی سره اخستل کېږي لکه چې وايي: "فُلانٌ أَكَلَ أَرْضِيْ" فلاني مې ځمکه وخوړه يعنې ويې نيوله.

نو کله چې په بطن باندې صراحت وشو نو دغه احتمال يې لرې کړ[٤]. الله ﷻ قدرت لري چې همدغه د رشوت مالونه ورته د قيامت په ورځ اور وګرځوي او ګېډې يې ورباندې ډکې کړي.

مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې په دې کښې مطلب دا دی ـ والله ﷻ أعلم ـ چې د ګېډې ذکر په اکثره وخت کښې د حرص څخه نمايندګي کوي لکه چې زمونږ په محاوره کښې هم دا ډول استعمال شته چې فلاني سړی په حرامو باندې خپله ګېډه ډکه کړې ده. د همدې کبله حارص سړي ته ځيني وايي:

---

(١) التفسير الكبير ج٥ ص٢٨
(٢) البحر المحيط ج١ ص٤٩١
(٣) تفسير ابن كثير ج١ ص٢٠٦
(٤) تفسير القرطبي ج٢ ص٢٣٤

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې د ﴿ فِي بُطُونِهِمْ ﴾ کلمه د یو پلوه د دوی په حرص باندې دلالت کوي او د بل پلوه د عذاب د شدت څخه هم کنایه کېدلی شي چې عذاب یې دومره شدید دی چې په مره ګېډه دی نو که دغه کلمه نه وی نازله شوی نه به د هغوی په حرص باندې څه شي دلالت کړی وی او نه د عذاب په شدت باندې.

## د حق پټوونکو سره به الله ﷻ خبرې ونه کړي

۳ـ که څوک وایي چې: په بل ځای کښې الله ﷻ فرمایي چې کافرو (دوزخیانو) ته به وایي چې: ﴿ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴾ [المؤمنون:۱۰۸] یعني: چیغې شئ په دوزخ کښې او خبرې مه کوئ؛ نو دا خو هم یو ډول خبرې دي، ایا د دې آیت ﴿ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ ﴾ سره یې څه مناقضه نه راځي؟

مونږ وایو چې:

الف: ځینو مفسرینو کرامو ویلي دي چې د خبرو نه کول د غضب څخه کنایه ده. یعني: الله ﷻ به په دوی باندې په غضب وي[1].

ب: ځینو ویلي دي چې د رحمت خبرې به ورسره ونه کړي، چې دا د غضب د خبرو کولو سره څه منافات نه لري[2].

مګر مونږ ته هغه جواب ښه ښکاري چې پخوا مو ورته اشاره کړې ده چې دوی به عوامو ته وعدې ورکولې چې شفاعت به مو وکړو او ستاسو په باره کښې به د الله ﷻ سره خبرې وکړو ترڅو چې تاسو ته نجات درکړو، نو الله ﷻ د دوی دغه خیال رد کړ.

## دوی به تزکیه هم نه شي

۴ـ نو په دې تقدیر د عدم تزکیې معنی هم واضحه کېږي چې دوی خپل خانونه د ګناه څخه پاک ګڼل او د عوام فریبۍ دپاره به یې ویلې چې مونږ الله ﷻ د ګناه څخه تزکیه کوي. نو الله ﷻ د دوی دغه باطله عقیده ور رده کړه، چې دوی به هیڅکله د شفاعت کولو لیاقت ونه لري.

برسېره په دې، په دوزخ کښې د دوی تعذیبول د دې دپاره نه دي چې دوی د ګناه څخه پاک شي او بیا جنت ته لاړ شي لکه چې ګناهګاران مؤمنان په دوزخ کښې تزکیه کېږي او بیا جنت ته ځي، بلکې دوی به هلته همېشه وي.

## په کتاب کښې اختلاف

۵ـ د حق پټوونکو د الله ﷻ یو کتاب هم بې اختلافه نه دی پرېښی، بلکې په هر یوه باندې به بې په انتخابي ډول سره عمل کاوه، کوم یو حکم به یې چې په طبعه برابر وه هغه به یې قبلاوه او چې نه به وه، نو نه به یې قبلاوه.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۱۳۵
(۲) تفسیر کبیر ج۵ ص۳۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خرنګه چې طبائع مختلف دي چې څوک یو شی خوښوي او څوک بل شی، نو د همدې کبله به د دوی په منځکښې اختلاف هم واقع کېده، چا به په یو حکم رشوت اخست او چا په بل، بلکې یو سړي به هم په یوه موقع کښې یو حکم پټاوه او په بل ځای کښې بل حکم[۱]. الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ﴾ [البقرة: ۸۵] ایا نو تاسو په ځینې کتاب باندې ایمان راوړئ او په ځینې یې نه راوړئ.

امکان لري چې دوی به د قرآن کریم په باره کښې د مشرکانو شاګردي هم کړې وي او لکه چې هغوی به چا ورباندې د شعر، چا د جادو او چا د خانه جوړ شوي نومونه ایښودل. دوی به هم په قرآن کریم باندې دغسې مختلف نومونه ایښې وي.

## سوال جواب

٦ـ که څوک وايي چې: د "ما أصبرهم" کلمه خو په عربي ژبه کښې د تعجب دپاره ده او تعجب خو د الله ﷻ سره مناسب نه دی، ځکه چې دا خو په یو نااشنا شي باندې د علم راتلـلو په سبب صورت نیــسي چې مخکښې یې ورباندې علم نه وي؟.

مونږ وایو چې:

الف: دغه کلمه په دې مقام کښې د تعجب دپاره نه ده، بلکې د تعجیب دپاره ده چې باید خلک د دوی د کلکوالي او د دوی د جرئت څخه په تعجب کښې شي او ورته حیران شي چې په باطله لار باندې څومره کلک دي او دوزخ ته په څومره جرئت ورروان دي.

ب: او یا دلته هغه تعجب مراد دی ځکه چې د الله ﷻ د شان سره مناسب وي لکه چې دا معنی د [البقرة:۱۵] ایت لاندې ښه واضحه شوې ده.

﴿ لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّۦنَ وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَٰهَدُوا۟ ۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِى ٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلْبَأْسِ ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُوا۟ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ ﴾

[۱۷۷] پوره اطاعت (چې د الله ﷻ رضا ورباندې حاصله شي) صرف دا نه دی چې خپل مخونه مشرق طرف ته واړوئ او یا مغرب ته. مګر کامل اطاعت د هغه چا اطاعت دی چې ایمان یې په

(۱) التفسير الكبير ج۵ ص۳۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

الله ﷻ باندې، او په وروستنۍ ورځ باندې، او په ملائکو باندې، او په ټولو کتابونو باندې او په ټولو پیغمبرانو باندې راوړي وي او هم خپل مال د محبت سره-سره د قرابت خاوندانو ته، یتیمانو ته، مسکینانو ته، د لارې بچي (مسافر) ته، سوال کوونکو ته، (او غلامانو ته) د غاړو په ازادولو کښې ورکوي. او هم لمونځونه ودروي او زکاتونه ورکوي او هم په خپل عهد باندې وفاکوونکي وي چې کله عهد وکړي (وفا ورباندې کوي) او هم صبر کوونکي وي چې په سختیو کښې، په مرضونو کښې او د سختۍ (جهاد) په وخت کښې صبر کوي.
دوی هغه کسان دي (چې خپل اطاعت يې) رښتیا کړ او همدوی متقیان دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱- دغه ایت د وړاندینیو ایتونو سره د لاندې وجوهو د کبله اړوند لري.
الف: کله چې قبله کعبه شریفه وګرځوله شوه نو اهل الکتابو او منافقانو بدګې د اسلام مخالفینو هیڅ داسې یوه ذریعه پرې نه ښودله چې د دوی په فکر په هغې ذریعې سره په اسلام باندې څه ورکې یا غټ عیب لګېدلی شو او دوی ونه لګاوه د مثال په توګه شکونه يې خلکو ته ورواچول چې نبي کریم ﷺ فکري قرار او ثبات نه لري، او د تحویل څخه پخوا چې څوک مړه شوي دي د هغوی ایمان او عمل باطل شو. نن دی که سبا محمد ﷺ به مشرکانو ته وروګرځي باید چې د محمدي (ﷺ) شریعت په وړاندې ببولو کښې څوک خان شهید نه کړي او داسې نور.
بالآخره د نبي کریم ﷺ د رسالت معلومات يې پټ کړه او د خپلو پلرونو متابعت يې د هغه ﷺ په متابعت باندې غوره وګاڼه. د دې ټولو هلو ځلو باعث دا وه چې د مسلمانانو قبله کعبې شریفې ته ولې وړتاو کړی شوه؟.
نو په دې ایتونو کښې دوی پوه کړی شوه چې تقوی او دینداري خو یوازې په قبله کښې منحصره نه ده که تاسو رښتیا دومره د الله ﷻ دوستان یاست او د الله ﷻ په محبت باندې ډېر کلک ولاړ یاست نو دغه احکام عملي کړئ چې د ایمان او تقوی عملي تصدیق مو وکړی شي او معلومه شي چې تاسو په دین باندې ډېر خواخوږي یاست.
ب: په وړاندینیو ایتونو کښې د حق پټوونکو په باره کښې د سخت عذاب ذکر شوی وه، نو امکان لري چې اهل الکتابو به ویلي وي چې مونږ خو اهل قبله یاستو څه مشرکان او د هریان خو نه یو چې مونږ ته به دومره لوی عذاب راکول کېږي.
نو په دې ایتونو کښې وروښودله شوه چې تاسو خو یوازې په دې نه شئ خلاصېدلی چې یوې قبلې ته ودرېږئ په داسې حال کښې چې نه مو عقیده برابره ده، نه عمل او نه انساني معاشرت. نو تاسو په کوم دلیل سره خپل ځانونه د نورو کافرانو څخه بهتر ګڼئ سره د دې چې ټول کړه وړه مو د هغوی په شان دي.
ج: امکان لري چې ځینو مسلمانانو به هم اهل الکتابو ته څه باتې وهلې وي چې زمونږ قبله
Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ستاسو څخه جدا شوه نور نو په هر صورت مونږ ستاسو څخه بهتر يو.

نو په دې اينونو کښې د اشارې په توګه مسلمانان هم پوه کړې شوه چې يوازې په قبله باندې تاسو د هغوى څخه نه شئ بهتر کېدلى ترڅو چې تول اسلام عقيدةً او عملاً تسليم نه کړئ.

نو په دې تقدير د قيامت تر ورځې پورې تولو مسلمانانو ته د عبرت درس شو چې محض په همدومره خبره باندې نجات نه شئ موندلى چې اهل قبله ياست ترڅو چې د اسلام په تولو احکامو کښې ورداخل نه شئ.

لکه چې په [۲۰۸] ايت کښې په همدې مطلب باندې صراحت نازل شوى دى چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةً ﴾ الآية يعني: اى هغو کسانو کومو چې ايمان راوړى دى! تاسو په تول اسلام کښې داخل شئ.

۲ـ نو خلاصه يې داسې راځېږي چې: يوې قبلې ته مخ وراړول د الله ﷻ د هغو احکامو څخه نه دي چې هغه په تولو اديانو کښې د تبديل قابل نه دي. د همدې کبله تاسو ته په کار دي چې د قبلې تحويل د خپلې تقوى او ديندارۍ معيار ونه ګرځوئ. که تاسو ربښتيا با تقوى خلک ياست او د ايمان په ادعا کښې صادق ياست لاندې احکام عملي کړئ او خپل کلکوالى پکښې ښکاره کړئ، چې په تولو اديانو کښې ثابت احکام دي. هغه دا دي:

الف: په الله ﷻ باندې ايمان راوړل، چې دائمي حکم دى، نو واحد لا شريک يې وګڼئ، نه داسې چې يا ورسره عُزَير ؑ او يا عيسى ؑ شريک وګرځوئ او نه داسې چې د ده ﷻ محبت د پلرونو د محبت څخه يا تينګ کړئ او يا يې ورسره برابر کړئ.

ب: په وروستنۍ ورځ باندې عقيده کول، چې هلته تول خلک د الله ﷻ په حضور کښې ودرېږي او هر چا ته به لکه څنګه چې د الله ﷻ د عدل غوښتنه ده همغسې فيصلې ورکړې شي، داسې نه لکه چې تاسو وايئ چې مونږ ته دوزخ نشته، زمونږ دپاره جنت دى که دوزخ ته لاړ شو هم، هغه به د څو ورځو څخه اضافه نه وي.

ج: په ملائکو باندې په ربښتيني توګه ايمان راوړل، چې دوى تول د الله ﷻ اطاعت کوونکي بندګان دي او پيغمبرانو ته د وحې د وړلو مسئوليت د همدوى په غاړه دى، داسې نه لکه چې تاسو وايئ چې مونږ د جبرائيل امين ؑ سره دښمني او عداوت لرو.

د: په تولو کتابو باندې ايمان راوړل، نه داسې چې د الله ﷻ يو کتاب منئ لکه تورات او يا انجيل، مګر د الله ﷻ بل کتاب نه منئ لکه قرآن، او داسې نه لکه چې په يو کتاب (تورات) کښې خينې احکام منئ او خينې نه منئ.

هـ: په تولو پيغمبرانو باندې عقيده کول، داسې نه چې خينې درته پيغمبران ښکاري، او خينو نورو ته د دروغژنانو نسبت کوئ.

و: د خپل مال ورکول، سره د دې چې مال درباندې ګران دى او مينه او محبت ورسره لرئ خو په لاندې کسانو باندې يې په اخلاص سره انفاق کړئ.

Downlaoded: bawarkefabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پېول (۲)

اول: په خپلوانو او اقاربو باندې. برابره خبره ده چې نسبي خپلوان وي او که سببي، لکه د ښځې
پلار د مېړه خپلوان او د مېړه دپاره د ښځې خپلوان.

دوهم: په بې پلاره ماشومانو باندې، خصوصاً چې لا پلار یې په جهاد کښې شهید شوی وي چې
هم یې په نفقه باندې مصرف کوئ او هم په تعلیم او تربیه.

دریم: په مسکینانو باندې، چې د ډېر مسکنت د کبله په خاې ناست وي چې یا بالکل څه نه لري
او یا څه لري خو ګذاره یې ورباندې نه کېږي.

څلورم: په مسافر باندې، چې نه څوک پېژني او نه د چا سره بلد وي، ته به وایې چې د لارې بچی
دی حتی چې په ښینو وختونو کښې لا بالکل ملګری هم نه لري. نو دغه کس که څه هم په وطن
کښې څه دارایي لري خو په لاس کښې یې څه نه وي.

پنځم: په سوال کوونکو باندې، ترڅو هغوی خالي لاس ونه رتئ (ونه شړئ).

شپږم: په غلامانو باندې، چې په بیه یې اخلئ او بیا یې ازادوئ، او یا هغه مکاتب غلام وي
چې د خپل ځان قیمت نه شي پوره کولی. او بالآخره په قرضدارانو باندې چې د قرض څخه یې
خلاص کړئ.

مګر تاسو خو په دې عوض چې د ذکر شوو کسانو سره کومک وکړئ د هغوی مالونه خورئ،
حق پټوئ او د هغوی څخه پرې تحفې او هدایا ترلاسه کوئ.

ز: لمونځونه ودرول او ټول حقوق یې اداء کول، حال دا چې تاسو ترې نور خلک منعه کوئ.

ح: د خپلو مالونو فرض کړی شوی زکات ورکول، مګر تاسو خو نه نفلي انفاق کوئ او نه فرضي.

ط: په خپلو عهدونو باندې وفا کول، برابره خبره ده چې د بندګانو سره عهدونه وي او که د الله ﷻ
سره عهدونه وي. تاسو خو په خپل یو عهد باندې هم نه ودرېږئ: ﴿أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُواْ عَهۡدٗا نَّبَذَهُۥ﴾
[البقرة: ۱۰۰] یعنې: او ایا هر کله چې یهودان عهد وکړي یو عهد، هغه شاته ګوزاروي.

ي: خپل ثبات او استقامت قوي ساتل، چې په یو حالت کښې هم حوصله د لاسه ورنه کړئ.

د مثال په ډول:

اول: په فقیرۍ او ناداري کښې شکایتونه نه کول، او د الله ﷻ په امر باندې راضي کېدل او
فیصله یې منل.

دوهم: په زخمونو، دردونو او مرضونو باندې صبر کول او بیا خصوصاً د جهاد تکلیفونه ګالل.

دریم: د جنګ په وخت کښې ښه په مېړانه جنګېدل. هسې نه چې خپل پیغمبر ﷺ ته جواب ورکړئ
چې: ﴿فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ﴾ [المائدة: ۲۴] یعنې: نو ته او رب دې لاړ
شئ نو جهاد وکړئ مونږ به همدلته ناست یو.

کله چې تاسو ذکر شوي احکام نه شئ عملي کولی او یا یې نه عملي کوئ او خپله تقوی مو
یوازې په قبله کښې خلاصه کړې ده، نو معلومه شوه چې تاسو دغه جارو جنجال د تقوی د امله نه

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی بلکې د خپل ریاست او خپلو قلنګونو د راغونډولو دپاره دی او بس. که د دینداری د املا وی نو ذکر شوي د دینداری کارونه به مو کړي وی.

## توضیحات

۱ـ د لاندې څو لغاتو معناوې ولولئ:

الف د "برّ" کلمه د صداقت او اطاعت څخه عبارت ده چې په مقابل کښې یې عقوق (نافرماني) استعمالېږي[۱] په دې مقام کښې ترې هغه اطاعت او صداقت مراد دی چې په هغو باندې الله ﷻ راضي کېږي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: نه مشرق ته مخ اړول اطاعت ګڼل کېږي او نه مغرب ته، او نه پکښې د الله ﷻ رضا حاصلېږي لکه چې تاسو خیال کوئ ای اهل الکتابو!، بلکې اطاعت، صداقت او د الله ﷻ د رضا سبب "إطَاعَةُ مَنْ آمَنَ" الآية د هغه چا اطاعت دی چې هغه ایمان راوړی وي... تر آخره پورې.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه نصاراوو خان ته مشرق (ختیځ) قبله ګرځولې وه او یهودو هغې خاصې تیرې ته مخ وراړاوه چې هغه په بیت المقدس کښې ده، خو څرنګه چې د مدینې منورې یهودانو ته بیت المقدس په غربي طرف کښې پروت وه، نو ځکه دوی غرب ته په لمانځه باندې ودرېدل. لکه چې همدا موضوع د همدې سورت د [۱۴۵] ایت لاندې پوره شرحه شوې ده.

ب: "ابْنِ السَّبِيلِ" د مسافر څخه عبارت دی. او دا ځکه چې هر کله یو شی د بل شي سره زیات ملازمت ولري، نو په محاوراتو کښې یې یا د پلار په نامه یادېږي او یا د زوی، بلکې چې مونږ به مجاهد ته د جهاد بچی وایو او یا لکه چې د نحوې علم ته د "علومو پلار" وایي. نو څرنګه چې د مسافر ټول سروکار د لارې سره وي نو په عربي ژبه کښې ورته ابن سبیل (د لارې بچی) وایي، ته به وایې چې د لارې څخه زېږېدلی دی، او لار یې مور ده.

ج: ﴿ٱلۡبَأۡسَآءِ﴾ د "بُؤس" څخه اخستله شوې ده چې د شدت په معنی سره ده. د همدې کبله یې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د فقر په شدت سره تفسیر کړی دی[۲]، او په ﴿وَحِينَ ٱلۡبَأۡسِ﴾ کښې شدید جنګ مراد دی[۳]. کله-کله ورته د شدید کلمه صفت هم واقع کېږي چې شدت یې لا قوي کېږي لکه چې فرمایي: ﴿بَأۡسُهُم بَيۡنَهُمۡ شَدِيدٞ﴾ [الحشر: ۱۴] یعنې: خپلمنځي جنګ یې زښت ډېر شدید او سخت دی

د: "الضَّرَّاءِ" کلمه د "ضُرّ" څخه اخستله شوې ده، چې د بدحالۍ معنی ورکوي، برابره خبره ده چې دغه بدحالي د هر حیثه وي، مثلاً د مال د کمبود څخه، د علم د کمبود څخه، د صحت د کمبود

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷؛ لسان العرب ج۴ ص۵۱
(۲) تفسیر القرطبي ج۲ ص۲۴۳
(۳) تفسیر القاسمي ج۳ ص۵۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه او یا د نورو شیانو د کمبود څخه. خو په دې مقام کښې مفسرینو کرامو د صحت په کمبود سره تفسیره کړې ده. یعنې چې د مرض په حالت کښې صبر کوونکي وي[1].

که څه هم د صبر ځایونه زښت ډېر دي، مګر دغه درې ځایونه (فقر، مرض، جهاد) په دې مقام کښې خاص کړی شوه چې په دغو حالتونو کښې صبر کول سخت دي، نو هر څوک چې په دغو حالتونو کښې صبر وکړی شي هغه په هر ځای کښې صبر کولی شي، او په هیڅ ځای او هیڅ حالت کښې استقامت او حوصله د لاسه نه ورکوي.

## په پنځو شیانو عقیده خپلول

۲_ د عقایدو په باره کښې صرف په پنځو شیانو (په الله ﷻ، په آخره ورځ، په ملائکو، په کتابونو او په پیغمبرانو علیهم‌السلام) باندې د ایمان راوړل د کامل اطاعت نښه ښودل شوې ده، که څه هم مؤمن به په شیان خو نور هم شته. دا ځکه چې:

الف: اهل الکتابو په همدغو پنځو باندې په صحیح صورت سره ایمان نه وه راوړی، نو ورته وښودل شوه چې ستاسو سعادت په دې کښې دی چې په دغو پنځو باندې مو خپله عقیده سمه کړئ.

ب: څوک چې په دغو پنځو باندې ایمان راوړي هغه به ضرور د دین په ټولو ضروریاتو باندې ایمان راوړي، ته به وایې چې ورته ویل شوي وي چې په ټولو عقیدوي شیانو ایمان راوړئ.

## د مال ورکړه او محبت

۳_ په خپنو وختونو کښې د مال ورکول (خیراتول) د محبت په حالت کښې نه وي لکه چې سړي څخه څه خوراکي شیان اضافه شي او د انتقال وسائل هم ورسره نه وي، بیا نو فکر وکړي چې همدلته یې پرېږدم چې سپي یې وخوري او بوی وکړي، د هغه څخه دا ښه ده چې کوم فقیر ته یې ورکړم. داسې نور هم ډېر مثالونه شته، مګر لاندې یو مثال یې بل هم ولولئ چې:

یوه ورځ د نبي کریم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: یا رسول الله! د کومې صدقې اجر زیات دی؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: «أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى وَلَا تُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا وَلِفُلَانٍ كَذَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ»[2] یعني: چې ته په داسې حال کښې خیرات وکړې چې جوړ یې، په مال کښې دې رغبت هم وي، د فقیرۍ خطر هم درسره وي، او د غنا آرزو هم لرې، او هغه وخت ته یې پرېنږدې چې سا دې ستوني ته راوخېژي، بیا نو وایې چې د فلاني دې دومره وي او د فلاني دې دومره وي، په دغه وخت کښې خو ستا د وینا څخه په غیر هم د فلاني دي.

نو د مال انفاق هلته د کامل اطاعت څخه نمایندګي کوي چې د محبت په حال کښې وي او بس. لکه چې فرمایي: ﴿ لَن تَنَالُواْ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ ﴾ [آل عمران: ۹۲] یعني: هیڅکله به

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۲۴۳
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۱۹۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو تر هغه پر اخه اطاعت نه وبه رسېږئ چې ترڅو د هغو مالونو څخه انفاق وکړئ چې تاسو ورسره محبت لرئ.

## په خپلوانو باندې د خیرات اجر ډېر دی

۴ـ د عبد الله بن مسعود ﷺ زوجه (بي بي زينب ﷺ) په يوه اوږده حديث کښې وايي چې د نبي کريم ﷺ څخه مې د بلال ﷺ په خوله پوښتنه وکړه چې زه په خپل مېړه او يا په هغو يتيمانو باندې چې زما سره اوسېږي خيرات وکړم، دا خيرات مې کېږي؟

نو نبي کريم ﷺ ووېل چې «نعم لها أجران أجر القرابة وأجر الصدقة»[۱] يعني: هو، دې لره دوه اجره دي، يو يې د قرابت اجر دی او بل يې د خيرات اجر دی.

## ايا سوالګر ته څه ورکول ضروري دي؟

۵ـ که څه هم نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې «مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ»[۲] يعني ځوک چې د خلکو څخه مالونه په سوال غواړي د دې دپاره چې خپله سرمايه پرې غټه کړي نو بې شکه هغه په حقيقت کښې د اور سرکوټې غواړي نو خوښه يې چې لږ اخلي او که ډېرې.

دا خو د سوال کوونکي په باره کښې وه. اما د هغه چا دپاره چې سوال کوونکی ورته ودرېږي او څه ترې وغواړي نبي کريم فرمايي «لِلسَّائِلِ حَقٌّ وَإِنْ جَاءَ عَلَى فَرَسٍ»[۳] يعني: سوال کوونکی حق لري که څه هم په اس باندې سور راشي. يعنې چې سړې ورباندې ګومان کوي چې دی به فقير نه وي خکه په اس باندې سور دی.

مونږ وايو چې: که سوال کوونکي ته څه ورکړی شي او يا ورنه کړی شي مګر رټل او توبيخول يې بنه کار نه دی. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ﴾ [الضحی: ۱۰] يعني: او هرچې سوال کوونکی دی نو هغه مه رټه.

## د خيرات خورو ترتيب

۶ـ په ايت شريف کښې چې د خيرات ور کسان په کوم ترتيب سره ذکر شوي دي غالبه دا ده چې ارتياوې به يې هم په همدغه ترتيب سره وي. خکه چې په اوله درجه کښې مستحقين خپلوان دي، چې سړی يې په ارتياوو باندې د هر چا څخه مخکښې خبرېږي او هغوی ورته اميد هم کوي چې خيرات به راکړي. په دې باندې علاوه نور خلک هم ورته په دې ګومان خيرات نه ورکوي چې فلانی (غني خپلوان) به ورته يا خيرات ورکړی وي او يا به يې ورکړي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۹۸
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۳۳۳
(۳) سنن ابي داود ج۱ ص۲۳۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


په دوهمه درجه کښې یتیمان دي چې سرپرست نه لري، نو غالبه دا ده چې نوموړي به محتاج وي چې خپله هم توانایي نه لري.
په دریمه درجه کښې مسکینان دي چې مسکنت او فقیري یې د حالت څخه معلومېږي، که څه هم سوال نه کوي.
په څلورمه درجه کښې مسافران دي چې دوی هم په پردي وطن کښې وي امکان لري چې اړتیا به یې پوره نه وي. شاید چې په افراد (ابن السبیل) سره به د دې دپاره نازل شوی وي چې دا ډول خلک د نورو په نسبت لږ وي که نه نو په جمعیت (ابناء السبیل) سره به یې نزول موندلی وی.
په پنځمه درجه کښې سوال کوونکي دي چې سړی دا ګومان کوي چې سوال به د مستۍ څخه نه کوي او محتاج به وي.
په شپږمه درجه کښې مکاتبین دي چې د مولا سره یې د ازادۍ خبره کړې وي خو خپل قیمت په لاس کښې نه لري، که کومک ورسره وکړی شي ترڅو د غلامۍ څخه ژر خلاص شي بده نه ده.
مونږ ته خو د قرضدارانو قرض خلاصول هم په ﴿ وَفِي ٱلرِّقَابِ ﴾ کښې داخل ښکاري؛ ځکه چې د نوموړي سر هم په یوه وجه سره د مال والا په لومه کښې بند دی.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: الله ﷻ خو د مال ورکړه یو ځل بیان کړه چې د مصارفو شپږ ځایونه یې ورته وټاکل چې خپلوان او نور دي، نو په دې کښې څه حکمت دی چې دوهم ځل یې په ﴿ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ سره ذکر کړه، ایا دا تکرار نه دی؟
مونږ وایو چې:
الف: هلته نفلي خیرات مطلب وه او دلته فرضي صدقات مطلب دي، نو حاصل یې داسې کېږي چې په کامل اطاعت کښې څوک نه یې نفلي انفاق باندې صرفه کوي او نه په فرضي باندې، مګر ځرنګه چې د فرضي انفاق مستحقین په [التوبة: ۶۰] ایت کښې بیان شوي دي، نو ځکه دلته ونه ښودل شوه او یوازې د نفلي انفاق مصارف بیان کړی شوه.
په نوموړي ډول باندې د تکرار مخه نیول ځکه بهتر دي چې:
اول: هلته د انفاق په مستحقینو کښې مطلق خپلوان ښودل شوي دي او ښکاره ده چې په خپلوانو کښې خو ځینې داسې شته چې زکات ورباندې نه خلاصېږي، نو معلومه شوه چې هلته نفلي انفاق مطلب دی او بس.
دوهم: په قرآن کریم کښې چې کله فرضي صدقات ذکر کېږي نو اکثره د لمانځه سره مقارن او پیوسته وي نو معلومه شوه چې دلته فرضي صدقات (زکات) مطلب دي.
هو! په فرضي انفاق باندې نفلي انفاق مخکښې ذکر کړی شو او مستحقین یې هم ورته وښودل ترڅو د مالدارو رغبت ښه وراضافه کړی شي او انفاق ته به ... شي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د غنيانو په مالونو کښې د زکات څخه په غير نور حقوق شته، نو په اولني انفاق کښې د زکات څخه په غير نور حقوق مطلب دي لکه چې لاندې دلايل ورباندې دلالت کوي:

الف: يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ»[۱] يعني: يقيناً ضرور په مال کښې د زکات څخه په غير نور حقوق هم شته او بيا يې همدغه ايت شريف د استدلال په توګه ولوست چې اوس پکښې بحث کوو.

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «لَيْسَ الْمُؤْمِنُ الَّذِيْ يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ»[۲] يعني: هغه څوک مؤمن نه دی چې په مړه ګېډه يې خوري او په څنګ کښې يې ګاونډي وږی وي.

ج: د ټولو مسلمانانو په دې خبره باندې اجماع او اتفاق دی چې کله د چا اړتيا د ضرورت حالت ته ورسېږي نو په نورو خلکو باندې واجبه ده چې ضرورت يې پوره کړي او د مرګ څخه يې بچ کړي، که څه هم زکات ورباندې فرض نه وي. او که خلکو دغه اشد ضرورت نه پوره کاوه نو روا ده چې اسلامي حکومت يې په زور سره ترې واخلي[۳].

## سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: د علي ﷺ څخه روايت دی چې په زکات سره ټول فرضي صدقات نسخه شوي دي[۴]، نو معلومه شوه چې د زکات څخه په غير نور حقوق په غنيانو باندې نشته.

مونږ وايو چې: د دې جواب ډېر واضحه دی، ځکه چې د صحابي ﷺ قول د نبي کريم ﷺ د حديث په مقابل کښې لکه چې وړاندې ذکر شوه څه مقاومت نه شي کولی او د اعتبار قابل نه دی. نو په کار ده چې لاندې تاويل يې وکړی شي:

اول: د علي ﷺ مقصد دا دی چې هغه فرضي صدقات نسخه شوي دي د کومو اندازه چې د شريعت د پلوه تعين شوې وي لکه زکاتونه. داسې مطلب نه دی چې هر ډول حقوق يې نسخه کړي دي.

دوهم: د علي ﷺ د حديث مطلب دا دی چې په عادي حالاتو کښې خبره همداسې ده او داسې يې مطلب نه دی چې په اضطراري حالاتو کښې هم ورباندې بل حق نشته.

## يو اعرابي تحليل

۹ـ په عربي ژبه کښې دا قانون دی چې کله کله په معطوفاتو کښې د يو معطوف اعراب ته تغيير ورکوي ترڅو لوستونکي د هغه اهميت ته متوجه شي، د همدې قبيلې څخه په ذکر شوي ايت شريف کښې د ﴿وَالصَّٰبِرِينَ﴾ کلمه هم ده چې په ﴿مَنْ ءَامَنَ﴾ باندې عطفه ده، هغه خو د "لكن"

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۴۳
(۲) السنن الکبری للبيهقي ج۱۰ ص۵
(۳) روح المعاني ج۲ ص۴۷؛ تفسير القرطبي ج۲ ص۲۴۲
(۴) حاشية الشيخ زاده علی تفسير البيضاوي ج۲ ص۴۸۵؛ روح المعاني ج۲ ص۴۷۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ياره خبر دی او محلاً مرفوع دی نو باید چې معطوف یې "وَالصَّابِرُونَ" لوستل شوی وی.
مګر څرنګه چې صبر یو عظیم الشان صفت دی چې ټول عبادت او حتی ایمان هم ورپورې تړلی دی؛ نو دلته یې اعراب ته تغییر ورکړی شو؛ ترڅو لوستونکي ورته ښه متوجه کړي. که بالفرض تغییر نه وی ورکړی شوی نو اهمیت ته به یې د چا نه وی پام شوی.

نو مفسرینو کرامو یې تقدیر "أَمْدَحُ الصَّابِرِينَ" ګڼلی دی، یعني: چې د صبر کوونکو مدحه کوم.
مګر مونږ ته داسې ښکاري چې د ﴿مَنْ ءَامَنَ﴾ کلمه د مضاف په حذف سره ده او په حقیقت کښې محلاً مجروره ده ترڅو یې خبریت صحت ومومي. نو تقدیر به یې داسې شي چې: (وَلَكِنَّ الْبِرَّ بِرُّ مَنْ آمَنَ)، یعني: مګر پوره اطاعت د هغه چا اطاعت دی چې ایمان یې راوړی وي، تر آخره پورې.
نو ﴿مَنْ ءَامَنَ﴾ دوه محلي اعرابه لري، یو قریب، چې هغه رفعه ده او د مضاف لحاظ پکښې نشته او ﴿وَٱلْمُوفُونَ﴾ ورباندې عطف دی، او بل بعید، چې هغه جر دی او د مضاف لحاظ پکښې ساتل شوی دی او ﴿وَٱلصَّٰبِرِينَ﴾ ورباندې معطوف دی.
زمونږ په تعریب باندې یوه کلمه "بِرُّ" حذفه راځي او د مفسرینو په تعریب سره دوه کلمې "بِرُّ، أَمْدَحُ" حذف مومي، او دا خو واضحه ده چې د دوه حذفو څخه یو حذف بهتر دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِصَاصُ فِى ٱلْقَتْلَى ۖ ٱلْحُرُّ بِٱلْحُرِّ وَٱلْعَبْدُ بِٱلْعَبْدِ وَٱلْأُنثَىٰ بِٱلْأُنثَىٰ ۚ فَمَنْ عُفِىَ لَهُۥ مِنْ أَخِيهِ شَىْءٌ فَٱتِّبَاعٌۢ بِٱلْمَعْرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَٰنٍ ۗ ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ۗ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمْ فِى ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾﴾

[۱۷۸] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په تاسو باندې د وژل شوو د کبله قصاص (مساوات) فرض کړی شوی دی. اصیل په اصیل سره، او غلام په غلام سره، او زنانه په زنانه سره.
نو هر څوک (قاتل) چې ده لره د خپل (وژلی شوي) ورور (د وارثانو) د پلوه د قصاص لږ څه برخه درعفوه کړی شي، نو په (وارث باندې) په معروفه شرعي طریقې سره (د دیت) غوښتنه لازمه ده (که بالکل یې عفوه نه وه کړې) او (په قاتل باندې) هغه ته د دیت ورکول لازم دي.
ذکر شوی حکم ستاسو د رب د جانبه (په تاسو باندې) تخفیف او (تاسو ته) لوی رحمت دی.
نو څوک چې د دې څخه وروسته (د معروفې شرعي کړنلارې څخه) تجاوز وکړي نو هغه لره دردناک عذاب دی.
[۱۷۹] او تاسو لره په قصاص کښې (عظیم الشان) ژوند دی، ای د عقل خاوندانو! (عمل پرې وکړئ)، شاید چې تقواداران شئ.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

که څه هم ځینو مفسرینو د ذکر شوو ایتونو دپاره څه شان نزول لیکلی دی[۱]، مګر شان نزول د مفهوم په عموم باندې څه تاثیر نه کوي. نو ځکه مونږ وایو چې دا ایتونه د مخکښې سره د لاندې وجوهو د کبله ارتباط لري.

الف. په هغو ایتونو کښې اهل الکتابو ته ورښودله شوې وه چې خپله تقوی یوازې په قبله کښې مه خلاصه کوئ. د الله ﷻ نور احکام هم عملي کړئ، او مسلمانان هم په غوږ باندې وهلې شوي وو او د اشارې په توګه ترې همدغه غوښتنه شوې وه.

دلته همغه خبره په صراحت سره بیانه کړې شوې ده چې خپله دینداري د الله ﷻ په ټولو احکامو کښې ښکاره کړئ، لکه قصاص، وصیت، روژه، د حرام مال نه خوړل، حج، جهاد او داسې نور.

ب. په مخکښې ایتونو کښې بیان شوي وه چې په خپل عهد باندې وفا کول او صبر، استقامت کلک ساتل د الله ﷻ کامل اطاعت دی. اوس د همدې خایه څخه وروسته د همدغو دوارو عملي صورتونه بیانیږي چې لنډ مطلب یې دا دی.

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! تاسو د اهل کتابو په شان مه کیږئ چې خپله ټوله دینداري یې یوازې په قبله کښې خلاصه کړې ده، بلکې تاسو خپله دینداري د الله ﷻ په ټولو احکامو کښې ښکاره کړئ. نو:

۱ـ د ټولو څخه وړاندې د وژل شوو د بدل اخستلو په هکله مساوات وکړئ. یعني قصاص باید صرف په قاتل پورې منحصر کړئ. برابره خبره ده چې هغه اصیل وي او که کم اصل وي، ښځه وي او که نارینه وي.

د اهل کتابو په شان مه کوئ چې هغوی د قاتل په عوض غیر قاتل وژني. مثلاً که د قاتل کورنۍ کمزورې وه نو د اصیل په عوض کم اصل وژني او د نارینه په عوض ښځه وژني. بالمقابل که د مقتول کورنۍ کم اعتباره وه نو د کم اصل په عوض اصیل او د زنانه په عوض نارینه وژني. که دا کار مو وکړ نو وفا بالعهد به مو څرګنده شي ځکه چې دا ټول د اسلام عهدونه دي او عمل ورباندې فرض دی.

۲ـ هو! کوم یو قاتل ته چې د وژل شوي ورور د وارثانو د پلوه لږ څه عفوه هم وکړه شي چې ټول وارثان ورته د قصاص څخه تیر شي او یا ورته یو کس عفوه وکړي، نو په دې صورت کښې:

الف. په وارثانو باندې لازمه ده چې قصاص پسې ونه ګرځي او صرف هغه شي پسې هلې ځلې وکړي چې په شرعه کښې پیژاندل شوی دی، چې هغه دیت دی.

یعني په دې صورت کښې دې دیت وغواړي که چرته یې عفوه په همدې شرط باندې کړې وه او

---

(۱) تفسیر کبیر ج۵ ص۰۵. تفسیر البغوي ج۱ ص۱۴۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بې قیدو شرطه یې عفوه کړې وه بیا دې بالکل د دیت څخه هم تېر شي.

ب: په قاتل باندې لازمه ده چې دیت په ډېر ښه سلوک باندې وارثانو ته وسپاري، ټول وي او که بعضې، لږ ورته ښکاري او که ډېر.

قاتل باید وارثان په تکلیف نه کړي چې نن یې درکوم او سبا یې درکوم. لکه هغوی چې ورسره احسان وکړ او د قصاص څخه ورته تېر شوه نو باید چې دی هم احسان وکړي او د هغوی شکریه وکړي او په احسان باندې یې پښېمانه نه کړي، او هم باید چې د هغوی د عفوې څخه بده استفاده ونه کړي چې تکبر او انانیت یې لا پسې قوي شي او ورته ووایي چې د دیت څخه هم تېر شئ او که نه نو بل کس درڅخه وژنم.

۳ـ دا چې الله ﷻ درته درې لارې جائزې وګرځولې (قصاص، دیت، بالکل عفوه) دا ستاسو دپاره په احکامو کښې تخفیف دی نو د دې تخفیف سره سره باید چې په تعمیل کښې یې نه قاتلین سستي وکړي او نه د مقتول وارثان، او هم د الله ﷻ د پلوه رحمت او مهرباني ده چې باید دواړه جانبه یې مراعات وکړي، نو هر چا یې چې مراعات ونه کړ، یا یې سستي وکړه او یا یې د حده تجاوز وکړ نو هغه به د دردناک عذاب سره مخامخ شي.

۴ـ که وارثان د عفوې یا دیت څخه وروسته قاتل ووژني نو دوی به پرې په دنیا کښې قصاص شي او په آخرت کښې به د دوزخ په عذاب معذب شي. او که قاتل دیت ورنه کړي او یا نور عداوت ښکاره کړي نو په دنیا کښې یې د تعذیب وظیفه اسلامي حکومت ته ورکړه شوې او د آخرت جزا خو یې په مخې کښې ده.

۵ـ د اسلام مخالفین به د قصاص په حکم کښې هم درته ډېرې وسوسې درواچوي او دا به یو وحشې کار وګڼي مګر داسې نه ده، په دې کښې ستاسو دپاره ژوند دی، چې دا حکم عملي کړئ د خپل ژوند په خوند به پوه شئ، لانجه به د قاتل په قصاص باندې ختمه شي، د جانبینو د زړونو څخه به کینه ووځي او د دوستۍ زمینه به برابره شي، خلک به ترې عبرت واخلي، څوک به ناجائز قتل ته اقدام نه کوي او کمزوري خلک به څوک حقیر نه ګڼي او هم به څوک د خپل رسوخ او قوت څخه بده استفاده نه کوي. بالآخره د پیغور خبره به هم بالکل د منځه لاړه شي او د شیطان د شیطانت دروازه به په کلکه وتړله شي.

۶ـ خو په دې فایدو باندې د عقل خاوندان پوهېږي، هغه کسان چې یا بالکل عقل نه لري او یا عقل لري خو خاونده یې په نادانۍ او جهالت وهلي وي، امکان لري چې د هغوی د تشویش څخه خلاص نه شي، مګر تاسو ورته هیڅ التفات مه کوئ او په خپل دین باندې منګولې خښې کړئ چې تقوی مو ورځ په ورځ قوي شي او د دغسې دښمنانو مقاومت وکړی شئ او صبر او حوصله د لاسه ورنه کړئ

که دا کار مو وکړ نو تاسو به رښتیا تقواداران شئ، په قصاص باندې او بلکې په ټولو حدودو باندې به قائم اوسئ او مساهله به پکښې نه کوئ

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د "قصاص" کلمه په لغت کښې متابعت او د بل چا په قدم باندې تللو ته وايي، مګر د مساوات او برابرۍ معنی يې په ضمن کښې پرته ده. د همدې کبله نوسي ته (چې نوکان وربانډې برابر کوي) "مقص" وايي چې دواړه څوا يې سره برابرې دي، او قیصه خوان ته "قصاص" وايي چې باید خبرې يې د واقع سره برابرې وي[۱].

په قصاص باندې ځکه دا نوم ایښودل شوی دی چې د قاتل وژل د مقتول د وژلو سره مساوي او برابر دي: نه پکښې افراط شته چې د قاتل په عوض غیر قاتل ووژل شي، او نه پکښې تفریط شته چې د مقتول وژل هدر او ضائع شي او قاتل يې وربانډې ونه وژل شي.

### د قصاص اخستل د ټولو مؤمنانو وظیفه ده

۲ـ د قصاص د حکم عملي کول د ټولو مؤمنانو فریضه ده. د همدې کبله دوی ټول مخاطب وګرځول شوه، چې ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ الآیة ترڅو د یو پلوه دوی وپوهول شي چې د قصاص اجراء کول د ایمان غوښتنه ده او د چا چې ایمان کمزوری وي هغوی دا حکم نه شي عملي کولی، او د بله پلوه ورڅرګنده شي چې باید ټول مؤمنان د مقتول ملګري او کومکیان وي ترڅو د هر کمزورۍ سره هم وکولی شي چې قصاص واخلي.

مګر ځرنګه چې ټولو مؤمنانو د عمومي مصالحو دپاره د یو مؤمن سره بیعت کړی دی او هغه یې د خپلو ځانو د پلوه وکیل ګرځولی دی نو د مسلمانانو په مشر (اسلامي حاکم) باندې د قصاص اجراء کول فرض دي. د همدې کبله يې ترې په ﴿ كُتِبَ ﴾ سره تعبیر وکړ چې په شریعت کښې د فرضي حکم دپاره استعمالیږي.

### سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې هر کله د قصاص اجراء کول فرض شوه نو باید چې د دیت اخستل بالکل حرام شي. ځکه چې دیت خو هله اخستل کیږي چې د قصاص څخه تنازل وکړی شي.

مونږ وایو چې د قصاص اجراء کول د ټولو مؤمنانو وظیفه ده د همدې کبله هغوی عفوه نه شي کولی او نه دیت اخستلی شي. اما د مقتول په وارث باندې د قصاص اخستل فرض نه دي، عفوه هم کولی شي او دیت هم اخستلی شي. یعنې قصاص د وارثانو حق دی او د مؤمنانو وظیفه ده.

په همدې مطلب باندې لاندې دوه دلیلونه دلالت کوي:

الف. په همدې ایت کښې د ﴿ فَمَنْ عُفِىَ لَهُۥ مِنْ أَخِيهِ شَىْءٌ ﴾ کلمات نازل شوي دي، نو معلومه شوه چې فرضیت يې په عدم عفوې باندې مقید دی.

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۴۹، تفسیر المنار ج۲ ص۱۲۵

(۲) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۱۹۵، تفسیر القاسمي ج۳ ص۵۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د مقتول د وارث په باره کښې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا ﴾ [الإسراء:۳۳] يعنې: بې شکه د مقتول وارث کومک کړی شوی دی چې الله ﷻ هم ورسره کومک کوي او د ټولو مؤمنانو وظيفه هم صرف کومک دی او بس. داسې نه ده چې که خوشاله وي او که خپه قصاص به اخلي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په ټولو مؤمنانو کښې خو قاتل هم داخل دی لکه په ﴿ مِنْ أَخِيهِ ﴾ کښې چې ورته اشاره شوې ده او الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾ [الحجرات: ۱۰] يعنې: بې شکه ټول مؤمنان ورونه دي، ترڅو يې چې د مسلمان قتل حلال نه وي ګڼلی نه کافر کېږي.

نو ايا په قاتل باندې هم د ځان وژل فرض دي؟

مونږ وايو چې: هو! په قاتل باندې فرض ده چې خپل ځان قصاص کولو ته تسليم کړي، او فرار ترې ونه کړي؛ لکه چې ماعز ﷺ د زنا حد (رجم) ته خپل ځان تسليم کړی وه[1].

## ايا اصيل په کم اصل او يا سړی په ښځه قصاص کېدلی شي؟

۵_ که څه هم په ايت شريف کښې د مثال په توګه اصيل په اصيل، کم اصل په کم اصل، او ښځينه په ښځينه باندې د قصاص کېدلو حکم ذکر شوی دی، مګر حکم عام دی. لاندې ټولو صورتونو ته هم شامل دی:

الف: چې قاتل اصيل وي او مقتول غلام وي، او يا بالعکس قاتل غلام وي او مقتول اصيل وي.

ب: چې قاتل نارينه وي او مقتول زنانه وي، او يا بالعکس قاتله زنانه وي او مقتول نارينه وي.

نو د نارينتوب يا حريت صفات په قصاص باندې څه تاثير نه غورځوي. لکه رنګ، علم، صحت، روغوالی چې عيب ونه لري او يا داسې نور صفات چې څه اثر نه لري. هو! موثر يوازې ايمان دی او بس، چې په کافر باندې مؤمن نه وژل کېږي.

په همدې مطلب باندې لاندې دوه دلايل دلالت کوي:

الف: الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ ﴾ [المائدة: ۴۵] يعنې: په يهودانو باندې مو په تورات کښې فرض کړي وه چې يو نفس دې په بل نفس باندې قصاص کړی شي. او قانون دا دی چې د پخوانيو کتابونو حکم مونږ ته تلاوت شي او رد نه کړی شي، لکه دلته چې نه دی رد کړی شوی؛ نو هغه زمونږ دپاره هم حکم وي.

نو هر کله چې دلته صرف نفس په نفس سره ښودل شوی دی او د ذکورت او انوثت، او هم د حريت او عبديت هيڅ قيد نشته نو معلومه شوه چې په دې ايت شريف کښې چې اوس د بحث لاندې دی هم څه تقييد نشته.

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۷۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْمُسْلِمُون تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ»[۱] يعنې: د مسلمانانو وينې سره يو تر بله سيالې دي يعنې يو تر بله سره قصاص کېږي.

چې دلته هم صرف د ايمان وصف ښودلی شوی دی او بس.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: اهل الذمه کافر چې د مؤمن د لاسه قتل کړی شي، وربانديې قصاص کېدلی شي او که څنگه؟

مونږ وايو چې: د ځينو علماوو کرامو په نزد وربانديې نه شي قصاص کېدلی خکه چې مقتول ايمان نه لري کافر دی او نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْمُؤْمِنُونَ تَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ أَلَا لَا يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ وَلَا ذُو عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ»[۲] يعني: د مؤمنانو وينې سره يو تر بله سيالې دي، دوی په نورو بانديې يو قوت دی، د دوی د هر کمزوری هم کافرانو ته امان ورکولی شي. اگاه اوسی! مؤمن دې په کافر بانديې ونه وژل شي او نه دې د عهد خاوند په خپل عهد کښې ووژل شي.

مگر د امام أبو حنيفه رحمه الله عليه او د ځينو نورو علماؤ کرامو په نزد بايد چې په اهل الذمه کافر مقتول بانديې مسلم قاتل قصاص شي. خکه چې:

الف: اهل الذمه کافرانو خو د همديې دپاره جزيه منلې ده چې اسلام يې د سر او مال د حفاظت تضمين کوي، که د هغوی وينه د مسلمانانو د وينې په شان ونه گڼله شي نو دا به يو ډول خيانت وي او د «وَلَا ذُو عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ» څخه به مخالفت وي.

هو! د ذکر شوي حديث د «أَلَا لَا يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ» د وړانديې او ببرته څخه څرگنديږي چې د کافر څخه د اهل الذمه وو څخه په غير بل کافر مطلب دی، نه اهل الذمه کافر.

ب: په حدودو او معاملاتو کښې اهل الذمه د مسلمانانو په شان گڼل کېږي[۳].

## پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وايي چې: ايا په يو مقتول بانديې ډېر کسان قصاص کېدلی شي که چېرې دوی ټول په قتل کښې شريک وي؟

مونږ وايو چې: هو، قصاص کېدلی شي لکه عمر ﷺ چې د صنعاء په ښار کښې په يو سړي بانديې پنځه يا اوه نفره قصاص کړه او بيا يې وفرمايل چې: «لَوْ تَمَالَأَ عَلَيْهِ أَهْلُ صَنْعَاءَ لَقَتَلْتُهُمْ جَمِيعًا»[۴] يعني: که د صنعاء د ښار ټول اوسېدونکي وربانديې راغونډ شوي وی نو ټول به مې وژلي وی.

---

(۱) سنن ابي داود ج۲ ص۲۶۷
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۲۶۷
(۳) التفسيرات الأحمدية ص۵۱
(۴) موطا الإمام مالک ص۵۲۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د قصاص په سقوط کښې د عفوې اثر

۸_ د قصاص د سقوط دپاره که بالفرض د یو زر حقدارانو وارثانو څخه یو کس عفوه وکړي هم قصاص ورباندې ساقطېږي. ځکه چې په عفوه باندې که څه هم ډېره کمه عفوه وي شبهه پیدا کېږي او په حدودو کښې شبهه د اجراء مخه نیسي[۱]

برسېره په دې پخپله ایت شریف کښې هم په همدې مطلب باندې لاندې دلایل شته.

الف. په عفوه کښې مجهوله صیغه «عُفِيَ» ذکره شوې ده، که یو کس هم عفوه وکړي د "عُفِيَ" مجهوله صیغه تحقق مومي. که بالفرض "عَفَی" معلومه نازله شوې وی نو بیا به ضرور عفوه کوونکي تعین شوي وی چې ټول وارثان دي، نو د یو وارث په عفوه به قصاص نه وی ساقط شوی.

ب. عفوه د "شَيْءٌ" په کلمه باندې تعبیر شوې ده چې ډېرې لږې عفوې ته هم عفوه ویلی شي.

## په کوم یو قتل باندې قصاص لازم دی؟

۹_ که څه هم په دې ځای کښې مونږ د فقهې ټول احکام نه شو رانقلولی مګر فقط همدومره لیکو چې ناجائز قتل لاندې اقسام او ډولونه لري:

الف: قتل عمد: د هغه قتل نوم دی چې بالغ سړی په قاتله آله باندې قصداً یو مسلمان یا اهل الذمه کافر ووژني، چې په ټوپک، توره، زهرو، تیږه او یا بل داسې شي باندې دا عمل سرته ورسوي چې د هغه سره ژوند عادةً ختمېږي. لکه په اور کښې اچول او یا په اوبو کښې غرقول.

ب: قتل شبه عمد: د هغه قتل نوم دی چې وړاندې صفتونه پکښې ټول موجود نه وي. مثلاً په سوک، څپېړه باندې څوک ووژل شي او داسې نور.

ج: قتل خطا في القصد: د هغه قتل نوم دی چې قاتل په قصد کښې خطا شي. مثلًا د ښکار په ګومان مسلمان مړ کړي چې په دې پوه نه وي چې نوموړی انسان دی.

د: قتل خطا في الفعل: د هغه قتل نوم دی چې قاتل ښکار او انسان پېژني او په ښکار باندې ډز وکړي خو ښکار بچ شي او انسان پرې مړ شي. او یا یې انسان د سره نه وي لیدلی او یوازې ښکار ګوري مګر مرمۍ یې په انسان باندې اصابت وکړي.

هـ: قتل شبه خطا: دا د هغه قتل نوم دی چې بې ارادې د چا څخه څوک ووژل شي. مثلاً د خوب په حالت کښې مور ماشوم لاندې کړي. او یا د لوړ بام څخه په چا باندې څوک راولوېږي او هغه مړ شي.

و: قتل بالتسبیب: دا هغه قتل ته وایي چې سړی د قتل سره څه عملي ارتباط ونه لري خو د قتل سبب ګرځېدلی وي. مثلاً څوک چرته کوهی وکني او کوم وخت پکښې بل څوک ولوېږي او مړ شي.

د دغو ټولو قتلونو څخه یوازې په اول ډول کښې قصاص لازمېږي او بس.

---

(۱) فتح القدير شرح الهداية ج۵ ص۲۴۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## جائز قتلونه څو ډوله دي؟

۱۰_ جائز قتلونه هم لاندې ډولونه لري:

الف: د قصاص قتل، چې بل مسلمان یا اهل الذمه کافر یې وژلی وي.

ب: د زاني قتل (رجم)، چې _العیاذ بالله_ زنا یې کړې وي او محصن وي.

ج: د هغه مسلمان قتل چې د حربي کافرانو سره همکاري کوي که څه هم پخپله نه وي کافر شوی. مثلاً په روان جهاد کښې چې څوک کمونستانو ته د مجاهدینو جاسوسي کوي او د وسلې په نوعیت او مقدار باندې یې خبروي او داسې نور کارونه ورته کوي.

د: هغه مسلمان چې د ذکرو شوو حربي کافرانو سره د جنګ په میدان کښې په خپله خوښه ولاړ وي او یا په زور ودرول شوی وي، مجاهدینو ته یې وژل روا دي او نور کار یې د الله ﷻ سره دی.

ه: په څمکه کښې د مفسدانو قتل. لکه د غلو، قطاع الطریقو (لارې شکوونکو) او داسې نورو.

و: د مرتد قتل، چې _العیاذ بالله_ د اسلام څخه واوړي (کافر شي).

## په یاد ولرئ!

۱۱_ په یاد ولرئ چې د ارتداد دپاره دا ضرور نه ده چې د کلمې څخه منکر شي او د "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ" څخه انکار وکړي، بلکې د اسلام د هر یو قطعي حکم څخه چې انکار وکړي او یا د اسلام هر یو حکم سپک وګڼي او مسخرې ورباندې وکړي پرې کافر کېږي که څه هم کلمه وایي.

په افغانستان کښې چې مونږ ګورو د خلقیانو او پرچمیانو (کمونستانو) د کفر او ارتداد دپاره فقط همدا خبره هم بس ده چې هغوی کمونیزم په اسلام باندې وړاندې ګڼي او ورته معزز ښکاري او اسلام ورته سپک ښکاري. دوی وایي چې اسلام سړی په ګېډه نه شي مړولی او کور، کالي، ډوډۍ چاته نه شي ورکولی او کمونیزم یې ورکولی شي نو د اسلام څخه کمونزم بهتر دی، العیاذ بالله.

دا هم په یاد ولرئ چې مرتد کافر په کلمه ویلو او د لمانځه په کولو او یا د روژې په نیولو نه مسلمانېږي ترڅو چې د هغې منحرفې عقیدې څخه بېرته اسلام ته راوا نه وړي په کومې باندې چې کافر شوی دی. نو باید چې مجاهدین د ډاکتر نجیب او نورو کمونستانو په کلمو باندې ونه غولېږي.

## ایا قصاص د الله ﷻ رحمت دی؟

۱۲_ د قتل په باره کښې د تورات حکم قصاص وه او د انجیل حکم عفوه وه[1]، الله ﷻ په قرآن کریم کښې د مسلمانانو دپاره په دې باره کښې درې لارې وښودلې:

الف: قصاص.

ب: دیت (خون بها).

ج: عفوه.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۲۴۴: التفسیر الکبیر ج۵ ص۰۰: تفسیر البغوي ج۱ ص۱۴۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو کله چې الله ﷻ د مقتول په وارثانو باندې قصاص لازم ونه ګرځاوه او نورې دوه لارې يې هم ورته پرانستلې نو معلومه شوه چې دا د الله ﷻ د پلوه لوی تخفيف او لوی رحمت دی، په خينو وختونو کښې او هم ځينې وارثان د قصاص څخه ديت او عفوې ته ترجيح ورکوي. مثلاً د سړي يو زوی بل زوی قتل کړي، نو پلار ته يې کله ناکله عفوه واره داره ښکاري خصوصاً لا په هغه وخت کښې چې پخپله بوډا وي او دريم زوی هم ونه لري.

همدارنګه امکان لري چې د ځينو مقتولينو وارثانو ته د اقتصادي بحران په وخت کښې ديت واره دار ښکاره شي، که د تورات او انجيل په شان يوه لاره متعينه او فرض وی نو د ذکر شوو استفادو مخه به بنده وی.

## ايا په قصاص کښې ژوند دی؟

۱۳_الله ﷻ په ډېره بليغه او جامعه جمله ﴿ وَلَكُمْ فِي ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ ﴾ کښې د قصاص حکمتونو ته اشاره کړې ده. دا ځکه چې الله ﷻ په دې پوهېده چې د قصاص په باره کښې به د اسلام دښمنان ډول-ډول تشويشونه او اعتراضونه وړاندې کړي او په همدې قانون باندې به د وحشي قانون نوم کېږدي، لکه چې همدغه خبره موږ د انګلستان د راديو (BBC) څخه واورېدله.

نو الله ﷻ خلک يو ځل ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ د مؤمنانو په نامه، او بل ځل ﴿ يَـٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَـٰبِ ﴾ د هوښيارانو په نامه باندې د قصاص عملي کولو ته دعوت کړه؛ ترڅو دوی د ايمان په قوت او د عقل په رڼا باندې د مخالفينو د تشويشاتو په مقابل کښې مقاومت وکړی شي.

موږ هم د قصاص د حکمتونو پوره بيان هوښيارانو ته سپارو يوازې د مثال په ډول لاندې څو حکمتونه ليکو:

الف: وحشيان خو هغه خلک دي چې په جنايتکار قاتل باندې ترحم کوي او په بې ګناه مظلومانو مقتولينو باندې يې زړه نه سوزي، که په يوه مقتول باندې قاتل ووژل شي نور مظلومان به ژوندي پاتې شي.

ب: کله چې يو قاتل قصاص شي نو نور ظالمان به ترې عبرت واخلي او د مظلوم وژلو ته به قصد نه کوي چې په نتيجه کښې به پخپله هم ژوندی پاتې شي او بل مظلوم به هم ونه وژل شي.

ج: په قصاص سره به د وژلو سلسله فقط په دوه کسانو (قاتل او مقتول) باندې ختمه شي او داسې اوږدوالی به ونه کړي چې په کلونو کلونو دوام وکړي او په زرګونو خلک پکښې د جانبينو څخه مړه شي. لکه چې همداسې عادت په جاهليت کښې جاري وه[1].

د: برسېره په دې لکه چې په قصاص کښې دنياوي ژوند شته، د آخرت ژوند هم پکښې نغښتی دی. چې په دې تقدير باندې د متخاصمو ډلو لاسونه يو تر بله په وينو نه سره کېږي او د دوزخ د اور څخه نجات پيدا کوي.

---

[1] تفسير القرطبي ج۲ ص۲۵۶؛ التفسير الكبير ج۵ ص۶۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ﻫ: که قاتل په مقتول باندې قصاص نه کړی شي او مطمئن شي، نو هغه نورو قتلونو ته لاس اچوي او حتی په آخر کښې داسې حالت ته رسېږي چې د وژلو څخه خوند او لذت اخلي. لکه چې همدا خبره د اوسني جهاد په جریان کښې مونږ ته په تجربه ثابته شوي ده.

په دې باره کښې د [البقرة: ۷] ایت لاندې نور معلومات هم لیکلی شوي دي، والحمد لله ﷻ.

## افغانستان او قصاص

۱۴_ په افغانستان کښې چې لا وسلوال جهاد نه وه پیل شوی په ټولو افغانانو او په تېره بیا په پښتنو کښې د قصاص د نه عملي کولو د کبله د یوه سړي په قتل سره په زرونو نور خلک وژل شوي دي، هر یو طرف به د مقابل لوري څخه د قدر او عزت سړی واژه که څه هم هغه به قاتل نه وه، په کلونو-کلونو به یې روغه نه کېدله او د دواړو جانبو ژوند به تریخ وه او ازاد به نه شوه ګرځېدلی او د کوره به نه شوه وتلی، تا به ویلې چې ټول مړه دي.

خو الحمد لله! د جهاد د پیل سره ټول، مجاهدین ګرځېدلي دي او پخوانی بدۍ او لانجې یې د پښو لاندې کړې دي. هو! په سلو کښې یو یا دوه کسه به په پخواني جهالت باندې روان وي چې ټولو خلکو ته بد ښکاري او په کرکه ورته ګوري.

الله ﷻ ته امید کوو چې په افغانستان کښې اسلامي حکومت قائم کړي چې حدود جاري کړي ترڅو افغانان بېرته د جهالت عادتونو ته ورتاو نه شي.

﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا ٱلْوَصِيَّةُ لِلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٨٠﴾ فَمَنۢ بَدَّلَهُۥ بَعْدَمَا سَمِعَهُۥ فَإِنَّمَآ إِثْمُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٨١﴾ فَمَنْ خَافَ مِن مُّوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨٢﴾ ﴾

[۱۸۰] په تاسو باندې په هغه وخت کښې چې ستاسو یو کس ته مرګ حاضر شي فرض کړی شوې ده که چېرې مال یې پرېښوده (درلوده) چې مور او پلار او نورو خپلوانو ته په انصاف (عدل) سره په هغه باندې وصیت وکړي، دا په متقیانو باندې حق دی.

[۱۸۱] نو څوک یې چې د هغه څخه وروسته تبدیل کړي چې ښه یې اورېدلي وي (هرڅوک چې وي وصي وي او که شاهد) نو بې شکه د تبدیلي ګناه یې په هغو کسانو باندې ده چې (وصیت یې) تبدیل کړی دی.

بې شکه الله ﷻ اورېدونکی دی (د موصي وصیت یې اورېدلی دی) او پوه دی (چا چې تغییر کړی دی هغه ورته معلوم دی).

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۸۲] نو هغه څوک چې د موصي څخه په سهوې خطا او یا قصدي خطا باندې پوه شي (او د جګړې خطر څخه وډار شي) نو د جګړمارانو په منځکښې اصلاح وکړي (وصیت تغییر کړي) نو په هغه باندې څه ګناه نشته. بې شکه الله ﷻ بښونکی او مهربان دی.

## ارتباط

دلته د ښه اطاعت یو بله نمونه بیانېږي، البته د وړاندې سره یې ارتباط دا دی چې کله په یو قاتل باندې د قصاص حکم وکړی شي نو هغه داسې ګڼل کېږي لکه مرګ چې ورته حاضر شوی وي. نو هغه ته په کار دي چې په همدې حال کښې هم د الله ﷻ اطاعت هېر نه کړي او د خپل مال د توزیع په باره کښې هغسې توصیه وکړي څنګه چې الله ﷻ ورته امر کوي، او د هغسې توصیي څخه ځان وساتي چې هغه د کافرانو او د بې دینو خلکو عادت دی.

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای مؤمنانو! په هیڅ حالت کښې د الله ﷻ اطاعت مه هېروئ که څه هم تاسو ته مرګ حاضر شي او یقین مو راشي چې نور پاتې کېدونکي نه یاستو، نو لکه د صحت په وخت کښې مو چې محبوب مال په خپلوانو او یتیمانو او نورو باندې مصرفاوه همدارنګه د مرګ په حالت کښې هم د مور او پلار او نورو خپلوانو حق مه هېروئ او په وصیت سره یې راژوندی کړئ، ترڅو د ځنکدن په حالت کښې هم د لوی اطاعت (یړ) څخه بې برخې نه شئ او ترڅو ستاسو د مرګ څخه وروسته هم تاسو د ابرارو څخه وشمېرل شئ.

۲ـ مګر دغه وصیت په معقوله طریقه وکړئ او د انصاف او عدل مراعات باید پکښې وساتئ. که څه هم دا کار د هر مؤمن فریضه ده مګر په دیندارو او تقوادارانو باندې لازمه ده چې عملي یې کړي او د خولې په وینا اکتفاء ونه کړي.

۳ـ هو! که تاسو په انصاف سره وصیت وکړئ او خپله غاړه خلاصه کړئ او بیا پکښې بل څوک (لکه شاهدان او یا هغه څوک چې هغه ته د وصیت چارې سپارل کېږي) بې انصافه تبدیلي راولي، نو هغه ستاسو مسئولیت نه دی، هغوی پوهېږي او ګناه یې، ستاسو غاړه خلاصه شوه، الله ﷻ ستاسو وصیت هم اوري او د هغوی په تبدیل باندې هم پوهېږي.

مګر په دا یو صورت کښې د وصیت د تبدیلولو باک نشته، چې وصیت کوونکی قصداً او یا سهواً غلط وصیت وکړي چې د مستحقینو مراعات یې پوره نه وي ساتلی او د وارثانو په منځکښې سره جارو جنجال جوړ شي. نو که څوک یې اصلاح وکړي او نزاع یې د منځه یوسي په هغه باندې څه ګناه نشته که وصیت تغییر وخوري هم څه باک یې نشته، الله ﷻ خو بښونکی دی که د چا څخه په اصلاح کښې څه خطائي پېښه شي هغه به ورته وبښي، او مهربان دی د ټولو مشکلاتو د حل لارې چارې درته بیانوي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ ـ په دې کښې خو شک نشته چې دغه ایتونه د میراث د ایتونو څخه پخوا نازل شوي دي[۱] په هغه وخت کښې د خلکو دود او دستور وه چې کله به مړ کېده نو خپل مال به یې د وصیت په ذریعه باندې وېشه. او په وصیت کښې به یې د مال مستحق کسان لکه مور او پلار او نور اقارب پرېښوده او د ریاکارۍ او افتخار دپاره به یې پردیو او لرو خلکو ته وصیت کاوه. برسېره په دې څه مال به چې د وصیت څخه پاتې شو هغه به هم صرف نارینه بالغو زامنو ته ورکول کېده؛ دوی به ویلې چې د مېراث هغه څوک مستحق دی چې جنګ کولی شي او توره وهلی شي، ماشومان اولادونه او مور او پلار به د مېراث څخه محروم وه[۲].

نو الله ﷻ په مؤمنانو باندې فرض کړه چې د مرګ په وخت کښې وصیت وکړي خو چې مور او پلار او نور خپلوان هېر نه کړي. نو په دې حکم باندې یې د جاهلیت د زمانې د بدو عاداتو او رواجونو مخه ونیوله او هغه یې د منځه یووړه، مګر څرنګه چې د یو طرفه د مرګ په حالت کښې د سړي فکر پوره برابر نه وي او د بل طرفه هرڅوک دومره بصیرت نه لري چې مستحق کسان په خپل خپل حق ورسوي او هر چاته مناسبه برخه ورکړي، نو د بېرته پاتې کسانو په منځکښې به سره همېشه دعوې او دنګلې پېښېدلې او د هر مړي په وصیت کښې به اختلاف وه، کله د شاهدانو په شهادت کښې، کله به ځینې مستحق کسان پرېښودل شوي وه او غیرو مستحقو کسانو ته به وصیت کړی شوی وه. او بالآخره کله به د وصیت په اندازه کښې تغییر پېښ شوی وه، بلکې هره یوه ترکه به په بېل بېل ډول باندې وېشله کېده. نو الله ﷻ د دې ټولو لانجو د مخنیوي دپاره د مړي میراث پخپله تقسیم کړ او په دې عوض چې مړی وصیت وکړي الله ﷻ پخپله توصیه او امر وکړ. لکه چې فرمایي: ﴿ یُوصِیکُمُ ٱللَّهُ ﴾ [النساء:۱۱] یعنې: الله ﷻ تاسو ته کلک حکم کوي.

لنډه دا چې الله ﷻ مؤمنانو ته وروښودله چې دا کار ستاسو د لاسه پوره نه دی او هر مستحق ته خپله برخه پوره نه شئ ټاکلی، نو مستمر او دائمي قانون یې نازل کړ چې د قیامت د ورځې پورې د ترکاتو ټولې مربوطې لانجې پرې کړي.

په همدې تېر شوي مضمون باندې لاندې حدیث شریف هم دلالت کوي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَدْ أَعْطَى كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ فَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ»[۳] یعنې: بې شکه الله ﷻ هر حقدار ته حق ورکړ نو وارث ته هیڅ وصیت نشته.

دغه حدیث ټول امت په عملي شکل قبول کړی دی او عملاً متواتر او د معنی په لحاظ مشهور دی چې یوازې په همدې حدیث باندې هم د کتاب الله نَسخه جواز لري[۴].

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۵۴
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۴۵۴، الجواهر للطنطاوي ج۱ ص۱۷۱
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۳۲
(۴) روح المعاني ج۲ ص۵۴، التفسیرات الأحمدیة ج۱ ص۵۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: وروستنی ايت خو هله د لومړي ناسخ ګرځي چې د دواړو ايتونو احکام سره ضديت ولري، او په دې مقام کښې خو امکان شته چې په همدې ايت شريف کښې داسې تفسير واخلو چې د [النساء: ۱۱] ايت سره څه ضديت ونه لري. لکه ځينو مفسرينو کرامو چې همدغسې تفسير کړی[1]. هغه دا دی چې: په تاسو باندې -چې کله درته مرګ حاضر شي او څه مال هم لرئ- داسې وصيت کول فرض دي چې هغه ته الله ﷻ په ﴿ يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡ ﴾ الآية کښې اشاره کړې ده. نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې هر څوک چې مړ کېږي په هغه باندې اوس هم فرض ده چې په هماغه ډول باندې وصيت وکړي لکه د ميراث په ايتونو کښې چې بيان شوی دی.

نو د دواړو ايتونو مضامين خو يو د بل تائيد واقع شو او نسخه رانغله.

مونږ وايو چې: دغسې تفسير کول بالکل سهوه او خطا ده. ځکه چې:

الف: کله چې الله ﷻ د ميراث ايتونه نازل کړه نو د ميراث قانون وټاکل شو که څوک ورباندې وصيت وکړي او که يې ونه کړي هغه بايد عملي شي، بلکې د ميراث د قانون عملي کول د ژونديو کار دی د مړي وصيت ورباندې څه خاص تاثير نه اچوي.

ب: دا تفسير په هغه وخت کښې ممکن وه چې د ميراث ايتونه د وصيت په دې ايتونو باندې چې اوس پکښې بحث کوو وړاندې نازل شوي وی. نو په ﴿ ٱلۡوَصِيَّةُ ﴾ کښې به همغه وصيت ته اشاره شوې وی چې ﴿ يُوصِيكُمُ ﴾ ورباندې اشتمال لري، خو چې وروسته نازل شوی دی او سابق معهود نشته نو دا تفسير هم صحت نه لري.

د: د همدې ايتونو څخه څرګندېږي چې د مړي په وصيت کښې د تبديل او تغيير امکان هم شته، ﴿ بَدَّلَهُۥ بَعۡدَمَا سَمِعَهُۥ ﴾ الآية او د ميراث په ايتونو کښې خو څوک د تغيير او تبديل توان نه لري هغه خو په متواتر قرآن سره ثابت دی، او نه پکښې چاته د جګړې حق شته چې اصلاح ته يې حاجت پاتې شي نو دا مضمون د هغو ايتونو د مضمون سره ضديت لري.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ميراث په ايتونو کښې خو وصيت بالکل نه دی حرام کړی شوی چې دا ايتونه ورسره منافي شي او د مجبوريت د کبله په نسخه باندې قائل شو. هلته الله ﷻ فرمايلي دي چې ﴿ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ ﴾ [النساء: ۱۱] يعني: وارثانو ته دې ذکر شوې برخې د هغه څخه وروسته ورکړی شي چې وصيت او دَين (قرض) ترې اداء کړی شوی وي.

نو دلته به يې د معنی حاصل داسې شي چې: د هغو خپلوانو دپاره چې په ميراث کښې برخه نه لري او يا د هغو مور او پلار دپاره چې هغوی کافر وي او په ميراث کښې برخه نه شي وړی په تاسو

[1] تفسير القاسمي ج ۳ ص ۷۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې وصيت کول فرض دي. لکه چې ځينو مفسرينو کرامو همداسې تفسير کړی دی[۱].

مونږ وايو چې: دغه تفسير هم صحت نه لري. ځکه چې:

الف: وصيت کول خو بل شی نه دی غير د دې نه چې سړی خپل مال غير وارث ته تبرع او بخشش کړي. نو که د غير وارث دپاره وصيت کول فرض شي نو معنی به يې داسې شي چې غير وارث هم حقدار دی. حال دا چې په ذکر شوي حديث شريف کښې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: الله ﷻ هر يو حقدار ته حق ورکړ او برخې يې ورته د ميراث په ايتونو کښې وټاکلې. نو که غير وارث حقدار وی نو د هغه حصه به هم الله ﷻ ټاکلې وی.

نو معلومه شوه چې هغوی حقداران نه دي او وصيت کول ورته فرض نه دي.

ب: الله ﷻ چې وصيت کول غير وارثانو ته جائز ګرځولي دي، د دې دپاره چې يو مالدار د خپل عمر په آخرنی لحظه کښې هم د خپل مال د څه برخې د تصرف حق ولري ترڅو يې هغو کسانو ته چې مالدار ته ضرور ښ... ي او په ميراث کښې برخه نه لري، ورکړي. لکه:

اول: چې يو دوست او انډيوال يې وي او غواړي چې د خپل مال څه برخه هغه ته ورکړي خو هغه قانوني وارث نه وي.

دوهم: که د سړي په خپلوانو کښې څوک داسې وي چې ميراث نه شي وړی خو د مالدار زړه يې غواړي چې هغه بې برخې پاتې نه شي، لکه يتيم لمسی؛ ځکه چې که د سړي زامن ژوندي وي لمسی يې ميراث نه شي وړی او بالکل محروم پاتې کيږي، نو همدغه يوه لار د وصيت ده چې د لمسيانو سره پرې خواخوږي کولی شي.

## "بِالْمَعْرُوف" څه معنی؟

۴ـ ځينو مفسرينو کرامو په همدې ايت کښې ـچې اوس پکښې بحث کوو ـ د ﴿ بِٱلْمَعْرُوفِ﴾ د کلمې داسې معنی کړې ده چې وصيت بايد د ثلث ($\frac{1}{3}$) د متروکې څخه اضافه نه وي[۲].

مګر مونږ ته دغه معنی کول په دې مقام کښې بالکل سهوه ښکاري. او دا ځکه چې دا ايت شريف خو ټول مال په وصيت باندې توزيع کوي په دې وخت کښې خو د وېشلو بله لاره نه وه، نو په دې تفسير باندې د متروکې متباقي دوه برخې ($\frac{2}{3}$) بې سرنوشته پاتې کيږي چې په "بالمعروف" کښې شاملې نه دي.

ښه دا ده چې د "بالمعروف" تفسير په عدل او انصاف سره وکړو. يعني داسې وصيت دې باندې فرض دی چې بې عدلي ونه کړئ. لکه چې د بې عدلۍ مثال په لاندې حديث کښې شرحه شوی دی[۳]:

يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته يو صحابي راغی چې بشير ﷺ نوميده او ورته يې وويلې چې: ته شاهد اوسه چې ما خپل دغه يو زوی ته دا يو اوښ وبانښه.

---

(۱) تفسير الطبري ج۲ ص۶۹
(۲) تفسير القرطبي ج۲ ص۲۶۷
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۳۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ: بل زوى لري؟

بشير ﷺ: هو، لرم يې.

۱ نبي كريم ﷺ: هغوى هر يوه ته دې د دې زوى په څېر يو-يو اوبښ ښبنلى دى؟

بشير ﷺ: نه، هغوى ته مې نه دى ښبنلي.

نبي كريم ﷺ: نو ما شاهد مه ګرځوه ځکه چې زه په جوَر او ظلم باندې نه شاهد کېږم.

## د وصيت دائمي حكم

۵ـ د وصيت دائمي حكم چې د قيامت تر ورځې پورې باقي دى، دا دى چې:

الف: څوک چې په ميراث کښې د برخې خاوندان دي هغوى ته وصيت کول جواز نه لري.

ب: څوک چې په ميراث کښې برخه نه لري هغوى ته وصيت کول جواز لري خو دا پکښې شرط ده چې وصيت بايد د متروکې (ټول مال) د درېمې حصې څخه زيات نه شي.

که د درېمې برخې څخه اضافه وه نو د وصيت نافذ ګرځول په وارثانو پورې اړه لري ځکه چې متباقي مال د وارثانو حق دى، که هغوى يې نافذ نه کړي نو په اضافه کښې يې وصيت باطل دى.

## يادونه

۶ـ په خپنو وختونو کښې په سړي باندې د ترکې څخه په غير په نورو موضوعاتو کښې وصيت کول فرض ګرځي[1]. مثلًا:

الف: چې په چاباندې يې حق وي بايد هغه واضحه کړي چې په فلاني باندې مې دومره او دومره حق دى.

ب: چې د چا ورباندې حق وي بايد هغه خپلو وارثانو ته په څرګنده توګه توصيه کړي چې حقدار ته يې ورکړي.

## سوال جواب

۷ـ که مديون په دَيْن باندې وصيت وکړي، ايا د قيامت په ورځ د دَيْن د مسئوليت څخه خلاصېږي؟

مونږ وايو چې: هو! خلاصېږي، په دې شرط چې د حرامو دپاره نه وي پورورى شوى. او د ضرورياتو دپاره يې په ځان باندې دَيْن اړولى وي[2]. مګر که د دَيْن خلاصولو توان يې درلود او ناحقه يې ټال کړى وه نو د ناحقه ټال کولو پوښتنه به ترې وشي.

## دلته د "خَافَ" معنى څه ده؟

۸ـ "خوف" هغه حالت ته وايي چې سړي ته په داسې وخت کښې عارضېږي چې د يو شر او ناكاره شي د واقع کېدلو خطر ورسره پيدا شي، چې مونږ ترې په وېره او ډار سره تعبير کوو.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۲ ص۲۶۰

(۲) روح المعاني ج۲ ص۵۵: تفسير القرطبي ج۲ ص۲۶۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د همدغه مضر او ضررناک شي واقع کېدل کله-کله د سړي په ګومان او خیال کښې تېرېږي چې دا به واقع شي، او کله وربانديې د سړي یقین او علم وي. یعنې د خَوف سره په خطرناک شي باندې ظَنْ (ګومان) او یا علم لازم دی.

نو د همدې کبله د خوف کلمه کله-کله په همدې لازم "لا یَنْفَكّ" یعنې علم یا ګومان کښې هم استعمالېږي لکه چې وایي "أَخَافُ السَّمَاءَ أَنْ تُمْطِرَ" ډارېږم چې اسمان به ووریږي. یعنې زما علم او یا ګومان دی چې باران کېږي.

په دې مقام کښې د "خَافَ" کلمه په همدې لازمه معنی کښې استعماله شوې ده، چې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې:

که څوک پوه شو چې وصیت کوونکی په "جنف" (سهوي خطا) او یا په "إِثْم" (قصدي خطا) کښې واقع شوی دی، نو په هغه باندې څه ګناه نشته چې د وصیت کوونکي وصیت ته تغییر ورکړي او وصیت یې داسې اصلاح کړي چې ټول ورباندې راضي شي ترڅو یې ورباندې روغه راشي او شخړه د منځه لاړه شي.

مونږ ځکه دلته "خَوْف" د علم په معنی سره واخست چې دلته خو خطرناک شی یعنې د وصیت کوونکي خطا کېدل واقع شوي دي، د همدې کبله ژوندي خلک سره په جارو جنجال کښې راګیر دي، داسې خو نه ده چې خطرناک شی (په وصیت کښې خطاکېدل) به په راتلونکي کښې واقع کېږي، ځکه چې وصیت کوونکی خو مړ شوی دی بیا خو وصیت نه کوي.

## سوال جواب

۹ـ که څوک وایي چې: که چېرې خطرناک شی (د وصیت کوونکي خطا کېدل) د هغه په ژوند کښې واخستل شي چې سړی پوه شي چې دا دی د ځنکدن په حالت کښې خطا کېږي او غلط وصیت کوي او شرعي وصیت ورتلقین کړي، نو په دې صورت کښې خو "خَوْف" په خپله حقیقي معنی کښې استعمال مومي، نو دغسې معنی یې ولې نه کوئ؟ لکه چې ځینو مفسرینو کړامو کړې ده[1].

مونږ وایو چې: داسې معنی یې ځکه نه کوو چې:

الف: د وړاندې څخه مخالفه ده. ځکه چې وړاندې بحث دا دی چې څوک د وصیت کوونکي وصیت تبدیلوي، هغه ګناهګار دی، او ښکاره ده چې دا صورت هلته تحقق مومي چې وصیت کوونکي وصیت کړی وي، نه هلته چې کړی یې نه وي خو نیت یې ورته وي.

نو معلومه شوه چې وروسته بحث هم په واقع شوي وصیت کښې روان دی، چې په دغه بو صورت کښې یې په تبدیل کښې ګناه نشته چې هغه خطا شوی وي.

ب: وروسته د ﴿ فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ ﴾ کلمه استعماله شوې ده؛ چې د واقع شوي شخړې په اصلاح

(۱) تفسیر الطبري ج۲ ص۷۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې دلالت کوي که بالفرض هغسې وی لکه چې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي، نو د "فاصلحه" کلمه په کار وه چې یوازې د موصي اصلاح ترې معلومه شوې وی، نه د وروسته پاتې خلکو اصلاح

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د ﴿فمن خاف﴾ په ځای "فمن علم یا ظن" ونه ویلې، سره د دې چې په دې صورت کښې به مطلب ښه واضحه بیان شوی وی؟

مونږ وایو ـ والله اعلم ـ چې د وصیت په تبدیل او تغییر باندې په هغه وخت کښې ګناه نشته چې د وصیت غلطي د جګړې سبب ګرځېدلی وي، که جګړه پکښې نه وه او ټول په غلط وصیت باندې راضي وه نو بیا خو یې تبدیل وبال دی، ښه کار نه دی.

نو هغه عبارت چې اعتراض کوونکي وړاندې کړی دی بالکل د دې مطلب تحمل نه شي کولی او کوم عبارت چې الله ﷻ نازل کړی دی د هغه څخه ذکر شوی مطلب تلویحاً او د اشارې په ډول معلومېږي. یعنې: چې د وصیت په غلطۍ پوه شي او د جګړې خوف هم ورسره پیدا شي نو د وصیت تبدیلول باک نه لري.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ
لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ
أَيَّامٍ أُخَرَۚ وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدۡيَةٞ طَعَامُ مِسۡكِينٖۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرٗا فَهُوَ خَيۡرٞ لَّهُۥۚ
وَأَن تَصُومُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١٨٤﴾ شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ
هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ وَمَن
كَانَ مَرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ
ٱلۡعُسۡرَ وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٨٥﴾﴾

[۱۸۳] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په تاسو باندې روژه نیول فرض کړی شوي دي لکه په هغو کسانو باندې چې فرض کړی شوې وه کوم چې ستاسو څخه پخوا تېر شوي دي، شاید چې تاسو تقواداران شئ.

[۱۸۴] په څو شمار کړی شوو ورځو کښې، نو هغه څوک چې ستاسو څخه مریض وي او یا په سفر باندې وي نو (په هغوی باندې) د نورو ورځو څخه د هغو شمار پوره کول (فرض) دی، او په هغو کسانو باندې فدیه ورکول (لازم) دي چې هغوی په مشقت سره روژه نیسي (چې د هرې یوې روژې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره) یوه مسکین ته طعام ورکړي، نو څوک چې په خیر کښې زیادت وکړي نو دا ورته بهتر دی او روژه نیول درته بهتر دي که یاست چې (په خپله ګټه او تاوان باندې) پوهېږئ.

[۱۸۵] (دغه څو ورځې) د رمضان د میاشتې څخه عبارت دي چې په هغې کښې قرآن کریم نازل شوی دی. په داسې حال کښې چې د خلکو دپاره (په اعجاز سره) د الهي لارښوداني څخه لارښودانه ده. او (په معقولیت سره ورته) د (الهي) فرقان څخه څرګند دلائل دي (چې په دوامداره توګه د حق او باطل جدا کوونکي دي).

نو ستاسو څخه چې هرڅوک (نوموړې) میاشتې ته حاضر شي په هغې کښې دې روژه شي. او هغه څوک چې مریض وي او یا په سفر باندې وي (نو په هغوی باندې) د نورو ورځو څخه د هغې شمېر پوره کول (فرض) دي.

(په احکامو کښې) الله ﷻ په تاسو باندې د اسانۍ اراده لري او په تاسو باندې د سختۍ راوستلو اراده نه لري. او (دا خکه) چې تاسو (اقلاً) د روژې شمار (خو) پوره کړئ، او د هغه هدایت په بنا چې الله ﷻ درته کړی دی د الله ﷻ لویي او عظمت څرګند کړئ، او شاید چې تاسو شکر وکړئ (او د شکر روحیه درکښې قوي شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ اسلام په پنځو بناوو باندې ولاړ دی چې: ایمان، لمونځ، روژه، زکات او حج دي. د دې پنځو د جملې څخه دریوو بناوو (ایمان، لمونځ، زکات) ته په [۱۷۷] ایت کښې اشاره شوې ده او یوې بنا (روژې) ته په همدې ایتونو کښې اشاره کېږي.

برسېره په دې، په وړاندینیو ایتونو کښې د قصاص او وصیت بیان وه چې دواړه د مادي مرګ سره ارتباط لري او په دې ایتونو کښې د نفس "اَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ" د وژلو طریقه ښودله کېږي چې هغه روژه نیول دي ترڅو د سرکشه نفس مخه ونیوله شي او د اداري لاندې راوړل شي. نو خلاصه یې داسې راځېږي چې:

۲ـ الله ﷻ دلته یو ځل بیا مسلمانانو ته د مؤمنانو په وصف سره خطاب کوي ترڅو د دوی ایماني جذبه راوبینه کړي او د روژې د نیولو مقاومت پکښې پیدا کړي چې:

ای مؤمنانو! په تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده چې د ایمان په قوت سره یې نیولی شئ؛ څوک چې ایمان نه لري او یا یې ایمان کمزوری وي هغه یې د نیولو توان نه لري. نو د لاندې وجوهو د کبله باید تاسو روژې ته وارخطا نه شئ:

الف: روژه ستاسو دیني ضرورت دی او هم ستاسو د ټولو کمزوریو مراعات پکښې شوی دی؛ په هر دین کښې روژه خکه فرض کړی شوې ده چې په هر دین کښې جهاد فرض وه او د مجاهدینو تربیې دپاره روژه لویه مدرسه ده، د همدې کبله هیڅ حق دین د روژې څخه خالي نه دی تېر شوی؛ که څه هم کمیت او کیفیت به یې تفاوت درلود. نو څرنګه چې تاسو هم په حق دین روان یاست نو په

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو باندې هم فرضه شوه ترڅو سرکشه نفس د اداري لاندې راولئ، خو باید چې د یهودو او نصاراوو په شان پکښې زیادت او کمبود واقع نه کړئ او د شرعي کیفیت او کمیت د تغییر څخه بې خانونه وساتئ:

ب: روژه په شمار څو ورځې ده چې د درې سوه او پنځه پنځوس ورځو څخه صرف نهه ویشت یا دېرش ورځې دي، نو چې په ټول کال کښې څو ورځې د الله ﷻ د امر د منلې په اساس روژه ونیسئ ترڅو د ټول کال د نعمتونو ارزښت درته څرګند شي څومره ښه ده؟!

ج: د مرض په حالت کښې درته رخصت دی چې صحت مو ښه شو د کال نورې ورځې یې په عوض کښې روژه شئ:

د: همدارنګه ستاسو د سفر حالت هم د نظره نه دی غورزولی شوی، خیر دی په سفر کښې یې چې نه شئ نیولی او درته تکلیف وي، د کال نورې ورځې یې په عوض کښې روژه شئ او قضائي یې راوړئ.

هـ: په چا باندې چې روژه نیول ډېر زیات مشقت وي چې یا زوړ بوډا وي چې خواني ورته بېرته نه راتاوېږي، او یا په داسې مزمن مرض باندې اخته وي چې د جوړېدلو امید ورته نه وي، نو دوی ته هم روژه خوړل رخصت دی، خو دوی به د هرې یوې روژې په مقابل کښې یوه مسکین ته خواړه ورکوي ترڅو د خپلې روژې اجر او ثواب د همدې لارې څخه ترلاسه کړي، په دوی باندې قضا راوړل هم نشته.

هو! که دوی په فدیه ورکولو کښې اضافه وکړي، د یو مسکین په ځای دوه یا ډېرو مساکینو ته طعام ورکړي او یا یو مسکین ته د یوې روژې په عوض کښې د څو ورځو خواړه ورکړي، دا خو "نور علی نور" خبره ده.

و: لکه څنګه چې تاسو ته د شرک او کفر څخه ایمان بهتر دی همدارنګه درته روژه نیول هم بهتر دي. هو! دا بېله خبره ده چې تاسو یې په ټولو اسرارو باندې نه پوهېږئ که پرې پوه شئ نو پخپله به یې هم غوره وګڼئ.

ز: د دې دپاره چې د ټولې دنیا مسلمانان په ټولو زمانو کښې په یو اتفاق باندې روژه شي؛ ترڅو د یو پلوه په ټولو باندې اساني راشي (سختي چې عامه شي اسانېږي)، او د بل پلوه ستاسو د اتفاق او اتحاد یو ښکارندویي شي، او هم ترڅو چې د روژې د میاشتې په داخلېدلو سره د هر خاص او عام پوهه حاصله شي؛ نو ذکر شوې په شمار شمېرلې ورځې مو درباندې د یوې معینې میاشتې په شکل کښې فرض کړې. که بالفرض د میاشتې په شکل نه وی فرض شوې نو هر چا به نه شوی پېژاندلی او اتفاق به هم نه وی چې چا به د یوې میاشتې څخه شمار پوره کولی او چا د بلې څخه.

ح: د دولسو (۱۲) میاشتو څخه مو د روژې دپاره د رمضان میاشت وټاکله چې په دې کښې د قرآن کریم نزول اول ځل پیل شوی دی چې د ټولو خلکو رهنما او لارښود دی، او برسېره په دې چې لارښود دی پوره واضحه دلایل پکښې شته چې د ضلالت څخه ورباندې هدایت ښه پېژاندل کېږي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې دا قرآن کریم د هغه هدایت او هغو بیناتو څخه چې حق او باطل یو تربله سره جدا کوي یو او په یاتکه ده چې په محمدي (ﷺ) امت باندې الله ﷻ پېرزو کړي ده، که څه هم نورو امتونو ته یې هم څه برخې ورکړې شوې دي. لکه تورات، انجیل او زبور.

نو د دې دپاره چې تاسو د الله ﷻ دغه نعمت (قرآن) هېر نه کړئ او کال په کال د هغه تذکر او یادونه تازه کړئ نو د نورو میاشتو څخه مو د رمضان مبارکه میاشت ستاسو د روژې دپاره وټاکله لکه څنګه چې موسی ﷺ د تورات د راتیولو دپاره دېرش ورځې د شکر روژې ونیولې په پای کښې یې لس ورځې نورې هم ورسره کړې، تولې څلوېښت شوې، نو تاسو هم باید چې لږ تر لږه دغه یوه میاشت د قرآن کریم د شکر د کبله روژه شئ.

ط قرآن کریم هغه کتاب دی چې ستاسو دپاره پکښې د تحلیل او تحریم قوانین نازل کړې شوي دي نو باید چې د رمضان د میاشتې په نوې کېدلو سره دغه قوانین په ځانونو باندې عملي کړئ نو خل بیا ستاسو توجه د روژې فرضیت ته را اړوله کېږي. نو د هر چا چې د روژې د میاشتې په راختلو باندې علم راشي نو هغه دې روژه شي.

ي لکه څنګه چې د روژې فرضیت ته ستاسو توجه دوهم خل ورتاو کړی شوه همدارنګه مو توجه هغو سهولتونو ته هم د دوهم خل دپاره وراړوو چې هغه د مریض، مسافر او نورو مزمنو مریضانو او یا د بوډاګانو سره شوې دي چې اولنۍ دواړه به یې قضائي راوړي او وروستنې دواړه به یې فدیه ورکوي.

یا الله ﷻ د خپلو بندګانو کمزورۍ ښې پېژني او د هر حیثه ورته پوره معلومې دي نو ځکه یې د دغو سهولتونو مراعات وکړ، ترڅو تاسو په حرج کښې واقع نه شئ؛ بلکې الله ﷻ په خپلو تولو احکامو کښې د اسانۍ مراعات ساتي او د سختۍ طرفدار نه دي، او که نه نو واک او اختیار لري چې هر ډول احکام په خپلو بندګانو باندې لازم او واجب کړي.

یب په مریضانو او مسافرو باندې ځکه قضائي روژې لازمې کړی شوې ترڅو د روژه دارانو په ډله کښې وشمارل شي، که د رمضان په میاشت کښې یې روژه ونه شوه نیولی نو د ورځو شمېر څو یې پوره کړ . نو پام کوئ چې د قضائي راوړل درته سختي ښکاره نه شي بلکې دا هم اساني ده چې د نورو میاشتو ورځې د رمضان د ورځو په شان ګڼلې شوې دي او په هغو کښې مجرا کېږي.

یج همدارنګه د مزمنو (دائمي) مریضانو او بوډاګانو د فدیې قبولول هم د الله ﷻ د پلوه اساني ده چې فدیه د روژې په عوض قبلوي نو ځکه په هغوی باندې فدیه لازمه کړی شوه چې اقلاً د فدیې په ورکولو سره الله ﷻ یاد کړي او کبریاء او عظمت یې هېر نه کړي.

ید په دې تولو باندې د پاسه د دې دپاره مو په تاسو باندې روژه فرض کړه او د تولو طبقاتو مراعات مو پکښې وساته: ترڅو تاسو تول د یو پلوه د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ او د شکرګزارۍ روحیه درکښې ژوندۍ پاتې شي، او د بله پلوه ستاسو یو قشر او یوه ډله هم د روژې د فضائلو او فیوضاتو څخه بې برخې پاتې نه شي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

(۱) صَوْمْ: په لغت کښې مطلق امساک (ځای په ځای ودرېدلو) ته وایي[۱]، او په شریعت کښې د هغه امساک نوم دی چې د خاصو شیانو څخه په خاصو وختونو کښې صورت ونیسي چې د سبا څخه تر ماښامه پورې وختونو څخه عبارت دی. په دغو وختونو کښې د خوراک، څښاک او جماع څخه ځان منعه کول او ځای په ځای ودرېدل د صوم (روژې) په نوم یادېږي.

### په ټولو ادیانو کښې د روژې فرضیت موجود وه

۲ـ د آدم ﷺ څخه را پدېخوا په ټولو ادیانو کښې د روژې رکن موجود وه. ځکه چې د ایمان کلکوالی او قوت په روژې سره پوره څرګندېږي. د همدې کبله نبي کریم ﷺ د الله ﷻ د پلوه په قدسي حدیث کښې فرمایي چې: «الصِّيَامُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ»[۲] یعنې روژه خاص ما لره ده او همدا زه ورباندې اجر ورکوم او یا همدا زه د روژې جزا یم.

مګر پوره ثابته نه ده چې د پخوانیو امتونو روژې به څومره څومره ورځې وې او یا به کومې کومې میاشتې وې او یا به په څه څه کیفیت سره وې.

سعید بن جبیر ؓ وایي چې د پخوانیو امتونو روژې د ماسخوتن څخه شروع کېدلې تر راتلونکي ماښام پورې، لکه چې د محمدي (ﷺ) امت روژه هم په ابتداء کښې همداسې وه چې بیا پکښې الله ﷻ اساني راوستله چې د سبا څخه نیولې تر ماښامه پورې وګرځوله شوه[۳].

ځینې مفسرین وایي چې په اهل الکتابو (یهودو او نصاراوو) باندې هم د رمضان د میاشتې روژه فرض کړی شوې وه، خو یهودانو تغییر ورکړ او په کال کښې به یې فقط یوه ورځ روژه نیوله، او نصاراوو په زیادت سره تغییر ورکړ چې پنځوسو ورځو ته یې ورسوله او هم یې د قمري کال څخه د شمسي کال د حمل میاشتې ته بوتلله؛ ترڅو د ګرمی د موسم څخه معتدل موسم ته راووځي[۴].

### مریض ته د روژې خوړل روا دي

۳ـ د أبو حنیفه علیه الرحمة په نزد هغه مریض ته د روژې خوړل روا دي چې په روژه باندې یې مرض اضافه کېږي او یا یې د مرض څخه جوړېدل وروسته کېږي او یا ورته په روژه باندې سخت مشقت ور دمخه کېږي، همدارنګه هغه روژه دار ته هم د روژې ماتول جائز دي چې د روژې په حال کښې ورته هغه ډول مرض پېښ شي کوم چې وړاندې بیان شو[۵].

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۲۷۲ـ ۲۷۳؛ التفسیر الکبیر ج۵ ص۷۵
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۵۴
(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۴۸
(۴) روح المعاني ج۲ ص۵۶
(۵) کتاب الفقه علی المذاهب الأربعة ج۱ ص۵۷۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د خینو ښځو روژه

۴_ امیدوارې ښځې او تی ورکوونکې ښځې هم د روژې په باره کښې د مریضانو غوندې ګڼلې کېږي، که په خپلو ځانو او یا په خپلو ماشومانو باندې ډارېدلې چې روژه به ورته ضرر ورسوي او یا به ماشوم ضائع کړي ورته روا ده چې روژه وخوري او بیا یې په وخت سره قضائي راوړي[1].

اما هغه دواړه زنانه چې حائضې او یا نفاسې وي په هغوی باندې د روژې خوړل واجب دي خو قضائي به یې راوړي. که بالفرض روژه ونیسي صحت نه لري. لکه چې لمونځ یې صحت نه لري، مګر د الله ﷻ د رحمت د کبله ورباندې د لمانځه قضائي نشته چې په حرج کښې یې واقع کوي.

## د بوډاګانو روژه

۵_ سختو بوډاګانو او مزمنو مریضانو ته د روژې خوړل جائز دي او قضائي هم ورباندې نشته خو د هرې یوې روژې په مقابل کښې به یو مسکین ته څه خوراک ورکوي، چې د امام أبو حنیفه رحمه الله علیه په نزد باندې نصف صاع (نیمه پیمانه) غنم دي.

دا مقدار د افغانستان په تیره خورد کم یو چارک کېږي چې د نولس سوه (۱۹۰۰) ګرامو څخه عبارت دي. نو که د دغه مقدار غنمو قیمت ورکړی شي هم څه باک یې نشته صحت لري.

همدغه مقدار ته په یوه حدیث کښې هم اشاره شوې ده[2].

## مسافر ته هم روژه خوړل جائز دي

۶_ په حنفي مذهب کښې مسافر هغه چا ته وایي چې داسې یو ځای ته د سفر کولو نیت وکړي او روان شي چې هلته په درې مزلونو کښې رسېدلی شي خو مزل د اوښ معتبر دی. یعنې لکه څنګه چې په اوښ والاوو کښې عادت وي چې په درې ورځو کښې په بارکړي اوښ باندې څومره مسافه وهي همغه د سفر مسافه ده، که څه هم سړی ذکره شوې مسافه په بېړۍ او یا موټر باندې په څو ساعتونو کښې او یا په الوتکه باندې په څو دقیقو کښې ووهي هم روژه خوړل ورته جائز دي، وذلک فضل الله.

ځینو علماوو کرامو ذکره شوې مسافه شپاړس فرسخه یا ۸۰۵۴۵۰ متره، یعنې اتیا کیلومتره او پنځه سوه او پنځه څلوېښت (۵۴۵) متره ښودلې ده چې تقریبًا یو اتیا (۸۱) کیلومتره کېږي.

مګر صحیح خبره هاغه ده چې د بارکړي شوي اوښ مزل معتبر دی چې د لوړو ژورو په اعتبار سره په کیلو متر باندې نه شي اندازه کېدلی[3].

---

(۱) کتاب الفقه علی المذاهب الأربعة ج۱ ص۵۷۳
(۲) سنن النسائي ج۱ ص۲۳۴
(۳) الفقه علی المذاهب الأربعة ج۱ ص۴۷۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷_ یو مجاهد چې کور کهول یې په دار الهجرة کښې وي او بېرته خپل پخواني کور کلي ته لاړ شي هلته مقیم نه دی، مسافر ګڼلی کېږي. ځکه چې یو اصلي وطن په بل اصلي وطن په سره باطلېږي نو فعلاً یې دار الهجرة اصلي وطن ګرځېدلی دی.

## اصلي وطن کوم ته وایي؟

۸_ اصلي وطن د احنافو په نزد هغه دی چې یا پکښې د سړي تولد شوی وي او یا پکښې د سړي کور کهول وي او یا یې قصد کړی وي چې هملته ګوزاره او ژوند وکړي[۱].

نو دار الهجرة که څه هم په اوله معنی باندې اصلي وطن نه دی مګر په دوهمه او دریمه معنی باندې اصلي وطن دی.

خو څرنګه چې په یو وخت کښې سړی دوه اصلي وطنه نه شي درلودلی، نو لازمه شوه چې افغانستان د هغو مجاهدینو دپاره چې کور کهول یې په دار الهجرة کښې وي او همدلته یې ژوند غوره کړی وي، اصلي وطن نه ګڼل کېږي.

## ایا فعلاً په افغانستان کښې د اقامت نیت صحت لري؟

۹_ د اقامت کولو په نیت کښې دا ضرور ده چې هغه ځای دې لږ څه اطمناني وي، د همدې کبله په بیابان کښې د اقامت نیت صحت نه لري.

نو څرنګه چې په اوس وخت کښې ټول افغانستان د جنګ میدان دی، ازادې شوې منطقې یې هم اطمناني نه دي نو فقهي مسئله دا ده چې د اقامت نیت هم پکښې صحت نه لري[۲]. نو هغو مجاهدینو ته چې کور یې په داخل کښې نه وي په کار دي چې خپل لمونځونه مسافرانه وکړي.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې د سفر په باره کښې "أَوْ مُسَافِرًا" نازل نه کړی شو لکه چې د مرض په باره کښې ﴿مَّرِيضًا﴾ نازل کړی شوی دی؟

مونږ وایو: ځکه ﴿عَلَىٰ سَفَرٍ﴾ نازل کړی شو ترڅو اشاره وکړه شي چې محض په نیت باندې مسافر ته د روژې خوراک جائز نه دی، ترڅو چې عملاً په سفر باندې پیل وکړي. نو که سړی په داسې حال په سفر باندې پیل وکړي چې شرعي روژه پیل شوې وي یعنې د سبا د را ختلو څخه وروسته روان شي چې روژه یې نیولې وي، نو خوړل یې ورته جائز نه دي[۳].

---

(۱) الفقه علی المذاهب الأربعة ج۱ ص۴۸۰

(۲) فتح القدیر شرح الهدایة ج۲ ص۳۶

(۳) روح المعاني ج۲ ص۵۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## مسافر ته روژه نیول بهتر دي

۱۱_ که څه هم مسافر ته روژه نیول او نه نیول دواړه جائز دي، په دواړو خواوو کښې ډېر احادیث روایت شوي دي[۱]، مګر د احنافو په مذهب کښې که روژې ورته مشکلات نه پېښول نو نیول یې بهتر دي او که مشکلات یې ورته پېښول نو خوړل یې بهتر دي.

یوه ورځې نبي کریم ﷺ یو سړی په سفر کښې ولید چې سیوری ورباندې کړی شوی وه (روژې ورخطا کړی وه) نو پوښتنه یې وکړه چې دا ولې؟ هغوی وویلې چې روژه یې نیولې ده. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ»[۲] یعني: په سفر کښې روژه نیول د کامل اطاعت څخه نه ګڼل کېږي. چې دومره سړی ورخطا کوي نو نه دي نیسي، د رخصت څخه دې استفاده وکړي.

## ایا څوک چې د روژې توان لري فدیه ورکول ورته جائز دي؟

۱۲_ په دې کښې ټول د سیرت علماء متفق دي چې د بدر د جهاد څخه لږ وخت وړاندې د هجرت په دویم کال الله ﷻ په محمدي (ﷺ) امت باندې روژه فرض وګرځوله. خو د دې کبله چې د روژې په عبادت باندې کلک او محکم پاتې کېدل د نفس او شیطان سره قوي جهاد ته ضرورت لري نو الله ﷻ د مؤمنانو د اطمنان دپاره او د نفسي شیطان د تحریکاتو د مخنیوي دپاره د روژې فرضیت په ډېرو ترغیباتو او سهولاتو سره بیان کړ چې ټول تقریباً دولسو (۱۲) ته رسېږي. مونږ ورته په خلاصه مطلب کښې اشاره کړې ده، والحمد لله ﷻ.

د هغو سهولتونو او ترغیباتو څخه یو دا دی چې که روژه په چا باندې ډېر فشار راوړي او ډېره ورته سخته وي او دا امید هم ونه لري چې یو وخت به ورته اسانه شي _لکه چې په مریض او مسافر باندې د دغسې وخت د راتللو امید شته_ نو هغوی دې صرف فدیه ورکړي، قضائي هم لکه:

الف: څوک چې ډېر زوړ بوډا او یا زړه بوډۍ وي دوی دواړه د بېرته ځوانۍ امید نه لري.

ب: او یا داسې مریض وي چې هغه د جوړېدو امید ونه لري، طولاني او دائمي مریض وي.

مونږ د ﴿يُطِيقُونَهُ﴾ څخه ځکه دا معنی واخستله چې دا کلمه اصلا د "طَوْق" څخه اشتقاق شوې ده او "طَوْق" د غاړې غاړکۍ ته وایي، کله چې په چاباندې یو کار ډېر فشار راوړي او په اسانۍ سره یې د عهدې څخه نه شي وتلی نو خلک وایي چې هغه ورته د غاړې غاړکۍ شوه[۳]، چې د زیات مشقت او زحمت څخه کنایه ګڼل کېږي او یا لکه چې څوک د یو شي سره ډېر په تکلیف وي نو وایي چې دا شی اوس زما غاړې ته رالوېدلی دی.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۱۷
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۶۱
(۳) لسان العرب ج۱ ص۲۳۲؛ مفردات امام راغب ص۳۲۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: څوک زكات نه وركوي نو د مال څخه به ورته د قيامت په ورځ شجاع اقرع (ګنجى مار) جوړ شي او په غاړه كښې به ورته غاړكۍ شي او ورته به وايي چې: «أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ»[1] يعنې: زه ستا مال يم او زه ستا خزانه يم. يعنې ولې اوس راسره په تنګ يې؟ زه خو تاته ډېر ګران وم.

## سوال جواب

۱۳_ كه څوک وايي چې: ځينې مفسرين كرام خو د ﴿ يُطِيقُونَهُۥ﴾ معنى داسې كوي چې څوک د روژې طاقت لري هم هغوى ته جائزه ده چې روژه ونه نيسي او په عوض كښې يې فديه وركړي.

دوى وايي چې: د روژې فرضيت په تدريج باندې شوى دى، د يو كاله پورې د بنه طاقت والا سړي كولى شوه چې روژه ونه نيسي او په عوض يې فديه وركړي، يو كال وروسته بيا دا ايت شريف نازل شو چې: ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ ﴾ الآية او روژه په هر چاباندې فرض شوه. نو دغه ايت په نزول كښې د وړاندې ايت څخه وروسته دى مګر په تلاوت كښې ورپورې متصل دى.

دوى وايي: كله چې د رمضان د مياشتې روژه قطعًا فرض وګرځوله شوه، نو الله ﷻ د مريض او مسافر رخصت دوهم ځل هم بيان كړ، چې څوک ګومان ونه كړي چې د دوى په باره كښې به هم رخصت د منځه تللى وي.

ځينې مفسرين كرام لا وايي چې ﴿ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ﴾ د هرې مياشتې د دريوو ورځو او هم د عاشورا د ورځې څخه عبارت دى چې بيا وروسته په ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ ﴾ الآية سره نَسخه شوى دى[2].

نو پوښتنه دا ده چې: تاسو په څه دليل باندې ذكر شوى تفسير پرېښود؟

مونږ وايو چې: ذكر شوى تفسير د لاندې دلايلو د كبله زمونږ خوښ نه شو:

الف: مونږ وړاندې واضحه كړه چې د ﴿ يُطِيقُونَهُۥ﴾ معنى په ذكر شوي ډول سره د علم اللغة او استعمال څخه مخالفه ده بايد چې مراده نه كړى شي.

ب: هغه حكم چې په تدريج سره فرض كړى شوى دى په هغه كښې په اولنيو مراتبو كښې تاكيدات نه وي بلكې تاكيدات يې په وروستنۍ مرتبه كښې نازلېږي لكه چې همدا طريقه مونږ د شرابو په تحريم كښې ګورو. ان شاء الله په راتلونكي [البقرة: ۲۱۹] ايت كښې به واضحه شي.

نو څرنګه چې د روژې په حكم كښې د اول وار څخه تاكيدات او ترغيبات نازل شوي دي لكه چې وړاندې بيان شوه نو معلومه شوه چې دا حكم د اول وار څخه قطعي نازل شوى دى او بس.

ج: كه د ﴿ يُطِيقُونَهُۥ﴾ څخه هغه معنى واخلو چې معترض يې ترې اخلي نو د ايت شريف د اولنى برخې څخه ډېر بعيد معلومېږي. ځكه چې د ايت حاصل خو داسې دى چې روژه خو معدودې ورځې

---

[1] صحيح البخاري ج۱ ص۱۸۸
[2] تفسير القاسمي ج۳ ص۸۳؛ زاد المسير ج۱ ص۱۶۸؛ البحر المحيط ج۲ ص۳۵

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په تولو باندې فرض ده خو په مریض او مسافر باندې قضائي لازمه ده. او د چا چې عذر نه لري کېږي هغوی دې فدیه ورکړي.

خو د معترض په تفسیر یې حاصل داسې کېږي چې: په مریض او مسافر باندې قضائي لازمه ده او څوک چې عذر نه لري هغوی اختیار لري چې فدیه ورکوي او که روژه نیسي. فدیه ورکول خو پر دوول تخفیف دی چې د مریض او مسافر سره ښه مناسب وه. که هغسې مراد وی نو داسې به کار وه چې په مریض او مسافر باندې هم د قضائي په ځای فدیه لازمه کړی شوې وی.

نو معلومه شوه چې د ﴿ يُطِيقُونَهُ ﴾ څخه بله معذوره ډله مراده ده چې د هغوی عذر د مریض او مسافر څخه لا ډېر قوي دی چې هغه بوډاګان او مزمن مریضان دي.

د: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ ﴾ الآیة د ﴿ مَّعْدُودَٰتٍ ﴾ دپاره تفسیر دی، داسې یې نه دي ویلي چې دا د هغه ناسخ دی[1].

د همدې کبله ډېرو مفسرینو کرامو همدا تفسیر أصح او تر ټولو قوي ګڼلی دی[2].

## سوال جواب

۱۴_ که څوک وایي چې: د ﴿ وَأَن تَصُومُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ څخه معلومېږي چې د معترض تفسیر صحیح دی ځکه چې دغه ډول کلمه په هغه ځای کښې استعمال مومي چې بله خوا یې هم جواز ولري. نو معلومه شوه چې دلته فدیه ورکول هم جواز لري او همدا د اختیار معنی ده؟

مونږ وایو چې: همېشه دغسې نه وي بلکې د "خیر" کلمه په هغه ځای کښې هم استعماله شوې ده چې مقابل یې بالکل قطعي حرام وي. لکه:

الف: ﴿ وَلَا تَقُولُوا۟ ثَلَٰثَةٌ ۚ ٱنتَهُوا۟ خَيْرًا لَّكُمْ ﴾ [النساء: ۱۷۱] یعني: او تاسو مه وایئ چې معبودان درې دي، د دې څخه منعه شئ: د هغه شي متابعت وکړئ چې درته بهتر دی چې هغه توحید دی.

ب: ﴿ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ ۖ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ [العنکبوت: ۱۶] یعني: د الله ﷻ عبادت وکړئ او ترې وډار شئ: دا کار درته بهتر دی.

نو کله چې نورو قرائنو ته وکتل شي نو معلومېږي چې دلته یې هم مقابل طرف (روژه نه نیول) قطعي حرام دي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۵_ که څوک وایي چې: همدغه معنی چې تاسو د ﴿ يُطِيقُونَهُ ﴾ څخه اخلئ ځینو مفسرینو کرامو ترې په نورو دوه وو طریقو باندې اخستې ده مګر اصل اشتقاق یې د "طَوْق" څخه نه، بلکې د "طاقة"

(۱) روح المعاني ج۲ ص۵۷

(۲) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۴۹۱؛ التفسیر الکبیر ج۵ ص۷۸؛ تفسیر المنار ج۲ ص۱۵۸؛ تفسیر الطبري ج۲ ص۷۶، ۷۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

یتول (۲) د قوت او توان په معنی سره دی. هغه طریقې دا دي:
دغه کتلی دی چې
الف: دلته ورسره د "لا" کلمه مقدره ده، نو اصلاً داسې ده چې "لا يُطِيقُونَهُ" یعنې په هغو کسانو
باندې فدیه لازمه ده چې د روژې قوت نه لري.
ب: د ﴿ يُطِيقُونَهُ ﴾ کلمه خو د افعال د باب څخه ده او د افعال باب همزه دلته د سلب دپاره ده،
لکه "اشْكَيْتُ فُلَانًا": د فلاني شکایت مې رفعه کړی وه. نو دلته به یې معنی داسې شي چې په هغو
کسانو باندې چې خپل قوت یې د روژې څخه سلب کړی وي په هغوی باندې فدیه لازمه ده، یعنې د
روژې توان نه لري، لکه بوډاګان او مزمن مریضان.
نو پوښتنه داده چې دغه دواړه طریقې مو د مطلبې معنی په مرادولو کښې ولې غوره نه کړې؟
مونږ وایو چې: تقدیر خلاف الأصل دی برځو یو مطلب د تقدیر څخه په غیر لاس ته راځي نو
باید چې سړی د تقدیر مرتکب نه شي نو ځکه مو د "لا" د تقدیر څخه ځان په څنګ کړ.
او په دې مقام کښې همزه د سلب دپاره هم صحت نه شي موندلی: ځکه همزه هلته د سلب دپاره
راځي چې د خپل مفعول څخه أصل مصدر (د مجردو مصدر) سلب کړي، لکه چې په ذکر شوي مثال
کښې متکلم د "فُلَان" څخه چې مفعول دی اصل مصدر (شکایت) سلب کړی دی.
نو په دې طریقه باندې یې معنی داسې کیږي چې: په هغو کسانو باندې فدیه لازمه ده چې دوی
د روژې څخه طاقت او توانایي لرې کړې وي. نو څرنګه چې طاقت د روژې صفت نه دی، د روژه
نیوونکي صفت دی نو د روژې څخه یې نفي کول هم صحت نه لري.
لنډه دا چې په دغې طریقې سره ترې مطلوبه معنی د قواعدو په اعتبار سره لاسته نه شي راتلی،
او که بې قاعدې یې ترې څوک اخلي هغه بېله خبره ده، مونږ خو ترې بې قاعدې وانخسته.

## د بحث نتائج

۱۶ـ د ذکر شوي تول بحث نتائج لاندې مطالب په نظر راځي:
الف: ﴿ أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ ﴾ او ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِىٓ ﴾ الآية دواړه د یو شي څخه عبارت دي چې په
دوه ډوله تعبیراتو سره اداء کړی شوي دي.
ب: په ذکر شوو دواړو ایتونو کښې وروستنی د اولني تفسیر دی، ناسخ یې نه دی.
ج: د روژې په هکله دا اول ځل قرآن کریم نازل شوی دی. نو هغه روژې چې په احادیثو ثابتې
دي، لکه چې په ځینو روایاتو کښې شته[1]، هغه ټولې پرې د فرضیت په حیث منسوخې شوې دي.

## قرآن کریم په روژه کښې نازل شوی دی

۱۷ـ ټول اسماني کتابونه (تورات، انجیل، زبور، قرآن) په روژه کښې نازل شوي دي، نو هغه
کتاب چې په یو ځل نازل شوی دی لکه تورات، د هغه په نزول کښې خو څه اشکال نشته. اما هغه

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۱۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



کتاب چې په مدار او په کراره-کراره نازل شوی دی لکه قرآن کريم، چې تقريبًا په درويشتو (۲۳) کلونو کښې يې نزول صورت موندلی دی، د هغه د نزول معنی دا ده چې:

الف. د قرآن کريم د نزول اول شروع د رمضان د مياشتې په څليرشتمه (۲۴) شوې ده[1].

ب: قرآن کريم په يو ځل باندې د رمضان په مياشت کښې د لوح محفوظ څخه د دنيا د اسمان "بيت العِزّة" نومې مقام ته نازل شوی دی، چې د هغه ځای څخه يې بيا ځمکې ته نازلېدلو په درويشت (۲۳) کلونو کښې تحقق موندلی دی[2].

## ليلة القدر په روژه کښې ده

۱۸ـ څرنګه چې په دې ځای کښې الله ﷻ فرمايي چې قرآن کريم په روژه کښې نازل شوی دی او په بل ځای کښې فرمايي چې ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِي لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ ﴾ [القدر: ۱] يعني: بې شکه مونږ دا (قرآن کريم) د قدر په شپه کښې نازل کړی دی، نو د دغو دواړو ايتونو څخه ثابتېږي چې ليلة القدر د رمضان په مياشت کښې ده.

اما د رمضان د مياشتې په شپو کښې معلومه نه ده چې کومه شپه ده؟ خو زيات احاديث په هغو شپو کښې راغلي دي کومې چې د شلو (۲۰) څخه هغې خوا ته دي، او په هغو کښې بيا په تاقو شپو کښې، او بيا خصوصًا په اوه ويشتمه (۲۷) شپه کښې د احاديثو اکثريت دی، والله ﷻ أعلم.

## سوال جواب

۱۹ـ که څوک وايي چې: الله ﷻ خو چې هر شي ته اراده وکړي هغه فورًا کېږي، په دې مقام کښې الله ﷻ فرمايي چې ﴿ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ ﴾ يعني: الله ﷻ تاسو ته د اسانۍ اراده لري؛ نو په کار وه چې هيڅکله په چا باندې روژه نه وی سخته شوې، ځکه چې د الله ﷻ د ارادې څخه خو تخلف ممکن نه دی؟

مونږ وايو چې: د الله ﷻ اراده په دوه ډوله ده: يوه په تکويناتو کښې ده او بله په تشريعاتو کښې. په اول ډول اراده کښې رښتيا چې تخلف ممکن نه دی خو هغه دلته مراده نه ده بلکې دلته دوهم ډول اراده مراده ده ځکه چې دا بحث د تشريعاتو او احکامو دی.

نو مطلب يې داسې کېږي چې: الله ﷻ په احکامو کښې په تاسو باندې دومره سختې نه راولي چې د هغې د توان څخه تاسو ونه شئ وتلی، لکه چې فرمايي: ﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ [البقرة: ۲۸۶] يعني: الله ﷻ هيڅ نفس مکلف نه ګرځوي مګر د هغه د وسې په اندازه.

او فرمايي چې: ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ﴾ [الحج:۷۸] يعني: الله ﷻ په تاسو باندې په دين کښې حرج نه دی ګرځولی (داسې احکام يې درباندې نه دي نازل کړي چې د هغو عملي کول

---

(۱) البحر المحيط ج۲ ص۳۹
(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۲۱۶؛ روح المعاني ج۲ ص۶۱؛ تفسير الطبري ج۲ ص۸۴؛ تفسير البغوي ج۱ ص۱۵۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ناسو باندې مشکل شي)، لکه چې فرمايي: ﴿إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا۟ وَيُخْرِجْ أَضْغَٰنَكُمْ﴾ [محمد: ۳۷] يعني: که الله ﷻ ستاسو څخه ټول مالونه وغواړي (چې خيرات يې کړئ) په کلکه يې درڅخه وغواړي نو بخل به وکړئ او د زړه خيرې به مو راوباسي (خو داسې نه کوي؛ ټول مالونه درڅخه نه غواړي).

## څو وضاحتونه

۲۰ـ يو هوښيار ښوونکي ته د خپلو شاگردانو استعداد ښه معلوم وي چې دا سوال ورته مشکل دی او دا ورته اسان دی نو په خپلو شاگردانو باندې شفقت کوي، هغه سوالونه ورته په امتحان کښې نه وړاندې کوي چې حل کول يې په زده کوونکو باندې مشکل کېږي که څه هم حق لري چې هر ډول پوښتنه ترې وکړي.

الله ﷻ ته د خپلو پنډگانو خوی، خاصيت، استعداد، قوت، کمزوري او ټول شيان ښه معلوم دي، اختيار لري چې په هر ډول احکامو باندې يې امتحان کړي، مگر د خپل لطف او مهربانۍ د امله ورباندې اساني راولي او درانه احکام ورباندې نه فرضوي. د همدې کبله يې مريض او مسافر ته د روژې نه نيول جائز کړي دي چې په بل وخت کښې به يې قضائي راوړي، او بوډاگانو او مزمنو مريضانو ته يې د فديې ورکولو پورې خبره اسانه کړې ده.

نو که څوک ووايي چې قضائي راوړل او يا فديه ورکول هم يو ډول حرج دی او سختي پکښې شته دی، نو دا به داسې مثال ولري چې يو زده کوونکی ووايي چې د استاذ شفقت به په مونږ باندې په هغه وخت کښې تحقق ومومي چې په سپينه پارچه باندې پوره نمرې راکړي او په اصطلاح ټولو شاگردانو ته په يو نظر وگوري، نو د دې خبرې معنی دا ده چې اصلاً دې امتحان نه اخلي.

مونږ دلته خبره څکه اوږده کړه چې د ځينو خلکو څخه اورو چې وايي، دين ډېر سخت دی، ترڅو دغسې خلک پوه شي چې د دوی خبره څومره غلطه ده!؟ او دوی څومره شيطان غولولي دي!؟

## د دوه قُطبونو روژه

۲۱ـ د روژې فرضيت الله ﷻ په دوه کلمو باندې بيان کړ چې يوه د ﴿كُتِبَ﴾ کلمه، او بله د ﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ کلمه ده. په اولې کلمې سره په هر مسلمان باندې ـ په هر ځای کښې چې وي ـ د روژې نيول فرض دي، برابره خبره ده چې هلته د رمضان مياشت پټېږي او ښکاره کېږي لکه د استواء د خط شاوخوا، او که نيمائي کال ښکاره وي او نيمائي کال پټه وي لکه په قطب شمال او قطب جنوب کښې.

اما په دوهمه کلمه باندې فرضيت صرف هغو خلکو ته دوهم ځل بيا ذکر شوی دی چې هغوی د مياشتې د راختلو او لوېدلو څخه استفاده کولی شي.

سُبحَانَ الله! الله ﷻ څومره لوی حکيم دی! که بوازې په اوله کلمه باندې يې بسنه کړې وی نو د

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



میاشتې د طلوع او غروب ګټه به د منخه تللې وي. او که صرف په دوهمه کلمه باندې يې اکتفاء کړې وي نو د قطبينو په اوسېدونکو باندې به روژه نه وي فرض شوې.

## سوال جواب

۲۲_ که څوک وايي چې په دې بنياد به د قطبينو اوسېدونکي په څه ډول روژه نيسي؟

مونږ وايو چې: که څه هم په دې باره کښې راته صريح حکم معلوم نه دی خو ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې هغوی بايد روژه په ساعتونو باندې اندازه کړي.

يعنې خپل هغه نژدې اقليم ته دې وګوري چې هلته مياشت طلوع او غروب کوي، د هغوی چې هرڅو ساعته يوه روژه دوام پيدا کوي په هماغه معيار باندې دې خپلې روژې برابرې کړي او ودې نيسي. او که د مکې معظمې (چې اسلامي مرکز دی) د روژې په ساعتونو باندې خپله روژه اندازه کړي، نو ډېره ښه ده[۱].

﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾ ﴾

[۱۸۶] او کله چې زما په باره کښې زما بندګان درڅخه پوښتنه وکړي (چې زه ورته نژدې يم او که لرې) نو زه ورته نژدې يم، د بلونکي بلل قبلوم کله چې ما وبلي (زما څخه سوال وکړي).

نو دوی دې ما لره ښه اجابت (اطاعت) وکړي او په ماباندې دې خپلو ايمانونو ته ادامه ورکړي، شايد چې دوی په مستمره توګه په سمه لار باندې روان اوسي.

## شان نزول او ارتباط

۱_ ځينو مفسرينو کرامو د ذکر شوي ايت شريف په شان نزول کښې پنځه مختلف روايات ليکلي دي[۲]، خو د هغو ټولو د جملې څخه مونږ په دغه يوه روايت باندې اکتفاء کوو:

يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته چا ووېلې چې: "أَقَرِيبٌ رَبُّنَا فَنُنَاجِيهِ أَمْ بَعِيدٌ فَنُنَادِيهِ" يعنې: ايا مونږ ته خپل رب نژدې دی چې مناجات ورسره وکړو (پټ يې وبلو) او که لرې دی چې اواز ورته وکړو (په لوړ اواز يې وبلو)، نو ذکر شوی ايت شريف نازل شو[۳].

۲_ د شان نزول په نظر کښې نيولو سره سرې پوهېږي چې ذکر شوی ايت شريف د وړاندې او وروسته ايتونو په منځکښې نه دی نازل شوی چې دواړه د روژې په باره کښې دي. خو امکان لري چې د لاندې نکتو د امله ورته د همدغو دواړو ايتونو منځ خوښ کړی شوی وي او د قرائت په لحاظ همدلته اېښودلی شوی وي.

(۱) تفسير المنار ج۲ ص۱۶۳
(۲) زاد المسير ج۱ ص۱۷۲
(۳) تفسير الطبري ج۲ ص۹۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په وړاندېنۍ آيت کښې مؤمنان د الله ﷻ تکبير او شکر ته هڅول شوي دي، او په وروستني آيت کښې يې دوی ته د عفوې او د توبې قبلولو ذکر کړی دی؛ چې د داړو څخه معلومېږي چې الله ﷻ ته سوال زاری وکړئ او خپل احتياجات ورته وړاندې کړئ. نو په دې ايت کښې يې د يو طرفه د اجابت ضمني وعده ورکړه او د بل طرفه يې ورته د بلنې طريقه وښودله.

ب: په مخکښنيو ايتونو کښې د روژې دپاره الله ﷻ زښت ډېر ترغيبات ذکر کړه ترڅو مؤمنان د خپلو نفسونو سره مقاومت وکړی شي او دغه لوی عظيم الشان عبادت (روژه) ترسره کړي.

نو په دې ايت کښې يې د يو پلوه مؤمنانو ته يو بل ترغيب هم ورڅرګند کړ چې زه ستاسو سوالونه قبلوم او اړتياوې مو پوره کوم چې روژه د سوالونو د قبلېدلو ډېره ښه ذريعه ده، او د بله پلوه يې وډار کړه چې پام کوئ چې د دغه عبادت په تعميل کښې خيانت ونه کړئ ځکه چې زه همېشه ستاسو سره په علم او قدرت سره نژدې يم، که بندګان مو ونه ګوري نو زه خو مو ګورم زما څخه حيا وکړئ او د روژې ښه حفاظت وکړئ.

## د مطلب خلاصه

۱ـ کله چې زما بندګان زما په باره کښې درڅخه پوښتنه کوي چې زه ورته نژدې يم او که لرې؟ نو زه خو ورته د هغوی د شارګونو څخه ډېر نژدې يم، دوی چې څه وايي هغه اورم، څه چې کوي هغه وينم او حتی څه يې چې په زړونو کښې تېرېږي په هغو پوهېږم، دا هم راته معلومه ده چې دغه پوښتنه د تعنت او ساتېرۍ دپاره نه کوي، بلکې غواړي چې د سوال کولو ادب او طريقه زده کړي، چې په همغې زده کړې طريقې باندې زما څخه خپل احتياجات او اړتياوې وغواړي او خپل سوالونه راته وړاندې کړي.

۲ـ که څه هم زه دوی ته نژدې يم خو دوی هم په عبادتونو باندې خصوصاً د روژې په نيولو باندې ماته زښت ډېر رانژدې کېږي، يوازې د دوی نه بلکې د هر سوال کوونکي سوال او غوښتنه منم او په سوال پورته کړی شوي لاسونه يې خالي نه پرېږدم، خو هله چې همدا ما وبلي او همدا زما څخه يې وغواړي او هم مې په همدې صفت باندې وپېژني چې يوازې زه قبلوونکی يم.

نو کله چې د هر احتياج پوره کول همدا زما خاصه ده نو دوی دې همدا زما ښه اجابت او اطاعت کوي او خپلې همدغې عقيدې ته دې ادامه ورکوي او شک او تردد دې پکښې نه کوي، شايد چې په سمه سيخه لار باندې به روان اوسي او د شيطاني وساوسو او شبهاتو څخه به خانونه بچ وساتي.

## توضيحات

۱ـ د الله ﷻ څخه سوال کول او خپل احتياجات ترې غوښتل د لاندو عقائدو څخه نمايندګي کوي:

الف: چې الله ﷻ هر څه کولی شي او هر څه يې د قدرت لاندې دي.

ب: چې الله ﷻ په هر څه باندې پوه دی، که څوک ترې په توره شپه کښې پټ په زړه کښې څه وغواړي هم ورباندې پوهېږي، نه شور ماشور ته حاجت شته او نه د دروازې ټک ټک ته.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: چې الله ﷻ ډېر مهربان دی، څومره مهرباني او رحمت چې په خپلو بندګانو باندې لري هغومره مهرباني مور په خپلو ماشومانو باندې نه لري.

د: چې د الله ﷻ څخه پرته نور څوک خو اول په احتیاجاتو باندې علم نه لري، بیا قدرت نه لري، بیا پکښې هغومره مهرباني او رحمت نشته. دا د غیر الله واقعیت دی. که څوک ورته په خپل ذهن کښې د دغو صفاتو څخه کوم یو ثابت کړي نو واقعیت ته به تغیر ورنه کړی شي. یعنې د چا په خوله باندې په غیر الله کښې نوموړي صفات نه شي پیدا کېدلی. په ګوره-کوره ویلو باندې خوله نه خوږېږي.

اوس سړی پوهېږي چې د الله ﷻ څخه سوال کول څومره لوی عبادت دی او څومره غټه عاجزي او تواضع ده. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ»[۱] یعني: سوال کول (بلل او غوښتل) همدا عبادت او بندګي ده.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِي إِذَا رَفَعَ الرَّجُلُ إِلَيْهِ يَدَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا خَائِبَتَيْنِ»[۲] یعني: یقینًا الله ﷻ د حیا او کرامت درلودونکی دی، حیاکوي چې کله ورته یو سړی خپل لاسونه (د سوال دپاره) اوچت کړي چې دواړه لاسونه یې خالي نااميده وګرځوي (او هیڅ ورنه کړي).

دریم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ»[۳] یعني: څوک چې د الله ﷻ څخه سوال نه کوي په هغه باندې په غضب کېږي.

## د دې ایت أمثال او نظائر

۲ـ د ذکر شوي ایت شریف په مثل باندې په قرآن کریم کښې څه نور ایتونه هم شته. لکه:

الف: ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِىٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِى سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ [غافر: ۶۰] یعني: او ستاسو رب ﷻ وايي چې زما څخه سوال او بلنه کوئ چې زه یې درته قبول کړم، بې شکه هغه کسان چې زما د عبادت څخه تکبر کوي ډېر ژر به دوزخ ته په داسې حال کښې داخل شي چې د ذلت خاوندان به وي.

ب: ﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ﴾ [النمل: ۶۲] یعني: ایا هغه څوک دی (د الله ﷻ څخه په غیر) چې د ناچاره سړي اجابت کوي کله چې هغه وبلي او سوال ورته وکړي (هیڅوک نشته).

ج: ﴿ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ﴾ [الأعراف: ۵۵] یعني: وبلئ خپل رب

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۳
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۵؛ سنن أبي داوٗد ج۱ ص۲۰۹
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال ترې وکړئ) د زاریو په حال کښې او د پښېمانۍ په حال کښې، بې شکه هغه الله تجاوز کوونکي نه خوښوي.

د: ﴿بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِنْ شَاءَ وَتَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ﴾ [الأنعام ۴۱] يعنې: بلکې تاسو (د سختۍ یا د قیامت په ورځ) خاص الله ﷻ بلئ (سوال ورته کوئ) نو که خوښه یې وشي هغه شی درڅخه لرې کوي چې د هغه د کبله ورته سوال کوئ. او تاسو (په همدې حالت کښې) هغه بوت هېروئ چې د الله ﷻ سره یې شریکان ګرځوئ.

## ایا هره یوه دعاء قبلېږي؟

۳ـ په دې مقام کښې یوه مهمه پوښتنه مطرح کېدلی شي، هغه دا چې د ایت شریف څخه معلومېږي چې د دعاء او سوال قبلېدل حتمي دي او د الله ﷻ وعده ده چې کله ترې څوک څه وغواړي هغه به ضرور ورکوي، خو د دې سره سره مونږ ګورو چې زمونږ د ټولو سوالونه نه قبلېږي.

حتی په یوه اوږده حدیث کښې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: د الله ﷻ څخه مې درې سوالونه وکړه چې دوه یې راکړه او یو یې راڅخه منعه کړ. سوالونه دا وه:

اول: د الله ﷻ څخه مې وغوښتل چې زما امت په قحطۍ (وچکالۍ) باندې هلاک نه کړي. نو دا یې راکړ.

دوهم: او ترې مې وغوښتل چې دښمن ورباندې مسلط نه کړي (چې بېخ او بنیاد یې وباسي)، دا یې هم راکړ.

دریم: او ترې ومې غوښتل چې په دوی کښې خپلو لره د خپلو دپلوه شدت او خوف ونه رسېږي (چې په خپلو منځو کښې سره جنګ او جدل ونکړي) «فَمَنَعَنِيهَا»[1] یعنې: نو دا سوال یې راڅخه منعه کړ، راته قبول یې نه کړ.

نو د دغې پوښتنې په جواب کښې مفسرینو کرامو مختلفې طریقې غوره کړې دي چې تفصیل یې دا دی:

الف: ځینې مفسرین کرام ورسره د "إِنْ شِئْتُ" کلمه مقدره ګڼي او دلیل یې د وړاندېنۍ دوهمې توضیح د "د" د فقرې ایت شریف بولي. نو معنی یې داسې کېږي چې: زه د سوال کوونکي سوال قبلوم خو چې زما خوښه شي[2]، دوی وایي چې په ایت شریف کښې د قبول وعده نشته.

مګر مونږ ته دا جواب په زړه پورې نه ښکاري. ځکه چې:

اول: ذکره شوې پوښتنه په هغو ایتونو کښې مطرح ده چې هغه د مومنانو په حال کښې نازل شوې دي، یعنې د قبول وعده خو د مومنانو سره شوې ده او اعتراض هم د همدوی په باره کښې مطرح دی، د کافرانو د سوال په باره کښې خو د سره بحث نشته. او د دوهمې توضیح د "د" دفقرې

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص ۴۰

(۲) تفسیر الطبري ج۲ ص۹۴؛ تفسیر القرطبي ج۲ ص ۳۰۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ایت خو د کافرانو په باره کښې دی، لکه چې ﴿ وَتَنسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ ﴾ وربانديې په وضاحت سره دلالت کوي.

دوهم: که د "إِنْ شِئْتَ" کلمه ورسره مقدره وي نو د سوال کولو په طريقه کښې به دا هم جائزه وي چې سوال کوونکی خپل سوال د الله ﷻ په مَشيت پورې تعليق کړي. مثلاً ووايي چې: ای الله! دغه کار راته وکړې "إِنْ شِئْتَ" که دې خوښه وي.

خو نبي کريم ﷺ دغسې سوال منعه کړی دی، لکه چې فرمايي: «إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلْيَعْزِمِ الْمَسْأَلَةَ وَلَا يَقُولَنَّ اللَّهُمَّ إِنْ شِئْتَ فَأَعْطِنِي فَإِنَّهُ لَا مُسْتَكْرِهَ لَهُ»[۱] يعني: کله چې ستاسو يو نفر سوال کوي نو په جديت او قوت سره دې سوال وکړي او داسې دې هيڅ کله نه وايي چې: ای الله! که خوښه دې وي نو رايې کړه؛ ځکه چې په الله ﷻ باندې خو په زور اجراء کوونکی نشته هر څه پخپله خوښه اجراء کوي.

دريم: د "إِنْ شِئْتَ" کلمه خو د وعدې سره منافي نه ده ځکه چې د نبي کريم ﷺ سره الله ﷻ وعده کړې وه او په خوب کښې يې ورښودلې وه چې المسجد الحرام ته به داخل شي (د پيغمبر ﷺ خوب وحې ده)، خو سره د دې يې په قرآن کريم کښې د مشيت په شکل ذکر کړه، لکه چې فرمايي: ﴿ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴾ [الفتح: ۲۷] يعني: ضرور به المسجد الحرام ته د امن په حالت کښې ورداخل شئ که د الله ﷻ خوښه وي.

نو معلومه شوه چې ذکره شوې پوښتنه په ځای پاتې ده او د "إِنْ شِئْتَ" په تقدير سره نه جوابيږي چې په وعدې باندې دلالت ونه کړي.

ب: ځينې وايي چې د ايت شريف مضمون دا دی چې د سوال قبلول د الله ﷻ شان دی او د همده ﷻ د صفاتو څخه دي. لکه غفوريت يې چې مثلاً د صفاتو څخه دی. نو حاصل يې داسې کيږي چې د سوال قبلول د الله ﷻ څخه په غير د بل چا د واکه پوره نه دي او داسې يې مطلب نه دی چې څه څوک غواړي هغه به ضرور ورکوي نو که ځينې سوالونه قبول نه کړي د ايت شريف د مضمون سره څه منافات نه لري لکه چې د ځينو خلکو تعذيب يې د غفوريت سره منافي نه دی[۲].

لوستونکي پوهيږي چې دا جواب هم مزه ناک نه دی ځکه چې ايت شريف د وعدې په مقام کښې ليدل کيږي، نه دا چې محض د الله ﷻ صفات بيانوي. برسيره په دې د اولنی توضيح د "الف" د فقرې ايت شريف خو بالکل په وعده باندې صراحت کوي چې: ﴿ ٱدْعُونِىٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾ ماته سوال وکړئ چې درته منظور يې کړم.

ج: ځينې مفسرين کرام وايي چې په ايت شريف کښې خو ﴿ إِذَا دَعَانِ ﴾ نازل شوی چې د اوقاتو په عموم باندې دلالت نه کوي، "كُلَّمَا دَعَانِي" خو نه دی نازل چې د اوقاتو په عموم باندې دلالت

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹۳۸، صحيح مسلم ج۲ ص۳۴۲، سنن ابي داوٗد ج۱ ص۲۰۸
(۲) تفسير القرطبي ج۲ ص۳۰۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي. نو که ځینې سوالونه قبول نه کړي څه منافات ورسره نه لري[۱].

مګر دا معنی هم خلاف الظاهر ده. ظاهراً داسې معلومېږي چې په ﴿ إِذَا دَعَانِ ﴾ سره د اجابت تقید راغلی دی، نه دغوښتلي شوي شي ورکړه. نو معنی یې داسې کېږي چې: زه د سوال کوونکي سوال د سوال کولو په وخت کښې قبلوم او منظوروم، پاتې شوه دا خبره چې د غوښتل شوي شي تحقق په کوم وخت کښې راځي نو هغه بېله خبره ده، امکان لري چې د منظورولو د وخت څخه وروسته شي او یا ورسره سم شي.

د: ځینې نور مفسرین کرام وایي چې وعده د الله ﷻ حقه ده خو چې موانع موجود نه شي، که د اجابت مخه موانع ونیسي او اجابت رانه شي دا د خلف معنی نه ده[۲].

په محسوساتو کښې یې مثال داسې دی چې سنا مسهله ده خو چې موانع ونه لري؛ که یو سړی په سنا سره سخت اسهال شي او بیا قابضه دوائي استعمال کړي او د اسهال مخه یې ونیسي، څوک نه شي ویلی چې سنا مسهله نه ده.

## د سوال د اجابت موانع

۴_ لاندې شیان د اجابت موانع ښودلي شوي دي:

الف: د خوراک، څښاک، لباس او غذا حراموالی د اجابت موانع دي ځکه چې د ابو هریره ﷺ په روایت نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایي چې: «الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ»[۳] یعنې: یو سړی دی چې اوږد سفر ته ادامه ورکوي، ببر سر، خړ پړ چې دواړه لاسونه یې اسمان ته پورته کړي وي چې: ای زما ربه!، ای زما ربه!. حال دا چې خوراک یې حرام وي، څښاک یې حرام وي، لباس یې حرام وي او په حرامو باندې غټ شوی وي نو څنګه به دغه ډول سړي ته د سوال اجابت وکړی شي.

ب: د اجابت د موانعو څخه دا هم ګڼل کېږي چې څوک څه سوالونه وکړي خو د مطلب په لاسته راوړلو کښې عجله وکړي، غواړي چې په عجله باندې یې غوښتنه حاصله شي. د دې دعاء کوونکي مثال د هغه بزګر دی چې کښت وکړي خو د پخېدلو وخت ته یې انتظار ونه باسي او د خپل کښت څخه لاس په سر شي او ووایي چې پرون مې کرلي وه نو نن ترې ولې حاصل لاس ته رانغی؟.

نبي کریم ﷺ فرمایي: «يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ يَقُولُ دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي»[۴] یعنې: ستاسو د هر یوه دعاء قبلېږي خو چې عجله ونه کړي چې ووایي سوال مې وکړ خو قبول نه کړی شو.

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۶۴
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۵۶؛ تفسیر تبصیر الرحمن ج۱ ص۷۲؛ زاد المسیر ج۱ ص۱۷۳
(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۳۲۶
(۴) سنن ابي داوُد ج۱ ص۲۰۹؛ سنن ابن ماجه ص۲۷۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ د سوال کوونکي عجله په يو بل حديث کښې بنه واضحه کړې ده، چې فرمايلي يې دي: «يَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ أَرَ يَسْتَجِيبُ لِي فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ»(۱) يعني: ووايي سوال مې وکړ او سوال مې وکړ نو ومې نه ليده چې سوال راته قبول شي نو ستومانه شي او د سوال څخه لاس واخلي.

ج: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «أَيُّهَا النَّاسُ فَاسْأَلُوهُ وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالْإِجَابَةِ فَإِنَّ اللهَ لَا يَسْتَجِيبُ لِعَبْدٍ دَعَاهُ عَنْ ظَهْرِ قَلْبٍ غَافِلٍ»(۲) يعني: ای خلکو! تاسو د الله ﷻ څخه په داسې حال سوال کوئ چې تاسو په اجابت سره يقين کوونکي ياست او دا څکه چې الله ﷻ د داسې بنده سوال نه قبلوي کوم يې چې د غافل زړه د شا څخه بلي (او سوال ورته کوي چې ورته متوجه نه وي چې څه غواړي محض د سوال ګردان کوي).

د: چې سړی د ګناه او د صلة الرحم د قطعې سوال وکړي، نبي کريم ﷺ فرمايي: «لَا يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ»(۳) يعني: په دوامداره توګه د بنده د سوال اجابت کېږي ترڅو چې د ګناه او يا د صلة الرحم د پرېکولو سوال ونه کړي.

ه: د حده تجاوز هم د موانعو څخه شمېرل کېږي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴾ [الأعراف: ۵۵] يعني: بې شکه الله ﷻ تجاوز کوونکي نه خوښوي.

## د اعتداء (تجاوز) ډولونه

۵ـ اول: هرڅوک چې په کبيره ګناه باندې مُصر وي او په هغې باندې همېشه والی کوي هغه تجاوز کوونکی دی(۴).

دوهم: داسې سوال کول چې د سوال کوونکي د شان سره مناسب نه وي هم تجاوز ګڼل کېږي، بالفرض چې څوک د خپل ځان دپاره شفاعت کبری وغواړي چې د نبي کريم ﷺ د خواصو څخه دی.

دريم: يوه ورځې د عبد الله بن مغفل ؓ زوی سوال وکړ چې: ای الله! زه در څخه هغه سپينه ماڼۍ غواړم چې کله زه جنت ته ورداخل شم زما په ښي طرف کښې وي، پلار يې واورېده، ورته يې ووېل چې: ای زوی ګوتيه! د الله ﷻ څخه جنت غواړه او د دوزخ څخه وربانديې پناه نيسه (نور ورانديې مه څه) څکه چې د نبي کريم ﷺ څخه مې اورېدلي دي چې ويلي دي: «سَيَكُونُ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الدُّعَاءِ»(۵) يعني: ژر دی چې داسې خلک به هم پيدا شي چې په دعاء کښې به د حده تجاوز کوي. يعنې ستا سوال د حده تجاوز دی.

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۵۲
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۹۲
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۳۵۳
(۴) تفسير القرطبي ج۲ ص۳۰۹
(۵) سنن ابن ماجه ص۳۷۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ که څه هم د مفسرینو کرامو دغه جواب، چې د دعاء قبول د موانعو د کبله وروسته کېږي، د نورو جوابونو په نسبت ښه دی، خو مونږ ته داسې ښکاري چې دا هم کُلي نه دی او په هر ځای کښې د قبول مخه نه نیسي، البته چې د ښه اجابت دپاره بهترینه وسیله ده، خو ورته شرط نه ده. مثلاً: د شیطان څخه خو بل غټ تجاوز کوونکی نشته مګر کله یې چې د الله ﷻ څخه مهلت وغوښت د ده سوال یې قبول کړ او مهلت یې ورته ورکړ لکه چې فرمایي: ﴿ قَالَ أَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ﴾ [الأعراف: ۱۴_۱۵] یعني: ابلیس وویلې چې د بعثت د ورځې پورې مهلت راکړه. الله ﷻ ورته وویلې چې: بې شکه ته د مهلت ورکړی شوو څخه یې. یعنې د اولنی شپېلی پورې درته مهلت دی.

برسېره په دې لکه څنګه چې الله ﷻ د ګناه او کفر په سبب روزي ورکول نه بندوي، همدارنګه ورباندې د اړتیاوو پوره کول هم نه بندوي لکه چې فرمایي: ﴿ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴾ [إبراهيم: ۳۴] یعني: او الله ﷻ تاسو ته هغه ټول شیان درکړي دي چې د حال او یا د قال په ژبه یې ترې غواړئ او که د الله ﷻ د نعمتونو شمار وکړئ نو آخر ته به یې ونه شئ رسولی. بې شکه چې انسان ظلم کوونکی او ناشکره دی.

نو معلومه شوه چې د سوال د قبلېدلو مخه د همېشه دپاره عصیان نه شي نیولی بلکې د کافر سوال هم قبلېږي لکه چې ځینو مفسرینو همداسې لیکلي دي[1].

که د اجابت دپاره د ګناه څخه معصومیت شرط شي نو د قنوط (ناامیدی) باعث به وګرځي او الله ﷻ فرمایي: ﴿ قُلْ يَٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ﴾ [الزمر: ۵۳] یعني: (زما د طرفه) ورته ووایه چې ای زما هغو بندګانو چې په ځانو باندې یې تېری کړی دی! د الله ﷻ د رحمت څخه مه ناامیده کېږئ.

## د سوال قبول د هر شکلونه لري

۷_ مونږ د ذکرې شوې مهمې پوښتنې جواب کوو خو باید چې لاندې څو مقدمې په نظر کښې ونیول شي:

الف: په دې کښې شک نشته چې د الله ﷻ هره یوه وینا حقه ده او وعدې یې ټولې د واقع سره برابرې دي او هیڅ خلف پکښې نشته ﴿ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ ﴾ [التوبة: ۱۱۱] یعني: او هغه څوک دی چې د الله ﷻ څخه په خپله وعده باندې کلک وي؟، هیڅوک نشته.

ب: بنده خپل خیر او شر نه شي سنجولی. داسې ډېر کېږي چې د الله ﷻ څخه خیر غواړي خو په

(۱) التفسیرات الأحمدیة ص۴۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نظر کښې بې بو خاص شی نیولی وي مګر همغه شی ورته په حقیقت کښې شر وي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [البقرة: ۲۱۶] يعني: او دا هم امید ولرئ چې تاسو به یو شی بد ګڼئ خو همغه به درته خیر وي او دا هم امید ولرئ چې تاسو به یو شی ښه وګڼئ خو همغه به درته شر وي او الله ﷻ پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

ج: د انسان په خټه کښې عجله (چالاکی) اغګل شوې ده، هر څه په جلتۍ سره غواړي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَكَانَ ٱلْإِنسَـٰنُ عَجُولًا ﴾ [الإسراء: ۱۱] يعني: او انسان د جلتۍ خاوند دی. نو زیاته توجه او پاملرنه یې دنیا ته وي. د همدې کبله د دنیا په پراخۍ باندې زیاتره انسانان غولېږي او آخرت وربانديې هېروي.

د: انسان هېرډله دی څه چې وغواړي هغه ورته د همېشه دپاره یاد نه پاتې کېږي چې ما لا د دې شي سوال کړی وه. الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَحْصَىٰهُ ٱللَّهُ وَنَسُوهُ ﴾ [المجادلة: ۶] يعني: الله ﷻ د بنیادمانو هر یو عمل د شمارلو لاندې راوستلی دی او دوی هېر کړی دی.

## نتیجه

۸ـ د پورتنیو څلورو مقدماتو نتیجه دا ډاووځي چې الله ﷻ د خپلو بندګانو سوالونه قبلوي خو دوی وربانديې پوره نه پوهېږي، ځکه چې د قبول شکلونه یې ډېر دي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: کله عین شی په عین وخت کښې ورکړي چې بنده یې غواړي چې هیڅ فکر او ذکر نه پکښې حاجت نه وي.

ب: کله عین شی ورکړي خو په بل وخت کښې. امکان لري چې انسان ته خپل سوال په یاد نه وي.

ج: کله ورته د غوښتل شوي شي په عوض ډېر لوی شی ورکړي. کېدلی شي چې خپل سوال وریه زړه نه شي چې دا د فلاني سوال اجابت دی.

د: کله-کله لا ورته بالکل آخرت ته وساتل شي خو سوال کوونکی وربانديې خبر نه وي خو چې د قیامت په ورځ ورته ورکړی شي نو الله ﷻ پوهېږي چې دی به ورته څومره خوشاله شي؟

هـ: کله-کله که غوښتل شوی شی ورنه کړي خو په عوض کښې یې د ډېر لوی آفت څخه بچ کوي؛ چې څو چنده د غوښتل شوي شي څخه ورته بهتر وي. دا ځکه چې:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايي: «مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْعُو بِدُعَاءٍ إِلَّا آتَاهُ اللهُ مَا سَأَلَ أَوْ كَفَّ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهُ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ»[۱] يعني: هیڅوک یوه دعاء نه کوي مګر الله ﷻ همغه شی ورکوي چې غواړي یې او یا به ورڅخه د همغه سوال په مثل بدي لرې کړي، ترڅو یې چې په ګناه او یا د صله رحمۍ په قطعه کولو باندې سوال نه وي کړی.

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: په یو بل روایت کښې ورسره دا هم شته چې: «وَإِمَّا أَنْ يُدَّخَرَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ وَإِمَّا أَنْ يُكَفَّرَ عَنْهُ مِنْ ذُنُوبِهِ بِقَدْرِ مَا دَعَا»[۱] یعني: او یا به یې ورته په آخرت کښې ذخیره کړي او یا به ترې د سوال په اندازه ګناهونه عفوه کړي.

و: کله-کله ورته همغه غوښتل شوی شی په بل شکل کښې ورکړي چې سوال کوونکی ورباندې د شر ګومان کوي حال دا چې هغه ورته ډېر بهتر او خیر وي لکه یو ماشوم چې اپریشن (جراحي عملیات) شر ګڼي خو هغه ورته خیر وي.

نو په کار دي چې هر مسلمان د الله ﷻ څخه سوال د عبادت په نیت باندې وکړي او په دې باندې باید یقین ولري چې سوال کول مې په ګټه دي، د سوال په قبول کښې باید چې هیڅ تشویش ونه کړي او صرف الله ﷻ ته یې وسپاري چې هغه ﷻ ډېر ښه پوهېږي.

د مثال په توګه که مجاهدین د کافرو په پوسته باندې حمله کوي نو د هغې فتحه دې د الله ﷻ څخه صرف د عبادت په توګه وغواړي او خپل همت دې نه کمزوری کوي نور نو چې هر څه پېښ شوه په همغه کښې خیر دی هیڅ تشویش دې نه کوي. لکه چې مشهوره مقوله ده: "اَلْخَيْرُ فِيمَا وَقَعَ" یعني په همغه شي کښې خیر دی چې واقع شو.

لنډه دا چې لکه څنګه چې په درملو باندې مریضان د الله ﷻ په اراده جوړېږي همدارنګه په سوال کولو او زاریو سره هم د الله ﷻ په اراده روغېږي. د ټولو شیانو موجودول او معدومول صرف همده ﷻ کار دی او بس.

که د سوال په قبول باندې سړی پوه نه شي باید د الله ﷻ څخه خپل ځان مرور نه کړي.

## استجابة څه معنی؟

۹_ که څه هم په "اسْتِجَابَةٌ" کښې د "إِجَابَةٌ" په نسبت حروف ډېر دي او د حروفو زیادت د معنی په زیادت باندې دلالت کوي، مګر مفسرین کرام وایي چې دواړه په یوه معنی سره دي چې الله ﷻ ته یې نسبت وشي د قبول معنی ورکوي او چې بنده ته یې نسبت وشي د اطاعت معنی ترې اخستله کېږي[۲].

مونږ د "إِجَابَةٌ" څخه قبول اخلو او د "اسْتِجَابَةٌ" څخه ښه قبول مراده وو ترڅو د حروفو د زیادت مراعات د منځه لاړ نه شي.

## دعاء په دوه ډوله

۱۰_ دعاء په دوه ډوله ده؛ یو هغه ده چې مستقیماً د الله ﷻ څخه څه وغواړي او بل هغه ده چې مستقیماً ترې څه ونه غواړي مګر د الله ﷻ حمد او ثناء وایي او یا په نورو اذکارو او عباداتو باندې

---
(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۱
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۵۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشغول وي چې دغه ټول ضمني سوالونه دي او خپل احتیاجات وړاندې کول دي. د ﴿ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ ﴾ کلمه دواړو ډولونو ته شامله ده، ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ»[1] يعني: او بهتره دعاء الحمد لله ده.

امید شته چې الله ﷻ د قرآن کریم تلاوت کوونکي ته هغه ټول سوالونه قبول کړي چې دی يې په ژبه د وړاندې کولو څخه په تلاوت باندې مصروف شوی دی.

## مقبولې دعاګانې

۱۱_ په دې مقام کښې لازمه ګڼو چې محترمو لوستونکو ته هغه ځایونه او یا هغه دعاګانې وړیه ګوته کړو چې د هغو په قبول کښې احاديث وارد شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو هغه ځایونه په لاندې ډول سره بیان کړي دي[2]:

الف: د شپې په درېمه برخه کښې[3].

ب: د آذان او اقامت په منځکښې.

ج: د اذان په وخت کښې.

د: د فرض لمونځونو څخه وروسته.

هـ: د جمعې په ورځ چې امام په ممبر باندې پورته شي د لمانځه د ختم پورې.

و: د جمعې د ورځې د مازدیګر وروستنی ساعت.

ز: کله چې په زړه کښې خشوع او عاجزي موجوده شي، او رقت او تواضع وړباندې غلبه وکړي.

ح: چې سړی قبلې ته مخ کړي البته د سوال کولو په وخت کښې.

ط: چې سوال کوونکی په اوداسه باندې وي.

ي: چې لاسونه پورته کړي.

یا: چې اول په الله ﷻ باندې حمد او ثناء ووایي او بیا په نبي کریم ﷺ باندې درودونه واستوي.

یب: چې د حاجت د وړاندې کولو څخه د مخه استغفار وغواړي او توبه وباسي.

یج: چې په سوال کښې الحاح (زیات کوښښ) وکړي او زیاتې زارۍ وکړي.

ید: چې د الله ﷻ په نومونو باندې توسل وکړي. لکه یا غفار، یا وهاب او داسې نور.

یه: چې د سوال څخه وړاندې څه خیرات وکړي.

دوی لیکلي دي چې په دې ټولو کښې احادیث شته خو احادیث يې نه دي ذکر کړي.

۱۲_ په یاد ولرئ چې د سوال د اجابت ځایونه کوم چې په احادیثو کښې ثابت دي زیبت ذکر دي، خو کوم چې ما ته معلوم دي په لاندې ډول باندې يې محترمو لوستونکو ته وړیه ګوته کوو:

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۶

(۲) تفسیر القاسمي ج۳ ص۹۷

(۳) شرعي شپه د ماښام څخه پیل کېږي او په صبح صادق ختمېږي

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس لاسبي لخوا سکین شو



الف: د هغه چا د سوال په قبول کښې شک نشته چې په هغه باندې ظلم شوی وي.

ب: د مسافر سوال هم همداسې دی.

ج: د والد یا والدې (پلار او مور) بد ازارې (ښېرا) چې خپل اولاد ته يې کوي. ځکه چې د ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ دَعْوَةُ الْمَظْلُومِ وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ وَدَعْوَةُ الْوَالِدِ عَلَى وَلَدِهِ»[۱] يعني: درې دعاګانې مستجابې دي شک پکښې نشته، د مظلوم دعاء، د مسافر دعاء او د پلار دعاء په خپل زوی باندې چې د ده په ضرر باندې وي؛ چې په ښتو کښې ورته ښېرا وايي.

همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ»[۲] يعني: د مظلوم د ښېراوو څخه ودار شه ځکه چې د ده د ښېرا او د الله ﷻ په منځکښې پرده نشته. (سوال يې په چالاکۍ سره قبلېږي).

د: د اذان او اقامت په منځکښې سوال نه ردېږي. نبي کریم ﷺ د انس ﷺ په روایت فرمایلي دي چې: «الدُّعَاءُ لَا يُرَدُّ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ»[۳] يعني: د اذان او اقامت په منځکښې سوال نه ردېږي.

په یو بل حدیث کښې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الدُّعَاءُ لَا يُرَدُّ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ» يعني: دعاء د اذان او اقامت په منځکښې نه ردېږي، صحابه وو کرامو ﷺ وویلې چې: «فَمَاذَا نَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ» ای د الله رسوله! څنګه دعاء وکړو؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «سَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ»[۴] د الله ﷻ څخه په دنیا او آخرت کښې عافیت وغواړئ.

ه: هغه سوال ډېر په چالاکۍ سره قبلېږي چې سړی يې د بل دپاره د هغه په غیاب کښې وکړي. نبي کریم ﷺ د عبد الله بن عمرو ﷺ په روایت فرمایلي دي چې: «مَا دَعْوَةٌ أَسْرَعَ إِجَابَةً مِنْ دَعْوَةِ غَائِبٍ لِغَائِبٍ»[۵] يعني: په قبول کښې بله دومره چالاکه دعاء نشته لکه هغه دعاء چې یو غائب يې د بل غائب دپاره وکړي.

و: د نفلي لمانځه څخه وروسته چې څوک بښنه وغواړي، بښنه به ورته وکړی شي.

ابو بکر الصدیق ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه اورېدلي چې: «مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا ثُمَّ يَقُومُ فَيَتَطَهَّرُ ثُمَّ يُصَلِّي ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللهَ إِلَّا غَفَرَ اللهُ لَهُ ثُمَّ قَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ»[۶] يعني: هر څوک چې ګناه وکړي بیا پورته شي اودس وکړي او لمونځ وکړي بیا د خپلې ګناه بښنه وغواړي مګر الله ﷻ به ورته بښنه وکړي، او بیا يې دغه ایت ولوست.

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲ - سنن ابن ماجه ص۲ ص۲۷۵
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۵۱
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۰
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹
(۶) جامع الترمذي ج۱ ص۹۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

په يو بل روايت کښې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د الله ﷻ څخه څه حاجت غواړي او يا يې يوه بنده ته اړتيا پېښه شي نو اودس دې وکړي ښه ښانسته اودس، بيا دې دوه رکعته لمونځ وکړي او د الله ﷻ حمد [illegible] دې ووايي او په نبي کريم ﷺ باندې دې درود واستوي بيا دې دغه [illegible] الحليمُ الْكَرِيمُ سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ أَسْأَلُكَ [illegible] عَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ لَا تَدَعْ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا [illegible] وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ»[۱].

[illegible] که هم په دې حديث کښې د دعاء په قبول باندې صراحت نه دی شوي خو چې نبي کريم ﷺ يې طريقه ښودلې ده اميد شته چې قبوله شي.

ز: په هره شپه کښې يو ساعت شته چې په هغه کښې سوال قبلېږي.

جابر ؓ د نبي کريم ﷺ څخه اورېدلي دي چې: «إِنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ»[۲] يعني: بې شکه په شپه کښې يو سات دی چې هيڅ مسلمان سړی ورسره نه موافق کېږي چې د الله ﷻ څخه خپله دنياوي يا أُخروي خير غواړي مگر هغه ورته ورکوي؛ او دا په هره شپه کښې دی.

ح: د شپې په درېمه برخه کښې الله ﷻ سوالونه قبلوي.

نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: الله ﷻ د هرې شپې په درېمه برخه کښې وايي چې: «مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ وَمَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ وَمَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ»[۳] يعني: څوک ماته دعاء کوي چې ورته قبوله يې کړم، څوک راڅخه سوال کوي چې ورته ورېې کړم او څوک راڅخه ښښنه غواړي چې گناهونه ورته وبښم.

ط: چې په هغه طريقه باندې سړی سوال وکړي چې هغه طريقه نبي کريم ﷺ أُم سُلَيم ؓ ته ښودلې ده، يوه ورځې أُم سليم نبي کريم ﷺ ته وويلې چې: څو داسې کلمات رازده کړه چې په لمانځه کښې يې لولم. نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې: «كَبِّرِي اللهَ عَشْرًا وَسَبِّحِي اللهَ عَشْرًا وَاحْمَدِيهِ عَشْرًا ثُمَّ سَلِي مَا شِئْتِ يَقُولُ نَعَمْ نَعَمْ»[۴] يعني: لس کرته د الله ﷻ تکبير ووايه، لس کرته يې تسبيح ووايه او لس کرته يې حمد ووايه، نو سوال وکړه چې څه دې خوښه وي نو الله ﷻ به درته ووايي چې: هوا، هوا! يعني سوال مې ستا قبول کړ.

ي: هغه دعاء چې په نبي کريم ﷺ باندې د درود ويلو څخه وروسته وکړه شي هغه هم مقبوله ده. عبد الله ؓ وايي چې ما لمونځ کاوه او نبي کريم ﷺ هلته وه، نو کله مې چې لمونځ وکړ نو په الله ﷻ

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۰۹
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۲۵۸
(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۲۵۸؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۷؛ سنن ابن ماجه ج۱ ص۹۷
(۴) جامع الترمذي ج۱ ص۱۰۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس یاسین لخوا سکین شو


باندې مې حمد او ثنا وويله او په نبي کريم ﷺ باندې مې درود واستاوه، بيا مې خپل خان ته په دعا، کولو پيل وکړ نو نبي کريم ﷺ راته وويلې چې: «سَلْ تُعْطَهْ سَلْ تُعْطَهْ»[۱] يعني: غواړه چې درکول کېږي، غواړه چې درکول کېږي.

همدارنګه يوه بل صحابي ﷺ ته چې د لمانځه څخه يې وروسته حمد او درود ويلی وه، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَيُّهَا الْمُصَلِّي ادْعُ تُجَبْ»[۲] يعني: ای لمونځ کوونکيه! دعاء وکړه چې درته قبلېږي.

يا: د جمعې په ورځ کښې يو ساعت دی چې سوال پکښې قبلېږي، مګر په تعين کښې يې مختلف احاديث وارد شوي دي چې په ځينو کښې د زوال څخه وروسته دي، په ځينو کښې د مازديګر د لمانځه څخه وروسته، او په ځينو کښې د جمعې د لمانځه د شروع څخه تر فراغته پورې دي. والله ﷻ أعلم.

نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايي: «وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يُصَلِّي فَيَسْأَلُ اللهَ فِيهَا شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ»[۳] يعني: د جمعې په ورځ کښې يو ساعت دی چې هيڅ مسلمان بنده به ورسره موافق نه شي چې لمونځ پکښې وکړي او بيا پکښې د الله ﷻ څخه څه شی وغواړي مګر هغه به ورته ورکړي.

يب: الله ﷻ د عادل مشر سوال نه ردوي.

يج: د روژه دار سوال چې د روژه ماتي په وخت کښې يې وکړي نه ردېږي.

نبي کريم ﷺ فرمايي: «ثَلَاثَةٌ لَا يُرَدُّ دَعْوَتُهُمُ الْإِمَامُ الْعَادِلُ وَالصَّائِمُ حِينَ يُفْطِرُ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ»[۴] يعني: د درې کسانو سوال نه ردېږي، يو عادل پاچا، بل روژه دار د روژه ماتي په وخت کښې او بل د مظلوم سوال.

يد: د هغه چا سوال به قبلېږي چې د خوشالۍ په حالت کښې يې هم الله ﷻ نه وي هېر کړی.

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَسْتَجِيبَ اللهُ لَهُ عِنْدَ الشَّدَائِدِ وَالْكُرَبِ فَلْيُكْثِرْ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ»[۵] يعني: څوک چې دې خبرې ته خوشالېږي چې د سختيو او غمونو په وخت کښې يې الله ﷻ سوالونه قبول کړي نو په پراخۍ او خوشالۍ کښې دې الله ﷻ ته ډېر سوالونه کوي.

يه: نبي کريم ﷺ فرمايي: څوک چې د شپې د خوب څخه راپورته شي او دغه کلمات ولولي: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ» او بيا ووايي چې: ای زما ربه! ماته مغفرت وکړې، او يا

---

[۱] جامع الترمذي ج۱ ص۱۳۰
[۲] جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۶
[۳] صحيح البخاري ج۲ ص۹۴۷؛ جامع الترمذي ج۱ ص۱۱۱
[۴] جامع الترمذي ج۲ ص۷۹ او ص۲۰۰
[۵] جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دعاء وکړي نو دعاء به يې قبوله شي او که اودس وکړي او بيا لمونځ وکړي نو لمونځ به يې هم قبول کړی شي(۱).

يو: هغه دعاء قبلېږي چې سوال کوونکی يې په «يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَام» سره وغواړي.

نبي کريم ﷺ د يو سړي څخه واورېده چې ويل يې: «يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَام» نو ورته يې وفرمايل چې: «قَدْ اسْتُجِيبَ لَكَ فَسَلْ»(۲) يعني: سوالونه دې قبول شوه، غواړه څه چې غواړې.

يز: د هغې دعاء په ويلو سره دعاء قبلېږي چې هغه يونس ﷺ د ماهي په ګېډه کښې لوستې وه، هغه دا دعاء ده: «لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ».

نبي کريم ﷺ فرمايي چې: په دغې دعاء باندې هيڅ مسلمان سړی هيڅکله سوال نه کوي مګر «اسْتَجَابَ اللهُ لَهُ»(۳) يعني: الله ﷻ به يې سوال قبول کړي.

يح: هغه سوال الله ﷻ قبلوي چې هغه په اسم أعظم سره وکړی شي(۴).

## اسم اعظم

هېر مو نه شي چې د الله ﷻ په نومونو کښې يو نوم دی چې په اسم اعظم سره يادېږي. دغه نوم د الله ﷻ په نومونو کښې داسې ورک دی لکه په شپو کښې چې ليلة القدر ورکه ده، چې په ځينو رواياتو کښې «يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَام» ښودلی شوی او په ځينو کښې «يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ» ښودل شوی دی او په ځينو نورو کښې نور نومونه ښودلي شوي دي(۵)، والله ﷻ أعلم.

يط: د هغه چا سوال الله ﷻ قبلوي چې په اوداسه څملي او د اوده کېدلو پورې الله ﷻ يادوي.

نبي کريم ﷺ فرمايي: «مَنْ أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ طَاهِرًا يَذْكُرُ اللهَ حَتَّى يُدْرِكَهُ النُّعَاسُ لَمْ يَنْقَلِبْ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ يَسْأَلُ اللهَ شَيْئًا مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ»(۶) يعني: څوک چې د څملاستلو ځای ته ورشي په داسې حال کښې چې پاک وي او الله ﷻ تر هغه يادوي چې خوب ورباندې غالب شي، د شپې په هيڅ يوه ساعت کښې نه راوېښېږي چې د الله ﷻ څخه څه شی وغواړي مګر هغه به ورته الله ﷻ ورکړي.

ک: په هغو مجالسو کښې هم دعاء قبلېږي چې هلته د الله ﷻ ذکر کېږي(۷)، د همدې قبيلې څخه د درس محافل هم ګڼل کېږي.

کا: کله چې څوک ﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾ ته ورسېږي نو ملائک هم ورسره "آمِينَ" وايي او د هر چا آمين

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۸
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۲
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۸
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۵
(۵) سنن ابي داؤد ج۱ ص۲۱۰؛ سنن ابن ماجه ص۲۷۴
(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۳
(۷) صحيح مسلم ج۲ ص۳۴۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ویل چې د ملائکو د آمین سره برابر شي نو دعاء یې قبلیږي(۱)، ځکه چې د "آمین" معنی دا ده چې ای الله! زما سوال قبول کړې.

## په سوال کولو کښې لاسونه پورته کول

۱۲ـ د سوال کولو د آدابو څخه دا هم ده چې لاسونه پورته کړی شي او ورغوي د اسمان طرف ته وبول شي او د لاسونو شاګانې د ځمکې طرف ته وګرځول شي، کله چې سوال ختم شي نو دواړه لاسونه دې په مخ باندې راکش کړي. ته به وایې چې د الله ﷻ د رحمت څخه ډک دي او خپل مخ یې پرې متبرک وګرځاوه، ځکه چې نبي کریم ﷺ همداسې کړي دي(۲).

﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَٱلْـَٔـٰنَ بَـٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُوا۟ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلْخَيْطُ ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ ٱلْأَسْوَدِ مِنَ ٱلْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا۟ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَـٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَـٰكِفُونَ فِى ٱلْمَسَـٰجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ءَايَـٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾﴾

[۱۸۷] ستاسو دپاره د روژې په شپه د خپلو زنانه وو سره کوروالی حلال وګرځول شو.

دوی ستاسو دپاره جامه ده او تاسو د هغوی دپاره جامه یاست.

الله ﷻ پوهیږي چې یقیناً تاسو وئ چې د خپلو ځانونو سره مو خیانت کاوه (په ګناه مو اخته کول) نو په تاسو باندې یې په رحمت سره رجوع وکړه او عفوه یې درته وکړه.

نو اوس د خپلو زنانه وو سره مباشرت (کوروالی) وکړئ (درته مباح دي) او هغه شی چې الله ﷻ درته لیکلی دی هغه طلب کړئ (خپل غرائز مو اشباع کړئ).

او هم خورئ او څښئ ترڅو چې تاسو ته سپین مزی د تور مزي څخه ښه څرګند شي چې د سبا څخه عبارت دی، بیا نو روژه د شپې پورې پوره کړئ.

او تاسو د خپلو زنانه وو سره په داسې حالت کښې مباشرت مه کوئ چې تاسو په جوماتونو کښې په اعتکاف کولو بوخت یاست.

دغه (احکام) د الله ﷻ حدود دي، نو (د فساد په نیت) مه ورنژدې کیږئ.

په دغه ډول باندې الله ﷻ خپل احکام خلکو ته واضحه کوي، شاید چې دوی تقوا وکړي.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۰۸

(۲) صحیح البخاري ج۳ ص۹۳۸؛ سنن أبي داوٗد ج۱ ص۲۰۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شان نزول

د شان نزول د بيان څخه وړاندې لازمه ګڼو چې محترم لوستونکي د روژې په شروع او ختم باندې خان پوه کړي.

الله ﷻ د خپل لطف او مهرباني د کبله مونږ ته د روژې په اول او آخر دواړو کښې اساني راوستلې ده. د آخر اساني يې دا ده چې د ماښام څخه وروسته روژه کېدل نشته، بلکې دا نه ده جائزه چې سړی يوه روژه ماته نه کړي او ورپسې بله ورځ هم روژه شي چې دې ته "صَوْمُ الْوِصَالِ" وايي. دا ډول روژه (صوم الوصال) نبي کريم ﷺ نيولې ده، خو نور امت يې ترې منعه کړی دی ترڅو په دوی باندې مشقت او سختي رانه شي.

او د اول سر اساني يې دا ده چې پخوا به د ماسخوتن د لمانځه څخه او يا د خوب څخه وروسته روژه پيل کېدله، چا به چې د ماسخوتن لمونځ اداء کړ او يا به ويده شو نو د روژې په مياشت کښې په هغه باندې خوراک، څښاک او جماع حرامه ګرځېدله آن تر راتلونکي ماښامه پورې.

پاتې شوه دا خبره چې په مسلمانانو باندې دا تحديد په څه دليل لګول شوی وه؟، نو په دې کښې مفسرين کرام دوه نظره لري:

۱ــ ځينې مفسرين کرام وايي چې دا کار مسلمانانو په خپل اجتهاد سره کړی وه. په دې باره کښې خو قرآن کريم نه وه نازل شوی او نبي کريم ﷺ هم پکښې څه نه وه ويلي[۱].

۲ــ نور مفسرين کرام وايي چې دا تحديد د نبي کريم ﷺ د پلوه ورته ښودل شوی وه. ځکه چې د نبي کريم ﷺ عادت وه چې که په يوه حادثه کښې به وړباندې وحې نه وه راغلې او په هغې باره کښې به اهل الکتابو څه حکم درلود نو د اهل الکتابو په حکم باندې به يې عمل کاوه، ترڅو به چې پرې وحې نازله شوه او شرعي حکم به يې ورته واضحه کړ.

اهل الکتابو به هغه وخت کښې د خپلې روژې اول شروع د خوب څخه کوله[۲]، نو امکان لري چې نبي کريم ﷺ به صحابه کرامو ؓ ته همداسې هدايت کړی وي او که هدايت يې ورته نه وي کړی نو په همدغه حالت باندې يې پرېښودل هم يو ډول هدايت دی، نو بالکل سمه خبره همدا ده چې په هغه وخت کښې د روژې د شروع وخت په حديث سره ثابت وه. همدا د جمهورو علماوو نظر دی[۳].

اوس نو دې خبرې ته راځو چې د ذکر شوي ايت شريف شان نزول څنګه وه؟. په دې باره کښې مفسرينو کرامو دوه واقعې ليکلې دي:

الف: يوه شپه عمر ؓ د نبي کريم ﷺ سره د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته د څه خبرو دپاره لږ وخت معطل شوی وه، چې کور ته تللی وه نو هلته يې د خپل اهل سره کوروالي کړی وه. البته په داسې حالت کښې چې ماندينه يې ويده شوې وه او پخپله يې لمونځ کړی وه.

---

(۱) تفسير المراغي ج۲ ص۷۸، تفسير المنار ج۲ ص۱۷۵

(۲) تفسير الطبري ج۲ ص۹۷، البحر المحيط ج۲ ص۴۸

(۳) التفسير الکبير ج۵ ص۱۱۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



...بهار یې نبي کریم ﷺ ته دغه قیصه بیانه کړه چې مونږ په دغسې ګناه کښې واقع شوو چې ما د ...ماخوتن لمونځ اداء کړی وه او ماندینه مې ویده شوې وه. نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: دا کار ...ته مناسب نه وه ای عمره!(۱).

ب: بوه ورځې یو صحابي ﷺ (چې په نامه کښې یې اختلاف دی چې حرمه یا ابو حرمه او یا یې ...بل نوم وه)(۲) نبي کریم ﷺ ته قیصه وکړه چې بېګاه ماښام کور ته ستړی ستومانه لاړم، ترڅو چې د ...کوروالاوو راته طعام تودا وه زه ویده شوی وم چې راویښ یې کړم نو خوراک او څښاک راباندې حرام ...شوی وه، نو اوس مې دغه حالت دی چې روژه مې د اتصال په ډول سره په نهاره نیولې ده او دومره ...بې کمزوری کړی یم(۳).

...امکان لري چې دغسې واقعات به د نورو صحابه وو کرامو ﷺ څخه هم پېښ شوي وي(۴)، نو ...الله ﷻ ذکر شوی ایت نازل کړ او کوم حکم چې په حدیث باندې ثابت وه هغه یې نسخه کړ چې ...خلاصه مطلب یې په لاندې کرښو کښې لوستلی شئ:

## د مطلب خلاصه

۱ـ د روژې په شپه باندې تاسو ته د خپلو کور والاوو سره کوروالی کول حلال کړی شو چې تر اوسه پورې د نبي کریم ﷺ په هدایت باندې درته حرام کړی شوي وه، او تاسو ورسره په لوی حرج کښې واقع شوي وئ او هغوی مو هم په حرج کښې اچولې وې. او دا ځکه چې:

هغوی ستاسو دپاره جامه ده او تاسو د هغوی دپاره جامه یاست. د دومره زیات اختلاط سره هغوی ستاسو څخه صبر نه شي کولی او تاسو یې د هغوی څخه نه شئ کولی، هغوی ستاسو عفت ساتي او تاسو د هغوی، هغوی ستاسو د ایمان وقایې دي او تاسو د هغوی د ایمان وقایه یاست.

۲ـ الله ﷻ خو لا د وړاندې څخه پوه وه چې بې شکه تاسو به د خپلو خانونو سره خیانت وکړئ او په ګناه کښې به یې واقع کړئ لکه چې همداسې مو وکړه، خو په رحمت سره یې درباندې رجوع وکړه؛ دغه حرج یې درڅخه لرې کړ (د اسانۍ یوه بله نمونه یې هم درکړه) او څه مو چې کړي دي د هغو ګناهونه یې درته عفوه کړه.

۳ـ نو اوس تاسو د هغوی سره مباشرت (کوروالی) وکړئ او د هغې غریزې د اشباع دپاره پلټنه وکړئ کومه چې الله ﷻ ستاسو په خټه کښې اغګلې ده او په مشکل سره ترې د خانونو حفاظت کولی شئ. یعنې اوس تاسو ته اجازه ده چې کوروالی وکړئ، خوراک وکړئ، څښاک وکړئ، برابره خبره دهٔ چې د ماسخوتن د لمانځه او یا د خوب کولو څخه وروسته وي او که وړاندې وي، ترڅو مو چې روژه نه وي پېل شوې.

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۳۱۴
(۲) التفسیر الکبیر ج۵ ص۱۱۴
(۳) زاد المسیر ج۱ ص۱۷۲
(۴) تفسیر الطبري ج۲ ص۹۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ د روژې پیل مو د هغه وخت څخه کېږي چې د سباني سپین مزی د شپې د تور مزي څخه په واضحه او ځرګند شي.

نو کله مو چې روژه پيل شوه نو بیا د ذکر شوو درې شیانو څخه ځانونه بچ وساتئ او د شپې پورې خپلې روژې ته ادامه ورکړئ او هغه پوره کړئ مګر دلته هم بېکښې شبه داخله نه ده، بلکې د ورځې د آخر نه رسېدلو سره سمه سناسو روژه هم آخر ته رسېږي.

۵ـ کله مو چې روژه پای ته ورسېدله نو د بلې روژې د پیل کېدلو پورې تاسو خوراک، څښاک او کوروالی، درېواړه کولی شئ، مګر دغه یوه استثناء په ذهن کښې یاده وساتئ چې

که چېرې تاسو په جوماتونو کښې اعتکاف کوونکي یاست نو درباندې لازمه ده چې د یوې روژې د ختم کېدلو او د بلې د پیل کېدلو په منځکښې هم د کوروالي څخه ځانونه بچ وساتئ ترڅو مو چې اعتکاف پوره شي.

۶ـ دا ورانديې چې بيان شوه دا د الله ﷻ حدود دي چې د حق او د باطل په منځکښې یې ستاسو د لارښودانې دپاره ټاکلي دي پام کوئ چې دغو حدودو ته د فساد په توګه ورنژدې هم نه شئ دا خو لا پريږدئ چې هغو ته ځانونه وروړسوئ او د پښو لاندې یې کړئ او یا ترې هغې خوا ته تجاوز وکړئ

وګورئ څومره په اسانۍ او څومره په صراحت سره الله ﷻ خپل احکام خلکو ته وربیانوي، شاید چې دوی خپل ځانونه د الله ﷻ د عذاب څخه وساتي او د هغو وسائلو څخه چې سړی ورباندې خپل ځان د عذاب څخه ساتلی شي استفاده وکړي. د هغو د جملې څخه روژه نیول او الله ﷻ ته سوال زاری کول هم دي.

## توضیحات

۱ـ د لاندې څو لغاتو معناوې ولولئ:

الف "رَفَث" ـ لکه فَلْس ـ هغو خبرو ته وایي چې هغه په داسې کلماتو باندې مشتملې وي چې د هغو ذکر په صراحت سره ښه نه ګڼلی کېږي، بلکې په اکثرو اوقاتو کښې د کنایې په توګه پرې خلک تلفظ کوي نو په دې تقدیر د "رَفَث" کلمه هغو ټولو خبرو ته شامله ښکاري چې میړه یې د خپلې ماندینې سره یادوي(۱).

مګر په دې مقام کښې ترې د خپل اهل سره کوروالی مطلب دی، دا ځکه چې په هغه وخت کښې د روژې په شپه خپل اهل سره صرف کوروالی حرام وه او بس. لکه چې همداسې تفسیر د عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت شوی دی(۲).

ب د "نِسَاء" کلمه د خپل لفظ څخه مفرد نه لري بلکې مفرد یې "اِمْرَأَة" دی او ځینې مفسرین وایي چې مفرد یې "نِسْوَة" دی چې د "اِمْرَأَة" دپاره غیر لفظي جمعه ده نو په دې تقدیر د "نِسَاء" کلمه

(۱) مفردات الراغب ص ۵۰۲
(۲) تفسیر المراغي ج ۲ ص ۷۲، تفسیر ابن کثیر ج ۱ ص ۲۲۰، تفسیر البغوي ج ۱ ص ۱۵۶، تفسیر الطبري ج ۲ ص ۹۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

جمع الجمع گڼل کېږي؛ په هر صورت دا کلمه په معنی د ښځو سره ده[۱].
ج: د "الْعَاكِفُونَ" کلمه د "عکوف" څخه اخستله شوې ده. "عکوف" هغه ملازمت او اقامت ته وایي چې څوک یې د یو شي سره د تعظیم او احترام په توګه اختیار کړي[۲].
مګر په شریعت کښې په جومات کښې اوسېدانه او ملازمت په داسې حال کښې چې روژه دار هم وي د اعتکاف په نامه یادېږي، د همدې کبله چې روژه پکښې ضرور ده، برابره خبره ده چې فرضي روژه وي او که نفلي د اعتکاف بحث د روژې د بحث تر څنګه بیان کړی شوی دی[۳] د اعتکاف نور بحثونه دې د فقهې په کتابونو کښې وکتل شي.

## ښځه او مېړه هر یو د بل جامه ده

۲ـ د لاندې وجوهو د کبله ښځه د مېړه، او مېړه د ښځې دپاره د جامې په شان ګڼل شوي دي:
الف: لکه څنګه چې د جامې څخه د بدن ستر او پرده نه وي همدارنګه د دوی دواړو په منځکښې هم پرده او ستر ممکن نه دي.
ب: لکه څنګه چې جامه د بدن دپاره زینت او ډول دی همدارنګه د ښځې ابرو او عزت په مېړه کښې دی او د مېړه عزت په ښځه کښې دی، د ښځې په بې عزتۍ باندې مېړه بې عزته کېږي او د مېړه په بې عزتۍ باندې ښځه هم سپکېږي.
ج: څوک چې واده ونه لري (ښځه وي او که سړی) د هغه دین په خطر کښې وي، سات په سات یې د بې دینۍ وېره وي. لکه چې یو شی پوښ او غلاف نه لري او هر سات د خطراتو سره مخامخ وي[۴].

## هغه شی چې الله ﷻ لیکلی دی

۳ـ په ﴿ وَٱبۡتَغُواْ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمۡ ﴾ کښې مفسرینو کرامو لاندې تفسیرونه کړي دي:
الف: ځینو ویلي دي چې ﴿ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ ﴾ د اولاد څخه عبارت دی. نو معنی یې داسې کېږي چې تاسو باید مجامعت د اولاد دپاره وکړئ او د حیواناتو په څېر د تلذذ نیت باید درسره نه وي، او هم د هغه محل څخه خان وساتئ چې هغه د ولدیت محل نه وي[۵].
ب: ځینې وایي چې مطلب یې دا دی چې ستاسو څخه قید پورته شو نو رخصت پسې وګرځئ او عمل ورباندې وکړئ او غرائز مو اشباع کړئ په تاسو باندې څه ممانعت نشته دی[۶].
ج: ځینې وایي چې معنی یې دا ده چې پخوانی دستور پرېږدئ، هغه حکم ولټوئ کوم چې الله ﷻ

(۱) روح المعاني ج۲ ص۶۵
(۲) مفردات الراغب ص۳۵۵
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۲۴
(۴) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۵۷
(۵) تفسیر القرطبي ج۲ ص۳۱۸
(۶) تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۱۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درته په قرآن کریم کښې نازل کړی دی[۱].

ځینو نورو مفسرینو کرامو یې نورې معناوې کړې دي چې تقریبًا اتو معناوو ته رسېږي[۲]، مګر مونږ ته د دې مقام سره دوهمه معنی ډېره په زړه پورې ښکاري.

## د "مِنَ الْفَجْرِ" شان نزول

۴ـ کله چې ذکر شوی حکم نازل شو او د پېشنمي (چرګ بانګ) اخرنی وخت یې د دوه وو مزو سره چې یو تور وي او بل سپین، او دواړه سره تاو کړی شي؛ تشبیه کړ، نو تر هغه روژه نه پیل کېږي ترڅو چې سړی وکړی شي چې تور مزی د سپین څخه جدا کړي، نو یو صحابي (علي بن حاتم ﷺ) د خپل بالښت لاندې دوه مزي کېښوده چې یو سپین وه او بل تور وه او تر هغه یې خوراک او څښاک کاوه چې ترڅو به دواړه مزي ورځرګند شوه او یو به یې د بل څخه جدا کړه.

نو نوموړی صحابي ﷺ نبي کریم ﷺ ته راغی او ورته یې وویلې چې زه خو د خپل بالښت لاندې دوه مزي ږدم چې یو سپین دی او بل تور دی، په دې باندې شپه او ورځ پېژنم. نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: «إِنَّ وِسَادَتَكَ لَعَرِيضٌ إِنَّمَا هُوَ سَوَادُ اللَّيْلِ وَبَيَاضُ النَّهَارِ»[۳] یعني: بې شکه ستا بالښت خو ډېر پلن دی (لکه چې ټول اُفق ستا بالښت دی او ټول مشرق دې د سر لاندې اېښی دی) تحقیقًا د دې تشبیه څخه خو د شپې تیاره او د ورځې روښنایي مطلب ده.

نو الله ﷻ د دغسې اشتباهاتو د پورته کولو دپاره د ﴿ مِنَ ٱلْفَجْرِ ﴾ کلمه رانازله کړه ترڅو په همدغه مطلب باندې ښه دلالت وکړي چې نبي کریم ﷺ بیان کړ.

## صبح کاذب او صبح صادق

۵ـ سبا په لاندې دوه ډوله سره دی:

الف: یو هغه سبا دی چې د افق څخه مستقیمًا ولاړه رڼا راپورته شي، ته به وایې چې زمري لکۍ ښغه ښولې ده. دغه ډول سبا ته صبح کاذب وایي، یعني دروغژن سبا. په دې وخت کښې پېشنمی (چرګ بانګی) جائز دی.

ب: بل هغه سبا دی چې د افق په اوږدو کښې د ذکرې شوې ولاړې رڼا په یو طرف او بل طرف کښې روښنایي څرګنده شي، د همدغه وخت څخه روژه پیل کېږي او همدېته صبح صادق وایي.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: د دوه مزو سره تشبیه خو د صبح کاذب سره ښه مناسبه ده، ځکه چې هغه د مزي په شان نېغ ختلی وي، ته به وایې چې سپین او تور مزي سره تاو کړی شوي دي او بو برګ مزی ترې جوړ کړی شوی دی.

(۱) تفسیر الطبري ج۲ ص۹۹
(۲) البحر المحیط ج۲ ص۵۰
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۷، صحیح مسلم ج۱ ص۳۴۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما صبح صادق خو پلن دی، د مزي سره یې تشبیه ښه مزه ناکه نه ښکاري، نو مناسب دي چې د روژې پیل د صبح کاذب څخه وشي؟

مونږ وایو چې: که د ﴿ مِنَ ٱلْفَجْرِ ﴾ کلمه نه وی نازله شوې نو همداسې ښه مناسبه وه. خو کله چې الله ﷻ یې په خپله بیان وکړ چې سپین مزی د فجر څخه عبارت دی او تور مزی خو معلوم دی چې د شپې د تیارو څخه عبارت دی نو اوس ترې صبح کاذب نه شي مرادېدلی، ځکه چې د فجر کلمه په لغت کښې د یوه شي پوره څیرې کولو او پوره شکولو ته وایي[1]، او دا معنی خو په صبح کاذب کښې تحقق نه شي موندلی ځکه چې هلته خو د شپې تیاره پوره نه ده شکېدلې، بلکې یو سپین داغ پکښې پیدا شوی دی، پراخه شکول خو په صبح صادق کښې موندل کېږي چې برسېره په نبغه لیکه باندې پرته لیکه هم د افق په عرض کښې پیدا کېږي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وایي چې: د صبح صادق ساحه خو پلنه وي او مزی نری وي نو په دې تقدیر باندې یې هم تشبیه ښه مناسبه نه ښکاري؟

مونږ وایو چې: صبح صادق په اول راختلو کښې هم د مزي په شان نری وي خو په سرعت سره پلنوالی پیدا کوي، او ذکره شوې تشبیه ورسره په اول حالت کښې ورکړه شوې ده، نه په وروستني حالت کښې.

## د الله ﷻ حدودو ته مه نږدې کېږئ

۸ـ "حدود" د "حد" جمعه ده او حد د دوه وو شیانو فاصل او جدا کوونکي ته ویل کېږي.

نو دلته یې معنی داسې کېږي چې د روژې په باره کښې چې تاسو ته څه احکام درنازل کړی شوه او د جواز او عدم جواز په باره کښې یې درته اطراف وټاکل شوه نو هغو اطرافو او فواصلو ته یې مه ورنږدې کېږئ چې روا او ناروا او حق او باطل سره ګډوډ کړئ، بلکې د هر یوه په خپل خپل ځای کښې مراعات وساتئ.

## سوال جواب

۹ـ که څوک وایي چې: په دې ایت کښې خو څینې اوامر ذکر شوي دي لکه ﴿ وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ ﴾ او داسې نور، او څینې مناهي بیان شوي دي لکه ﴿ وَلَا تُبَٰشِرُوهُنَّ ﴾. نو د مناهیوو سره خو د "فَلَا تَقْرَبُوهَا" کلمه ښه مناسبه ښکاري چې ممنوعه شیانو ته ورنږدې کېږي مه، چې چرته پکښې واقع نه شئ او پښه مو ونه ښویېږي، اما د اوامرو سره خو نوموړې کلمه ښه مناسبه نه معلومېږي ځکه چې اوامر خو د ورنږدې کېدلو څخه په غیر اجراء کېدلی نه شي، بلکې د اوامرو سره خو د "فَلَا تَعْتَدُوهَا"

Downlaoded: bawarketabtoon.com

[1] مفردات الراغب ص۳۸۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کلمه ښه مناسبه ښکاري، لکه چې په [البقرة: ۲۲۹] ایت کښې استعماله شوې ده.

مونږ وایو چې:

الف: ځینې مفسرین کرام وایي چې ذکر شوي اوامر متضمن دي مناهیوو لره، مثلاً خورئ او څښئ خو کله چې د روژې وخت پیل شو نو بیا یې مه خورئ او مه څښئ. نو عدم تقرب همدغو ضمني مناهیوو ته متوجه دی[1].

ب: ځینې مفسرین کرام وایي چې دلته د عدم تقرب معنی دا ده چې دغو احکامو ته د ابطال په نیت مه ورنږدې کېږئ. چې په دې معنی باندې د اوامرو او مناهیوو دواړو سره ښه تطبیق خوري[2].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

که څوک وایي چې: ورانديې الله ﷻ د روژې د پیل وختونه وټاکل چې همدا د دې ایت د نزول سبب هم دی، نو په ﴿ فَلَا تَقْرَبُوهَا ﴾ کښې ولې همدغو حدودو ته اشاره نه کېږي چې ای مومنانو د روژو پیل درته وټاکل شو نو احتیاط کوئ چې ورنږدې نه شئ؟ نو معنی به یې داسې شي چې د روژو د پیل وختونو ته مه ورنږدې کېږئ او داحتیاط دپاره آن د صبح کاذب څخه روژې پیل کړئ او ورانديې مه ورتېرېږئ چې چرته به په حرامو کښې واقع شئ، نو په دغسې معنی اخستلو کښې څه نقصان دی؟

مونږ وایو چې: که د ﴿ فَلَا تَقْرَبُوهَا ﴾ څخه احتیاط مطلب شي نو احتیاط به فرض وګرځي او حال دا دی چې احتیاط خو په روژه دارانو باندې فرض نه دی.

او بل دا چې دا ډول تفسیر کول د احادیثو څخه مخالف دی، په احادیثو کښې د پیشمنې (چرګ بانګ) په باره کښې تاخیر او د روژه ماتي په باره کښې تعجیل مستحب ښودل شوی دی، د أبي ذر ﷺ په روایت باندې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لا تَزَالُ أُمَّتِي بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْإِفْطَارَ وَأَخَّرُوا السُّحُورَ»[3] یعني: زما أمت به همېشه په خیر باندې وي ترڅو چې په روژه ماتي کښې تعجیل کوي او په پیشمیو (چرګ بانګیو) کښې تاخیر کوي.

﴿ وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ وَتُدْلُوا۟ بِهَآ إِلَى ٱلْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا۟ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾ ﴾

[۱۸۸] او تاسو په خپلو منځو کښې په باطله طریقه سره مالونه مه خورئ او مه یې حاکمانو ته ورانديې کوئ چې (د دوی په ذریعه باندې) د خلکو د مالونو څخه یوه ټوټه مال په ګناه (ظلم) سره وخورئ حال دا چې تاسو پوهېږئ (چې هغه ستاسو حق نه دی).

(۱) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۴۹۷

(۲) روح المعاني ج۲ ص۶۹؛ التفسیرات الأحمدیة ص۷۵

(۳) مسند احمد بن حنل ج۸ ص۷۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

دا ایت شریف د وړاندې سره د لاندې وجوهو د کبله ارتباط لري:

۱ـ وړاندې الله ﷻ فرمایلي وه چې زه د سوال کوونکي سوالونه قبلوم، نو په دې ایت شریف کښې بې د سوال د ښه قبول یوه صفت ته اشاره وکړه چې هغه حلال خوراک او څښاک دی او د دوامو څخه ځان ساتل دي.

۲ـ د روژې په بیان کښې څرګنده شوه چې باید سړی د الله ﷻ د امر د منلو د کبله په روژه کښې حلال خوراک او څښاک هم ونه کړي.

په دې ایت کښې واضحه کېږي چې د الله ﷻ د امر د منلو دپاره باید چې حرام مالونه بالکل ونه خوري چې هغه ورباندې په دائمي توګه حرام دي، ځکه چې د موقت حرام څخه ځان ساتي باید چې د مؤبد حرام څخه خو بالکل اجتناب وکړي.

۳ـ د روژې او اعتکاف د بیان څخه وروسته یې د هغو دواړو حکمت ته اشاره وکړه چې په هغو دواړو کښې د هر یو لوی حکمت دا دی چې سړی د حرام خوري څخه ځان وساتي او د حلال خوري سره یې عادت کړي. دا ځکه چې مکمله یوه میاشت سړی خپل نفس د اداري لاندې راولي او خپلسریو ته یې پرېنږدي او یا یې پوره لس شپې په جومات کښې محبوس کړي چې د عبادت او ذکر فکر څخه په غیر یې بل کار نه وي.

نو هغه سړی کولی شي چې د کال په متباقي یوولسو میاشتو کښې هم خپل ځان اداره کړي او د قابو لاندې یې راولي، نو په دې ایت شریف کښې د روژې او اعتکاف اجتماعي او اخلاقي ګټو ته اشاره شوې ده.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په روژه او اعتکاف کښې خو د دریو شیانو تحریم بیان شوی وه چې خوراک، څښاک او مجامعت دی، خو دلته یوازې د خوراک حکمت وښودل شو او بس. په کار وه چې د ټولو درېواړو حکمتونو ته اشاره شوې وی؟

مونږ وایو: هغه څوک چې د حرام خوراک څخه خپل ځان ساتي هغه یې د حرام څښاک څخه هم ساتي ځکه چې خوراک او څښاک یو تربله سره کلک ارتباط لري.

همدارنګه هغه څوک چې د حرامې غذا څخه د خپل ځان په ساتلو بریالی شي (سره د دې چې غذا د انسان د ژوند ضرورت دی، د غذا څخه په غیر ژوند ممکن نه دی او هم هر انسان ته وړوکی وي او که غټ، خوان وي او که بوډا غذا ضرور ده)، نو د حرامې جماع څخه خو په ډېره ښه وجه د خپل ځان حفاظت کولی شي.

د همدې کبله د حرامې غذا څخه په ځان ساتلو باندې صراحت وکړی شو او د حرامې جماع یادونه مستقله ونه کړی شوه بلکې په ضمني ډول باندې یې بسنه وکړی شوه.

Downloaded: bewarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ کوم حدود چې الله ﷻ ستاسو دپاره د خپلو مالونو په باره کښې ټاکلي دي هغو ته د فساد په نیت مه ورنژدې کېږئ، او همدارنګه د هغو حدودو مراعات هم په کلکه سره وکړئ چې هغه الله ﷻ ستاسو دپاره په پرديو مالونو کښې لګولي دي، نو په خپلو منځو کښې په ناجائزه طریقه باندې یو د بل مال مه خورئ، باید داسې حفاظت یې وکړئ لکه چې د خپل مال حفاظت کوئ او داسې مه کوئ چې د پردي مال څخه په ناجائزه طریقه باندې استفاده وکړئ، په باطله طریقه باندې باید چې د خپل مال څخه استفاده ونه کړئ پاتې خو لا پردی مال.

۲ـ او همدارنګه حاکمانو ته هم مالونه مه وړاندې کوئ ترڅو هغوی درته د پرديو مالونو په ملکیت باندې حکم وکړي حال دا چې په واقع کښې هغه ستاسو ملکیت نه وي، مګر د ظلم او ګناه د لارې څخه هغه ستاسو ملکیت ته درانتقال کړي، او تاسو پوهېږئ چې هغه ستاسو ملکیت نه دی، که د مال خاوند پوه نه شي چې تاسو ورسره څه حق نه لرئ الله ﷻ خو پوهېږي.

۳ـ لنډه دا چې د پردي مال خوراک په دوه ډوله صورت مومي چې دواړه الله ﷻ ممنوع وګرځول:
الف: چې قاضي او حاکم ورباندې حکم نه وي کړی او شرعي حیله ورته نه وي جوړه شوې. لکه ۱ـ په قمار، ۲ـ په ټګۍ، ۳ـ په غصب، ۴ـ په کچنیتوب، ۵ـ د پالګر په پال اچولو یا جادو او کوډو کولو، ۶ـ د شرابو او خنزیرانو په خرڅولو، ۷ـ په سود، ۸ـ په هغو عقدونو سره چې شرعاً باطل او فاسد وي چې تفصیل یې د فقهې په کتابونو کښې مکمل شته، ۹ـ په غلا او په داسې نورو اسبابو باندې.

ب: چې قاضي او حاکم ورباندې حکم وکړي خو د غه حکم د واقع سره برابر نه وي؛ د دې ډول صورتونه لاندې وګورئ:

اول: چې د دروغو په شاهدانو باندې قاضي حکم وکړي او ناحق شاهدان ومني.

دوهم: چې د دروغو په قسم باندې فیصله وکړي.

درېیم: چې قاضي ته حق معلوم وي خو د رشوت په ذریعه په حق باندې فیصله ونه کړي او یا د مخ او خاطر په سبب حق د پښو لاندې کړي.

## توضیحات

۱ـ لکه څنګه چې د پردي مال په ناجائزه طریقه باندې خوړل حرام دي همدارنګه نرې نورې استفادې هم حرامې دي، مګر په خوراک باندې یې ځکه صراحت وکړ چې د یو پلوه خوراک په ټولو استفادو کښې غټه او مهمه استفاده ده او د بل پلوه په خلکو کښې د خوراک کلمه په هره بده استفاده کښې استعمالېږي. مثلاً که یو مجاهد د غنیمت ټوپک وېشلو ته تسلیم نه کړي نو نور مجاهدین وايي چې ټوپک یې راخخه وخوړ او خېټه یې پرې واچوله، سره د دې چې اوسپنه نه خوړل کېږي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## خپل مالونه مه خورئ!

۲_ عمومي مفسرینو کرامو د ﴿وَلَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم﴾ تفسیر داسې کړی دی چې ځینې ستاسو دې د ځینو نورو مالونه په خپلو منځو کښې په ناجائزه طریقه نه خوري[1].

دوی وایي چې الله ﷻ د پردیو مالونو څخه په ﴿أَمْوَٰلَكُم﴾ سره تعبیر وکړ ترڅو خلکو ته ورڅرګنده کړي چې باید یو مسلمان د بل مسلمان مال داسې وګڼي لکه چې د ده خپل مال وي. نو لکه چې هیڅوک نه خوښېږي چې څوک یې په ظلم سره مال وخوري نو باید چې سړی د بل چا په مال باندې هم په غیر مشروعه طریقه اقدام ونه کړي.

د دې نظیر داسې دی لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ﴾ [النساء: ۲۹] یعنې: او تاسو خپل ځانونه مه وژنئ؛ یعنې ځینې ستاسو دې ځینې نور نه وژني، باید چې هر مسلمان په بل مسلمان باندې دومره ودردېږي لکه په خپل ځان باندې چې دردېږي، د هغه وژل باید د خپل ځان وژل وګڼي.

## "إِدْلاء" څه ته وایي؟

۳_ د "تُدْلُوا" کلمه د "إِدْلاء" څخه اخستله شوې ده چې اصلي حرفونه یې (د، ل، و) یعنې "دَلْوٌ" دی. نو د لغت په اعتبار سره یې معنی داسې کېږي چې د مالونو څخه بوقه مه جوړوئ چې قاضي نه یې وروغځوئ او د هغه څخه ورباندې په ناحقه فیصله راواخلئ؛ لکه څوک چې د یوې ژورې څا د اوبو څخه تر هغې استفاده نه شي کولی ترڅو چې هغې ته بوقه ور زوړنده کړي او اوبه پرې راپورته کړي نو تاسو هم کله چې پردی مال په قانوني توګه نه شئ خوړلی او یا موورباندې زور نه رسېږي چې په غصب سره یې ترې واخلئ نو بیا ورته حیله مه جوړوئ چې د قاضي په فیصله یې خپل ځان ته راکش کړئ؛ چې دا په دوه صورتونو سره تحقق موندلی شي:

الف: چې د خپلو مالونو د څه برخې څخه پرې جوړ کړئ او قاضي ته یې د رشوت په توګه ورانديې کړئ، ته به وایې چې د همدې پړې په سر پورې بوقه ده او د قاضي څخه په هغې کښې د فیصلې اوبه راپورته کوئ.

په دې صورت کښې که څه هم فیصله اخستونکي ته ورکړی شوی مال نه حلالېږي مګر په قاضي باندې د الله ﷻ د پلوه د لعنت باران هم کېږي.

ابو هریره ﷜ په یوه مرفوع حدیث کښې وایي چې «لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ فِي الْحُكْمِ»[2]، یعنې: نبي کریم ﷺ په رشوت ورکوونکي او رشوت اخستونکي دواړو باندې لعنت استولی دی.

ب: چې د هغه مال څه برخه چې د خوړلو نیت مو ورته کړی وي قاضي ته ور وړاندې کړئ او د

(۱) تفسیر الطبري ج۲ ص۱۰۷؛ روح المعاني ج۲ ص۷۰؛ تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۲۵؛ تفسیر المراغي ج۲ ص۸۱
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۴۸؛ سنن ابي داود ج۲ ص۱۴۸؛ سنن ابن ماجه ص۱۶۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکړي وعده يې ورکړې ترڅو ستاسو په ګټه فيصله وکړي، نه به وايي چې همدغه برخه حرام مال يو پړی دی او په قاضي باندې چې ورزوړند شو نو قاضي يې په سر پوري د فيصلې بوقه وتړله او تا خپل خان ته راکش کړ.

## په ياد ولرئ!

۴_ په ياد ولرئ چې رشوت ورکوونکی په هغه وخت کښې د لعنت لاندې راځي چې د دې دپاره رشوت ورکوي چې ناجائز حکم ترلاسه کړي، اما که د خپل حق د ژوندي کولو دپاره او يا د خپل خان د آبرو او عزت ساتلو په غرض رشوت ورکړي نو بيا ګناهګار نه دی ځکه چې د خپلو حقوقو حفاظت فرض دی، لکه څوک چې پوليس ته څه ورکړي او خپل خان ترې خلاص کړي؛ خو رشوت اخستونکی په هر حال ګناهګار دی.

## حرام مال د قاضي په حکم نه حلالېږي

۵_ که څوک په څه حيله يا څه انحراف باندې د قاضي څخه يو حکم ترلاسه کړي چې په واقع کښې هغسې نه وي لکه چې قاضي ورباندې حکم کړی وي، نو د الله په وړاندې د دغه کس غاړه نه خلاصېږي او د قيامت په ورځ به يې، چې کله د عدالت تله ودروله شي، بېرته ورکړي.

بي بي أم سلمه رضي الله عنها وايي چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ د خپل کور د دروازې ترڅنګ د جګړه کوونکو څه شورماشور واورېده چې نبي کريم ﷺ ته د فيصلې کولو دپاره راغلي وو، نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې بې شکه زه بشر يم او بې شکه ماته جګړه کوونکي راځي شايد چې ځينې ستاسو به د ځينو نورو څخه خپل حجت ښه بيان کړي (زه به پرې وغولېږم). نو هغه څوک چې زه ورته د بل مسلمان په حق باندې حکم وکړم «فَإِنَّمَا هِيَ قِطْعَةٌ مِنَ النَّارِ فَلْيَأْخُذْهَا أَوْ لِيَتْرُكْهَا»[1] يعني: نو بې شکه هغه د اور يوه ټوټه ده نو خوښه يې چې د خانه سره يې اخلي او که يې پرېږدي.

﴿ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَـٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾ ﴾

[۱۸۹] ستا څخه د مياشتو په باره کښې پوښتنه کوي، ورته ووايه چې دا د خلکو دپاره د وختونو د پېژاندلو اسبابونه دي او هم د حج د وخت د پېژاندلو دپاره (آلات او ذرائع دي) او دا پوره اطاعت (او منښه) نه ده چې تاسو خپلو کورونو ته د شا د پلوه ورشئ مګر پوره اطاعت د هغه چا دی چې هغه د الله ﷻ څخه ډارېږي (او احکام يې مني نو تاسو يې احکام ومنئ) او خپلو کورونو ته د دروازو په لار ورشئ او د الله ﷻ څخه وډار شئ شايد چې تاسو فلاح (نجات) ومومئ.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۳۳۲، ج۲ ص۱۰۶۲، ۱۰۶۵، سنن ابي داود ج۲ ص۱۴۸؛ سنن ابن ماجه ص۱۶۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شان نزول او ارتباط

څرنګه چې په دغه ایت شریف کښې دوه حادثې بیانې شوې دي نو مفسرینو کرامو د هرې یوې حادثې دپاره جدا جدا شان نزول ذکر کړی دی:

۱ـ د اولې ټکړې شان نزول مفسرینو کرامو په لاندې دوه ډوله بیان کړی دی:

الف: ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې معاذ ﷺ او ثعلبه ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه د میاشتې په باره کښې پوښتنه وکړه چې میاشت ولې په اول سر کښې نرۍ راښکاره شي لکه مزی، بیا په کراره کراره غټېږي ترڅو چې پوره شي نو بیا په تنزل باندې شروع کوي چې په ورو ـ ورو نرۍ کېږي ترڅو چې په آخر کښې بالکل ورکه شي. چې دغه حالت ته یې "محاق" وایي[1].

ب: ځینې نور مفسرین کرام وایي چې دا پوښتنه د نبي کریم ﷺ څخه یهودانو کړې وه[2].

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې سوال به لومړی یهودآنو د ځینو مسلمانانو په وړاندې مطرح کړی وي، او بیا به مسلمانانو نبي کریم ﷺ ته وړاندې کړی وي چې یا رسول الله! یهودان د میاشتې په باره کښې داسې پوښتنه کوي.

مونږ څکه وایو چې نوموړی سوال اصلاً یهودانو کړی دی چې په جواب کښې ﴿ لِلنَّاسِ ﴾ کلمه نازله کړی شوې ده چې مسلمانانو او کافرو ټولو ته شامله ده. یعني د میاشتې د تغییراتو ګټې دومره واضحه دي چې ټول خلک ترې استفاده کوي حتی چې یهودان هم ترې ګټه اخلي او دوی پرې هم پوهېږي، خو دغسې سوالونه محض د تعنت او عناد د کبله کوي او غواړي چې نبي کریم ﷺ په غیرو مهمو شیانو باندې مشغول وساتي او د خپلو ځانو څخه یې توجه واړوي.

د همدوی په شان کار فرعون هم د موسی ﷺ په مقابل کښې کړی وه، کله چې پوه شو چې د مقابلې څخه یې عاجز دی نو ورته یې وویلې چې: ﴿ فَمَا بَالُ ٱلۡقُرُونِ ٱلۡأُولَىٰ ﴾ [طه: ۵۱] یعنې: د پخوانیو زمانو څه حالات وه؟ موسی ﷺ خو د فرعون په غرض باندې پوه وه نو همدومره لنډ جواب یې ورکړ ﴿ عِلۡمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٖۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴾ [طه: ۵۲] یعنې: بې شکه د هغو علم زما د پروردګار سره دی او په لوح محفوظ کښې دی چې نه ترې ورکېږي او نه یې هېروي.

۲ـ د دوهمې ټکړې په شان نزول کښې هم ګڼ شمېر روایات شته. مثلاً:

الف: د اسلام څخه وړاندې د ځینو قبائلو عادت وه چې د حج یا عمرې احرام به یې وتاړه او بیا به ورته حاجت پېښ شو او غوښتل به یې چې کور ته ورداخل شي نو په دروازه باندې ورداخلېدل ورته ګناه ښکارېدله، نو یا به په زینه باندې بام ته خوت او بیا به انګړ ته راښکته کېده، او یا به یې د خپل کور په دېوال کښې سوری کاوه او د هغه سوري څخه به ورداخلېدل. څوک به چې په دروازه

---

(۱) تفسیر کبیر ج۵ ص۱۳۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۲ ص۳۴۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې ورداخل شو نو هغه به غټ ګنهګار وه. نو دوی چې کله په اسلام باندې مشرف شوه هم د نوموړي عادت مطابق یې عمل کاوه[۱].

ب: د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه داسې روایت هم راغلی دی چې کله به څوک د یو دښمن څخه په خطر کښې وه او زور به یې ورسره نه وه برابر، نو د دښمن د ډار څخه به یې احرام وتاړه، په هغه وخت کښې د احرام احترام ډېر وه چې چا به ورباندې تعرض نه کاوه، مګر چې خپل کور ته به داخلېده نو یا به د بام د لارې او یا د سوري د لارې داخلېده، په دروازه ورداخلېدل ورته ګناه ښکارېده[۲].

ج: ځینې مفسرین وايي چې د جاهلیت عادت داوه چې د حج څخه به بېرته راستانه شوه نو کور ته به په دروازه باندې نه ورننوتل، یا به یې دېوال سوری کاوه او یا به د بام په سر باندې ورختاته[۳].

د: ځینې مفسرین کرام وايي چې دا کار دوی په اعتکاف کښې کاوه، چې څه انساني ضرورت به وریپښ شو او غوښتل به یې چې د جومات څخه کور ته لاړ شي نو په دروازه باندې ورداخلېدل ورته ګناه ښکارېده[۴].

## تبصره

هـ: امکان لري چې ذکر شوي ټول صورتونه به په هغه وخت کښې رواج وه، په ځینو روایاتو کښې یوه ته اشاره شوې ده او په ځینو کښې بل ته، والله ﷻ أعلم.

## د دواړو جوابونو مناسبت

۳ـ څرنګه چې په یوه ایت کښې د دوه حادثو جواب ویل شوی دی نو مفسرین کرام د دواړو جوابونو په منځکښې لاندې مناسبت بیانوي.

الف: څرنګه چې نبي کریم ﷺ بلکې ټول پیغمبران علیهم السلام د شرائعو د بیان دپاره را استولي شوي دي نو که د دوی په شریعتونو کښې د تکویناتو څه ناڅه بیان لیدل کېږي، البته چې هغه به د څه مناسباتو او څه حکمتونو په مقصد وي خو پیغمبران علیهم السلام د تکویناتو د شرحې دپاره نه دي استولي شوي نو په کار وه چې په دغه ارتباط ترې سوال هم نه وی کړی شوی.

نو کله چې د نبي کریم ﷺ څخه د میاشتې په باره کښې پوښتنه وشوه داسې مثال یې ولاره لکه څوک چې دروازه پرېږدي یا د بام په سر پورته شي او یا دېوال سوری کړي، یعني لار خطا کړي[۵].

په اوله ټکړه کښې د معنوي دروازې پرېښودل بیان شوه او په دوهمه کښې د حسي دروازې پرېښودل شرحه شوه. نو په غیر مناسبه طریقه باندې په تللو کښې دواړه حادثې شریکې دي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۸؛ تفسیر الطبري ج۲ ص۱۰۹؛ روح المعاني ج۲ ص۷۳
(۲) تفسیر الطبري ج۲ ص۱۰۹
(۳) تفسیر القرطبي ج۲ ص۳۴۶
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۲۶
(۵) تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۳۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ب: اوله ټکړه د غیر مناسب قول اصلاح کوي او دوهمه ټکړه د غیر مناسب فعل اصلاح اولی(۱). نو په غیر مناسبت کښې سره دواړه شریکې دي.

ج: څرنګه چې په اوله ټکړه کښې د حج ذکر راغلی وه نو په دوهمه ټکړه کښې یې هغه غلطي اصلاح کړه چې دوی د حج د احرام په باره کښې کوله چې په دروازه به نه ننوتل(۲).

د: مګر موږ ته یې مناسبت داسې ښکاري چې دواړه جوابونه د یهودانو د غلطیو اصلاح کولو دپاره دي د اولنۍ ټکړې خبره خو په شان نزول کښې ثابته شوه چې سوال د یهودانو څخه منشا شوې وه او دوهمه ټکړه ځکه یهودانو پورې مربوطه ده چې د همدې ایت مثل وړاندې تېر شوی دی چې ﴿لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟﴾ [البقرة: ۱۷۷].

څرنګه چې هلته راجح خبره همدا وه چې هغه ایت په یهودانو باندې د رد دپاره نازل شوی وه، نو په دې ایت کښې هم په یهودانو باندې رد دی. ځکه چې د هغه ایت او د دې ایت سره صرف په اجمال او تفصیل کښې فرق دی، هلته د تقواداری د احکامو نومونه اخستلي شوي وه او دلته ټولو ته په ﴿مَنِ ٱتَّقَىٰ﴾ سره اشاره شوې ده. ته به وایې چې دا ایت د هغه څخه مختصر کړی شوی دی.

۴_ په هر تقدیر دا ایت د تېرو شوو ایتونو سره د لاندې وجوهو د کبله ارتباط لري:

الف: وړاندې د روژې حکم بیان شوی وه، او په دې ایت کښې مسلمانانو ته وښودله شوه چې که الله ﷻ میاشت د لمر په شان په یو حالت باندې ګرځولې وی نو د روژې اداء کولو وخت به مو څنګه پېژاندلی وی؟

ب: وړاندې دا حکم هم بیان شوی وه چې پردي مالونه مه خورئ. په دې ایت کښې اشاره وشوه چې د حرام مال خوړل داسې دي لکه څوک چې دروازه پرېږدي او بام ته پورته شي او یا دېوال سوری کړي، ځکه چې د خوراک او څښاک دپاره اسلامي شریعت د دروازې حیثیت لري او بس.

ج: همدارنګه دې ته هم اشاره ده چې تحلیل او تحریم بله مرجع نه لري پرته د محمدي (ﷺ) شریعت څخه. نو په کار دي چې مسلمانان خپل مشکلات د همدې لارې څخه حل کړي او بس.

## د مطلب خلاصه

۱_ ای پیغمبره! ستا څخه د میاشتو په باره کښې پوښتنه کوي چې ولې وړه او غټه کېږي؟، او ولې د لمر په شان په یوه حالت باندې نه ده؟، برسېره په دې ولې کله پټېږي او کله ښکاره کېږي؟.

ته ورته ووایه چې د میاشتو حالات خو د خلکو دپاره د وختونو پېژاندلو اسباب دي چې خلک د خپلو عبادتونو وختونه ورباندې پېژني، معاملات او راکړه ورکړه یې په همدې باندې بناء ده. برسېره پر دې د حج د وخت پېژاندل د میاشتو په تغیراتو باندې پېژاندل کېږي. دغه تغیرات په سترګو باندې ښکاري، باسواده او بې سواده ټول ورباندې پوهېږي، که الله ﷻ میاشت هم د لمر

(۱) تفسیر روح المعاني ج۲ ص۷۴
(۲) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۴۹۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په شان ګرځولې وی نو خلک به د ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوي وی، او دا خکه چې د میاشتو شمېرل ډېر اسان دي نسبت د ورځو شمېرلو ته.

۲_ او دا هم پوره کامل اطاعت نه دی چې تاسو خپلو کورونو ته د شاګانو د طرفه ورشئ او په دېوالونو باندې وروخېژئ او یا دېوالونه سوري کړئ. مګر ښه اطاعت او فرمانبرداري د هغه چا فرمانبرداري ده چې هغه د الله ﷻ څخه وېرېږي او په همغه شي باندې کلک ودرېږي چې الله ﷻ ورته هدایت اوښودانه کوي، او د خپله ځانه الله ﷻ ته عبادت نه اختراع کوي.

نو دغسې د ځانه جوړ شوی عبادت پرېږدئ، خپلو کورونو ته د دروازو د لارې ورشئ او د الله ﷻ څخه وډار شئ چې څه حکم درته کوي په هماغه باندې محکم اوسېږئ، شاید چې د فلاح او نجات لاره پیدا کړئ. تاسو په خپل خیر او شر باندې نه پوهېږئ، یوازې الله ﷻ ورباندې پوهېږي او بس.

## توضیحات

۱_ په ﴿يَسْـَٔلُونَكَ﴾ کښې مفسرینو کرامو دوه احتماله ښودلي دي:

الف: د نبي کریم ﷺ څخه د میاشتې د فوائدو په باره کښې پوښتنه شوې وه نو جواب هم د فوائدو په بیان باندې ورکړی شو، نو سوال او جواب سره مطابق شو[۱].

ب: پوښتنه د میاشتې د تغییراتو د علت شوې وه خو جواب ورته د فوائدو په بیان باندې ورکړی شو، چې په دې تقدیر باندې سوال او جواب مطابق نه راځي. نو دوی وایي چې دا جواب په "أُسْلُوبُ الْحَكِيْمِ" سره ورکړی شوی دی[۲].

### الأسلوب الحکیم څه ته وایي؟

۲_ "أُسْلُوب" لارې او طریقې ته وایي او "حَكِيْم" د حکمت والا ته وایي. نو معنی یې داسې کېږي چې دوی ته په حکمتناکه طریقه او فائده مند ډول سره جواب ورکړی شوی دی. یعنې دوی پوه کړی شوه چې تاسو باید د میاشتې د فوائدو پوښتنه وکړئ نه د علت او سبب. ځکه چې د یو پلوه پرې پوهېږئ نه او د بل پلوه نبي کریم ﷺ د هغو د بیان دپاره نه دی استولی شوی.

### هېر مو نه شي!

۳_ هېر مو نه شي چې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د ټولو هغو سوالونو شمېر چې د نبي کریم ﷺ څخه خپل امت کړي وه او په قرآن کریم کښې یې جوابونه ورکړی شوي پنځلس (۱۵) نه او اته نور یې ټول په همدې سورت کښې نازل شوي دي چې په یوه کښې یې فعلاً بحث کوو، او بل وړاندې تېر شوی: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي﴾ [البقرة: ۱۸۶]، او شپږ نور وروسته راروان دي[۳].

(۱) روح المعاني ج۲ ص۷۱
(۲) تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۳۱
(۳) تفسیر کبیر ج۵ ص۲۳۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## هلال څه ته وايي؟

۴ـ هلال د میاشتې نوم دی چې په اولو دوه شپو او د آخر په دوه شپو کښې په همدې نامه یادېږي، خکه چې په دغو څلورو شپو کښې وربانديې لیدونکي اواز پورته کوي چې: هغه ده میاشت!، او هلال اصلاً اواز پورته کولو ته وايي[1]. اما د دغو څلورو شپو څخه په غیر ورته قمر وایي. څه نور اقوال هم پکښې شته دي، مګر دغه قول چې ذکر شو مختار ګڼل شوی دی[2].

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: میاشت خو یوه ده او په ایت شریف کښې د ﴿ٱلۡأَهِلَّةِ﴾ "میاشتو" څخه پوښتنه شوې ده، ایا دا پوښتنه په ځای ده؟

مونږ وایو: څرنګه چې میاشت په هره شپه کښې په بېل-بېل شکل سره ښکارېږي نو داسې وګڼله شوه لکه چې د هرې شپې دپاره بېله-بېله میاشت وي. یعنې جمعه یې حقیقي نه ده اعتباري ده.

## مواقیت څه ته وایي؟

۶ـ "مَوَاقِيت" د "مِيْقَاة" جمعه ده او "مِيْقَاة" د وقت د پېژاندلو آلې او سبب ته وایي. نو معنی یې داسې کېږي چې د میاشتو تغییرات د خلکو دپاره د وختونو د پېژاندلو سامان او اسباب دي، مرڅوک چې سترګې لري هغه ترې استفاده کولی شي او د عباداتو او معاملاتو وختونه وربانديې پېژاندلی شي.

## د دې ایت ارشاد

۷ـ ذکر شوی ایت شریف مونږ ته په لاندې مواردو کښې هدایت او لارښوونه کوي:

الف: بشري علوم او اکتشافات باید د قرآن کریم تفسیر ونه ګڼو چې دغه کشفیه د فلاني ایت مراده ده، بلکې باید چې ووایو چې زمونږ په فکر ترې دغه کشفیه معلومېږي نور نو الله ﷻ پوهېږي چې همدغه کشفیه به یې ترې مراده وي او که نه.

او دا خکه چې څه الله ﷻ فرمایلي دي هغه واقعیات دي د ټولو زمانو سره مطابقت لري او د زمانو بدلون وربانديې څه اثر نه لري.

اما بشري علوم دائمي استقرار نه لري. لکه چې پخوا فیلسوفانو ویلې چې ځمکه ساکنه ده او اسمان حرکت کوي او د ننۍ زمانې خلک وایي چې ځمکه متحرکه ده. امکان لري چې په همدې نظریه کښې څه موده وروسته بل بدلون واقع شي او یا تکذیب شي.

نو که بالفرض مونږ د ځمکې سکون یا حرکت د قرآن مراد وګڼو او څه موده وروسته هغه تکذیب شي نو دا به د قرآن کریم تکذیب وي، العیاذ بالله.

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۷۱
(۲) زاد المسیر ج۱ ص۱۷۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: عبادت: هغه قول یا فعل نوم دی چې شریعت رابنودلی وي چې په دغې طریقې باندې د الله ﷻ رضا حاصلیږی لکه لمونځ، روژه، او د حج مختلف مناسک او داسې نور.

که بالفرض څوک داسې عمل ځان ډېر په تکلیف کړي او ډېر سخت او دروند عمل په دې گومان وکړي چې الله ﷻ په دې راضي شي خو چې په شرعي لاربنودانه باندې برابر نه وي هغه عبادت نه دی لکه چې خلک وایې غیدو سنړی او الله ﷻ ناراض.

بالمقابل که ډېر وړوکی او اسان عمل وي خو د شریعت په ښودانه باندې ترسره شوی وي په هغه کښې د لوی اجر امید شته، لکه د ژمي روژې چې نه پکښې لوږه وي او نه تنده. مگر ثوابونه یې د کاملې روژې دي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې «اَلْغَنِيمَةُ الْبَارِدَةُ الصَّوْمُ فِي الشِّتَاءِ»[۱] یعنې سوړ غنیمت په ژمي کښې روژه ده. لکه چې مجاهدینو ته د جنگ څخه په غیر غنیمت لاس ته ورشي.

ج: هغه خلک هم د عبادتونو کوټې ته د بام د پلوه ورداخلیږي چې په مستحبو باندې ډېر کلک وي، نه به وایې چې دا ضعفي فرض دي مگر قطعي فرض یې د پښو لاندې کړي وي، او ځان ته لا متقي او دیندار، هم وایي، باید هر شرعي حکم په خپل شرعي چوکاټ کښې اداء کړی شي او بس.

د: هغه خلک هم د عبادتونو د کوټې دروازه نه پېژني چې مکروهات د قطعي حرامو درجې ته رسوي او قطعي حرام ورته د مکروهاتو حیثیت هم نه لري، په اصطلاح اوښان یې په بډه وهلي وي او ځان د هر چا څخه تقوادار گڼي.

یا په بل عبارت: هغه کسان چې شرعي احکام په خپلو خپلو چوکاټونو کښې نه اجراء کوي یا پکښې افراط کوي او یا تفریط. د هغوی مثال داسې دی لکه خر چې په اوبو څښلو کښې ډېر ډېره مزه ورکوي چې د څښکې څخه د اول راوتلو سره سمې یې وڅښي چې بالکل په کوم نجاست او احتیاطه دی چې په هر یو ډېران باندې وربرابر شي په نجاساتو باندې یې صرفه نه کوي. ناپاکۍ باندې نه وي ملوثې شوې لکه چینه یا د کاریز خوله. مگر په مأکولاتو کښې ډېر بې

﴿وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ١٩٠ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡ وَأَخۡرِجُوهُم مِّنۡ حَيۡثُ أَخۡرَجُوكُمۡۚ وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِۚ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِيهِۖ فَإِن قَٰتَلُوكُمۡ فَٱقۡتُلُوهُمۡۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٩١ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٩٢ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِۖ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَلَا عُدۡوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩٣ ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۶۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس ابا سین لخوا سکین شو


بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَٰتُ قِصَاصٌ ۚ فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿١٩٤﴾

[۱۹۰] او د الله ﷻ په لار کښې د هغو کسانو سره مقاتله وکړئ چې هغوی ستاسو سره جنګ کوي او (د حد څخه) تجاوز مه کوئ.
بې شکه الله ﷻ د تجاوز کوونکو سره محبت نه لري (غضب ورباندې کوي)

[۱۹۱] دوی ووژنئ په هر ځای کښې مو چې مونده کړه (لاس مو ورباندې بر شو) او د هغو ځایونو څخه يې وباسئ چې د هغو ځایونو څخه يې تاسو ویستلي وئ (مکه یا خپل کورونه) او فتنه د وژلو څخه سخته ده (خو دوی ورباندې صرفه نه ده کړې).
او د المسجد الحرام په شاوخوا (حرم شریف) کښې ورسره مقاتله مه کوئ ترڅو چې دوی پکښې درسره جنګ پیل کړي. نو که دوی درسره جنګ پیل کړ نو ویې وژنئ؛ همدارنګه د کافرانو جزا ده.

[۱۹۲] نو که (د پیل څخه وروسته یې) د جنګ څخه لاس واخست (درته تسلیم شوه) نو بې شکه الله ﷻ بښونکی او مهربان دی (تاسو هم د بښنې او مهربانۍ څخه کار واخلئ).

[۱۹۳] او تر هغه ورسره مقاتله وکړئ ترڅو چې فتنه ورکه شي (د دوی زور مات شي) او عمومي غاړه ایښودل صرف د الله ﷻ دپاره شي، او که (د فتنه اچولو څخه) یې منعه وکړه (او زور یې مات شو) نو تجاوز خو په بل چا باندې نشته یوازې په ظالمانو باندې دی (دوی په دغه وخت کښې متعدیان ظالمان نه دي).

[۱۹۴] (سږنۍ) حرامه میاشت (ذو القعده) د (پروسږکال) حرامې میاشتې (ذو القعدې) په عوض کښې ده. او حُرُمات (د احترام شیان) خو ټول سره برابر دي. نو هغه څوک چې په تاسو باندې تجاوز وکړي تاسو هم په هغوی باندې داسې تجاوز وکړئ لکه په تاسو باندې یې چې کړی وي.
او د الله ﷻ څخه وډار شئ او پوه شئ چې بې شکه الله ﷻ د متقیانو سره دی.

## یوه مقدمه او ارتباطونه

په ذکر شوو ایتونو باندې د ښه پوهېدلو دپاره مناسبه ګڼو چې لاندې څو مطالب وړاندې کړو:

۱ـ یو کال په دولسو میاشتو وېشل کېږي چې، نومونه یې دا دي:
(۱) محرم الحرام، (۲) صفر المظفر، (۳) ربیع الأول، (۴) ربیع الثاني، (۵) جمادي الأول، (۶) جمادي الثاني، (۷) رجب المرجب، (۸) شعبان المعظم، (۹) رمضان المبارک، (۱۰) شوال المکرم، (۱۱) ذو القعدة، (۱۲) ذو الحجة.

۲ـ د دغو دولسو میاشتو څخه څلور میاشتې محترمې دي او دا احترام ورته آن د ابراهیم ؑ د زمانې څخه پاتې دی، کافر او مسلمان ټول په دې احترام باندې قائل دي، احترام یې دا وه چې په

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دې څلورو میاشتو کښې به یې جنګونه نه کول، لوټماري به یې نه کوله او دوست او دښمن به ازاد ګرځېدل، په اوومه میاشت (رجب) کښې به عمرې ته تلل راتلل، او په شوال، ذو القعده، ذو الحجه کښې به یې د حج مناسک اداء کول او کور ته به پکښې تلل راتلل.

۳ـ هو! د جاهلیت په زمانه کښې په دغو محترمو میاشتو کښې یو ناجائز تصرف جاري وو، هغه دا چې کله به یې اراده وکړه چې په بل کوم قوم باندې حمله وروړي او هغه وخت به د محترمو میاشتو وه، په خپل فکر باندې به یې په هغه کال کښې د هغې میاشتې څخه احترام سلباوه او بلې میاشتې ته به په احترام باندې قائل کېدل. مثلاً کله به یې چې په رجب کښې د جنګ کولو نیت وه نو د قبیلې مشر به اعلان وکړ چې سږ کال د رجب په عوض ـمثلاًـ د شعبان میاشت محترمه ده.

د [التوبة: ۳۶، ۳۷] ایتونو لاندې په دغې باره کښې مکمل بحث شته.

۴ـ د هجرت په شپږم کال نبي کریم ﷺ د ذو القعدې په میاشت کښې اراده وکړه چې عمره وکړي نو د یو زر څلور سوه (۱۴۰۰) صحابه وو کرامو ﷺ سره د مکې معظمې په لور روان شو، کله چې حدیبیه نومې ځای ته ورسېده نو د مکې مشرکانو یې مخه ونیوله چې عمرې ته مو نه پرېږدو.

د ډېر جر او بحث څخه وروسته صلحه وشوه چې سږ کال به مسلمانان عمره نه کوي او بل کال ته به عمره کوي او د درې ورځو پورې به په مکه معظمه کښې ازاد اوسېږي او بیا به بېرته مدینې منورې ته ورتاوېږي، چې پوره تفصیل یې د "الفتح" د سورت په تفاسیرو کښې کتلی شئ.

۵ـ د هجرت په اووم کال باندې چې کله صحابه کرام ﷺ د قضائي عمرې د اداء کولو په نیت باندې روانېدل نو دا تشویش ورسره پیدا شو چې ایا سږ کال به مشرکان مونږ عمرې اداء کولو ته پرېږدي او که نه؟ په خپل عهد به راسره وفا وکړي او که نه؟

که مشرکان د خپل ناجائز تصرف څخه کار واخلي او د سږني ذو القعدې احترام بلې میاشتې ته انتقال کړي او مونږ سره په جنګ باندې پیل وکړي نو مونږ به څه کوو؟

که جنګ ورسره کوو نو میاشت هم محترمه ده، مکان (حرم شریف) هم محترم دی او مونږ به د احرام په حالت کښې هم یو، نو دغه ټول حرمات به د پښو لاندې شي. او که جنګ نه کوو نو د پروسکال په شان به بیا د عمرې د اداء کولو څخه پاتې کېږو او د عمرې آرزو به مو نه ترسره کېږي.

نو الله ﷻ د مؤمنانو د یاد شوي تشویش د رفعه کولو دپاره لوستل شوي ایتونه نازل کړه چې همدا د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی(۱).

۶ـ دا ایتونه د وړاندې سره د لاندې وجوهو د کبله ارتباط لري:

الف: په مخکښې ایت کښې د میاشتو ګټو او فوائدو ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې وښودل شوه چې په دغو میاشتو کښې ځینې ډېرې محترمې میاشتې دي چې هغه څلور دي.

ب: هلته د حج تذکر شوی وه او دلته د حج په میاشتو کښې په جهاد باندې رڼا اچوله شوې ده.

(۱) تفسیر القرطبي ج۲ ص۳۴۷، ۳۵۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۲۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: هلته د حج د وخت او زماني يادونه شوې وه او دلته د حج اماكنو ته اشاره كېږي چې په مكه معظمه كښې موجوديت لري.

د: هلته د خلكو څخه تقوى غوښتله شوې وه او دلته د تقوا كولو طريقه ښودله شوې ده چې جهاد او د محترمو مياشتو احترام او د حد څخه نه تجاوز كول دي.

ه: هلته واضحه شوې وه چې كورونو ته بې لارې ورتګ تقوى نه ده او دلته واضحه كېږي چې حلال شى حرام ګڼل هم تقوى نه ده، كه مشركان درباندې جنګ شروع كړي او تاسو يې دفاعاً مقابله ونه كړئ چې مونږ په حرم او احرام او حرامو مياشتو كښې يو نو دا تقوى نه ده.

او داسې نورې وجې هم د ارتباط په باره كښې درلودلى شي خو د ايتونو خلاصه دا ده:

## د مطلب خلاصه

څرنګه چې ذكر شوى تشويش په مؤمنانو باندې زيات اثر غورځولى وه او د دوى په زړونو كښې يې اوږدې ريښې غځولې وې نو الله ﷻ د دوى د اطمنان دپاره همدغه يو مضمون په څو ډوله عبارتونو كښې اداء كړ:

۱ـ اول يې مؤمنانو ته د عمومي جهاد امر وكړ چې د الله ﷻ د رضاء دپاره د هغو خلكو سره جهاد وكړئ چې هغوى تاسو وژني، ايا دا خبره ستاسو غيرت مني چې هغوى تاسو وژني او تاسو يې نه وژنئ؟

څرنګه چې هغوى ته ستاسو په وژنه كښې څه تشويش نه پيښېږي برابره خبره ده چې محترمې مياشتې وي او كه نه وي، محترم مكان وي او كه نه وي، نو تاسو د هغوى په وژنه كښې ولې تشويش كوئ.

۲ـ هو! په همدغه حالت كښې هم چې ستاسو غُصه او غضب په جوش راغلى وي، د شرعي حدودو څخه تېرى مه كوئ چې ښځې، ماشومان سپين ږيري ووژنئ او يا په مفتوحه خمكه كښې غير شرعي كارونه وكړئ. بې شكه الله ﷻ تجاوز كوونكي نه خوښوي كه تاسو تجاوز وكړئ سره د دې چې تاسو په الله ﷻ باندې ګران ياست د الله ﷻ ګرانښت به مو د لاسه لاړ شي.

۳ـ نو په هر ځاى كښې مو چې په كافرانو باندې لاس بر شي ويې وژنئ او صرفه درباندې مه كوئ. لكه څنګه چې هغوى په تاسو باندې صرفه نه كوي، د ټاټوبو څخه يې وباسئ لكه چې هغوى تاسو د خپلو ټاټوبو څخه وباسي.

نه ګورئ چې د مكې معظمې څخه يې (چې ستاسو اصلي مسكن وه) هجرت كولو ته مجبور كړئ، دوى ستاسو په وژنه باندې او د كورونو څخه په اخراج كولو باندې په حرم شريف كښې صرفه ونه كړه او د بې وطنۍ د لوى عذاب سره يې مخامخ كړئ. د وطنه شړل خو د وژنې څخه څه كم نه دي بلكې د وطنه شړل د وژلو څخه ډېر سخت دي چې سات په سات مرګ دى نو په دې اعتبار سره لكه چې تاسو ټول مهاجرين څو څو خله د كافرانو دپلوه وژل شوي ياست. ايا سره د دې هم تاسو ته د هغوى په وژنه كښې سودا او تشويش درلوبږي

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ هو، باید تاسو حوصله ناک اوسئ او په هیڅ حالت کښې ثبات او استقامت د لاسه ورنه کړئ نو ستاسو غصه او غضب دې دومره په جوش رانه شي چې په المسجد الحرام (حرم شریف) کښې هم ورباندې جګړه او جهاد پيل کړئ، نو په حرم شریف کښې ورباندې ترهغه غرض مه کوئ ترڅو چې دوی درسره جګړه شروع کړي، که دوی رومبی توري ته لاس کړي، نو الله ﷻ ستاسو کومکي دی، ژر دی چې په هغوی باندې به مو ورمسلط کړي نو وئ یې وژنئ همدا د کافرانو جزا ده هیڅ تشویش مه کوئ.

۵_ په همدې حالت کښې (چې اول دوی تورې ته لاس کړي) که د جنګ څخه لاس واخلي او بې قیدو شرطه درته تسلیم شي نو لکه څنګه چې الله ﷻ بښونکی او مهربان دی، همدارنګه تاسو هم ورباندې رحم او مهرباني وکړئ او د جنګ د شروع کولو په جرم باندې یې دومره کلک مه نیسئ چې په همدې حالت کښې یې هم ووژنئ او بښنه ورته ونه کړئ.

۶_ تاسو به ولې د کافرانو په وژنه کښې سستي کوئ خکه چې دوی د الله ﷻ په مخلوق باندې کفر تحمیلوي، دوی څوک خپل فکر ته نه پرېږدي چې د الله ﷻ په دلایلو او معجزاتو کښې فکر وکړي که یې خوښه شي ایمان به راوړي او که یې خوښه شي په کفر باندې به باقي پاتې شي.

نو تاسو د هغوی د مقاتلې او مجاهدې څخه ترهغه لاس مه اخلئ ترڅو چې د کافرانو د دغې لوبې فتنې مخه ونیوله شي چې مؤمنان د ایمان په سبب باندې په ډول ډول عذابونو کښې اخته کوي حتی هجرت کولو ته یې مجبوروي او د دوی د لاسه څوک ازادانه فکر نه شي کولی.

۷_ که دوی د اسلام حکومت ومني او په عمومي حاکمیت باندې اسلام ته قائل شي نو په دغه وخت کښې تاسو ته اجازه نشته چې په دوی باندې تېری وکړئ خکه چې تېری خو باید په ظالمانو باندې وشي او په دغه وخت کښې دوی په نورو باندې ظلم نه کوي چې د ایمان د راوړلو مخه یې ونیسي. په دغه وخت کښې دوی یوازې په خپلو ځانو باندې ظلم کوي چې دا لازم ظلم دی، متعدي ظلم نه دی، امکان لري چې د څه وخت وروسته د دې ظلم څخه هم لاس واخلي او ایمان راوړي.

نو که بالفرض په همدې صورت کښې هم هغوی ووژل شي نو د دې معنی به دا وي چې الله ﷻ دوی په زور باندې مسلمانوي او په اسلام راوړلو یې مجبوروي حال دا چې الله ﷻ دغسې کار نه خوښوي: ﴿لَآ إِكْرَاهَ فِي ٱلدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ ٱلْغَيِّ﴾ [البقرة: ۲۵] یعني: په اسلام کښې جبر نشته بې شکه سمه لار د خطا لارې څخه واضحه شوې ده.

۸_ که بالفرض مشرکانو تاسو ته باتې ووهلې چې څنګه مو پروسکال د عمرې څخه منعه کړئ او په همدې پلمه وغواړي چې ستاسو احساسات راوپاروي ترڅو تاسو اولاً تورې ته لاس کړئ او په حرم شریف کښې جنګ پيل کړئ او په ټوله نړۍ کښې مو بدنام کړي چې مسلمانان د حرماتو احترام نه کوي او یو عالمي پیغور درته جوړ کړي.

نو پام کوئ چې د دوی په لومه کښې ونه لوېږئ او د خپلو زړونو د اطمنان دپاره دا خبره درېته زده کړئ چې د سږ کال محترمه میاشت (ذو القعده) درته الله ﷻ د پروسکال د محترمې میاشتې

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ذو القعدې) په عوض کښې درکړه. تاسو پروسږکال د حرماتو احترام وساته هلته مو هم اجر او ثواب په برخه شو او سږ کال مو هم پکښې اجرونه وګټل چې د خپلې عمرې قضائي مو پکښې راوړه، حرمات خو ټول یو شان او مساوي دي. نور خو څه شی نه دی واقع شوی فقط یو کال تاخیر راغلی دی، هغه احرام نه دا احرام، هغه ذو القعده نه دا ذو القعده، هغه راتګ نه دا راتګ.

۹ـ نو پام کوئ چې د هغوی په تحریک آمېزه خبرو باندې خپل ګټلي اجرونه د خاورو سره برابر نه کړئ. هو! که دوی (مشرکانو) د پروپاګند او لاپو شاپو څخه وړاندې قدم کېښود او تجاوز تېرى بې درباندې وکړ نو په هغه چا باندې چې په تاسو باندې تجاوز کوي بالمثل تجاوز وکړئ او دې ته مه ګورئ چې تاسو یا په احرام کښې یاست او یا په حرم کښې. لکه چې لږ څه وړاندې په همدې باره کښې درته هدایات درکړی شوه.

۱۰ـ د ټولو خبرو په آخر کښې بیا درته ارشاد کېږي چې د الله ﷻ څخه وېدار شئ هر څه چې درته امر کوي هغه ومنئ او د هر شي څخه مو چې منعه کوي د هغه څخه منعه شئ. امکان لري چې د مشرکانو پیغورونه او باتې وهل په تاسو باندې ډېر درانه تمام شي خو د الله ﷻ د ټاکلو حدودو څخه به هغې خوا ته قدم نه ږدئ، او په دې پوه شئ چې الله ﷻ د متقیانو ملګری دی، که تاسو د حدودو څخه واوړئ نو بیا به تاسو متقیان نه یاست او الله ﷻ به ستاسو نصرت او کومک ونه کړي، تاسو په هر وخت کښې د الله ﷻ نصرت ته اړ یاست. نو په هر حالت کښې د حدودو مراعات وکړئ. صلحه وي او که جنګ، خوشالي وي او که خفګان، غم وي او که ښادي او داسې نور.

## توضیحات

۱ـ د لاندې څو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: د ﴿ ثَقِفْتُمُوهُمْ ﴾ کلمه د "ثَقِفَ" څخه اخستله شوې ده. "ثَقِفَ" په مهارت سره د یو کار کولو او یا په یو شي باندې علم راوړلو ته وایي. مګر دلته ترې محض موندل او علم پیدا کول مراد دي، برابره خبره ده چې مهارت ورسره وي او که نه. یعنې کافران ووژنئ، په هر ځای کښې چې مو پرې لاس بر شو او مونده مو کړه[۱].

ب: د "فِتْنَةٌ" کلمه لغةً په دې کښې استعمالېږي چې زرګر په اور کښې سپین زر یا سره زر ګرم کړي ترڅو یې ښه او نابوده معلوم کړي. مګر په استعمال کښې په لاندې معناوو باندې راغلې ده:

اول: انسان د دوزخ اور ته اچول.

دوهم: په عذاب کښې واقع کول.

دریم: محض امتحان کول، چې په خوشالیو سره وي او که په سختیو سره وي.

څلورم: په سختیو کښې اچول.

څه نورې معناوې هم لري چې خینو مفسرینو کرامو آن اوه معناوو ته رسولې دي[۲]. خو د ټولو

---

(۱) مفردات الراغب ص۷۶: النفسیر الکبیر ج۵ ص۱۴۱

(۲) البحر المحیط ج۲ ص۶۶: مفردات الراغب ص۳۸۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معناو، مرجع يې يو شي ته کېږي هغه دا دی چې په سړي باندې څه فشار او شدت راشي، برابره خبره ده چې دغه فشار او شدت د امتحان په لحاظ وي او یا د تعذيب په نيت، او برابره خبره ده چې په خوشالیو سره وي او که په غمونو سره.

نو دلته يې په اول مقام کښې حاصل داسې کېږي چې کله مو په کافرانو باندې لاس بر شي نو وېې وژنئ او شدت او سختې ورباندې راولئ ترڅو دوی د وطن پرېښودلو ته مجبور شي. او دا ځکه چې دغه دواړه ډوله کارونه يې ستاسو سره کړي دي، ستاسو په وژلو باندې يې صرفه نه ده کړې او نه يې کوي، او د وطن څخه يې هجرت ته مجبور کړي یاست، خپل وطن څخه ویستل د وژلو څخه کم نه دي بلکې لا ترې شدید او سخت دي.

۲ـ تاسو يې په دومره سختیو کښې واچولئ چې د الله ﷻ په فضل سره په خپل ایمان باندې ثابت قدمه پاتې شوئ. که نه نو سات په سات خطر وه چې ځينې مسلمانان د ايمان څخه واړوي او مرتد شي چې په دې اعتبار سره هم د وژلو څخه فتنه سخته ده، چې سړی په ایمان باندې ووژل شي د ارتداد خطر خو ورسره نه وی چې د ابدي دوزخ مستحق شي مګر په فتنه کښې دا ویره شته چې مرتد شي.

۳ـ او په دوهم مقام کښې يې حاصل دا دی چې: د کافرانو سره تر هغې جهاد وکړئ ترڅو دوی د زوره ولوېږي او د اسلام حاکمیت ومني چې نه څوک مرتد کولی شي، نه په چا باندې سختي راوستلی شي او نه د چا د مسلمانېدلو مخه نیولی شي، نو د خلکو خوښه چې پخپله خوښه مسلمانېږي او که په کفر کښې پاتې کېږي.

۴ـ مګر ځينو مفسرينو کرامو په دوهم مقام کښې "فِتْنَة" په معنی د شرک اخستې ده. نو معنی يې داسې کېږي چې تر هغه ورسره وجنګېږئ ترڅو شرک او کفر د منځه لاړ شي او کله چې دوی د شرک څخه لاس په سر شوه نو تجاوز خو فقط په ظالمانو باندې کېږي او دوی خو په دغه حالت کښې ظالمان نه دي بلکې د ظلم (کفر) څخه صرف نظر شوي دي[1].

موږ ته اوله معنی په زړه پورې ښکاري. ځکه چې د اسلام د روح سره برابره ده، او دغه ایت شريف: ﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ﴾ [البقرة: ۲۵۶] ورباندې دلالت کوي. يعني: په دين کښې زور نشته چې په زور باندې څوک مسلمان کړی شي، ښه سمه لار د باطلې لارې څخه واضحه شوې ده، هرڅوک مکلف دی چې پخپله فکر وکړي او خپل ځان ته خپله تګلاره وټاکي.

## حُرُمات څه معنی؟

۵ـ په ﴿وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٞۚ﴾ کښې د "حُرُمَات" کلمه د "حُرْمَة" جمعه ده. که څه هم "حُرْمَة" مصدر دی خو دلته ترې هغه شی مراد دی چې باید د هغه احترام او تعظیم وکړی شي. لکه د احرام حالت، حرم شريف او حرامې میاشتې.

(۱) تفسير ابن کثير ج۱ ص۲۲۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې حُرُمَات خو ټول مساوي دي د پروسکال حرمات داسې دي لکه د سږکال، دواړه واجب الاحترام دي خو مشرکانو پروسکال د حرماتو احترام ونه کړ او تاسو بې برته ستنېدلو ته مجبور کړئ نو که سږکال د حُرُماتو احترام ونه کړي نو باید چې تاسو یې په توره سره جواب ورکړئ. او دا ځکه چې دا به د دوی دوهم ځل د حرماتو بې احترامي وي او شروع به هم د دوی د پلوه شوې وي. نو د بې احترامی ټوله پړه په همدوی باندې لوېږي او بس. داسې نه ده چې پروسکال د حرماتو سپکاوی جائز وه او سږکال جائز نه دی.

## اعتداء څه ته وايي؟

۶ـ په [۱۹۰] ایت کښې د اعتداء څخه مسلمانان منعه شوي دي چې: ﴿وَلَا تَعْتَدُوٓاْ﴾. او په [۱۹۴] ایت کښې ورته پرې امر شوی دی چې: ﴿فَٱعْتَدُواْ﴾.

نو د امر معنی خو یې همدا یوه ده چې که په محترمو میاشتو کښې په تاسو باندې کافرانو تجاوز وکړ نو د تجاوز جواب یې په تجاوز سره ورکړئ، یعنې مقابله یې وکړئ، که څه هم په دغه حالت کښې په توره جواب ورکول تجاوز نه دی مګر د مشاکلت د کبله په تجاوز او اعتداء سره تعبیر کړی شوی دی.

اما د نهې معنی یې مفسرینو کرامو په دوه ډوله کړې ده:

الف: چې د هغو کافرانو سره مقاتله وکړئ د کومو د پلوه چې د مقاتلې پیل شوی وي، او تجاوز مه کوئ چې تاسو ورباندې شروع او پیل وکړئ.

نو د دې معنی په اعتبار سره دا ایت شریف یا منسوخ ګرځي چې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿فَٱقْتُلُواْ ٱلْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ﴾ [التوبة: ۵] یعنې: نو ووژنئ مشرکان چرته مو چې مونده کړه.

او یا د همدې قضائي عمرې د حالت پورې مخصوص ګرځي ځکه چې یوازې په همغه وخت کښې مسلمانان د تعرض څخه منعه کړی شوي وه.

ب: چې د هغو کافرانو سره کوم چې ستاسو وژلو ته لیوال دي او چرته یې چې درباندې لاس بر شي صرفه درباندې نه کوي؛ تاسو هم جهاد پیل کړئ، او بنه په نره د غلیم مقابله وکړئ، مګر دومره باید په غُصه نه شئ چې د حده تجاوز وکړئ، او هغه کسان هم ووژنئ چې هغه درسره جنګ نه کوي لکه زنانه، بوډاګان، ماشومان، راهبان او داسې نور.

هو! که د دوی څخه کوم یو په جنګ کښې په یو ډول سره ګډون کاوه لکه جاسوسي او د جنګ نقشه برابرول نو بیا یې درته مرګ روا دی.

مونږ ته همدا دوهمه معنی بهتره ښکاري، چې همدا د عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما څخه هم روایت شوې ده[۱].

Downlaoded: bawarketabtoon.com

[۱] تفسیر القرطبي ج۲ ص۳۴۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

د محبت نسبت چې الله ﷻ ته وشي نو هلته ترې يا هغسې محبت مطلب وي چې د الله ﷻ سره مناسب وي او يا ترې اجر او ثواب مراد وي. خو په هر تقدير، چې د چا څخه الله ﷻ خپل محبت سلب کړي لکه په دې مقام کښې يې چې د تجاوز کوونکو څخه سلب کړی دی نو هلته يې معنی داسې کېږي چې الله ﷻ په هغه باندې غضب کوي. دا ځکه چې د الله ﷻ د محبت او غضب په منځکښې واسطه نشته.

هو! د بندګانو محبت او غضب واسطه لري چې نه به پرې ګران وي او نه به ورته په غضب وي، مګر دا کار د الله ﷻ په باره کښې نشته[1].

﴿ وَأَنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلْقُوا۟ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوٓا۟ ۛ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾ ﴾

[۱۹۵] او د الله ﷻ په لار کښې خپل مالونه مصرف کړئ او خپل ځانونه په لوی لاس د هلاکت خای ته مه وراچوئ.

او احسان کوئ، بې شکه الله ﷻ احسان کوونکي دوستان ګڼي (اجرونه او ثوابونه ورکوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ په وړاندينيو ايتونو کښې په سر باندې د جهاد بيان وه. په دې ايت کښې په مال باندې د جهاد په باره کښې توصيه شوې ده. دا ځکه چې لکه څنګه چې جهاد په سر باندې مقاومت ته ضرورت لري همدارنګه مالي مصارف هم پکښې ضرور دي ترڅو پرې جهادي لوازم برابر کړی شي او د ﴿وَأَعِدُّوا۟ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾ [الأنفال: ۶۰] په مطابق ورته هر ډول تياری ونيول شي.

نو حاصل يې داسې راخېژي چې:

۲ـ ای مؤمنانو! د کافرانو سره ترهغه مقاتله وکړئ ترڅو فتنه ورکه شي خو د الله ﷻ په لار کښې انفاق هم مه هېروئ ځکه چې د الله ﷻ په لار کښې د مال مصرفول برسېره په دې چې مالي عبادت دی او اجرونه لري او الله ﷻ په دنيا او آخرت کښې عوضونه ورکوي، د جهاد په باره کښې بالکل ستون فقرات تشکيلوي او زيات اهميت لري. ځکه چې د مالي مصارفو څخه پرته د جهاد تياری نه نيول کېږي.

نو که بالفرض تاسو د الله ﷻ په لار کښې د مال د مصرفولو څخه لاس واخلئ همدارنګه که د مالونو په راغونډولو باندې د جهاد څخه مشغول شئ او جهاد ته شا کړئ، نو په دواړو صورتونو کښې به درڅخه جهاد پاتې شي او دښمنان به درباندې غالب شي، کورونه به مو تالا والا کړي،

(۱) البحر المحيط ج۲ ص۶۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابرد او عزت به مو د پښو لاندې کړي او په ډاډه زړه باندې به عبادت ونه شئ کړی. دغه حالت د هلاکت څخه ډېر بدتر دی او داسې هلاکت دی چې رسېدل يې درته يقيني دي.

۳ـ برسېره په دې چې تاسو مجاهدين ياست او خپل مالونه د الله ﷻ په لار کښې مصرفوئ په هېڅ وخت کښې احسان او اخلاص مه هېروئ، په هره معامله او په هر قول او فعل کښې اخلاص کوونکي اوسئ: بې شکه چې الله ﷻ د اخلاص کوونکو سره مينه او محبت کوي او لوړو درجو ته يې پورته کوي، څومره چې ستاسو اخلاص اضافه کېږي په همغې اندازه به مو درجات لوړېږي.

## توضيحات

۱ـ که څه هم د "تَهْلُكَة" کلمه اصلاً مصدر دی او د هلاکت په معنی سره دی، مگر دلته ترې هغه شی مطلب دی کوم چې د سړي د هلاک باعث گرځي[۱].

۲ـ ذکر شوی ايت شريف د مال په انفاق کښې مطلق دی، برابره خبره ده چې په جهادي امورو کښې وي او که په غير جهادي امورو کښې. د همدې کبله ځينو مفسرينو کرامو دا بهتره گڼلې ده چې په اطلاق سره پرېښودل شي او معنی يې داسې وشي چې د الله ﷻ په لار کښې د مال مصرف کول مه پرېږدئ، که مو پرېښوده نو په لوی لاس به خانونه په هلاکت کښې واچوئ"[۲].

مگر نور مفسرين کرام يې متعددې معناوې کوي حتی چې ټولې معناگانې يې اوو ته رسېږي[۳]. که څوک په ډېرو معناوو باندې د پوهېدلو شوق لري نو همغه دې مراجعه وکړي خو مونږ د ټولو معانيوو څخه صرف لاندې دوه معناوې رانقلوو:

الف: په يو وخت کښې مسلمانانو د روميانو سره جهاد کاوه چې په مسلمانانو مجاهدينو کښې ابو ايوب الانصاري ﷺ هم شامل وه، کله چې دواړه جانبه مقابلې ته چمتو شوه، نو په عين وخت کښې يو مجاهد د مسلمانانو د صف څخه په چالاکۍ سره خارج شو او په کافرانو باندې يې په شدت سره استشهادي حمله وکړه او په يو سر د کافرانو په صفونو کښې ورننووت.

په دغه وخت کښې د هرې خوا چيغې شوې چې: «سُبْحَانَ اللهِ يُلْقِي بِيَدَيْهِ إِلَى التَّهْلُكَةِ» پاکي ده الله ﷻ لره، دغه مجاهد خو په لوی لاس خان په هلاکت کښې واچاوه. يعنې دوی د دغه ايت څخه داسې معنی واخستله چې سړی بايد خپل خان د هلاکت د ځای څخه وساتي.

نو أبو أيوب الأنصاري ﷺ غږ وکړ چې ای خلکو! تاسو خو د دغه ايت شريف د هلاکت معنی کوئ مگر دغسې نه ده؛ خبره داسې ده چې کله الله ﷻ اسلام ته عزت ورکړ او کومک کوونکي او پيروان يې ډېر شوه نو مونږ (انصارو) د نبي کريم ﷺ څخه پټ په خپلو منځو کښې سره وويلې چې: څه کېږي که د دې څخه وروسته مونږ د خپلو پټيو خدمت وکړو او په کور باندې کښېنو او د جهاد

(۱) مفردات الراغب ص۵۴۳
(۲) تفسير الطبري ج۲ ص۱۱۹
(۳) البحر المحيط ج۲ ص۷۰، التفسير الكبير ج۵ ص۱۵۰، زاد المسير ج۱ ص۱۸۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه لاس په سر شو؟. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت نازل کړ.

نو د ایت معنی داسې نه ده لکه چې تاسو ترې واخستله او په باتور مجاهد باندې مو د هرې خوا چیغې کړې. بلکې جهاد نه کول او په خپلو مالونو کښې مشغولتیا هلاکت او ذلت دی[۱].

نو د همدغه تفسیر په بنیاد نوموړي صحابي ﷺ ټول عمر د مرګ تر ورځې پورې په جهاد کښې تېر کړ آن تردې چې د خپل وطن څخه ډېر لرې د روم په یو ښار کښې دفن شو[۲]، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

ب: ځینې نور علماء کرام لکه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما، حذيفه ﷺ او داسې نور وایي چې د ایت شریف معنی همغه ده چې ظاهراً ترې څرګندېږي. یعنې د الله ﷻ په لار کښې د انفاق څخه لاس اخستل او بخل کول عین په تهلکه کښې د خپل خان اچول دي[۳].

## تبصره

۳ـ مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره څه فرق نه لري ځکه چې د ابو ایوب الانصاري ﷺ په نزد باندې د جهاد دپاره خپله ځمکه او باغونه بې خدمته پرېښودل او په جهاد باندې مشغولېدل هم یو ډول في سبيل الله انفاق ګڼل شوی دی. نو په حقیقت کښې یې د ایت شریف یو مصداق ښودلی دی. چې په دې معنی باندې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د تفسیر سره څه منافات نه لري. دا ځکه چې کله د مجاهدینو ضروریات پوره نه کړی شي او یا د جهاد څخه مجاهدین په نورو شیانو باندې مشغول شي په دواړو صورتونو کښې جهاد سقوط کوي او دښمن غلبه ترلاسه کوي او مسلمانان د ذلت سره مخامخ کېږي چې همدا د هلاکت معنی ده او په لوی لاس باندې خپل خانونه د هلاکت کندې ته اچول دي، چې په لاندې دوه مثالونو کښې ښه واضحه کېږي.

## د ذلت څخه هلاکت ښه دی

۴ـ کله چې په چا باندې بې رحمه دښمن غالب شي ـ العياذ بالله ـ نو داسې چارې ورباندې کوي چې د هلاکت څخه په څو چنده بدترې او درندې وي. لکه

الف: په ۱۹۴۷م کال کښې چې پاکستان د هندوستان څخه جدا شو، هندوانو د مسلمانانو ښځو څخه تیونه پرې کړه، د هغه څخه وروسته چې نارینه مسلمانان یې شهیدان کړه مسلمانې ښځې یې بربنډې کړې او په بازارونو کښې یې کوڅه په کوڅه وګرځولې، په عورتونو کښې یې ورته تېزاب واچول او د ځینو څخه یې لا عورتونه هم پرې کړه[۴].

ب: کله چې ګوډ تیمور په اصفهان باندې غلبه ومونده، نو د یو پلوه یې عام وژنه پیل کړه او د بل پلوه یې د اصفهان خوانانې او پیغلې زنانه په خپلو لښکریانو تقسیم کړې.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۲ ص۳۶۱: تفسير ابن كثير ج۱ ص۲۲۹: جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۶
(۲) حاشيه زاد المسير ج۱ ص۱۸۴
(۳) تفسير القرطبي ج۲ ص۳۶۲، تفسير القاسمي ج۲ ص۱۴۱
(۴) هندو كباهی ص۲۶. د افغان لیکوال زاهدي احمدزي ليکنه

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیغول (۲)
بو سړي خو ماشومان -چې خپلوان او مور او پلار یې وژل شوي وه- په یو خای کښې راغونډ کړه ګوندې چې د تیمور زړه وروباندې وسوزي، خو مجرد چې د تیمور نظر وروباندې ولګېده هغه یې ټول د آسونو تر پښو لاندې کړه او ټول یې شهیدان کړه[۱].
دغسې نور ډېر حوادث په صلیبي جنګونو کښې پېښ شوي دي چې د ذکر څخه یې قلم ته ژړا ورځي. ایا د دغسې ذلت څخه هلاکت او مرګ په څو چنده بهتر نه دی؟.

## هېر مو نه شي!

۵ـ هېر مو نه شي چې د افغانستان مجاهدین دې په دې باندې خوشاله شي چې خپل کار او کسب یې د جهاد دپاره پرېښي دی او په جهاد باندې مشغول دي. نو څومره ګټه وته چې د دوی امثال په بازارونو او معاملاتو کښې ترلاسه کوي په هماغې اندازه باندې د دوی خیرات او صدقات د الله ﷻ په نزد باندې منظورېږي، چې د قیامت په ورځ به ترې استفاده وکړي.

## ایا استشهادي حمله جائزه ده؟

۶ـ که څه هم د تېر شوي بیان څخه واضحه شوه چې د جهاد پرېښودل هلاکت دی مسلمانانو ته په کار دي چې جهاد د همېشه دپاره تازه وساتي. مګر دلته دا پوښتنه پیدا کېږي چې که یو مجاهد مثلاً په زرو نفرو کافرانو باندې حمله وکړي او د هغوی منځ ته ورودانګي او یا په همدغه حالت کښې بمونو ته انفلاق ورکړي، ایا دا کار جواز لري؟ ایا داسې کار خپل ځان به هلاکت کښې غورځول نه دي؟ ایا د خپل ځان حفاظت ضرور نه دی؟.
مونږ وایو چې که په دغسې کار کښې د نجات څه احتمال وه نو بیا خو یې په بهتری کښې څه شک شبه نشته، او که د بشري علم په مطابق یې د نجات احتمال نه وه لکه د ابو ایوب الانصاري ﷺ په ذکر شوي روایت کښې، نو که د لاندې غرضونو دپاره وي او نیت او اخلاص یې برابر وي نو الله ﷻ ته امید شته چې دغه قرباني او فداکاري په خپل دربار کښې ومني او په ﴿إِنَّ ٱللَّهَ ٱشْتَرَىٰ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم﴾ [التوبة: ۱۱۱] کښې یې شامل کړي. غرضونه دا دي:

الف. چې کافرانو ته زیات تلفات او درانه تاوانونه ورسوي.

ب. چې د کافرانو په زړونو کښې رعب او ډار واچوي چې مسلمانان دغسې زړور دي.

ج. چې کافرانو ته د مؤمنانو د ایمان قوت او کلکوالی ورڅرګند کړي.

د. چې د خپلو ورونو مجاهدینو جرئت قوي کړي او په دوی کښې د فداکارۍ او ځان تېرېدلو روحیه ژوندۍ وساتي[۲].

---

(۱) کتاب تیمور لنګ. تالیف محمد پناهي ایراني ص۱۳۸
(۲) تفسیر القرطبي ج۲ ص۳۶۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د تاريخ په اوږدو کښې مسلمانانو دغسې ډېرې فداکارۍ کړي دي، چې ډېر واضحه مثال يې همدغه دی کوم چې وړاندې د ابو ايوب الانصاري ﷺ په حديث کښې تېر شو.

نو په ذکر شوې تفسير باندې ټولو حاضرينو (صحابه وو کرامو ﷺ) سکوتي اجماع وکړه.

## تبصره

۷ـ په دې باره کښې چې يو مجاهد په داسې ځای کښې حمله کوي چې هلته يې نظر بشري علم ته شهادت يقيني وي، زمونږ نظر دا دی چې دا په لاندې دوه صورتونو کښې تحقق مومي:

الف: چې مجاهد د جهاد د زياتې جذبې لاندې راشي او ځان يې د ولکې څخه بهرون شي.

په دې صورت کښې الله ﷻ ته اميد شته چې دغه فداکاري يې قبوله کړي او لويه درجه ورکړي.

ب: چې د مجاهد اراده پخه وي او جهادي جذبه ترې کنترول نه شي سلب کولی.

نو په دې صورت کښې بايد وکتل شي چې اسلام ته به د کافرانو تلفات ګټور وي او که د مجاهد ژوند، هر يو چې مفيد وي بايد همغه اختيار کړی شي. او دا ځکه چې که تلفات لوی مطلب دی د مجاهد ژوند هم د جهاد دپاره د روح مثال لري او لويه سرمايه ده چې مونږ يې په موجوده جهاد کښې په سترګو ګورو؛ ځينې مجاهدين شهيدان شوه خو د هغوی امثال په لاس رانغله.

## د احسان ډولونه

۸ـ احسان په دوه ډوله دی چې دواړه په احاديثو کښې بيان شوي دي.

الف: په عباداتو کښې احسان: په يوه اوږده حديث کښې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې احسان دې ته وايي چې «أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ»[۱] يعني: چې د الله ﷻ عبادت د زړه په دومره حضور باندې وکړې لکه ته چې الله ﷻ په سترګو باندې وينې او عبادت يې کوې، که دا کيفيت په زړه کښې نه شي حاضرولی نو لږ تر لږه دومره خو د خپل ځان سره متصوره کړه چې الله ﷻ دې وينې او ته يې په عبادت باندې مشغول يې.

ب: شداد بن اوس ﷺ وايي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: الله ﷻ په هر شي کښې احسان فرض کړی دی: «فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ»[۲] يعني: نو کله چې وژل کوئ په احسان سره وژل وکړئ او کله چې ذبحه کوئ په احسان سره ذبحه وکړئ. بايد چې ستاسو څخه څوک ذبحه کوي نو خپله چاړه دې ښه تېره کړي او خپلې مذبوحې ته دې ارامي ورکړي. يعني په پخه چاړه باندې مذبوحه نا ارامه کېږي؛ هغه دې نه نا ارامه کوي.

د همدې قبيلې څخه په جهاد کښې هم احسان په کار دی چې وژل شوی مُثله نه کړي (پوزه، غوږ، سترګې او نور اندامونه دې ترې پرې نه کړي) او د وژلو څخه پرته دې نور تعذيب نه ورکوي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۴

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص ۲۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ۚ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۖ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ۚ فَإِذَا أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾﴾

[۱۹۶] او حج او عمره دواړه صرف د الله ﷻ د رضاء دپاره تمام کړئ.

نو که چرته محاصره شوئ نو هغه شی (دربانديې لازم دی) چې درته اسان وي چې هغه د هديي څخه عبارت دی. او تر هغه خپل سرونه مه خريئ چې ترڅو هديه خپل محل (حرم شريف) نه ورسيږي.

نو ستاسو څخه چې څوک مريض وي او يا وريوري د سر د کبله څه مشکل وي (چې د سر په خريلو حل کيږي نو سر مو وخريئ) خو فديه دربانديې لازمه ده چې هغه يا روژې دي يا خيرات دی او يا د څاروي ذبحه کول دي.

نو کله چې تاسو په امن کښې اوسئ نو څوک چې د عمرې په اداء کولو سره نفعه واخلي آن تر حجه پورې (په همدې فرصت کښې حج هم وکړي) نو هغه څه چې ورته اسان وي (ورباندې واجب دي) چې هغه د هديې د يو ډول څخه عبارت دی.

نو هغه څوک چې دغه (اسانه هديه هم) نه شي موندلی نو (په ده باندې) د حج په وخت کښې درې ورځې روژې (لازمي دي) او اوه ورځې نورې روژې هم کله چې تاسو کور ته مراجعه وکړئ (د حج څخه فارغ شئ)، چې دغه ټولې روژې پوره لس ورځې کيږي.

دغه (تمتع) د هغه چا دپاره جائزه کړی شوه چې کورکهول يې د المسجدالحرام د حاضرينو څخه نه وي. او د الله ﷻ څخه وډار شئ او پوه شئ چې بې شکه الله ﷻ چې دی عذاب يې ډېر سخت دی.

## ارتباط

په تېرو شوو ايتونو کښې الله ﷻ د روژې د بيان څخه وروسته د حج او عمرې څه احکام نازل کړه چې د هغو د جملې څخه د محترمو مياشتو په اړوند کښې د قتل او قتال حکم هم واضحه شو او علاوه په هغه باندې په عمومي جهاد باندې هم څه رڼا واچوله شوه.

په دې ايت شريف کښې د حج او عمرې څه نور احکام بيانيږي چې خلاصه مطلب يې په لاندې کرښو کښې لوستلی شئ:

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱_ حج او عمره د هغو عباداتو څخه دي چې آن د ابراهيم ﷺ د زماني څخه د الله ﷻ د پلوه مسلمانانو ته ښودل شوي دي خو د تاريخ په اوږدو کښې وروړي ځينې اعمال او افعال ترل شوي دي چې هغه د عباداتو د جملې څخه نه شمېرل کېږي لکه د احرام په حالت کښې کورونو ته په دروازو باندې نه ورننوتل او داسې نور. مگر په دې کښې شک نشته چې حج او عمره د هغو عباداتو څخه دي چې الله ﷻ تاکلي دي، نو بايد د همده ﷻ د رضا دپاره اداء کړی شي.

۲_ نو کله چې په دغو عباداتو کښې تاسو يو ځل شروع وکړه نو بيا ورته په کلکه ملاوې وتړئ او تر آخره يې ورسوئ او که ځوک مو په لاره کښې خنډ واقع شو او تاسو يې نه پرېښودلئ چې نوموړی عبادت پوره کړئ او توري ته حاجت پېښ شو نو توري ته ورسره لاس کړئ؛ لکه چې همدا حکم په وړاندېنيو ايتونو کښې پوره څرگند شوی دی.

۳_ او که ومو نه شو کړی چې تر پای يې ورسوئ او د وړاندې تللو مخه مو بنده شوه، برابره خبره ده چې د داسې دښمن سره وي چې د هغه سره د مقابلې توان نه لرئ او يا ورسره د ځينو معاذيرو د کبله مقابله ونه کړی شئ، او يا مو په جارو جنجال کښې واچوي او د حج وخت درڅخه تېر شي او يا مو ـ په دې زمانه کښې ـ د الوتکې پرواز وځنډېږي او احرام مو تړلی وي او داسې نور.

نو په دې ټولو صورتونو کښې په تاسو باندې لازمه ده چې خپلې هدايا حرم شريف ته واستوئ ترڅو چې هغه خپل محل يعني حرم شريف ته ورسېږي او هلته ذبحه کړی شي نو تاسو به د تړل شوي احرام څخه خپل ځانونه حلال کړئ او سرونه به وخريئ. خو ترڅو چې هدايا خپل ځای ته نه وي رسېدلي په سرونو باندې به غرض نه کوئ.

۴_ هو! که ستاسو څخه کوم يو مريض شو او سر درد شو او يا د احرام د اوږدوالي د کبله ورته د سر د ويښتانو د ببروالي د کبله څه اذيت پېښ شو، چې ډېرې زياتې سپږې يې وکړې، نو په دغو صورتونو کښې هم سرونه خرېلی شئ. خو د دريو کارونو څخه د يو کار کول درباندې لازم دي، هغه دا چې:

الف: درې روژې ونيسئ؛

ب: شپږو مسکينانو ته خوراک او څښاک ورکړئ.

ج: څاروی ذبحه کړئ.

۵_ هو! کله چې تاسو د امنيت په حالت کښې ياست چې نه درته مهلک مرض عارض شوی دی او نه مو چا مخه بنده کړې وي، او يا د مهلک مرض څخه او يا د محاصرې څخه نجات ومومئ او دا موقع په لاس درشي چې حج او عمره پوره کړئ، نو بيا لاندې تفصيل په نظر کښې ونيسئ:

الف: که يوازې د حج دپاره مو احرام تړلی وه نو په تاسو باندې په دې صورت کښې د حرم شريف هديه (هلته د څاروي ذبحه کول) نشته.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پهلول (۲)

ب- او که د موقع څخه مو استفاده وکړه او په یوه سفر کښې مو حج او عمره دواړه د لاندېنیو دوو شکلونو څخه په یوه شکل کښې اداء کړه هم درته جائز دي:

اول: چې د میقات څخه د حج او عمرې دپاره ګډ احرام وتړئ، اول د عمرې څخه استفاده وکړئ او په احرام کښې اوسېږئ ترڅو چې د حج وخت ته وروړسېږئ او د حج څخه هم په همدې یوه احرام او یوه سفر کښې ګټه واخلئ:

دوهم: چې د میقات څخه یوازې د عمرې احرام وتړئ چې کله عمره تر پایه ورسوئ او د احرام څخه ځان خلاص کړئ او هغه څه چې درباندې په احرام سره حرام کړی شوي وه د هغو څخه استفاده وکړئ ترڅو چې د حج وخت ته ورسېږئ او هلته بیا دوهم ځل د حج دپاره نوی احرام وتړئ، او په دغه نوي احرام باندې د حج په مناسکو کښې مخ په وړاندې لاړ شئ او حج تمام کړئ.

نو په دغو دواړو صورتونو کښې په تاسو باندې هغه هدیه (څاروی ذبحه کول) لازم دي چې هغه درته اسان وي او وسه مو ورته کېږي.

هو! که اسانې هدیې ته مو هم وسه نه وه نو درباندې واجبه ده چې درې ورځې روژې د حج په ورځو کښې ونیسئ او اوه روژې چې کله کورونو ته مراجعه وکړئ او د مناسکو څخه فارغ شئ. دغه ټولې پوره لس روژې شوې چې د هدیې څخه په ثواب او اجر کښې کمې نه دي او پوره کول یې درباندې ضرور دي.

۶- په یاد ولرئ چې حج او عمره په یو سفر کښې اداء کول (برابره خبره ده چې د دواړو په منځکښې د عمرې د احرام څخه ځان حلال کړئ او که نه)، د هغه چا دپاره جواز لري چې د هغه کور کهول د المسجد الحرام په شاوخوا کښې نه وي بلکې د میقاتونو څخه دباندې وي.

۷- د الله ﷻ څخه وډار شئ، هر یو عبادت چې درته ښودل کېږي په هغه باندې په کلکه عمل وکړئ که ستاسو عقل ورته رسېږي او که نه، بې اهمیته یې مه ګڼئ؛ تاسو نه پوهېږئ الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي. برسېره په دې د خپله خانه الله ﷻ ته د عبادت صورت مه جوړوئ لکه چې یهودان او مشرکان یې جوړوي او بیا لا ورته د ثواب تمه هم لري.

په دې باندې پوه شئ چې د الله ﷻ عذاب ډېر شدید (سخت) دی، نو د تخلف په صورت کښې یې درته د رسېدلو وېره شته ده.

## توضیحات

۱- په دې کښې شک نشته چې دغه ایت شریف د هجرت په شپږم کال نازل شوی دی[۱]، او په دې کښې هم شک نشته چې نبي کریم ﷺ د هجرت په نهم کال باندې د ابو بکر الصدیق رضی الله عنه د امارت لاندې مسلمانانو ته د حج کولو اجازه ورکړه او پخپله یې د هجرت په لسم کال د حج فریضه اداء کړه[۲].

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۸۰، تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۳۱

(۲) اللباب في الجمع بین السنة والکتاب ج۱ ص۴۲۵؛ تفسیر المراغي ج۱ ص...

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکر شوي بیان په نظر کښې نیولو سره او د کلام سیاق ته په کتلو سره ـ چې د وړاندې ځخه صرف په هدي کښې بحث راروان دی چې مسلمانانو عمره اداء کوله او مشرکانو یې مخه ونیوله ـ د سړي ذهن ته ورځي چې په دې مقام کښې د حج یا عمرې د فرضیت او سنتیت په باره کښې بحث نشته، بلکې دلته صرف همدومره بحث دی چې په حج یا عمره کښې مو یو ځل شروع وکړه نو هغه په نیمایي لاره کښې مه پرېږدئ که څه هم د مقاتلې او جنګ په قیمت درته تمام شي. نو جمهور علماء وایي چې په ذکر شوي ایت شریف باندې حج نه دی فرض شوی.

د همدې کیله په راتلونکي ایت شریف کښې لولو چې ﴿ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلْحَجَّ ﴾ الآية [۱۹۷] یعني څوک چې په دغو میاشتو کښې په خپل ځان باندې حج فرض کړي او عملاً یې شروع کړي. او داسې یې نه دي فرمایلي چې په چا باندې الله ﷻ حج فرض کړی وي. بلکې د احادیثو په رڼا کښې هم ثابتېږي چې حج په دې ایت باندې فرض شوی دی چې ﴿ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ﴾ [آل عمران: ۹۷] یعني: او خاص الله ﷻ لره په خلکو باندې د بیت الله حج کول لازم دي خو په هغه چا باندې چې هغې ته د ورتللو توان لري[۱].

## عمره کول سنت دي او که واجب؟

۲ـ امام ابو حنیفه رحمه الله علیه او ځینې نور علماء کرام وایي چې حج او عمره دواړه د عبادتونو په شکل باندې آن د ابراهیم علیه السلام د زمانې څخه په ټولو زمانو کښې پېژاندل کېدل، چې د تاریخ په اوږدو کښې ورسره خلکو ډېر خرافات او بدعتونه یو ځای کړي وه.

نبي کریم ﷺ د دواړو عبادتونو اصلي څېره خلکو ته وښودله او شیطاني خاصیتونه یې ترې لرې کړه، خو د حج په باره کښې د فرضیت دپاره قطعي نص رانازل شو چې وړاندې ذکر شو، او د عمرې په باره کښې رانازل نه شو. نو د دې څخه معلومېږي چې عمره کول واجب نه دي بلکې سنت دي[۲].

اما امام الشافعي رحمه الله علیه او ځینې نور علماء کرام وایي چې عمره واجبه ده[۳].

هو! د دلایلو په رڼا کښې د عمرې سنتیت راجح ښکاري ځکه چې نه یې د کلام سوق غوښتنه کوي او نه پکښې قطعي دلیل شته.

## حرم شریف وپېژنئ!

۳ـ د کعبې شریفې څخه ګرچاپېر څلورو واړو طرفونو ته جومات جوړ دی چې ټول مساحت یې راته معلوم نه دی چې اوس به څومره متره مربع وي، خو وخت په وخت یې پراخوالی پیدا کړی دی او لا پیدا کوي یې. دغه جومات ته المسجد الحرام وایي.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۸۵؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۰۵
(۲) التفسیرات الأحمدیة ص۸۶
(۳) تفسیر الطبري ج۲ ص۲۰۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د جومات څخه چارچاپېره نژدې دولس کروه څمکه (د اوربېدو د قراره) چې نښه داره کړی شوې ده د حرم شريف په نامه يادېږي، چې ښکار کول پکښې حرام دي، شنه بوټي راشکول يې جايز نه دي او داسې نور حلال شيان پکښې حرام دي.

د حرم شريف څخه چارچاپېره په هغو ټولو لويو لارو باندې نښې اېښودلې شوې دي چې جواز نه لري چې د هغه ځای څخه څوک بدون د احرامه ورتېر شي دغه ځايونه د ميقاتونو په نامه باندې يادېږي. لکه چې د مدينې منورې د لوېې لارې دپاره ذو الحليفه نومې ځای د ميقات په نوم باندې ټاکلی شوی دی چې اوس ورته "آبار علي" وايي او داسې نور[1].

## عمره د څه ډول عبادت نوم دی؟

۴_ که څه هم عمره په لغت کښې د "عمارة" د مادې څخه اخستله شوې ده چې د ابادۍ معنی ورکوي او مقابل کښې يې خرابي استعمال مومي او څرنګه چې د تګ راتګ او يو بل ته د تلو راتلو سره ابادي منځته راځي، نو د زيارت په معنی باندې هم استعمالېږي. مګرپه شريعت کښې لاندې عبادت د عمرې په نوم يادېږي:

الف: چې سړی د ميقات څخه يوازې د عمرې نيت وکړي او احرام وتړي، د عمرې احرام د حرم د داخل څخه جواز نه لري، ضرور به د حرم څخه دباندې وي، ترڅو پکښې د زيارت معنی منعکسه شي، اما د ميقاتونو څخه دباندې کېدل ورته ضرور نه دي.

ب: بيا به د کعبې شريفې څخه يو طواف يعنې اووه ګردشه وکړي.

ج: بيا به د صفا او مروه سعيه وکړي.

د: بيا به خپل سر وخرېيي او يا به يې قصر کړي او خپل خان به حلال کړي.

نو ذکر شوی عبادت په دغو څلورو کارونو سره تمامېږي.

## د عمرې د اداء کولو وخت

۵_ د محمدي (ﷺ) شريعت څخه وړاندې جايزه نه وه چې څوک عمره د حج په مياشتو کښې وکړي بلکې د حج په موسم کښې عمره کول د غټو ګناهونو څخه شمېرل کېدل[2].

نو د عمرې دپاره به مستقل سفر په کار وه لکه د حج دپاره چې مستقل سفر ضرور وه، حتی چې د عمرې دپاره په ټول کال کښې يوه مياشت (رجب) حرامه ټاکله شوې وه چې خلک پکښې په ارامی سره عمره اداء کړي.

مګر الله ﷻ فضل وکړ او دغه قيد يې زمونږ څخه پورته کړ، زمونږ ته جائزه ده چې د حج په موسم کښې يې په جدا جدا احرام سره اداء کړو چې دغه حج د تمتع په نامه يادېږي. او يا يې د حج

---

(۱) فتح القدير حاشيه هدايه ج ۲ ص ۲۳۳
(۲) التفسير الكبير ج ۵ ص ۱۶۷_ ۱۷۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


سره په یوه احرام کښې اداء کړو چې دغه حج ته بیا حج قران وایي.
ځرنګه چې د عمرې کول د حج په موسم کښې جایز ګرځول یو لوی نعمت دی چې په یوه سفر او یو مصرف باندې دوه عبادتونه سرې ته لاس ته ورځي، نو په قارن حاجي او هم په متمتع حاجي باندې دشکرېې یوه هدیه ذبحه کول لازم ګرځول شوي دي، نو ځرنګه چې دا د شکرېې ځاروی دی نو دوی دواړه ترې پخپله هم غوښه خوړلی شي.

## نبي کریم ﷺ څو عمرې کړي دي؟

۶ـ نبي کریم ﷺ لاندې څلور عمرې ټولې د ذو القعدې په میاشتې کښې کړي دي[۱]:
الف: د هجرت په شپږم کال د الحدیبیې عمره چې تر پایه ونه رسېده.
ب: د هجرت په اووم کال چې د نوموړې عمرې قضائي یې راوړه.
ج: د هجرت په اتم کال چې د جعراني څخه یې احرام وتاړه.
د: د هجرت په لسم کال چې د حج سره یې عمره هم اداء کړه او پخوانی رسم او رواج یې په عملي ډول مات کړ.

## د هدیې ډولونه

۷ـ هغه ځاروي چې د کعبې شریفې په احترام هلته ذبحه کېږي د هدیې په نوم یادېږي، کله کله لا ورته "دَمْ" او "نُسُکْ" هم وایې چې په لاندې درې ځارویو کښې تحقق مومي:
الف: اوښ یا اوښه، چې یا ټوله د یو کس دپلوه ذبحه کړی شي او یا پکښې څو کسه شرېکان شي چې د اوو کسانو څخه اضافه نه شي.
ب: په غوا یا مېښه کښې هم تر اوو کسانو اشتراک کولی شي[۲].
ج: مېږه یا اوزه چې د یو نفر څخه اضافه ګنجایش نه لري.
د ذکر شوو درې ځارویو څخه په غیر لکه چرګ، چرګوړي او نور شیان پکښې جواز نه لري.
نوموړې هدیه یا دم یا نسک لاندې درې ډولونه لري:
۱ـ د حصار دم. ۲ـ د جنایت دم. ۳ـ د تمتع یا قران دم.
په همدې ایت شریف کښې درېواړه دمونو ته اشاره شوې ده.

## اول: دم الحصار یا هدي الحصار

۸ـ د حصار یا احصار دم هغه دم ته وایي چې کله د دښمن یا مرض او یا د بل باعث د کبله محرم سړی د حرم شریف څخه ممنوع وګرځول شي. نو په ده باندې لازمه ده چې یوه ډېره اسانه هدیه

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۳۰
(۲) فتح القدیر شرح الهدایه ج۳ ص۵۲؛ زاد المسیر ج۱ ص۱۸۶؛ تفسیر القرطبي ج۲ ص۳۷۵؛ تفسیر الطبري ج۲ ص۱۳۲؛ روح المعاني ج۲ ص۸۱؛ التفسیرات الأحمدیة ج۱ ص۸۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او یا د هغې قیمت حرم شریف ته واستوي ترڅو هلته د ده څخه ذبحه کړی شي او نوموړی د احرام څخه حلال وګرځي. اما حج یا عمره یې په غاړه باندې پاتې شوه چې بل کال ته او یا په بل مناسب وخت کښې به یې اداء کوي.

که څوک نه وه چې د هغه په لاس باندې یې حرم شریف ته واستوي او یا یې وسه نه کېږي، نو د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد به نوموړی تر هغه محرم وي چې یا حرم شریف ته دم او یا یې قیمت واستوي چې د څاروي د رانیولو د پاره صورت ونیسي او بس، او یا حج یا عمره اداء کړي[۱].

## سوال جواب

۹_ که څوک وایي چې: ایا د احصار د دم دپاره حرم شریف ضرور دی؟

مونږ وایو چې: هو، څکه الله ﷻ په همدې ایت کښې فرمايي چې: ﴿ حَتَّىٰ يَبْلُغَ ٱلْهَدْيُ مَحِلَّهُۥ ﴾ یعنې: تر هغه سر مه خرېیئ ترڅو چې هدیې خپل محل ته ورسېږي، او محل یې الله ﷻ تعین کړی دی چې ﴿ ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى ٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴾ [الحج:۳۳] یعنې: بیا نو د هدیې محل عتیقې کوټې (کعبې) ته دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۰_ که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ خو د حدیبیې څخه خپل هدایا حرم شریف ته نه وه استولي، که بالفرض حرم پکښې ضرور وی نو ضرور به یې دا کار کړی وی؟.

مونږ وایو چې: د حدیبیې څینې برخې په حرم شریف کښې شاملې دي او خپلې هدایا یې په هغه شامل ځای کښې ذبحه کړې دي[۲].

## دوهم: د جنایت دم

۱۱_ د جنایت دم هغه دم دی چې محرم بنیادم د احرام د محظوراتو څخه د یو محظور مرتکب شي، نو ورباندې لازمه ده چې د جنایت څخه د خپل ځان د خلاصون دپاره هغه ذبحه کړي.

هو! که د عذر د کبله د جنایت مرتکب شي او د مرض یا څه تکلیف د کبله خپل سر وخرېیئ نو باید چې فدیه ورکړي؛ چې د لاندې درې شیانو څخه باید یو وکړي:

الف: درې ورځې روژې نیول.

ب: شپږو مسکینانو ته خوراک ورکول.

ج: دم، چې هلته یو څاروی ذبحه کړي.

## سوال جواب

۱۲_ که څوک وایي چې: په ایت شریف کښې خو نه د روژو شمار څرګند دی او نه د مسکینانو، نو په کوم دلیل باندې تاسو روژې په درېوو کښې او مسکینان مو په شپږو کښې منحصر کړه؟، ایا

(۱) فتح القدیر شرح الهدایه ج۳ ص۵۳
(۲) روح المعاني ج۲ ص۸۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې عدد څخه په لږ عدد باندې د جنایت څخه نه خلاصیږي؟.

مونږ وایو چې: دا د جمهورو علماوو کرامو نظر دی، چې د کعب بن عُجرَةَ ﷺ حدیثورباندې دلالت کوي[۱].

قیصه داسې وه چې د هجرت په شپږم کال چې نبي کریم ﷺ او صحابه وو کرامو ﷺ د عمرې دپاره احرام تړلی وه خو مشرکانو یې مخه ونیوله، په همدې ډله کښې کعب بن عُجره ﷺ هم وه.

دغه صحابي ﷺ وایي چې زه سپږو ډېر په تکلیف کړی وم چې قطارونه-قطارونه به راباندې رواني وې او د تندي څخه به رادورېدلې، نو نبي کریم ﷺ راته وویلې چې: «أَیُؤْذِیكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ» یعنې: ایا د سر سپږو په تنګ کړی یې؟ ما ورته وویلې چې: هو، نو اجازه یې راکړه چې سر وخریېم.

د همدې حدیث په ځینو روایاتو کښې نور تفصیل هم شته چې راته یې وفرمایل چې یا درې ورځې روژه ونیسه او یا شپږو مسکینانو ته خوراک ورکړه[۲]، نو دا حدیث د ایت دپاره بیان واقع شوی دی.

برسېره په دې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت چې د "أَوْ، أَوْ" کلمې د تخییر دپاره دي په هر یوه باندې چې عمل وکړي جواز لري[۳]. نور تفصیل دې د فقهې په کتابونو کښې وکتل شي.

## دریم: د حج تمتع یا حج قران دم

۱۳ـ ځرنګه چې الله ﷻ په مونږ باندې اساني راوستله او راته جائزه یې کړه چې په یوه سفر کښې هم حج وکړو او هم عمره، نو دا کار په لاندې دوه صورتونو سره تحقق موندلی شي:

الف: چې د حج او عمرې احرام په یو خل وتړو او تر هغه په احرام کښې اوسو چې د حج او عمرې دواړو څخه فارغ شو. دغه ډول حج ته حج قران وایي. یعنې هغه حج چې د عمرې سره قرین او ځنګ په ځنګ دی.

ب: چې یو خل د عمرې احرام وتړو چې کله مو عمره اداء کړه د دې احرام څخه به خپل ځان حلال کړو او په مکه معظمه کښې به بدون د احرام څخه اوسېږو او نفلي طوافونه به کوو.

تر هغه چې د ذو الحجې په اتمه باندې به د مکیانو خلکو په شان د حرم شریف څخه د دوهم خل دپاره د حج احرام وتړو، دې ډول حج ته حج تمتع وایي. یعنې نوموړي حاجي ته یو خل د احرام د محظوراتو څخه د استفادې اجازه ورکړی شوه چې د حج د احرامه پورې یې ترې استفاده وکړه.

په دغو دواړو صورتونو کښې د شکرېې یو څاروی ذبحه کول واجب دي، چې د قران یا تمتع د دَم په نامه باندې یادېږي.

هو! که د چا وسه نه کېدله، نو په هغه باندې واجبه ده چې درې ورځې روژې د حج په وخت کښې

---

(۱) زاد المسیر ج۱ ص۱۸۷؛ تفسیر الطبري ج۲ ص۲۳۰
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۸؛ صحیح مسلم ج۱ ص۳۸۲
(۳) تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۴۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که اومه، اتمه او نهمه ورځ روژه شي نو دا بهتره ده[1]، او اوه ورځې به نورې روژې هم ونیسي، کله د حج د مناسکو څخه فارغ شي او سات په سات په همدې تکل کښې وي چې کور ته بیرته چې وکړي. نور نو د دې څه باک نشته چې کور ته نارسېده یې پوره کړي او یا ورته د کور د رسېدلو مراجعه وکړي وروسته شروع وکړي. یعنې دلته د ﴿إِذَا رَجَعْتُمْ﴾ څخه د مناسکو څخه محض فراغت مطلب څخه وروسته دی او بس. دا د دې امت د ټولو علماوو کرامو نظر دی[2].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۴_ که څوک وایي چې درې روژې او اوه روژې خو معلومه خبره ده چې لس روژې کېږي نو په دې کښې څه حکمت دی چې بیا خل الله ﷻ ورباندې صراحت وکړ چې ﴿عَشَرَةٌ﴾ لس کېږي او بیا یې په ﴿كَامِلَةٌ﴾ باندې تائید کړه؟

مونږ وایو چې که څه هم مفسرینو کرامو په دې باره کښې ډېر جوابونه لیکلي دي چې ټول تقریباً پنځو ته رسېږي[3]. مگر مونږ ته لاندې جوابونه د زړه پورې ښکاري

الف په ﴿عَشَرَةٌ﴾ باندې ځکه صراحت وکړی شو ترڅو څوک گومان ونه کړي چې د "وَ" کلمه به د "اَوْ" په معنی سره وي لکه چې په همدې معنی باندې په عربي کلام کښې استعماله شوې ده[4].

ب په ﴿كَامِلَةٌ﴾ سره یې ځکه تاکید کړه ترڅو رانه څرگنده کړي چې پوره کول او کاملول یې رباندې لازم دي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې "فَأَكْمِلُوهَا" دغه لس ورځې پوره کړئ او څه نقصان پکښې رانه ولئ[5].

ج امکان لري چې دې ته اشاره وي چې دغه لس ورځې په اجر او ثواب کښې د څاروي د ذبحې څخه کمې نه دي او پوره ورسره اندول دي.

## حج قران او حج تمتع د اطرافیانو دپاره دي

۱۵_ د امام الشافعي رحمه الله په نزد حج قران او حج تمتع د ټولو مسلمانانو دپاره دي او بوازې په اطرافیانو پورې خاص نه دي او دا ځکه چې

الف په ﴿فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ﴾ کښې د "مَنْ" کلمه عامه ده. ټولو مسلمانانو ته شامله ده.

ب په ﴿ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ﴾ کښې مُشارٌ اِلَیه همدغه نږدې حکم دی چې د هدیې وجوب دی او نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د حج که وسه یې نه کېدله نو بیا لس روژې پوره کول دي

[1] روح المعاني ج۲ ص۸۳
[2] تفسیر المظهري ج۲ ص۲۵۳
[3] زاد المسیر ج۱ ص۱۸۹
[4] تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۴۹
[5] تفسیر المظهري ج۲ ص۲۵۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تمتع او حج قران په صورت کښې جواز لري په هغو حاجيانو باندې هديه يا روژې لازمې دي چې کور يې په مکه معظمه او يا د هغې په شاوخوا کښې نه وي. او که هغه يې کور کعبې ته نږدې وي نو په هغه باندې د هديې يا روژو حکم نشته ځکه چې نوموړي شخص هم څه جنايت نه دی کړی چې د ميقات څخه بدون د حج د احرام څخه وروسته شوی دی، بلکې د هغه کور خو د ميقات په داخل کښې دی هغه خو په هر وخت کښې حيل کور ته بدون د احرامه څخه تللی راتللی شي

اما هغه څوک چې کور يې د ميقات څخه بهر دی او جواز لري د تمتع او يا د تمتع او حج په احرام باندې ميقات ته داخل شي نو هغه خو يو ډول جنايت وکړ چې په يې د حج احرام بالکل پرېښود او يا يې وروسته د عمرې احرام يو ځای کړ، نو د دغه جنايت د کبله ورباندې هديه او يا روژې لازمې دي. او هم ورته د هديې د غوښې خوړل جايز نه دي.

## سوال جواب

۱۶ـ که څوک وايي چې دغه کار خو نوموړي حاجي د الله ﷻ په اجازه سره کړی دی، نو جنايت کول يې صحت لري؟

موږ وايو چې الله ﷻ ورته اجازه ورکړې ده خو هديه او يا روژې يې ورباندې لازمې کړې دي لکه چې د عذر د کبله يې ورته د سر خريل جايز کړي دي مګر فديه يې ورباندې هم لازمه کړې ده لنډه دا چې د امام الشافعي رحمه‌الله په نزد د جنايت سره اجازه څه منافات نه لري

## امام ابو حنيفه رحمه‌الله څه وايي؟

۱۷ـ امام ابو حنيفه رحمه‌الله وايي چې حج تمتع او حج قران د مکې د خلکو دپاره او د هغو خلکو دپاره چې حکماً مکيان ګڼل کيږي چې کورونه يې د ميقاتونو په داخل کښې وي جواز نه لري او دا ځکه چې

الف د دې څخه پخوا دې خبرې جواز نه درلود چې په يوه سفر کښې سړی حج او عمره دواړه اداء کړي، نو الله ﷻ په مسلمانانو باندې اسانتيا راوستله چې په يو سفر باندې يې هم ورته د دواړو اداء کول جايز کړه، نو د دغه لوی نعمت دپاره بايد چې د شکرانې يوه هديه او يا لس روژې ونيسي

اما څوک چې په داخل د ميقات کښې وي نو په هغو باندې دوه سفرونه کول ډېر مشکل نه دي هغوی ته يې دغسې اجازه ورنه کړه نو په هغوی باندې شکرانه هم نشته

ب رښتيا ده چې په ﴿فَمَن تَمَتَّعَ﴾ کښې د "مَن" کلمه عامه ده خو د ايت وروستنۍ برخه د استثناء په ډول باندې ترې ځينې خلک وباسي چې کورونه يې په داخل کښې وي او دا خو څه باک نه لري

ج برسېره په دې په عربي ژبه کښې د "ذلک" کلمه بعيد ته اشاره وي نو په کار ده چې ﴿ذَٰلِكَ﴾ بې هغه مصدر وي چې ﴿فَمَن تَمَتَّعَ﴾ ورباندې دلالت کوي، نه د هديې د وجوب حکم. ځکه چې دا خو نږدې دی.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د: که بالفرض نوموړي حکم ته اشاره وی نو په کار وه چې "ذٰلِكَ عَلٰی مَنْ لَمْ يَكُنْ" ویل شوي وی چې په لزوم باندې یې دلالت کړی وی، نه "ذٰلِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ".

نو کله چې ﴿ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ﴾ نازل شوی دی نو معلومه شوه چې په دې مقام کښې د امام ابو حنیفه علیه الرحمة اجتهاد حق ته رسېدلی دی، لکه چې عبدالله بن عباس رضی الله عنهما یې هم همدا ډول تفسیر کړی دی[1].

﴿ٱلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَٰتٌ ۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِى ٱلْحَجِّ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ ٱللَّهُ ۗ وَتَزَوَّدُوا۟ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ ۚ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٧﴾﴾

[۱۹۷] د حج میاشتې خو معلومې میاشتې دي (په خپل حال پرېښودلې شوې).

نو څوک چې په دغو میاشتو کښې په خپل ځان باندې د حج پرېکړه وکړي (احرام وتړي) نو د حج په حالت کښې به نه د ښځو سره مشغولتیا کوي، نه به بد کارونه کوي او نه به جګړې کوي.

او تاسو چې هر یو د خیر کار کوئ په هغه باندې الله ﷻ پوه دی (بې عوضه مو نه پرېږدي).

او تاسو توښه (خوري) واخلئ (د دنیا سفر وي او که د آخرت) بې شکه چې په ټولو توښو کښې تقوی بهتره توښه ده.

او زما څخه تقوی وکړئ (وډار شئ) ای د عقل خاوندانو!.

## ارتباط

الله ﷻ د حج او عمرې دوه عبادتونه (چې د ابراهیم ﷺ د زمانې څخه په خلکو کښې رواج وه) په خپل حال باندې پرېښوده، مګر څه اصلاحات یې پکښې راوستل او څه خرافات او بدعتونه چې پکښې د خلکو د پلوه د تاریخ په اوږدو کښې زیات شوي وه هغه یې ترې لرې کړه.

لږ څه وړاندې یې هغه بدعت د منځه یوړ چې د احرام په حالت کښې به کورونو ته په دروازه باندې نه ورننوتل، بیا یې د عمرې د وخت په باره کښې په خلکو باندې اسانی نازله کړه چې د عمرې اداء کول یې آن د حج په موسم کښې هم جائز وګرځول که څه هم دوی ته د حج په موسم کښې عمره کول غټه ګناه ښکاربدله[2].

د حج کولو په وخت کښې الله ﷻ څه تبدیل او تغییر ونه کړ او همغه وخت چې د خلکو په منځکښې مشهور او څرګند وه او ټولو پېژاند، هغه یې په خپل حال باندې پرېښود، البته چې د حج

[1] تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۵۰؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۱۷۰
[2] التفسیر الکبیر ج۵ ص۱۶۷_۱۷۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په وخت کښې د جهالت په زمانه کښې چې څه بد رواجونه وه هغه يې د منځه وېوړه.
نوموړي مضمون ته همدغه ايت اشاره کوي چې خلاصه يې دا ده:

## د مطلب خلاصه

۱ـ د حج د اداء کولو وخت هماغه سابقه تائید دی چې هغه معلومې میاشتې دي او ټول خلک يې پېژني چې شوال، ذو القعده او ذو الحجه دي، خو بايد چې د جاهليت د زمانې په شان تبدیل پکښې ونه کړی شي چې کله به يې يوه مياشت د بلې مياشتې ځای ته بوتله او د يوې مياشتې نوم به يې په بله کېښود چې په نتيجه کښې به حج هم د خپله ځايه بې ځايه شو.

۲ـ نو څوک چې په همدغو مياشتو کښې په خپل ځان باندې حج کول لازم کړي، چې احرام وتړي او په تلبيه باندې اواز پورته کړي او يا د خپله خانه سره هديه روانه کړي (غواړي چې شرعي حج وکړي)، نو هغه دې د لاندې شيانو څخه خپل ځان وساتي:

الف: د خپلې ښځې سره دې د جماع څخه خپل ځان بچ وساتي او هغه کلمات دې هم نه استعمالوي چې هغه د جماع دواعي او بلونکي ګڼل کېږي.

ب: د احرام په محظوراتو کښې دې فسق نه کوي او خپل ځان دې پکښې نه ګناهګاروي، چې يا ګنډلې جامې واغوندي او يا ښکار وکړي او يا داسې د بل عمل مرتکب شي.

ج: د جګړو او دعوو دنګلو څخه دې پرهېز وکړي او د الله ﷻ په ذکر فکر باندې دې مشغول شي.

۳ـ دغه کارونه په حج کښې ممنوع دي او په همدې حالت کښې به ترې ځانونه په څنګوئ.

پاتې شوه هغه افعال چې د حج څخه په غير هم ناجايز ګرځول شوي دي لکه د غير منکوحې سره جماع کول او يا ورسره د پوچو کلماتو استعمال او يا پردی مال خوړل او يا د خلکو سره په باطلو کښې جګړې کول او داسې نور، نو د هغو څخه خو بايد چې په ډېر جديت سره اجتناب وکړئ.

۴ـ د حج وخت ستاسو دپاره د ګټې وخت دی، په عبثياتو کښې يې مه ضائع کوئ د آخرت د سفر دپاره په همدې وخت کښې ځوری او توښه برابره کړئ. او دا ځکه چې د حج د وختونو په هره ګړۍ او هره دقيقه کښې ستاسو دعاګانې قبلېږي او هر ځای يې د برکتونو څخه ډک دی چې ګناهونه پکښې ښنل کېږي او ايماني جذبه پکښې راوېښېږي.

نو دغه فرصت بې فائدې د لاسه مه ورکوئ معلومه نه ده چې بل کال ته به مړه ياست او که ژوندي، دا ډول فرصت به بل ځل په لاس درشي او که نه.

۵ ـ لنډه دا چې تاسو هر يو د خير کار او يا د خير خبره وکړئ او يا يې په زړونو کښې تېره کړئ الله ﷻ ورباندې پوه دی، هغه ضائع کوي نه، او پوره اجرونه به درکړي، نو تکړه شئ ځانو ته توښه برابره کړئ چې په ټولو توښو کښې د تقوی او ديندارۍ توښه بهتره ده چې د ګټلو ډېر ښه فرصت بې په لاس درغلی دی.

۶ـ په دې دنياوي سفر کښې خو به درته د ځوری او توښې قدر معلوم شوی وي چې د چا توښه نه

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وي او یا کمزوری وي هغه څومره د جنجال سره مخامخ وي. په همدې باندې د آخرت توښه هم در قیاس کړئ چې څوک په هغه سفر کښې توښه ونه لري هغه به څومره ذلیل او حقیر وي او چې څوک یې لري هغه به څومره معزز او مکرم وي.

۷ـ په دې باندې پوه شئ لکه څنګه چې الله ﷻ ستاسو په نېکیو باندې عالم دی، ستاسو بدې او جنایات هم ورڅخه پټ نه دي.

نو ای د عقل خاوندانو! زما څخه وډار شئ او زما د مناهیوو څخه خانونه بچ کړئ او په اوامرو باندې مې عمل وکړئ چې ستاسو د دنیا او آخرت ګټه او بهبود په همدې کښې نغښتی دی او بس. نو څوک چې وخت ضائع کوي او یا فرصت د لاسه ورکوي هغوی ساده ګان دي، تاسو ساده ګان کېږئ مه.

## توضیحات

۱ـ د ټولو مفسرینو کرامو اجماع ده چې شوال او ذوالقعده د حج میاشتې دي، اما د ذو الحجې په میاشت کښې اختلاف دی چې په لاندې ډول واضحه کېږي[1]:

الف: امام مالک رحمه الله علیه وایي چې: ذو الحجه هم ټوله د حج میاشت ده، په دې معنی چې مناسب نه دي چې د حج څخه په غیر پکښې څوک عمره اداء کړي، نو کله چې د عمرې اداء کول پکښې مناسب نه شوه نو داسې وګڼله شوه لکه چې ټوله میاشت د حج میاشت وي، که څه هم ټوله میاشت د حج په مناسکو باندې مشتمله نه ده.

ب: امام الشافعي رحمه الله علیه وایي چې د ذو الحجې د میاشتې فقط نهه ورځې او لسمه شپه د حج په وخت کښې شامله ده. دا ځکه چې څوک په لسمه شپه احرام وتړي او په عرفات باندې شپې د شپې ودرېږي حج یې وشو او احرام یې صحت لري[2]، خو فقط چې لسمه شپه سبا شوه او د عرفات وخت تمام شو نو د حج وخت هم تمام شو.

ج: امام ابو حنیفه رحمه الله علیه وایي چې د ذو الحجې د میاشتې لسمه ورځ هم د حج د وخت څخه شمېرله کېږي، ځکه چې دغې ورځې ته "یَوْمُ الْحَجِّ الْاَکْبَرْ" ویل شوی دی نو په کار دي چې د حج په وخت کښې شامله وي. لکه چې عبد الله بن عباس رضی الله عنهما همداسې تفسیر کړی دی[3].

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ایت کښې د ﴿أَشْهُرٌ﴾ کلمه استعماله شوې ده چې د شهر جمعه ده او د جمعې اقل درې فرده وي. نو د دې څخه معلومېږي چې د امام مالک علیه الرحمة اجتهاد دلته په حقه

---

(۱) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۰۶: تفسیر القرطبي ج۲ ص۴۰۵: التفسیرات الأحمدیة ص۹۲: تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۰۷

(۲) تفسیر القرطبي ج۲ ص۴۱۶

(۳) تفسیر الطبري ج۲ ص۲۵۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی او نور دواړه خطا شوي دي چې درې فرده نه پوره کېږي؟

مونږ وايو چې: دغه اعتراض په لاندې دوه وجوهو سره دفعه کړی شوی دی:

الف: د جمعې څخه ما فوق الواحد مراد دی چې مثنی ته هم شاملېږي. نو په دې تقدير دوه مياشتې (شوال او ذو القعده) د نظر لاندې نيول شوي دي او د ذو الحجې د مياشتې نهه يا لس ورځې داسې ګڼل کېږي لکه چې د سره موجودې نه وي، ځکه چې دا د مياشتې قليل جزء دی او قليل ته اعتبار نه لري چې ضرور به ذکر کېږي.

ب: د ذو الحجې نهه يا لس ورځې د شرافت او احترام د کبله چې د حج لوی لوی مناسک پکښې اداء کېږي داسې وګڼل شوې لکه مکمله مياشت، نو کله چې دغو کمو ورځو ته د مياشتې حکم ورکړی شو نو د جمعې درې فرده پوره شوه چې درې مياشتې دي[1].

ج: مګر مونږ ته داسې ښکاري چې درې مياشتې په دې معنی د حج مياشتې دي چې د حج مناسک پکښې اداء کېږي او په دې معنی نه دي چې ټولې ورځې به يې د حج په مناسکو باندې مشتملې وي، نه ګورئ چې په ځينو وختونو کښې شوال او ذو القعده دواړه مياشتې د احرام تړلو څخه خالي پاتې کېږي او سره د دې چې بالاتفاق د حج مياشتې ګڼلې کېږي، که د ذو الحجې د مياشتې ځينې ورځې د حج په مناسکو باندې نه وي مشتملې او سره د دې د حج مياشت وګڼل شي نو څه باک يې دی؟.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د لسمې ورځې څخه هغې خوا ته هم د حج څه مناسک اجراء کېږي لکه د جمرو ويشتل، طواف الزيارة او داسې نور؛ نو په کار وه چې أيام التشريق او أيام النحر هم د حج په وخت کښې شامل کړی شوي وی؟

مونږ وايو چې: خبره سمه ده، مګر د احرام څخه خپل ځان خلاصول په همدې ورځې پورې توقف لري او هغه مناسک چې تاسو ورته ګوته ونيوله هغه ټول بدون د احرام څخه هم ترسره کېږي نو داسې وګڼل شو لکه چې حج بالکل تمام شوی وي[2].

## د احرام تړلو وخت

۴ـ د امام مالک او امام الشافعي رحمهما الله د نظر مطابق د شوال څخه مخکښې د حج دپاره احرام تړل صحت نه لري لکه چې لمونځ کول د وخت څخه پخوا د اعتبار وړ نه دي.

اما امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چې د حج دپاره احرام شرط دی، رکن نه دی. نو لکه څنګه چې د وخت څخه وړاندې سړی اودس کولی شي همدارنګه د ذو الحجې د مياشتې د لسمې ورځې څخه هغې خوا په هره ورځ او يا په هره مياشتې کښې چې سړی د حج دپاره احرام وتړي جواز

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۸۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۲) التفسير الكبير ج۵ ص۱۷۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لري، مګر د کراهیت څخه به خالي نه وي. ځکه چې څومره د احرام وخت اوږدېږي هماغومره د جناياتو خطرات زياتېږي.

او بله دا چې (رئیس المفسرین) عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ورته د "لَا يَنْبَغِي" کلمه استعماله کړې ده چې وايي: «لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يُحْرِمَ بِالْحَجِّ إِلَّا فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ»[۱] يعنې: هيچا ته مناسب نه دي چې د حج احرام د حج د مياشتو څخه په غير په نورو مياشتو کښې وتړي.

د امام ابو حنيفه رحمه الله عليه بل دليل دا دی چې الله ﷻ د [البقرة:۱۸۹] ايت کښې ټولې مياشتې د حج وخت ښودلی دی، نو ځرنګه چې د حج ارکان په ټولو مياشتو کښې جواز نه لري بايد چې لږ تر لږه د حج دپاره خو په ټولو مياشتو کښې احرام تړل جواز ولري[۲].

## په ځان باندې حج فرض کول

۵ـ په دې کښې خو شک نشته چې په دې مقام کښې په خپل ځان د حج د فرض کولو څخه د احرام تړل مطلب دي ترڅو چې حلال شيان ورباندې حرام شي او د محرم نوم پرې کېښوده شي، خو په دې کښې اختلاف دی چې سړی په څه شي باندې محرم ګرځي.

امام الشافعي رحمه الله عليه وايي چې محض نيت وکړي سړی محرم شو او هغه څه چې د احرام خاوند ته حرام دي هغه ورباندې حرامېږي[۳].

امام أبو حنيفه رحمه الله عليه وايي چې نيت خو د احرام څخه بېرون يو شی دی لکه د لمانځه نيت چې د لمانځه څخه بېرون دی، نو صرف په نيت باندې سړی محرم نه شي ګرځېدلی ترڅو چې ورسره د لاندې دوه شيانو څخه يو ملګری نه کړي[۴]:

الف: چې تلبيه ووايي «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ» تر آخره پورې.

ب: چې د حرم شريف په احترام باندې څاروی (هديه) روانه کړي.

## رَفث څه ته وايي؟

۶ـ که څه هم د ﴿رَفَثَ﴾ کلمه هغو خبرو ته وايي چې مېړه يې د خپلې ماندينې سره کوي او په صريحه لهجه باندې په مجالسو کښې بدې ګڼل کېږي او خلک ترې په کناياتو سره تعبير کوي[۵]، مګر دلته ترې ذکرې شوې خبرې او جماع کول دواړه مطلب دي. او دا ځکه چې په محرم باندې خو لکه څنګه چې جماع کول حرام دي همدارنګه ورباندې د جماع ذکر هم حرام دي، برابره خبره ده چې په صريحو الفاظو باندې وي او که په کناياتو باندې[۶].

---

(۱) الدر المنثور ج۲ ص۵۲۶
(۲) تفسير القرطبي ج۲ ص۴۰۶؛ تفسير المراغي ج۲ ص۱۰۰
(۳) التفسير الكبير ج۵ ص۱۷۸
(۴) روح المعاني ج۲ ص۸۵
(۵) مفردات الراغب ص۲۰۵
(۶) تفسير زاد المسير ج۱ ص۱۹۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


هو! ځينې علماء كرام وايي چې د جماع يادول صرف په هغه وخت كښې روا نه دي چې په مجلس كښې ښځې ناستې وي او بس[۱].

## د فُسوق څخه څه شی مراد دی؟

۷ـ په دې مقام كښې مفسرينو كرامو د فسوق كلمه په ډېرو معناګانو باندې تفسيره كړې ده چې ټولې تقريبًا نهو ته رسېږي[۲]، مګر ټولې معناوې يې لاندې دوه وو معناوو ته رجوع كوي:

الف: هغه كارونه چې حلال سړي ته جائز وي خو د احرام تړلو په سبب باندې فسق ګڼل كېږي. لكه د ګنډلو جامو اغوستل او داسې نور. دا معنی د ځينو مفسرينو كرامو خوښه ده[۳].

ب: ټول ګناهونه. برابره خبره ده چې بدون د احرام څخه هم ګناه وي او كه يوازې په احرام تړلو سره ګناه ګرځېدلې وي. همدغه تفسير د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم روايت شوی او اكثرو صحابه وو كرامو او تابعينو غوره ګڼلی دی[۴].

## سوال جواب

۸ـ كه څوک وايي چې: په دې كښې څه ګټه ده چې ټول معاصي په "فُسُوق" كښې داخل كړی شي حال دا چې د احرام د محظوراتو څخه په غير په دائمي توګه حرام دي، كه دلته شامل كړی شي او كه نه؟

مونږ وايو: لكه څنګه چې زمان او مكان سره ثوابونه او اجرونه تفاوت پيدا كوي همدارنګه د ګناهونو مواخذه هم ورباندې زياتېږي او كمېږي. مثلًا د وريښمو جامې نارينه وو ته حرامې دي خو په لمانځه كښې شديدې حرامې دي، نو بايد چې ټول معاصي د احرام په حالت كښې په دوهم ځل د نهي لاندې راشي ترڅو ترې محرمان په ډېر جديت سره ځانونه وساتي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۹ـ كه څوک وايي چې: كه د ﴿ فُسُوقَ ﴾ څخه ټول ګناهونه واخستل شي حتی چې د احرام او غير احرام ټولو حالاتو ته شامل شي نو بيا خو د ﴿ رَفَثَ ﴾ او ﴿ جِدَالَ ﴾ دواړو كلمو ته حاجت نه پاتې كېږي، سره د دې چې يوه ترې وړاندې ذكره شوې ده او بله ترې وروسته؟

مونږ وايو چې: خبره همداسې ده، مګر خكه يې د ټولو ګناهونو د جملې څخه يوازې په همدغو دواړو باندې تاكيدًا صراحت وكړ چې:

الف: په حج كښې د ښځو او سړيو ناسته ولاړه ګډه وي او ټول په حرم شريف كښې او په بوه جومات كښې اشتراک كوي، نو د "رَفَث" د واقع كېدلو احتمال زيات وي.

(۱) تفسير ابن كثير ج۱ ص۲۳۷
(۲) البحر المحيط ج۲ ص۸۸
(۳) تفسير الطبري ج۲ ص۲۷۱، روح المعاني ج۲ ص۸۶
(۴) تفسير القرطبي ج۲ ص۴۰۸، تفسير ابن كثير ج۱ ص۲۲۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: همدارنګه هلته ګڼه ګونه زیاته وي د جګړو وېره وي، د اکثره خلکو د خپلو ګوانډیانو سره په خوراک او څښاک او نور حساب کتاب کښې شورماشور جوړېږي. د ځینو خلکو د اوبو څښکلو په ځای کښې اواز پورته کېږي، څوک په تشنابونو باندې سره جنګ کوي، د چا په حجر اسود باندې سره جګړه وي او څوک د لمانځه په صف باندې سره نانډرې وهي؛ نو ډېره په ځای خبره ده چې په جدال باندې یې هم صراحت وکړ.

## دلته کوم ډول جدال مراد دی؟

۱۰_ د جدال په کلمه کښې هم ځینې علماء کرام هغه جِدال او جګړې مرادوي چې هغه صرف محرمانو ته جواز نه لري. لکه د خپلو خدمتګارانو سره خبرې تاوول راتاوول، که څه هم نورو خلکو ته جائزې وي[۱].

او ځینې نور علماء کرام وايي چې ټولې جګړې او شورماشور محرم سړي ته جواز نه لري، برابره خبره ده چې د احرام څخه پخوا ورته جائز وي لکه د خپلو خدمتګارانو سره شور او کړپ، او که ورته جائز نه وي لکه چې د جاهلیت په زمانه کښې د حج په وخت کښې به ډول-ډول مقابلې روانې وي، هر یوه به د خپلو پلرونو درنښت ویلې او نور به یې تحقیرول، یوې ډلې به دعوه کوله چې زمونږ حج قبول شوی دی او بلې به ویلې چې زمونږ حج مقبول دی.

د حج په مواقفو کښې به ځینو یو موقف بهتر ګاڼه او ځینو بل، همدارنګه به د عرفې په ورځ کښې هم ګډوډي وه، هرې یوې طائفې به خپل ځانونه په حقه ګڼل او نورو ته به یې د ناروااوو خاوندان ویل[۲].

## سوال جواب

۱۱_ که څوک وايي چې: د خبرو اړول (جدال) چې په محرم باندې حرام دي، څه حد او اندازه لري او که بالکل خوله بنډول ورته ناجائز دي؟

مونږ وایو چې: حد او اندازه یې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ښودلي ده چې هغه جګړه حرامه ده کومه چې سپکو او سټغو خبرو ته ورسېږي[۳].

نو د دې څخه معلومېږي چې په علمي مسائلو کښې چې د حق د پلټنې دپاره په ارامه فضا کښې څه مباحثه صورت ونیسي څه باک یې نشته.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۲_ که څوک وايي چې: د ﴿ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ ﴾ څخه څرګندېږي چې هلته به نه

(۱) روح المعاني ج۲ ص۸۶
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۷۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۳۸
(۳) تفسیر القرطبي ج۲ ص۴۱۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


پوچه خبره وي، نه جنایت او نه جګړه، ځکه چې الله ﷻ د اخبار په توګه مونږ ته خبر راکړ چې هلته د ذکر شوو درېواړو شیانو څخه یو جنس هم موجودیت نه لري، مګر مونږ چې ګورو ذکر شوي درېواړه څیزونه خال-خال او ځای په ځای موجود دي؟.

مونږ وایو چې: دغه اعتراض داسې اعتراض دی لکه چې په ﴿ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ ﴾ باندې وارد شوی وه، چې ایت شریف د "رَیْبْ" د نفي څخه خبر راکوي حال دا دی چې ټول کافران پکښې رَیب (شک) کوي، نو جواب یې هم هغسې دی لکه چې هلته شوی وه، چې خلاصه یې لاندې لوستلی شئ:

الف: که څه هم صورت یې د اخبار دی خو مطلب پکښې نهي ده. یعنې د احرام په حالت کښې پوچې خبرې او جماع مه کوئ، نافرماني مه کوئ او هم جګړې مه کوئ. د دې دپاره نهي د نفي په صورت ذکره شوه چې نفي د نهي څخه ډېره بلیغه ده.

ب: د احرام حالت د دغسې کارونو دپاره مناسب نه دی، چې سړی د مړي په شکل باندې کفن اغوستی وي او د الله ﷻ د رضا کولو دپاره په ډېر اخلاص هغه ټول مناسک اجراء کوي چې د زیاتو په اسرارو او حکمتونو باندې یې سر هم نه خلاصېږي چې دا په څه منظور د حج د مناسکو څخه ګرځولي شوي دي لکه په مزدلفه او عرفات او نورو ځایونو کښې توقف کول او داسې نور، خو د دې سره-سره د الله ﷻ څخه عصیان او نافرماني هم وکړي نو دا ډېر غیر مناسب او نالائقه کار دی.

همدغه معنی په هغه حدیث کښې منعکسه شوې ده چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ حَجَّ هَذَا الْبَيْتَ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَمَا وَلَدَتْهُ أُمُّهُ»[1] یعنې: څوک چې د دې کعبې حج وکړي او نه هلته رفث وکړي او نه فسق، په داسې حالت باندې بېرته راګرځي لکه چې مور زېږولی وي. یعنې لکه د تولد په وخت کښې چې د ګناه څخه پاک وه همدارنګه په حج کولو سره د ګناهونو څخه پاکېږي، چې همدغه ته "حَجٌّ مَبْرُورٌ" ویل شوی دی چې د الله ﷻ په دربار کښې د قبول درجې ته رسېدلی وي.

## د جاهلیت یو بل رواج

۱۳ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: «كَانَ نَاسٌ يَحُجُّونَ بِغَيْرِ زَادٍ»[2] یعنې: ځینې خلک وه چې بدون د توښې څخه به یې حجونه کول.

په ځینو روایاتو کښې راغلي دي چې د یمن خلکو به دا کار کاوه او ویلې به یې چې: «نَحْنُ الْمُتَوَكِّلُونَ»[3] یعنې: مونږ توکلیان یو. یعنې په الله ﷻ باندې مو توکل او اعتماد دی، هیڅ توښه د خانه سره نه وړو.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۲۵
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۳۹
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۲۰٦

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


په هر تقدیر، الله ﷻ د دغه بد رواج او ناکاره دستور د ورکولو دپاره ذکر شوی ایت شریف نازل کړ چې ﴿ تَزَوَّدُوا ﴾ یعنې: توښه او خوری درسره واخلئ، چې هلته سوال کولو ته مجبور نه شئ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۴_ که څوک وایي چې: د مدعې د اثبات دپاره خو په دې مقام کښې داسې ویل په کار وه چې «فَإِنَّ الزَّادَ خَيْرٌ» بې شکه توښه بهتره ده د خالي لاس څخه، حال دا چې په ایت شریف کښې ویل شوي دي چې ﴿ فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَىٰ ﴾ بې شکه بهتره توښه تقوی ده. دا څکه چې تقوی خو نه خوړه کېږي او نه څښله کېږي؟

مونږ وایو چې: انسان دوه ډوله سفرونه په مخکښې لري، یو د دنیا سفر او بل د آخرت سفر، چې د هر یوه سفر دپاره بېله-بېله توښه په کار ده.

د دنیاوي سفر توښه خو معلومه ده چې هرڅوک یې پېژني صراحت ته یې حاجت نشته.

اما د آخرت په توښه باندې ډېرو خلکو ځانونه رانده اچولي دي، نو څکه الله ﷻ ورباندې صراحت وکړ چې د آخرت توښه چې تقوی ده د دنیا د توښې څخه بهتره ده، تاسو ته په کار دي چې د دنیا د توښې ترڅنګه د آخرت توښه هم د یاده ونه باسئ، په ډېرو وختونو کښې د دنیاوي توښې نشتوالی باعث ګرځي چې د آخرت توښه ورباندې خرابه شي. د مثال په ډول یو سړی تش لاس د مکې په لور روان شي نو ډېر خطر شته چې د لاندې وجوهو د کبله د آخرت توښه د لاسه ورکړي او تقوی یې خرابه شي:

الف: چې په حرم شریف او په محترمو ورځو او شپو کښې غلا، غصب او کیسه بُرۍ ته اړ شي.

ب: چې هلته د خلکو د اوږو پېټی شي، کله یوه ته د تمې سترګې نیسي او کله بل ته.

ج: چې د لوږې او تندې د کبله یې د زړه حضور خراب شي او په اخلاص سره عبادت ونه شي کړی، او یا یې د کمزورۍ د کبله په عبادت کښې نقصان پېښ شي چې نه په ښه توګه طوافونه کولی شي او نه د صفا او مروه سعي.

د: چې هلته تعریضاً او یا په ښکاره توګه په سوال او ګدایۍ باندې پیل وکړي.

## سوال جواب

۱۵_ که څوک وایي چې: د اضطرار په حالت کښې خو ګدائي کول جواز لري ترڅو د خپل ځان دپاره د یو وخت خوراک او څښاک پیدا کړي او په جائزو کارونو باندې خو تقوی نه خرابېږي؟

مونږ وایو چې: څوک چې په قصد سره په لوی لاس توښه پرېږدي او د سبا او بېګا د اذوقې (خوراک او څښاک) دپاره ګدائي ته مضطر شي، هغه ته سوال کول جواز نه لري نو څکه یې پرې تقوی خرابېږي.

پورتنۍ څو خبرې د مثال په توګه ذکر شوې، که نه نو د عقل خاوندان پوهېږي چې په هر یو سفر کښې توښه څومره لوی اهمیت لري او آخرت توښه د دنیا د توښې څخه څومره بهتري لري؟.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُوا فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ ۚ فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۖ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِن كُنتُم مِّن قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ (١٩٨) ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (١٩٩) ﴾

[۱۹۸] په تاسو باندې (د حج په موسم کښې) څه باک نشته چې د خپل رب ﷻ د فضل (حلال مال) څخه ولټوئ (او تجارت وکړئ).

نو کله چې تاسو د عرفات څخه کوز شوئ نو دالمشعر الحرام په شاوخوا کښې الله ﷻ یاد کړئ او داسې یې یاد کړئ لکه تاسو ته یې چې هدایت او لارښودانه کړې ده. او بې شکه د دې څخه پخوا تاسو د ګمراهانو څخه وئ.

[۱۹۹] بیا د دې مقام (مزدلفې او عرفات) دواړو څخه کوز شئ لکه څنګه چې خلک ښکته کېږي. او د الله ﷻ څخه بښنه وغواړئ. بې شکه الله ﷻ بښونکی او مهربان دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ د دغو ایتونو ارتباط د وړاندې سره د لاندې وجوهو د کبله په نظر راځي:

الف: په وړاندې ایت کښې الله ﷻ راوښودله چې پرته د توښې څخه د سفر کول تقوی نه ده بلکې تقوی او دینداري توښه او څوری برابرول دي. په دې ایت کښې لطف کوي چې که حتی د حج په موسم کښې تجارت وکړئ او توښه برابره کړئ هم څه پروا نه لري. یعني که د توښې په غرض باندې د خانه سره څه اجناس یوسئ او هلته یې خرڅ کړئ او څه ګټه پکښې وکړئ هیڅ باک یې نشته.

ب: وړاندې الله ﷻ په تقوی سره امر کړی وه، او دلته یې وښودل چې تقوی او عبادت هغه نه دی چې تاسو یې د خانه جوړ کړئ او عرفات ته نه ورخېژئ په مزدلفه کښې پاتې کېږئ او دا درته تقوی ښکاري، بلکې عرفات ته لاړ شئ چې بیا ترې راښکته شئ.

ج: وړاندې الله ﷻ د جدال څخه منعه کړې وه، امکان لري چې د چا ذهن ته ورغلې وي چې اخستل او خرڅول خو د جګړې څخه په غیر امکان نه لري، چې په څو یې راکوې او په څو یې اخلې؟، په دې یې درکوم او په دې یې نه درکوم او داسې نور؛ نو البته چې د حج په موسم کښې به تجارت هم ممنوع وي، لکه چې همدا فکر ځینو مسلمانانو ته ورغورځېدلی وه[۱]. نو په دې ایتونو کښې الله ﷻ نوموړی توهم او تشویش د منځه لرې کړ.

۲ـ په تاسو باندې د دې خبرې هیڅ باک نشته چې د حج په موسم کښې د خپل رب فضل ولټوئ، تجارت وکړئ، حلاله ګټه وکړئ، خپلو ځانونو ته توښه برابره کړئ او په بې غمۍ سره د حج

(۱) تفسیر المراغي ج۲ ص۱۰۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

مناسک تمام کړئ. خو باید چې معاملات تاسو د الله ﷻ د ذکر څخه غافل نه کړي چې ټوله توجه مو د مال ګټلو ته وي او بس، چې نه په عرفات کښې د الله ﷻ ذکر وکړئ او نه په مزدلفه کښې.

۳ـ نو کله چې د عرفات څخه د ورځې په ماښام کښې مزدلفې ته راښکته شوئ نو د المشعر الحرام په شاوخوا کښې الله ﷻ یاد کړئ، تسبیحات یې وکړئ، حمدونه او ثناګانې یې ووایئ او لمونځونه وکړئ، په هره ژبه چې درته اسان وي، خو الله ﷻ مه هېروئ او سوال او زارۍ ورته وکړئ.

باید چې د الله ﷻ یادونه په هغې طریقې سره وکړئ کومه چې پخپله الله ﷻ درښودلې ده، نه داسې چې د خپله خانه یې جوړه کړئ او بیا پرې د تقوی او دینداری نوم کېږدئ، لکه چې همداسې ذکر به مو د جاهلیت په وخت کښې کاوه چې په تلبیه کښې به مو ورسره شریک پیدا کاوه.

۴ـ بې شکه د الله ﷻ د ښوداني څخه پخوا خو تاسو هم د ګمراهانو څخه وئ، نو کله چې د اسلام په رڼا کښې د ضلالت د تیارو څخه راووتلئ نو اوس به د هغو باطلو رواجونو څخه خپل ځانونه په کلکه ساتئ او په شریعت به منګولې ښخوئ.

۵ـ نو تاسو ته امر کوم چې د هغه ځای څخه ښکته شئ د کوم ځای څخه چې نور خلک ښکته کېږي چې هغه عرفات دی، په مزدلفه کښې مه پاتې کېږئ؛ چې نور خلک د عرفات او مزدلفې په ټولو مقدسو او مشاعرو باندې وګرځي او بیا په منا باندې ورتوی شي (وربښکته شي)، او تاسو صرف د مزدلفې په مشاعرو باندې ګرځېدلې یاست او د عرفات مشاعر درڅخه پاتې شوي وي.

۶ـ د عرفات په شمول ټول ځایونه د سوالونو د قبلېدلو ځایونه دي، په هر ځای کښې د الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو ښښنه وغواړئ، بې شکه الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی. که اوس مو هم څه تکبر او خودبیني په زړو کښې ګرځي، لکه د جاهلیت په زمانه کښې به مو چې په نورو خلکو باندې خپل ځانونه پورته ګڼل، د هغه څخه استغفار وغواړئ او معالجه یې وکړئ.

## توضیحات

۱ـ د جاهلیت د زمانې خلکو درې بازارونه درلوده چې تفصیل یې په لاندې ډول دی[1]:

الف: د یوه بازار نوم "عُکَاظ" وه، چې د مکې معظمې څخه به درې مزله لرې د طائف په شاوخوا کښې جوړېده. دغه بازار به د ذو القعدې د اول څخه تر شلو ورځو پورې دوام درلود.

ب: د بل بازار نوم "مَجَنّة" وه، چې د ذو القعدې د اول څخه به شروع کېده او لس ورځې به یې دوام کاوه. دغه بازار د مکې معظمې څخه لرې څه لاندې په "مر الظهران" کښې جوړېده.

ج: درېیم بازار یې د "ذو المجاز" په نامه باندې مشهور وه، چې د عرفات شاته یې موقعیت درلود او د محرم د میاشتې د اول څخه تر اتو ورځو پورې به یې دوام کاوه.

۲ـ د جاهلیت په زمانه کښې هم ځینو خلکو دغو بازارونو ته په ښه نظر نه کتل. دوی په دې عقیده وه چې په دغو بازارونو کښې ګډون کاوه کومو خلکو به چې د حج عبادت پرې خرابېږي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۱) د تفسیر القرطبي د ج۲ ص۴۱۳ مع حواشي. چې په شرح [illegible] حواله ورکړې ده.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغوی به یې د "ذاج" په نامه باندې یادول او ویل به یې چې دوی "ذاج" دي "حاج" نه دي. یعنې د چرګانو په شان دانې ټولوي (خپلې جوجورې ډکوي)، حاجیان نه دي. د محرم د میاشتې په شروع کېدلو سره خو به ورته اخستل او خرڅول غټه ګناه ښکارېده[۱].

۳ـ کله چې عربستان په اسلام باندې رڼا شو نو خینو مسلمانانو ته هم تشویش دا پیدا شو چې د حج په سفر کښې به تجارت جواز لري او که نه؟، د جاهلیت بازارونه به اسلام تائید کړي او که لغو به یې اعلان کړي؟.

لنډه دا چې د حج په موسم کښې دوی ته تجارت خوند نه ورکاوه، لکه چې همداسې د عبد الله بن عباس رضي‌الله‌عنهما څخه روایت شوی دی[۲]، امکان لري چې د نبي کریم ﷺ څخه به یې په همدې باره کښې پوښتنه هم کړې وي.

نو الله ﷻ لطف وکړ او د حج سفر یې د تجارت سره منافي ونه ګڼه او خلکو ته یې وښودله چې اسلام د رهبانیت دین نه دی، په هر یو کار کښې چې سړی بوخت وي او زړه یې د الله ﷻ د یاد څخه غافل نه وي هغه ټول عبادات دي. لکه چې فرمایي: ﴿ رِجَالٌ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ ﴾ [النور: ۳۷] یعنې: د الله ﷻ تسبیحات سبا او بېګا داسې رجال (سړي) کوي چې هغوی لره تجارت او بیع د الله ﷻ د ذکر، د لمانځه د ودرولو او د زکات د ورکولو څخه نه شي غافل کولی.

نو د حج په سفر کښې تجارت کول په اجماع سره جائز دي، برابره خبره ده چې په ورتګ کښې تجارت وکړي او یا په بېرته راتګ کښې[۳]. مګر مناسب دي چې تجارت کول قصدي نه وي بلکې ضمني وي. یعنې په سفر باندې باید حج کول باعث وي، نه تجارت کول[۴].

## یادونه

۴ـ دغه بازارونه تر یو وخته پورې په اسلامي نړۍ کښې هم رواج وه. چې په (۱۲۹هـ) کال د ټولو څخه لومړی د عُکاظ بازار سقوط وکړ او بیا وروسته ذو المجاز او مَجَنّة د اعتباره ولوېده[۵].

## د عرفات نوم

۵ـ مفسرینو کرامو د عرفات په نوم کښې زښت ډېر مناسبات بیان کړي دي[۶] چې ولې ورته دا نوم اېښودل شوی دی؟، که څوک یې شوق لري هملته دې مراجعه وکړي. مګر مونږ ته دا ښه ښکاري چې همدومره ولیکو چې:

(۱) تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۵۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۳۹
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۳۸؛ تفسیر الطبري ج۲ ص۴۸۳؛ التفسیر الکبیر ج۵ ص۱۸۷؛ زاد المسیر ج۱ ص۱۹۳
(۳) البحر المحیط ج۲ ص۹۴
(۴) روح المعاني ج۲ ص۸۷
(۵) تفسیر القرطبي ج۲ ص۴۱۲ حاشیه، د شرح القسطلاني په حواله.
(۶) تفسیر القرطبي ج۲ ص۴۱۵؛ تفسیر کبیر ج۵ ص۱۹۰؛ زاد المسیر ج۱ ص۱۹۴؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۱۷۴

Downlaoded: bawarkelabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تیڅول (۲)
الف: عرفه د ذو الحجې د میاشتې د نهمې ورځې نوم دی. په همدې ورځ کښې حاجیان په عرفات باندې ودرېږي. عرفات یوه پراخه ساحه ده چې ځایي حکومت یې په څلور خواوو باندې نښې ودرولې دي. هلته یوه وړه غونډکۍ ده چې د "جَبَلُ الرَّحْمَة" په نامه باندې یادېږي. ټول عرفات د توقف ځای دی، غیر د یوه ځای څخه چې د "عُرَنَة" په نامه باندې یادېږي.

عرفات د مکې معظمې څخه په لږ څه لرې فاصله کښې موقعیت لري چې د حرم شریف څخه وتلی دی. په عرفات باندې ودرېدل د حج رکن دی. د چا څخه چې عرفات فوت شي د هغه څخه حج فوت شو.

ب: د ودرېدلو وخت یې د نهمې ورځې د زوال څخه د لسمې شپې تر صبح صادقه پورې دی چې ټول وخت یې د اتلس ساتونو په شاوخوا کښې اټکل کېږي. په دغه ټاکلي وخت کښې که څوک محض ورشي، که ډېر لږ وخت وي هم، د هغه دې حج مبارک شي. پېژاندل یې هم پکښې ضرور نه دي. که ویده هلته وېوړل شي او یا د عرفات په دننه کښې په لار باندې تېر شي او نابلده سړی وي او پوه نه شي چې دا عرافات دی، هم د حج فریضه یې اداء شوه.

## المشعر الحرام

۶_ ځینې مفسرین کرام وایي چې "المشعر الحرام" د ټولې مزدلفې څخه عبارت دی[۱]، او ځینې نور وایي چې دا په مزدلفه کښې د یوه غره نوم دی چې د "قُزَح" په نامه باندې هم بلل کېږي[۲].

الف: "مَشْعَر" ورته ځکه وایي چې د الله ﷻ د عبادت یوه علامه ټاکله شوې ده او "حَرام" ورته ځکه وایي چې په حرم شریف کښې واقع دی او د احترام او عزت درلودونکی دی. په هر تقدیر ټوله مزدلفه د حجاجو دپاره د شپې د تېرولو ځای دی، پرته د یو ځای څخه چې هغه ته "مُحَسِّر" وایي.

ب: حاجیان باید هلته د محرم د میاشتې لسمه شپه تېره کړي او الله ﷻ یاد کړي، که په اذکارو سره وي او که په تسبیحاتو او په لمونځونو سره. کله یې چې د سهار لمونځ په ښه تیاره کښې اداء کړ نو باید چې خپل رب ﷻ ته په زاریو شي. چې لمر لا ځرېکه نه وي وهلې د "مِنَا" په لور دې حرکت وکړي[۳].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي چې: د همدې مقام په اولني ایت کښې الله ﷻ فرمایلي وه چې: ﴿ فَإِذَآ أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَٰتٍ ﴾ یعنې چې کله تاسو د عرفات څخه مزدلفې ته ورښکته شوئ نو هلته د الله ﷻ په تکبیر، تهلیل او یادولو باندې مشغول شئ. او په دوهم ایت کښې فرمایي چې: ﴿ ثُمَّ أَفِيضُوا ﴾ بیا د عرفات څخه داسې ښکته شئ لکه چې نور خلک ترې ښکته کېږي. نو ایا د حاصل شوي شي په

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۸۸
(۲) تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۰۸
(۳) زاد المعاد ج۲ ص۲۵۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حاصلولو باندې امر کول صحت لري؟ ځکه چې د دواړو ایتونو څخه داسې مضمون راوځي چې کله د عرفات څخه راښکته شوئ نو بیا د عرفات څخه راښکته شئ.

مونږ وایو چې: همدغه سوال ته مفسرینو کرامو په لاندې ډولونو سره جوابونه ورکړي دي:

الف: په ﴿ ثُمَّ أَفِيضُواْ ﴾ کښې د عرفات څخه ښکته کېدل مطلب نه دي، بلکې د مزدلفې څخه ښکته کېدل مراد دي، نو په دواړو ایتونو کښې د معنی هیڅ ناانډولي نشته[1].

مګر دغه جواب د دوه وجو د کبله په زړه پوری نه دی، هغه دا چې:

اول: په یوه حدیث شریف کښې په دوهم ایت کښې هم د عرفات څخه ښکته کېدل شرحه شوي دي نو کله چې دا جواب د حدیث څخه مخالف دی نو د اعتبار وړ نه دی، هغه دا چې بي بي عائشې رضي الله عنها فرمایلي دي چې د جاهلیت په زمانه کښې قریش او څوک چې دوی سره یې علاقمندي درلوده لکه حلیفان، د مزدلفې څخه په پورته عرفات ته نه تېرېدل، او خپل ځانونه به یې د حُمس (مختار) په نوم باندې نومول. او نور عرب به په عرفات باندې ودرېدل.

نو کله چې اسلام راغی الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته امر وکړ چې عرفات ته لاړ شي او هلته ودرېږي، بیا د همغه ځای څخه راښکته شي؛ چې همدې مضمون ته په دې ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ ﴾[2].

دوهم: په دغه ډول تفسیر کښې د ایت شریف څخه څه مهمه معنی او غټ مطلب لاس ته نه راځي ځکه چې د مزدلفې څخه خو ټول خلک په یو ډول سره په "مِنَا" باندې ورتوېږي او هلته جمرې ولي، نو دا تشبیه، چې د خلکو په څېر ورښکته شئ، هیڅ په زړه کښې نه کښېني.

ب: ځینې نور مفسرین کرام وایي چې په دواړو ایتونو کښې تقدیم او تاخیر دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: بیا د عرفات څخه د نورو خلکو په شان ورښکته شئ، نو کله چې هلته مزدلفې ته ورسېدئ نو دا المَشْعَرِ الحَرَام په شاوخوا کښې د الله ﷻ په ذکر او تهلیل او تحمید باندې مشغول شئ[3]. په دغه جواب باندې هم د سړي سر نه خلاصېږي. ځکه چې غیر متبادر جواب دی، محض د یو اشکال څخه خپل ځان په ځنګول دي او بس.

ج: ځینې نور مفسرین کرام وایي چې په ﴿ ثُمَّ أَفِيضُواْ ﴾ کښې د "ثُمَّ" کلمه د تراخي فعلي دپاره نه ده، حتی چې د حاصل شوي شي په تحصیل باندې امر شي[4]. یعنې د معنی حاصل یې داسې نه دی چې: کله د عرفات څخه ښکته شوئ هلته د الله ﷻ ذکر وکړئ بیا د عرفات څخه د خلکو په شان ښکته شئ: بلکې د "ثمّ" کلمه د تراخي ذکري دپاره ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د عرفات څخه د مزدلفې په لور باندې په کوزېدلو کښې لاندې دوه مطلبه هېر نه کړئ:

(۱) التفسیر الکبیر ج۵ ص۱۹۸
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۸
(۳) زاد المسیر ج۱ ص۱۹۵
(۴) البحر المحیط ج۲ ص۹۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


يو دا چې د المشعر الحرام په شاوخوا کښې د الله ﷻ ذكر وكړئ، او دوهم دا چې د خلكو په شان د عرفات څخه ورښكته شئ، يعنې د جاهلانو په شان په مزدلفه كښې مه پاتې كېږئ چې خپل ځانونه په نورو خلكو باندې عالي وګڼئ او د مزدلفې څخه د عرفات په لور باندې هيڅ لاړ نه شئ.

نو ﴿ثُمَّ أَفِيضُوا﴾ يوازې په ذكر كښې وروسته شوى دى او په فعل كښې مخكښې دى.

شايد -والله ﷻ اعلم- چې په دې ډول نزول كښې به حكمت دا وي چې مسلمانانو ته د دوهم مطلب اهميت ښه څرګند كړي، كه په طبعي حالت باندې نازل شوى وى نو دومره اهميت به يې نه درلودى لكه چې اوس يې لري، حتى چې ځينو خلكو به په دواړو مطلبونو باندې د يو مطلب ګومان كړى وى او دوهم مطلب ته به يې د سره فكر شوى هم نه وى. او دا ځكه چې هغه شي ته د چا نه فكر كېږي كوم چې په طبعي حالت باندې ذكر شوى وي.

مګر مونږ ته دغه جواب عين دوهم جواب ښكاري چې د دواړو مآل يو شي ته كېږي.

د: څرنګه چې د "حَيْثُ" كلمه د مبهم مكان دپاره ده[1]، نو د ذكر شوو ټولو جوابونو څخه مونږ ته دا جواب ښه ښكاري چې دغه مبهم مكان په دې ځاى كښې د عرفات او مزدلفې دواړو څخه عبارت شي. نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: بيا د عرفات او مزدلفې دواړو څخه "منًا" ته ورښكته شئ لكه څنګه چې خلک د دواړو څخه ورښكته كېږي، داسې مه كوئ چې يوازې د مزدلفې څخه هلته وركوز شئ او د عرفات دوره درڅخه پاتې شي.

دا جواب د ذكر شوي حديث شريف سره هم موافق دى، چې د جاهليت د زمانې د بدعت مخه پرې نيول كېږي او غير متبادره معنى پكښې هم نه ده اراده شوې.

## سوال جواب

۸- كه څوک وايي چې: په دې جواب كښې هم په يوه جزء كښې تحصيل د حاصل راځي چې عرفات دى، نو بيا يې بهتري د كومه شوه؟

مونږ وايو چې: په يوه جزء كښې يې باک نشته، هر يو جزء د كل دپاره ضمني ګڼل كېږي او په ضمنياتو كښې هغه څه تحقيق موندلى شي چې په قصدياتو كښې يې نه شي موندلى. د نور تفصيل دپاره بايد نورو كتابونو ته مراجعه وكړى شي[2].

﴿فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَٰسِكَكُمْ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَذِكْرِكُمْ ءَابَآءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا ۗ فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا وَمَا لَهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ﴿٢٠٠﴾ وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿٢٠١﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ

(۱) مفردات الراغب ص۱۳۷
(۲) فتح القدير شرح الهدايه ج۳ ص۲۵۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُوا ۚ وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾ وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودَاتٍ ۚ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ لِمَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ ﴾

[۲۰۰] نو کله چې تاسو خپل مناسک اداء کړه نو الله ﷻ داسې یادوئ لکه چې (په جاهلیت کښې به مو) پلرونه یادول، بلکې لا د دې څخه هم زیات یادول.

نو د خلکو څخه ځینې هغه دي چې وايي: ای ربه! مونږ ته (ښېګڼه) په دنیا کښې راکړه. او نشته دوی لره په آخرت کښې څه برخه.

[۲۰۱] او د دوی څخه ځینې هغه دي چې وايي: ای ربه! مونږ ته په دنیا کښې هم کامله ښېګڼه راکړې او په آخرت کښې هم کامله ښېګڼه راکړې او مونږ د عذاب د اور (دوزخ) څخه وساتې.

[۲۰۲] دغو خلکو لره لویه نصیبه شته د هغو (نېکو اعمالو) د کبله کوم چې دوی ګټلي دي، او د الله ﷻ حساب ډېر چالاکه دی (چې ژر راتلونکی دی او ژر تمامېدونکی دی).

[۲۰۳] او الله ﷻ په شمارل شوو (درې) ورځو کښې یاد کړئ.

نو څوک چې په دوه ورځو کښې چالاکي وکړي (جمرې وولي) نو په هغه باندې څه پاک او ګناه نشته، او څوک چې وروسته شي (په درېمه یې هم وولي) په هغه باندې هم څه پاک او ګناه نشته.

دغه ډول بیانات د هغه چا دپاره دي چې د الله ﷻ څخه ډارېږي. او د الله ﷻ څخه وډار شئ او پوه شئ چې بې شکه همده ﷻ ته به ټول ورغونډ کړی شئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ تر دې خایه د هغو بدعاتو مخه ونیوله شوه چې د مناسکو په اجراء کولو کښې د جاهلیت د زمانې خلکو راپیدا کړي وه، اوس د هغو بدعتونو مخه نیوله کېږي چې د مناسکو د فراغت څخه وروسته به هغوی په کار اچول. هغه بدعتونه دغه دي:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې د جاهلیت د زمانو خلکو به د حج په موسم کښې د حج د فراغت څخه وروسته لوی لوی محافل جوړول او په دې محافلو او مجالسو کښې به هر چا د خپلو پلرونو یادونه کوله او هر چا به زور لګاوه چې خپل پلرونه په نورو باندې لوړ معرفي کړي. لنډه دا چې په ټولو محافلو کښې به یوازې او یوازې د پلرونو ذکر وه[۱].

ب: کله به چې چا د الله ﷻ څخه څه سوال کاوه، نو هغه به هم د پلرونو د ذکر څخه خالي نه وه. مثلاً ویلي به یې چې ای الله! زما پلار خو دې ډېر موړ او میلمه پال پیدا کړی وه او ډېر شته او دارایي دې ورکړې وه، نو هیله ده چې ماته هم د هر ډول مالونو څخه راکړې او ما هم غنې بډای

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۴۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړې چې د هرې مېږې او اوښان ولرمه. او داسې نور سوالونه به يې کول، خو د آخرت به يې هيڅ ذکر نه کاوه او نه به ورياد وه[۱].

ج: همدارنګه د "مِنَا" په شپو کښې هم ځينو درې شپې ګناه ګڼله چې بايد د دوه شپو (يوولسمې او دولسمې) څخه زياتې پکښې ونه کړی شي. او ځينو نورو به په عکس سره په "مِنَا" کښې دوه شپې ګناه ګڼله چې بايد دريمه شپه (ديارلسمه) هم ورسره يو ځای شي[۲].

نو الله ﷻ د دې ټولو بدعتونو د لرې کولو دپاره ذکر شوي ايتونه نازل کړي دي چې خلاصه مطلب يې په لاندې کرښو کښې وړاندې کېږي:

۲_ مګر کله چې تاسو مناسک اداء کړه، عقبه جمره مو وويشتله، د سر وېښتان مو لنډ يا وخرييل، قرباني مو ذبحه کړې، د صفا او مروه سعي مو وکړه او هم د طواف الزيارة څخه فارغ شوئ او په مِنا کښې اوسېږئ، نو الله ﷻ داسې په شوق او ذوق سره يادوئ لکه چې د جاهليت په زمانه کښې به مو پلرونه په شوق او ذوق سره يادول د هغوی صفات به مو بيانول او دفاع به مو ترې کوله او هر چا به په خپلو پلرونو باندې وياړل.

۳_ اوس چې په اسلام باندې مشرف شوي ياست نو د الله ﷻ توحيد بيان کړئ او د مشرکانو شبهات ترې دفعه کړئ، کوم زيار مو چې د پلرونو په تمجيد او ستايلو کښې ايسته هغه د الله ﷻ په تمجيد او تحميد کښې وباسئ بلکې لا د هغه څخه پکښې زيات کوښښ او جهد وکړئ، ځکه چې الله ﷻ حقيقي انعام کوونکی دی چې د نشت څخه يې موجود کړي ياست او ډول ډول نعمتونه يې درکړي دي چې د حساب لاندې يې نه شئ راوستلی، په دې ټولو باندې د پاسه د جهالت د تيارو څخه يې د اسلام رڼا ته راوويستلئ او خپل لوی معنوي انعام يې درباندې کامل کړ او هم يې د مناسکو د اداء کولو توفيق درکړ. نو خپلو ځانونو ته مه غره کېږئ او تکبر مه کوئ بلکې د الله ﷻ د نعمتونو شکريه وکړئ.

۴_ او که څه غواړئ او سوال کوئ هغه هم د الله ﷻ څخه وکړئ چې هرڅه يې د واکه پوره دي، دنيا او آخرت دواړه يې په لاس کښې دي.

هو! په خلکو کښې داسې هم شته چې هغوی که سوال کوي هم صرف د دنيا سوال کوي او دا سوال هم فقط د "آتِنَا فِي الدُّنْيَا" په کلماتو سره تقديموي چې د "حَسَنَةً" کلمه ورسره نه زياتوي. يعنې په دنيا کښې هغه څه راکړه چې مونږ يې درڅخه غواړو، ښه وي او که بد، زمونږ لوی معراج دنيا ده. د دغو خلکو په دعاء کښې د آخرت برخه نشته ټول زيار او کوښښ يې په دنيا پورې منحصر دی خو تاسو دغسې مه کېږئ.

په خلکو کښې ځينې داسې دي چې هغوی وايي: ای ربه! مونږ سره په دنيا کښې هم لويه ښېګڼه وکړې چې ټول احتياجات مو پوره کړې او په دښمن باندې مو برلاسې کړې، او په آخرت کښې هم

(۱) تفسير کبير ج۵ ص۲۰۵ : تفسير الطبري ج۲ ص۱۷۴

(۲) التفسيرات الاحمدية ص۹۸ : البحر المحيط ج۲ ص...

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درخخه لویه او کامله بښکنه غواړو چې جنلونه مو په نصیب کړې او مشا په رضا پالندې مو مشکور بخښي کړې او په دې تولو پاندې د پاسه مو د دوزخ د اور څخه پوره وساتې چې د سره داخلې نه شوای په خپل فضل سره مو د محشر د میدان څخه جنت ته بوځې.

٦ـ دغه دله خلک چې د الله ﷻ څخه دنیا او آخرت دواړه غواړي، دوی د خپل کسب د نتائجو څخه نه بې برخې کېږي، دعاګانې به یې قبولې شي په دنیا کښې به هم د خوشحالۍ سره مخامخ شي او په آخرت کښې هم. کوم نېک عملونه یې چې کړي دي او تازه د حج د مناسکو څخه فارغ شوي دي هغه به هم د الله ﷻ په دربار کښې ومنل شي، دوی به د هر ډول وړپاندې خوښي شي ځکه چې د قیامت حساب کتاب چالاکه رازوان دی او راتلونکی دی برسېره په دې، کله چې حساب شروع شي نو د سترګو په رپ کښې به فیصله شي او هر څوک به په خپلو نېکو او بدو پالندې پوه شي او په دې به هم مطمئن شي چې الله ﷻ د دوی یوه وره نېکي هم نه ده ضائع کړې او هر کلي او جزئي به یې حساب ته حاضر کړی شي.

٧ـ برسېره په دې، په شمارل شوو ورځو کښې الله ﷻ یادونې چې تول تال درې ورځې دي، تاسو ته رخصت درکړی شوی دی چې درېواړه ورځې پوره کوئ او که صرف په دوه ورځو پالندې اکتفاء کوئ، که څه هم چې په "منا" کښې درې ورځې تېرې کړئ او درېواړه ورځې جمرې وولئ، دا بهتر کار دی، مګر هغه څوک چې دوه ورځې هلته تم شي هغه دې هم څوک ګناهګار نه ګڼي، او هغه څوک چې هلته درې ورځې تېرې کړي هغه دې هم څوک ګناهګار نه ګڼي.

٨ـ ذکر شوي تول احکام د هغه چا دپاره بیان شوي دي چې هغه د الله ﷻ څخه وېرېږي او د احکامو څخه یې استفاده کوي، او هم د الله ﷻ دپاره د خانه عبادت نه جوړوي.

نو تاسو هم خپل خانونه د همدې متقیانو د تولي څخه وګرځوئ او د الله ﷻ څخه ودار شئ په دې باندې پوه شئ چې تاسو به صرف همده ﷻ ته ورتولېږئ او هغه ﷻ به درسره محاسبه کوي او په چالاکۍ سره به مو تول اعمال حساب ته حاضر کړي.

## توضیحات

١ـ د ﴿كَذِكۡرِكُمۡ ءَابَآءَكُمۡ﴾ د تشبیه دپاره چې مونږ کوم تفسیر وکړ چې الله ﷻ هغسې یادوئ لکه چې په جاهلیت کښې به مو پلرونه یادول. دا تفسیر د جمهورو علماوو کرامو څخه نقل شوی دی[١]. که څه هم د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه د مشابهت وجه داسې هم روایت شوې ده چې الله ﷻ ته داسې تواضع او زاري کوئ لکه چې یو ماشوم یې خپل مور او پلار ته کوي بلکې لا د هغه څخه هم زیات ځکه چې الله ﷻ د مور او پلار څخه ډېر مهربان دی. نو په دې تقدیر د ﴿ءَابَآءَكُمۡ﴾ کلمه د مثال په توګه ذکره شوې ده، نو داسې یې وګڼئ لکه چې د "أُمَّهَاتُكُمۡ" (مورګانې) کلمه هم ورسره وي[٢].

(١) تفسیر القرطبي ج٢ ص٤٣١
(٢) تفسیر کبیر ج٥ ص٢٠٢؛ تفسیر البغوي ج١ ص١٧٦

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هغه څوک دي چې يوازې دنيا غواړي؟

٢_ هغه ډله خلک چې د الله ﷻ څخه يوازې دنيا غواړي، د لاندې دوه ګروپونو احتمال لري:
الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې دغه ډله خلک کافران وه چې د الله ﷻ څخه به يې صرف دنيا غوښتله او په آخرت باندې يې عقيده نه درلوده.
نو د ﴿مَا لَهُۥ فِي ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ﴾ معنى داسې کېږي چې: دوى په آخرت کښې برخه نه لري ځکه چې عقيده يې ورباندې نشته[١].
ب: ځينو علماوو کرامو يې په "مؤمنانو" باندې هم تفسير کړى دى. يعنې په مؤمنانو کښې هم دغسې غافل خلک شته چې د اجابت په لوړو مقاماتو کښې يې دنيا په ياد وي خو آخرت ترې هېر وي.
نو په دې تقدير د ﴿مَا لَهُۥ فِي ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ﴾ معنى داسې کېږي چې: دوى په آخرت کښې هغسې برخه نه لري څنګه يې چې هغه ډله لري کومه چې د الله ﷻ څخه دنيا او آخرت دواړه غواړي او يو هم د نظره نه غورځوي.
مګر ښه دا ده چې په عموم سره پرېښودل شي ترڅو ټولو دنيا غوښتونکو ته شامل شي. نو معنى به يې داسې شي چې: دوى په آخرت کښې بالکل برخه نه لري او يا کامله برخه نه لري. او د آخرت دپاره خو په دعاء او سوال کولو کښې د دواړو ګروپونو برخه نشته او صرف دنيا غواړي.

## د "حَسَنَةً" څخه څه شي مراد دي؟

٣_ که څه هم په دې مقام کښې د ﴿حَسَنَةً﴾ کلمه مفسرينو کرامو په ډېرو معناګانو باندې تفسيره کړې ده، مګر د اکثرو علماوو کرامو نظر دا دى چې دلته ترې د دنيا ټول نعمتونه او د آخرت ټول نعمتونه مطلب دي[٢].

## سوال جواب

٤_ که څوک وايي چې: د عربيت د قواعدو په اعتبار سره خو دلته د ﴿حَسَنَةً﴾ د کلمې څخه ټول نعمتونه نه شي مراد کېدلى، ځکه نکره چې د نفي لاندې راشي عموم فائده کوي، او دلته خو په اثبات کښې واقع ده؟
مونږ وايو چې: کله-کله په اثبات کښې هم نفي عموم فائده کوي لکه "تَمْرَةٌ خَيْرٌ مِنْ جَرَادَةٍ" يعنې: هره يوه کجوره د ملخ څخه بهتره ده. او که ومنو نو په جواب کښې وايو چې دلته نکره مطلقه ذکره شوې ده او کله چې يو شى مطلق ذکر شي د هغه څخه کامل فرد مراد ېږي، او کامل فرد خو په دې ځاى کښې هغه "حَسَنَة" ده چې ټولو نعمتونو ته شامله وي. نو ځکه ترې مونږ په ټولو نعمتونو سره تعبير وکړ.

---
(١) تفسير کبير ج٥ ص٢٠٥
(٢) تفسير الطبري ج٢ ص٣٠١

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې که د ﴿ حَسَنَةً ﴾ د کلمې څخه ټولې ښېګڼې مطلب شي نو د ايت شريف دوهمه برخه ﴿ وَفِى ٱلْآخِرَةِ حَسَنَةً ﴾ به هم ټکښې شامله شي، نو بيا يې په ذکر کښې څه حکمت دئ؟ موږ وايو چې په آخرت کښې لوی خطر دوزخ دی، نو که څه هم ضمني معلومېده مګر په صراحت سره يې ذکر کړ ترڅو مو الله ﷻ سوال قبول کړي او د دوزخ د اوره مو اولاً او آخراً وساتي يعني موږ غواړو چې د هغو جنتيانو څخه وشمېرل شو چې د دوزخ دوره يې نه وي تېره کړې ځکه چې په جنتيانو کښې داسې ډله هم شته چې د دوزخ د دورې څخه وروسته جنت ته ځي.

## د ‹حَسَنَةً› کلمه يو ځل بيا

۶_ څرنګه چې ﴿ حَسَنَةً ﴾ داسې کلمه ده چې هيڅ خوشالي او هيڅ نعمت ترې نه شي وتلی او ټولو ته شاملېږي، نو ځکه انس بن مالک ؓ ويلي دي چې د نبي کريم ﷺ اکثره دعاء دغه کلمات وه: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»[۱].

نو په کار دي چې ټول مسلمانان حاجيان وي او که غير حاجيان ذکره شوې دعاء زياته ولولي. د همدې کبله زموږ سلفو صالحينو همدغه دعاء په لمانځه کښې د درود څخه وروسته تاکلې ده چې ټول لمونځ کوونکي يې په شپه او ورځ کښې څو کرته لولي. الله ﷻ دې قبوله کړي.

## څوک چې يوازې آخرت غواړي

۷_ په دې مقام کښې د هغې ډلې خلکو په باره کښې څه نه دي ويل شوي کوم چې يوازې آخرت غواړي او په دنيا کښې چې ورباندې هرڅومره مصيبتونه راشي هغه ګالي، او پورته کېدل يې نه غواړي. نو په دې باره کښې د اکثرو مفسرينو کرامو نظر دا دی چې دا کار غير مشروع دی[۲]، بايد چې مسلمانان د دغې کړنلارې څخه ځانونه وساتي. او دا ځکه چې:

الف. انسان فقير دی، په هر شي کښې الله ﷻ ته اړ دی، بايد خپله اړتيا وخت په وخت ښکاره کړي، بلکې سوال کول هم عبادت دی او د نه سوال کولو څخه لږ څه د تکبر بوی پورته کېږي.

ب: کله چې نبي کريم ﷺ د الله ﷻ څخه د دنيا او آخرت دواړو سوال کړی دی او ټولو مسلمانانو ته يې د قيامت د ورځې پورې لاره جوړه کړې ده، نو په کار دي چې د همدې لارې څخه هيڅوک مخالفت ونه کړي.

ج: د انس بن مالک ؓ څخه روايت دی چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ د يوه مريض عيادت (پوښتنه) وکړه چې د مرض د کبله دومره کمزوری شوی وه لکه د مرغۍ بچوړی، او ورته يې وويل چې آيا څه سوالونه دې د الله ﷻ څخه کړي دي؟

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹۴۵؛ صحيح مسلم ج۲ ص۳۴۴
(۲) تفسير کبير ج۵ ص۲۰۴؛ تفسير المنار ج۲ ص۲۳۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مریض وویلې: هو، د الله ﷻ څخه مې غوښتي دي چې ای الله! هره جزا چې په آخرت کښې راکوې هغه جزا په دنیا کښې راکړه او د آخرت د مشکلاتو څخه مې په امن او امان کښې وساته.

نو نبي کریم ﷺ وویلې چې: «سُبْحَانَ اللهِ لَا تُطِيقُهُ» یعنې: عجیبه سوال دې کړی، د دې خو طاقت نه لرې، ولې دې دغسې سوال نه کاوه چې: «اللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». نو انس ؓ وایي چې: «فَدَعَا اللهُ لَهُ فَشَفَاهُ»[۱] یعنې: نبي کریم ﷺ د نوموړي صحابي ؓ دپاره د الله ﷻ څخه سوال وکړ نو الله ﷻ شفا (صحت) ورکړ.

## کسب څه ته وایي؟

۸ـ په دې مقام کښې د کسب څخه هغه شی مطلب نه دی چې د علم کلام علماء یې د اختیار او جبر ترمنځ واسطه ګڼي، بلکې دلته د کسب څخه هغه مراد دي چې سړی یې د خپل ځان دپاره وګټي، برابره خبره ده چې فائدې خپل ځان ته ورکش کړي او یا د مضرو شیانو څخه ځان په څنګ کړي[۲]، برابره خبره ده چې په جوارحو باندې یې وګټي او که د جوارحو څخه په غیر وي. او دا څکه چې الله ﷻ ته سوال کول یوازې د خولې په تلفظ پورې انحصار نه لري بلکې په ډېرو وختونو کښې سړی د الله ﷻ څخه د دنیا او آخرت ښېګڼې په زړه کښې غواړي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: دغه کسان د لویې برخې خاوندان دي، د دې کبله چې دوی د خانو دپاره ګټې کړې دي چې د یو پلوه نېک عملونه کوي او الله ﷻ نه هېروي او د بله پلوه خپل هر احتیاج د الله ﷻ څه غواړي، نو د نېکو عملونو به ورته الله ﷻ اجرونه ورکړي او دعاګانې به یې قبولې کړي[۳].

د دې خبرې هم امکان شته چې ﴿مِّمَّا كَسَبُوا۟﴾ د دنیا سوالونو ته اشاره وي او ﴿سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ﴾ د آخرت غوښتنې ته اشاره وي. نو په دې تقدیر به یې د معنی حاصل داسې شي: چې دغو خلکو لره په دنیا کښې هم لویه حصه ده، کار او کسب به یې ضائع نه شي او په آخرت کښې هم لویه برخه لري چې هلته د ورو او غټو ټولو شیانو حساب کتاب په سرعت سره راروان دی، نژدې دی چې قیامت قائم شي او په سرعت سره به هلته فیصلې هم وشي چې هیڅ شی به بې حسابه پاتې نه شي او هر څه به د کنترول لاندې راشي[۴].

## شمېرل شوې ورځې کومې دي؟

۹ـ د ټولو مفسرینو کرامو اجماع ده چې دلته د ﴿أَيَّامٍ مَّعْدُودَٰتٍ﴾ څخه د "تَشْرِيق" ورځې مرادې دي لکه چې د عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما څخه هم همدا روایت راغلی دی[۵].

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۴۳
(۲) التفسیر الکبیر ج۵ ص۲۰۸
(۳) البحر المحیط ج۲ ص۱۰۶
(۴) تفسیر المنار ج۲ ص۲۴۱
(۵) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۴۲؛ تفسیر [illegible] ج۲ ص۳۰۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د تشریق ورځې په شمار درې دي چې د ذو الحجې د میاشتې یوولسم، دولسم او دیارلسم دي[۱].
دغو ورځو ته ځکه د تشریق ورځې وایي چې په دغو ورځو کښې به د هغه وخت خلکو د قربانیو غوښې لمر ته اچولې او وچولې به یې. تشریق لمر ته د غوښو اچولو ته وایي چې وچې وشي[۲].

## سوال جواب

۱۰ـ که څوک وایي چې: د دولسمې پورې خود "نحر" ورځې پوره کېږي، نو معلومه شوه چې د تشریق ورځې به د دیارلسمې څخه شروع کېږي؟

موږ وایو چې د ذو الحجې د میاشتې د لسمې څخه تر دیارلسمې پورې څلورو ورځو ته د "أَیَّامُ التَّشْرِیقِ" او "أَیَّامُ النَّحْرِ" دواړه نومونه په لاندې ډول ویل کېږي:

لسمه ورځ یَوْمُ النحر ده او یَوْمُ التشریق نه ده، او دیارلسمه ورځ یَوْمُ التشریق ده او یَوْمُ النحر نه ده. یوولسمه او دولسمه دواړه ورځې هم د تشریق ورځې دي او هم د نحر[۳].

## د تشریق تکبیرونه

۱۱ـ د [۱۹۸] ایت څخه تر [۲۰۳] پورې الله ﷻ د حج د احکامو د بیانولو په ترځ کښې څلور ځله امر وکړ چې الله ﷻ یاد کړئ: نو موږ یې لاندې څو موارد په ګوته کوو:

الف: په حنفي مذهب کښې باید د تشریق تکبیرونه د عرفې د ورځې د سهار د لمانځه څخه وروسته شروع شي، او پخپله د امام ابو حنیفه رحمه‌الله په نزد باید تر اتو لمونځونو پورې دوام وکړي یعنې د لسمې ورځې د مازدیګر د لمانځه پورې. او د صاحبینو په نزد باید تر دروېشتو لمونځو پورې دوام وکړي، چې د دیارلسمې ورځې د مازدیګر د لمانځه پورې رسېږي.

د علي رضی‌الله‌عنه او عبد الله بن مسعود رضی‌الله‌عنه څخه لاندې ډول تکبیرات روایت شوي دي:

«اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ»[۴].

د دغو تکبیرونو لوستل په حاجیانو او غیر حاجیانو بلکې په ټولو مسلمانانو باندې واجب دي. د زیات تفصیل دپاره دې د فقهې کتابونو ته مراجعه وکړی شي[۵].

ب: د قربانیو په ذبحه کولو باندې به وایي چې: «بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ».

ج: چې جمرې ولي نو د هرې ګټکې سره به وایي چې: "اللهُ أَكْبَرُ".

برسېره پر دې په نورو حالاتو کښې هم باید چې حاجیان تکبیرونه ډېر ووایي ترڅو د بوت پرستانو دود او دستور د خاورو سره برابر شي چې په دغو ورځو کښې به یې یا د خپلو پلرونو او یا د خپلو بوتانو ستاینې کولې او همدوی به یې یادول او بس.

(۱) البحر المحیط ج۲ ص۱۱۰
(۲) مفردات الراغب ص۲۶۶
(۳) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲
(۴) مصنف ابن ابي شیبة ج۱ ص۴۹۰
(۵) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۱ ص۱۹۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس لباسین لخوا سکین شو



## "فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ" څه معنی؟

۱_ ځینې مفسرین کرام د «فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ» تفسیر داسې کوي چې: نه په هغه چا باندې څه گناه ده چې دوه ورځې یې په "منا" کښې د جمرو د ویشتلو دپاره تېرې کړې دي او نه په هغه چا چې ورو پسته شي او په منا کښې د همدې غرض دپاره درې ورځې تېرې کړي بلکې دواړه د گناه نه داسې پاک دي لکه دستي چې د موره زېږېدلي وي[۱].

همدې مضمون ته په یوه حدیث شریف کښې نبي کریم ﷺ اشاره کړې او فرمایلي یې دي چې: «مَنْ حَجَّ هٰذَا الْبَيْتَ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَمَا وَلَدَتْهُ أُمُّهُ»[۲] یعنې: څوک چې د دې کعبې حج وکړي نو نه رفث وکړي او نه فسق، د گناه څخه به داسې پاک بېرته کور ته راستون شي لکه مور چې زېږولی وه او گناه یې نه درلوده.

په دې تفسیر باندې ورسره د «لِمَنِ ٱتَّقَىٰ» کلمه ډېره ښه لگېږي. یعنې دا د هغه چا دپاره چې د الله ﷻ څخه ډارېږي.

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُۥ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيُشْهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِى قَلْبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلْخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ ٱلْحَرْثَ وَٱلنَّسْلَ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتْهُ ٱلْعِزَّةُ بِٱلْإِثْمِ ۚ فَحَسْبُهُۥ جَهَنَّمُ ۚ وَلَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْرِى نَفْسَهُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾﴾

[۲۰۴] او د خلکو څخه ځینې هغه څوک دي چې په نړدې ژوند کښې د هغه وینا تا په تعجب کښې اچوي. او الله ﷻ په هغه شي باندې شاهد گرځوي چې هغه یې په زړه کښې دي حال دا چې هغه سخت جگړه مار وي (واقعیت هغسې نه وي).

[۲۰۵] او کله چې ستا د مجلس څخه په څنگ شي (نو) په ځمکه کښې کوښښ کوي چې فساد پکښې وکړي. او کښت او (هم) زوزات (نسل) هلاک کړي. او الله ﷻ فساد نه خوښوي.

[۲۰۶] او چې ورته وویل شي چې د الله ﷻ څخه وډار شه (فساد مه کوه) هغه لره عزة النفس (تکبر) په گناه سره نیسي. نو جهنم د همده دپاره کافي دی او (جهنم) ډېره بده ارامگاه ده.

[۲۰۷] او د خلکو څخه ځینې هغه څوک دي چې خپل ځان (په الله ﷻ باندې) خرخوي ترڅو د الله ﷻ رضا حاصله کړي. او الله ﷻ په خپلو بندگانو باندې زیات مهربان دی.

[۱] تفسیر الطبري ج۲ ص۳۰۹
[۲] صحیح البخاري ج۱ ص۲۴۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## ارتباط او شان نزول

۱ـ د دې ایتونو د وړاندې سره د لاندې وجوهو د کبله اړوند په نظر راځي:

الف. د [۱۷۷] ایت څخه راپه دې خوا تقریبًا دولس (۱۲) ځلې الله ﷻ د تقوی او د دې مشتقات ذکر کړي دي او ځای په ځای یې خلکو ته واضحه کړې ده چې تقوی او دینداري هغه ده په کومه کښې چې د الله ﷻ د احکامو منښه وي، نه هغه چې څوک د ځانه عبادت جوړ کړي او د هغه مصنوعي عبادت په کولو سره ځېل ځان عابد او متقي وګڼي لکه ځینې خلک به چې د احرام په حالت کښې ځېل کور ته په دروازو باندې نه ورننوتل او داسې نور.

په دې ایتونو کښې الله ﷻ د ځینو خلکو یو بل ډول تقوی بیانوي چې محض په خوله باندې ځان متقي ګڼي او سوګندونه ورباندې خوري، خو په عمل کښې د هغه څخه بل غټ فاسق او فاجر نه وي. برسېره په دې، د ربښتیني متقي دعوه هم کوي چې د هغه هر څه د الله ﷻ د رضا دپاره دي او ځېل هر شی په همدې لاره کښې په کار اچوي.

ب: په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ خلک په دوه ګروپونو باندې وېشلي وه چې ځینې یوازې دنیا غواړي او ځینې آخرت او دنیا دواړه غواړي. په دې ایتونو کښې د دواړو ګروپونو عملي کړنلاره بیان کړی شوه چې د یوه ګروپ د فساد څخه په غیر بل کار نشته او د دوهم ګروپ د الله ﷻ د رضا د حاصلو څخه په غیر بل شی په نظر کښې نشته. هغوی د دنیا دپاره د هر ډول منافقت او ریاکارۍ څخه سر نه غړوي او د هیڅا په غولولو باندې صرفه نه کوي، او دوی د الله ﷻ د رضا څخه په غیر د هیچا د خوشالولو پروا نه کوي، نه چا ته تظاهر کوي او نه چا ته خوشامندې.

۲ـ ځرنګه چې ذکر شوي ایتونه د دوه ډوله اشخاصو په باره کښې ځرګندونې کوي، نو مفسرینو کرامو هم د دواړو ډولونو دپاره مختلف شان نزولونه بیان کړي دي. که څوک د ټولو بیاناتو د لوستلو حوصله لري، نو هملته دې مراجعه وکړي[۱]، مونږ غواړو چې صرف په لاندې دوه شان نزولونو باندې یې اکتفاء وکړو:

الف: أخنَس بن شَرِیق یو منافق وه چې ډېره نرمه ژبه یې درلوده او د ډېرې ښې څېرې خاوند وه؛ یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته راغې او اسلام یې ځرګند کړ او قسمونه یې وکړه چې زه په خپله وینا کښې ربښتینی یم او الله ﷻ زما په صداقت باندې شاهد دی چې زه په حقه مسلمان شوی یم. خو کله چې د نبي کریم ﷺ د حضور څخه رخصت شو نو د مسلمانانو په څه کښت (زراعت) او په څه خارویو (خرو) باندې یې لاس بر شو، نو زراعت ته یې اور واچاوه او خره یې زخمیان کړه. نو د ذکر شوو ایتونو اوله برخه د نوموړي په باره کښې نازله شوه[۲].

ب: د عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما او ځینو نورو علماوو څخه روایت دی چې د ذکر شوو ایتونو

(۱) التفسیر الکبیر ج۵ ص۲۱۵ـ ۲۲۳؛ البحر المحیط ج۲ ص۱۱۸؛ زاد المسیر ج۱ ص۱۹۹ـ ۲۰۳؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۱۸۲؛ في ظلال القرآن ج۱ ص۲۰۶

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نزول (۲)
درهمه برخه د صهیب ﷺ په باره کښې نازله شوې ده. کله چې هغه د مکې معظمې څخه هجرت
کاوه کافرانو بې مخه ونیوله چې ته خو زمونږ وطن ته د روم څخه بې ماله او فقیر راغلی وې او
اوس غواړې چې د خپل ټول مال سره هجرت وکړې؟، تر هغه به په خپل مطلب باندې بریالی نه شې
چې ترڅو خپل ټول مالونه مونږ ته رانه کړې. بالآخره صهیب ﷺ خپل ټول مال کافرانو ته پرېښود او
محض د خپل ایمان د حفاظت په خاطر یې مدینې منورې ته هجرت وکړ[1].

## مصداق یا شان نزول

۲ـ د صحابه وو کرامو ﷺ عادت وه چې د ایتونو مصداقونه یې هم داسې ګڼل لکه چې همغه یې
شان نزول وي[2]، برسېره په دې د مفسرینو کرامو ټولو اتفاق دی چې د مورد خصوص ته اعتبار
نشته بلکې د مفهوم عموم ته اعتبار دی.
نو په همدې بناء باندې مونږ وایو چې: په دې مقام کښې بالکل حقه خبره دا ده چې د ایتونو د
اولې ټوکړې څخه منافق او ریاکار مطلب دی، په هره زمانه او هر ځای کښې چې وي. او د دوهمې
ټوکړې څخه یې مخلص مسلمان مجاهد مراد دی، په هره زمانه او هر ځای کښې چې وي[3]. په
همدې لحاظ سره یې لاندې خلص مطلب ته متوجه شئ:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! تقوی او دینداري د زړه شی دی صرف په ژبه باندې څوک د متقیانو څخه نه
شي شمېرل کېدلی، کله چې د چا زړه تقوادار شي د هغه په ټولو اعمالو کښې د تقوی او دینداری
آثار او نښې ښکاره کېږي، په دې وخت کښې دې ته حاجت نه وي چې په خوله باندې خپل ځان
تقوادار معرفي کړي او په همدې باندې قسمونه وکړي.
مګر داسې خلک شته چې هغوی په خوله باندې ډېرې ښې او نېکې خبرې کوي چې د هر چا
خوښېږي حتی د هغوی د تقواداری خبرې تا هم په تعجب کښې اچوي، سره د دې چې ستا ذهني
فراست ډېر زیات دی او د الله ﷻ پیغمبر ﷺ یې او په دنیا کښې په ظاهر باندې حکم کوې؛ د دغسې
خلکو پوره حالت به په آخرت کښې ټولو خلکو ته ورڅرګند شي.
۲ـ نوموړي خلک ستاسو د غولونې دپاره الله ﷻ شاهد ګرځوي چې څه په خوله باندې وایي
هغه یې په زړه کښې دي او د دوی د زړونو څخه یې منشا نیولې ده. حال دا چې نوموړي اشخاص
په ټولو جګړمارانو کښې ډېر شدید او کلک دي، د دوی خصومت او جګړماري دومره قوي ده چې
ستا غوندې مبارک اشخاص هم ورباندې تېر وځي.
۳ـ خو همدغه ډول خلک چې د غوړمالۍ د مجلس څخه لرې څه په خنګ شي او تظاهر بې
اختتام پیدا کړي نو بیا خپلو ټولو لاپو شاپو ته شا کوي او په ځمکه کښې یې چې په هر فساد باندې

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۴۷
(۲) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۴۷؛ تفسیر الطبري ج۲ ص۱۸۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاس بر شي په هغه باندې صرفه نه کوي، بیا نو نه حرم شریف ته ګوري او نه جومات ته، نه په انسان وژنه باندې صرفه کوي او نه د کښتونو په تخریب باندې.

۴ـ الله ﷻ فساد نه خوښوي، په فساد کوونکو باندې خپل غضب کوي، که هر څومره په ژبه باندې خپل ځانونه تقوادار معرفي کړي او ډېرې نېکۍ او حسنې خبرې وکړي د الله ﷻ په نزد باندې څه ارزښت نه لري او د اعتبار قابلې نه دي. او دا خکه چې الله ﷻ په ښکاره او پټ دواړو باندې پوه دی نو دغه ډول خلک امکان لري چې تا خوشاله کړي مګر الله ﷻ نه شي خوشالولی.

۵ـ دا خکه چې د ذکرو شوو خلکو په زړونو کښې منافقت دومره کلک او قوي دی چې د یو خیرخواه او ناصح خبره هم ورباندې تاثیر نه کوي بلکې کله چې ورته وویل شي چې د الله ﷻ څخه ودار شه او د دغو فسادونو څخه لاس واخله چې په کار دې اچولې دي او لکه څنګه چې په خوله باندې ځان متقي معرفي کوې دغسې په عمل کښې هم ځان متقي جوړ کړه؛ نو په دغه وخت کښې ورباندې تکبر او د جاهلیت ریګ حمله کوي په خپل اقتدار باندې غره کېږي ګومان کوي چې نور چل ته حاجت نشته مټ مې قوي شو څوک مې مخې ته نه شي ودرېدلی، نو د قولي تقوی څخه تېرېږي او په فسادونو باندې لا کلکېږي او د خولې څخه یې داسې خبرې اوځي چې د پخوانیو خبرو سره بالکل ضدیت لري، د خولې تقوی هم د لاسه ورکوي او ظاهراً او باطناً په ګناه باندې اصرار کوي.

۶ـ نو د دغسې سرکشانو دپاره د دوزخ اور کفایت کوي، د اور څخه راپه دې خوا د نوموړي د جنایت سره بله جزا سمون نه خوري چې هغه د همېشه دپاره ناکاره ارامګاه ده.

۷ـ بالمقابل د خلکو څخه داسې کسان هم شته چې د هغو په زړونو کښې تقوی ځای نیولی وي او په الهي نور باندې یې زړونه رڼا شوي وي چې شغلې یې په ټولو اندامونو باندې د ورایه ښکاري، دوی نه د خولې تظاهر کوي او نه ورته حاجت لري.

د دوی هر کار د الله ﷻ د رضا دپاره وي او بلکې خپل ځانونه د الله ﷻ د رضا دپاره په الله ﷻ باندې خرڅوي، په سر او مال باندې جهاد کوي، په هر کار کښې یې د الله ﷻ رضا مطلب وي، د خپلې تقوی او دینداری احسان نه د الله ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې اچوي او نه په الله ﷻ باندې.

۸ـ الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې مهربان دی چې دغه ډول خلک یې هم پیدا کړي دي که دوی یې نه وی پیدا کړي نو د مفسدانو د فساد د کبله به نه چا عبادت کړی وی او نه به څوک ارام ناست شوي وی، جوماتونه به ټول خراب وی او ځمکه به ټوله په ټانګونو او بمونو سره خاره شوې وی او د الله ﷻ یادونه به چا نه وی کړي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ﴾ کښې مفسرینو کرامو لاندې دوه احتماله ذکر کړي دي چې:

الف: دا د ﴿ يُعۡجِبُكَ ﴾ پورې تعلق نیسي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د نوموړي منافق خبرې ستا په دنیا کښې خوښېږي چې خلک دې رابرسېره شوي، کله چې د آخرت ورځ

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راشي نو د نوموړي د خبرو څخه به هلته ضرور ته هم نفرت وکړي او حقيقت به يې ورته څرګند شي.
ب. دا د ﴿قَوْلُهُ﴾ پورې تعلق نيسي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د نوموړي منافق خبرې تا په تعجب کښې اچوي خو کله چې دنياوي خبرې کوي او په دنيا کښې د خپل خان دپاره استدلال وړاندې کوي او د هرې خبرې دپاره بهانې جوړوي، قسمونه کوي چې زما دا مطلب وه او زما هغه مطلب وه، خو دا کار به دوام ونه کړي ﴿وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ ٱلْقَوْلِ﴾ [محمد: ۳۰] يعنې: او ضرور به ته دوی د خبرو په ترځ کښې وپېژنې؛ خو د نورو خلکو سره په دغسې بهانو انو سره غټه جګړه کولی شي، امکان لري چې هغوی تېر باسي.
ځينو مفسرينو کرامو يې په همدې تقدير د معنی حاصل داسې اخستی دی[1] چې:
په دنيا کښې داسې خلک هم شته چې هغوی د خپل ځان د ښه متقي معرفي کولو دپاره ډېرې په زړه پورې خبرې کوي ته به وايې چې د دوی څخه نور ښه مسلمانان نشته، مګر عمل يې د وينا په خلاف وي سخت بد عمله وي، نو کله چې په همدې باره کښې ورته نصيحت وکړی شي چې وکړئ د قول مطابق مو عمل هم اصلاح کړئ نو الله ﷻ شاهد ګرځوي او وايي چې مونږ په مهرباني وکړئ د قول مطابق ... زړونو کښې ډېر ښه مسلمانان يو مسلماني خو په زړه کښې ده، زمونږ ظاهر ته مه ګورئ مونږ د هغه چا په څېر نه يو چې په ظاهر کښې تقوادار وي خو په زړه کښې غټ بې دينه وي.
۲ـ مونږ د ځينو ډېرخربيلو څخه همدا خبره اورېدلې ده چې مسلماني خو په زړه کښې ده په ږيره کښې خو نه ده د ږيرې والا غله دي د خلکو د غولونې دپاره يې ږيرې پرېښې دي.

## غټ جګړه مار

۳ـ د ﴿أَلَدُّ﴾ کلمه د "شَدِيْدُ الْخُصُوْمَةِ" په معنی سره ده. نو کله يې چې ﴿ٱلْخِصَامِ﴾ ته اضافت وشو او "الْخِصَام" مصدر واخستل شي نو معنی يې په تجريد باندې بناء کېږي يعنې محض د شديد معنی ورکوي[2] خکه چې "خُصُوْمَة" پخپله ذکر دی، او که "الْخِصَام" د "خَصْم" جمعه واخستل شي نو بيا يې د معنی حاصل داسې دی چې: په جګړه مارانو کښې شديد جګړه مار دی[3].

## کله چې واکدار شي

۴ـ که څه هم مونږ د ﴿تَوَلَّىٰ﴾ معنی داسې کړې ده چې: کله ستا د مجلس څخه په څنګ شي او د خپل طبيعت سره پرېښودل شي نو بيا په هيڅ فساد باندې صرفه نه کوي[4]؛ مګر ځينو مفسرينو کرامو يې داسې تفسير کړی دی چې: کله واکدار شي او د حکومت واګې په لاس ورشي[5] نو بيا خپل ټول قوت او توانايي په فساد کښې مصرفوي او د هغه وخت خبرې يې تولې هېرې وي چې د

(۱) تفسير المنار ج۲ ص۲۴۷
(۲) تفسير القاسمي ج۲ ص۱۶۸
(۳) تفسير البغوي ج۱ ص۱۸۰
(۴) تفسير الطبري ج۲ ص۳۱۷
(۵) تفسير المنار ج۲ ص۲۴۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اقتدار د لاس ته راوړلو دپاره يې د خلكو غولونې په غرض كولې او په خپله مسلمانۍ باندې به يې قسمونه خوړل چې زما په شان ديندار او متقي به بل پيدا نه شي.

خو مونږ ته دواړه معناګانې سره يو تربله منافي نه ښكاري، بلكې ايت شريف دواړو ته شامل دى او دواړه يې د مفهوم مصداقونه دي.

## قرآن كريم او زمونږ زمانه

۵_ څرنګه چې قرآن كريم د قيامت د ورځې پورې د ټولو خلكو دپاره نازل شوى دى نو په هره زمانه كښې يې د ايتونو مصداقونه په بېلو-بېلو بڼو كښې موندل كېږي.

د هرې زمانې وګړي چې قرآن كريم د خپلې زمانې خلكو ته متوجه كړي نو داسې ورته ښكاري چې صرف د همدې زمانې د خلكو دپاره نازل شوى دى او هغه پنځه خاصيتونه كوم چې په دې مقام كښې د منافق او رياكار دپاره بيان شوي دي هغه هرڅوك په خپله زمانه كښې په ځينو اشخاصو او يا په ځينو ډلو كښې ګوري، ته به وايې چې همدا يې شان نزول دى.

نو په همدې بنياد كله چې مونږ د لوستل شوو ايتونو په چوكاټ كښې د خپلې زمانې خلك واچوو نو داسې راته ښكاري چې همدا زمونږ حالت پكښې منعكس كړى شوى دى. لاندې يو مثال ته لږ څه متوجه شئ چې ذكرې شوې دواړه ډلې پكښې توضيح شوې دي:

الف: په افغانستان كښې د كمونستانو د يوې ډلې اساس د امان الله خان په زمانه كښې ايښودل شوى وه، او دا په هغه وخت كښې چې كله بخارا د كافرانو په سره استعمار كښې ولوېده او نوموړي پاچا د روسانو سره په پغمان كښې داسې معاهده لاسليک كړه چې دلته به يوه روس مشربه ډله فعاليت كوي او مخه به يې نه نيوله كېږي.

ب: دغې ډلې د ظاهر شاه په وخت كښې ښه وده وكړه او د محمد داود خان په وخت كښې يې د يوې كودتا په ذريعه د حكومت واګې ونيولې.

ج: دوى به په هر وخت، هر ځاى، هره ټولنه، هره تعليم ګاه، هره عسكري قشله او بالآخره په هره كوڅه او هر دوكان كښې خلكو ته د كور كالي،ډوډۍ وعدې وركولې، دوى به د ټولو ناكاميو او احتياجاتو پوره كېدل د كمونيزم پورې تړل، دوى به ويلې چې كه په افغانستان كښې دغه مسلک عملي شي نو د ټولو ظلمونو لمن به ټوله شي او هرڅوک به په خپل كور كښې پوره شي.

د: د همدغو موخو دپاره يې د ورځپاڼو څخه كار واخست د راديو خوروني يې ورته استخدام كړې او هم يې تلويزونونه په همدې لاره كښې په كار واچول، د وخت حكومتونو يې مخه ونه نيوله بلكې همكاري يې ورسره وكړه.

لنډه دا چې په زرګونو لاپې شاپې به يې وهلې او په سوګندونو باندې به يې خانونه مسلمانان معرفي كول چې مونږ د دې مظلوم ملت خير غواړو او اقتدار او د حكومت واګې لاس ته نه راوړو.

ه. تردې چې ځينې خلک يې په خپلو خبرو باندې وغولول او د دوى خبرو ته چې د دنيا په باره كښې به يې كولې په تعجب شوه.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: مګر کله چې همدغه ډله خپل اصلي مرام ته ورسېدله او د حکومت واګې یې د روسیانو په همکارۍ ترلاسه کړې، او په کراره-کراره یې روسیانو نظامي ملاتړ هم وکړ، نو بیا یې هغه کارونه وکړه چې قرآن کریم ورته اشاره کړې ده، مثلاً:

اول: په ټول افغانستان باندې یې د بمونو او راکټونو باران جوړ کړ چې آبادې ټولې رنګې شوې، باغونه سرچپه شوه، میوه دارې ونې د بېخه راوتلې، کارېزونه وچ شوه، ځنګلونو اور واخست او داسې نور.

دوهم: په لکونو خلک یې شهیدان کړه، په ملیونونو یې د وطن پرېښودلو ته مجبور کړه، په زرونو ماشومان د ګرمۍ او تودوخې څخه او په زورونو د یخنۍ څخه په هلاکت ورسېده.

خلکو ته یې د کور په ځای ګور ورکړ او د کالیو په بدل کښې ورته د کفن تحفې وړاندې کړې او د ډوډۍ وعده یې ورته په ګولیو پوره کړه، تردې چې کیمیاوي وسلې یې استعمال کړې او ډله ئیزې او عام وژنې یې وکړې.

ز: خو د الله ﷻ فضل او کرم دی په مقابل کښې یې یوه مبارزه مجاهده ډله راپاڅېدله چې په هره مرحله کښې یې د دوی مقابله وکړه او لا لګیا دي مقابله یې کوي دوی خپل ځانونه په الله ﷻ باندې خرڅ کړي دي صرف او صرف د الله ﷻ رضا غواړي تقریباً پنځلس لکه شهیدان شوه، د ګوډو او ړندو خو شمار نشته، په هر ځای کښې چې په څو نفرو باندې د سړي سترګې ولګېږي نو ضرور به پکښې ګوډ، ړوند، شوټ، او یا هغه څوک وګوري چې په بدن کښې به یې د ټپونو چرې او پرچې موجودې وي.

دومره ماشومان یتیمان شوه چې د شمار لاندې نه راځي کله چې سړی یو دار الأیتام (د یتیمانو ښوونځي) ته ورشي او د دوی د پلرونو کیفیت راپه زړه کړي نو د سترګو اوښکې نه شي ټینګولی، د کونډو ښځو -چې په ځوانۍ کښې کونډې شوې- او د بورو مورګانو خو حساب نشته.

ح: مګر د دې ټولو تکالیفو سره سره نوموړې مجاهد ټولګی ورځ په ورځ په خپل عزم باندې کلکېږي او سستي پکښې نه لیدله کېږي د نړیوالو دسیسو مقابله کوي او په دې روحیه باندې خپل اولادونه روزي چې د دوی د شهادت څخه وروسته یې په ځای ودرېږي.

که بالفرض دغه ټولګی الله ﷻ د کمونستانو په مقابله کښې نه وی راپورته کړی او د جهاد توفیق یې نه وی ورکړی نو د افغانستان څخه به بخارا جوړه شوې وی او د څو کالو په اوږدو کښې به چا په جومات کښې اذان نه وی اورېدلی، الله ﷻ رښتیا وایي: ﴿وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ [البقرة: ۲۵۱] یعني: که چیرې الله ﷻ په خلکو کښې د ځینو مخه په ځینو نورو باندې نه وی نیولې نو ځمکه به ټوله فاسده شوې وی مګر الله ﷻ په عالمونو باندې د لوی فضل خاوند دی چې د مفسدانو مخه په مصلحینو مجاهدینو باندې نیسي. والحمد الله ﷻ علی ذلک.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ (٢٠٨) فَإِن زَلَلۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡكُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (٢٠٩) هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ (٢١٠) ﴾

[۲۰۸] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو ټول په ټول اسلام کښې ورداخل شئ او د شیطان د قدمونو متابعت مه کوئ. بې شکه هغه (شیطان) ستاسو دپاره ځرګند دښمن دی.

[۲۰۹] او که تاسو وښوییږئ (د شیطان متابعت وکړئ) د هغه څخه وروسته چې تاسو ته واضحه دلایل درغله نو پوه شئ چې الله ﷻ عزیز دی (د ارادې مخه یې څوک نه شي نیولی) او د حکمت والا دی (هیڅ کار یې عبث نه دی: نو ضرور به مو معذب کړي).

[۲۱۰] ایا دوی د دې څخه په غیر بل شي ته معطل دي چې الله ﷻ دوی ته (په مناسب شان سره) د سپینو وریځو په تورتو کښې راشي او ملائک (هم راشي) او کار فیصله شي (دوی فقط همدغه وخت ته تال دي) او خاص الله ﷻ ته به ټول کارونه ورتاو کړی شي (د تېښتې لار ترې نشته).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ په وړاندې ایتونو کښې د دوه خبرو بحث تېر شوی وه. یوه دا چې ځینې خلک د اسلام په ټولو احکامو کښې نه داخلیږي بلکې د اسلام د احکامو څخه هغه عملي کوي کوم چې دوی ته په ګټه ښکاري او بس. همدغه ډله خلک د نورو مسلمانانو سره نه متفق کېږي بلکې دوی د عمومي مسلمانانو برخلاف د الله ﷻ د غضب په طرف باندې تاند وهي.

بله دا چې ځینې خلک صرف د الله ﷻ رضا غواړي او همېشه د عامو خلکو په ګټه کار کوي.

نو الله ﷻ په راتلونکو ایتونو کښې د یو طرفه د خپلې رضا د حاصلولو طریقه بیانوي چې په ټول اسلام کښې داخلیدل یې طریقه ده او د بله پلوه د ایمان ټول مدعیان دعوتوي چې د الله ﷻ رضا وګټئ او د تفرق او تشتت څخه لاس واخلئ.

۲ـ یعنې: ای مؤمنانو! تاسو باید د خپل ایمان د غوښتنې په اساس خپل ځانونه عیار کړئ. باید د اسلام په ټولو احکامو کښې ورننوځئ: ترڅو ټول په اسلام کښې پټ شئ او د ژوند یوه برخه مو هم د اسلام څخه لوڅه پاتې نه شي، برسېره په دې دغه کار باید ټول مؤمنان وکړي، هسې نه چې ځینې مؤمنان د نورو څخه مخالفت وکړي او په ځانو باندې ټول اسلام عملي نه کړي او په ځینو باندې یې اکتفاء وکړي، چې په نتیجه کښې د هغوی سره همېشه په جنګ او جدل کښې وي او همېشه یې ورسره د بو غپ او خلاف او شقاق وي.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هو! که څوک په اسلام کښې په پوره معنی ورننوتلی وي نو هغه دې همدې وضعې ته دوام ورکړي او مخ په شا دې تري نه ګرځي
۳_ ای مؤمنانو! که چېرې تاسو د اسلام هر يو حکم پرېږدئ نو په دې پوه شئ چې هغه د شيطان بوه باطله لاره ده چې تاسو ته يې ښودانه کوي او تاسو ورباندې روانوي
او دا څکه چې په دنيا کښې درېم طرف نشته فقط او فقط همدا دوه طرفه دي چې يو د الله ﷻ طرف دی او بل د شيطان طرف، که تاسو د الله ﷻ لاره پرېږدئ نو په هره لاره چې لاړ شئ هغه به د شيطان لاره وي.
نو د شيطان د لارو او قدمونو متابعت مه کوئ بې شکه هغه ستاسو علني او ښکاره دښمن دی چې آن د آدم ﷺ څخه راپه دې خوا يې درسره دښمني پيل کړې ده او يو ځل يې عملاً هم د دښمنی اظهار وکړ او ستاسو د مور او پلار (آدم ﷺ حواء رضی الله عنها) څخه يې د جنت جامې ووېستلې. نو هغه هيڅکله نه غواړي چې تاسو د جنت په لباس باندې پټ شئ.
۴_ نو د هغه چا څخه به بل ساده سړی څوک وي چې د خپل پاخه تجربه شوي دښمن خبره مني او د خپل دوست خبره د پښو لاندې کوي؟.
نو که چېرې تاسو وښويېدلئ او د شيطان خبره مو ومنله البته د هغه څخه وروسته چې تاسو ته د الله ﷻ د پلوه واضحه دلايل درغلي دي چې په هغو باندې تاسو کولی شئ چې رحماني لار (اسلام) او شيطاني لارې وپېژنئ او د هغو د دلايلو په رڼا کښې ژوند وکړئ؛ نو پوه شئ چې الله ﷻ عزيز دی د ارادې مخه يې څوک نه شي نيولی او حکيم دی چې هر يو کار يې بې حکمته نه دی. نو نه مو د الله ﷻ د عذاب څخه څوک خلاصولی شي او نه عذاب درکول څه بې ځايه او بې حکمته خبره ده.
۵_ نو ای پيغمبره! چې څوک واضحه دلايلو ته څه التفات نه کوي او د شيطان په لکۍ پورې کلک نښتي وي دوی بل هيڅ شي ته انتظار او معطل نه دي فقط همدې ته منتظر دي چې د الله ﷻ عذاب ورته د سپينې ورېځو په ټوټو کښې راشي (دوی خيال کوي چې په دې کښې د الله ﷻ رحمت دی او په هغو کښې يې عذاب وي) او ملائک هم ورڅخه چارچاپېره صفونه صفونه ودرېږي او کار فيصله شي (قيامت قائم شي) او دا ځکه چې الله ﷻ ته ټول کارونه رجوع کوي د يوې ذرې په اندازه شی به هم ښه وي او که بد، د الله ﷻ د فيصلې او حکم څخه بهرون پاتې نه شي.
يا په بل عبارت: دوی چې دغسې ښخو دلايلو ته غوږونه نه ږدي او باور پرې نه کوي او نه د الله ﷻ د عذاب څخه ډارېږي، نو په هغه وخت کښې به يې باور راشي او هم به ترې وډار شي چې په خپلو سترګو باندې عذاب وګوري، خو د هغه وخت ډار او باور کول به دوی ته هيڅ ګټه ونه رسوي.

## توضيحات

۱_ د «سِلْم» کلمه په دوه معناوو باندې استعمالېږي چې يوه معنی يې صلحه ده او بله معنی يې اسلام دی. که څه هم د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې دلته د اسلام په معنی سره

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده[۱] او ځینو مفسرینو کرامو یې همدا معنی دلته ډېره بهتره ګڼلې ده[۲]. مګر مونږ ته داسې ښکاري چې اصلاً د "سِلْم" کلمه د انقیاد او غاړه ایښودلو په معنی سره ده خو څرنګه چې اسلام او صلحه دواړه په انقیاد باندې مشتمل دي نو ځکه یې په دواړو باندې اطلاق کېږي.

نو ښه دا ده چې دلته یې همدغه عامه معنی واخستله شي ترڅو دواړو ته شامله شي. نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: په انقیاد کښې داخل شئ، مه د اسلام په احکامو کښې تبعیض واقع کوئ چې ځینې منئ او ځینې نه منئ او مه تفرق او تشتت کوئ چې همېشه د خپلو وروڼو سره لاس او ګرېوان یاست. دغه دواړه مطلبونه په متعددو ایتونو کښې په صراحت سره ذکر شوي دي چې د ټولو ذکر کول د اوږدوالي د کبله پرېښودل شو.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: ذکر شوې دواړه معناګانې خو په یو ځل باندې نه شي مراد کېدلی ځکه چې که "سِلْم" د اسلام په معنی سره واخستل شي نو ﴿ كَآفَّةً ﴾ به د ﴿ فِى ٱلسِّلْمِ ﴾ څخه حال واقع شي. او که د صلحې معنی یې مراده کړی شي نو ﴿ كَآفَّةً ﴾ د ﴿ ٱدْخُلُواْ ﴾ د ضمیر څخه حال ګرځي. نو څرنګه چې په یو وار باندې دوه شیان ذو الحال نه واقع کېږي نو دواړه معناګانې هم په یو ځل باندې نه شي مرادېدلی.

مونږ وایو چې: ذو الحال کله متعدد هم راتلاي شي[۳]، نو دلته د ﴿ كَآفَّةً ﴾ کلمه د دواړو څخه حال واقع شوې ده. یعنې ای مؤمنانو تاسو ټول د اسلام په ټولو احکامو کښې ورداخل شئ.

## پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ کښې خو ایماندارانو ته خطاب دی، نو څرنګه چې ایمان او اسلام سره متحد دي نو معنی یې داسې راووځي چې: ای ایماندارانو! تاسو په ایمان کښې داخل شئ. او دا خو د حاصل شوي شي غوښتل دي.

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې ټولو د ایمان دعوه کوونکو ته خطاب دی چې د هر یوه څخه د همغه د حال سره مطابق غوښتنه هم کېږي[۴]. د مثال په توګه:

الف: ای اهل الکتابو چې په پخوانیو کتابونو باندې مو ایمان راوړی دی! په ټول اسلام کښې شامل شئ او فعلاً د پخوانیو کتابونو متابعت بالکل پرېږدئ.

ب: ای هغو کسانو چې محض د خولې ایمان مو راوړی دی! په اسلام کښې عقیدةً هم داخل شئ او په زړونو کښې یې هم قبول کړئ.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۲
(۲) تفسیر الطبري ج۲ ص۳۲۵، تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۴۸
(۳) البحر المحیط ج۲ ص۱۲۱
(۴) تفسیر الطبري ج۲ ص۳۲۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! خو خینې احکام یې عملي کوي او خینې یې نه عملي کوي، تبعیض مه کوئ او ټول عملي کړئ.

د: ای مؤمنانو چې عقیدةً او عملاً د ایمان په مقتضی باندې روان یاست! همدې کار ته دوام ورکړئ. لکه چې فرمایي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ﴾ [النساء: ۱۳۶] یعني: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! خپل ایمان ته ادامه ورکړئ.

## "بَيِّنَات" د څه شي څخه عبارت دي؟

۴ـ "بَيِّنَات" د "بَيِّنَة" جمعه ده، او "بَيِّنَة" واضحه دلیل ته وایي برابره خبره ده چې عقلي دلیل وي که سمعي او که حسي[۱]. نو بناء په دې دغه کلمه ﴿ٱلْبَيِّنَٰتُ﴾ نبي کریم ﷺ، قرآن کریم، ټول معجزات، عقل او هغو ټولو موجوداتو ته شاملېږي چې د الله ﷻ په موجودیت او وحدانیت باندې دلالت کوي[۲].

## ایا د اتیان نسبت الله ﷻ ته صحت لري؟

۵ـ که څه هم د دغه سوال مشابه سوالونو جوابونه څه ناڅه د [البقرة:۱۵] ایت لاندې تېر شوي دي او که د الله ﷻ رضا وي د "آلِ عِمْرَان" سورت د اولو ایتونو په بحث کښې به هم راشي، خو په دې مقام کښې همدومره لیکو چې: هو، د اتیان نسبت الله ﷻ ته څکه صحت لري چې الله ﷻ خپل ځان ته پخپله نسبت کړی دی او دی ﷻ په هر شي باندې ډېر ښه پوهېږي.

## یادونه

۶ـ نوموړی سوال او دغسې نور سوالونه د دې څخه منشا نیسي چې د یوې کلمې معنی په عربي ژبه کښې معلومه وي خو کله چې د همدغې معلومې معنی نسبت الله ﷻ ته وشي سړی پکښې مشوش شي او د تشویش وجه یې دا ده چې ذکر شوې معنی په ممکناتو کښې څه لوازم لري چې د هغو لوازمو نسبتول الله ﷻ ته مشکل وي چې عقل ته نه لوېږي. لکه په همدې مقام کښې چې اتیان په عربي ژبه کښې معلومه معنی لري چې مونږ ترې په پښتو کښې په "راتللو" سره تعبیر کوو، خو د راتللو سره په ممکناتو کښې څه لوازم شتون لري چې الله ﷻ ته د هغو لوازمو په نسبتولو باندې هیڅوک جرئت نه شي کولی.

نو هرڅوک د خپل زړه د تسکین په خاطر یو ډول جواب ته اړ کېږي چې د ټولو جوابونو شمېر تقریبًا لسو ته رسېږي[۳]، مګر مونږ ترې د مثال په ډول باندې لاندې جوابونه رانقلوو:

الف: دلته عبارت په حذف د مضاف سره دی. نو تقدیر به یې داسې شي: "إِلَّا أَنْ يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللهِ" یعنې: دوی په بل شي باندې نه قانع کېږي، همدې ته منتظر دي چې د الله ﷻ امر راشي (قیامت

(۱) مفردات الراغب ص ۶۷
(۲) التفسير الكبير ج۵ ص ۲۳۰
(۳) البحر المحيط ج۲ ص ۱۲۴ - تفسير المنار ج۲ ص ۲۶۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قائم شي). لکه چې په بل ایت کښې په همدې معنی باندې صراحت شوی دی چې: ﴿ أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ﴾ [النحل: ۱] یعنې: د الله ﷻ امر راغی نو چالاکي ورباندې مه کوئ یعنې د قیامت قیام داسې وګڼئ لکه چې راغلی وي ځکه چې په واقع کېدلو کښې یې هیڅ شک شبه نشته، نو په جلتۍ سره یې مه غواړئ.

ب. دلته مفعول محذوف دی. نو تقدیر به یې داسې شي: "إِلَّا أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللهُ بِالْعَذَابِ" یعنې: دوی بل شي ته انتظار نه کوي فقط همدې ته منتظر دي چې الله ﷻ پرې عذاب ورولي او پرې نازل یې کړي، چې په اول سر کښې ورته د سپینې وریځې په توګو کښې ځرګند شي، دوی ګومان وکړي چې: ﴿ هَٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ﴾ [الأحقاف: ۲۴] یعنې: دا وریځ ده چې په مونږ باندې باران کوي او رحمت راباندې نازلېږي؛ خو ناڅاپه پرې د الله ﷻ عذاب نازل شي او هک پک حیران ودرېږي.

په همدې شکل باندې یو بل ایت شریف هم شته: ﴿ فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا۟ ۖ وَقَذَفَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعْبَ ﴾ [الحشر: ۲] یعنې: نو الله ﷻ دوی ته د داسې ځای څخه (په رعب سره) ورتګ وکړ چې د دوی ګومان هم نه وه او د دوی په زړونو کښې یې رعب واچاوه.

د دې ایت دوهمه برخه دلالت کوي چې په اوله برخه کښې د "أَتَىٰ" دپاره مفعول "رُعْب" دی.

ج: دلته د إِتْيَان نسبت الله ﷻ خپل خان ته کړی دی، مونږ یې هم ورته کوو اما د إتيان لوازم ورته نه ثابتوو بلکې د هغو علم الله ﷻ ته سپارو او وایو چې لکه څنګه چې د الله ﷻ نور صفات د بندګانو په شان نه دي، بلا کیفه دي، همدارنګه یې باید د "إتيان" په صفت کښې هم کیف او څنګه ونه ویل شي او نه ورته حاجت شته[۱].

د همدې قبیلې څخه د الله ﷻ دیدار دی (الله ﷻ مو دې په نصیب کړي) چې د بندګانو د دیدار او لیدنې په شان نه دی. خینو خلکو چې د الله ﷻ دیدار د ممکناتو په لیدنه باندې قیاس کړی دی نو د ممکناتو لوازمو یې سترګې نیولې دي او اصلاً د الله ﷻ د دیدار څخه یې انکار کړی دی.

مونږ ته همدا درېم جواب ښه ښکاري او دا ځکه چې د بنده معلومات ډېر محدود او ناچیزه دي نو باید چې د آخرت د امورو دپاره معیار ونه ګرځول شي او باید وویل شي چې: "كَمَا يَلِيقُ بِشَانِهِ" یعنې: څنګه چې ورسره مناسب وي.

مګر د عوامو د پوهولو د کبله، ترڅو د هغوی فکر مشوش نه شي، اولنې دواړه جوابونه هم بد نه دي ځکه مو په خلاصه مطلب کښې غوره کړي دي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وایي چې: په ذکر شوي ایت شریف کښې کومه یوه ورځ مراده ده چې د کافرانو عقل به سرته راشي او پوه به شي چې د پیغمبر ﷺ تولې ویناوې په حقه وې؟

---

[۱] روح المعاني ج۲ ص۹۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مومنو وایو چې: ظاهره دا ده چې دغه بد حالت به په دوی باندې د قیامت په ورځ باندې راځي لکه چې د «وَقُضِيَ ٱلْأَمْرُ» کلمه هم همدې ته اشاره کوي او په یو بل ایت کښې هم همدا مضمون د قیامت د ورځې په باره کښې بیان شوی دی لکه چې فرمایي: ﴿وَيَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلْغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا﴾ [الفرقان: ۲۵] یعني: او داسې ورځ وریاده کړه چې اسمان د سپینو وریځو سره توټې-توټې شي او ملائک رابښکته کړی شي رابښکته کول.

امکان لري چې سپینې وریځې د هغو لوخړو ځخه عبارت وي چې د دنیا د ورانېدلو سره راپورته شي او درز او دروز جوړ شي[۱].

مګر دا هم لرې نه ده چې د ځنکدن وخت مراد شي ځکه چې په هغه وخت کښې هم د ملک الموت په شمول نور ملائک رابښکته کېږي او په سترګو باندې د وریځې په شان پردې راخورېږي چې دنیاوي شیان نه شي لېدلی. همدې ته الله ﷻ اشاره کوي او فرمایي چې: ﴿وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ﴾ [الأنعام: ۹۳] یعني: او که ته هغه وخت وګورې چې ظالمان د مرګ په سختیو کښې وي او ملائکو لاسونه ورغځولي وي چې ارواګانې مو راوباسئ (نو ته به ډېر عجیب حالت وګورې).

﴿سَلْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ كَمْ ءَاتَيْنَٰهُم مِّنْ ءَايَةٍۭ بَيِّنَةٍ ۗ وَمَن يُبَدِّلْ نِعْمَةَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَيَسْخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۘ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ فَوْقَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ وَٱللَّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾﴾

[۲۱۱] د بني اسرائیلو ځخه پوښتنه وکړه چې د واضحه معجزو ځخه مو څومره ډېرې ورکړې وې. او هر څوک چې د الله ﷻ نعمت د هغه ځخه وروسته تبدیل کړي (شکریه یې ونه کړي) چې هغه ته راشي، نو بې شکه الله ﷻ چې دی عقاب (عذاب) یې ډېر سخت دی.

[۲۱۲] هغو کسانو ته چې کافر شوي دي نږدې ژوند ښائسته کړی شوی دی، او دوی په هغو کسانو باندې چې ایمان یې راوړی دی ملنډې وهي، او هغه کسان چې تقوی لري په هغوی باندې به د قیامت په ورځ دپاسه وي. او الله ﷻ روزي ورکوي هر چا ته یې چې اراده وشي بې د حساب ځخه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ د وړاندې ایتونو ځخه معلومېده چې ځینې خلک د معجزاتو د ورتګ ځخه وروسته هم د حقې لارې ځخه بې لارې کېږي، ته به وایي چې داسې معجزاتو ته منتظر دي چې په ایمان راوړلو باندې یې مجبور کړي لکه د قیامت راتلل او یا په خپلو سترګو باندې د ملائکو لیدل.

(۱) تفسیر المنار ج۲ ص۲۶۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نو په دې ايتونو كښې الله ﷻ فرمايي چې د حقې لارې څخه د انحراف وجه د معجزاتو كمبود نه شي جوړېدلى خكه چې معجزات خو ښه پرېمانه وركړى شوي دي. بلكې اصلي وجه يې د دنيا مينه او محبت دى، چې په لاندې ډول خلاصه كېدلى شي:

۲ـ يعنې: اى پيغمبره! د بني اسرائيلو څخه پوښتنه وكړه چې هغوى ته مو څومره ډېرې معجزې وركړې وې ترڅو يې دوى درته پخپله شرحه كړي او پخپله پرې اقرار وكړي كه څه هم پوښتنې ته ستا اړتيا نشته. ځكه چې هغه خو الله ﷻ تاته هو بهو بيان كړي دي. لكه د فرعون څخه په معجزانه توګه نجات، د مَن او سَلوى نزول، د تيږې څخه د اوبو بهېدل او داسې نور.

۳ـ مګر كله چې هغوى ته دنيا ښه ښكارېده او د هر شي څخه ورسره د دنيا محبت ډېر وه نو په هغو ټولو معجزاتو باندې دوى هدايت لاس ته رانه ووړ او د الله ﷻ نعمتونه او معجزات يې (چې د هدايت دپاره ډېر ښه ذرائع وه) په ناشكرۍ سره تبديل كړه.

دا كار يې په بې فكرۍ سره ونه كړ او نه پكښې سهوه شوه بلكې قصداً او عمداً يې نوموړي كار ته ملاوې وتړلې.

۴ـ نو الله ﷻ ترې په دنيا كښې خپله لويه پېرزوينه واخستله او د دائمي ذلت سره يې دوچار كړه او په آخرت كښې به د سخت عاقبت سره مخامخ شي ځكه چې د الله ﷻ عذاب ډېر سخت دى.

هرڅوک چې د الله ﷻ نعمتونه په ناشكرۍ سره استقبالوي، په دنيا او آخرت كښې دې د الله ﷻ غضب ته منتظر اوسي، دا د الله ﷻ قانون دى په دې كښې بدلون نشته.

۵ـ اوس نو واضحه شوه چې د انحراف وجه د معجزاتو كمبود نه دى بلكې وجه يې دا ده چې دوى ته دنيا ښانسته ښكاره كړى شوې وه بلكې ټولو كافرانو ته په هره زمانه كښې چې وي دغه حقير نژدې ژوند ښه ښكاري. د همدې كبله په مؤمنانو باندې ملنډې وهي او ورپورې خاندې چې أخروي ژوند ورته ښه ښكاري او د همغه دپاره كار كوي.

۶ـ خو ټول كافران دې پوه شي چې د قيامت په ورځ به وړباندې مؤمنان متقيان ـچې نېک عملونه يې كړي وي ـ د پاسه وي او بالمقابل به پرې مسخرې كوي.

كافران په دې خيال كښې خطا شوي دي چې د عزت ټول دارمدار دنيا ده، بلكې د الله ﷻ چې هر چا ته اراده وشي (مؤمن وي او كه كافر) په هغه باندې زياته پېرزوينه كوي او خپل نعمتونه ورباندې پراخوي.

بالمقابل په څينو باندې تنګي هم راولي، څه يې چې خوښه وي هغه كوي، نه ترې څوک پوښتنه كولى شي چې ولې دې داسې وكړه او نه يې څوک د ارادې مخه نيولى شي.

## توضيحات

۱ـ بني اسرائيلو ته لكه چې د موسى ﷺ په لاس باندې بې شمېره معجزې وركړى شوې دې همدارنګه د نبي كريم ﷺ معجزې هم د دوى شمېرګوټي نه دي.

Downlaoded: bawarketabloon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برسېره په دې د همدوی په کتابونو کښې چې د آخر الزمان پیغمبر ﷺ صفات بیان شوي وو او هغه صفات ټول په نبي کریم ﷺ کښې موجود شوه ترڅو چې دوی ته یې په حقانیت کښې هیڅ شک او شبه پاتې نه شوه. دا هم د پېره لوی معجزه وه مګر دوی ورته منقاد نه شوه

## د نعمت تبدیل څه ته وایي؟

۲ـ څرنګه چې معجزات او خوارق د هدایت اسباب دي خو څوک چې ترې استفاده ونه کړي او د ضلالت ذریعه ورباندې خپل ځان ته نجات ورنه کړي بلکې ګمراهي یې ورباندې لا اضافه شي نو دغه کار داسې ګڼل کېږي لکه چې دغو لویو نعمتونو ته یې تغییر ورکړی وي او هغه یې تبدیل کړي وي ځکه چې معکوسه نتیجه یې ترې پورته کړې ده.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د نعمت تبدیل خو په هغه وخت کښې صورت موندلی شي چې تبدیلوونکي ته راشي او د ده د اختیار لاندې شي نو په دې کښې څه حکمت دی چې په همدې قید باندې یې صراحت وکړ چې: ﴿ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ ﴾؟

مونږ وایو: د دې دپاره دغه قید په واضحه ډول سره ذکر کړی شو ترڅو معلومه شي چې د نعمت په استولو کښې هدایت مطلب دی او د همدې مطلب دپاره استول کېږي کله چې تبدیلوونکی هم په همدې مطلب باندې پوه وي خو سره د دې یې په قصد او عناد سره د ضلالت ذریعه ګرځوي نو د هغه په زیات لجاجت باندې دلالت کوي[۱].

## مزین دلته څوک دی؟

۴ـ په یاد ولرئ چې د فعل نسبت لکه څنګه چې حقیقي کوونکي ته کېږي، همدارنګه کله-کله سبب ته هم تحقق مومي[۲]. مثلاً الله ﷻ د موت (مړه کولو) نسبت خپل ځان ته هم کړی دی لکه چې فرمایي: ﴿ ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ ﴾ [الزمر: ۴۲] یعني: الله ﷻ ارواګانې پوره قبضوي. او ملک الموت ته یې هم کړی دی لکه چې فرمایي: ﴿ قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ﴾ [السجدة: ۱۱] یعني: ورته ووایه چې هغه ملک الموت به مو ارواګانې واخلي چې درباندې مقرر کړی شوی دی.

د همدې قبیلې څخه تزیین (ښائسته کول) هم دي چې حقیقة یې الله ﷻ ته نسبت کېږي او د سببیت په اعتبار سره یې شیطان ته هم نسبت شوی، لاندې دوه ایتونه ولولئ:

الف: ﴿ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمۡ ﴾ [الأنعام: ۱۰۸] یعني: همدارنګه مو هر امت ته خپل عملونه ښائسته کړي دي.

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۰۰

(۲) تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۸۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ﴿ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ [العنکبوت: ۳۸] یعنې: او دوی لره شیطان عملونه ښائسته کړي دي.

هو! په دې مقام کښې مجهوله صیغه استعماله شوې ده ترڅو دواړو ډولونو ته ورشامل شي، نو معنی به یې داسې شي چې کافرانو ته بد عملونه ښه ښکاري که هرڅومره معجزات او دلایل ورته وویل شي لاس ترې نه اخلي. دا ځکه چې حقیقتًا خو ورته الله ﷻ ښائسته کړي دي.مګر شیطان یې هم په دعوت باندې څه صرفه نه ده کړې.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې کله بد عملونه او بد اعتقادات کافرانو ته د الله ﷻ د پلوه ښائسته کړی شوه نو په نیونه کښې یې څه حکمت دی چې په دوزخ کښې جزا ورکوي؟

مونږ وایو چې: دغه سوال جواب د [البقرة:۷] ایت لاندې د ختم په باره کښې مشرح لیکلي شوي دي، هیله ده چې اعتراض کوونکي یو ځل هلته مراجعه وکړي.

## د دنیا د غوره کولو نتیجه

۶_ څرنګه چې د دنیا مینه او محبت د هرې ګناه سر دی نو د همدې کبله:

الف: ابو جهل او د ده امثالو په فقیرانو مؤمنانو باندې خندل او ملنډې به یې پرې وهلې چې صهیب ﷺ، بلال ﷺ، خباب ﷺ او نور غواړي چې په اسلام باندې به په ګېډه ماړه شي.

ب: د یهودو رئیسانو به هم ورپورې تمسنګې ویشتلې چې محمد ﷺ ته ګوری په دغو وږو او تږو باندې غواړي چې خان امارت ته ورسوي؟، د دغو څو معدودو کمزورو خلکو څخه به څه جوړ شي او دوی به د کوم درد دوا شي؟، دوی خپلو ګېډو ته حیران دي دوی به د مړو او شتمنو خلکو مقابله څنګه وکړی شي؟.

ج: د منافقانو خو د خندنیو څخه په غیر بل کار نه وه همېشه به عبد الله بن أُبي (رئیس المنافقین) او نورو انډیوالانو یې په مؤمنانو پورې مسخرې کولې[۱].

د: خو الله ﷻ همدغو مستضعفو مؤمنانو ته غلبه ورکړه او د سوناګانو کبر او غرور یې مات کړ چې مکه معظمه یې فتحه کړه، د مدینې منورې د یهودو ځمکه او دارایي یې غنیمت کړه او د منافقانو منافقت یې رسوا کړ.

دا وه هغه فوقیت او برلاسي چې الله ﷻ په دنیا کښې ورپه برخه کړه.

هـ: اما په آخرت کښې به هم په هغوی باندې زیات اوچت او لوړ وي چې دوی به په جنتونو کښې وي او هغوی به د دوزخ په اور کښې کړېږي او حتی منافقان خو به د دوزخ په ټیټه پایه کښې وي.

و: برسېره په دې، په هغې ورځ باندې به د مؤمنانو خندا او مسخرې په کافرانو باندې د هغوی د

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۸۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دنیاوي مسخرو څخه زیاتې وي. ځکه چې د کافرانو خندا خو فقط په دنیا کښې وه او ختمه شوه مگر د مومنانو خندا به په هغوی پورې دایمي وي او نه به ختمېږي الله ﷻ فرمایي ﴿ فَٱلۡيَوۡمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنَ ٱلۡكُفَّارِ يَضۡحَكُونَ ﴾ [المطففین ۳۴] یعنې نو نن ورځ (د قیامت په ورځ) به هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی په کافرانو باندې خاندي

## د ایت شریف مصداق

۷_ کله چې په افغانستان کښې مجاهدینو جهاد پیل کړ همدغه خندنې او مسخرې به وریږورې روسانو کولې چې دغه کمزوري مسلمانان به څنګه زمونږ د قوت مقابله وکړي؟ او څنګه به مو وتلو ته مجبور کړي؟ دوی محض خېل خانونه وژني، د خان وژلو څخه په غیر د دوی څه د لاسه کېږي؟

مگر کله چې مجاهدینو ماتې ورکړه او په ژړا باندې یې د افغانستان څخه وشړل نو په هغه وخت کښې وریږورې بیا مجاهدینو خندل او بالمقابل یې وریږورې مسخرې کولې چې هغه غرور او تکبر مو څه شو چې ټوله دنیا مو په ډار کښې اچولې وه؟ د مجاهدینو د لاسه نن ولې په سرو سترګو ژاړې؟.

الله ﷻ ته امید لرو چې همدغه فوقیت به د قیامت په ورځ هم مجاهدینو ته وربېرزو کړي.

## سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې: ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ ﴾ خو د ﴿ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ څخه عبارت دی چې لږ څه مخکښې ذکر دی، نو نظر عربي قواعدو ته باید چې په ضمیر سره ذکر شوی وی چې: "وَهُمۡ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَامَةِ"؟

مونږ وایو _والله ﷻ أعلم_: د دې دپاره په ضمیر سره ذکر نه شو ترڅو د فوقیت په دلیل باندې هم صراحت وکړی شي، چې تقوی ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وایي چې: د فوقیت دلیل خو ایمان دی نو په کار وه چې: "وَالَّذِينَ آمَنُوا فَوْقَهُمْ" ویل شوي وی؟

مونږ وایو چې: د دې دپاره یې د "آمَنُوا" په عوض ﴿ ٱتَّقَوۡاْ ﴾ ذکر کړ ترڅو اشاره وکړي چې نېک اعمال هم په فوقیت کښې برخه لري او دا ځکه چې د تقوی اطلاق په عقایدو او اعمالو دواړو باندې کېږي. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: هغه کسان به په کافرانو باندې د قیامت په ورځ د پاسه وي چې هغوی ایمان راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي. لکه چې په همدې مضمون باندې په قرآن کریم کښې زښت ډېر ایتونه نور هم شته.

## بغیر حساب څه معنی؟

۱۰_ که څه هم هر شی د الله ﷻ په نزد باندې په حساب سره دی او هیڅ شی د هغه ﷻ د احاطې څخه وتلی نه دی لکه چې فرمایي ﴿ وَكُلُّ شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ﴾ [الرعد: ۸] یعنې: او هر شی

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دده ﷻ په نزد په اندازې سره دی او هیڅ شی بې حسابه نه دی. او فرمایي چې: ﴿ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴾ [النبأ: ۳۶] یعنې: (بې شکه د جنتیانو نعمتونه) ستا د رب ﷻ د پلوه جزاء حساب شوې ده، چې یوه ذره هم بې حسابه نه ده پرېښودله شوې؛ مګر په دې مقام کښې د بغیر حساب د کلمې دپاره مفسرینو کرامو درېږي معناوې کړي دي[1]. مثلاً:

الف: د "بغیر حساب" کلمه په محاوراتو کښې د کنایې په توګه د "ډېر" په معنی استعمالېږي لکه چې د معدود (شمارل شوي) کلمه د قلیل او لږ معنی ورکوي.

ب: د "بغیر حساب" معنی دا ده چې د الله ﷻ هر څه پخپله خوښه وي، څوک ورسره حساب نه شي کولی او نه ترې څوک دا پوښتنه کولی شي چې ولې دې لږ ورکړ او یا ولې دې ډېر ورکړ؟[2].

ج: مګر درېیمه ښه معنی یې مونږ ته دا ښکاري چې بغیر حساب په نظر سره انسانانو ته دی. یعنې دوی یې د حساب لاندې نه شي راوستلی که څه هم د الله ﷻ په نزد باندې د حساب څخه نه وي وتلی. لکه چې فرمایي: ﴿وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآ ﴾ [إبراهیم: ۳۴] یعنې: او که د الله ﷻ نعمتونه وشمارئ د احاطې لاندې به یې را نه شئ وستلی.

﴿ كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ وَمَا ٱخۡتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلۡحَقِّ بِإِذۡنِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾ ﴾

[۲۱۳] خلک ټول یو امت وه (برسېره په دې) الله ﷻ پیغمبران هم ورواستول چې بشارت ورکوونکي او وېروونکي دي او د دوی سره یې کتاب (کتابونه) هم په حقه ورولېږل ترڅو د خلکو په منځکښې په هغو حوادثو کښې فیصلې وکړي چې دوی پکښې اختلاف لري.

او په دغه (راستول شوي کتاب) کښې بل هیچا اختلاف ونه کړ مګر هغه خلکو چې هغه ورکړی شوی وه، د هغه څخه (لا) وروسته چې دوی ته (د حق په اړوند) واضحه دلایل ورغله (وررسېده)، نو بله وجه یې نه درلوده صرف: د خپلمنځي بغاوت او عناد په وجه (یې اختلاف پیل کړ).

نو الله ﷻ هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی وه په هغه شي کښې چې دوی پکښې اختلاف کاوه چې حق دی په خپل فضل او توفیق سره هدایت وکړ. او الله ﷻ هر هغه چا ته (چې اراده یې ورته وشي) سمې لارې ته لارښوونه کوي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۸۶؛ اللباب في علوم الکتاب ج۳ ص۴۹۹
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۸۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

## یوه لنډه مقدمه

۱ـ که څه هم په دې ایت شریف کښې مفسرینو کرامو ډېر زیات بحثونه کړي دي که څوک د اردو بیاناتو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي[1]، مګر څه چې مونږ ته د الله ﷻ په فضل سره ذهن ته راځي او د وړاندې او ډېرته بحثونو سره ښه سمون خوري هغه دا خبره ده چې په دې ایت شریف کښې هغه موضوع تعقیب شوې ده چې د وړاندې څخه پکښې بحث راروان دی.

۲ـ هغه موضوع دا ده چې په خلکو کښې ځینې داسې شته چې دنیا ورته د هر شي څخه بهتري لري، دلایلو ته غوږ نه ږدي، د اسلام په ټولو احکامو کښې نه ورننوزي، د مسلمانانو سره اتفاق او اتحاد نه کوي، او قدم په قدم د شیطان متابعت کوي او څوک یې چې د دغه بد عادت څخه رامنعه کوي په هغوی پورې خاندي او ملنډې ورباندې وهي. نو امکان لري چې د چا ذهن ته لاندې دوه تشویشونه ورولوېږي:

الف: انسان حارص پیدا کړی شوی دی او د دې سره-سره نفس او شیطان یې هم سمې لارې نیولو ته او د نورو مسلمانانو اتفاق او اتحاد ته نه پرېږدي. نو بې چاره انسان د دغو دوه وو غټو دښمنانو په منځکښې راګېر دی، ایا په دې باندې ملامته ګڼل کېږي چې د قوي دښمنانو په وړاندې ماتې وخوري؟.

ب: کوم شي ته چې قرآن کریم دعوت کوي (چې باید ټول انسانان په اتفاق سره د اسلام په ټولو احکامو کښې ورننوزي) د یوې عنقا مثال لري چې نه پخوا موندل شوې ده او نه به په راتلونکي کښې موندله شي، د هر چا په خوله باندې د عنقا مرغه نوم اخستل کېږي مګر تر اوسه پورې یې نه چا ښکه لیدلې ده او نه به یې وګوري؛ همدارنګه نه تر اوسه پورې ټول خلک په اسلام راټول شوي دي او نه به راټول شي، چټې خان سترې کول وریسې په کار نه دي.

نو الله ﷻ د دغو دواړو تشویشونو جوابونو ته په ذکر شوي ایت شریف کښې اشارې کړې دي.

### د اول تشویش د جواب خلاصه

۳ـ یعني: که څوک په خیر سره وګوري د هدایت اسباب د ضلالت د اسبابو څخه قوي او ډېر دي. لاندې وجوهاتو ته متوجه شی:

### د هدایت اسباب:

الف: ټول خلک یو امت دی، د یوه پلار او یوې مور (آدم ؑ، حواء رضي الله عنها) څخه خواره شوي دي د نسب په اعتبار سره ټول د یوې ونې ښاخونه دي. که بالفرض یو چا ته امر شوی وی چې د زمري یا بل ځناور سره اتفاق وکړه نو واضحه ده چې هغه به په بې اتفاقی کښې معذور ګڼل کېده او ویل به یې چې زما به د هغه سره څنګه اړوند راشي په داسې حال کښې چې خوراک ځناک مو سره

---

[1] التفسير الكبير ج۶ ص۱۲؛ زاد المسير ج۱ ص۲۰۸؛ البحر المحيط ج۲ ص۱۳۵؛ تفسير المنار ج۲ ص۲۷۷؛ تفسير الطبري ج۲ ص۳۲۲؛ تفسير القرطبي ج۳ ص۳۱؛ تفسير تبصير الرحمن ج۱ ص۷۹؛ اللباب في علوم الكتاب ج۲ ص۵۰۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بېل دی، په خبرو سره نه پوهېږو او داسې نور.

ب: برسېره په دې، په نسبي ارتباط کښې هم ټول انسانان په ازدواجي پړې باندې سره تړلي دي د يوې ښځې په وجه قومونه-قومونه سره په يو بل باندې ترحم او پېرزوينې کوي. که بالفرض انسانان په ازدواجي طريقه باندې نه وی پيدا کړی شوي نو دغه اوسنۍ مينه او محبت به يې په منځ کښې نه وی او د يوه پټې د بوټو په خبر به د يوه په بل باندې مهرباني او زړه سوی هم نه وی.

الله ﷻ فرمايي چې ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴾ [الفرقان: ۵۴] يعنې او الله ﷻ هغه ذات دی چې د اوبو څخه يې بشر پيدا کړ، نو هم يې د نسب او هم يې د خسرګنۍ خاوند وګرځاوه، او ستا رب قدرت درلودونکی دی.

او هم فرمايي چې ﴿ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا ٱلْمَوَدَّةَ فِى ٱلْقُرْبَىٰ ﴾ [الشوری: ۲۳] يعنې: ورته ووايه چې زه ستاسو څخه په قرآن باندې څه اجر نه غواړم، فقط همدا درڅخه غواړم چې د قرابت د کبله زما سره دوستي (مودة) وکړئ. يعنې که ايمان راباندې نه راوړئ اقلاً دومره خو وکړئ چې د دعوت مخه مې مه نيسئ او د قرابت د کبله مې پرېږدئ چې نور خلک خو اسلام ته دعوت کړم.

ج: انسانانو ته عقل ورکړی شوی دی، د عقل غوښتنه دا ده چې يو په بل ظلم ونه کړي او په اتفاق سره يوه لاره تعقيب کړي. د وېښتانو د مجموعې څخه پړی جوړېږي، قوت په اتفاق کښې دی.

د: په عقل باندې علاوه الله ﷻ د هر انسان په وجود کښې يوه مرموزه قوه پيدا کړې ده چې په ښو کارونو باندې ورته امر کوي او د بدو څخه يې منعه کوي، چې اروپوهان ورته "وجدان" وايي.

که څوک هرڅومره غټ ظالم هم وي خو چې کله په ګرېوان کښې سر ښکته کړي او په هغه ظلم کښې چې ورباندې اخته وي څه اندازه چرت ووهي ظلم ورته ښه نه ښکاره کېږي.

هو! دا بېله خبره ده چې په خينو وختونو کښې يې د ډېرو جناياتو د کبله د نېکۍ استعداد بالکل ختم شي او نومړې قوه هم د جهالت د پردو لاندې راشي او بالکل تته رڼا هم د لاسه ورکړي، مګر اصل يې د منځه نه ځي.

هـ: څرنګه چې په عقل کښې دومره توان نشته چې خپل ټول مشکلات حل کړي او په هيڅ ځای کښې خطا نه شي نو الله ﷻ د عقل د لاس نيوي دپاره يولک او څلېريشت زره (۱۲۴۰۰۰) زيات او کم پيغمبران عليهم السلام راواستول ترڅو په لاندې دوه طريقو سره يې د ضلالت د کندو څخه بچ کړي:

اول: څوک چې د پيغمبرانو اطاعت کوي هغه ته په دائمي نعمتونو باندې د پاسه د دنيا د خوشاليو زېری هم ورکړي ترڅو يې پوه کړي چې دنيا فاني ده، زړه تړل ورپورې په کار نه دي.

دوهم: بالمقابل څوک چې د هغوی هدايات د پښو لاندې کړي او په دنياوي لذتونو کښې ډوب شي هغه به د بد عاقبت سره مخامخ شي.

و: الله ﷻ د پيغمبرانو عليهم السلام سره د خلکو د لارښودنې دپاره کتابونه نازل کړه ترڅو ترڅو د پيغمبرانو عليهم السلام د وفات څخه وروسته هم کار واخلي او خپل مشکلات پرې حل او فصل کړي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كه څه هم ټول كتابونه په حقيقت كښې يو كتاب دى چې په عقائدو كښې او هم د عباداتو په كلياتو كښې سره بالكل متحد دي او يو د بل تائيد او تصديق كوي، مگر په فروعاتو كښې د زمانې د بدلون سره كتابونه هم تغير او تبديل شوه لكه د يو مريض دپاره چې نسخه تبديله شي او يا د وخت په تېرېدلو سره د يو ماشوم خوراكه تغير وخوري. ترڅو خلك په عملي ساحه كښې د مشكلاتو سره مخامخ نه شي او په اسانۍ سره د سعادت لاره تعقيب كړي او په هغو حوادثو كښې يې د حكميت په صفت ومني چې د دوى په منځو كښې بروز كوي او پېښېږي.

كه څه هم د يو پيغمبر ﷺ په ژوند كښې د خلكو ټول مشكلات د وحې په ذريعه هم حل او فصل كېدلى شي خو د هغه ﷺ د وفات څخه وروسته چې د وحې سلسله قطعه شي د يو كتاب موجوديت ډېره لويه ذخيره ده. لكه چې په موجوده وخت كښې مسلمانان د قيامت د ورځې پورې خپل مشكلات په قرآن كريم باندې د منځه وړلى شي.

ز: د پيغمبرانو صداقت او د كتابونو واقعيت د الله ﷻ د پلوه په معجزاتو سره اثبات ته ورسول شو تر څو خلك پوه شي چې هغوى رښتيا وايي او كتابونه حق دي.

ح: په دې ټولو باندې د پاسه هر يوه انسان ته الله ﷻ يوه ملكه هم مقرره كړه چې د شيطان په مقابل كښې ورته د نېكيو لارښودانه وكړي او د بدو كارونو څخه يې رابچ كړي. په همدغه مطلب باندې نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې صراحت كړى دى[1].

ذكر شوي اته ډوله وسائل سړى نېكۍ لارې ته دعوتوي چې د اسلام په ټولو احكامو كښې ورداخل شي او د شقاق او نفاق څخه خپل ځان په ځنګ وساتي.

## د ضلالت اسباب:

۴_ د هدايت د اسبابو په مقابل كښې د ضلالت اسباب فقط دوه دي، هغه دا دي:

الف: يو نفس «أَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ» (په بدو امر كوونكى) دى، چې د حرص په اعتبار سره حرام مالونه خوري، د شهوت په اعتبار سره فحش او فحشاء پسې ګرځي، د غضب په اعتبار سره په نورو ظلم كوي خو كه دا ټول وسنجول شي فقط يوه شي ته ورټولېږي چې د دنيا محبت دى.

نبي كريم ﷺ رښتيا ويلي دي چې: «حُبُّكَ الشَّيْءَ يُعْمِي وَيُصِمُّ»[2] يعنې: يو شي لره تا خپل محبت ړندوي او كڼوي.

ب: او بل شيطان دى چې انسان بدو كارونو ته دعوتوي او د نېكو كارونو په مقابل كښې يې خنډ واقع كېږي، د دروغو وعدې وركوي، او د غولونې دپاره يې همېشه ملا تړلې ولاړ دى.

مګر د شيطان دعوت د پيغمبرانو د دعوت په مقابل كښې هيڅ ارزښت نه لري ځكه چې:

اول: د پيغمبرانو عليهم السلام مينه او محبت، مهرباني او زړه سوى داسې واضحه دى لكه د شيطان

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۸

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۶۳، ج۱۰ ص۴۳۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


عداوت او دښمني، بغض او کینه چې واضحه ده، د هغوی خواخوږي ثابته ده او د ده بې رحمي.

دوهم: د پیغمبرانو علیهم السلام سره په خپل صداقت باندې معجزات او کتابونه شته دي او شیطان نه معجزه لري او نه کتاب، بلکې معجزات او کتابونه یې په کذب او دروغژنۍ باندې دلالت کوي. شیطان خو د خپل قول د تائید دپاره فقط د دروغو د قسمونو څخه کار اخلي لکه چې الله ﷻ په دې باره کښې فرمایي چې: ﴿ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّـٰصِحِينَ ﴾ [الأعراف: ۲۱] یعنې: او شیطان دواړو (آدم علیه السلام ، بي بي حواء رضی الله عنها) ته قسم وکړ چې بې شکه زه ستاسو دواړو دپاره د خیر غوښتونکو څخه یم.

دریم: عقل او وجدان د پیغمبرانو علیهم السلام تائید کوي، او د شیطان دپاره نه عقلي تائید کوونکی شته او نه وجداني.

څلورم: پیغمبران علیهم السلام خپل صداقت په عمل کښې هم خلکو ته ورڅرګندوي او خلک یې ګوري چې قول او فعل یې سره اختلاف نه لري یعنې دوی عملًا خلکو ته د خپل حقانیت دلایل وړاندې کوي. مګر شیطان نه څوک په سترګو ګوري، نه یې چا ته پلار او نیکه معلوم دي، نه چا ته په خپل صداقت باندې عملي سند ښودلی شي بلکې په هره وسوسه کښې یې د غولونې او دښمنۍ علائم او نښې د ورایه ښکاري.

## تبصره

۵ـ د هدایت او د ضلالت د اسبابو د مقایسې څخه په واضحه توګه دا نتیجه لاس ته راځي چې د پیغمبرانو علیهم السلام د راتګ څخه وروسته (چې د خپلو خانو سره یې پوره دلایل او واضحه براهین راوړي دي) هم څوک د خان دپاره د ضلالت لاره غوره کوي او حق د پښو لاندې کوي نو هغه به ضرور یا عناد نیولی وي، یا به ورباندې د ریاست محبت غالب شوی وي او یا به کوم بل دنیاوي مطلب ورباندې سترګې پټې کړې وي.

لنډه دا چې د پیغمبرانو علیهم السلام د راتګ څخه مخکښې چې کوم خلاف او شقاق د انسانانو په منځو کښې واقع شوي دي هغه د جهالت د کبله دي مګر د هغوی د راتګ څخه وروسته خو د ناپوهۍ د کبله نه دي بلکې قصداً او عناداً باطله لاره غوره کول دي او د حق څخه تجاوز دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وایي چې: ولې داسې ونه شوه چې د ضلالت اسباب بالکل نه وی او ټول خلک په یوه خوله او په یوه زړه مسلمانان وی؟

موږ وایو چې: که داسې شوي وی نو ابتلاء او ازمېښت به د منځه تللی وی. یا په بل عبارت: د انسانانو څخه به ملائک جوړ شوي وی.

هوا د آدم علیه السلام د پیدایښت په وخت کښې همدا غوښتنه ملائکو وکړه خو په نتیجه کښې ورته الله ﷻ قناعت ورکړ، نو باید چې د قیامت د ورځې پورې ... د ... څوک نوموړی ناشونی ارمان ونه کړي

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څوک چې عناداً په باطله لاره ځي د الله ﷻ د سنتو مطابق هغه ګمراه کېږي. بالمقابل څوک چې د حقې لارې د اسبابو څخه استفاده کوي الله ﷻ هغه ته هدایت کوي او په همدې لارې باندې د تللو توفیق ورکوي. دا د الله ﷻ اراده ده هېڅوک د الله ﷻ اراده نه شي بدلولی.

## د دوهم تشویش د جواب خلاصه

۷ـ د دوهم تشویش (چې اتفاق او اتحاد د عنقا مثال لري) جواب ته الله ﷻ داسې اشاره کړې ده: هر شی چې د عنقا مثال لري هغه په یو وخت کښې هم تحقق نه شي موندلی، اما مسلمانانو د اتفاق او اتحاد خارجي موجودیت د لاسه نه دی ورکړی او نه یې ورکوي. مثلاً:

الف: په عالم ذر کښې خو ټولو انسانانو په یوه خوله وویلې چې: ای الله! هو ته زموږ رب یې، او هېڅوک پکښې مخالف نه وه: [الأعراف: ۱۷۲].

ب: د آدم ؑ په زمانه کښې د وخت ټول انسانان متفق وه خو د خلاف او شقاق اولنی ډبره قابیل کېښودله چې خپل ورور هابیل یې شهید کړ[1]. همدغه اتفاق او اتحاد د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه په بېلابېلو عباراتو سره روایت شوی دی[2].

ج: ټول انسانان په اتفاق سره په اسلامي فطرت سره تولد کېږي لکه چې په یوه حدیث شریف کښې د نبي کریم ﷺ د مبارکې خولې څخه ثابته ده[3].

د: کله چې د نوح ؑ بېړۍ په ځمکه باندې ودرېده او د دوهم ځل دپاره خلک په ځمکه باندې پلې شوه، نو ټول په اسلام باندې متفق وه او په همدې یکې یو دین باندې یې منګولې ښخې کړې وې، مګر د هغه ؑ د وفات څخه وروسته پکښې پخواني شقاق او خلاف بیا په وده پیل وکړ[4].

هـ: همدارنګه به په هغه وخت کښې هم ټول خلک په اسلام باندې متفق وګرځي کله چې د قیامت ورځ رانژدې شي او عیسی ؑ د اسمان څخه راښکته شي او دجال د منځه یوسي[5].

## تبصره

**۸ـ د وړاندېنیو بیاناتو څخه واضحه شوه چې په اسلام باندې د ټولو انسانانو راغونډېدل څه ناشونی شی نه دی او نه یې باید څوک د عنقا په نوم باندې یاد کړي، څو ځلې په دنیا کښې متحقق شوي دي او په راتلونکي وخت کښې به بیا هم منځ ته راځي. یو ځکه الله ﷻ موږ ته امر کوي چې د همدې مطلب د لاس ته راوړلو دپاره جهاد ته دوام ورکړو ﴿وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ﴾ [الأنفال: ۳۹] یعني: او د کافرانو سره تر هغه جهاد ته دوام ورکړئ چې ترڅو فتنه (کفر) ورک شي او ټول انقیاد خاص الله ﷻ لره وګرځي.**

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۸۶
(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۰؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۵۰
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۳
(۴) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۸۶
(۵) سنن ابن ماجه ص۲۹۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالمقابل په کفر باندې اتفاق رجې ټول خلک کافر شي او يو هم پکښې مسلمان پاتې نه شي محال کار دی، نه په تېرو شوو زمانو کښې موجود شوی دی او نه به په راتلونکي وخت کښې تحقق ومومي، نو بايد کافران دا خيال د خپلو مغزو څخه وباسي چې د اسلام لمن به ټوله کړي او په ټوله نړۍ باندې به کفري نظام حاکم کړي څکه چې دنيا د الله ﷻ په نوم باندې ودانه ده کله چې يو مسلمان هم په ځمکه باندې پاتې نه شي چې د الله ﷻ نوم ياد کړي نو دنيا به ورانېږي او قيامت به قيام کوي. لکه چې په همدې مضمون باندې نبي کريم ﷺ صراحت کړی دی(۱).

الله ﷻ فرمايي چې ﴿جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلۡكَعۡبَةَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ قِيَٰمٗا لِّلنَّاسِ﴾ [المائدة: ۹۷] يعنې: الله ﷻ محترمه کعبه د خلکو دپاره د بقا او ژوند سبب ګرځولې ده. يعنې ترهغه به دوی په دنيا باندې ژوند کوي ترڅو چې کعبه اباده وي او خلک لمونځونه کوي، کله چې دوی کعبه شريفه ـ العياذ بالله ـ ورانه کړه نو دنيا به هم ورانېږي.

## توضيحات

۱ـ داسې معلومېږي چې په هره زمانه کښې د دنيا محبت خلک د هلاکت په کندو کښې اچولي دي او په راتلونکي وختونو کښې هم د بې لارې کېدلو عمده او اساسي علت همدا يکې يو دی او بس. بايد چې مسلمانان ترې ځانونه بچ وساتي.

مګر په ياد ولرئ چې د دنيا محبت دا دی چې د دنيا په حصول کښې شريعت د پښو لاندې کړی شي او دنياوي مرام ته ځان ورسول شي. او په شرعي چوکاټ کښې د دنيا او يا د دنياوي مطلبونو لاس ته راوړل د دنيا محبت نه ګڼل کېږي.

## ټول پيغمبران عليهم السلام

۲ـ که څه هم ټول پيغمبران عليهم السلام د يو لک څلېرشت زره (۱۲۴۰۰۰) تنو په شاوخوا کښې دي، مګر د اوه ويشت (۲۷) تنو نومونه په قرآن کريم کښې راغلي دي چې د اتلس (۱۸) تنو نومونه يوازې په [الأنعام: ۸۳ـ۸۶] ايتونو کښې ذکر دي:

(۱) ابراهيم عليه السلام (۲) اسحاق عليه السلام (۳) يعقوب عليه السلام (۴) نوح عليه السلام (۵) داود عليه السلام (۶) سليمان عليه السلام (۷) أيوب عليه السلام (۸) يوسف عليه السلام (۹) موسی عليه السلام (۱۰) هارون عليه السلام (۱۱) زکريا عليه السلام (۱۲) يحيی عليه السلام (۱۳) عيسی عليه السلام (۱۴) الياس عليه السلام (۱۵) اسماعيل عليه السلام (۱۶) اليسع عليه السلام (۱۷) يونس عليه السلام (۱۸) لوط عليه السلام

او پاتې نومونه په بېلابېلو ايتونو کښې لولو:

(۱۹) آدم عليه السلام (۲۰) ادريس عليه السلام (۲۱) هود عليه السلام (۲۲) صالح عليه السلام (۲۳) شعيب عليه السلام (۲۴) ذوالکفل عليه السلام (۲۵) عُزير عليه السلام (۲۶) يوسف بن ابراهيم بن يوسف بن يعقوب عليه السلام چې په [المؤمن: ۳۴] ايت کښې ذکر دی. (۲۷) او د ټولو په آخر کښې محمد ﷺ آخر الزمان پيغمبر دی.

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۲: ۴۰۲ مسند امام احمد بن حنبل ج۳ ص۱۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د اختلاف ډولونه

دیني اختلاف په دوه ډوله دی چې یو جائز اختلاف دی او بل ناجائز.

### جائز اختلاف:

۳ـ جائز اختلاف هغه دی چې په شریعت کښې مجوز ولري او په عناد او خود غرضۍ باندې ولاړ نه وي بلکې صرف د حق د لټونې په غرض منځ ته راغلی وي لکه د مجتهدینو اختلاف چې د شرعي حکم د موندلو په غرض په داسې موضوع او حادثه کښې چې هلته ایت او حدیث موجود نه وي یو مجتهد یې د یو نص څخه استنباطوي او بل یې د بل نص څخه اخلي، خو د ټولو اجتهاد کوونکو محض د شرعي حکم موندل مطلب وي او بس. یا په بل عبارت:

اول. په دې ډول اختلاف کښې ټول اختلاف کوونکي د دین په اصولو کښې سره متفق دي او نصوصو ته ټول په ډېر اخلاص سره غاړه ږدي او محض د ورک شوي شرعي حکم د لاس ته راوړلو په غرض هر یو یوې خوا او بلې خوا ته ځغلي.

دوهم: د دې مثال داسې دی لکه چې څلور کسه ملګري وي چې انډیوالي او وروروليي یې سره پوره خوږه وي خو د دوی څخه یو ډېر قیمتي شی ورک وي، چې هر یو د هغه قیمتي شي د موندلو په غرض یو-یو طرف ته تاند وهي خو یو بل ته په درنه سترګه ګوري او یو د بل احترام ساتي.

که نوموړی قیمتي شی ورته په یقین سره څرګند شي نو ټول په هغه باندې ورغونډېږي او منګولې پرې ښخوي او که په یقین سره ورته ثابت نه شي نو هر یو ته چې د تاند وهلو څخه وروسته څه شی لاس ته ورشي او په غالب ګومان باندې ورته ثابته شي چې دا همغه قیمتي ورک شوی شی دی، همغه کلکوي.

درېیم: مجتهدین کرام هم په داسې حادثه کښې چې په هغې کښې ایت یا حدیث موجود نه وي د شرعي حکم په پلټنې پسې په ایتونو او احادیثو کښې هڅه کوي ترڅو نوموړې حادثې ته شرعي حکم پیدا کړي، که د لټون په اوږدو کښې یې په همدغې حادثه کښې ایت یا حدیث پیدا کړ نو ټول ورباندې راټولېږي او د پلټنې څخه لاس اخلي او که ورنغی نو هر یو د نصوصو په رڼا کښې په یوه حکم باندې ګوته ږدي نو وایي چې شرعي حکم په دې مقام کښې زما په غالب ګومان همدغه دی.

### د دې اختلاف د جواز دلایل:

۴ـ نوموړي اختلاف ته څکه شریعت اجازه ورکړې ده چې:

الف: په ایتونو او احادیثو کښې زښت ډېر دلایل شته چې د اجتهاد په جواز باندې دلالت کوي، که مونږ هغه ټول نصوص دلته رانقل کړو نو خبره ډېره اوږدېږي. د همدې کبله په لاندې یوه حدیث باندې اکتفاء کوو چې:

نبي کریم ﷺ معاذ ﷺ یمن ته د قاضي په صفت باندې ولېږه، د لېږلو په وخت کښې یې ورسره لاندې سوال جواب وکړ:

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ: هلته به په څه شي حکم کوې؟

• معاذ ؓ: د الله ﷻ په کتاب باندې.

نبي کريم ﷺ: که د الله ﷻ په کتاب کښې مطلبي حکم ونه مومې بيا په څه شي؟

معاذ ؓ: د نبي کريم ﷺ په سنتو، يعنې په احاديثو باندې.

نبي کريم ﷺ: که په احاديثو کښې يې هم په موندلو باندې ونه توانېږې بيا په څه شي؟

معاذ ؓ: «أَجْتَهِدُ رَأْيِي» يعنې بيا به په خپل فکر اجتهاد کوم.

نبي کريم ﷺ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ ﷺ لِمَا يُحِبُّ وَيَرْضَى»[1] يعنې ثناء او صفت دی هغه الله ﷻ لره چې د خپل پيغمبر لېږلی شوي ته يې د هغه شي توفيق ورکړ چې د الله ﷻ خوښېږي او ورباندې راضي کېږي.

نو معلومه شوه چې په اجتهاد باندې الله ﷻ راضي کېږي او د ده ﷻ خوښ دی.

ب: الله ﷻ اراده درلوده چې قرآن کريم د خلکو دپاره وروستنی کتاب وګرځوي ترڅو د قيامت تر ورځې پورې د ټولو حوادثو او ټولو واقعاتو جواب ورکړی شي. نو ځکه يې په ځينو فرعي مسئلو کښې په صراحت سره شرعي حکم ونه ټاکه ترڅو د يو پلوه د انساني عقل احترام وشي چې په شرعي چوکاټ کښې ورته شرعي حکم پيدا کړي، او د بل پلوه اسلامي احکام د ټولو زمانو او ټولو مکانو دپاره عموميت ترلاسه کړي. که دا مطلب نه وی نو د الله ﷻ څخه خو هيڅ شی نه هېرېږي لکه چې فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا﴾ [مريم: ۶۴] يعنې: او ستا رب هېروونکی نه دی.

لنډه دا چې د انسان د عقل تفاوت الله ﷻ ته ښه معلوم وه خو سره د دې هم چې ځينې احکام يې همدغه متفاوت عقل ته پرېښي دي نو معلومه شوه چې الله ﷻ په همدې اختلاف باندې راضي دی، د همدې کبله هغه مجتهد ته چې شرعي حکم واقعًا ترلاسه کړي دوه اجره ورکوي او که پکښې خطا شو نو يو اجر خو ورکوي[2]. که دغه اختلاف شرعي نه وی نو دا خو لا پرېږده چې اجر به يې نه ورکولی خطاکارانو ته به يې عذاب هم ورکړی وی.

## ناجائز اختلاف:

۵ـ ناجائز اختلاف هغه دی چې په خود غرضۍ باندې ولاړ وي، شرعي نصوص پکښې د پښو لاندې شوي وي، بلکې نصوص پکښې د خپلو خواهشاتو دپاره کارول شوي وي. دا ډول اختلاف د دې کبله نه وي چې هلته د اختلاف د ورکولو دلايل موجود نه وي او د جهالت د وجې څخه منځ ته راغلی وي، بلکې دغه اختلاف د هغه وروسته په کار اچولی شوی وي چې اختلاف کوونکي يې په بطلان باندې ښه پوره يقين او باور لري.

په دې ټولو باندې د پاسه نومړی اختلاف په فروعو کښې نه وي بلکې په اسلامي اصولو او

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۲۴۷

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۹۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اساساتو کښې وي، د مجبورۍ د کبله نه وي پیل شوی بلکې د دنیاوي اغراضو د تحصیل دپاره ذریعه ګرځولې شوې وي.

## هېر مو نه شي!

۶ـ هېر مو نه شي! چې په دې مقام کښې همدغه ناجائز اختلاف مراد دی لکه چې د همدې سورت وړاندېني ایتونه وړاندې دلالت کوي، هیله ده چې د ښه پوهېدلو دپاره یو ځل د [۲۰۰] څخه تر [۲۱۲] ایت پورې د دولسو ایتونو توضیحاتو ته وروګرځئ او د نظره یې تېر کړئ.

﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِكُم ۖ مَّسَّتْهُمُ ٱلْبَأْسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوا۟ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصْرُ ٱللَّهِ ۗ أَلَآ إِنَّ نَصْرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ ﴿٢١٤﴾﴾

[۲۱۴] ایا تاسو ګومان کوئ چې جنت ته به ورداخل شئ؛ حال دا چې په تاسو باندې به د هغه حالت په څېر حالت نه وي درغلی چې په هغو کسانو باندې ورغلی وه کوم چې ستاسو څخه وړاندې تېر شوي دي. هغوی لره دومره سختۍ او تکلیفونه رسیدلي وه او جړقول شوي وه چې د وخت پیغمبر ﷺ او هغو کسانو به ویل کومو چې ورسره ایمان راوړی وه چې: د الله ﷻ نصرت به کله راشي؟ (نژدې به وي او که لرې؟). خبردار! د الله ﷻ نصرت نژدې دی (امتحان مو په پوره کېدلو دی).

## ارتباطونه

د لاندې وجوهو د کبله دغه ایتونه د وړاندې ایتونو سره ارتباط درلودلی شي:

۱ـ وړاندې بیان شوي وه چې ځینې خلک د عناد او تکبر د کبله د اختلاف څخه لاس نه اخلي که هرڅومره دلایل هم ورته وړاندې کړی شي. دلته واضحه کېږي چې ذکر شوي لجوج (جګړه مار) خلک آخر خبره دې ته رسوي چې مؤمنان ورسره جهاد پیل کړي او د جهاد سره لازم تول تکلیفونه وګالي، داسې خیال دې څوک نه کوي چې مفت به جنت ته داخل شي.

۲ـ وړاندې ذکر وه چې د اختلاف څخه به هغه څوک بچ پاتې کېږي چاته چې الله ﷻ هدایت په نصیب کړی وي. دلته څرګنده شوې ده چې د هدایت دپاره د امتحان او ازمېښت څخه په غیر بله لاره نشته، که څوک غواړي چې د همدې هدایت په ذریعه جنت ته ورداخل شي نو امتحانونو ته دې ځان تیار کړي. دا د الله ﷻ مستمر قانون دی پخواني هم په همدې لاره تللي دي او وروستني به هم دړباندې ځي.

۳ـ هلته واضحه شوې وه چې لجوجان د لجاجت (جګړه مارۍ) څخه لاس نه اخلي او په تولو معنی سره اسلام ته نه ورننوزي. دلته څرګندوي چې یوازې په همدې هم بسوالی نه کوي بلکې هغوی غواړي چې تاسو هم خپل باطل دین ته ورواړوي، په همدې متعلق دوی د هرې ممکنې وسلې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښه کار اخلي، نو په تاسو باندې صبر او استقامت لازم دی، ترڅو د جنت لاره خطا نه کړئ او د تکاليفو د کبله مو پښې ونه ښویږي.

## د مطلب خلاصه

يعني: مؤمنانو ته په کار دي چې:

۱ـ دوی يوازې په همدې باندې اکتفاء ونه کړي چې خپل ځانونه د اختلاف څخه بچ کړي او د اسلام په ټولو احکامو کښې ورداخل شي، بلکې د دوی د وظائفو څخه دا هم ده چې په دې لاره کښې جهاد وکړي او د معاندينو مخه ونيسي.

يا په بل عبارت: لکه کافران چې خپل کفر ته د دعوت څخه لاس نه اخلي، او په همدې متعلق د هرې لارې چارې څخه استفاده کوي په مؤمنانو باندې هم بالمقابل لازمه ده چې د هغوی په خبر بلکې لا د هغوی څخه په زياته پيمانه زيار وباسي ترڅو د اسلام ډيوه بله وساتي او د معاندينو دسيسې شنډې کړي، دنيا د امتحان ځای دی د مزو او چړچو ځای نه دی.

۲ـ ای محمدي امته! تاسو په دې ډګر کښې يوازې نه ياست، پخوانيو امتونو هم رنګارنګ تکليفونه ګاللي دي، تاسو به يې هم ګالئ.

ايا ستاسو دا خيال دی چې بې د امتحانه به جنت ته ورداخل شئ او هغسې مشکلات به لا درباندې نه وي درغلي لکه څنګه چې په پخوانيو امتونو باندې ورغلي وه.

۳ـ برسېره په دې د مشقتونو په حال کښې بايد په تاسې باندې څوک دا ګومان ونه کړي چې تاسو په حقه نه ياست او دا ځکه چې ټول صالح اسلاف د مشکلاتو سره مخامخ شوي دي او لا به مخامخ کېږي. نو لکه څنګه چې خوشالي د حقانيت علامه نه ده همدارنګه مشکلات د بطلان او ناحقانيت نښه نه ده.

په هغوی باندې دومره بدني، مالي او هر ډول مشقتونه ورغلي وه او د هرې خوا څخهورباندې دومره ځمکه راتنګه شوې وه او وېره او ډار ورته متوجه شوی وه او دومره اندازې ته د کافرانو د پلوه په تنګ شوي وه چې پخپله د وخت پيغمبر ﷺ او څوک چې دده انډيوالان وه او د انډيوالۍ شرف يې په برخه شوی وه ټولو به د زياتو مشکلاتو د کبله ويلې چې ای ربه! ستا کومک او مدد به کله راشي؟

دغسې د تنګسې وختونه به په تاسو باندې هم راځي چې د ﴿ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِ ﴾ کلمې ويلو ته به مجبور شئ، خو پام کوئ چې وارخطا نه شئ، همدا د نصرت وخت دی او نصرت درته ډېر نژدې دی او همدا مو د امتحان پای ده خپلې پښې کلکې کړئ چې ښويه نه شئ.

## توضيحات

۱ـ په دې ايت کښې ټولو مجاهدينو ته تسلي او جرئت ورکول مطلوب دي چې بايد د هرې زمانې مجاهدين د پخوانيو مجاهدينو څخه عبرت واخلي او هغوی د خپلو ځانونو دپاره امامان جوړ کړي.

نبي کريم ﷺ د خپلې زمانې مجاهدينو (اصحابه کرامو ﷺ) ته هم په پخوانيو مجاهدينو باندې

Downloaded: hawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تسلي ورکوله. د لاندې حديث شريف مضمون ولولئ:
د خباب بن الارت ﷺ څخه روايت دی چې يوه ورځې مونږ نبي کريم ﷺ ته څه شکايت وکړ په داسې حال کښې چې هغه ﷺ د کعبې شريفې د سوري لاندې خپل څادر د سر لاندې کړی وه، نو مونږ وويلې چې: ايا مونږ ته د نصرت سوال نه کوې؟ او يا زمونږ دپاره دعاګانې نه کوې؟.
نو هغه ﷺ راته وويلې چې: ستاسو څخه پخوا په مجاهدينو باندې دومره تکليفونه ورغلي دي چې د دوی يو سړي ته به ځمکه ژوره کړی شوه او په هغې کښې به ودرولی شو بيا به يې ورته په سر باندې اره کېښودله او دوه ټوټې به يې واچاوه، او د ځينو څخه به يې په ژوندون باندې د اوسپنې په ګومنځو سره د هډوکو څخه غوښې ګومنځولې، خو دغو ټولو تکاليفو هغوی د خپل دين څخه نه شو اړولی (د هغوی استقامت يې نه شو خرابولی)، قسم دی چې هغه کار (دين) به الله ﷻ تمام کړي (او دومره امنيت به په ځمکه کښې قائم کړي) چې د صَنْعَاء ښار څخه به د حَضْرَمَوْت ښار ته يکې يو مسافر روان وي چې په خپل ځان باندې به د الله ﷻ څخه په غير د بل هيچا څخه نه ډارېږي او هم به په خپلو مېږو باندې د لېوه څخه په غير د بل هېڅ شي څخه په وېره کښې نه وي «وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ»[۱] يعني: مګر تاسو چالاکي (بيړه) کوئ.

## د افغان مجاهدينو حوصله

۲_ د قيامت د ورځې پورې د ټولو مجاهدينو حوصله او خصوصاً په موجوده وخت کښې د افغان مجاهدينو حوصله هم د تېرو شوو صالحو مجاهدينو په تذکر سره قوي کېږي. نو ځکه يې لاندې څو مثالونو ته اشاره کوو:

الف: په مکه معظمه کښې د هجرت څخه پخوا په مؤمنانو باندې د کافرو د پلوه زښت ډېر تکليفونه ورغلي وه چې يو مثال يې په اوله توضيح کښې د خباب ﷺ په روايت سره پوره واضحه شو.

ب: کله چې مؤمنانو مدينې منورې ته هجرت وکړ او شتمني يې په مکه معظمه کښې پاتې شوه، دومره څه يې نه درلوده چې د خپلې لوږې او تندې چاره يې ورباندې کړې وی[۲]، نو داسې حالت ورباندې ورغلی وه لکه څنګه چې په ابتداء کښې په افغان مهاجرينو او مجاهدينو باندې راغی.

ج: د أحد په غزا کښې هم مجاهدين د زياتو مشکلاتو سره مخامخ شوه خصوصاً کله چې د نبي کريم ﷺ مبارک مخ زخمي شو او اويا نفره مجاهدين شهيدان شوه[۳].

د: همدارنګه ټولو مجاهدينو ته د خندق د غزا په غازيانو کښې لوی د عبرت درس دی لکه چې الله ﷻ د دوی مشکلات او سختې په لاندې ايت شريف کښې ډېرې ښې منعکسې کړې دي[۴]:
﴿إِذْ جَآءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ ٱلْأَبْصَـٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلْقُلُوبُ ٱلْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۲۷
(۲) تفسير البغوي ج۱ ص۱۸۷
(۳) زاد المسير ج۱ ص۲۱۰
(۴) تفسير القرطبي ج۳ ص۳۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠ ۝ هُنَالِكَ ٱبْتُلِىَ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا۟ زِلْزَالًا شَدِيدًا ﴾ [الأحزاب: ۱۰، ۱۱] يعني: هغه وخت دريه زړه کړئ چې کافران درباندې هم د پاسه طرفه راغله او هم د لاندې خوا څخه. او هغه وخت چې (د ډېر شدت څخه) سترګې کږې شوې وې او زړونه ستونو ته رسيدلي وه او په الله ﷻ باندې مو ډول-ډول اټکلونه کول. په دغه خای کښې مؤمنان امتحان کړی شوه او په سخت جړق سره وجړقول شوه.

## د لغاتو معناوې

۳_ که څه هم د علم اللغة کتابونه وايي چې د "اَلْبَأْسَاءُ" کلمه د جنګ، مشقت او وهلو دپاره نوم اينبودلی شوی دی او د "الضَّرَّاءُ" کلمه هغه حالت ته وايي چې هغه د ګټې او خوشالۍ په ضد وي[۱]، مګر مفسرين کرام[۲] وايي چې:

الف: ﴿ ٱلْبَأْسَآءُ ﴾ هغه مشقت او تکليف ته ويل کېږي چې هغه د بدن او نفس پورې تعلق ونه لري نور نو که د هره طرفه وي ټولو ته نوموړی نوم اخستل کېږي لکه د وسلې او مرميو کمبود، د انتقالاتو د مصارفو نشتوالی، د سياسي اختلافاتو موجوديت، د ښو تکړه قومندانانو شهادت، د سياسي سرېو کمبود او انحراف او داسې نور.

ب: "الضَّرَّاءُ" په هغو مشقتونو باندې تفسير شوې ده چې هغه په بدنونو پورې تړاو لري لکه شهادت، زخميتوب، معيوبوالی، د ملبوساتو او غذايي موادو کمبود يا نشتوالی او داسې نور.

## زلزله څه معنی؟

۴_ د "زُلْزِلُوا" کلمه د "زَلْزَلَةٌ" څخه اخستله شوې ده چې د ځمکې جړقولو ته يې وايي، مګر دا کلمه اصلا د "زِلَّةٌ" څخه جوړه کړی شوې ده چې د ښوېېدلو معنی ورکوي، د زلزلې په وخت کښې هم د سړي پښې په ځمکه نه ټينګېږي او ښوېږي. د "ز" په توري کښې يې تکرير ځکه واقع شوی دی ترڅو د جړق په شدت باندې دلالت وکړي[۳].

مفسرين کرام وايي چې دلته د زلزلې څخه خوف او ډار مراد دی[۴]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: پخوانيو مؤمنانو باندې د مشکلاتو د کبله دومره ډار او وېره هم ورغلې وه چې پخپله د وخت پيغمبر ﷺ او دده هغه ملګري چې په صحابيت سره به يې سرلوړي هم وه د دوی د خولو څخه د زياتې تنګسې د کبله دا جمله وتله چې: ﴿ مَتَىٰ نَصْرُ ٱللَّهِ ﴾ يعني: د الله ﷻ نصرت به کله راشي؟

که يو عادي سړی خپلو ستونزو ته وارخطا شي او خپله وارخطائي په "مَتَىٰ نَصْرُ اللهِ" سره څرګندوي

(۱) لسان العرب ج۶ ص۲۰ او ج۴ ص۴۸۳؛ مفردات الراغب ص۳۰۲

(۲) تفسير المراغي ج۲ ص۱۲۶؛ التفسير الکبير ج۶ ص۲۰

(۳) زاد المسير ج۱ ص۲۱۱

(۴) تفسير الطبري ج۲ ص۱۹۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي دا څه د تعجب ځای نه دی. مګر کله چې دغه کلمه پیغمبر ﷺ او یا د هغه ملګري چې تر شاوخوا یې موجود وي ووایي او ښه یقین لري چې دا د الله ﷻ پیغمبر دی او نصرت به ورسره ضرور کوي، نو دا د تعجب ځای دی او سړي ته د مشکلاتو وزن او دروندوالی ښه پوره په ډاګه کوي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: ایا د پیغمبر ﷺ سره مناسبه وه چې د خپلې وارخطائی څرګندونه په دغسې کلمې سره وکړي چې: ﴿ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِ ﴾. او یا په بل عبارت: ایا دومره وار خطائي د پیغمبر د عصمت سره منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: همدغه سوال ته ځینو علماؤ کرامو لاندې کمزوری جواب کړی دی چې[1]:

د ﴿ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِ ﴾ ویونکي مؤمنان دي او د ﴿ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ ﴾ ویونکی پیغمبر دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: کله به مؤمنان په انتهاء درجې سره وارخطا شوه او د ﴿ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِ ﴾ چیغې به یې پورته شوې نو پیغمبر به د هغوی د وارخطائي د لرې کولو دپاره ویلې چې مه وارخطا کېږئ د الله ﷻ نصرت ډېر نږدې دی، دغه دی راورسېده.

مګر ذکر شوی جواب د یو پلوه د عربیت د قواعدو څخه مخالف دی (په تبادر سره ذهن ته نه ورځي) او د بله پلوه په تبادر سره ذهن ته نه راځي. نو ښه دا ده چې په جواب کښې وویل شي چې:

وارخطائي په دوه ډوله ده، یوه هغه ده چې د دې وېرې څخه پیدا شوې وي چې د الله ﷻ د نصرت وعده دروغ ده او که رښتیا، او بله هغه ده چې د وعدې په صدق او رښتیاتوب کښې خو یې څه شک او شبهه نه وي خو د ډېرې تلوسې څخه ورته لږ وخت هم اوږد ښکاره شي او خپل مهربان الله ﷻ ته خپل ضعف ښه ورڅرګند کړي چې: ﴿ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِ ﴾ یعنې ای الله! په مونږ خو ډېره تنګسه ده ستا نصرت به کله راځي نږدې به وي او که لرې؟

دلته همدغه دوهم ډول وارخطائي مراد ده. د همدې کبله ورته جواب وکړی شو چې: خبر اوسئ! د الله ﷻ نصرت ډېر نږدې دی: ﴿ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ ﴾.

که بالفرض اول ډول وارخطائي مطلب وي نو جواب به یې دا وی چې: "آلَا إِنَّ نَصْرَ اللهِ صَادِقٌ" یعنې: خبردار د الله ﷻ د نصرت وعده رښتیا ده دروغ نه ده.

د مفسرینو کرامو اکثریت همدغه جواب غوره کړی دی[2].

## د دې ایت نظیر

۶ـ کله چې لوط ﵇ ته د هغه په قوم باندې د عذاب د نازلېدلو وعده ورکړه شوه چې په سهار کښې به هلاک شي او ته به یې د جنجال څخه بچ شې نو لوط ﵇ چې د کافرو د لاسه ډېر زړه

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۰۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۵؛ التفسیر الکبیر ج۶ ص۲۲؛ روح المعاني ج۲ ص۱۰۴

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تنګۍ شوی وه وويلې چې: ای الله! سبا به لا کله راځېږي؟. نو الله ﷻ ورته جواب ورکړ چې: ولې سبا څه نږدې نه دی؟ لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ ٱلصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ ٱلصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ﴾ [هود: ۸۱] يعني: يقينًا د کفارو د هلاک وخت سهار دی. ای لوطه! ايا سهار نږدې نه دی؟

## يادونه

۷_ د پخوانيو مؤمنانو د پوره مشکلاتو تمثيل او بيان په ﴿ مَتَىٰ نَصْرُ ٱللَّهِ ﴾ باندې تمام شو، چې جنت ته داخلېدل څه اسان کار نه دی د مشکلاتو غرونه ترې د يوې کړۍ په شان راچاپېر دي، ترڅو چې په همدغو غرونو باندې ور ونه خېږئ هغه ته به ورداخل نه شئ، نو:

الف: د دې دپاره چې د مؤمنانو حوصله خرابه نه شي او استقامت د لاسه ورنه کړي، الله ﷻ تولو ته په تاکيد سره اعلان کوي چې ﴿ أَلَآ إِنَّ نَصْرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ ﴾ يعني: کله چې درباندې دغسې د تنګسۍ حالت درغی خبردار چې استقامت خراب نه کړئ همدا د نصرت وخت دی او په څو ثانيو کښې به مو په نصيب شي، امتحان او ازمېښت مو د کاميابۍ پړاو ته رسېدلی دی.

ب: که د دغې مرحلې په وخت کښې په مؤمنانو کښې پيغمبر موجود وي نو هغه ته وحي کېږي او د وارخطائۍ او اضطراب حالت د منځه وړي لکه چې موسی ؑ ته همدا مضمون هغه وخت ورنازل شو کله چې دوی د فرعون د لښکرو او د درياب په منځکښې محاصره شوه، الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ ۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ [الشعراء: ۶۳] يعني: نو مونږ موسی ؑ ته وحي وکړه چې درياب په امسا باندې ووهه نو درياب انفلاق وکړ او هره يوه ټوټه يې د لوی غره په څېر ځای په ځای ودرېده.

ج: او که په مؤمنانو کښې پيغمبر موجود نه وي، بلکې د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته د قيامت د ورځې پورې د هرې زمانې مؤمنان چې وي؛ نو که څه هم د وحې سلسله قطعه ده آخر الزمان پيغمبر ﷺ وفات شوی دی، د الله ﷻ د نصرت وعده ورته تازه نه شي نازلېدلی خو بايد چې نوموړې وعده ﴿ أَلَآ إِنَّ نَصْرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ ﴾ په خپل ذهن کښې راولي، نو _ان شاء الله تعالى چې_ اضطراب به يې لرې شي او حوصله به يې برابره شي.

د: مونږ افغان مجاهدين په همدغه ايت باندې حوصله برابروو او د هر مشکل په وخت کښې يې، سياسي وي او که اقتصادي، خپلې مخې ته نيسو الحمد لله اضطراب مو پرې لرې کېږي او وارخطائي مو پرې د منځه ځي.

## سوال جواب

۸_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ خپل نصرت د نهائي مشکلاتو پورې وروسته کوي؟

مونږ وايو چې: حکمت پکښې دا دی ... والله اعلم _ چې:

Downlaoded: bawarkitabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دنیا د امتحان ځای دی، ترڅو ازمېښت بشپړ شي.

ب: که د دغسې حالت څخه لا پخوا د خپل نصرت مهرباني وکړي نو امکان لري چې ځینې انسانان یې خپلو ځانونو ته نسبت وکړي، چې د توري په زور مو دغه فتحه وکړه، خو کله چې د نوموړي حالت څخه وروسته فتحه په لاس ورشي نو بیا څوک په لاپوشاپو خوله نه شي ښوروللی. لکه چې د جهاد په اوږدو کښې مونږ ته په تجربه رسېدلې ده.

## په یاد ولرئ!

۹_ په یاد ولرئ چې د دې ایت شریف مطلب دا نه دی چې د الله ﷻ نصرت د ذکر شوو مشکلاتو پورې مربوط او مشروط دی او دا څکه چې کله-کله الله ﷻ مجاهدینو ته ډېره په اسانۍ او بې مشکلاتو فتحې ورکوي؛ بلکې مطلب یې دا دی چې مشکلاتو ته هم ځانونه تکړه کړئ.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وایي چې: د ایت څخه معلومېږي چې د مشکلاتو د راتګ سره به ضرور فتحه او نصرت ملګری وي حال دا دی چې په ځینو وختونو کښې د ډېرو مشکلاتو سره-سره سړي ته نصرت نه په برخه کېږي او په ځینو وختونو کښې لا شهید کېږي هم.

مونږ وایو چې:

که څه هم ځینې مفسرین کرام په جواب کښې وایي امکان لري چې حتمي نصرت د پیغمبر ﷺ په باره کښې وي او یا د نصرت څخه د جنت نعمتونه مطلب وي، که په همدغو مشقاتو کښې په شهادت ورسېږي هم د جنت نعمتونه یې په نصیب کېږي او د الله ﷻ د نصرت څخه استفاده کوي[1]، مګر دغه جواب بعید په نظر راځي.

مونږ ته داسې ښکاري چې د نصرت څخه په امتحان کښې کامیابي مطلب ده لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ﴾ [محمد: ۷] یعني: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! که تاسو د الله ﷻ نصرت کوئ (او مشکلات ګالئ) نو الله ﷻ به ستاسو کومک وکړي او پښې به مو کلکې کړي.

نو په دې مقام کښې یې حاصل داسې کېږي چې: خبردار! د الله ﷻ نصرت ډېر درنژدې دی چې ثابت قدمه د امتحان څخه اووځئ او پښې مو ونه ښویېږي، که شهادت مو په برخه شي او یا محبوس شئ هم خو چې د ایمان څخه وانهوړئ، دا لوی نصرت دی.

لکه په یوه غزا کښې چې "حرام ﷺ" نومي صحابي کله په غشي باندې ولګېده نو غږ یې وکړ چې: «فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ»[2] یعنې د کعبې په رب ﷻ مې دې سوګند وي چې زه کامیاب شوم.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۶ ص۲۳؛ حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۱۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۱۳۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلْ مَآ أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ وَٱلْيَتَـٰمَىٰ وَٱلْمَسَـٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٢١٥﴾ ﴾

[۲۱۵] ستا څخه پوښتنه کوي چې څه شی نفقه کړي؟ (ترڅو پرې جنت ته داخل شي).

ورته ووايه هر شی چې تاسو نفقه کوئ ، هر خير چې وي هغه مور او پلار ته نفقه کړئ او خپلوانو ته او يتيمانو ته او مسکينانو ته او د لارې زوی (مسافر) ته.

او تاسو چې هر يو فعل کوئ چې د خير څخه عبارت دی نو بې شکه الله ﷻ په هغه باندې پوه دی (د هغه سره مطابقه جزا به درکړي).

## ارتباطونه

د دې ايت څخه نيولې د [۲۴۲] ايت تر آخره پورې الله ﷻ تقريبًا شپږ دېرش (۳۶) احکام بيان کړي دي چې تقريبًا دولس (۱۲) يې صرف په ازادواجي امورو پورې ارتباط لري[1] بلکې دغه احکام د هرې نوعې په مثالونو باندې مشتمل دي لکه واجب، مستحب، حرام، مکروه او داسې نور.

په دې مقام کښې د څو احکامو بيان ځکه د حکمت غوښتنه وه ـ والله ﷻ أعلم ـ چې:

۱ـ وړاندې قرآن کريم مؤمنان دعوت کړه چې د اسلام په ټولو احکامو کښې ورداخل شئ نو په کار وه چې د احکامو څو مثالونه ورته هم بيان کړي.

۲ـ وړاندې يې واضحه کړې وه چې په هره زمانه کښې الله ﷻ د خلکو د اختلاف د ورکولو دپاره احکام نازل کړي دي چې د هغو په ذريعه باندې خپلې شخړې او لانجې د منځه يوسي. په دې ايتونو کښې يې د محمدي (ﷺ) أمت دپاره د احکامو څو نمونې بيانې کړې، تر څو خپل اختلافات پرې ورک کړي.

۳ـ وړاندې ويل شوي وه چې د مشکلاتو ګالل جنت ته د ننوتلو اسباب دي، دلته يې څو احکام بيان کړه ترڅو مؤمنان پوه کړي چې محض مشکلات ګالل چې څه شرعي رنګ ونه لري څه ګټه نه شي رسولی، چې د شرعي احکامو تطبيق او تعميل پکښې مطلب نه وي.

۴ـ بالآخره د ټولو احکامو په سر کښې يې د مال انفاق کېښود ترڅو مونږ ته څرګنده کړي چې جنت ته د ننوتلو د لويو ذريعو څخه د مال انفاق هم دی. نو د مطلب خلاصه يې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: ای پيغمبره! ستا څخه مسلمانان پوښتنه کوي چې دوی څه شی نفقه کړي ترڅو ورباندې جنت ته ورداخل شي؟.

۲ـ ته ورته ووايه چې هر شی چې تاسو په لار د الله ﷻ کښې مصرف کړئ، لږ وي او که ډېر

(۱) في ظلال القرآن ج۱ ص۲۳۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره زر وي او که سپين زر، بلکې هره نوعه مال چې وي هغه ټول خير او برکت دی ورکوونکي ته خير دی، اخستونکي ته خير دی، ټولې جامعې ته خير دی، په دنيا کښې خير دی او په آخرت کښې خير دی، نو که د خیر الأموال (بهتر مال) څخه يې خيرات او صدقه کړئ نو دا خو د خير د پاسه خير دی.

۳ـ لنډه دا چې تاسو کولی شئ چې په دغه خير باندې د مور او پلار حقوق اداء کړئ او په هغوی باندې يې مصرف کړئ او د صله رحمی د ټينګولو دپاره يې په اقاربو نفقه کړئ، د زړه سوي د کبله يې په يتيمانو ولګوئ، د عمومي ترحم د وجې يې په مسکينانو مصرف کړئ چې هيڅوک درڅخه بې انفاقه پاتې نه شي، په مسافر نابلده سړي باندې يې انفاق کړئ او يا يې حتی د انسان څخه په غير په څارويو او نورو حيواناتو ولګوئ، په دې ټولو کښې ستاسو دپاره خير شته او د الله ﷻ د رضا سبب ګرځي.

۴ـ دا څکه چې تاسو د خير هر يو کار کوئ او يا د خير خبره کوئ په هغو ټولو باندې الله ﷻ پوه دی. ستاسو د اخلاص قوت هم ورته معلوم دی او کمزوري هم، هيڅ شی ترې نه ورکېدلی شي او نه ترې پټېدلی شي. نو ضرور به د خپلې پوهې او معلوماتو په رڼا کښې ستاسو د کړو وړو سره مطابقه جزا درکړي، د ده ﷻ په نزد هيڅ نېک عمل نه ضائع کېږي.

## توضيحات

۱ـ که څه هم مفسرينو کرامو ليکلي دي چې دغه ايت شريف د عمرو بن الجموح ﷺ په جواب کښې نازل شوی دی، نوموړی يو مالدار صحابي وه ډېر عمرورباندې تېر شوی وه ډېر سپين ږيری او بوډا وه، يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته راغی او پوښتنه يې وکړه چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! بِمَاذَا نَتَصَدَّقُ وَعَلَى مَنْ نُنْفِقُ»[1] يعني: ای د الله ﷻ پيغمبره! مونږ کوم شی صدقه کړو او په چا باندې يې نفقه کړو؟. خو غالبه دا ده چې همدغسې سوالونه به نورو صحابه وو کرامو ﷺ ته هم پيدا شوي وي نو څکه الله ﷻ د جَمعې په صيغه باندې ذکر شوی مطلب اداء کړ.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په ايت شريف کښې د مال سوال مطرح شوی دی چې دوی يې نفقه کړي او جواب ورته د منفق عليهم (هغه کسان چې انفاق پرې کېږي) په شرحه ورکړی شوی دی چې په فلاني او فلاني باندې يې مصرف کړئ، نو د سوال او جواب په منځکښې خو مطابقت را نغی؟

مونږ وايو چې: دې پوښتنې ته لاندې جوابونه شوي دي:

الف: دا جواب د أُسلوب الحکيم په توګه ورکړی شوی دی، يعنې تاسو بايد د دې خبرې پوښتنه ونه کړئ چې څه شی صدقه کړو، څکه چې په دغسې سوال کښې چندان ګټه نشته، بلکې دا پوښتنه وکړئ چې چاچا ته يې ورکړو[2].

---

(۱) تفسير البغوي ج۱ ص۱۸۸؛ تفسير القرطبي ج۳ ص۳۶؛ اسباب النزول للواحدي ص۴۰

(۲) روح المعاني ج۲ ص۱۰۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې سوال جواب په دوه ډول دی: یو تعلیمي دی او بل جدلي دی. په تعلیمي سوال جواب کښې ظاهري تطابق ضرور نه دی[١].

جدلي سوال جواب دې ته وایي چې پوښتنه محض د جګړې او لانجې په توګه مطرح کېږي، معلومات او ځان پوهنه پکښې مطلب نه وي.

ب: لکه څنګه چې د شان نزول څخه معلومېږي سوال هم دوه برخې درلودلې چې څه شی صدقه کړو او په چا باندې یې نفقه کړو خو الله ﷻ په سوال کښې په یو جزء صراحت وکړ چې: ﴿ مَاذَا يُنفِقُونَ ﴾ او په جواب کښې یې په بل جزء تصریح وکړه چې: ﴿ فَلِلْوَٰلِدَيْنِ ﴾ الآية؛ ترڅو په دواړو مقامونو (سوال او جواب) کښې د مذکور جزء څخه هغه جزء فهم کړی شي کوم چې ذکر نه دی، دا د بیان ډېره بلیغه طریقه ده چې په واقع کښې دواړه جزونه بیان کړی شوه خو یو ضمني او بل صریحي.

مونږ ته همدا جواب په زړه پوری ښکاري.

## دا ایت منسوخ نه دی

٣ـ ځینو مفسرینو کرامو ذکر شوی انفاق په فرضي انفاق باندې تفسیر کړی دی. څرنګه چې الله ﷻ د فرضي انفاق (زکات) دپاره د مصرف ځایونه د [التوبة: ٦٠] ایت کښې بیان کړي دي نو دوی وایي چې دغه ایت په هغه باندې منسوخ دی[٢].

مګر اکثره مفسرین وایي چې دلته یا عام انفاق مطلب دی فرض وي او که نفلي، او یا خاص نفلي انفاق مراد دی. همدا تفسیر د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم روایت کړی شوی دی[٣]. نو په دې تقدیر باندې نسخه نه راځي، او همدا ذهن ته نژدې ده او د سیاق او سباق سره ښه مطابقت لري.

﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾ ﴾

[٢١٦] په تاسو باندې (د الله ﷻ په لار کښې) جهاد فرض کړی شوی دی حال دا چې جهاد تاسو ته (په طبعیت) کښې ناخوښه دی.

او شاید چې تاسو یو شی خوښ نه کړئ خو هغه درته بهتر وي. او شاید چې تاسو یو شی خوښ کړئ خو هغه درته شر وي. او الله ﷻ پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

١ـ که څه هم د الله ﷻ په لار کښې دومره تکالیف ګالل چې د مقربو بندګانو حوصله هم تنګه کړي او د "متی نصر الله" کلمې ویلو ته مجبور شي، او همدارنګه د الله ﷻ په لار کښې مال داسې

(١) تفسیر القاسمي ج٢ ص١٩٢
(٢) تفسیر الطبري ج٢ ص٢٤٣
(٣) تفسیر ابن کثیر ج١ ص٢٥١؛ روح المعاني ج٢ ص١٠٦

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نفقه کول چې د ټولو اقشارو حقوق پوره اداء کړی شي او د خپلو او پردیو، اشنا او ناآشنا فرق پکښې ونه کړی شي؛ څه اسان کارونه نه دي، څوک چې دغسې کړنلاره د ځان دپاره غوره کوي نو هغه به ضرور طبعي غوښتنې د پښو لاندې کوي او په وړاندې به قدم اخلي؛ خو الله ﷻ مونږ د ډېرې مهربانۍ د کبله دغسې غیر طبعي -مګر معقولو- کارونو ته په داسې طریقه باندې هڅوي چې د هغو کارونو کول راته اسان شي او کوم بوج چې د هغو په کولو کښې په مونږ راځي راځخه لرې کړي، ترڅو ورته په ډېرې خوښۍ او اخلاص سره اقدام وکړو او طبعي ناخوښۍ د منځه یوسو، چې خلاصه یې داسې ده:

٢_ په تاسو باندې د الله ﷻ په لار کښې جهاد فرض کړی شوی دی. که څه هم جهاد ستاسو د طبیعت خوښ نه دی ځکه چې په جهاد کښې د مالونو نفقه کول شته، د خپل پلرنې وطن، کور او کلي څخه جدائي پکښې ضرور ده، زخمونه او دردونه پکښې پېښېږي، د سترګو، پښو او نورو غړو د پرې کېدلو بلکې د هر ډول معیوبیت د خطرونو څخه خالي نه دی، په دې ټولو باندې د پاسه د ژوند د لاسه ورکول، لوږې او تندې تېرول هم پکښې احتمال لري مګر په طبعي ناخوښۍ باندې تاسو ملامت نه یاست ترڅو مو چې دغه ناخوښي د حکم د اجراء په وړاندې خنډ او مانع واقع نه شي.

٣_ نو د دې دپاره چې تاسو دغه طبعي ناخوښي د مخې لرې کړئ نو لاندې قاعده او قانون د خانو سره همېشه په یاد ولرئ، چې:

شاید چې تاسو یو شی خوښ نه کړئ (لکه چې په طبعي توګه مو جهاد ته شوق نه کېږي) خو هغه به درته زیات ګټور وي.

او شاید چې تاسو یو شی خوښ کړئ (لکه د جهاد او د مال د نفقه کولو څخه لاس اخستل) خو هغه به درته شر وي او ستاسو به پکښې تاوان وي او په یو وخت کښې به ورباندې پښېمانه شئ.

د دې ټولو دلیل دا دی چې الله ﷻ پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ، تاسو ته د یو شي ټول اړخونه معلوم نه دي مګر الله ﷻ ته هر څه وړاندې او ښکاره، پټ او ښکاره، ټول ځرګند دي ټول تکویني کارونه او ټول تشریعي احکام یې د خیر څخه ډک دي او ټول ګټور دي.

نو که تاسو همدا قاعده د خانه سره وساتئ او واقعاتو ته په همدې رڼا کښې نظر وکړئ نو ډېر سخت او مشکل کارونه به هم درباندې اسان شي او طبعي خنډ به مو د مخې ورک شي.

## توضیحات

١_ که څوک وايي چې: د جهاد په فرضیت کښې داسې ایت نازل شوی دی لکه د روژې په فرضیت کښې، چې: ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ﴾ [البقرة:١٨٣] یعني: په تاسو باندې روژه نیول فرض کړی شوي دي؛ نو څرنګه چې روژه فرض عین ده، جهاد به هم فرض عین وي؟.

مونږ وایو چې: د جهاد په باره کښې درې ډوله ایتونه نازل شوي دي:

الف: چې عیني فرضیت ورڅخه معلومېږي لکه همدغه ایت شریف چې اوس د بحث لاندې دی.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هغه ایتونه کوم چې په مکه معظمه کښې د جهاد په هکله نازل شوي دي چې د جهاد په نه فرضیت باندې بلکې د مسلح جهاد څخه په منعه کولو باندې دلالت کوي لکه چې فرمايي: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوٓاْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ [النساء: ۷۷] یعني: هغو کسانو ته نه ګورې چې دوی ته ویل شوي وه چې د مسلح جهاد څخه لاسونه ونیسئ او لمونځونه ودروئ او زکاتونه ورکوئ.

ج: هغه ایتونه چې کفائي فرضیت يې ورڅخه څرګندېږي لکه چې فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً﴾ [التوبة: ۱۲۲] یعني: او مؤمنان داسې نه دي چې دوی ټول جهاد ته لاړ شي.

په پورتنیو درې ډوله ایتونو کښې د شریعت علماؤ کرامو په اجماع سره فیصله او تطبیق کړی دی او باید د قیامت تر ورځې پورېورباندې ټول مسلمانان عمل وکړي، هغه تطبیق دا دی چې[۱]:

۲ـ جهاد اصلًا دروژې په څېر ذاتي ښکلا نه لري ترڅو په هر وخت کښې په مؤمنانو باندې ـد اعذارو څخه په غیرـ عیني فرض وګرځي، بلکې په جهاد کښې هغه وخت حسن پیدا کېږي چې د اسلام د دعوت په وړاندې خنډ او مانع پیښ شي او یا په اسلامي سیمه باندې کافر تېری وکړي.

نو په اول صورت کښې جهاد فرض کفائي دی، یعنې که یوه ډله مجاهدین په جهاد باندې بوخت وي او د دعوت خنډونه د مخې لرې کوي د نورو مؤمنانو غاړې خلاصېږي.

او په دوهم صورت کښې جهاد کول په ټولو مسلمانانو باندې فرض عین دی، حتی په ښځو باندې هم فرض دی چې د مېړه د اجازې څخه پرته هم باید په جهاد کښې ونډه واخلي.

د پورتنې تقریر څخه څرګنده شوه چې اسلام په دعوت سره خور شوی دی، نه په زور سره. هو! د اسلام د ساتنې او د مخې څخه يې د خنډونو د لرې کولو دپاره د توري استعمال ته هم کله-کله اړتیا پېښېږي. یا په بل عبارت: مسلمانان د کافرانو په مقابل کښې تر هغه وخته توري ته نه لاس کوي ترڅو چې ورته مجبور نه شي[۲].

## هېر مو نه شي!

۳ـ هېر مو نه شي چې که د جهاد آمر په یوې خاصې ډلې باندې د جهاد د کولو امر ورکړي نو په هغوی باندې جهاد فرض عین ګرځي. مثلًا که په اوسني وخت کښې د جهاد قومندان یو ګروپ مجاهدینو ته قومنده ورکړي چې د دښمن په فلانۍ پوسته باندې اور بل کړئ، په هغوی باندې فرض ده چې نوموړې پوسته د اور لاندې ونیسي.

همدارنګه که د جهاد آمر عام نفیر اعلان کړي نو بیا هم په ټولو مسلمانانو باندې فرض عین ګرځي، د همدې قبیلې څخه د صحابه وو کرامو ﷺ جهاد هم وه چې په وخت به ورباندې فرض

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۳۸؛ التفسیر الکبیر ج۶ ص۲۸؛ تفسیر الطبري ج۲ ص۳۴۴
(۲) تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۹۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عین ګرځېده او نبي کریم ﷺ به یا په یوه خاص ټولي باندې د جهاد امر وکړ او یو طرف ته به یې سوق کړه، او یا به یې عام نفیر اعلان کړ[1].

## د "کَرْه، کُرْه" فرق

۴_ ځینې مفسرین کرام وایي چې "کَرْه" او "کُرْه" _لکه "ضَعْف" او "ضُعْف"_ په زوَر او پېښ سره څه فرق نه لري د دواړو کلمو یوه معنی ده، چې مونږ ترې په ناخوښۍ (کراهیت) سره تعبیر کوو[2].

اما ځینې نور مفسرین کرام وایي[3] چې په زوَر سره هغې ناخوښۍ ته ویل کېږي چې د خپل ځان څخه په غیر د بلې خوا ورباندې تحمیل شي لکه چې څوک په چاباندې کوم کار په زور او اجبار سره وکړي. او په پېښ سره هغې ناخوښۍ او کراهیت ته ویل کېږي چې د خپلو نفسي عواملو د کبله ورسره سړی مخامخ شي، لکه:

الف: کله-کله د یو پاک حلال شي څخه د سړي طبیعت نفرت کوي. لکه چې ځینې خلک د سویې (خرګوش) غوښه نه خوري.

ب: کله-کله د سړي طبیعت د یو شي غوښتنه کوي خو د شریعت په لحاظ سره یې ترې نفرت او ناخوښي پیدا کېږي. لکه حرام طعام او داسې نور.

ج: ځینې شیان طبیعت غواړي او شریعت هم نه وي حرام کړي خو عقلاً ورڅخه سړی ناخوښي ښکاره کوي. لکه په یوه مریض باندې چې د طبیب د پلوه د یوه حلال شي خوړل بند کړی شي.

## په جهاد کښې کوم ډول ناخوښي ده؟

۵_ جهاد د اول صورت لاندې راځي چې طبعًا پکښې ناخوښي شته خو کله چې د الله ﷻ امر ته وکتل شي چې مونږ ورباندې مکلف یو نو دغه ناخوښي د منځه ځي. د همدې کبله الله ﷻ د جهاد څخه په ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ ﴾ سره تعبیر وکړ چې په دوه جانبه جنګ باندې دلالت وکړي.

برسېره پر دې عقل هم د جهاد طبعي ناخوښي لرې کوي او دا څکه چې د جهاد نتیجه عزت او د پرېښودلو نتیجه یې ذلت او غلامي ده. همدې خبرې ته الله ﷻ اشاره کوي چې: ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ یعنې: الله ﷻ پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

## جهاد اسان دی

۶_ که څه هم په جهاد کښې طبعي کراهیت شته خو الحمد لله د شرعي او عقلي دلایلو په رڼا کښې په مؤمنانو باندې دومره اسان دی چې طبعي کراهیت یې بالکل د منځه تللی دی. که څوک یې څه مثالونه لوستل یا لیدل غواړي نو د صحابه وو کرامو ﷺ د سرښندنې بېلګې دې په ځینو

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۲۸

(۲) تفسیر الطبري ج۲ ص۳۴۵

(۳) روح المعاني ج۲ ص۱۰۶؛ مفردات الراغب ص۴۴۷

Downlaoded: bawarketabtooh.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کتابونو کښې ولولي[۱]، او د افغان مجاهدینو په شوق او ذوق سره په جهاد کښې مشغولتیا دې پکښې سمدستي په سترګو وګوري چې توله دنیا ورته ګوته په غاښ ده.

۷ـ نو کله چې پورتنۍ خبرنه په نظر کښې ونیوله شي په اسانۍ سره سړی د دې پوښتنې جواب ویلی شي چې: ایا په شرعي حکم کښې ناخوښي او کراهیت د ایمان سره منافات لري؟

د جواب حاصل دا دی چې: په جهاد کښې ناخوښي او کراهیت طبعي دی او خوښول او مینه ورسره درلودل شرعي او عقلي دي چې د ایمان سره منافات نه لري، بلکې ایمان پرې ښه ثبوت ته رسېږي داسې چې سړی د نفس او شیطان په مقابله کښې آن د توري څخه هم دریغ ونه کړي او خپله ایمانداري تولې نړۍ ته ښکاره کړي. نو هغه تکلیف ته حاجت نشته چې ځینې مفسرین کرام یې متحمل شوي دي او غیر متبادرو جوابونو ته یې لاس اچولی دی. مثلاً:

الف: دلته هغه ناخوښي مراده ده چې د مجاهدینو او هم د جهادي وسائلو د کمبود د کبله سړي ته په زړه کښې وګرځي چې مسلمانان بالکل د منځه لاړ نه شي او بېخ او بنیاد یې ونه وځي[۲].

ب: یا هغه کراهیت مطلب دی چې د سړي تمه وي چې کافران به د مسلح جهاد څخه پرته ایمان راوړي چې د یو طرفه به اسلام مخ په وړاندې لاړ شي او د بله طرفه به دوی د دوزخ د اوره بچ کړی شي[۳].

## د انسان علم کم دی

۸ـ الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې بې اندازې مهربان دی د همدې کبله په هغو احکامو کښې چې په طبیعتونو باندې درانه تمامېږي لکه جهاد، د ترېبي څخه کار اخلي او معقولیت، مقبولیت او ښه نتائج یې شرحه کوي او همدارنګه د انسان کم علمي بیانوي چې د هر شي په ښه او بد باندې نه شي پوهېدلی، لکه چې مونږ ورسره په خپل ورځني ژوند کښې ډېر مخامخ کېږو. د مثال په توګه:

الف: په یو وخت کښې به د یو شي په لاس ته راوړلو کښې د هرې وسیلې څخه کار اخلو خو په بل وخت کښې به وروباندې پښېمانه یو او وایو به چې څه بد مو کول چې دغه کار پسې ګرځېدو، او که لاس ته نه وي راغلی نو وایو به چې څومره ښه وشوه چې نوموړی شی لاس ته رانغی.

ب: بالمقابل په یو وخت کښې به راته یو کار بد ښکاري خو بل وخت به په همغه کار باندې خوشاله یو لکه چې د بدر په غزا کښې په مؤمنانو باندې په اول کښې جګړه درنه تمامه شوه خو په آخر کښې پرې ډېر خوښ شوه: [الأنفال: ۵].

ج: د موسی ﷺ او د ده د ملګري څخه چې ماهی ورک شو وروباندې خپه شوه خو کله چې بېرته راستانه شوه او د خضر ﷺ سره ملاقي شوه نو بیا وروباندې خوشاله شوه: [الکهف: ۶۲ـ۶۵].

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۳ ص۱۹۸
(۲) التفسیر الکبیر ج۶ ص۲۸
(۳) تفسیر المنار ج۲ ص۳۱۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ فرمايي: «عَجِبَ رَبُّنَا مِنْ قَوْمٍ يُقَادُونَ إِلَى الْجَنَّةِ فِي السَّلَاسِلِ»(۱) يعني: زمونږ رب ﷻ (د خپل شان سره مناسب) د داسې قوم څخه تعجب کوي کوم چې په زنځيرونو کښې جنت ته راکشول کېږي، کله چې همدغه بندي کېدل او تړل يې د مسلمانېدلو سبب وګرځي.

﴿ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَـٰتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ ٱسْتَطَـٰعُوا۟ ۚ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٢١٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ وَجَـٰهَدُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أُو۟لَـٰٓئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢١٨﴾ ﴾

[۲۱۷] ستا څخه د حرامې مياشتې څخه په دې کښې د جنګ څخه پوښتنه کوي.

ورته ووايه چې: جنګ په دې کښې لوی (جنايت) دی.

او د الله ﷻ د لارې څخه خلک منعه کول او په هغه ﷻ باندې کافر کېدل، او د المسجد الحرام څخه (د خلکو مخنيوی کول) او (بالآخره) د المسجد الحرام څخه د هغه د اهل ويستل (هجرت ته يې مجبورول، دا هر يو) د الله ﷻ په نزد ډېر لوی (جنايتونه) دي. او (برسېره په دې په) فتنه (کښې د خلکو اچول) د وژلو څخه ډېره لويه ګناه ده.

او کافران به همېشه وي چې ستاسو سره به په مقاتله باندې بوخت وي ترڅو مو چې د خپل دين څخه واړوي (مرتد مو کړي) که وسه يې وشي. او ستاسو هر څوک چې د خپل دين څخه واوړي نو د کفر په حالت کښې مړ شي، نو د دغو کسانو (نېک) اعمال په دنيا او آخرت دواړو کښې باطل شوه، او دغه کسان د اور ملګري دي، چې دوی به په اور کښې همېشه وي.

[۲۱۸] بې شکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی وي او هغه کسان چې هجرت يې کړی وي او د الله ﷻ په لار کښې يې جهاد کړی وي، دغه کسان د الله ﷻ د رحمت اميد کوي او الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط او شان نزول

۱_ په دې ايتونو کښې د جهاد د فرضيت څخه وروسته په ځينو وختونو کښې د مسلحې جګړې ممنوعيت بيان شوی دی.

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱۵ ص۱۶۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢ـ د دې ايتونو شان نزول اوږده قيصه لري[1]، چې مونږ يې په لاندې ټكو كښې رانغاړو.

الف: د هجرت په دوهم كال د بدر د غزا څخه دوه مياشتې وړاندې نبي كريم ﷺ يو ګروپ مجاهدينو ته، چې ټول اته كسه وه او مشر يې عبد الله بن جحش ؓ وه، امر وكړ چې تاسو د بطن نخله[2] په طرف لاړ شئ او دا سربسته ليک درسره واخلئ، كله مو چې دوه شپې مزل وكړ نو پاكټ بيرته كړئ او څه چې پكښې ليكلي دي هغه عملي كړئ.

ب: عبد الله بن جحش ؓ د دوه شپو مزل څخه وروسته پاكټ بېرته كړ، پكښې ليكلي شوي وه چې بطن نخلې ته لاړ شئ او هلته د قريشو ترصد وكړئ او حال او احوال يې راته راوړئ.

ج: كله چې دوى هلته لاړه د قريشو د يوه تجارتي كاروان سره مخامخ شوه چې په تجارتي مالونو باندې بار وه او څلور كسه كاروانيان يې درلوده.

د: مجاهدينو دوه كسان اسيران كړه، يو نفر تري وتېښتېده او بل يې چې عمرو بن الحضرمي نومېده ووژه، او ټوله قافله يې د غنيمت په توګه مدينې منورې ته روانه كړه.

هـ: مجاهدين په دې ګومان وه چې نن د جمادي الآخر وروستنى ورځ ده او محترمه مياشت (رجب) سبا ته پيل كېږي همدا نن د جنګ فرصت دى سبا ته بايد خپلې توري په تېكو كښې وساتو.

و: كله چې دوى د غنيمتونو او بنديانو سره مدينې منورې ته ورسېده نو د ټولو څخه وړاندې ورته نبي كريم ﷺ وفرمايل چې: تاسو ته خو ما د جنګ امر نه وه كړى، بې له اجازې مو ولې جنګ كړى دى؟.

ز: برسېره په دې په مدينه منوره كښې يوه هاها جوړه شوه چې د فلاني ګروپ مجاهدينو په محترمه مياشت كښې قتل كړى دى، مسلمانانو ته تشويش پيدا شو، خصوصًا د ګروپ مجاهدين په ډېر اضطراب كښې واقع شوه او عرض يې وكړ چې: اى د الله رسوله! مونږ خيال كړى وه چې دا د جمادي الآخر ورځ ده او په رجب باندې مو دا يقين نه وه چې هغه به رادبره شوې وي. ايا د دغسې خطا او سهوې به څه چاره وي؟.

ح: يهودانو ته د پروپاګند ښه موقع په لاس ورغله او ويل به يې چې مسلمانانو د رجب د مياشتې دوه زره كلن احترام د پښو لاندې كړ چې آن د ابراهيم ؑ څخه را په دې خوا ورته په ټوله عربي جزيره كښې ثابت وه، دوى لا د ابراهيمي ؑ ملت دعوه كوي؟

ط: مشركانو (قريشو) هم د همدې يهودي ډول سره نڅا پيل كړه او په مسلمانانو پسې يې د اعتراضاتو خولې بېرته كړې.

ي: په ځينو رواياتو كښې شته چې قريشو يو هيئت مدينې منورې ته واستاوه ترڅو د بنديانو فديه وركړي او هم نبي كريم ﷺ ته د نژدې څخه د هتک حرمت پيغور واوروي.

---

(١) تفسير القرطبي ج٣ ص٤١؛ روح المعاني ج٢ ص١٠٧؛ تفسير القاسمي ج٣ ص١٩٩؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج١ ص
٥٢١؛ تفسير ابي السعود ج١ ص٢١٧؛ في ظلال القرآن ج١ ص٢٢٥؛ تفسير ابن كثير ج١ ص٢٥٢؛ تفسير البغوي ج١ ص١٨٩
(٢) د مكې او طائف په منځكښې د يو ځاى نوم دى.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا: نو د دې تولو پوښتنو او اعتراضاتو په جواب کښې الله ﷻ ذکر شوي ایتونه رانازل کړه، چې مؤمنانو ته یې د زړونو اطمنان ورکړ او معاندینو ته غابښ ماتوونکی جواب جوړ شو چې د قیامت د ورځې پورې ترې باید مجاهدین استفاده وکړي، چې خلاصه مطلب یې په لاندې کرښو کښې لوستلی شئ:

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې ستا څخه کفار (یهود او مشرکان) د محترمې میاشتې په باره کښې بلکې په محترمه میاشت کښې د جنګ جګړې په باره کښې پوښتنه کوي چې ستا لیږلي شوي ګروپ پکښې ولې عمرو بن الحضرمي قتل کړ، ایا دا د ابراهیمي دین متابعت دی؟.

برسېره پر دې مؤمنان درڅخه د خپل اطمنان په غرض شرعي حکم غواړي ترڅو د دوی اضطراب د منځه لاړ شي او اطمنان ورته په نصیب شي.

۲ـ د دوی وارخطائي لرې کول دومره مهمه خبره نه ده څکه چې د یوه پلوه نوموړي مجاهد ګروپ ته تا امر نه وه کړی او د بل پلوه هغوی هم د محترمې میاشتې د رابره کېدلو یقین نه درلود.

په دې تولو باندې برسېره، په محترمو میاشتو کښې داسې جګړه کول چې په سرې باندې تحمیل شي (یعنې دفاعي جنګ وي) هغه خو هیڅوک حرام نه ګڼي. نو که فعلا یو مجاهد ګروپ د هغو کفارو څخه څوک مړ کړي چې آن دیارلس، څوارلس کاله پخوا یې وربانديې جنګ ورتپلی دی او پیل یې د همدوی د پلوه شوی دی نو په دې کښې څه پروا ده او د دې څه باک دی.

هو! دا بېله خبره ده چې تر اوسه پورې مجاهدینو توان نه درلود او خپله دفاع یې نشوه کولی مګر دا حق خو یې درلوده چې دفاع وکړي.

۳ـ اما ډېره مهمه خبره د معاندینو د سوال جوابول دي چې هغوی غواړي په اسلام باندې تور ولګوي او په همدغسې تعنتي سوالونو باندې مسلمانان نوم بدي کړي.

۴ـ نو دوی ته داسې جواب ورکړه چې:

په محترمه میاشت کښې جنګ جګړه او قتل قتول غټه ګناه ده او د هر چا دپاره ګناه ده، زه د دې څخه انکار نه کوم. او دا څه عجیبه خبره نه ده چې په دې باره کښې په مابانديې اعتراض وکړئ، مګر عجیبه دا ده چې تاسو د دې څخه د غټو-غټو ګناهونو مرتکب شوي یاست او لا مرتکب کېږئ خو د هغو نوم په خوله نه اخلئ او هغه د سره نه یادوئ؟.

که تاسو ربښتیا د الله ﷻ د حکم پوره مراعات کوئ او د حضرمي مرګ درته اسمانې تندر جوړ شوی وي نو مهرباني وکړئ د خپلو لاندې ګناهونو جواب راکړئ چې هره یوه د حضرمي د مرګ څخه ډېره غټه ده:

الف: د الله ﷻ د لارې څخه خلک اړول چې هجرت کولو ته یې نه پرېږدئ او د نورو عبادتونو مخه یې نیسئ او حتی غواړئ د خلکو د ایمان د راوړلو مخه بنده کړئ.

Downloaded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د الله ﷻ سره په وحدانیت کښې شریک جوړول او په ده ﷻ باندې کافر کېدل.

ج: د المسجد الحرام څخه خلک منعه کول چې حج ته یې نه پرېږدئ.

د: د المسجد الحرام څخه د هغه اهل چې مسلمانان دي او د الله ﷻ ذکر پکښې کوي، ویستل او هجرت ته مجبورول.

ایا ذکر شوي خلور واړه کارونه هر یو د الله ﷻ په نزد باندې د بېرې لوی‌لوی ګناهونه نه دي؟

ه: په دې ټولو باندې د پاسه د انسانانو تعذیبول او په فتنه کښې اچول د قتل او وژلو څخه ډېر لوی‌لوی ګناهونه دي، چې تاسو یې د دیارلس کلونو په اوږدو کښې مرتکب شوي یاست.

و: تاسو په خپلو ګرځوانونو کښې سرونه ښکته کړئ او ښه سوچ وکړئ چې په حرم شریف کښې مو کله هم په زړونو کښې تېر شوي دي چې باید د حرم شریف احترام وکړو (چې وحوش حیوانات پکښې د تعذیب څخه په امن کښې دي) او د مسلمانانو د تعذیب څخه لاس واخلو؟

تاسو خو د ږه زړه کړئ چې خومره مسلمانان مو په محترم مکان او محترم زمان کښې په قتل رسولي دي او هېڅکله مو هم د حرماتو احترام نه دی کړی.

نو په کومو خولو او کومو سترګو نن ورځ د حضرمي مرګ چې په اجتهادي خطا باندې واقع شوی دی، نه جوابېدونکی اعتراض کئ؟

۵ـ نو ای مؤمنانو تاسو څه ارشادات په نظر کښې ونیسئ او د قیامت تر ورځې پورې یې خپل دستور العمل وګرځوئ هغه دا چې:

الف: کفار هېڅکله ستاسو دوستان نه جوړېږي تو ستاسو سره به همېشه په جنګ اخته وي، ترڅو یې چې وسه او توان وي.

ب: هغوی به تر هغه تاسو سره د جنګ څخه لاس وانخلي ترڅو چې تاسو د الله ﷻ د لارې څخه واړوي او د خپلو خانونو په شان مو ګمراه او بې لارې جوړ کړي.

ج: نو پام کوئ چې د دوی په دغه یوه موافقت باندې ونه غولېږئ چې د حرماتو د احترام دعوه کوي او ستاسو خیال راشي چې لږ خو رانژدې شوه امید دی چې دوی به مسلمانان شي. او مه په دې غولېږئ چې په خینو وختونو کښې درسره جګړه نه کوي چې په خانو کښې د جګړې وسه نه ګوري او یا یې یو بل مطلب په نظر کښې نیولی وي.

د: په یاد ولرئ چې ستاسو څخه هر څوک چې د خپل دین څخه واوړي او مرتد شي او په همدې حالت باندې مړ شي نو د دوی ټول نېک عملونه ضائع دي، نه یې په دنیا کښې په ښه ورځې چې د مرګ څخه یې خلاص کړي او نه یې په آخرت کښې په درد خوري چې څه اجر او ثواب به لاس ته ورشي. دا څکه چې همدوی دوزخیان دي او په اور کښې به همېشه وي.

۶ـ دا وه د معاندینو جواب، پاتې شوه د عبد الله بن جحش ؓ د ګروپ د مجاهدینو خبره، نو په هغې کښې عمومي حکم او فیصله دا ده چې:

بې شکه هغه کسان چې دوی ایمان راوړی وي او هغه کسان چې دوی هم د الله ﷻ په لار کښې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هجرت کړی وي او هم يې پکښې جهاد کړی وي، نو همدوی د الله ﷻ د رحمت اميدوار دي.

نو دوی بايد نه ناأميدي وکړي چې ووايي مونږ ته به الله ﷻ اجر رانه کړي او نه بايد تاسو دغه سودا او تشويش ورواچوئ چې اجر به درنه کړي

او الله ﷻ بښونکی او مهربان دی. نو ځکه يې ورته اجتهادي خطا وبښله او د اجر او ثواب مهرباني يې ورباندې وکړه.

## توضيحات

۱ــ سبحان الله! هغه خبره چې تقريباً څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله پخوا مجاهدينو ته د اسلام دښمنانو کوله نن ورځ همغه خبره افغان مجاهدينو ته خلقيان او پرچميان کوي. البته کله چې د مجاهدينو په مزايلو باندې په خطا سره کوم يو ماشوم د منځه لاړ شي نو دوی د دنيا په ټولو خورونو کښې غوغا جوړه کړي چې مجاهدين د قرآن کريم څخه مخالفت کوي او ماشومان وژني. خو دوی چې په روزمره بمباريو او اسکټ توغنديو باندې عام مسلمانان د ښځو او ماشومانو په شمول شهيدانوي، کلي، مدرسې او جوماتونه ورانوي، په مليونونو خلک بې کوره کوي او په فتنه کښې يې اچوي، په لکونه معيوبوي، په زرونو مسلمانان لا په جيلونو کښې ساتي، د خپل وطن ناميس په کافرو باندې د پښو لاندې کوي او وطن پرې ورانوي؛ دا او داسې نور جنايات ورته د قرآن کريم څخه مخالفت نه ښکاري، بلکې دوی غواړي چې د قرآن کريم څخه د سپر کار واخلي ترڅو ورباندې خپلو شومو اهدافو ته خانونه ورسوي.

## ايا اوس هم د مياشتو احترام شته؟

۲ــ په دې کښې ټول علماء متفق دي چې د ذکر شوي ايت د نزول په وخت کښې د څلورو محترمو مياشتو احترام په مسلمانانو باندې لازم وه. د همدې کبله نبي کريم ﷺ د حضرمي ديت ورکړ(۱). مگر اختلاف په دې کښې دی چې ايا دغه احترام د قيامت د ورځې پورې باقي دی، لکه چې د ذکر شوي ايت د مضمون څخه معلومېږي، او که نسخه شوی دی؟

ځيني علماء کرام اول قول اختياروي چې بايد د قيامت د ورځې پورې مسلمانان په څلورو محترمو مياشتو کښې د جنگ د پيل کولو څخه خانونه وژغوري. مگر جمهور علماء کرام چې د دوی د جملې څخه احناف هم دي دوهم قول غوره کوي او د جهادي ايتونو په عموم باندې استدلال کوي. که څوک د زيات تحقيق شوق لري نو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي(۲).

هو! د احنافو څخه علامه الالوسي وايي چې د جانبينو دلايلو د اندول څخه داسې ښکاري چې انصاف د اولې دلې سره دی او د مياشتو احترام ابدي دی(۳).

---

(۱) تفسير القرطبي ج۳ ص۴۳

(۲) تفسير القاسمي ج۳ ص۲۰۸؛ تفسير الطبري ج۲ ص۲۰۶، ۳۵۳؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۵۲۲؛ تفسير القرطبي ج۳ ص۴۳

(۳) روح المعاني ج۲ ص۱۰۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتداد څه ته وايي؟

۳_ ارتداد دې ته وايي چې څوک د اسلام د يوه قطعي حکم څخه انکار وکړي، برابره خبره ده چې دا انکار په قول سره څرګند کړي او يا په عمل سره، چې د اسلام سپکاوی يا د قرآن کريم بې عزتي وکړي او يا داسې کار وکړي چې هغه د کفر پورې خاص وي لکه بوت ته سجده کول، يا د هندوانو "زينار" تړل او داسې نور.

## حَبط څه ته وايي؟

۴_ "حَبط" د "حَبَاط" څخه اخستل شوی دی، "حَبَاط" د يو بوټي نوم دی چې د څارويو ورباندې ګېډه پړسېږي (تڼدېږي) او د منځه ځي[۱].

نو هغه څوک چې د اسلام څخه وروسته بېرته کفر ته وګرځي داسې ګڼل کېږي لکه يو څاروی چې تڼد شي او هلاک شي، څه يې چې خوړلي وي هغه يې هيڅ په درد ونه لګېږي.

په دې کښې شک نشته چې څوک مرتد شي او د ارتداد په حالت باندې مړ شي نو د هغه نېک اعمال چې د مسلمانۍ په حالت کښې يې ترسره کړي وي ټول اوبه وړي او ضائع کېږي، مګر د هغه مرتد په نېکو اعمالو کښې د علماوو اختلاف دی کوم چې د ارتداد څخه وروسته بېرته اسلام ته راواوړي او د کفر څخه توبه وباسي.

شوافع رحمة الله عليهم وايي چې د نوموړي مرتد نېک اعمال نه ضائع کېږي لکه چې د ذکر شوي ايت شريف څخه همدا مضمون په تبادر سره ذهن ته راځي، نو په دې تقدير که د ارتداد څخه وړاندې يې حج کړی وه نو د حج فريضه يې اداء شوې ده او بل حج ورباندې نشته[۲].

أحناف رحمة الله عليهم وايي چې پخواني اعمال يې ټول ضائع کېږي حتی چې دوهم ځل به بيا د حج فريضه اداء کوي[۳]. دوی په هغو ايتونو باندې استدلال کوي په کومو کښې چې د ﴿ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ ﴾ کلمات نشته، لکه: ﴿ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ ﴾ [الزمر: ۶۵] يعني: که بالفرض ته د الله ﷻ سره شريک جوړ کړې نو خامخا ضرور به دې عمل ضائع شي. او داسې نور ايتونه چې د نېکو اعمالو د ضائع کېدلو دپاره ورسره په کفر باندې د مړه کېدلو قيد نشته.

## څو اوليات

۵_ لاندې څو اوليات په ياد ولرئ[۴]:

الف. مسلمانانو چې د مشرکانو (کافرانو) څخه اول سړی وژلی دی هغه همدغه عمرو بن الحضرمي دی. د ده څخه پخوا کفارو ډېر مسلمانان شهيدان کړي وه خو مؤمنانو يې د انتقام اخستلو توان نه درلود.

---

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۱۰

(۲) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۵۲۳

(۳) روح المعاني ج۲ ص۱۱۱؛ تفسير المظهري ج۱ ص۲۶۴

(۴) تفسير ابن كثير ج۱ ص۲۵۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: مسلمانانو چې اول ځل د کفارو څخه بنديان نيولي دي همدغه دوه کسان بنديان وه چې عبد الله بن جحش ﷺ مديني منورې ته لاس ترلي راوستل.

ج: اولنی غنيمت چې مسلمانانو مجاهدينو د کافرو څخه ترلاسه کړ او بيا يې د خُمس (پنځمې برخې) د ويستلو څخه وروسته په خپل منځکښې تقسيم کړ د همدغه مجاهد ګروپ غنيمت وه.

## په ياد ولرئ!

٦_ د ذکر شوو ايتونو څخه لاندې څو مطالب هم لاس ته راځي چې بايد مجاهدين يې د خپلو خانو سره په ياد ولري:

الف: که چيرې کافران د مسلمانانو د اسيرانو او يا د مسلمانانو د ماشومانو او زنانه وو څخه يو صف جوړ کړي او د مجاهدينو په مقابله کښې ترې د سپر کار واخلي نو مجاهدينو ته جائزه ده چې ذکر شوی صف ووژني يعنې دوی مباح الدم دي، نور نو د الله ﷻ کار دی چې د قيامت په ورځ ورسره هر څه کوي خپله خوښه يې ده بلکې دوی ټول د الله ﷻ په نزد شهيدان دي.

ب: مجاهدين بايد د حملې او فير کولو په وخت کښې د کفارو نيت وکړي که د دوی په فيرونو باندې ماشومان يا زنانه او يا حتی ځينې مسلمانان ووژل شي ورباندې نه ګنهګار برېږي.

ج: برسېره په دې بايد چې په همدې عمل باندې د الله ﷻ څخه د اجر او ثواب اُميد هم وکړي او داسې خيال ونه کړي چې ګنهګار نه يم نو اجر به مې هم نه وي ګټلی.

د: ايمان، هجرت او جهاد دربواړه چې سره يو ځای شي د ګناهونو د مغفرت ډېره لويه اميدواري پکښې نغښتې ده، بايد چې مسلمانان ورباندې خوشاله شي.

ه: الله ﷻ د مغفرت په مقام کښې د "قتال" کلمه استعماله نه کړه چې د وسلوال جهاد پورې خاصه ده، بلکې د ايمان او هجرت څخه وروسته يې د ﴿وَجَـٰهَدُواْ﴾ په کلمه مهرباني وکړه ترڅو د مغفرت اميدواري ټولو هغو کسانو ته هم ورکړي چې د وسلوال جهاد څخه په غير يې يو ډول اسلامي خدمت کړی وي لکه سياسي جهاد، نشراتي جهاد، مالي جهاد، راديويي جهاد، اکمالاتي جهاد او داسې نور.

﴿ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَـٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ ٱلْعَفْوَ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَـٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۗ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْيَتَـٰمَىٰ ۖ قُلْ إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ۖ وَإِن تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَٰنُكُمْ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ ٱلْمُفْسِدَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٠﴾ ﴾

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۱۹] ستا څخه د شرابو او قمار (جوارۍ) په باره کښې پوښتنه کوي. ورته ووایه چې: په دغو دواړو کښې لوی ضرر او د خلکو دپاره څه ګټې شته. او (خو) ضرر يې د ګټې څخه ډېر لوی دی.

او ستا څخه پوښتنه کوي چې هغه څه شی دی چې دوی يې نفقه کړي. ورته ووایه چې: هغه مال دی چې پخپله ورته اړتیا نه لري.

همدغه رنګه الله ﷻ ستاسو دپاره احکام بیانوي چې تاسو فکر وکړئ.

[۲۲۰] هم په دنیا کښې او هم په آخرت کښې.

او ستا څخه د یتیمانو په باره کښې پوښتنه کوي. ورته ووایه چې: دوی (یتیمانو) لره اصلاح کول (د دوی په ګټه کار کول) بهتر دي، او که دوی د خپلو خانو سره ګډ کړئ (خرڅه شریکه کړئ) نو ستاسو ورونه دي (څه باک يې نشته) او الله ﷻ مفسد سړی د مصلح سړي څخه پېژني. که د الله ﷻ اراده شوې وی نو تاسو به يې په مشقت کښې اچولي وی.

بې شکه د الله ﷻ د ارادې مخه څوک نه شي نیولی او (هر یو کار) د حکمت په بنیاد کوي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ په وړاندې ایت شریف کښې د وسلوال جهاد په هکله پوښتنه جوابه شوې وه چې په محترمه میاشت کښې يې څه حکم دی، وسلوال جهاد په نفسونو باندې طبعًا درونه تمامېږي او طبائع ورسره دلچسپي نه لري. په دې ایت شریف کښې ورسره متصله د هغو دوه شیانو په باره کښې پوښتنه مطرح شوې ده د کومو سره چې نفسونه دلچسپي لري او د هوا او هَوَس سره زيات ارتباط لري چې يو شراب دي او بل قمار، چې په هغه وخت کښې ورباندې د ځینو خواصو څخه په غیر عام خلک اخته وه، او ټولو خلکو خپل شته او دارايي د شیطان په لار کښې مصرفوله.

۲ـ د ذکر شوو دواړو پوښتنو په مناسبت د هغو خلکو پوښتنه هم مطرح شوه چې هغوی په دې فکر کښې وه چې خپله ټوله دارايي د الله ﷻ په لار کښې مصرفه کړي نو پوښتنه کوي چې د الله ﷻ د رضا دپاره به د څومره مال انفاق په کار وي؟ ايا خپلو خانو ته څه پرېږدو او که څنګه؟

۳ـ په دې پوښتنه کښې ضمنًا دې ته هم اشاره ده چې که څوک د شرابخورۍ او قماربازۍ څخه لاس واخلي نو نژدې ده چې د احتیاج څخه د اضافه مال خاوند شي چې هغه د الله ﷻ په لار کښې خرڅ او نفقه کړي هم د ده په ګوزاره به څه تاثیر نه پرېوزي او که په ذکر شوو بدو عادتونو باندې روږدی وي نو همېشه به د احتیاج او اړتیاوو سره لاس په ګرېوان وي.

۴ـ همدغو دینداره او متقیانو ته یوازې د مال په انفاق کښې تشویش نه وه چې څومره مال انفاق کړو، بلکې دوی د یتیمانو په مالونو کښې هم تشویش درلود چې (خدای مه کړه) د هغوی په مال باندې ګناهګار نه شو او د هغوی د اموالو څه برخه زمونږ سره پاتې نه شي چې الله ﷻ راڅخه ناراض شي.

۵ـ برسېره په دې مومنانو لکه څنګه چې د خپلو مالونو په باره کښې پوښتنې کولې ترڅو بې ځایه تصرف ونه کړي همدارنګه دوی د یتیمانو د مالونو د تصرف د غمه هم بې غمه نه وه، دوی

Downloaded: bawarketabtoon.com

لکه څنګه چې د خپلو مالونو په شرعي تنمیه (مال ډېرولو) باندې کلک وه همدارنګه یې د یتیمانو مالونه هم نه وه هېر کړي. نو الله ﷻ څلور واره پوښتنې په ډېره بلیغه توګه جوابې کړې چې خلاصه مطلب یې په لاندې کرښو کښې لوستلی شئ:

۶_ یعنې: ای پیغمبره! دوی درڅخه د شرابو او قمار په باره کښې پوښتنه کوي چې د دغو دواړو حکم په اسلام کښې څه دی؟، دغو دواړو خو په ټولنه کښې زښتې ډېرې ستونزې پېښې کړې دي لکه چې دوی د دې غوښتنه کوي چې د دواړو د تحریم حکم نازل شي.

نو ته صرف همدومره ورته ووایه چې: هو! په دغو دواړو کښې لویه ګناه ده یعنې داسې کارونه ترې صادرېږي چې د لویو-لویو ګناهونو لامل ګرځي. یا په بل عبارت: په دواړو کښې لوی ضرر دی چې باید اصلاح شي او خلکو ته پکښې څه ګټې او فائدې هم شته، داسې خلک چې هغوی ظاهر ته ګوري او حقائقو ته یې پوره فکر نه رسېږي هغوی د شرابو او قمار دواړو څخه څه استفاده کوي لکه تجاران چې شراب په لوړه بیه خرڅوي او دعاپران چې د قماربازانو په شاوخوا کښې ناست وي او هرڅوک چې قمار وګټي په هغوی باندې څه ناځه غوښنه مښنه وېشي او څه پیسې ورکوي.

مګر د دواړو ضرر د دواړو د نفعې او ګټې څخه ډېر دی، د عقل خاوندان باید چې په جزئي ګټې باندې ونه غولېږي او لوی ضرر ته یې متوجه شي.

۷_ ستا څخه بله دا پوښتنه کوي چې هغه کوم یو مال دی چې دوی یې د الله ﷻ د رضاء دپاره نفقه کړي، ایا ټول مال دی چې هیڅ شی خان ته پرېنږدي او که نه د مال څه برخه ده؟.

د دې په جواب کښې ورته قاطع حکم بیان کړه چې: هغه مال نفقه او خیرات کړئ کوم چې ستاسو د خپلو اړتیاوو څخه اضافه او زیات وي، ترڅو تاسو د شرابیانو او قماربازانو په څېر خپل اولادونه د فاقې سره مخامخ نه کړئ او بل چا ته یې احتیاج نه کړئ.

په دغه ډول باندې الله ﷻ تاسو ته خپل احکام بیانوي شاید چې تاسو په دنیا او آخرت دواړو کښې فکر وکړئ، نه په دنیا پورې کلک ونښلئ لکه شرابیان او قماربازان چې آخرت یې بالکل هېر وي، او نه داسې شئ چې ټول فکر او ذکر مو په آخرت پورې مختص کړئ چې د کور هر څه خیرات کړئ او هیڅ پرېنږدئ، بلکې د دنیا او آخرت دواړو مراعات وکړئ.

۸_ بل د یتیمانو په باره کښې درڅخه پوښتنه کوي چې د دوی سره ګډ ژوند وکړو؟، او مال یې د خپل مال سره ګډ کړو او خوراک او څښاک ورسره شریک کړو؟، او که نه د یتیم هرڅه د ځانو څخه جدا کړو؟.

په دې باره کښې ورته ووایه چې: د یتیمانو دپاره اصلاحي عمل، هر یو چې وي، ډېر ښه او بهتر دی، تاسو ته هم بهتر دی او یتیمانو ته هم.

نور نو تاسو فکر وکړئ چې د یتیمانو په اختلاط کښې ګټه ده او که په بېلتون کښې یې، کېدی شي چې په ځینو وختونو کښې ورته یو ګټور وي او په ځینو کښې ورته بل په فائده تمام شي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پرسېره په دې د یتیمانو د تیولي او روزنې هم ډېر مراعات وکړئ لکه څنګه چې د خپلو اولادونو په باره کښې پاملرنه کوئ دوی هم د لطف مه محروموئ. که تاسو له بېکاره شي چې د خوراک او څښاک په بېلولو کښې یتیمان د وحشت سره مخامخ کېږي، د ټولنې د آدابو او نېکو عاداتو څخه په اړوا کښې پاتې کېږي نو د ځانو سره یې شریک کړئ. هغوی خو نور څوک نه دي ستاسو ورونه دي، لکه څنګه چې تاسو په سفرونو او نورو اجتماعاتو کښې سره خوړلي شریکوئ او د دې خبرې فکر نه کوئ چې فلاني ډېره وخوړه او فلاني کمه، نو د یتیمانو په باره کښې هم په تاسو باندې واجبه نه ده چې د ذرې ذرې حساب ورسره کوئ.

۹ـ خو په دې پوه شئ چې الله ﷻ ستاسو د هر یوه عمل څارنه کوي، ستاسو اصلاحي او مفسدانه دواړه عملونه ورڅخه پټ نه دي. که یتیمان یا نور خلک وغولوئ خو الله ﷻ نه شئ غولولی څکه چې په هر شي باندې پوهېږي.

الله ﷻ په تاسو باندې ډېر مهربان دی، د همدې کبله یې فعلاً د شرابو او قمار په باره کښې د څه وخته پورې قطعي حکم نازل نه کړ ترڅو ورته ستاسو ذهنونه اماده او تیار شي. چې په اسانۍ سره ترې لاس واخلئ.

۱۰ـ که الله ﷻ په تاسو باندې په دین کښې د حرج او مشقت حکم نازلولی نو درباندې قرض کړې به یې وی چې خپل ټول مالونه د الله ﷻ په لار کښې خیرات کړئ، نو ضرور به د مشقت سره مخامخ شوي وی

که الله ﷻ درباندې رهبانیت لازم کړی وی چې یوازې د آخرت خیال به ساتئ او په دنیا کښې به هیڅ فکر نه کوئ نو هم د جنجال سره به لاس او ګرېوان وئ. او که د یتیمانو په باره کښې یې درباندې زر تولي لازم کړي وی نو هم ستاسو د کامیابۍ چانس ډېر کم وه.

دغه ټول کارونه الله ﷻ کولی شوه او هیڅا یې د ارادې مخه نه شوه نیولی خو د حکمت والا هم دی، چې د احکامو دغه ډول نازلول د حکمت غوښتنه نه وه.

## توضیحات

۱ـ په یاد ولرئ هغه مانع (بهېدونکی) شی چې سړی نښه کوي او په عربي ژبه کښې ورته خمر وايي په پښتو کښې د شرابو په نامه يادېږي. که څه هم شراب عربي کلمه ده او د څښل شوي شي په معنی ده، خو په پښتو کښې د مائعاتو په همدغې یوې نوعې پورې خاصه ده، چې خمر دي.

## د جاهلیت زمانه او شراب

۲ـ د یو طرفه د جاهلیت په زمانه کښې شراب څښل زښت ډېر دود وه او عمومیت یې درلود، او د بله طرفه اسلام غوښتل چې دغه بد رواج ته خاتمه ورکړي، نو الله ﷻ فضل وکړ د شرابخورۍ په باره کښې یې په یو خل داسې قطعي حکم نازل نه کړ چې پام کوئ شراب ونه خورئ. که دغسې یې

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي وی نو زیات احتمال وه چې د اسلام د پرمختګ په وړاندې څه خنډ واقع شوی وی او ځینو خلکو د شرابخورۍ د کبله اسلام ته شا کړې وی.

خو الله ﷻ د شرابو په باره کښې قطعي فیصله په څلورو مرحلو کښې را نازله کړه، چې وړاندېنیو درې مرحلو ورته زمینه برابره کړه او ذهنونه یې ورته تیار کړه او په څلورمه مرحله کښې یې قطعي حکم رانازل کړ. هغه مرحلې دا دي[1]:

## اوله مرحله

۳_ په اوله مرحله کښې چې مسلمانانو لا د مکې معظمې څخه هجرت نه وه کړی الله ﷻ د شرابو په باره کښې څه لنډه اشاره وکړه چې شراب د خلکو څخه سادګان جوړوي او هوښیارو خلکو ته په کار نه دي چې په دې اړه بې فکره پاتې شي لکه چې فرمایي: ﴿ وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلْأَعْنَـٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾ [النحل: ۶۷] یعني: د خرماوو او انګورو څخه تاسو نېشه کوونکی (بې هوشه کوونکی) څیز او ښه ښائسته روزي جوړوئ بې شکه په دې کښې د داسې قوم دپاره چې د عقل څخه کار اخلي لوی دلیل او برهان دی.

په دې مرحله کښې ځینې ډېر هوښیار خلک پوه شوه چې شراب به په یو وخت کښې حرام کړی شي، نو د مسلمانانو رغبت ورسره څه ناڅه مخ په کمېدو شو.

## دوهمه مرحله

۴_ کله چې مسلمانانو مدینې منورې ته هجرت وکړ نو یوه ورځې عبد الله عباس رضي الله عنهما، معاذ بن جبل رضي الله عنه او څه نور صحابه کرام رضي الله عنهم د نبي کریم ﷺ په حضور باندې مشرف شوه او ویې ویل چې یا رسول الله! د شرابو او قمار په باره کښې د اسلام څه حکم دی؟ ځکه چې هوښیار سړی بې عقله کوي او د مالونو او شتو بېخ وباسي، ته به وایې چې دوی د شرابو او قمار په باره کښې د تحریم د حکم غوښتنه کوله[2]. نو الله ﷻ همدغه ایت شریف چې اوس د بحث لاندې دی، نازل کړ.

یعني په دې ایت شریف کښې هم الله ﷻ په صراحت سره د تحریم حکم نازل نه کړ فقط عام مسلمانان یې هغو ضررونو ته ښه متوجه کړه چې ځینې خواص لا ورته په اوله مرحله کښې متوجه شوي وه، ترڅو ترې د عامو مسلمانانو توجه هم واوړي او رغبت یې ورسره کم شي. نو یوازې په همدې ټکي یې بسنه وکړه چې ګټه او ضرر پکښې دواړه شته خو ضرر یې د ګټو څخه لوی دی، هوښیارانو ته په کار دي چې د هغه شي څخه ځان وساتي کوم چې دغه دول صفت ولري.

د همدې کیله په دغې دوهمه مرحله کښې هم ځینې شراب خواره د شرابو څخه لاس په سر شوه ځکه چې د کوم شي تاوان د ګټې څخه ډېر وي په هغه کښې به څه خیر وي؟[3].

---

(۱) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۹۱

(۲) التفسیر الکبیر ج۶ ص۴۲؛ زاد المسیر ج۱ ص۲۱۶؛ اسباب النزول للواحدي ص۴۴

(۳) تفسیر الطبري ج۲ ص۳۶۱؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۱۹۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې په ايت شريف کښې خو د ﴿ إِثْمٌ ﴾ کلمه استعماله شوې ده چې په عمومي توګه ګناه ته ويله کيږي، او ښکاره ده چې په کوم شي کښې ګناه وي هغه حرام وي. نو بايد چې ټولو صحابه وو کرامو ترې اجتناب کړی وی. يا په بل عبارت: دا ايت بايد قطعي تحريم وګڼل شي؟.

مونږ وايو چې:

الف: په دې مقام کښې "إِثم" د ضرر څخه عبارت دی او دا خکه چې په مقابل کښې يې د "مَنَافِعُ" کلمه استعماله شوې ده، که "إِثم" د ګناه په معنی سره وی نو په کار وه چې په مقابل کښې يې د اجر او ثواب کلمه راغلې وی؛ د همدې کبله ځينو صحابه وو کرامو ﷺ ترې لاس وانخست[۱].

ب: په ايت شريف کښې ويل شوي دي چې په دغو دواړو کښې لويه ګناه ده يعني څوک چې دغه دواړه کارونه کوي هغه د داسې افعالو مرتکب کيږي چې د ګناه او عصيان سبب جوړيږي، چې سړی د الله ﷻ د ذکر څخه غافلوي، خپله خوله يې د اداري لاندې نه وي، اوتې بوتې وايي، په لمانځه کښې يې نواقص پيښيږي او بالآخره عداوت او دښمني خو پکښې په پوره پيمانه پرته ده[۲].

ج: ځينې مفسرين کرام وايي چې دلته د ﴿ إِثْمٌ ﴾ څخه هغه ګناه مطلب ده چې د تحريم څخه وروسته وربانديې مرتبيږي. نو معنی به يې داسې شي چې په دغو دواړو کښې د تحريم څخه وروسته لويه ګناه شته که څه هم فعلاً پکښې ګناه نشته چې لا د تحريم حکم يې نه دی نازل شوی[۳].

مګر مونږ ته دغه جواب ډير کمزوری او غير متبادر ښکاري او د صحابه وو کرامو ﷺ د سوال سره هيڅ سمون نه خوري خکه چې هغوی خو د دې پوښتنه نُه وه کړې چې د تحريم څخه وروسته پکښې څومره ګناه ده بلکې هغوی خو يې د قطعي حکم پلټنه کوله او بس، او په ايت شريف کښې د قطعي حکم د نزول دپاره څه مقدماتي جواب ورکړی شو.

د: په دې ټولو باندې د پاسه وايو چې صحابه کرام ﷺ اهل اللسان وه هغوی د قرآن کريم په مراد باندې ښه پوهيده نبي کريم ﷺ هم په دوی کښې موجود وه چې ځينې غامض مطالب به يې ورته شرحه کول. د ذکر شوي ايت څخه نه صحابه وو ﷺ تحريم فهم کړ او نه ورته نبي کريم ﷺ بيان کړ، نو معلومه شوه چې دلته د ﴿ إِثْمٌ ﴾ څخه ګناه مطلب نه ده، بلکې محض ضرر ترې مراد دی چې ټول صحابه کرام ﷺ وربانديې پوهيده.

## دريمه مرحله

۶ـ يوه ورځې عبد الرحمن بن عوف ﷺ څو صحابه ميلمانه کړه چې په پای کښې يې شراب هم وڅښل خو کله چې د ماښام د لمانځه وخت راورسيد يو صحابي وړاندې شو او په قرائت کښې يې

(۱) روح المعاني ج۲ ص۱۱۵؛ تفسير المنار ج۲ ص۳۲۲
(۲) اضواء البيان ج۱ ص۱۲۳
(۳) تفسير القرطبي ج۳ ص۶۱؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۵۲۶؛ التفسيرات الاحمديه ص۱۰۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ۝ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴾ په ځای "اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ" ولوست او د "لا" کلمه يې پرېښودله چې معنی يې بالکل غلطه شوه يعنې ورته ووايه چې: ای کافرانو! زه د هغه څه عبادت کوم چې تاسو يې عبادت کوئ. حال دا چې اصلي معنی خو يې دا ده چې: (لا اَعْبُدُ) زه د هغه څه عبادت نه کوم چې تاسو يې عبادت کوئ. نو الله ﷻ دا ايت شريف نازل کړ[1] چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقْرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمْ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُواْ مَا تَقُولُونَ ﴾ [النساء: ۴۳] يعني: ای مؤمنانو! په داسې حال کښې لمانځه ته مه ورنږدې کېږئ چې تاسو مستان او بې هوشه ياست ترڅو چې په هغه څه باندې پوه شئ چې تاسو يې وايئ.

د دې واقعې په پېښېدلو سره ټول صحابه کرام ﷺ د شرابو په اضرارو باندې ښه پوه شوه او د علاقمندانو علاقه ورسره ډېره کمه شوه ځکه چې د لمانځه وختونه خو سره اکثره اتصال لري نو ډېرو صحابه وو کرامو ﷺ ورځخه د لمانځه د خاطره ځان ساتنه وکړه.

لنډه دا چې د شرابخورۍ دپاره صرف دوه وختونه پاتې شوه او بس، يو د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته چې تر سهار پورې به نشه کوونکی په ځان باندې پوهېده (په خود کېده به)، او بل د سهار د لمانځه څخه وروسته چې د ماسپښين د لمانځه پورې به د نشې زور کېناسته.

## څلورمه مرحله

۷_ يوه ورځ عتبان بن مالک ﷺ څو صحابه وو کرامو ﷺ ته مېلمستيا وکړه چې سعد بن أبي وقاص ﷺ هم پکښې شامل وه، کله چې دوی د خوراک او څښاک څخه وروسته شراب نوش جان کړه نو د مستۍ او بې هوشۍ په حالت کښې يې په اشعارو او اوتو بوتو پيل وکړ، ترديچې وهل او ټکول پيل شوه او يوه انصاري ﷺ د سعد ﷺ ککرۍ سخته ټپي کړه.

نو د يو پلوه سعد ﷺ نبي کريم ﷺ ته د خپل زخم شکايت وکړ او د بل طرفه عمر بن الخطاب ﷺ الله ﷻ ته سوالونه کول چې: «اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانًا شَافِيًا»[2] يعني: ای الله! د شرابو په باره کښې مونږ ته واضحه حکم رابيان کړې. نو الله ﷻ لطف وکړ او قطعي تحريم يې رانازل کړ چې په [المائدة: ۹۰_۹۳] ايتونو کښې پوره واضحه شوی دی[3].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۸_ که څوک وايي چې: د شرابو منافع څه شی دي؟

مونږ وايو چې: د شرابو منافع چې په هغه وخت کښې خلکو پېژاندل لاندې شيان وه:

الف: په تجارت کښې يې خلکو ته لويې ګټې وې چې د يو طرفه شرابي سړی په نرخ کښې چندان نه کلکېږي، کېدی شي چې تجاران وربانډې څو چنده ګټه وکړي. د همدې کبله يې د ګټو نسبت

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۲

(۲) سنن النسائي ج۲ ص۳۲۲

(۳) تفسير الطبري ج۲ ص۳۶۳؛ تفسير البغوي ج۱ ص۱۹۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خلکو ته کړی دی چې ﴿ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ ﴾؛ او د بل پلوه خپل خان نه شي اداره کولی چې شراب خریداري نه کړي او لاس ترې واخلي.

ب: د لږ وخت پورې (ترڅو چې بې هوشه او نېشه وي) سړی د تولو غمونو څخه بې غمه کوي.

ج: څوک چې ورباندې عادت وي د هغه ورباندې تسکین حاصلېږي او د څه وخته پورې بې ورباندې تنده ماتېږي.

۹ـ اما د شرابو ضررونه که څه هم په هغه وخت کښې خلکو چندان نه پېژاندل، زښت ډېر دي لکه اخلاقي، اجتماعي، اقتصادي، او بالآخره صحي او داسې نور اضرار، څکه په احادیثو کښې د "أم الخبائث" په نامه باندې یاد شوي دي، نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې: «اجْتَنِبُوا الْخَمْرَ فَإِنَّهَا أُمُّ الْخَبَائِثِ»[۱] یعني: د شرابخورۍ څخه ځان ساتنه وکړئ څکه چې دا د خبائثو (پلیتیو) مور ده.

د همدې کبله په څینو کفري دولتونو کښې هم په قانوني توگه شراب ممنوع گرځول شوي دي که څه هم په عمل کښې ورباندې عام کافران اخته دي[۲].

څینو مفسرینو کرامو یې د ضررونو اوږد نوملیک لیکلی دی[۳]، که څوک یې شوق لري نو هلته دې مراجعه وکړي. مگر مونږ یې دلته صرف لاندې دوه حادثې رانقلوو:

الف: یو سړی په شرابو باندې مست وه چې د خولې څخه یې لاړې او څگونه روان وه، سپي یې خوله څټله نو شرابخور ورته دعا کوله چې "أَكْرَمَكَ اللهُ" یعني: الله ﷻ دې تا مکرم وگرځوي چې خوله دې راپاکه کړه[۴].

ب: یوه ورځې یوه شرابي په خپله لپه کښې متیازې کولې او خپل مخ یې ورباندې وینځه او دا دعاء یې لوستله چې: "الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ الْإِسْلَامَ نُورًا وَالْمَاءَ طَهُورًا"[۵] یعني: هغه الله ﷻ ته حمد او ثناء ده چې اسلام یې رڼا گرځولی دی او اوبه یې پاکوونکې گرځولې دي. تا به ویل چې د رود په غاړه ناست دی او د لمانځه دپاره اودس کوي.

## د نامه بدلون گټه نه لري

۱۰ـ هیڅکله یو شی د نامه په بدلون سره حقیقتًا نه بدلېږي لکه چې په تېر شوي مثال کښې شرابخور سړي په خپلو متیازو باندې د پاکوونکو اوبو نوم کېښود.

افسوس چې نن ورځې داسې خلک شته چې په شرابو باندې بل نوم ږدي، لکه د "بیر" په نامه باندې یې یادوي او وایي چې مونږ خو بیر څښو، شراب خو نه څښو.

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۳۲۰

(۲) الجواهر للطنطاوي ج۱ ص۱۹۹

(۳) تفسیر المراغي ج۲ ص۱۴۰؛ تفسیر القاسمي ج۳ ص۲۱۳

(۴) تفسیر القرطبي ج۳ ص۵۷

(۵) روح المعاني ج۲ ص۱۱۴

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ ربښتيا ويلي دي چې: «لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا»[1] يعني: زما د امت څخه به ځينې خلک هرومرو شراب وڅښي خو په بدل نوم باندې به يې يادوي.

## "مَيْسِر" څه ته وايي؟

١١_ د "مَيْسِر" كلمه د "يُسْر" څخه اخستله شوې ده. "يُسْر" اسانۍ ته وايي، په قمار او جوارۍ باندې څکه دغه نوم اينبودل شوى دى چې د خپل ځان دپاره په اسانۍ سره ثروت او پانګه ګټلى شي او يا د بل چا اسانې او ثروت د منځه وړلى شي او د (عُسْر) مشقت سره يې مخامخ کولی شي[2].

## قماربازي او د جاهليت زمانه

١٢_ د جاهليت په زمانه کښې قماربازي هم ډېره دود وه مګر د شرابو درجې ته نه وه رسېدلې خو ډېر خلک ورباندې عادت وه او فسادونه يې شرابخورۍ ته ورنژدې وه نو څکه صحابه وو كرامو ﷺ د شرابو سره قماربازي يو ځاى كړه او د دواړو د حكم پوښتنه يې د نبي كريم ﷺ څخه په يو كرت وكړه[3].

## د قماربازۍ د تحريم تدريج

١٣_ د قماربازۍ په تحريم کښې هم الله ﷻ په يو ځل قطعي حكم نازل نه کړ لكه د شرابو په دوهمه مرحله کښې چې واضحه شوې ده، يو ځل يې عام مسلمانان صرف د قمار بازۍ اضرارو ته متوجه کړه چې ضرر او ګټه پکښې دواړه شته مګر ضرر يې په ګټه باندې ډېر دى، او په دوهم ځل يې په قطعي توګه حرام وګرځول او د [المائدة: ٩٠_ ٩٢] درې ايتونه يې نازل کړه.

## د قماربازۍ اضرار

١٤_ د قماربازۍ اضرار د شرابو د اضرارو څخه چندان کم نه دي، خو لاندې څو اضرار يې د مثال په توګه ولولئ:

الف: قمار د عداوت او دښمنۍ د اسبابو څخه دى، خصوصاً كله چې قمارباز خپله دارايي د لاسه ورکړي نو كه وسه يې وشي نه په وهلو ايله كوي او نه په وژلو. لكه چې مونږ په خپل ژوند کښې دغسې واقعات ليدلي دي.

ب: قمارباز سړى د كار او كسب سره هيڅ علاقه نه لري ټول ذكر او فكريې د قمار په ګټلو او بايللو کښې وي، د قمار څخه مهم كسب ورته بل څه نه ښكاري. نو د دغسې سړي څخه د وطن او وطندارانو د خدمت تمه كول عبث دي، نه ورسره د فقيرانو د مړولو غم وي او نه په يتيمانو کښې چرت وهي.

د همدې كبله الله ﷻ د قمار او شرابو د سوال د حل كولو څخه وروسته د فقيرانو او يتيمانو د

---

(١) سنن ابي داود ج٢ ص١٦٣

(٢) التفسير الكبير ج٦ ص٤٨

(٣) التفسير الكبير ج٦ ص٤٢؛ زاد المسير ج١ ص٢١٦

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشکلاتو د حل کولو سوالونه مطرح کړي دي، ترڅو مسلمانان دې ته متوجه کړي چې د شرابو او قمار څخه ځانونه بچ کړي او د فقیرانو او یتیمانو غم وخوري.

ج: قمار د بې عقلۍ او سادګۍ ډېره لویه نښه ده چې خپله شته دارایي محض په دې توهم او ګومان په خطره کښې اچوي چې ګټه به وکړم او د بل چا دارایي به ځان ته راکش کړم.

د: قمارباز سړی همېشه د لمانځه او د الله ﷻ د ذکر او فکر څخه غافل وي کله چې په قمار کښې مشغول شي نو بیا د هیڅ شي پرواګیر نه وي.

ه: د قماربازۍ څخه د اعصابو بیماري پیدا کېږي، چې برسېره په ډېرو نورو جنایاتو د انتحار (ځان وژنې) لامل هم ګرځي.

و: قماربازان زړه سوی او ترحم نه لري حتی کله-کله خپل ټول مال او عیال په قمار باندې بایلي او چا چې ترې ګټلي وي هغه ته یې په لاس ورکوي، کېدلی شي چې هغه یې په بل چا باندې بایلي او د غلامانو په څېر یې بل ته په لاس ورکړي. دا ډول قمار د جاهلیت په زمانه کښې هم رواج وه[۱].

## د قماربازۍ منافع

۱۵_ که څه هم په قماربازۍ کښې څه داسې مهمې ګټې نشته چې د یادولو وړ وي خو الله ﷻ د خلکو د تانیس دپاره وفرمایل چې څه ناڅه لږه ګټه هم پکښې شته.

که بالفرض دغه ناچیزه ګټه یې نه وی یاده کړې نو د وخت خلکو خصوصاً یهودانو به په ډېر لوړ اواز سره ویلې چې قرآن کریم څومره بې سنجښه کتاب دی چې د قماربازۍ منافع یې لا تر اوسه نه دي درک کړي او په لاندې منافعو یې بالکل سترګې پټې کړي دي:

الف: امکان لري چې په یوه دقیقه کښې یو فقیر سړی د قمار په ذریعه د ملیاردونو-ملیاردونو څښتن شي، حال دا چې نه به ورباندې سترړی شوی وي او نه به ورباندې په تکلیف شوی وي.

که بالفرض ذکره شوې سرمایه په کسب سره ترلاسه کوي نو باید چې لسګونه کلونه عمر یې په لاس ته راوړلو کښې تېر کړي.

ب: په قمار کښې د فقیرانو دپاره څومره ګټه ده، چې هرڅوک یې وګټي ګردچاپېر ناست فقیران بې برخې نه پرېږدي او ضرور په هغوی باندې څه ناڅه انفاق کوي، خصوصاً د وخت په مروج قمار کښې چې د ګټلي شوي اوښې ټولې غوښې به یې په فقیرانو باندې وېشلې او پخپله به یې ترې هیڅ استفاده نه کوله.

## د قمار ډولونه

۱۶_ که څه هم قمار څه منحصر صورتونه نه لري بلکې د زمانو او وختونو په لحاظ او بلکې د وطنونو او ممالکو په اعتبار سره په بېلوبېلو څېرو کښې څرګندېږي، خو لاندې څو ډولونه یې محض د مثال په توګه ولولئ، نه د انحصار په توګه:

---

(۱) الجواهر ج۱ ص۱۹۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په عربو کښې د قرآن کريم د نزول په وخت کښې د غشو قمار ډېر مروج وه چې دوی د قمار بازۍ دپاره لس غشي درلوده چې ځينو ته يې برخه تعينه کړې وه او ځينې پکښې بې برخې وه. دوی به په دغو غشو باندې په لاندې ډول قمار کاوه:

چې څو کسانو به اوښه په يو ټاکلې نرخ باندې خريداري کړه او بيا به يې د ذبح کولو څخه وروسته لس برخې کړه، بيا به يې ذکر شوي لس غشي په يوه کڅوړه کښې واچول او د دوی په نزد به يې يوه عادل سړي ته ورکړه چې هغه به د يو پلوه د يو شريک نوم اخست او د بله پلوه به يې د کڅوړې څخه د هغه په نوم يو غشی راويسته، د چا په نامه باندې به چې برخه وال غشی راووت نو هغه به برخه اخسته خو د اوښ د قيمت څخه به معاف وه، مګر ګټلې غوښه به يې پخپله نه خوړه او صرف په فقيرانو باندې به يې وېشله او دا کار به يې مېړانه ګڼله يعنې په دې ډول قمار کښې به يوازې د فقيرانو ګټه وه او بس.

د اوښ قيمت صرف د هغه چا په غاړه لازمېده چې د هغه په نوم به بې برخې غشی راووت، نو دغه شخص به ټول قيمت پرې کاوه او د غوښې څخه به محروم وه[۱].

ب: ځينې قماربازان په شطرنج او پچوس باندې قمار کوي.

ج: ځينې خلک د حيواناتو په جنګ اچولو باندې قمار ترسره کوي، مثلاً چرګان يا مرزان سره په جنګ اچوي، د چا چرګ يا مرز چې په جنګ کښې مغلوب شو نو خاوند يې تعين شوې روپۍ بايللې وي.

د: ځينې د کاغذاتو په قطعاتو باندې همدا عمل ترسره کوي چې قطعه بازي ورته وايي.

ه: ځينې د هګيو جنګولو په صورت کښې قماربازي عملي کوي.

و: ډېر مشهور يې د لاترۍ صورت دی، چې حتی د حکومتونو په کچه وربانديې په دې عصر کښې خلک اخته دي.

لنډه دا چې د قمار ټول صورتونه حرام دي برابره خبره ده چې په اوسنۍ زمانه کښې مروج وي او که لا وروسته به رواج ته راوړاندې شي، حتی چې ماشومان وربانديې لوبې کوي او ګټل او بايلل پکښې تحقق مومي هغه ټول حرام دي[۲].

## د عفوې معنی

۱۷_ که څه هم د "عَفْوَ" کلمه د ګناه څخه د تېرېدنې او هم د زيادت په معناوو باندې استعماله شوې ده، مګر په دې مقام کښې د عبد الله بن عباس رضي‌الله‌عنهما د تفسير په مطابق هغه مال ته "عَفْوَ" ويل کېږي چې د سړي د حاجت څخه اضافه وي[۳].

لکه چې همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې اشاره کړې ده چې: «خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا

(۱) البحر المحيط ج۲ ص۱۵۵؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۱ ص۵۲۴

(۲) تفسير الطبري ج۲ ص۲۰۹؛ التفسير الكبير ج۶ ص۴۸؛ روح المعاني ج۲ ص۱۱۴

(۳) مفردات الراغب ص۳۵۱؛ زاد المسير ج۱ ص۲۱۹؛ تفسير القرطبي ج۳ ص۶۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ»[۱] يعني: په خيراتونو کښې هغه خيرات بهتر دی چې د غنا د پلوه وي، او په هغه چا باندې شروع وکړه چې ستا په عيال (نفقه خورو) کښې شامل وي.

## سوال جواب

۱۸ـ كه څوک وايي چې په دې مقام کښې کوم ډول انفاق مطلب دی؟، که فرضي انفاق مطلب وي نو هغه خو پوښتنې ته حاجت نه لري ځکه چې د هغه اندازه خو په شريعت کښې معلومه ده، او که نفلي انفاق مراد وي نو هغه خو د همدې سورت په [۲۱۵] ايت کښې جواب شوی دی ځکه چې هلته د نفلي انفاق څخه پوښتنه شوې وه، لکه چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه همداسې تفسير روايت شوی دی[۲].

مونږ وايو چې: دلته د مطلقې صدقې پوښتنه مطرح شوې ده چې دواړو ته شامله ده[۳]، په فرضي انفاق کښې هم پوښتنې ته حاجت پيښيږي چې که چرته نفقه کوونکی وغواړي چې د تعين شوې اندازې څخه اضافه او يا ټول نصاب صدقه کړي.

نو د جواب حاصل به داسې کيږي چې که د معينې اندازې څخه اضافه صدقه کوئ نو بايد چې خپل خان او اولاد په احتياج کښې واقع نه کړئ بلکې هغه څه صدقه کړئ چې ستاسو د حاجت څخه اضافه وي ترڅو داسې نه شي چې نن صدقه کوئ او سبا ته د صدقې غوښتلو ته مجبور شئ. لکه چې فرمايي: ﴿ وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴾ [الفرقان: ۶۷] يعني: او مؤمنان هغه کسان دي چې کله انفاق کوي نو نه اسراف کوي (چې خانونه احتياج کړي) او نه تنګي کوي او په همدې منځکښې کلک ولاړ وي.

که څه هم په وړاندې ايت کښې د نفلي انفاق څه اجمالي جواب شوی وه چې: ﴿ قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ ﴾ [البقرة: ۲۱۵]، خو په دې ايت شريف کښې به پوره تفصيل بيان شوی دی.

اوکه ووايو چې د سوال په تکرار سره جواب هم تکرار شوی دی يا دا چې هغه د يوې ډلې د سوال جواب وه او دا د بلې ډلې، هم بده نه ده لکه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت شوی دی[۴].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۹ـ که څوک وايي چې: د پورتني بيان څخه څرګنديږي چې د ټول مال خيراتول او يا د خپل احتياج څخه د بل احتياج وړاندې کول بهتر کار نه دی، حال دا دی چې الله ﷻ په بل ځای کښې دغسې کار د مؤمنانو د ښو صفاتو څخه ګڼلی دی لکه چې فرمايي: ﴿ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﴾ [الحشر: ۹] يعني: او دوی نورو ته په خپلو خانونو باندې غوره والی ورکوي اګر

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۸۰۶
(۲) تفسير ابن كثير ج۱ ص۲۵۱، روح المعاني ج۲ ص۱۰۶
(۳) تفسير الطبري ج۲ ص۲۱۵
(۴) روح المعاني ج۲ ص۱۱۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که په دوی پورې د فاقې حالت وي (چې ډېر احتیاج لري).

په همدې مضمون باندې د نبي کريم ﷺ څخه ډېر احاديث هم روايت شوي دي. لکه چې ځينو مفسرينو کرامو يې يوه مجموعه راغونډه کړې ده[۱].

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د انفاق دپاره يو عام تشريعي قانون بيان شوی دی چې په ټولو مسلمانانو باندې په ټولو زمانو کښې د تطبيق وړ دی، او د ايثار (په خان باندې د بل غوره کول) ايتونه او احاديث استثنائي حيثيت لري چې ځينې خواص ورباندې عمل کولی شي چې احتياج يې حوصله نه خرابوي او استقامت يې نه کمزوری کوي او د صحابه وو کرامو ﷺ په څېر صابرين وي.

## دنياوي کسبونه کفائي فرض دی

۲۰_ ټول دنياوي اکساب او حرفې لکه انجينري، زراعت، تخنيک او داسې نور فرض کفائي دي. که يوه ډله مسلمانان يې زده کړي د ټولو ورباندې غاړې خلاصېږي او که نه نو ټول ګناهګاران دي[۲]، څکه چې الله ﷻ مونږ هڅوي چې په دنيا او آخرت دواړو کښې فکر وکړو: ﴿ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ۝ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾.

په همدې مضمون باندې د دې سورت [۲۰۱] ايت هم دلالت کوي چې مونږ ورباندې هر يو لمونځ ختموو چې: ﴿ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْـَٔاخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴾ الآية.

## د انډيوالۍ قانون

۲۱_ د دې ايت څخه مونږ ته د انډيوالۍ ډېر په زړه پورې قانون لاس ته راځي چې الله ﷻ په خپل فضل سره د يتيمانو په باره کښې بيان کړی دی هغه دا چې:

که څو کسه انډيوالان په مساوي اندازه څوری جوړ کړي او د همغې څوري څخه په شريکه توګه خرڅ کوي هيڅ باک يې نشته[۳]، که څه هم ځينې به ژر مړېږي او ځينې به ډېره خوري او خېټور به وي. که الله ﷻ لطف نه وی کړی نو مونږ به په ټولو سفرونو کښې د سخت جنجال سره مخامخ وی څکه چې د هيچا د وسې پوره نه ده چې کېونه او غړېونه هم وشمېري او هم يې په اندازه کړي ترڅو يوه ملګري ته د بل حق ورنه شي.

## يادونه

۲۲_ په دې مقام کښې الله ﷻ ورانډې او ېېرته شپږ سوالونه د خلکو د پلوه مطرح کړي دي څو په اولنيو درېواړو کښې يې ورسره عاطف "و" نه دی نازل کړی او نور درېواړه يې د ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ ﴾ عاطف "و" په شمول نازل کړي دي.

---

(۱) تفسير المظهري ج۱ ص۲۷۳
(۲) تفسير المنار ج۲ ص۳۳۹
(۳) التفسيرات الأحمدية ص۱۰۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مفسرين کرام وايي چې امکان لري چې د وروستنيو درېواړو سوالونو زمانه به يوه وي، چې خلک درځخه د فلاني او فلاني شي پوښتنه کوي نو دغسې-دغسې جوابونه ورته ورکړه، والله ﷻ اعلم[۱]. البته چې د ځينو مناسباتو د کبله يې په منځو کښې څه نور احکام هم بيان شوي دي.

﴿وَلَا تَنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤۡمِنَّۚ وَلَأَمَةٞ مُّؤۡمِنَةٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكَةٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَتۡكُمۡۗ وَلَا تُنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤۡمِنُواْۚ وَلَعَبۡدٞ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكُمۡۗ أُوْلَٰٓئِكَ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ وَٱلۡمَغۡفِرَةِ بِإِذۡنِهِۦۖ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾﴾

[۲۲۱] او مشرکانې ښځې تر هغه په نکاح باندې مه اخلئ چې ترڅو ايمان راوړي. او خامخا ايمانداره وينځه درته د مشرکې (اصيلې) ښځه ډېره بهتره ده اگر که هغه (مشرکه اصيله) تاسو په تعجب کښې اچوي (هغه مو خوښېږي).

او مشرکانو ته تر هغه (مؤمناني ښځې) په نکاح مه ورکوئ چې تر څو هغوی ايمان راوړي. او خامخا ايماندار غلام درته د مشرک (اصيل) ځخه ډېر بهتر دی اگر که هغه (مشرک اصيل سړی) تاسو په تعجب کښې اچوي (هغه مو خوښېږي).

دوی (مشرکان او مشرکانې) اور ته بلل کوي. او الله ﷻ جنت او مغفرت ته په خپل توفيق سره بلنه کوي. او (الله ﷻ) خپل احکام خلکو ته بيانوي شايد چې دوی تذکر وکړي (پند ترې واخلي).

## ارتباطونه او شان نزول

۱ ـ که څه هم ځينې مفسرين کرام وايي چې دا مقام د احکامو د بيان دی او حاجت نشته چې د هر يوه حکم د بل سره ارتباط ولټوو[۲]، مگر مونږ ته د احکامو بيان هم بې ارتباطه او بې پيونده نه ښکاري. نو خکه په دې باره کښې لاندې وجوهو ته د لوستونکو پام رااړوو:

الف: په وړاندې ايتونو کښې د شرابو او قمار په باره کښې مقايسوي بحث وه چې اضرار يې د منافعو څخه اضافه دي.

په دې ايت کښې هم مقايسوي بحث دی چې د مسلمانې ښځې او مسلمان سړي ازدواج د مشرک سړي او مشرکې ښځې څخه خير او بهتر دی مگر دلته د مقابل طرف په تحريم باندې صراحت وشو چې مشرکه ښځه مه په نکاح کوئ او مشرک ته مسلمانه ښځه په نکاح مه ورکوئ او هلته يې په مقابل طرف باندې صراحت نه وه شوی.

(۱) التفسير الكبير ج۶ ص۶۶؛ تفسير ابي السعود ج۱ ص۲۲۲
(۲) تفسير المنار ج۲ ص۳۴۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دې ايت کښې د وړاندې ايتونو د مضامينو موانع د منځه ورل شوي دي، چې که بالفرض تاسو د مشرکانو سره ازدواجي ارتباط ولرئ نو ممکنه ده چې د هغوی د شرابخورۍ او قماربازۍ خاصيت او په فقيرانو او يتيمانوباندې عدم ترحم تاسو ته هم درانتقال شي، په اختلاط کښې دا خطر شته.

٢ـ مفسرينو کرامو د دې ايت په شان نزول کښې متعدد روايات ليکلي دي[1] چې د هغو د جملې څخه مونږ په يوه روايت باندې اکتفاء کوو چې لنډيز يې لاندې لوستلی شي:

الف: أبو مرثد ﷺ يو زړور صحابي وه چې نبي کريم ﷺ به مکې معظمې ته استاوه ترڅو هغه مسلمانان چې د هجرت کولو لارې چارې ورته نه وي معلومې او يا يې د هجرت کولو توان نه درلود، د مشرکانو څخه راپټ کړي او دار الهجرت مدينې منورې ته يې په غلا راورسوي.

ب: نوموړی صحابي ﷺ مکې معظمې ته لاړ، هلته ورته يوې مشرکې ښځې چې "عناق" نومېده د نکاح وړانديز وکړ، ده ورته "هو" وکړه خو په دې شرط چې د نبي کريم ﷺ څخه اجازه واخلي.

ج: کله يې چې د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه نو ذکر شوی ايت شريف نازل شو[2]، چې خلاصه مطلب يې دغه دی:

## د مطلب خلاصه

١ـ يعني: د مشرکو ښځو د نکاح کولو څخه خانونه وساتئ ترڅو چې ايمان راوړي او مسلماني شي. او دا ځکه چې ايمانداره وينځه د اصلي مشرکې ښځې څخه ستاسو دپاره بهتره ده او د مشرکې وينځې څخه خو په طريق أولی بهتري لري.

ممکنه ده چې د يوې مشرکې ښځې ښايست او يا نور شيان ستاسو خوښ شي او رغبت مو د هغې طرف ته زيات شي خو هغه به هيڅکله د مؤمنې وينځې ښېګڼو ته ونه رسېږي او نه به ورسره سيالي وکړی شي.

٢ـ همدارنګه ايمانداره ښځه مشرکانو ته په نکاح مه ورکوئ دوی هغوی ته جواز نه لري ترڅو چې هغوی ايمان راوړي او ستاسو سره همعقيده شي، نو که د يوې مسلمانې ښځې مشرک سړی خوښ شي چې يا ښه ځواني ولري او يا يې مال او ثروت نظر جلب کړي نو تاسو يې مخه ونيسئ او مه يې پرېږدئ چې په نکاح باندې يې واخلي.

دا ځکه چې ايماندار غلام د مشرک اصيل څخه بهتر دی او اصيل مسلمان خو بالکل د مشرک سره بايد مقايسه نه شي، که څه هم د هغه راښکون ډېر وي او ستاسو توجه ځان ته اړوي.

٣ـ دغه مشرکانې ښځې او مشرکان سړي برسېره په دې چې ښايست، مال، چوکۍ او نور د اعجاب شيان يې عارضي دي دوزخ ته هم بلنه کوي، ممکنه ده چې په خوله باندې يا په اختلاط او ناستې ولاړې باندې مو اور ته وبلي، که نور هيڅ ونه شي د دې خبرې خطر خو زښت ډېر دی چې

---

(١) البحر المحيط ج٢ ص١٦٣؛ روح المعاني ج٢ ص١١٨؛ زاد المسير ج١ ص٢٢١؛ تفسير القرطبي ج٣ ص٦٧

(٢) تفسير البغوي ج١ ص١٩٥

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حرامو کارونو او ګناهونو سره مو حساسیت کم شي، شراب او قمار به درته ډېر بد نه ښکاري، چرس او چلم سره خو به اموخته شئ، او د سګرټو لوګي به درباندي بد نه لګېږي، په فقیرانو باندي به مو زړه ډېر درد نه کوي او په یتیمانو باندي به مو ترحم کم شي.

۴ـ بالمقابل الله ﷻ تاسو جنت ته دعوت کوي په داسې احکامو باندي مو مکلف ګرځوي چي هغه ستاسو دپاره د جنت د داخلولو سبب ګرځي او د دوزخ څخه مو لرې کوي.

برسېره په دې الله ﷻ تاسو ته د مغفرت لارې درښیي چي د ده ﷻ په توفیق سرهورباندي لاړ شئ او د ګناهونو څخه خلاص شئ نو د مشرکانو کرېلاره بالکل د اسلام د کرېلارې سره تفاوت لري، باید چي خانونه د خطري مواقعو څخه بچ کړئ او ورنژدې نه شئ.

۵ـ اوس خو پوه شوئ چي د الله ﷻ احکام د خلکو دپاره څومره ګټور دي او په څومره مستنده طریقه باندي یې درته بیانوي چي په زړونو کښي ځای ونیسي او سرونه مو پرې خلاص شي. د الله ﷻ په احکامو کښي ګټې او حکمتونه دومره څرګند دي چي چندان فکر ته یې حاجت نشته هر عاقل ورباندي پوهېږي که څوک په څه غفلت کښي واقع وي نو همدومره تذکر ورته کفایت کوي لکه چي تېر شو.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښي د ښه پوهېدلو دپاره باید لاندي مطالب په ذهن کښي وساتل شي:

الف: مسلمانې ښځې ته په قطعي ډول باندي حرامه ده چي د کافر په نکاح کښي شامله شي برابره خبره ده چي نوموړی کافر مشرک وي او که اهل الکتاب. الله ﷻ په دې باره کښي فرمایي چي: ﴿ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ﴾ [الممتحنة: ۱۰] یعني: نه دوی (مسلماني ښځې) هغوی (کافرانو) ته حلالې دي او نه هغوی دوی ته حلال دي. په دې متعلق احادیث هم زښت ډېر دي او د ټولو مسلمانانو اجماع هم ورباندي انعقاد موندلی دی(۱).

ب: کومه ښځه چي په اسماني کتاب باندي عقیده لري لکه یهودیه او نصرانیه، د هغې نکاح مسلمان سړي ته جائزه ده. الله ﷻ فرمایي چي: ﴿ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ ﴾ [المائدة: ۵] یعني: پاک لمنې ښځې هم (تاسو ته روا دي) چي دوی د هغو خلکو څخه وي چي ستاسو څخه لا پخوا کتاب ورکړی شوی دی.

په همدې مضمون باندي احادیث هم شته او د امت اجماع هم ورباندي راغلې ده(۲)، چا چي ترې مخالفت کړی دی هغه دومره شاذ او نادر دی چي په اجماع باندي تاثیر نه شي اچولی(۳).

ج: خو په دې کښي اختلاف دی چي د مشرک نوم اهل الکتابو ته شامل دی او که نه، که څه هم

---

(۱) تفسیر المراغي ج۲ ص۱۵۳؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۱۹۶؛ البحر المحیط ج۲ ص۱۶۵

(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۱۹۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۵۷؛ البحر المحیط ج۲ ص۱۶۴

(۳) تفسیر المنار ج۲ ص۳۴۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې اختلاف باندې کوم اساسي مطلب نه دی مرتب محض د یوه شرعي حکم د استخراج په طریقه کښې څه تفاوت لري او بس، چې:

اول: یوه لویه ډله علماء او مفسرین کرام وایي چې اهل الکتاب چې په قرآن باندې ایمان رانه وړي هم مشرکان بلل کېږي د همدې کبله ورته الله ﷻ د شرک نسبت کړی دی: ﴿ سُبْحَـٰنَهُۥ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ [التوبة: ۳۱] یعنې: پاکي ده الله ﷻ لره د هغه شي څخه چې دوی (اهل الکتاب) يې ورسره په عبادت کښې شریکوي. یعنې: یهودان ورسره عُزَیر ﷺ شریکوي او نصارا ورسره عیسی ﷺ شریکوي.

نو د دې ډلې علماوو کرامو په نظر باندې همدغه ایت شریف چې اوس پکښې بحث روان دی اهل الکتابو ته شامل دی، خو د کتابیه ښځو په باره کښې د [المائدة: ۵] ایت باندې صرف د اهل الکتابو ښځو په هکله منسوخ شوی دی[۱] او د مشرکانو په باره کښې محکم دی.

دوهم: یوه بله لویه ډله علماء کرام وایي چې که څه هم په قرآن کریم کښې د شرک نسبت اهل الکتابو ته شوی دی خو د یو مصدر د نسبت څخه نه لازمېږي چې د همغه مصدر څخه ورته لقب هم جوړ کړی شي. لکه چې الله ﷻ خپل ځان ته د تعلیم نسبت کړی دی: ﴿ عَلَّمَ ٱلْإِنسَـٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴾ [العلق: ۵] یعنې: انسان ته يې هغه څه ورزده کړه چې د هغه نه وه زده. خو څوک حق نه لري چې الله ﷻ د معلم په لقب یاد کړي.

همدارنګه باید چې اهل الکتابو ته هم د مشرکانو لقب ورنه کړی شي، که څه هم دوی الله ﷻ ته شریکان ګرځولي دي. یا په بل عبارت: د دوی شرک دومره نه دی چې د بوت پرستانو په شان ورته ترې لقب جوړ کړی شي او د مشرکانو نوم ورباندې کېښودل شي.

که ووایو چې دا د قرآن کریم اصطلاح ده چې اهل الکتاب د مشرکانو په نامه باندې نه یادوي لکه چې فرمایي: ﴿ مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ وَلَا ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ [البقرة: ۱۰۵]، هم څه لرې به نه وي[۲].

لنډه دا چې دوی وایي چې دغه ایت اهل الکتابو ته شامل نه دی ترڅو نسخه راشي، بلکې په دې مقام کښې د اهل الکتابو خبره مسکوت عنه ده چې په نورو ځایونو کښې بیانه شوې ده چې د کتابیه ښځې نکاح کول روا دي مګر کتابي سړي ته مسلمانه په نکاح ورکول ناروا دي، لکه چې وړاندې شرحه شوه[۳].

## شرعي احکام د حکمتونو څخه ډک دي

۲ـ څرنګه چې الله ﷻ حکیم دی نو احکام يې هم د حکمتونو څخه ډک دي، خو مونږ په ځینو باندې پوهېږو او ځینو ته مو فکر نه رسېږي.

---

(۱) تفسیر کبیر ج۶ ص۵۹، زاد المسیر ج۱ ص۲۲۲
(۲) تفسیر المراغي ج۲ ص۱۵۱، تفسیر القاسمي ج۳ ص۲۱۸
(۳) تفسیر القرطبي ج۳ ص۶۸، روح المعاني ج۲ ص۱۱۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په کورني نظام جوړولو کښې چې د مشرک او اهل الکتاب په باره کښې الله ﷻ په څه فرق باندي قائل شوی دی ډېر حکمتونه پکښې نغښتي دي، دا لاندې تشریح ولولئ:

الف: ښځه د مېړه د توابعو څخه ده. نو که مسلمانه ښځه کافر ته په نکاح ورکړی شي د کافر کېدلو خطر یې ډېر قوي دی او دا ډېر کمزوری احتمال دی چې نوموړې ښځه به کافر مېړه مسلمان کړي. برسېره په دې ښځه په عمومي توګه پوخ عقل هم نه لري چې په مقابل کښې یې مقاومت وکړی شي او نه دومره توان لري چې د هر ډول دسائسو پوره مخنیوی وکړي او خپل ځان د غولونې څخه بچ وساتي نو د سړي په نسبت یې په تصمیم کښې بدلون راوستل اسان دي.

ب: قانون جوړونه عمومي حالت په نظر کښې نیسي که په ښځو کښې کومه یوه هوښیاره وي او خپل ځان د خطر څخه بچ کولی شي قانون د هغې نه شي تابع کېدلی، هغه شاذه او نادره ده.

ج: علاوه په دې دا هم مشکله ده چې د ښځو عقل وتلل شي چې د فلانۍ ښځې عقل په کنډه برابر دی، مقاومت کولی شي، او د فلانۍ کم دی مقاومت نه شي کولی نو ځکه مسلمانې ټولې ښځې په کافرانو باندې حرامې وګرځولې شوې.

د: څرنګه چې په ښځو کښې د دین څخه د اوښتلو احتمال قوي دی نو که مسلمان سړی کافره کتابیه ښځه په نکاح واخلي، قوي امید شته چې هغه به مسلمانه شي او په ایمان به مشرفه شي، او دا احتمال ډېر کمزوری دی چې مېړه به کافر کړي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: کله د ښځې د مسلمانېدلو احتمال قوي شو نو باید چې مشرکه ښځه هم مسلمان سړي ته روا شوې وی؟

مونږ په جواب کښې وایو چې:

الف: شرکه ښځه د مسلمان سړي سره د دین په اساساتو کښې جدا ده چې هغه په توحید باندې قائله نه ده او په هیڅ اسماني کتاب او هیڅ پیغمبر باندې عقیده نه لري، نو د مسلمانېدلو امید یې نسبت کتابیه ښځې ته ډېر کم دی چې د مېړه سره د دین په اساساتو کښې متفقه ده خو محض د مذهبي مشرانو په تحریفاتو او انحرافاتو سره د مسلمانۍ څخه لرې پاتې شوې ده، ډېر قوي امید شته چې په اصل حقیقت باندې پوه کړی شي نو مسلمانه به شي. همدې وجې ته د ایت شریف وروستنۍ برخه اشاره کوي چې: ﴿أُوْلَٰٓئِكَ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ﴾ الآية.

ب: ترڅو اهل الکتاب ترغیب کړی شي چې تاسو هم زمونږ په څېر په ټولو اسماني کتابونو او په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام باندې ایمان راوړئ ترڅو دوه طرفه د مناکحې سلسله جاري شي تاسو خو مونږ ته د مشرکانو څخه ډېر رانژدې یاست، د دوه طرفه مناکحې بل هیڅ مانع نشته فقط همدا یې مانع دی چې تاسو ټول پیغمبران علیهم السلام او ټول اسماني کتابونه حق نه بولئ او په تبعیض باندې قائل یاست که دا تبعیض د منځه یوسئ زمونږ ورونه یاست او د اسلام د ټولو حقوقو څخه استفاده کولی شئ.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو تحلیل

۴_ د "خَيْرٌ" او "شَرٌ" دواړه کلمې په عربیت کښې د تفضیل اسمونه دي چې په اصل کښې "أَخْيَرٌ" او "أَشْرَرٌ" وې خو د زیات استعمال د کبله په دواړو کښې تخفیف لازم ګرځولی شوی دی چې په اصل باندې بالکل نه دي استعمال شوي(۱).

د تفضیل اسمونه په لاندې دوه ډولونو باندې استعمال مومي(۲):

الف: چې دوه شیان سره په اصل مصدر کښې اشتراک ولري خو یو د بل څخه پکښې زیات او بهتر وي چې په زیادت او بهترۍ باندې نوموړی اسم دلالت کوي. لکه زَيْدٌ أَجْهَدُ مِنْ عَمْرٍو" زید د عمر څخه کره مجاهد دی.

ب: چې د دوه شیانو په اشتراک باندې دلالت نه کوي بلکې په داسې ځای کښې استعمالېږي چې په یوه خوا کښې بالکل هغه وصف نه وي چې اسم تفضیل ورباندې دلالت کوي او صرف د یوې خوا پورې اختصاص ولري لکه "فُلَانٌ أَسْمَعُ مِنَ الْجِدَارِ وَأَفْقَهُ مِنَ الْحِمَارِ" یعنې: فلانی سړی د دېوال څخه ښه اورېدونکی دی او د خره څخه ښه فقیه او عالم دی. ښکاره ده چې دېوال او خر د فلاني سره په اصل مصدرونو (سَمْع، فَقَاهَة) کښې هیڅ اشتراک نه لري.

په دې مقام کښې که د ﴿خَيْرٌ﴾ کلمه په اول ډول استعمال سره وګڼله شي نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې: په مشرکانو کښې هم څه دنیاوي بهتري تحقق موندلی شي لکه چې ښایست ولري، مال ولري، مَنصب ولري او داسې نور. خو د مؤمنانو بهتريورباندې ډېره زیاته ده چې په ایمان باندې ښکلي دي او دنیا او آخرت یې دواړه رڼا دي.

او که په دوهم ډول استعمال باندې وګڼله شي نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: که مشرکان څه دنیاوي محاسن ولري خو هغه د ایمان د محاسنو په مقابل کښې هیڅ دی لکه چې د سره یې نه لري یعنې په مشرکانو کښې هیڅ خیر نشته.

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى فَٱعْتَزِلُوا۟ ٱلنِّسَآءَ فِى ٱلْمَحِيضِ ۖ وَلَا
تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ۖ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ
ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ۖ وَقَدِّمُوا۟
لِأَنفُسِكُمْ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُم مُّلَـٰقُوهُ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾﴾

(۱) لسان العرب ج۴ ص۲۶۴، ۴۰۰
(۲) البحر المحيط ج۲ ص۱۶۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۲۲] او دوی درڅخه د حیض په باره کښې پوښتنه کوي. ورته ووایه چې: هغه ضرر (او پلیتي) ده، نو د خپلو ښځو څخه د حیض په محل کښې اجتناب وکړئ او مه ورنژدې کېږئ ترڅو چې (د حیض څخه) پاکې شي. نو کله چې ښې پاکې شوې نو هغوی ته د هغه محل څخه ورتګ وکړئ چې الله ﷻ درته پرې امر کوي (او اجازه درکوي).

بې شکه الله ﷻ توبه کوونکي هم دوست ګڼي او خپل خانونه ښه پاک ساتونکي هم دوست ګڼي.

[۲۲۳] ستاسو ښځې ستاسو دپاره د کښت (زراعت) ځایونه دي، نو خپلو زراعت ځایونو ته ورتګ وکړئ په هر کیفیت مو چې خوښه وي. او د خپلو ځانونو دپاره (اجرونه، اولادونه) وړاندې واستوئ. او د الله ﷻ څخه وډار شئ (غیر زراعتي محل ته ورتګ مه کوئ) او پوه شئ چې بې شکه د الله ﷻ سره ملاقي کېدونکي یاست. او (ای پیغمبره!) مؤمنانو ته زېری ورکړه.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ دغه ایتونه د وړاندې ایتونو سره ځکه اړوند لري چې هلته د مشرکانو سره ازدواجي ارتباط ممنوع ګرځولی شوی وه، او دلته د همدغه حکم څه حکمتونه بیانېږي چې ستاسو او د هغوی ازدواجي ارتباط ډېر مشکلات راولاړوي دا ځکه چې تاسو مکلف یاست چې د یو طرفه د حیض په حالت کښې د جماع څخه ځانونه بچ وساتئ او د بل طرفه د خپلو منکوحو سره د لوط ﷺ د قوم عمل ونه کړئ. اما هغوی د دغسې قیدونو او شرطونو پروا ګیر نه دي، امکان لري چې د ازدواج په صورت کښې به سره همېشه په شر او شور کښې اوسئ.

۲ـ هېله ده چې محترم لوستونکي د همېشه دپاره په یاد ولري چې د ایتونو شان نزول محض د مطلب په ښه وضاحت باندې تاثیر اچوي او بس، ځکه چې د مفهوم عموم ته اعتبار دی او د مورد خصوص اعتبار نه لري.

د همدې کبله مونږ د ځینو ایتونو شان نزول بیانوو ترڅو مطالب ښه څرګند شي او په ځینو ځایونو کښې د غلطو تفسیرونو جواب شي، چې د همدې جملې څخه د ذکر شوو دواړو ایتونو شان نزولونه هم دي.

په دې مقام کښې مفسرینو کرامو متعدد روایات لیکلي دي چې د هغو ټولو د جملې څخه مونږ په لاندې روایتونو باندې اکتفاء کوو:

الف: أنس ﷺ وایي چې په یهودانو کښې عادت وه چې کله به په ښځو باندې حیض راغی نه به یې ورسره دوډۍ خوړه او نه به یې په کورونو کښې د ځانو سره پرېښودلې، نو صحابه وو کرامو ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې مونږ څنګه وکړو؟ نو الله ﷻ په جواب کښې د ذکر شوو دواړو ایتونو څخه رومبنی ایت شریف نازل کړ، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «اصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا النِّكَاحَ»[1] یعني: تاسو ورسره هر څه وکړئ غیر د جماع څخه.

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۱۴۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: یهودانو او مجوسیانو د حائضو ښځو په باره کښې بالکل تفریط کاوه چې د کورونو څخه یې بېرون ویستلې، او نصاراوو ورسره افراط کاوه چې حتی د جماع څخه یې هم خانونه نه په ځنګول. نو الله ﷻ په دې باره کښې مسلمانانو ته معتدله لاره وښودله چې د افراط او تفریط په منځکښې ده، چې د جماع څخه په غیر یې ورته نور ټول کوائف جائز کړه[۱].

ج: د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما او جابر ﷺ څخه روایت دی چې یهودانو به ویلې چې د ښځې سره چې د زراعت په محل کښې د شا د خوا څخه جماع وکړی شي نو اولاد یې کوږ سترګی راځي[۲].

د همدې کبله په مدینه منوره کښې دغه ډول جماع کول رواج نه وه، نو کله چې قریشو مسلمانانو مدینې منورې ته هجرت وکړ او د هغو مسلمانانو سره یې د ښځو راکړه ورکړه پیل کړه چې هغوی د یهودانو کړنلارې څخه متاثر وه نو دوی ته پوښتنه پیدا شوه چې د کیفیت په تغییر سره به رښتیا اولاد کوږ سترګی جوړېږي او که څنګه؟

برسېره په دې د یو مهاجر مېړه د یوې انصارې منکوحې سره لانجه هم پېښه شوه[۳]، نو الله ﷻ ذکر شوی دوهم ایت نازل کړ چې که د زراعت محل خطا نه کړئ په هر کیفیت باندې درته د خپلو ښځو سره جماع کول روا دي او په اولاد باندې تاثیر نه اچوي.

د: یوه ورځې صحابه وو کرامو ﷺ د جماع په کیفیتونو کښې بحث کاوه او یو یهودي ورته نژدې ناست وه چې د دوی خبرې یې واورېدلې نو پیغور یې ورکړ چې تاسو خو د چارپایانو او ځناورو په شان جماع کوئ یعنې انساني جماع خو په یوه کیفیت باندې وي، نو الله ﷻ په جماع کښې ټول کیفیات جائز وګرځول چې دا د انسانیت سره منافات نه لري[۴].

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! مسلمانان درڅخه د حیض په باره کښې پوښتنه کوي چې په دغه حالت کښې د زنانه وو سره په څه دستور عمل وکړو؟، ایا د یهودو په شان ورسره بالکل ناسته ولاړه او راکړه ورکړه پرېږدو او که د نصاراوو په څېر ورسره بالکل کُلي اختلاط وکړو چې حتی د جماع څخه هم خپل ځانونه ونه ژغورو؟.

نو ورته ووایه چې حیض ضرري شی دی که څه هم تاسو ته به په دغه حالت کښې څه ناڅه فائده په نظر درځي خو عاقبت یې د امراضو او اضرارو څخه خالي نه دی. نو مه د یهودانو په شان تفریط کوئ او مه د نصاراوو په شان افراط، بلکې د اعتدال په لار باندې لاړ شئ چې د ښځو څخه صرف د حیض د محل څخه ځانونه بېل کړئ او د جماع په نیت تر هغه مه ورنژدې کېږئ چې د ذکر شوي پلیتۍ او ضرر څخه پاکې شي، نو په کوم وخت کښې چې خپل ځانونه ښه پاک کړي او غسل وکړي

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۸۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۹
(۳) سنن ابي داوُد ج۱ ص۲۹۴
(۴) تفسیر الطبري ج۲ ص۳۹۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو بيا هغوی ته د هغه ځای ښخه ورشئ چې الله ﷻ ورباندې تکويني امر کړی دی او ستاسو په فطرت کښې يې ورته ميلان اچولی دی او هم يې اجازه درکړې ده چې هلته د اولادونو تخم وکړئ.

۲ـ الله ﷻ نه غواړي چې ستاسو غرائز د مړی ښخه ونيسي او طبعي شيان درباندې بالکل حرام کړي، بلکې الله ﷻ په هر کار او هر عمل کښې تاسو پاکو او سپېڅلو لارو ته راکاږي ترڅو تاسو الله ﷻ ته رجوع کوونکي اوسئ؛ چې په هر کار کښې د همده ﷻ هدايت ته ناړې کېږدئ او ترڅو تاسو د خپلو ځانونو پاک ساتونکي اوسئ. الله ﷻ هم ډېر رجوع کوونکي خوښوي او هم د خپلو ځانونو د ښه پاک ساتونکو سره محبت لري.

۳ـ نو نارينه وو ته په کار دي چې د نجاست په محل کښې او هم د نجاست په حالت کښې زنانه وو ته ورنژدې نه شي، او هم زنانه وو ته په کار دي چې د نجاست د دورې د تېرېدلو ښخه وروسته خپل ځانونه پاک وساتي او لمونځونه، اودسونه وکړي، هسې نه چې د حيض د تېرېدلو ښخه وروسته هم غسل ونه کړي او يا بې لمانځه توب ته ادامه ورکړي.

۴ـ په ياد ولرئ چې جنسي ارتباط ځکه تاسو ته جائز ګرځولی شوی دی چې په دې باندې ستاسو د نسل بقاء تحقق مومي او ستاسو دپاره زنانه د يوې زراعتي ځمکې حيثيت لري، زارع په خپله زراعتي ځمکه کښې هغه وخت تخم کري چې د زراعت دپاره قابله وي او د حيض په حالت کښې زنانه د زراعت قابليت د لاسه ورکوي.

نو کله چې د حيض حالت پای ته ورسېږي نو خپلو زراعتي ځمکو (زنانه وو) ته په هره طريقه مو چې خوښه وي ورتګ وکړئ، په کيفيت کښې په تاسو باندې قيد او شرط نشته فقط د زراعت محل مه خطا کوئ.

۵ـ په هر حکم کښې د ځانونو دپاره اجرونه او ثوابونه وګټئ؛ او وړاندې يې ولېږئ چې د دې جملې ښخه د صالح اولاد لاس ته راوړل هم دي چې صرف په زراعتي کړنلاره باندې مرتب کېږي او بس.

۶ـ د الله ﷻ ښخه وېدار شئ؛ اوامر يې په ځای کړئ او نواهي يې د نظره مه غورځوئ. د خپلو حلالو ښځو سره د لوط ؑ د قوم عمل مه کوئ او هم د حيض په حالت کښې ورسره جنسي ارتباط مه نيسئ؛ په دې متعلق د زور ښخه کار مه اخلئ چې په کمزورو زنانه وو باندې ذکر شوی بد عمل په زور ترسره کړئ، الله ﷻ په هر چا زورور دی.

۷ـ که څه هم تاسو خپل ډېر ګناهونه د خلکو ښخه پټولی شئ خو د الله ﷻ ښخه يې نه شئ پټولی. په دې باندې پوه شئ چې تاسو ضرور د هغه ﷻ سره ملاقي کېدونکي ياست په هيڅ وخت کښې مرګ مه هېروئ او همېشه د مجازات او مکافات قانون په ذهن کښې وساتئ؛ او د ايمان په زنا د خواهشاتو مقابله وکړئ.

۸ـ د ټولو په آخر کښې ای پيغمبره! مؤمنانو ته بشارت ورکړه چې هغوی به هيڅکله بې اجره پاتې نه شي او د نېکو اعمالو اجرونه به ومومي.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱_ د لاندې څو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: د "حَيض" كلمه اصلاً د سيلان (بهېدلو) په معنی سره ده، د همدې كبله هغه ځاى ته چې هلته اوبه وربهېږي او پكښې ډنډ كېږي د "حَوض" نوم اخلي، كه څه هم دلته د "ي" په عوض "و" دى خو د عربو په نزد باندې "ي" او "و" سره خور او ورور دي، يو د بل په ځاى كښې استعمالېږي[1].

او په شريعت كښې د هغې وينې نوم دى چې په فطري توګه د زنانه وو په رحم كښې راغونډېږي ترڅو پكښې نطفه تغذيه شي او جنين ترې جوړ شي.

خو كله چې ذكر شوې وينه په جنين جوړېدنه باندې مصرفه نه شي نو تقريبًا د مياشتې په اوږدو كښې د رحم څخه په وتلو او بهېدلو باندې پيل كوي.

د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد ذكره شوې وينه د رحم څخه په وتلو كښې لږ تر لږه درې ورځې نيسي آن تر لسو ورځو پورې. كومه وينه چې د درې ورځو څخه كم وخت واخلي او يا د لسو ورځو څخه اضافه شي هغه د رحم وينه نه ده او شرعًا هغې ته حيض نه ويل كېږي. البته چې هغه د كوم مرض د كبله روانه ده او اصل منبع يې رحم نه دى لكه چې كله-كله د سوزك او يا نورو امراضو د كبله وينه جريان پيدا كوي بلكې په خينو وختونو كښې د اميدوارۍ ښځې څخه هم وينه جريان پيدا كوي.

دغه ډول وينه فقهاء كرام د "اسْتِحَاض" په نامه باندې يادوي چې د هغو احكامو مانعه نه ده چې د حيض وينه يې مانعه ده.

ب: د "مَحِيض" كلمه دلته دوه ځله استعماله شوې ده، ظاهره خبره دا ده چې په اول ځل كښې يې معنى د دوهم ځل څخه جدا ده، د همدې كبله يې دوهم ځل په ضمير سره ذكر نه كړه.

نو په اول ځل كښې ميمي مصدر دى چې د حيض معنى وركوي او په دوهم ځل كښې اسم ظرف دى چې د حيض د محل معنى ترې اخستله كېږي[2].

ج: د "أذىٰ" كلمه مطلق ضرر ته وايي، برابره خبره ده چې هغه جسمي وي، نفسي وي، د عرض او آبرو وي، دنياوي وي، أخروي وي او يا داسې نور؛ لكه تعفن (بد بويي) او نجاست[3].

دلته چې د حيض وينې ته د "أذىٰ" نوم اخستلى شوى دى نو مطلب يې دا دى چې دغه وينه ډېره غليظه ناپاكي ده چې د بدن رسوبات (خيري) پكښې راغونډ شوي دي او دواړو جانبو (ښځې او مېړه) ته د ډول-ډول امراضو سبب ګرځي لكه سوزك، عقم (شنډوالي)، جِلدي امراض او داسې نور.

د: "إعتزال" د يوه شي څخه په څنګ كېدلو ته وايي خو دلته ترې صرف د جماع څخه ځېل ځان په څنګول مطلب دي، همدارنګه د ﴿ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ ﴾ څخه صرف په جماع سره عدم تقرب مراد دى،

(۱) تفسير القرطبي ج۳ ص۸۲؛ روح المعاني ج۲ ص۱۲۱
(۲) التفسير الكبير ج۶ ص۱۶۸
(۳) مفردات الراغب ص۱۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې باندې د امت اجماع واقع شوې ده[۱].

مګر د احتیاط په غرض مېره ته په کار دي چې د خپلې ښځې څخه په همدې حالت کښې د نامه څخه ښکته او د زنګنو څخه پورته محل څخه استفاده ونه کړي، هسې نه چې په حرامو کښې واقع شي[۲].

هـ: که څه هم دا خبره واضحه ده چې "طُهر" پاکوالي ته وايي خو په دې مقام کښې دوه خله استعمال شوی دی چې یو مجرد دی: ﴿ يَطْهُرْنَ ﴾ او بل مزيد فيه دی: ﴿ تَطَهَّرْنَ ﴾، او دا هم واضحه ده چې د حرفونو په زيادت سره د معنی قوت اضافه کېږي؛ نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: تر هغه يې د قربت څخه ځانونه په ځنګ ساتئ چې هغوی د حيض څخه پاکې شي او کله چې خپل ځانونه ښه پاک کړي يعنې غسل وکړي[۳] نو بيا هغوی ته ورشئ.

مګر امام أبو حنيفه رحمة الله عليه وايي چې که د حيض موده لس ورځې وه نو د حيض په مجرد ودرېدلو سره د جماع جواز شته اګر که لا غسل يې نه وي کړی او يا ورباندې د کامل لمانځه وخت نه وي تېر شوی هم، چې په کتابونو کښې يې دلايل پوره مشرح ذکر دي.

## د حيض احکام

۲_ که څه هم د حيض مفصل احکام د فقهې په کتابونو کښې پوره ليکلي شوي دي مګر په دې مقام کښې يې لاندې څو احکام محض د نومليک په توګه ولولئ:

الف: حيض د لمانځه مانع دی چې قضائي راوړل يې هم نشته.

ب: د روژې د صحت مانع دی مګر قضائي راوړل يې واجب دي.

ج: حيض جومات ته داخلېدل حراموي.

د: د بيت الله شريف د طواف مانع دی.

هـ: جماع حراموي.

و: په همدغه حالت کښې ښځې ته طلاق ورکول بِدعي دی او ګناه ده.

ز: د قرآن کريم لوستل او مسح کول تول منعه کوي.

ط: حيض د انقطاع په وخت کښې د غسل موجب هم دی. يعنې په حيض سره ښځه جُنبه ګرځي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د حيض وينه خو د استحاض د وينې څخه فرق نه لري دواړه نجسې دي، نو په دې کښې څه حکمت دی چې په ذکرشوو فقهي احکامو کښې ورڅخه حيض جدا دی؟

مونږ وايو چې: په ذکر شوي احکامو کښې د نصوصو په اعتبار سره فرق لري چې د حيض په باره

(۱) تفسير المظهري ج۱ ص۲۷۷

(۲) تفسير ابن کثير ج۱ ص۲۵۹

(۳) تفسير القاسمي ج۳ ص۲۲۲؛ تفسير البغوي ج۱ ص۱۹۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې وارد شوي دي او د استحاض په متعلق نه دي وارد شوي. د انسان عقل دومره توان نه لري چې د ټولو احکامو حکمتونو ته ورسېږي.

مګر ځینو مفسرینو کرامو یې داسې فرق کړی دی چې د حیض وینه د رحم د داخل څخه په سیلان شروع کوي چې د بولو (متیازو) غوندې بدبویي پکښې زیاته وي. اما د استحاض وینه د وینو رسوبات (خیرې) نه دي، په هغې کښې ډېره بدبویي نه وي[۱].

## د حیض په حالت کښې جماع

۴_ څوک چې د حیض په حالت کښې جماع وکړي په دې باره کښې د امام أبو حنیفه رحمة الله علیه په شمول د اکثرو علماء کرامو نظر دا دی چې کومه معینه جزا ورته په شریعت کښې نه ده ټاکلې شوې، په کار دي چې د الله ﷻ څخه د ګناه بښنه وغواړي، امید شته چې ګناه ورته وبښله شي[۲]. که څه خیرات ورکړي نو ډېر به ښه وي.

## عجیبه اشاره

۵_ الله ﷻ د جنسي ارتباط نوم په صراحت ذکر نه کړ بلکې کنایةً یې د إتیان (ورتګ) په نامه باندې یاد کړ او هم یې د هغه محل څخه چې هلته جنسي ارتباط صورت نیسي په ﴿ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ ﴾ سره تعبیر وکړ ترڅو حیاناکه پېغله هم وکولی شي چې قرآن کریم په جهر سره قرائت کړي.

## د الله ﷻ امر څه معنی؟

۶_ د ﴿ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ ﴾ څخه یا تکویني امر مطلب دی چې د ټولو انسانانو په خټه کښې د "کُنْ" په امر سره جنسي ارتباط ته میلان اغګل شوی دی، او یا تشریعي امر مراد دی چې په ﴿ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي چې: امر خو د وجوب دپاره وي نو ایا د حیض څخه وروسته جنسي ارتباط نیول په مېړه باندې واجب دي؟

مونږ وایو چې: هر امر چې د نهي څخه وروسته راشي په هغه باندې هغه کیفیت مطلب وي چې د نهي څخه پخوا موجود وي[۳]، نو که پخوا اباحت وه وروسته به هم اباحت وي لکه ﴿ وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَٱصْطَادُوا۟ ﴾ [المائدة: ۲] یعنې: کله چې تاسو د احرام څخه حلال شوئ نو ښکار وکړئ. یعنې ښکار کول درته مباح دي لکه چې پخوا درته مباح وه.

په دې مقام کښې هم د حیض د انقطاع څخه وروسته د جنسي ارتباط حکم هغه دی چې د حیض

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۶ ص۶۸؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۲۸

(۲) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۲۸؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۵۹؛ البحر المحیط ج۲ ص۱۶۸

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۶۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه پخوا وه یعني د مېږه په غاړه باندې هغه حق بیا جریان پیدا کوي چې د حیض په سبب باندې یې توقف موندلی وه.

## د "أَنَّی شِئْتُمْ" معنی

۸ـ په دې مقام کښې ځینو بې فکره خلکو د "أَنَّی" کلمه د "أَيْنَ" په معنی اخستې ده، یعنې "أَيْنَ شِئْتُمْ" په هر ځای کښې مو چې خوښه وي برابره خبره ده چې د توالد او تناسل محل وي او که نه وي. مګر صحیح خبره دا ده چې "أَنَّی" کلمه د "كَيْفَ" په معنی ده. یعنې "كَيْفَ شِئْتُمْ" څنګه مو چې خوښه وي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: تاسو ته اجازه ده چې د خپل اهل په خاص محل کښې چې د توالد او تناسل محل دی په هر کیفیت سره جنسي ارتباط قائم کړئ باک یې نشته که په ولاړه وي، په ناسته وي، په ملاسته وي، په اړخ وي او یا په نورو ممکنو کیفیتونو سره وي. دا ځکه چې:

الف: د جمهورو صحابه کرامو ﷺ، تابعینو او علماء کرامو په نزد د زنانه وو سره د لوط ﷺ د قوم عمل کول داسې حرام دي لکه د نارینه وو سره چې حرام دي[۱].

د طاوُس رحمه الله علیه څخه روایت دی چې د لوط ﷺ قوم هم په اول کښې دغه شنیع عمل د خپلو زنانه وو سره پیل کړ او خانونه یې ورباندې اموخته کړه[۲].

ب: بلکې دغه شنیع عمل په اجماع سره حرام دی هیڅوک یې مخالف نشته او د چا څخه یې چې د جواز قول نقل شوی دی هغه غلط دی او صحت نه لري[۳]، لکه چې امام مالک رحمه الله علیه وایي چې: "كَذَبُوا عَلَيَّ، كَذَبُوا عَلَيَّ، كَذَبُوا عَلَيَّ"[۴] یعنې: په ما یې دروغ تړلي، په ما یې دروغ تړلي، په ما یې دروغ تړلي دي، ما یې د جواز خبره نه ده کړې.

ج: د شان نزول روایتونه هم دلالت کوي چې دلته فقط د کیفیت بیان مطلب دی لکه ځینې روایات یې چې وړاندې بیان شوي دي.

د: پخپله د قرآن کریم د سیاق او سباق څخه هم ښکارېږي چې دلته د ﴿ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ﴾ څخه فقط "كَيْفَ شِئْتُمْ" مطلب دی. لاندې څو وجې یې ولولئ:

اول: طبعي ارتباط د حیض په حالت کښې ځکه موقت حرام کړی شوی دی چې: ﴿ هُوَ أَذًى ﴾ یعنې: هغه نجاست او پلیتي ده. نو په کار دي چې غیر طبعي ارتباط خو د همېشه دپاره حرام وي ځکه چې هغه محل د همېشه دپاره پلیت او نجس دی.

دوهم: هر څوک پوهېږي چې په دې مقام کښې حل او حُرمت په یو محل باندې وارد شوي دي.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۳ ص۹۳؛ اضواء البيان ج۱ ص۱۲۵
(۲) تفسير القرطبي ج۳ ص۹۶
(۳) البحر المحيط ج۲ ص۱۶۹
(۴) تفسير القرطبي ج۳ ص۹۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکېن شو



نو څرنګه چې د حرمت محل د جنسي ارتباط محل دی نو د حل محل هم باید همدغه محل وي، چې په هر کیف سره وي.

دریم: دغه جمله ﴿ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ ﴾ مطلب ښه مشخص ګرځوي چې الله ﷻ د انسان په شمول په ټولو حیواناتو کښې د نسل د بقاء په خاطر طبعي میلان پیدا کړی دی او په غیر طبعي ارتباط باندې خو د نسل بقاء تحقق نه شي موندلی. لکه چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او څو نورو علماوو کرامو همداسې تفسیر کړی دی[۱].

څلورم: څرنګه چې په ﴿ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ﴾ کښې د اتیان د محل (زنانه) څخه په "حَرْث" سره تعبیر شوی دی نو معلومه شوه چې دلته طبعي ارتباط مطلب دی، په غیر طبعي ارتباط باندې خو حَرْث (زراعت) نه مرتبېږي او د توالد او تناسل سبب نه ګرځي.

په صحیح إسناد سره روایت دی چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه یوه سړي د غیر طبعي ارتباط په باره کښې پوښتنه وکړه، نوموړي جلیل القدر صحابي ﷺ جواب ورکړ چې: «تَسْأَلُنِيْ عَنِ الْكُفْرِ»[۲] یعنې: ایا د کفر پوښتنه راڅخه کوې؟!. دغه کار یې دومره بد وګاڼه لکه څوک چې کفر بد ګڼي.

یو بل سړی ورته راغی او ورته یې وویل چې زه د خپل اهل سره غیر طبعي ارتباط نیسم ځکه چې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ﴾، نو زه ګومان کوم چې ماته به جائز وي. نوموړي صحابي ﷺ (رئیس المفسرین) ورته وویلې چې: «يَا لُكَعُ! إِنَّمَا قَالَ أَنَّى شِئْتُمْ قَائِمَةً وَقَاعِدَةً وَمُقْبِلَةً وَمُدْبِرَةً فِيْ إِقْبَالِهِنَّ لَا تَعْدُوْا إِلَى غَيْرِهِ»[۳] یعنې: ای لوچکه! تحقیقًا الله ﷻ خو فرمایلي دي چې څنګه مو خوښه وي په ولاړه، په ناسته، مخامخ، د شا د طرفه په مخکني محل کښې؛ د همدې محل څخه بل محل ته تجاوز مه کوئ.

پنځم: دغه جمله ﴿ وَقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُمْ ﴾ دا مطلب بالکل په ډاګه کوي چې غیر طبعي ارتباط مراد نه دی. یعنې خپل زراعت ته ورشئ او د خانو دپاره اجرونه او صالح اولادونه وړاندې واستوئ.

شپږم: د ایت شریف وروستنۍ برخې دلالت کوي چې د ﴿ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ﴾ څخه دا مطلب دی چې د طبعي ارتباط درته اجازه ده چې د توالد او تناسل محل دی، او د غیر طبعي ارتباط څخه په کلکه خانونه وساتئ؛ لکه:

﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ﴾ یعنې: د الله ﷻ څخه وډار شئ د طبعي ارتباط څخه غیرطبعي ته تېری مه کوئ.

﴿ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُم مُّلَـٰقُوهُ ﴾ یعنې: او پوه شئ چې تاسو د الله ﷻ سره ملاقي کېدونکي یاست او د تېښتېدلو ځای نه لرئ چې د جنایت د جزا څخه پناه درکړي.

---

(۱) اضواء البیان ج۱ ص۱۲۷

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۶۲

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۶۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ یعنې او مومنانو ته زیری ورکړه چې د شریعت مطابق عمل کوي.
نو که د ﴿ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ﴾ معنی د هر محل اجازه وی نو بیا د دغو تعقیباتو ته حاجت نه وه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹ـ که څوک وایي: څرنګه چې د منکوحې د بدن د هرې برخې څخه استفاده جائزه ده او هیڅوک پکښې شک نه لري نو باید چې غیر طبعي ارتباط په ﴿ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ ﴾ کښې شامل شي او جائز وګڼل شي؟

مونږ وایو چې: اتیان، چې د ﴿ فَأْتُوا ﴾ مصدر دی او د توالد او تناسل په محل پورې خاص کړی شوی دی، د هغه دخول څخه کنایه دی چې د دوارو محلونو څخه په یو محل کښې تحقق ومومي.

نو کوم فعل چې د دخول څخه په غیر د بدن په یوه برخه کښې صورت ونیسي او د غریزې اشباع ورباندې راشي هغه ته استمناء (مني تویول) وایي، نه ورته د جماع نوم اینبودل کېږي او نه ترې په اتیان سره تعبیر کېږي.

لنده دا چې دغه ایت شریف د توالد او تناسل په محل پورې جماع مختصه ګرځولې ده او د کنایې په توګه یې ترې په اتیان سره تعبیر کړی، د استمناء دپاره یې کوم خاص محل نه دی ټاکلی، نو هغه باید په دغه باندې قیاس نه کړی شي چې په کوم محل کښې استمناء جائزه وي نو هلته به اتیان (جماع) هم جائزه وي.

﴿ وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَانِكُمْ أَن تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٤﴾ لَّا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٢٥﴾ لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ ۖ فَإِن فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢٦﴾ وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٧﴾ ﴾

[۲۲۴] او تاسو د الله ﷻ نوم د قسمونو د کبله د دې مانع مه ګرځوئ چې نېکي وکړئ او تقوی وکړئ او د خلکو په منځو کښې اصلاح وکړئ. او الله ﷻ اورېدونکی دی او پوه دی.

[۲۲۵] الله ﷻ تاسو په قسمونو کښې په لغو قسم (د دروغو په قسم) باندې نه نیسي، مګر په هغه دروغژن قسم باندې مو نیسي چې زړونو مو و رته قصد کړی وي.
او الله ﷻ بښونکی (او) د حلم والا دی.

[۲۲۶] خاص هغو کسانو لره چې د خپلو ښځو څخه ایلاء کوي د څلورو میاشتو انتظار دی (نه زیات)، نو که یې (خپلو ښځو ته په همدې موده کښې) بېرته رجوع وکړه (او د خپل قسم څخه تېر شوه) نو بې شکه الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



**[۲۲۷] او که طلاق ته یې قصد وکړ (همدغه حالت ته یې ادامه ورکړه) نو بې شکه الله ﷻ اورېدونکی (او) پوه دی.**

## شان نزول او ارتباط

۱ـ په دې مقام کښې د شان نزول په اړه مفسرینو کرامو ډېر روایات لیکلي دي[۱]، مونږ د لاندې روایاتو په رانقلولو اکتفاء کوو[۲].

الف ابو بکر الصدیق ﷺ قسم کړی وه چې د مسطح ﷺ سره کومک ونه کړي ځکه چې ده ﷺ د بي بي عائشې (رضها) پورې په تهمت کښې څه برخه اخستې وه.

ب عبد الرحمن بن رواحه ﷺ قسم یاد کړی وه چې د خپل اوښي بشیر بن النعمان ﷺ سره نه خبرې وکړي او نه ورسره څه ناسته ولاړه وکړي ځکه چې د ده خور یې طلاقه کړې وه او غوښته یې چې دوهم خل یې په نکاح کړي.

په هر تقدیر، الله ﷻ حکم وکړ چې د الله ﷻ نوم د نېکو کارونو دپاره مانع او حجت مه ګرځوئ چې ما دا قسم کړی چې فلانی نېک کار نه کوم.

۲ـ او د وړاندېنیو ایتونو سره یې مناسبت او ارتباط د لاندې وجوهو د کبله په نظر راځي.

الف په وړاندې ایتونو کښې فعلي احکام بیان شوي وه چې دا کوئ او دا مه کوئ، او په دې ایتونو کښې قولي احکام بیانېږي چې په دې قول نیول کېږئ او په دې نه نیول کېږئ، په دې قول طلاق واقع کېږي او په دې نه واقع کېږي.

ب هلته احکام بیان شوي وه، او دلته د احکامو د نه عملي کولو بهانه او پلمه د منځه وړله شوې ده چې د مستحقانو سره کومک نه کوم د خپلو منکوحو سره طبعي ارتباط نه نیسم او یا داسې نور. ځکه چې ما قسم کړی دی.

ج وړاندې ویل شوي وه چې ﴿وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ﴾ یعنې د الله ﷻ څخه وډار شئ. او دلته د تقوی یو صورت بیان شوی دی چې د الله ﷻ د نامه څخه د غښو ویښتلو هدف مه جوړئ چې په هره وړه او غټه خبره یې په نامه باندې قسمونه خورئ ترڅو ستاسو تقوی او دینداري قوي شي په دې تقدیر به د الله ﷻ عظمت ستاسو په زړونو کښې ځای ونیسي او شریعت به په ښه توګه عملي کړئ.

د هلته الله ﷻ د حیض څخه وروسته په جنسي ارتباط باندې امر کړی وه ﴿فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ﴾، او دلته د ایلاء (د خپلې منکوحې د جنسي ارتباط څخه په سوګند یادولو سره امتناع کول) حکم بیانېږي چې حاصل یې داسې راځي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې د الله ﷻ څخه وډار شئ او د نامه څخه یې د غښو ویښتونکو په شان د قسمونو دپاره

---

(۱) زاد المسیر ج۱ ص۲۲۷

(۲) روح المعاني ج۲ ص۱۲۶؛ تفسیر ابي السعود ج۱ ص۲۲۳؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۲۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نښه مه جوړوئ چې په هره وړه او غټه خبره باندې د الله ﷻ نوم یادوئ او قسمونه کوئ.

او مه دالله ﷻ نوم د خپلو خانو دپاره حجت او پلمه جوړوئ چې فلانی کار ځکه نه کوم چې ما ترې قسم کړی دی.

نو که په همدې هدایت باندې عمل وکړئ نو همیشه به نېکي کوئ. د الله ﷻ څخه به ډارېږئ. د الله ﷻ عظمت به مو په زړو کښې ځای ونیسي او هم به د خلکو په منځو کښې روغه جوړه او صلحه کوئ چې د دوی په سترګو کښې به باوقاره ښکارېږئ او په خبرو باندې به مو اعتماد کوي خصوصاً چې کومه یوه خبره ورته په قسم سره تائید کړئ.

۲ـ الله ﷻ ستاسو د ټولو خبرو او اقوالو اورېدونکی دی او څارنه مو کوي چې یو حرف هم بې حسابه او بې محاسبې نه پاتې کېږي، او برسېره په اقوالو باندې ستاسو زړونه هم ورته معلوم دي چې ظاهر او باطن مو سره سمون خوري، او که نه د څه مطلب دپاره قسم کوئ او د څه وجې څخه د قسم کولو څخه ابا، کوئ (منعه راوړئ)؟

۳ـ الله ﷻ تاسو په قسمونو کښې په لغوه قسم باندې نه نیسي چې د خپلو معلوماتو په رڼا کښې په یوه خبره باندې قسم وکړئ خو په واقع کښې خبره په هغه ډول باندې نه وي لکه چې تاسو وریاندې قسم کړی وي، او نه مو په هغو قسمونو باندې نیسي چې بلا قصده مو د خولې څخه خارج شي او د قسم کولو نیت مو نه وي محض د ژبې د تېزۍ د کبله پرې تلفظ وکړئ.

۴ـ بلکې الله ﷻ مو په هغو قسمونو باندې نیسي چې قصداً یې د واقع په خلاف د خلکو د غولونې په غرض د خولو څخه راوباسئ. خو پوه شئ چې الله ﷻ بښونکی دی که څوک دغسې د دروغو قسمونه وکړي نو باید چې بښنه ترې وغواړي او په همدې دنیا باندې خپل خان د مظلمې څخه خلاص کړي، که الله ﷻ درته د دروغو د قسمونو سره متصله جزا درنه کړي نو ګومان مه کوئ چې ګناه به یې درته ضرور ښېلې وي ځکه چې الله ﷻ حلیم دی په کارونو کښې عجله نه کوي.

۵ـ د ذکر شوي مقدمې څخه وروسته اوس د منعقد قسم یو مثال ولولئ چې خینې خلک د خپلو ښځو د جنسي ارتباط څخه قسم وکړي او یا غواړي چې په دې طریقه باندې د ناشزې (بې اطاعته) ښځې د رام کولو دپاره چاره سنجي وکړي، نو دوی د جاهلیت د زمانې په شان نه شي کولی چې په قسم خوړلو سره به یې د ښځو څخه زوړنده تېره جوړه کړه چې نه به یې بل ته پرېښودله او نه به یې پخپله حقوق اداء کول.

۶ـ دوی (قسم کوونکي) صرف څلور میاشتې وخت لري چې د څلورو میاشتو په داخل کښې دننه به ورته قولاً یا عملاً رجوع کوي او د خپل قسم کفاره به ورکوي. الله ﷻ خو بښونکی او مهربان دی چې په کفارې سره یې د ګناه څخه خلاص کړه او هم یې ښځه په ایلاء سره وریاندې په دائمي توګه حرامه ونه ګرځوله او د جاهلیت حکم یې تائید نه کړ چې په اسلام کښې یې د دغسې واقعاتو په باره کښې خونه وی نازل کړي، ځکه چې الله ﷻ په نارینه وو او زنانه وو دواړو باندې مهربان دی.

۷ـ او که رجوع یې ورته ونه کړه او څلور میاشتې تېرې شوې په داسې حال کښې چې دی پوهېږي

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د څلورو مياشتو څخه اضافه د طلاق معنی ورکوي نو په واقع کښې نوموړي د طلاق عزم او قصد کړی وه نو بايد چې خپله ښځه په همدې صورت کښې طلاقه شوې وګڼي او څه نورې ستغې سپورې خبرې ورته ونه کړي او نه بايد چې زنانه څه شور او شغب وکړي، څکه چې د دواړو خبره سره فيصله شوه.

بې شکه الله ﷻ هم د دوی اقوال اوري او هم په زړو باندې عالم دی.

## توضيحات

۱ـ په عربي ژبه کښې د دغو درې تورو (ع، ر، ض) څخه د هغه شي دپاره نوم اشتقاق مومي چې د بل شي يا شيانو مخه بې نيولې وي مثلاً:

الف ورېځې ته "عَارِض" وايي څکه چې د لمر د وړانګو مخه نيسي.

ب: هدف (نښې) ته "عُرْضَة" وايي څکه چې د غشو ويشتونکو په وړاندې نصب کړی شوی وي ترڅو هغوی وړباندې د غشو د ويشتلو سره خانونه اشنا کړي.

ج: عريضه هغه کاغذ ته وايي چې د هغه په ذريعه د آمر مخې ته غوښتنې وړاندې کېږي، او داسې نور.

خو په دې مقام کښې د ﴿عُرْضَةً﴾ د کلمې مفسرينو کرامو لاندې دوه معناوې کړې دي:

اول: تاسو د الله ﷻ نوم د قسمونو د کبله د خپلو خانو دپاره پلمه او حجت مه جوړوئ چې د نېکيو، تقوی او د اصلاح څخه بې مانع وګرځوئ چې مونږ دغه کارونه نه کوو مونږ د الله ﷻ په نوم قسم کړی دی. اول خو د دغسې قسمونو څخه خانونه وساتئ او که چېرې درڅخه واقع شوه نو ذکر شوې نېک کارونه وکړئ او د الله ﷻ د نامه د احترام دپاره کفاره ورکړئ، د الله ﷻ د نامه احترام او تعظيم دغه دی هاغه نه دی، الله ﷻ په دې خوشالېږي په هاغه نه خوشالېږي[۱].

دوهم: د الله ﷻ د نامه څخه د غشو ويشتونکو نښه مه جوړوئ چې په هره وړه او غټه خبره باندې قسمونه خورئ، ترڅو تاسو نېکوکاران شئ او تقواداري مو زياته شي او تاسو وکړی شئ چې د خلکو په منځو کښې اصلاح او روغه جوړه وکړئ.

که په ډېرو قسمونو باندې مو خوله اموخته شي نو امکان لري چې د الله ﷻ د نامه په تعظيم کښې درڅخه قصور واقع شي او هم لرې نه ده چې جرئت مو زيات شي او د الله ﷻ په نامه باندې ناحقه قسمونه وخورئ نو د يو پلوه به مو تقوی او دينداري کمزورې شي او د بله پلوه به مو د خلکو په منځ کښې اعتبار د منځه لاړ شي او د اصلاح دپاره به مو څوک خبره نه مني، بالآخره ماشومان به د قسمونو په خوړولو باندې اموخته کړئ او قسم خواره به ترې جوړ کړئ[۲] څکه چې د مشرانو خوی او عادت ماشومانو ته سرايت کوي.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۳ ص۹۷: زاد المسير ج۱ ص۲۲۸: التفسير الكبير ج۶ ص۸۱

(۲) التفسير الكبير ج۶ ص۸۰: تفسير المنار ج۲ ص۳۶۵: تفسير القاسمي ج۳ ص۲۳۶

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

۲_ كه څه هم ځينو مفسرينو كرامو د ﴿ عُرْضَةً﴾ د كلمې اوله معنى أحسنه ګڼلې ده او ځينو نورو يې دوهمې معنى ته ترجيح وركړې ده، مګر مونږ ته دا ښه ښكاري چې دواړه معناوې مرادې دي يعنې تاسو د الله ﷻ د نامه څخه "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الْعُرْضَةَ" هغه شی مه جوړوئ چې هغه د "عُرْضَة" په نامه باندې ياد شي، برابره خبره ده چې په اوله معنى وي او كه په دوهمه.

## د قسم ډولونه

۳_ قسم (سوګند) د ګناه په اعتبار سره په درې ډوله دی: يمين اللغو، يمين الغموس، يمين المنعقد. مونږ غواړو چې د هر يوه تعريف او حكم محترمو لوستونكو ته وړاندې كړو:

## يمين اللغو

۴_ يمين د قوت په معنى سره دی، د همدې كبله ښي لاس ته يمين وايي چې د چپ لاس په نسبت قوي وي[1] او د الله ﷻ په نوم باندې د خبرې تاكيدول هم د يمين په نامه يادېږي.

لغو هغې خبرې ته وايي چې څه ارزښت نه لري او څه ګټه او فائده پكښې نه وي، برابره خبره ده چې ضرر پكښې وي او كه نه[2].

د يمين اللغو په حكم كښې ټول اسلاف متفق دي چې ګناه پكښې نشته او څوك وربandې نه نيول كېږي. مګر په تعريف كښې يې سره اختلاف دی چې تقريبًا پنځو يا اوو تعريفونو ته رسېږي[3]، مونږ ترې صرف لاندې دوه تعريفونه رانقلوو چې دواړه پكښې مشهور دي او نور د دغو دواړو لاندې د داخلېدلو امكان لري، هغه دا دي:

الف: يوه ډله صحابه كرام ﷺ لكه بي بي عائشه رضي الله عنها او نور وايي چې: يمين اللغو دا دی چې بلا قصده د سړي د خولې څخه ووځي چې "بَلَى وَاللهِ، لا وَاللهِ" يعنې: هو قسم په الله ﷻ، نه قسم په الله ﷻ او د انقعاد نيت يې نه وي او محض د تكيه كلام په دود يې استعمال كړي[4].

همدا تفسير امام الشافعي رحمه الله غوره كړی دی.

ب: يوه بله ډله صحابه كرام ﷺ د ابن عباس رضي الله عنهما او ابو هريره ﷺ په شمول يمين اللغو دې ته وايي چې سړی د خپلو معلوماتو په بناء په يوه خبره قسم وكړي چې دا خبره داسې ده او يا داسې نه ده خو د خبرې واقعيت د هغې په خلاف وي د "هو" په ځای "نه" وي او د "نه" په ځای "هو" وي.

دغه تفسير امام ابو حنيفه رحمه الله غوره كړی دی او روايات يې ورته قوي ښكاره شوي دي[5].

---

(۱) تفسير المظهري ج۱ ص۲۹۰؛ تفسير القرطبي ج۳ ص۹۹

(۲) لسان العرب ج۱۵ ص۲۵۰

(۳) احكام القرآن لابن العربي ج۱ ص۱۷۶؛ زاد المسير ج۱ ص۲۲۸؛ التفسير الكبير ج۶ ص۸۱_۸۴؛ تفسير القرطبي ج۳ ص۱۰۰

(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۹۸۶

(۵) تفسير ابن كثير ج۱ ص۲۶۷؛ تفسير الطبري ج۲ ص۲۴۲؛ تفسير كبير ج۶ ص۸۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۵_ مونږ ته داسې ښکاري چې په دې مقام کښې الله ﷻ د يو طرفه هغو مسلمانانو ته عدم مواخذه اعلانوي کوم چې د جاهليت په زمانه کښې يې په قسمونو خولې اموخته شوې وې او قسمونه يې د تکيه کلام په توګه بلا اراده او بلا نيته استعمالول. او د بل طرفه مسلمانانو ته توصيه کوي چې د جاهليت د زمانې په شان د الله ﷻ د نامه څخه تکيه کلام مه جوړوئ، وقار او عظمت يې مه هېروئ او بې ضرورته قسمونه مه کوئ. نو په دې تقدير د ذکر شوو امامانو اختلاف هم د منځه ځي او د وړاندې ايت سره ښه سمون هم خوري.

يعني الله ﷻ تاسو په هغو قسمونو باندې نه نيسي چې د جاهليت په زمانه کښې ورباندې عادت شوي ياست، مګر خپل ځانونه اداره کړئ او د الله ﷻ د نامه څخه عُرضَه مه جوړوئ.

مونږ ته همدا تفسير ښه ښکاري چې په قرآن کريم کښې نظير هم لري. هغه دا چې:

۶_ د جاهليت په زمانه کښې به چې چا يوه اجنبي ماشوم په زوی ولي، سره ونيوه نو هغه به يې حقيقتاً زوی ګڼل کېده او د "يَا ابْنِيْ" ای زما زويه!، په خطاب سره به يې ورباله خو الله ﷻ دغه دود او دستور حرام کړ: ﴿ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ أَبْنَآءَكُمْ ﴾ [الأحزاب:۴] يعنې: او الله ﷻ ستاسو بلل شوي ستاسو زامن نه دي ګرځولي. نو د زامنو خطاب ورته مه کوئ.

مګر د خلکو خولې ورسره اموخته وې او بلا اراده به يې د خولو څخه د "يَا ابْنِيْ" خطاب خارجېده. نو الله ﷻ لطف وکړ اوددغه غير ارادي خطاب د نيونې څخه ورته تېر شو: ﴿ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَآ أَخْطَأْتُم بِهِۦ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ﴾ [الأحزاب: ۵] يعنې: او په تاسو باندې په هغه خطاب کښې څه ګناه نشته چې په هغه سره خطا شئ مګر په هغه خطاب باندې نيول کېږئ چې زړونو مو ورته قصد کړی وي، او قصداً يې د "يَا ابْنِيْ" په نامه باندې دروبلئ.

## يمين الغموس

۷_ د دروغو قسم ته يمين الغموس وايي، لکه چې د قيامت په ورځ به کافران وايي چې: ﴿ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴾ [الأنعام: ۲۳] يعنې: په الله ﷻ، چې زمونږ رب دی، قسم دی چې په دنيا کښې مونږ مشرکان نه وو. او يا لکه چې په دنيا کښې کافران قسم وکړي چې "وَاللهِ لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ" يعنې: په الله قسم دی چې د قيامت ورځ به رانه شي.

دغه ډول قسم ته ځکه غموس وايي چې غموس ډوبېدلو ته وايي او د دروغو په قسم باندې هم سړی په ګناهونو کښې داسې ډوبېږي ته به وايې چې په درياب کښې ډوب شوی دی.

## هېر مو نه شي!

۸_ هېر مو نه شي چې په دې مقام کښې د ﴿ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ﴾ څخه همدغه د دروغو قسم مراد

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی چې الله ﷻ تاسو په دې باندې نیسي چې قصداً د کاذب کلام سره د خلکو د غولونې او یا د حرام خورۍ دپاره د الله ﷻ نوم ملګری کړئ او عظمت یې د پښو لاندې کړئ"[١].

د ﴿ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴾ څخه څرګندېږي چې دلته د آخرت نیونه مطلب ده.

ابو حنیفه رحمه الله علیه وايي چې د دروغو د قسم ګناه ډېره غټه ده او په کفاره باندې ترې سړی نه خلاصېږي د همدې کبله الله ﷻ دلته د کفارې په باره کښې څه نه دي ذکر کړي. که د یمین الغموس د ګناه چاره په کفاره باندې ممکنه وی نو د حرام خورو دپاره به طلائي فرصت لاس ته ورغلی وی نو د دروغو په قسمونو باندې به یې د خلکو مالونه خانو ته راکش کولی او بیا به یې ترې ډېره جزئي برخه په کفاره کښې مصرفولی او د ګناه څخه به یې ورباندې خانونه خلاصولی.

## یمین المنعقد

٩ـ یمین المنعقد د هغه قسم نوم دی چې څوک عقد وکړي او د الله ﷻ نوم ورسره یاد کړي چې فلانی کار کوم یا فلانی کار نه کوم.

د دې ډول قسم حکم دا دی چې که قسم کوونکی په خپل عقد باندې وفا وکړي هیڅ مواخذه ورباندې نشته او که وفا یې ورباندې ونه کړه نو په هغه باندې دنیاوي مواخذه شته چې د کفارې په نوم باندې یادېږي، چې پوره تفصیل یې په [المائدة:٨٩] ایت کښې نازل شوی دی.

## امام الشافعي رحمه الله علیه څه وايي؟

١٠ـ امام الشافعي رحمه الله علیه وايي چې د ﴿ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ﴾ څخه یمین الغموس او یمین المنعقد دواړه مراد دي[٢]، ځکه چې دواړه په قصد او اراده باندې صورت نیسي. مګر دغه مواخذه او نیونه دلته نه ده بیانه شوې بلکې په [المائدة: ٨٩] ایت کښې بیانه شوې ده.

## سوال جواب

١١ـ که څوک وايي چې: په یمین المنعقد کښې هم په ځینو صورتونو کښې سړی ګناهکارېږي او مواخذه ورباندې شته لکه څوک چې په قماربازۍ او شرابخورۍ باندې قسم وکړي، او تاسو پخوا ذکر کړه چې د وفا په صورت کښې ورباندې مطلقًا سړی نه نیولی کېږي؟

مونږ وایو چې: دغه مواخذه د قسم په اعتبار سره نه ده بلکې د حرام فعل (قمار، شراب) په اعتبار سره ده.

## د یمین المنعقد ډولونه

١٢ـ یمین المنعقد لاندې ډولونه درلودلی شي:

(١) تفسیر المظهري ج١ ص٢٨٩
(٢) تفسیر الطبري ج٢ ص٤١٦

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف. چې وفا کول وربانديې واجب وي او نه وفا يې گناه وي. لکه چې څوک ووايي چې په الله ﷻ مې دې قسم وي چې پنځه وخته به لمونځ وکړم او د رمضان میاشت به روژه ونیسم

ب. چې وفا کول وربانديې حرام وي او نه وفا کول يې عبادت وي خو د وفا کولو په صورت کښې د کفارې وجوب پکښې شته، لکه چې څوک په قمار کولو یا د بلې گناه په تعمیل سره سوگند یاد کړي.

ج: چې وفا کول وربانديې عبادت وي خو نه وفا کول يې گناه نه لري. لکه چې څوک ووايي په الله ﷻ باندې مې دې قسم وي چې دغه یوه شپه تهجد لمونځ به وکړم، نو که تهجد لمونځ وکړي عبادت دی او که يې ونه کړ کفاره وربانديې لازمه ده.

د: چې په وفا کولو باندې ورته څه مواخذه نه متوجه کېږي خو په بې وفائي کښې يې عبادت او کفاره وي. لکه چې څوک ووايي چې په الله ﷻ مې دې قسم وي چې یوه شپه تهجد لمونځ به ونه کړم. نو د نه کولو په صورت کښې وربانديې څه نشته او د کولو په صورت کښې ورته اجر او ثواب دی خو کفاره پرې لازمېږي

هـ: چې د وفا او هم د بې وفائي په دواړو صورتونو کښې ورته نه اجر وي او نه گناه، خو د بې وفائي په صورت کښې یوازې کفاره لازمېږي او بس. لکه چې څوک قسم وکړي چې سبا ته به ښکار وکړم، په دې صورت کښې محض فعل (ښکار کول) مباح شی دی نه يې په کولو کښې اجر شته او نه په نه کولو کښې، مگر په نه کولو کښې يې کفاره شته.

## "ایلاء" هم سوگند دی

۱۳_ په دې مقام کښې الله ﷻ د یمین المنعقد د صورتونو څخه صرف د یوه صورت په بیان باندې اکتفاء وکړه چې هغه د ایلاء صورت دی او وروسته يې بیان راځي. دا ځکه چې:

الف: ایلاء د حیض سره مناسبت لري چې په ایلاء کښې په جنسي ارتباط باندې بشري سانسور لگول کېږي او په حیض کښې پرې د الله ﷻ د پلوه حکم شوی دی.

ب: ایلاء د یمین اللغو سره هم زیات ارتباط لري چې په دواړو باندې اُخروي مواخذه نشته.

د: په هغه وخت کښې د ایلاء شنیع رواج په ټول عربستان کښې عمومیت درلود او الله ﷻ وغوښتل چې مسلمانانو ته هدایت وکړي او د دغه بد رواج مخه ونیسي.

## ایلاء څه ته وایي؟

۱۴_ د ﴿یُؤْلُونَ﴾ کلمه د "ایلاء" څخه اخستله شوې ده، چې په لغت کښې محض قسم کولو ته ایلاء وایي. مگر په شریعت کښې هغه خاص قسم د ایلاء په نامه یادېږي چې څوک د خپلې ښځې د جنسي ارتباط څخه د څلورو میاشتو او یا د دې څخه د زیاتې مودې دپاره قسم وکړي[۱]، چې

(۱) التفسير الكبير ج۶ ص۸۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مفصل بیان یې د فقهي په کتابو کښې ذکر دی.

په جاهلیت کښې ایلاء یو ډول طلاق وه چې نه به یې ازدواجي حقوق ښځې ته ورکول او نه به یې بالکل پرېښودله چې بل مېړه یې کړی وی نو په ایلاء سره به ښځه "كَالْمُعَلَّقَةِ" لکه زوړنده ګرځېدله، نه هغې خوا او نه دې خوا[1]. عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي چې د جاهلیت په زمانه کښې به ایلاء د شپږو میاشتو پورې بلکې د دوه وو کالو پورې دوام کاوه او ښځه به هکه پکه حیرانه ناسته وه[2].

په هر تقدیر، الله ﷻ لطف وکړ او دغه شنیع رواج یې تر څلورو میاشتو پورې راټیټ کړ، ترڅو په دغو څلورو میاشتو کښې د یو طرفه مېړه ښه فکر وکړي چې په طلاق کښې ګټه ده او که بېرته رجوع کښې یې فائده ده؟، او د بله طرفه ښځه هم که بالفرض ناشزه (بدګوزاره) وي لږ څه تادیب شي او په مېړه باندې د کلانکارۍ څخه لاس واخلي.

هو! کومه ښځه چې په څلورو میاشتو کښې هم تادیب نه شوه او عقل یې سر ته رانغی نو د هغې ایل کول مشکله خبره ده، او همدارنګه د کوم مېړه چې د څلورو میاشتو په اوږدو کښې هم په ښځه باندې زړه ونه سوزي او ترحم یې پرې رانه شي نو ضرور یا به یې زړه د تیږې په څېر کلک وي او یا به د خپلې ښځې بدې ګوزارې همدې مرتبې ته رسولې وي. په هر تقدیر، په دې صورت کښې د دواړو دپاره بېلتون په ګټه دی، باید چې یو تربله سره جدا شي.

## په یاد ولرئ!

۱۵ـ په یاد ولرئ چې که د څلورو میاشتو څخه کمه موده څوک د خپل قسم دپاره وټاکي نو دغه قسم شرعًا ایلاء نه ګڼله کېږي او جدائي ورباندې تحقق نه شي موندلی. مثلًا یوه سړي یوه میاشت د جنسي ارتباط د پرې کولو دپاره وټاکله نو که په خپل قسم باندې یې وفا وکړه نه ورباندې کفاره شته او نه ورباندې ګناه، او که د میاشتې د پوره کېدلو څخه وړاندې یې ورسره ارتباط قائم کړ نو فقط کفاره ورباندې لازمه ده او بس.

د یوې میاشتې ایلاء نبي کریم ﷺ هم کړې وه خو وفا یې ورباندې وکړه، لکه چې مفصله قیصه یې د [الأحزاب: ۲۸] ایت لاندې مفسرینو کرامو لیکلې ده.

## د جدا کیدلو طریقه

۱۶ـ امام ابو حنیفه رحمه الله علیه وایي چې محض د څلورو میاشتو تېرېدنه د طلاق معنی ورکوي او ښځه په مېړه باندې په بائن طلاق سره طلاقېږي. او امام الشافعي رحمه الله علیه وایي چې د څلورو میاشتو د تېرېدلو څخه وروسته باید د مېړه څخه وغوښتل شي چې ښځې ته رجوع وکړي او که رجوع ونه کړي نو باید چې قاضي ورباندې امر وکړي ترڅو طلاق واچوي او که بیا هم د طلاق څخه یې بالکل منعه وکړه نو قاضي باید د ښځې په طلاق باندې حکم او فیصله وکړي.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۶ ص۸۵، حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۳۲

(۲) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۰۲؛ زاد المسیر ج۱ ص۲۳۰

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دوارو دلایل

۱۷_ د دوارو امامانو نقلي دلایل او د صحابه کرامو ﷺ او نورو اسلافو روایات او آثار په دغې موضوع کښې متعارض ښکاري چې په پوره پیمانه تفاسیرو رانقل کړي دي[۱]. اما عقلي دلایل يې لاندې لوستلی شئ:

## د الشافعي رحمه‌الله‌علیه دلایل

۱۸_ د الشافعي رحمه‌الله‌علیه عقلي او اجتهادي دلایل دا دي:

الف: چې په ﴿ فَإِن فَآءُو ﴾ کښې د "ف" کلمه د تفریع دپاره ده او په ﴿ تَرَبُّص ﴾ باندې مرتبه ده. نو معلومه شوه چې هغه رجوع مطلب ده چې د څلورو میاشتو د تېرېدلو څخه وروسته وي، نه هغه چې په داخل کښې يې وکړي.

ب: د ﴿ وَإِنْ عَزَمُواْ ﴾ په جزا کښې الله ﷻ د خپلو صفاتو څخه د ﴿ سَمِيعٌ ﴾ کلمه استعماله کړې ده، چې د طلاق اچولو سره سمون خوري نه د عزم کولو سره. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: که د طلاق عزم يې وکړ او طلاق يې واچاوه نو الله ﷻ اورېدونکی دی. که محض عزم د طلاق معنی ورکولی نو د ﴿ سَمِيعٌ ﴾ کلمه ورسره مناسبه نه ښکارېده، په کار وه چې یوازې په ﴿ عَلِيمٌ ﴾ باندې يې اکتفاء کړې وی.

## د ابو حنیفه رحمه‌الله‌علیه دلایل

۱۹_ د ابو حنیفه رحمه‌الله‌علیه عقلي او اجتهادي دلایل دا دي چې:

الف: په ﴿ فَإِن فَآءُو ﴾ کښې د "ف" کلمه د تفریع دپاره نه ده چې په تراخي (وروسته والي) باندې دلالت وکړي بلکې د تفصیل دپاره ده، لکه په ﴿ وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبۡنِي مِنۡ أَهۡلِي ﴾ [هود: ۴۵] کښې، یعني: او نوح ﷺ خپل رب ته نداء وکړه نو ويې ویل چې: ای زما ربه! بې شکه زما زوی زما د اهل څخه دی. چې ﴿ فَقَالَ ﴾ د ﴿ وَنَادَىٰ ﴾ دپاره تفصیل دي او بس.

ب: د ﴿ سَمِيعٌ ﴾ معنی داسې نه ده چې د طلاق اورېدونکی دی، بلکې معنی يې داسې ده:

اول: د وَدَاع او رخصت په وخت کښې د مېړه او ښځې خبرې اترې اوري، چې په سپکو سپورو خبرو سره جدا کېږي او که په انسانیت او شرافت سره.

دوهم: د ښځې سوال زاری يې هم واورېدلې او قبولې يې کړې چې د لانجې څخه يې خلاصه کړه.

دریم: د انتظار په موده کښې يې هم د دوارو خبرې اورېدلې دي چې کوم یوه د فساد خبرې کړې دي او کوم یوه د خیر.

څلورم: د دوارو په منځکښې چې هر چا د شیطانت خبرې کړې وي هغه يې هم اورېدلې دي او د اصلاح خبرې يې هم اورېدلې دي.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۶۸، تفسیر المظهري ج۱ ص۲۹۳

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پنځم: ځلور میاشتې پخوا چې مېړه د ایلاء کلمات استعمال کړي وه الله ﷻ اورېدلي دي چې د طلاق حکم بې ورکړ، بل تازه طلاق ته یې حاجت نشته.

ج: د ایتونو مقتضی دا ده چې د ایلاء موده تحدید کړي ترڅو د جاهلیت د زمانې رواج د منځه یوسي، که طلاق واقع کېدل په قاضي پورې مربوط شي او د ځلورو میاشتو څخه وروسته یې بندوبس نیول کېږي نو د ایلاء موده د تحدید څخه خارجېږي، ځکه چې:

قاضي به یا موجود نه وي، یا به عادل نه وي، یا به په حادثه خبر نه وي، یا به په نورو فیصلو باندې مشغول وي، یا به ښځه د مطالبې جرئت نه لري او موانع به موجود وي او یا به د نورو اسبابو د کبله د نوموړې معلقې ښځې فیصله ډېره موده د تعلیق په حالت باندې پاتې شي.

د: علاوه په دغو ټولو وجوهاتو باندې د شان نزول د روایاتو سره همدا خبره ډېره ښه مناسبه ښکاري چې د ځلورو میاشتو تېرېدنه شرعًا طلاق وګڼل شي، نه دا چې بیا طلاق ورکړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲۰ـ که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ وَلْيَفْعَلِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ»(۱) یعني: هر څوک چې په یو شي باندې قسم وکړي بیا د هغه شي څخه په غیر په بل شي کښې خیر وګوري نو د خپل قسم څخه دې کفاره ورکړي او هغه کار دې وکړي چې په هغه کښې خیر وي.

نو په کار وه چې د ایلاء په خاوندانو باندې د همدې حدیث مطابق امر شوی وی چې ایلاء ماته کړي او کفاره ورکړي، نه دا چې د ځلورو میاشتو په داخل کښې به د دوی خبره فیصله شي.

موږ وایو چې: دغسې حکم ځکه ورباندې ونه کړی شو ـ والله ﷻ أعلمـ چې د ښځو د تادیب دپاره په خینو وختونو کښې ایلاء ته ضرورت پېښېږي نو د ایلاء حکم استثنائي حیثیت لري.

هو! د ځلورو میاشتو څخه د اضافه مودې مخه ونیوله شوه ځکه چې د جنسي ارتباط څخه نور هم صبر کول په ښځو باندې ډېر مشکل تمامېږي، امکان لري چې بد اخلاقۍ ته لاس واچوي.

## یوه عجیبه

۲۱ـ أمیر المؤمنین عمر بن الخطاب ﷺ د خپل خلافت په وخت کښې د مسلمانانو د حال پلټنې دپاره یوه شپه په دوره باندې وتلی وه، د یوه کور څخه یې د ښځې په اواز باندې څو ابیات واورېدل چې د ښځې پوره حسرت او زیاته بې صبري یې تمثیلوله؛ یو بیت یې دا دی:

تَطَاوَلَ هَذَا اللَّيْلُ وَاسْوَدَّ جَانِبُه :: وَأَرَّقَنِي أَلَّا حَبِيبَ أُلَاعِبُهُ(۲)

یعني: دغه شپه ډېره اوږده شوه او څنډې یې راتورې شوې، او زه دې خبرې بې خوبه کړې یم چې اندیوال نشته تر څو خپله سات تېري ورسره وکړم.

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۴۸

(۲) السنن الکبری للبیهقي ج۹ ص۵۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سبا خليفه - د نوموړي ښځې څخه د دغو حسرتناکو اشعارو پوښتنه وکړه، نو هغې وويلې چې مېړه مې تا عراق ته د جهاد دپاره لېږلی دی او د سفر موده يې راباندې اوږده شوه
نو خليفه - نورې ښځې وروغوښتلې او پوښتنه يې ورڅخه وکړه چې څومره موده بوه ښځه د خپل مېړه څخه صبر کولی شي؟ هغوی وويلې چې دوه مياشتې ښه صبر کولی شي. او په درې مياشتو کښې يې صبر کمېږي، او په څلورو مياشتو کښې يې صبر بالکل پای ته رسېږي
نو خليفه - د غازيانو د غزا موده څلور مياشتې وټاکله او د چا به چې څلور مياشتې په جهاد کښې تېرې شوې هغه به يې کور ته راغوښت او په ځای به يې بل مجاهد ورلېږه[1]

## افغان مجاهدين او د جهاد دوره

٢٢_ افغان مجاهدينو ته هم په کار دي چې په جهاد کښې د څلورو مياشتو څخه زيات مسلسل وخت تېر نه کړي. او هغه مجاهدين چې کور ودانې لري بايد د نوموړې مودې د پوره کېدلو څخه وړاندې يو حل د خپل کورکهول دوره وکړي او حال يې واخلي

﴿ وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِىٓ أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِى ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓا۟ إِصْلَٰحًا ۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٨﴾ ﴾

[٢٢٨] او طلاق کړی شوې ښځې دې خپل ځانونه (د بل مېړه څخه) د درې حيضونو په موده کښې منتظر کړي
او دوی ته حلاله نه ده چې هغه شی پټ کړي چې الله ﷻ د دوی په رحمونو کښې پيدا کړی وي (حيض يا ولد)، که دوی وي چې ربښتيا يې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځې باندې ايمان راوړی وي (نو دا کار به نه کوي) او په همدغې موده کښې د دوی مېړونه د دوی د بېرته ورستنولو مستحق دي (د دوی خوښه وي او که نه) که مېړونه يې د اصلاح او خير نيت لري (نو دا کار دې وکړي)
او دوی (ښځو) لره په هغوی (مېړونو) باندې په شرعي چوکات کښې داسې حقوق دي لکه چې هغوی (مېړونو) لره په دوی (ښځو) باندې دي او خاص سړيو لره په دوی (ښځو) باندې درجه (فضيلت) دی.
او الله ﷻ غالب دی (د ارادې مخه يې څوک نه شي نيولی او) د حکمت خاوند دی

## د مطلب خلاصه

کله چې مېړونو د ايلاء په صورت کښې څلور مياشتې تېرې کړې او ښځو ته يې مراجعه ونه کړه او ښځې شرعاً طلاقې وګڼلې شوې او يا د ايلاء د سلسلې څخه په غير مېړونو ښځو ته طلاق ورکړ، نو په دواړو صورتونو کښې د ښځو فريضه ده چې

---

١. تفسير القرطبي ج٣ ص١٠٨، تفسير ابن کثير ج١ ص٢٦٩

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ خپل خانونه تر درې حيضونو پورې منتظر کړي او دوی ته جائزه نه ده چې د خپلې غصې د سړولو په غرض او یا د بل مطلب په بناء د درې حيضونو د تېرېدلو څخه وړاندې بل مېړه وکړي، او نه ورته دا حلاله ده چې دوی هغه څه پټ کړي چې الله ﷻ د دوی په رحمونو کښې خلق کړی دی او صفا حال ونه وايي. چې حيضونه يې تېر شوه او که پاتې دي؟، د طلاق ورکوونکي مېړه څخه په ګېډه باندې اولاد لري او که نه؟. دغسې رښتيا ويل د ايمان غوښتنه ده.

۲ـ که دوی رښتيا په الله ﷻ او د قيامت په ورځې باندې ايمان راوړی وي نو د خپلو رحمونو په باره کښې به هم دروغ نه وايي او حال به نه پټوي ترڅو د پټوالي په صورت کښې يا د مېړونو څخه د زياتې مودې نفقه ترلاسه کړي او يا ژر ژر دوهم مېړه ته خپل خانونه تيار کړي.

۳ـ لکه څنګه چې د ايلاء په موده کښې مېړونو استحقاق درلود چې ښځو ته بېرته رجوع وکړي همدارنګه د طلاق په صورت کښې هم مېړونه مستحق دي چې خپلو ښځو ته بېرته ورو ګرځي او د طلاق څخه صرف نظر شي. البته دغه کار هغه وخت صورت نيسي چې عدت نه وي تېر شوی، که درې حيضونه تېر شوه نو بيا د بېرته رجوع کولو استحقاق د لاسه ورکوي.

مګر مېړونو ته مناسب دي چې دغه کار په هغه وخت کښې وکړي چې د اصلاح اراده لري او غواړي چې ښځې د دربدرۍ څخه وژغوري، او که اصلاح يې پکښې مطلب نه وه او محض د ښځو د تکليف کولو او ضرر رسولو مطلب يې وه ـ که څه هم رجوع يې شرعًا صحت لري ـ ورته مناسبه نه ده چې د ضرر په نيت ورته رجوع وکړي.

او دا خکه لکه څنګه چې ښځې په مېړونو باندې حقونه لري، مېړونه يې هم په ښځو باندې لري، نو کله چې سړي خپل حقونه پوره غواړي او په ضرر باندې نه راضي کېږي همدارنګه دوی ته په کار دي چې هغوی ته هم خپل حقوق ورکړي او ضرر ورته ونه رسوي.

۴ـ هو! داسې نه ده چې دوی دواړه سمسمکي دي ترڅو کورنی ژوند د مشکلاتو سره مخامخ شي، بلکې نارينه وو لره په ښځو باندې فضيلت او بهتري شته چې سړي په هغو باندې رئيسان دي او د کور واګې د دوی په لاس دي. دوی بايد د خپل رجوليت او فضليت د کبله د ښځو سره په ورو-ورو خبرو باندې نيونه ونه کړي او ورته عفوه وکړي او بايد چې د خپل رياست څخه بده استفاده ونه کړي چې ظلم او تېري ته ملاوې وتړي او د ښځو په حقوقو باندې پښې کېږدي.

الله ﷻ په هر چا زورور او غالب دی، که کمزورې ښځې خپل حقوق نه شي اخستلی نو الله ﷻ به يې ورته واخلي او ظالمانو ته به جزا ورکړي.

۵ـ علاوه په دې، الله ﷻ دا هم کولی شوه چې واکداري يې ښځو ته ورکړې وی او سړي يې د هغوی د لاس لاندې کړي وی خو دا کار د حکمت غوښتنه نه وه او الله ﷻ د حکمت والا دی، نو بايد چې سړي خپله واکداري د غرور او تکبر باعثه جوړه نه کړي.

## توضيحات

۱ـ د "قُرُوء" کلمه د "قُرء" جمعه ده او "قُرء" په عربي ژبه کښې په دوه معناوو باندې استعماله

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې ده، چې یوه معنی یې حیض دی او بله معنی یې طهر دی[۱].

امام ابو حنیفه رحمه‌الله علیه ورڅخه په دې مقام کښې حیض مرادوي او امام الشافعي رحمه‌الله علیه یې په طهر سره ترجمه کوي. د دواړو امامانو نقلي او عقلي دلایل کتابونو لیکلي دي[۲].

د اختلاف نتیجه یې دا ده چې په اول مذهب باندې د عدت د تیرېدنې دپاره د دریم حیض پوره کېدل ضرور دي، او په دوهم مذهب باندې محض په دریم حیض کښې شروع کول د عدت تیرېدنه ګڼله کېږي[۳]. مونږ په دې مقام کښې د دواړو امامانو د دلایلو د رانقلولو ضرورت نه وینو، که څوک شوق لري هملته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د ﴿ يَتَرَبَّصۡنَ ﴾ کلمه خو د اِخبار معنی ورکوي چې حاصل یې داسې کېږي چې طلاقې شوې ښځې تر درې حیضونو پورې بل مېړه ته انتظار وباسي. نو که بالفرض کومه یوه بې تقوی ښځه انتظار ونه باسي او بل مېړه وکړي نو د الله ﷻ په کلام کښې دروغ نه راځي؟.

مونږ وایو چې: دلته اِخبار د امر په معنی سره دی یعنې الله ﷻ په دوی باندې امر کوي چې انتظار دې وباسي چې الله ﷻ ورته اجر او ثواب ورکړي، دغه انتظار د دوی عبادت دی.

د اِخبار په صیغه باندې خکه اداء کړی شو چې په دغې طریقه کښې زیات تاکید راځي یعنې دوی په امر باندې دومره کلکې دي ته به وایې چې امر یې لا پخوا اجراء کړی دی.

او بل خکه چې عدت تیرېدنه د زنانه وو د اختیار پورې اړه نه لري. بالفرض که یوه ښځه د خپل مېړه د وفات یا طلاق څخه هیڅ خبره هم نه وي او عدت یې تیر شي نو بل عدت ورباندې نشته. که د امر په صیغه باندې ابتداءً عدت فرض شوی وی نو د ځینو خلکو خیال ته به ورغلي وی چې د عدت په تیرېدنه کښې به د ښځې علم او خبرتیا شرط وي.

## عدت څه ته وایي؟

۳_ د "عِدَّة" کلمه د عدد څخه اخستله شوې ده چې د شمارولو معنی ورکوي.

اما په شریعت کښې "عِدَّة" د هغو شپو ورځو څخه عبارت دی چې د مېړه څخه جدا شوې ښځه په هغو کښې بل مېړه نه شي کولی او که ویې کړي نو نکاح یې فاسده ده او صحت نه لري.

## د جدائي اسباب

۴_ په لاندې اسبابو سره ښځه د مېړه څخه جدا کېږي[۴]:

الف: چې مېړه یې وفات شي.

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۷۰، حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۳۴
(۲) روح المعاني ج۲ ص۱۳۱؛ تفسیر المظهري ج۱ ص۲۹۵
(۳) تفسیر البغوي ج۱ ص۲۰۴
(۴) فتح القدیر شرح الهدایه ج۴ ص۳۰۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: چې طلاق ورکړي او يا د مېړه کړنلاره شرعًا طلاق وګڼل شي، لکه د ايلاء صورت.

ج: چې شريعت يې په جدا کېدلو باندې حکم وکړي مګر طلاق يې نه ګڼي، مثلًا:

اول: چې د دوی دواړو څخه يو کس مرتد شي، العياذ بالله.

دوهم: چې نکاح يې فاسده وي لکه په عدت کښې چې يې نکاح کړې وي.

دريم: چې ښځه د وړوکتوب په حالت کښې د پلار او يا نيکه څخه په غير بل چا په نکاح ورکړې وي او کله چې بالغه شي مېړه خوښ نه کړي. دغه سبب ته خيار البلوغ وايي.

څلورم: چې د سړي ښځه وينځه وي او ازاده شي او بيا خپل مېړه خوښ نه کړي، چې دغه سبب ته خيار العتق وايي.

## د عدت په اعتبار د ښځو ډولونه

۵ـ د عدت په اعتبار سره زنانه په لاندې ډولونو وېشلې کېږي[۱]:

الف: چې مېړه يې وفات شي او حمل ونه لري يعنې اميدواره نه وي. نو د دې عدت څلور مياشتې او لس ورځې دي، چې د [البقرة:۲۳۴] ايت کښې بيان شوي دي.

ب: چې ښځه اميدواره وي. نو د دې عدت د حمل په وضعه کولو يعنې د اولاد په تولد باندې خاتمه پيدا کوي که څه هم څو ورځې او يا څو ساته پکښې تېر شي، چې د [الطلاق:۴] ايت کښې بيانېږي، برابره خبره ده چې په هر سبب باندې د مېړه څخه جدا شوې وي.

ج: چې د وفات څخه په غير په بل سبب سره جدا شي خو د حيض والا ښځه وي. نو د دغې ښځې عدت په همدې ايت کښې چې سمدستي د بحث لاندې دی بيان شوی دی، چې په درې حيضونو باندې پوره کېږي.

د: چې په همدغه صورت کښې ښځه د حيض خاونده نه وي چې يا بالکل ورباندې حيض نه ورځي او يا د حيض وخت ته نه وي رسېدلې او يا يې د زوړالي د کبله د حيض څخه تمه قطعه شوې وي. په دې ټولو صورتونو کښې يې عدت په درېوو مياشتو باندې تېرېږي، لکه چې د [الطلاق:۴] ايت کښې پوره بيان شوی دی.

هـ: چې ښځې ته طلاق ورکړی شي په داسې حال کښې چې نه واده شوې وي او نه ورسره خپل مېړه د اعتبار وړ خلوت کړی وي چې د فقهې په کتابونو کښې ذکر دي. نو په دغې ښځې باندې هيڅ عدت نشته او د طلاق د ورکولو سره سمه حق لري چې بل مېړه وکړي، لکه چې د [الأحزاب: ۴۹] ايت کښې بيانېږي.

## سوال جواب

٦ـ که څوک وايي چې: په جدا شوې ښځې باندې خو د دې کبله عدت پوره کول لازم شوي دي چې څرګنده شي چې د پخواني مېړه څخه يې په ګېډه باندې څه حمل پاتې نه وي. نو څرنګه چې دغه

(۱) تفسير تيسير الرحمن ج۱ ص۸۲

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مطلب په یوه حیض باندې هم ښکاره کېږي نو په دریو حیضونو کښې څه حکمت دی چې د عدت دپاره ضرور ګڼل شوي دي، علاوه په دې خېنې ښځې د حمل احتمال هم نه لري لکه صغیره، نو په هغې باندې په کوم منظور عدت تېرېدنه ضرور ګڼله شوې ده؟.

مونږ وایو چې: په عدت کښې ډېر حکمتونه نغښتي دي خو دا ضرور نه ده چې په یوه عدت کښې دې ټول حکمتونه موجود وي، که بعضې پکښې تحقق لري هم کفایت کوي.

د عدت د حکمتونو څخه دغه لاندې د مثال په توګه ولولئ:

الف: ترڅو په یقین سره معلومه شي چې د پخواني مېړه د پلوه حامله نه ده او یقین هله راځي چې درې حیضه ورباندې تېر شي، یو یا دوه یقین نه فائده کوي ځکه چې احتمال شته چې هغه استحاض وي خو ښځې ورباندې د حیض ګومان کړی وي چې نسبونه د اختلاط او ګډوډۍ څخه په امان وساتل شي[۱].

ب: ترڅو د اولني مېړه احترام په ځای شي، هسې نه چې نن د یوه مېړه څخه خلاصه شي او سبا یې بل کړی وي.

ج: ترڅو مېړه او ښځې ته فرصت ورکړی شي چې د جدا کېدلو مخه پخپله ونیسي او بل عقد ته یې حاجت پاتې نه شي. که بالفرض د طلاق سره سمه ترې جدا کېدلی نو د مراجعې حق به یې هم نه درلودلی بلکې د عدت په تشریع کښې د مېړه دپاره د رجوع کولو غټ فرصت موجود دی[۲].

## "بُعُولَة" څه معنی؟

۷_ د "بُعُولَة" کلمه د "بَعْل" جمعه ده او "بَعْل" ډېرې معناوې لري لکه سید، مالک، مباشرت کوونکی او داسې نور[۳].

په دې مقام کښې الله ﷻ د مېړونو څخه په "بُعُولَة" سره تعبیر وکړ ترڅو مېړونه رجوع کولو ته ترغیب کړي او هم زنانه وهڅوي چې د مېړونو د زړونو د میلان دپاره په خپله وضعه کښې څه نرمښت ښکاره کړي ځکه چې د دوی مېړونه لا تر اوسه د دوی مالکان او بُعوله ګڼل کېږي.

## د جاهلیت د زماني طلاقونه

۸_ د جاهلیت په زمانه کښې د طلاقونو حد او اندازه معلومه نه وه، یوه مېړه به کولی شو چې آن تر زرو طلاقونو پورې ورکړي ځکه چې هغوی ټول طلاقونه رجعي ګڼل، یو طلاق به یې ورکړ او ښځه به یې په عدت تېرولو باندې مشغوله کړه خو چې عدت به یې ختمېدلو ته نږدې شو بېرته به یې ورته رجوع وکړه او بیا به یې نوی طلاق ورکړ. دغه وضعیت هیڅ انتهاء نه درلوده[۴].

---

(۱) تفسیر المراغي ج۲ ص۱۶۵

(۲) تفسیر المنار ج۲ ص۳۷۴

(۳) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۲۰؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۲۰۵

(۴) التفسیر الکبیر ج۶ ص۱۰۲؛ حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۳۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۷۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د اسلام په ابتداء کښې مسلمانانو هم په همدې دود او دستور باندې عمل درلود تر دې چې یوې مسلمانې ښځې نبي کريم ﷺ ته د خپل مېړه د لاسه شکایت وړاندې کړ(۱). نو الله ﷻ د یو طرفه د طلاقونو عدد او شمار تر درېوو پورې منحصر کړ لکه چې په راتلونکي ایت شریف کښې بیانېږي، او د بله طرفه یې د رجوع کولو فرصت تر دوه طلاقونو پورې منحصر کړ، لکه چې په همدې ایت شریف کښې ورته اشاره شوې ده.

## د رجوع کولو طریقه

۹ـ د امام الشافعي رحمه الله په نزد رجوع کول یوازې په ژبه باندې صورت نیسي او په عمل باندې صحت نه لري لکه څنګه چې نکاح صرف په ایجاب او قبول باندې انعقاد مومي او په عمل باندې نه منعقده کېږي.

امام أبو حنیفه رحمه الله وايي چې ترڅو پورې چې عدت نه وي تېر شوی پخوانۍ نکاح باقي ده، نو رجوع کول لکه څنګه چې په قول باندې صورت نیسي همدارنګه په فعل باندې هم تحقق مومي، چې یا ورسره جنسي ارتباط قائم کړي او یا په شهوت سره لاس وروړي او داسې نور. د همدې کبله یې د مېړونو څخه په "بُعُولَة" سره تعبیر وکړ یعنې چې تر اوسه لا د مالکیت څخه نه دي خارج شوي او ریاست یې لا باقي دی(۲).

## سوال جواب

۱۰ـ که څوک وايي چې: د ایت شریف څخه معلومېږي چې رجوع کول په اصلاحي نیت پورې مشروط دي که د چا دغه نیت نه وي نو باید چې رجوع یې صحت ونه لري؟

مونږ وایو چې: د ټولو علماوو کرامو په دې خبره باندې اجماع ده چې اصلاحي نیت د رجوع کولو په صحت باندې څه تاثیر نه اچوي(۳)، ځکه چې په زړونو باندې یوازې الله ﷻ پوهېږي او بس. نو په دنیا کښې شرعي احکام په دغسې شرطونو باندې نه شي مشروط کېدلی.

شاید چې د ﴿ إِنْ أَرَادُوٓاْ إِصْلَٰحًا ﴾ کلمات به الله ﷻ د دې دپاره نازل کړي وي چې ترڅو په عدت کښې د هغه اوړدوالي مخه ونیسي چې په درې طلاقونو کښې یې هم امکان درلود او ترڅو مېړونه ترغیب کړي چې د اصلاحي نیت څخه په غیر دغه کار ته اقدام ونه کړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۱ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ ﴾ کلمه خو عامه ده د هر ډول طلاق خاوندانې ښځې پکښې داخلېږي نو په کار دي چې هرې یوې ته رجوع کول هم صحت ولري ځکه چې په ﴿ وَبُعُولَتُهُنَّ ﴾

(۱) تفسیر القاسمي ج۳ ص۲۴۷
(۲) تفسیر المظهري ج۱ ص۲۹۸
(۳) روح المعاني ج۲ ص۱۳۴؛ حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۱ ص۵۳۵

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې همدغې عامې کلمې ته ضمير راجع دی؟

مونږ وايو چې: که په قرآن کريم کښې ځينې نور ايتونه په دې باره کښې نه وی نازل شوي نو هرې بوې مطلقې ته به رجوع کولو صحت درلودی، مگر د [الأحزاب:۴۹] ايت ناواده مطلقه ښځه د دې حکم څخه وباسي ځکه چې په دې باندې عدت نشته او د رجوع کولو دپاره د عدت موجوديت ضرور دی او د همدې سورت راتلونکی [۲۳۰] ايت ورڅخه د دريو طلاقونو خاوندانې ښځې ويستلې دي او د جاهليت د زمانې ناکاره رواج ته يې خاتمه ورکړې ده.

## د ښځو حقونه په مېړونو باندې

۱۲ـ د ښځو د حقوقو څخه په دې مقام کښې لاندې حقوق د مثال په توگه ولولئ:

الف: بايد چې مېړونه ورسره ښه گوزاره وکړي: [النساء: ۱۹].

ب: بايد چې د طلاق په حالت کښې ورباندې عدت اوږد نه کړي: [البقرة: ۲۳۱].

ج: بايد چې جامه او نفقه د خپلې وسې په اندازه ورکړي: [البقرة: ۲۳۳].

د: بايد چې مهر ورکړي او چل او فريب ورسره ونه کړي: [النساء: ۴].

هـ: بايد چې ورکړی شوی مهر ترې د طلاق په بدل کښې بې ضرورته بېرته وانخلي: [البقرة:۲۲۹].

و: بايد د ښځو د تعدد په صورت کښې هرې يوې ته خپل نوبت پوره ورکړي: [النساء: ۱۲۹].

## د مېړونو حقوق په ښځو باندې

۱۳ـ په دې مقام کښې د مېړونو د حقوقوڅخه لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: بايد چې ښځه د خپل مېړه په غياب کښې د هغه په کورکهول باندې حفاظت وکړي: [النساء: ۳۴].

ب: بايد د خپل مېړه امارت ومني او اطاعت يې وکړي: [البقرة: ۲۲۸].

ج: مېړه حق لري چې تر څلورو ښځو پورې نکاح کړي او ښځه ورباندې د اعتراض کولو حق نه لري: [النساء: ۳].

د: د فراق په حالت کښې بايد ښځه عدت تېر کړي چې د مېړه احترام يې په ځای شي او د ده کرل شوی زراعت بل چا ته انتقال نه شي: [البقرة: ۲۸۸].

هـ: طلاق، رجعت، په سفر باندې بېول، خپل کور ته را انتقالول او داسې نور ټول د مېړونو حقوق دي چې په شريعت کښې ځای په ځای بيان شوي دي.

په همدې ځای باندې د الله ﷻ په مرسته او توفيق اول ټوک پای ته ورسېد.

Downlaoded: bawarketabtoon.com

# د لومړي ټوک
# محتويات



Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




لومړنۍ سریزه ۴
د دې کتاب د لیکلو باعث ۴
د دې کتاب د لیکلو طریقه ۵
د دې کتاب د ژباړې ډول ۶
د دې کتاب ترتیب ۷
د دې کتاب عناوین ۸
زمونږ التزامات ۸
د دې کتاب مراجع ۹
دوهمه سریزه ۱۰
د قرآن کریم نزول او راغونډول ۱۰
"آیة" څه معنی؟ ۱۰
د "سورة" معنی ۱۱
د قرآن کریم د ایتونو، کلماتو او حرفونو تعداد ۱۱
مکي او مدني سورتونه او ایتونه ۱۲
د قرآن کریم نومونه ۱۲
د تفسیر او تاویل معناوې ۱۲
د قرآن کریم فضائل ۱۳

الفاتحة (۱)

سریزه ۱۶
د "بسم الله الرحمن الرحیم" په هکله تحقیق ۱۹
د "الحمد" په ارتباط څو نکات ۲۰
"عبادة" څه معنی؟ ۲۱
ماثور تفسیر ۲۲
امین څه معنی؟ ۲۳

البقرة (۲)

سریزه ۲۵
د مقطعات او متشابهات معناوې ۲۸
د مقطعاتو بالاشاره معناوې ۲۸
په "ذلك" کښې څه شي ته اشاره ده؟ ۲۹
په "لا رَیْبَ فِیهِ" کښې سوال جواب ۲۹
یو صرفي تحلیل ۲۹
سوال جواب ۳۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۰
د هدایت اثرات په دوه ډوله دي ۳۱
غیب څه معنی؟ ۳۱
یو نحوي تحلیل ۳۲
"ختم" څه معنی؟ ۳۳
د موضوع وضاحت ۳۴
سوالونه او جوابونه ۳۵
د "النّاس" تحلیل ۳۸
د نفاق ډولونه ۳۸
د نفاق د خپلولو اسباب ۳۹
منافقت چرته وده وکړه؟ ۳۹
د منافقت په ارتباط سوالونه او جوابونه ۳۹
د ټولو کفارو مشترک جواب ۴۵
د ایتونو تازه مصداق ۴۵
"سفه" څه معنی؟ ۴۶
د "شیاطین" صرفي تحلیل ۴۷
"استهزاء" څه معنی؟ ۴۷
د استهزاء په هکله سوال جواب ۴۷
د "عمه" معنی ۴۷
د هدایت په ارتباط سوال جواب ۴۸
د منافقانو ناري (د اور) مثال ۴۹
دوه ډوله تفسیر ۵۰
د منافقانو مائي (د اوبو) مثال ۵۱
د همدې مثال تطبیق ۵۳
"عبادة" څه معنی؟ ۵۵
د "لعل" معنی ۵۶
"فراش" څه معنی؟ ۵۶
د کائناتو د بیان طرز ۵۶
د "السماء" معنی ۵۷
د "ند" د کلمې تعریف ۵۷
دوه ډوله تفسیر ۶۱


Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"شهید" څه معنی؟ ..... ۶۱
د مطالبو استحکام او تثبیت ..... ۶۱
د قرآن کریم د اعجاز وجوه ..... ۶۲
د "وقود" او "حجارة" معناوې ..... ۶۴
څو نکات ..... ۶۴
د "حیاء" معنی ..... ۶۷
"فوقیت" څه معنی؟ ..... ۶۷
د "کثیراً، کثیراً" معناوې ..... ۶۸
"فسق" څه معنی؟ ..... ۶۸
د "عهد الله" څخه دلته کوم عهد مراد دی؟ ..... ۶۸
د کومو شیانو وصل واجب دی؟ ..... ۶۹
د "اموات" معنی ..... ۷۱
"استواء" څه معنی؟ ..... ۷۱
د "خلیفه" معنی ..... ۷۵
سوالونه او جوابونه ..... ۷۵
د آدم علیه السلام د مسجود ګرځولو علت ..... ۷۹
آدم علیه السلام ته سجده کوونکې پرښتې ..... ۸۰
د سجدې ډولونه ..... ۸۰
د تعظیم او عبادت سجدې څه فرق لري؟ ..... ۸۱
آیا ابلیس د پرښتو څخه و؟ ..... ۸۲
ابلیس په کوم امر سره په سجده مامور شو؟ ..... ۸۳
په یاد ولرئ ..... ۸۴
څو پوښتنې او د هغو جوابونه ..... ۸۵
د "اسرائیل" تحلیل ..... ۹۵
دلته کومو نعمتونو ته اشاره ده؟ ..... ۹۵
د عهدونو تشخیص ..... ۹۶
رهب څه معنی؟ ..... ۹۶
د ایتونو خرخول څه معنی؟ ..... ۹۷
د بني اسرائیلو کړنلارې ..... ۹۷
یهود صفت کسان ..... ۹۸
څو پوښتنې او د هغو جوابونه ..... ۹۸
د بني اسرائیلو فضیلت ..... ۱۰۰
جزا څه معنی؟ ..... ۱۰۱
کافر نفس ته شفاعت نشته ..... ۱۰۱
د "عدل" معنی ..... ۱۰۱
د "آل" معنی ..... ۱۰۴
فرعون څوک و؟ ..... ۱۰۴
سوالونه او جوابونه ..... ۱۰۴
بلاء څه معنی؟ ..... ۱۰۵
فرعونیان په کومه ورځ غرق شوه؟ ..... ۱۰۶
د "موسی" د کلمې لفظي تحلیل ..... ۱۰۶
څلوېښت شپې اعتکاف ..... ۱۰۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۱۰۷
فرقان څه معنی؟ ..... ۱۰۷
"براءة" څه معنی؟ ..... ۱۰۸
خان وژل څه معنی؟ ..... ۱۰۸
د عفوې څخه وروسته مواخذه نشته ..... ۱۰۸
"جهرة" څه معنی؟ ..... ۱۱۱
هیر مو نه شي ..... ۱۱۱
د څو لغاتو معناوې ..... ۱۱۱
مهاجرین او راشن ..... ۱۱۲
د بني اسرائیلو د ناشکرۍ مثالونه ..... ۱۱۳
هجرت او جهاد ..... ۱۱۴
څو نکات ..... ۱۱۶
"رجز" څه معنی؟ ..... ۱۱۷
د ډبرې څرنګوالی ..... ۱۲۱
د دغې ډبرې یو نظیر ..... ۱۲۲
"عثیا" څه معنی؟ ..... ۱۲۲
سوالونه او جوابونه ..... ۱۲۲
د ایت تازه مصداق ..... ۱۲۳
د څو لغاتو معناوې ..... ۱۲۴
څو مطالب ..... ۱۲۵
د کفارو څلور ګروپونه ..... ۱۲۷
یو اعرابي تحلیل ..... ۱۲۹

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ........ ۱۲۹
"طور" څه معنی؟ ........ ۱۳۲
"تولی" څه معنی؟ ........ ۱۳۳
اصحاب السبت څوک وه؟ ........ ۱۳۳
سوال جواب ........ ۱۳۳
د "نکال" کلمه څه معنی؟ ........ ۱۳۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۳۴
د بني اسرائیلو د غوا قیصه ........ ۱۳۷
څو نکات ........ ۱۳۸
غوا مونده شوه او لانجه ختمه شوه ........ ۱۳۹
سوال جواب ........ ۱۳۹
په همدې اړوند ........ ۱۴۰
د خینو کسانو فعل ټول قوم ته نسبت کېږي ۱۴۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۴۳
"دره" څه معنی؟ ........ ۱۴۳
څو نکات ........ ۱۴۳
مړی دروغ وایي ........ ۱۴۵
سوال جواب ........ ۱۴۵
د "او" د توري معنی ........ ۱۴۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۴۶
د ایت شریف ارشاد ........ ۱۴۶
په دنیا کښې راژوندي شوي کسان ........ ۱۴۷
یوه باریکه اشاره ........ ۱۴۹
د کلام الله سماع ........ ۱۴۹
سوال جواب ........ ۱۵۰
دوه ډوله تفسیر ........ ۱۵۰
څو نکات ........ ۱۵۳
"ویل" څه معنی؟ ........ ۱۵۴
د بني اسرائیلو د تحریف مثالونه ........ ۱۵۵
ګناهونو په چا احاطه کړې ده؟ ........ ۱۵۵
د یتیمانو حقوق ........ ۱۵۹
په یاد ولرئ ........ ۱۶۰
یوه مقدمه ........ ۱۶۰
د ایتونو تازه مصداق ........ ۱۶۱
هېر مو نه شي ........ ۱۶۱
اعرابي تحلیلونه ........ ۱۶۲
سوال جواب ........ ۱۶۲
د ایت شریف ارشاد ........ ۱۶۳
روح القدس څوک وه؟ ........ ۱۶۶
په جبرائیل سره د عیسی ؑ تائید ........ ۱۶۶
سوال جواب ........ ۱۶۶
د آخر الزمان پیغمبر د وژلو هڅې ........ ۱۶۷
"غلف" څه معنی؟ ........ ۱۶۷
یو اعرابي تحلیل ........ ۱۶۸
استفتاح څه معنی؟ ........ ۱۷۱
څو نکات ........ ۱۷۲
د "وراء" د کلمې تحلیل ........ ۱۷۵
سوالونه او جوابونه ........ ۱۷۶
"مباهله" څه ته وایي؟ ........ ۱۸۰
سوالونه او جوابونه ........ ۱۸۱
د "عدو" د کلمې معنی ........ ۱۸۷
د "جبرائیل" د کلمې تحلیل ........ ۱۸۸
اعجمي لغت په عربي کلام کښې ........ ۱۸۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۸۹
"نبذ" څه معنی؟ ........ ۱۹۱
د قرآن کریم توقیر ........ ۱۹۱
څو نکات ........ ۱۹۲
د "یاأیها الذین آمنوا" د نزول تعداد ........ ۱۹۹
"راعنا" څه معنی؟ ........ ۱۹۹
هېر مو نه شي ........ ۱۹۹
د ایت ارشادات ........ ۲۰۰
د "ما ننسخ" الآیة په ارتباط څو نکات ........ ۲۰۴
سوالونه او جوابونه ........ ۲۰۶
"حسد" څه معنی؟ ........ ۲۰۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هېر مو نه شي ۲۰۹
"عفو" او "صفح" څه فرق لري؟ ۲۰۹
پوښتنې او ځوابونه ۲۱۲
د هر غټ ظالم خوک دی ۲۱۸
د "مِنْ" کلمه دلته د چا څخه کنایي ده؟ ۲۱۸
سوال ځواب ۲۱۹
"وجه الله" څه معنی؟ ۲۲۰
هېر مو نه شي ۲۲۲
سوالونه او ځوابونه ۲۲۳
دلته نبي کریم ﷺ مخاطب دی ۲۲۹
"مِلّة" څه معنی؟ ۲۳۰
هېر مو نه شي ۲۳۱
سوال ځواب ۲۳۲
اعتباري تغایر په شریعت کښې مقبول دی ۲۳۳
هېر مو نه شي ۲۳۳
د "ابراهیم" د کلمې په ارتباط ۲۴۰
دلته "کلمات" څه معنی؟ ۲۴۱
"امام" څه معنی؟ ۲۴۲
ابراهیم ﷺ په څه شي کښې امام وه؟ ۲۴۳
سوال ځواب ۲۴۳
اهل التشیع څه وايي؟ ۲۴۳
یو صرفي تحلیل ۲۴۵
دلته د "عهد" معنی ۲۴۵
اهل التشیع بیا څه وايي؟ ۲۴۵
څو نکات ۲۴۷
سوالونه او ځوابونه ۲۴۸
"قاعدة" څه معنی؟ ۲۵۰
مناسک څه معنی؟ ۲۵۲
د حج مناسک په څه ډول ورونښودل شوه؟ ۲۵۲
د اینونو ارشاد ۲۵۳
د قبول یو مثال ۲۵۳
څو نکات ۲۵۷
سوال ځواب ۲۵۷
توصیه څه معنی؟ ۲۵۸
د ابراهیم ﷺ زامن ۲۵۹
یو نحوي تحلیل ۲۵۹
دوه ځله توصیه ۲۶۰
هېر مو نه شي ۲۶۰
څو ټکو ته توجه په کار ده ۲۶۴
سوال ځواب ۲۶۴
"اسباط" څه معنی؟ ۲۶۵
یوه پوښتنه او د هغې ځواب ۲۶۵
شقاق څه معنی؟ ۲۶۵
د "نصرة" وعده ۲۶۶
د "صِبْغَةَ الله" معنی ۲۶۶
یو تفسیري تحلیل ۲۷۰
سوال ځواب ۲۷۱
څو مقدمات ۲۷۳
د هجرت څخه وړاندې قبله کومه یوه وه ۲۷۷
"وَسَط" څه معنی؟ ۲۸۰
د دې امت شاهدي په دنیا کښې ده که په آخرت کښې؟ ۲۸۰
یوه پوښتنه او د هغې ځواب ۲۸۱
"رَؤُف" او "رَحِیم" څه معنی ۲۸۳
د قبلې د تحویل ځینې احادیث ۲۸۴
یوه تبصره ۲۸۵
اوس زړونه سخت شوي دي ۲۸۵
د قبلې تحویل ته انتظار ۲۸۶
آسمان ته کتل ۲۸۶
سوال ځواب ۲۸۷
کعبې ته کتل هم عبادت دی ۲۸۸
سوال ځواب ۲۸۸

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د اهل الکتابو قبلې ........ ۲۹۰
د محسوس سره د معقول تشبیه ........ ۲۹۱
سوال جواب ........ ۲۹۲
علم په دوه ډوله دی ........ ۲۹۲
د شک کوونکو څخه مه کېږه ........ ۲۹۲
سوال جواب ........ ۲۹۲
"وِجْهَة" څه معنی؟ ........ ۲۹۵
اطمئنان غوښتل د ایمان سره منافات نه لري ۲۹۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۹۹
د ذکر ډولونه ........ ۳۰۰
د الله ﷻ د یادولو لحاظونه ........ ۳۰۱
د شکر ډولونه ........ ۳۰۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۰۲
د شهیدانو په باره کښې څه مطالب ........ ۳۰۶
د شهید معنی ........ ۳۰۷
شهیدان ژوندي دي ........ ۳۰۷
یوه قیصه ........ ۳۰۸
حکمي شهیدان ........ ۳۰۸
د حکمي شهیدانو فقهي حکم ........ ۳۰۹
د شهید پېژاندنه ........ ۳۰۹
د شهید ډولونه ........ ۳۰۹
کامل شهید ........ ۳۰۹
د کامل شهید حکم ........ ۳۱۰
د آخرت شهید ........ ۳۱۰
د آخرت د شهید حکم ........ ۳۱۱
د دنیا شهید ........ ۲۱۲
د دنیاوي شهید حکم ........ ۳۱۲
یوه پوښتنه او هغې جواب ........ ۳۱۲
د مجاهدینو د تنخاګانو مسئله ........ ۳۱۳
د مجاهدینو په شهادت کښې جارحه آله
شرط نه ده ........ ۳۱۳
د بوي اشتباه لري کول ........ ۳۱۴
مصیبت څه ته وايي؟ ........ ۳۱۵
صبر په درې ډوله دی ........ ۳۱۵
د استرجاع اجرونه او ثوابونه ........ ۳۱۵
د مصیبت خپلي د توجه وړ ........ ۳۱۶
د مصیبتونو فوائد ........ ۳۱۷
د څو لغاتو معناوې ........ ۳۱۹
احکام په دوه ډوله دي ........ ۳۲۱
د صفا او مروه تاریخي سابقه ........ ۳۲۱
د صفا او مروه د سعې حکم ........ ۳۲۳
د دغې سعې کیفیت ........ ۳۲۲
سوال جواب ........ ۳۲۵
پټول یا کتمان ........ ۳۲۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۲۶
ایا سکوت هم کتمان دی؟ ........ ۳۲۷
ایا تبلیغ فرض نه دي؟ ........ ۳۲۷
ټول حقایق بیان شوي دي ........ ۳۲۸
د لعنت په هکله معلومات ........ ۳۲۸
په یاد ولرئ ........ ۳۲۹
سوال جواب ........ ۳۲۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۲۹
په کافر باندې لعنت غوښتل ........ ۳۳۰
د الله ﷻ د وجود دلایل ........ ۳۳۳
طبیعت خالق نه شي کېدلی ........ ۳۳۴
سوال جواب ........ ۳۳۴
د الله ﷻ د وحدانیت دلایل ........ ۳۳۴
د جګړو پایلې ........ ۳۳۵
د توحید بو بل دلیل ........ ۳۳۶
د ټول بحث نتیجه ........ ۳۳۶
په یاد ولرئ ........ ۳۳۷
هېر مو نه شي ........ ۳۳۸
د شپې او ورځې اختلاف ........ ۳۳۸
بېړۍ په دریابونو کښې ........ ۳۳۹


Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باران هم د قدرت لویه نښه ده ...... ۳۳۹
د ځمکې ژوندي کېدل ...... ۳۳۹
ټوله ځمکه په ژوندیو شیانو باندې ډکه ده ۳۳۹
د بادونو چلول ...... ۳۴۰
وریځ هم عجیبه شی دی ...... ۳۴۱
د الله ﷻ د محبت معنی ...... ۳۴۳
کافران او د بوتانو محبت ...... ۳۴۴
د کافرانو دپاره خپل عملونه حسرت جوړېږي ۳۴۵
د ځو لغاتو معناوې او فرقونه ...... ۳۴۹
"وسواس" او "الهام" څه فرق لري؟ ...... ۳۵۰
وسواس او تلفظ ...... ۳۵۰
تقلید څه ته وایي؟ ...... ۳۵۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۵۱
سوال جواب ...... ۳۵۱
"مَیْتَة" څه معنی؟ ...... ۳۵۵
هغه شیان چې بدون د ذبحې حلال دي ...... ۳۵۵
کومه وینه حرامه ده؟ ...... ۳۵۵
د وینې د خوراک ډولونه ...... ۳۵۵
سوال جواب ...... ۳۵۵
خنزیر نجس العین دی ...... ۳۵۶
هېر مو نه شي ...... ۳۵۶
سوال جواب ...... ۳۵۶
دوه تجربې ...... ۳۵۷
د الله ﷻ د نامه ځخه پرته په بل نامه ذبحه ...... ۳۵۸
که د الله ﷻ د نامه سره د بل چا نوم یاد شي ۳۵۸
سوال جواب ...... ۳۵۸
سوال جواب ...... ۳۵۹
سوال جواب ...... ۳۵۹
د دې مسئلې یو نظیر ...... ۳۶۰
اضطرار څه ته وایي؟ ...... ۳۶۰
مرداره او که پردی حق ...... ۳۶۰
ایا محرمات څلور دي؟ ...... ۳۶۱
د حق پټوونکو سره به الله ﷻ خبرې ونه کړي ۳۶۵
دوی به تزکیه نه کړی شي ...... ۳۶۵
په کتاب کښې اختلاف ...... ۳۶۵
د ځو لغاتو معناوې ...... ۳۷۰
په پنځو شیانو باندې عقیده خپلول ...... ۳۷۱
د مال ورکړه او محبت ...... ۳۷۱
په خپلوانو باندې د خیرات اجر ډېر دی ...... ۳۷۲
ایا سوالګر ته څه ورکړه ضرور ده؟ ...... ۳۷۲
د خیرات خورو ترتیب ...... ۳۷۲
سوال جواب ...... ۳۷۴
یو اعرابي تحلیل ...... ۳۷۴
د "قصاص" معنی ...... ۳۷۸
د "قصاص" اخستل د ټولو مؤمنانو وظیفه ده ۳۷۸
"قصاص" د چا ترمنځ فرض دی؟ ...... ۳۷۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۸۰
په قصاص کښې د عفوې اثر ...... ۳۸۱
په کوم قتل کښې قصاص لازم دی؟ ...... ۳۸۱
جائز قتلونه څو دي؟ ...... ۳۸۲
په یاد ولرئ ...... ۳۸۲
قصاص د الله ﷻ رحمت دی ...... ۳۸۲
ایا په قصاص کښې ژوند دی؟ ...... ۳۸۳
افغانستان او قصاص ...... ۳۸۴
ایا وصیت کول فرض دي؟ ...... ۳۸۶
سوال جواب ...... ۳۸۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۸۷
"بِالْمَعْرُوْفِ" څه معنی؟ ...... ۳۸۸
د "وصیت" دائمي حکم ...... ۳۸۹
یادونه ...... ۳۸۹
سوال جواب ...... ۳۸۹
دلته د "خاف" معنی څه ده؟ ...... ۳۸۹
سوال جواب ...... ۳۹۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۹۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د صوم تعريف ........ ۳۹۵
په ټولو اديانو کښې د روژې فرضيت
موجود وه ........ ۳۹۵
مريض ته د روژې خوړل جائز دي ........ ۳۹۵
د خينو ښځو روژه ........ ۳۹۶
د بوډاګانو روژه ........ ۳۹۶
مسافر ته روژه خوړل جائز دي ........ ۳۹۶
افغانستان او مجاهدين ........ ۳۹۷
اصلي وطن کوم ته وايي؟ ........ ۳۹۷
ايا دوی ته په افغانستان کښې د اقامت
نيت صحت لري؟ ........ ۳۹۷
سوال جواب ........ ۳۹۷
مسافر ته روژه نيول بهتر دي ........ ۳۹۸
فديه ورکول چاته جائز دي ........ ۳۹۸
سوال جواب ........ ۳۹۸
سوال جواب ........ ۳۹۹
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۰۰
د بحث نتائج ........ ۴۰۱
قرآن کريم په روژه کښې نازل شوی دی ........ ۴۰۱
ليلة القدر په روژه کښې ده ........ ۴۰۲
سوال جواب ........ ۴۰۲
څه وضاحتونه ........ ۴۰۳
د قبطينو روژه ........ ۴۰۳
سوال جواب ........ ۴۰۴
سوال کول د کومو عقيدو نه نمايندګي کوي ۴۰۵
د ايت امثال او نظاير ........ ۴۰۶
ايا هره يوه دعاء قبليږي؟ ........ ۴۰۷
د سوال د اجابت موانع ........ ۴۰۹
په سوال کښې د اعتداء ډولونه ........ ۴۱۰
د سوال د قبول شکلونه ........ ۴۱۱
"اسْتِجَابَة" څه معنی؟ ........ ۴۱۳
دعاء په دوه ډوله ده ........ ۴۱۴
مقبولې دعاګانې ........ ۴۱۴
اسم اعظم کوم يوم دی؟ ........ ۴۱۸
په سوال کښې لاسونه پورته کول ........ ۴۱۹
د خو لغاتو معناوې ........ ۴۲۲
ښځه او ميړه يو د بل جامه ده ........ ۴۲۳
هغه شی چې الله ﷻ ليکلی دی ........ ۴۲۳
د "مِنَ الْفَجْرِ" شان نزول ........ ۴۲۴
صبح کاذب او صبح صادق ........ ۴۲۴
سوال جواب ........ ۴۲۴
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۲۵
د الله ﷻ حدودو ته مه نږدې کيږئ ........ ۴۲۵
سوال جواب ........ ۴۲۵
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۲۶
سوال جواب ........ ۴۲۷
خپل مالونه مه خورئ ........ ۴۲۹
"اِدلاء" څه معنی؟ ........ ۴۲۹
په ياد ولرئ ........ ۴۳۰
حرام مال د قاضي په حکم نه حلاليږي ........ ۴۳۰
د دواړو جوابونو مناسبت ........ ۴۳۲
اسلوب الحکيم څه ته وايي؟ ........ ۴۳۴
هېر مو نه شي ........ ۴۳۴
هلال څه ته وايي؟ ........ ۴۳۵
سوال جواب ........ ۴۳۵
"مواقيت" څه معنی؟ ........ ۴۳۵
د دې ايت ارشاد ........ ۴۳۵
يوه مقدمه او ارتباطونه ........ ۴۳۷
د خو لغاتونو معناوې ........ ۴۴۱
"حُرُمات" څه معنی؟ ........ ۴۴۲
اعتداء څه ته وايي؟ ........ ۴۴۳
"تهلکه" څه معنی؟ ........ ۴۴۵
د ذلت څخه هلاکت ښه دی ........ ۴۴۶
ايا استشهادي حمله جائزه ده؟ ........ ۴۴۷

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




یوه تبصره ....... ۴۴۸
د احسان ډولونه ....... ۴۴۸
حج په کوم ایت فرض شوی دی؟ ....... ۴۵۱
عمره کول سنت دي او که واجب؟ ....... ۴۵۲
حرم شریف وپېژنئ ....... ۴۵۲
عمره د څه ډول عبادت نوم دی؟ ....... ۴۵۳
د عمرې د اداء کولو وخت ....... ۴۵۳
نبي کریم ﷺ څو عمرې کړې دي؟ ....... ۴۵۴
د هدیې ډولونه ....... ۴۵۴
د "حصار" هدیه ....... ۴۵۴
سوال جواب ....... ۴۵۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۵۵
د جنایت دم ....... ۴۵۵
سوال جواب ....... ۴۵۵
د حج تمتع او حج قران دمونه ....... ۴۵۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۵۷
حج تمتع او حج قران د اطرافیانو دپاره ....... ۴۵۷
سوال جواب ....... ۴۵۸
امام ابو حنیفه رحمه الله څه وایي؟ ....... ۴۵۸
ایا ذو الحجه د حج میاشت ده؟ ....... ۴۶۱
سوال جواب ....... ۴۶۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۶۲
د احرام د تړلو وخت ....... ۴۶۲
په خان باندې حج فرض ګرځول ....... ۴۶۳
"رفث" ته وایي؟ ....... ۴۶۳
"فسوق" څه معنی؟ ....... ۴۶۴
سوال جواب ....... ۴۶۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۶۴
دلته کوم ډول جدال مطلب دی؟ ....... ۴۶۵
سوال جواب ....... ۴۶۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۶۵
د جاهلیت یو بل رواج ....... ۴۶۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۶۷
سوال جواب ....... ۴۶۷
د جاهلیت د زمانې بازارونه ....... ۴۶۹
د عرفات نوم ....... ۴۷۰
المشعر الحرام د کوم ځای نوم دی؟ ....... ۴۷۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۷۱
هغه څوک دی چې یوازې دنیا غواړي؟ ....... ۴۷۷
د "حَسَنَة" څخه څه شی مراد دی؟ ....... ۴۷۷
سوال جواب ....... ۴۷۷
د "حَسَنَة" کلمه یو خل بیا ....... ۴۷۸
څوک چې یوازې آخرت غواړي ....... ۴۷۸
کسب څه ته وایي؟ ....... ۴۷۹
شمېرل شوې ورځې کومې دي؟ ....... ۴۷۹
سوال جواب ....... ۴۸۰
د تشریق تکبیرونه ....... ۴۸۰
"فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ" څه معنی؟ ....... ۴۸۱
مصداق یا شان نزول ....... ۴۸۳
غټ جګړمار ....... ۴۸۵
کله چې واکدار شي ....... ۴۸۵
قرآن کریم او زمونږ زمانه ....... ۴۸۶
د "سِلم" د کلمې معنی ....... ۴۸۹
سوال جواب ....... ۴۹۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۹۰
"بَيِّنَات" د څه شي څخه عبارت دي؟ ....... ۴۹۱
ایا د "اتیان" نسبت الله ﷻ ته صحت لري؟ ....... ۴۹۱
یادونه ....... ۴۹۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۹۲
د نعمت تبدیل څه معنی؟ ....... ۴۹۵
سوال جواب ....... ۴۹۵
"مزین" څوک دی؟ ....... ۴۹۵
سوال جواب ....... ۴۹۶


Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دنیا د غوره کولو نتیجه ۴۹۶
د ایت شریف تازه مصداق ۴۹۷
سوال جواب ۴۹۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۹۷
بغیر حساب څه معنی؟ ۴۹۷
یوه ننده مقدمه ۴۹۹
د هدایت اسباب ۴۹۹
د ضلالت اسباب ۵۰۱
تبصره ۵۰۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۰۲
د دوهم تشویش جواب ۵۰۳
ټول پیغمبران علیهم السلام ۵۰۴
د اختلاف ډولونه ۵۰۵
جائز اختلاف ۵۰۵
ناجائز اختلاف ۵۰۶
د پخوانیو مجاهدینو تکالیف ۵۰۹
د افغان مجاهدینو حوصله ۵۰۹
د څو لغاتو معناوې ۵۱۰
زلزله څه معنی؟ ۵۱۰
سوال جواب ۵۱۱
د دې ایت یو نظیر ۵۱۱
یادونه ۵۱۲
سوال جواب ۵۱۲
په یاد ولرئ ۵۱۳
سوال جواب ۵۱۳
سوال جواب ۵۱۵
دا ایت منسوخ نه دی ۵۱۶
ایا جهاد فرض عین دی؟ ۵۱۷
هیر مو نه شي ۵۱۸
کَرهٌ او کُرهٌ څه فرق لري؟ ۵۱۹
په جهاد کښې کوم ډول ناخوښي پېښیږي؟ ۵۱۹
جهاد اسان دی ۵۱۹
د انسان علم کم دی ۵۲۰
د ایتونو تازه مصداق ۵۲۵
ایا اوس هم د میاشتو احترام واجب دی؟ ۵۲۵
ارتداد څه ته وایي؟ ۵۲۶
د حَبْط معنی ۵۲۶
څو اولیات ۵۲۶
په یاد ولرئ ۵۲۷
په پښتو کښې شراب څه معنی؟ ۵۳۰
د جاهلیت زمانه او شراب ۵۳۰
د شرابو د تحریم څلور مرحلې ۵۳۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۳۳
د نامه بدلون ګټه نه لري ۵۳۴
مَیْسر څه ته وایي؟ ۵۳۵
قماربازي او د جاهلیت زمانه ۵۳۵
د قماربازۍ د تحریم تدریج ۵۳۵
د قماربازۍ اضرار ۵۳۵
د قماربازۍ منافع ۵۳۶
د قمار ډولونه ۵۳۶
د عفوې معنی ۵۳۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۳۸
دنیاوي کسبونه کفائي فرض دي ۵۳۹
د اندیوالۍ قانون ۵۳۹
یادونه ۵۳۹
د مسلمانې او د کافر د نکاح قانون ۵۴۲
شرعي احکام د حکمتونو څخه ډک دي ۵۴۳
سوال جواب ۵۴۴
د خَیْر او شرّ د کلمو تحلیل ۵۴۵
د څو لغاتو معناوې ۵۴۹
د حیض احکام ۵۵۰
سوال جواب ۵۵۰
د حیض په حالت کښې جماع ۵۵۱
عجیبه اشاره ۵۵۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د الله ﷻ امر څه معنی؟ ........ ۵۵۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۵۵۱
د "أنّى شِئْتُمْ" معنی ........ ۵۵۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۵۵۴
"عُرْضَة" څه معنی؟ ........ ۵۵۷
یادونه ........ ۵۵۸
د قسم ډولونه ........ ۵۵۸
"یمین اللغو" څه معنی؟ ........ ۵۵۸
د "یمین الغموس" معنی ........ ۵۵۹
هېر مو نه شي ........ ۵۵۹
د "یمین المنعقد" معنی ........ ۵۶۰
امام الشافعي علیه الرحمه څه وایي؟ ........ ۵۶۰
سوال جواب ........ ۵۶۰
د یمین المنعقد ډولونه ........ ۵۶۰
ایلاء هم سوګند دی ........ ۵۶۱
ایلاء څه ته وایي؟ ........ ۵۶۱
په یاد ولرئ ........ ۵۶۲
په ایلاء کښې د جداکېدلو طریقه ........ ۵۶۲
د امامانو دلایل ........ ۵۶۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۵۶۴
یوه عجیبه قیصه ........ ۵۶۴
افغان مجاهدین او د جهاد دوره ........ ۵۶۵
د "قُرء" معنی ........ ۵۶۶
سوال جواب ........ ۵۶۷
عدت څه ته وایي؟ ........ ۵۶۷
د ښځې د جدا کېدلو اسباب ........ ۵۶۷
د عدت په لحاظ د ښځو ډولونه ........ ۵۶۸
سوال جواب ........ ۵۶۸
"بُعُولَة" څه معنی؟ ........ ۵۶۹
د جاهلیت د زماني طلاقونه ........ ۵۶۹
د رجوع کولو طریقه ........ ۵۷۰
سوال جواب ........ ۵۷۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۵۷۰
د ښځو حقونه په مېړونو باندې ........ ۵۷۱
د مېړونو حقوق په ښځو باندې ........ ۵۷۱

Downlaoded: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



Dowhlaoded: bawarketabtoon.com